# د افغانستان
# پر
# معاصر تاریخ

## یوه لنډه کتنه



لیکوال: د اکادیمسین کاندید ابراهیم عطایی

# د افغانستان پر معاصر تاریخ

## یوه لنډه کتنه

ACKU

PROPERTY OF ACKU
12290

لیکوال: کاندید اکاډمیسن محمدابراهیم عطائی

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00012290 2

بسم الله الرحمن الرحيم

## مشخصات:

نوم: د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه
لیکوال: د اکاډمیسن کاندید مرحوم محمد ابراهیم عطایی
اول چاپ: ۱۳۸۰هـ ش
دویم چاپ: د ۱۳۸۲هـ ش کال د اسد ۲۸مه
تعداد: ۲۰۰۰ جلده
ناشر: بنګاه انتشارات میوند، سبا کتابخانه
کابل: چهار راهی صدارت، تیلفون: ۲۲۰۰۴۵۵۰
موبایل: ۰۷۰۲۸٤۹۵۹، پست بکس: ۵۲۲۵
پیښاور: دهکی نعلبندی، بازار قصه خوانی، تیلفون ۲۵٦۵۵۲۰
موبایل: ۰۳۰۰۵۹٤٦۳۲۸، پست بکس: U.P.O. BOX - 795

ټول حقوق خپرونکي ته خوندي دي.

# اهــدا ء:

زما محترم ورور د پېښور پوهنتون د اسلامی علومو پروفیسور ډاکتر عبدالقادر سلیمان ته.

ACKU

# د ناشر سریزه

دا به د قدرت فیصله وي چې انسانان له دنیا نه ارمانجن لاړ شي، نو ځکه له آدمه تر دي دمه د ډېرو زړونو سپېڅلي ارمانونه تر تورو خاورو لاندې شوي دي.

د مرحوم عطايي صاحب د ښکلي کتاب کیسه هم همداسې ده، کله چې په ۱۳۸۰ هـ ش کال کې مو د کتاب مسوده لاس ته راغله، [redacted] سمدستي د کمپیوټر او چاپ په چارو بې بوخت شو، دا هغه شپې ورځې وې چې د امریکایي قواو له خوا د طالبانو د حاکمیت د راپرزولو په خاطر پر کابل سخته بمباري روانه وه، نو ځکه د کابل تګ ته چا هم زړه نه ښه کاوه. په کومه ورځ مو بې چې د کتاب چاپ شوي نسخې محترم استاد ډاکتر عبدالقادر سلیمان ته وسپارلې عطايي صاحب د فاني دنیا نه د سفر آخري منزلونه پرې کول. ښایي د خپل کتاب له چاپېدو نه خبر شوی وي، خو د تقدیر زورور لاس پرېنښود چې خپل چاپ شوی کتاب وګوري، هغه ارمان چې لیکوال ثانيې ورته شمېرلې.

کټ مټ لکه مرحوم ظفرحسین آیبک چې خاطرات یې (افغانستان از سلطنت امیر حبیب الله تا صدارت محمد هاشم خان) تر چاپ لاندې و او هغه وفات شو.

خوشبختانه دا دی د کتاب له لومړي چاپ نه لا دوه کاله نه تیرېږي چې کتاب نایاب شو او دا دی دوهم چاپ یې د انګریزي ښکیلاک له یرغلګرو نه د وطن د استقلال د لاس ته راوړلو په ویاړ، چې د وطن د خلکو په همت او پاکو وینو لاس ته راغلی چاپوو. پرېږده چې اوس یې هرڅوک هرچا ته منسوبوي، منسوبوي دې یې؛ خو زموږ همدا نظریه ده چې استقلال د وطن خلکو ګټلی نه...

د همغو سپېڅلو ارمانونو په یاد او بیا د روسانو او د هغوی د بې ایمانو خلقي، پرچمي نوکرانو پرخلاف د ځوانمردو مجاهدینو د اتلولیو د یاد په ویاړ دا کتاب بیا چاپوو.

په درنښت

بنګاه انتشارات میوند

# فهرست


مقدمه الف

مدخل ۱

۱- د معاصر تاریخ د اصطلاح او د هغه د مبدأ مسأله ۱

۲- د معاصر تاریخ د چوکاټ بندۍ پر مقدماتو یوه لنډه کتنه ۳

۳- د اتلسمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د افغانستان نوی جیوپولتیکي بڼه ۵

۴- پر هغو پېښو یو ځغلند نظر چې په وروستیو درو پېړیو (۱۸-۱۹-۲۰) کې
پر افغانستان ته ټکانونه ورکړیدي. ۷

## لومړی فصل

## افغانستان د شکل او محتوی له نظره د معاصري مرحلې (د اتلسمې پېړۍ د دوهمې نیمایي) په پیل کې ۱٤

۱- د افغاني امپراطورۍ مؤسس ابدالي احمدشاه ۱٤

۲- جامعه د قبیلي په سیورې کې (د جرګې سیستم) ۱٥

۳- د خانخاني دولت تمثیل (قبیلوي تعاملات او عنعنوي ستونه) ۱۷

٤- درې مخ په زوال دولتونه (نادري ایران، کورګاني هند او د مرکزي آسیا فافات) ۱۸

## دوهم فصل

## د (لویدیځ استعمار او هند) او پر افغانستان د هغه اغیزې ۲۲

۱- د شرق الهند کمپنۍ (انګریز او بنګال) ۲۲

۲- فرانسویان د انګریزانو سره سیالي کوي ۲۳

۳- په هندوستان کې د هالینډیانو تلاشونه ۲٤

٤- په عمومي توګه پر هند د لویدیځ استعمار څخه اغیزې پر افغانستان وغورځولې. ۲٥

## دریم فصل

احمدشاهي دولت ۲٦
۱- د امپراطورۍ د پراختیا لپاره لښکرکښې ۲٦
۲- د عثماني خلافت له دربار سره اړیکې ۲۸
۳- اداري نظام او د دربار سیاسي کلتور ۳۲
٤- په احمدشاهي دوران کې د ټولنې فرهنګي ځیره ۳٥
٥- د احمدشاه د مړینې پر وخت د افغانستان نقشه ۳٦

## څلورم فصل

په افغاني امپراطورۍ کې د فتور پیل ۳۸
۱- تیمورشاه د قومي دښمنیو په منګولو کې ۳۸
۲- د کندهار څخه کابل ته د پایتخت د انتقال عوامل ۳۹
۳- پښتنو د اختلافونو او توطئیو محراق ٤۰
٤- په پنجاب کې د سیکانو بغاوتونه او قیامونه ٤۱
٥- د تیمورشاه مرګ او د داخلي جګړو پیل ٤۳

## پنځم فصل

څرنګه د پښتنو په رااوچتیدو کې خارجي عامل پر داخلي عامل غالب شو؟ ٤٤
۱- شاه زمان د امپراطورۍ په بیا راژوندي کولو کې ناکامه شو؟ ٤٤
۲- د سدوزي شهزادګانو خپل منځي جګړو هیواد سخت ناروغه کړ ٤٥
۳- لومړۍ کودتا او د هغې ترخه عواقب ٤٦
٤- د افغانستان د تجرید لپاره د لارد مارینګټن او ملکم طرحې ٤۹
٥- د ناپلیون پروژه: افغانستان پر هند د خیز د تختې په توګه ٥۱
٦- د شاه شجاع دربار ته د الفنسټن سفارت او د پښتنو د ترون عقد ٥۲

## شپږم فصل

د سدوزیانو لویدل او د محمدزیانو راپورته کیدل ٥٤
۱- د سدوزیانو سقوط او د محمدزیانو قدرت ته د رسیدو عوامل ٥٤

۲ - دوست محمدخان ځان امیرالمؤمنین اعلان کړ ۵٦
۳ - دوست محمدخان د پېښور د راگرځېدو په خاطر د روس تزار ته مراجعه وکړه ۵۷
٤ - انگریزانو شاه شجاع پر دوست محمدخان تعویض کړ او د مثلث تړون له مخې یې
د کابل پر تخت کېښیناوه ۵۹
۵ - د ملت عکس العمل (د افغان او انگریز لومړی جگړه) ٦۱

## اووم فصل

## د دوست محمدخان د امارت دوهم دور ٦۵
۱ - انگریز په کلکته کې د دوست محمد یاغي بنې وکنبلی بیا یې کابل ته راواستوی ٦۵
۲ - د پایارخان د زامنو ترمینځ د سیالیو د جگړو وروستی دور ٦۷
۳ - د هرات مسأله ٦۹
٤ - د جمرود په نامه دوه تړونونه ۷۳
۵ - د امیر دوست محمد مرگ او د نوی فتور او فتنو پیل ۷۷

## اتم فصل

## لویه لوبه (Great Game) او په افغانستان کې د هغې برخه ۷۸
۱ - د افغانستان د بریدونو جنوب او شمال ته په د بیی گامونو تړپونه ۷۸
۲ - د هندوکش او سلیمان په لمنو کې د دوو زبر ځواکونو (روس او انگریز) د ټکر خطر ۸۱
۳ - انگریز د (تجرید) له سیاست سره د (بفر) طرح پیوندوی ۸٤
٤ - د (بفر) طرح څرنگه منځته راغله؟ ۸۵
۵ - سر گرینوبل او شهزاده گورچاکوف د (بفر) چوکاټ جوړوی ۸۷

## نهم فصل

## د (تجرید) او (بفر) په وړاندې د شیرعلی خان بغاوتونه ۹۰
۱ - د انگریز څخه همیشنی شاکی ۹۰
۲ - د (تجرید) او (بفر) څخه د شیرعلی نفرت او د انگریز تفتیش ۹۱
۳ - د شیرعلی غاړی ته د ورونو ور اچول یا ور لویدل ۹۲
٤ - د امبالې په کنفرانس کې د امیر د لهجې صراحت انگریزان بیا مشکوک کړ ۹۵
۵ - د سیستان مسأله او د گولډ سمت حکمیت ۹٦

## لسم فصل


رفورم او د سیاسي تفکر د خاوندانو راپورته کیدل ۹۸
۱- د شیرعلي خان په رفورمونو کې د سیدجمال الدین نقش ۹۸
۲- پر عصري پرنسیپونو بنا دولتي تشکیلات ۹۹
۳- د عصري مطبوعاتو ځلیدل او د سیاسي مفکرینو د قشر ظهور ۱۰۱
٤- د عصري اردو تشکیل ۱۰۲
۵- عمراني فعالیتونه ۱۰۳


## یوولسم فصل


بحران او د سیاسي موازنو ګډوډیدل ۱۰۵
۱- د روسانو له خوا د خیوا اشغال او د انګریز له خوا د فارورډ پالیسي لوفری ۱۰۵
۲- د افغانستان وجود بې لزومه دی (لارډ لیټن) ۱۰۷
۳- د پېښور مذاکرات (سید نورمحمدشاه او سر ویلیام پیلی) ۱۰۸
٤- سلطان عبدالحمید هم امیر شیرعلي د انګریزانو دوستي ته راباله ۱۰۹
۵- کابل ته د روسي هیأت راتګ او بحران اوج ته رسیدل ۱۱۱
٦- ترخه مکاتبه (د امیر شیرعلي او لارډ لیټن ترمنځ) ۱۱۳
۷- انګریز د جنګ تصمیم ونیوی ۱۱۵


## دولسم فصل


د سرتمبه سیاست خطرناک عواقب ۱۱۸
۱- د انګریز او افغان د دوهم او لومړي جنګ توپیرونه ۱۱۸
۲- د انګریز لښکري افغانستان ته داخلې شوې ۱۱۹
۳- امیرمحمد یعقوب (یو علیل او رواني ناروغه شخصیت) ۱۲۱
٤- د یعقوب خان غمجنه پاچایي او د ګندمک شومه معاهده ۱۲۲
۵- د کابل قیام او د کیوناري قتل ۱۲۵
٦- یعقوب خان د انګریز پښو ته ځان واچاوه ۱۲۶

## دیارلسم فصل


د وحشتناک استبداد او توطئو عصر ۱۲۸
۱- هولناکه څیره (عبدالرحمن خان) ۱۲۸
۲- د دوو امپراطوریو مخلوق ۱۲۹
۳- د عبدالرحمن او سر لیپل هانري گریفن مکاتبه ۱۳۰
٤- هوښیار، بې رحمه او مستبد زمامدار (ضیا "الة و الدین) ۱۳۲
۵- د انگریز او روس پر غلگرد دیپلوماسي ۱۳۳
٦- د امیر د خارجي سیاست ستراتیژۍ او د پنجده فاجعه ۱۳٤
۷- د ډیورنډ لین ۱۳٦
۸- د امیر عبدالرحمن وروستي بې نتیجې تلاشونه ۱۳۹
۹- د امیر د مرگ پر وخت د افغانستان نقشه ۱٤۱


## څورلسم فصل


د عیاشیو او فتنو دربار ۱٤۲
۱- د شلمې پیړۍ په پیل کې نړۍ او افغانستان ۱٤۲
۲- امیر حبیب الله (سراج الملة و الدین) ۱٤٤
۳- په سیاسي صحنه کې د حبیب الله او انگریزانو لوبه ۱٤۵
٤- هندوستان ته د امیر حبیب الله سفر ۱٤۸
۵- د روس او انگریز د ۱۹۰۷ تړون او د افغانستان برخه ۱٤۹
٦- دربار او تشریفات ۱۵۱
۷- د عصري فرهنگ رواجول ۱۵۳
۸- د لومړۍ مشروطه غوښتونکو سرنوشت (توپ او زندان) ۱۵٤
۹- سراج الاخبار ۱۵۸
۱۰- لومړۍ نړیوال جنگ او افغانستان ۱٦۱
۱۱- په کابل کې د هند موقتي آزاد حکومت ۱٦۳
۱۲- د عیاش پاچا په دربار کې د فتنو او فساد رخنه ۱٦۵
۱۳- د امیر د قتل فاجعه ۱٦۷

## پنځلسم فصل

آزاد او خپلواک افغانستان ۱۶۹
۱- امان الله قدرت ته رسیږی ۱۶۹
۲- د خپلواکی اعلان او د خپلواکی جنگ ۱۷۲
۳- د صلح خبرې ۱۷٦
٤- رفورم (اصلاحات) ۱۸۰
٥- د رفورم ضد عوامل ۱۸۲
٦- د اعلیحضرت امان الله شاه تاریخی سفر او د هغه عواقب ۱۸٤
۷- د بیدو بلاو راوینبول ۱۸۷
۸- سقوط ۱۸۹
۹- امان الله د تاریخ د محاکمې په وړاندې ۱۹۲

## شپاړسم فصل

دوهم حبیب الله خان ۱۹۸
۱- کابل د بدوی کلتور تر چپاو لاندی ۱۹۸
۲- کلکانی حبیب الله (بچه سقاو) څوک ؤ؟ ۲۰۰
۳- د حبیب الله (بچه سقاو) دربار او کابینه ۲۰۲
٤- د امان الله تکفیرول ۲۰٥
٥- د سقوي دولت ماهیت ۲۰۷
٦- د وخت د مشهورو کسانو وژنه ۲۰۸
۷- آیا انگریز د سقوی دوری په حاکمیت کې لاس درلود؟ ۲۰۹
۸- د سقوي دورې په بحران کې د ایران او شوروی نیتونه ۲۱۱
۹- د سقوی حاکمیت سقوط ۲۱۲
۱۰- آیا سقوی اغتشاش یو دهقانی غورځنگ ؤ؟ ۲۱٤

## اولسم فصل

د حساب او تصفیې دوره ۲۱٦
۱- پرځپل شوی کابل د نادرشاه د سلطنت پیل ۲۱٦
۲- د محمدنادرشاه شخصیت او سابقه ۲۱۸

۳-د محمد نادرشاه حکومت ۲۲۰
٤- په نادرخانی دوره کې د امنیت ستونزه ۲۲۱
٥-د یو قانونی دولت بنسټونه ایښوول ۲۲۳
٦-د دینی علماؤ سره د پاچا اړیکی ۲۲٤
۷-د اقتصادی پرابلمونو د حل تلاشونه ۲۲٥
۸-اداری تشکیلات ۲۲٦
۹-فرهنگی فعالیتونه ۲۷
۱۰-د دولت خارجی سیاست ۲۲۸
۱۱-د محمدنادرشاه ناڅاپی قتل ۲۲۹


## اتلسم فصل

## پر خدای متوکل پاچا


پر خدای متوکل پاچا ۲۳۱
۱-د کورنی شورا د (...) مطابق محمدنادرشاه په پاچهی ومانه ۲۳۱
۲-د محمد ظاهرشاه شخصیت او سابقه ۲۳۲
۳-د محمدظاهرشاه په امر د محمدهاشم خان کابینه جوړه شوه ۲۳۳
٤-د ملکي تشکیلاتو نوی جوړښت ۲۳٤
٥-د سعدآباد په تړون کې د افغانستان غړیتوب ۲۳٦
٦-د افغانستان او المان نژدیوالی ۲۳۷
۷-افغانستان د دوهم نړیوال جنگ په وخت کې ۲۳۸
۸-د محمدهاشم استعفا او د سپه سالار د حکومت پیل ۲۳۹
۹-د سپه سالار کابینه ۲٤۰
۱۰-د دموکراسی تمثیل ۲٤۱
اول: د سیاسی بندیانو خوشي کول ۲٤۱
دوهم: د محصلینو اتحادیه ۲٤۲
دریم: د آزادو مطبوعاتو منځته راتگ ۲٤۳
څلورم: کلوپ ملی ۲٤۳
پنځم: د ښاروالیو د قانون سالم تطبیق ۲٤٤
شپږم: د ملی شورا د اوومي دورې ماجرا ۲٤٤

| | |
|---|---|
| ۱۱ - د دموکراسی خاتمه | ۲٤٥ |
| ۱۲ - افغانستان ته د امریکا پاملرنه | ۲٤٦ |
| ۱۳ - د سپه سالار د حکومت په لومړیو درو کالو کې د پولي اقتصاد بود تابلو | ۲٥۰ |
| ۱٤ - د سپه سالار د حکومت د سیاسی پېښو لنډ اجمال | ۲٥۱ |
| ۱٥ - د سردار محمد داود حکومت (د سپه سالار استعفی) | ۲٥۳ |
| ۱٦ - داود خان لس کاله په یوه سیاسی کشاله کې مصروف ؤ | ۲٥٥ |
| ۱۷ - کابل ته د نړۍ د سیاسی زعماؤ سفرونه | ۲٥۷ |
| ۱۸ - د لومړی اقتصادی پلان لاس ته راوړنې | ۲٥۸ |
| ۱۹ - د ملک خان کودتا او د صبغت الله مجددی د بند پېښه | ۲٥۹ |
| ۲۰ - د محمد داود د حکومت سقوط | ۲٦۰ |
| د اساسی قانون لسیزه | ۲٦۱ |
| ۲۱ - د ډاکتر یوسف حکومت | ۲٦۱ |
| ۲۲ - د نوي اساسی قانون د تسوید او انفاذ مراتب | ۲٦۲ |
| ۲۳ - د داکتر یوسف پر باندنی سیاست یو لنډ نظر | ۲٦٥ |
| ۲٤ - د عقرب د دریمې پېښه د ډاکتر یوسف د سقوط باعث شوه | ۲٦٦ |
| ۲٥ - د میوندوال حکومت | ۲٦۷ |
| ۲٦ - د میوندوال کابینه | ۲٦۸ |
| ۲۷ - میوندوال د سیاست په پیچومو کې | ۲٦۹ |
| ۲۸ - په دولتمداری کې د میوندوال ځینې اخلاقي کمزوری | ۲۷۰ |
| ۲۹ - نوراحمد اعتمادی | ۲۷۱ |
| ۳۰ - د اعتمادی د حکومت ستونزې | ۲۷۲ |
| ۳۱ - د داکتر عبدالظاهر حکومت | ۲۷۳ |
| ۳۲ - د اساسی قانون د لسیزې وروستی صدر اعظم (شبق) | ۲۷٤ |
| ۳۳ - د ... سیند څخه د افغانستان او ... د انتقادی مسأله | ۲۷٥ |
| ۳٤ - د اساسی قانون په لسیزه کې سیاسی گوندونه | ۲۷٦ |
| ۳٥ - د اساسی قانون په لسیزه کې عمرانی او فرهنگی فعالیتونه | ۲۸۰ |

## نولسم فصل


جمهـوریت ۲۸۱

۱- د سرطان د ۲۶ کودتا ۲۸۱

۲- کودتا څرنګه په سر ورسیده ۲۸۲

۳- د جمهوریت لومړنی تشکیلاتی نظام ۲۸۳

٤- د محمدظاهرشاد استعفی او د باچایی بندیانو بخښنه ۲۸٤

٥- د افغانستان خلکو ته خطاب ۲۸٥

٦- د میوندوال د کودتا او قتل پېښه ۲۸٦

۷- د جمهوریت بیرغ، نښان او ملی سرود ۲۸۷

۸- د پاکستان سر د سیاسی اړیکو تجدید ۲۸۸

۹- د ملی انقلاب حرکت او په دولت کې د پرچمیانو تصفیه ۲۸۹

۱۰- ترورونه او بت قتلونه ۲۹۰

۱۱- لویه جرګه، اساسی قانون او د جمهور رئیس انتخاب ۲۹۱

۱۲- مسکو ته د داودخان وروستی سفر او د بریژنف سره ټکر ۲۹۲

۱۳- داودخان پر یوه نوی او نابلده لار روان شو ۲۹۳

۱٤- د خیبر قتل ۲۹٥

۱٥- د خلق او پرچم د رهبرانو نیول او د جمهوریت سقوط ۲۹٦


## شلم فصل


د ثور (۱۷) کودتا ۲۹۷

۱- کودتا او د پیښې عوامل ۲۹۷

۲- د پیښې جریان ۲۹۸

۳- د دولت رهبری ۳۰۱

٤- اته فرمانونه ۳۰۳

٥- یوې خواته یکه تازی او بلې خواته سبوتاژونه ۳۰٤

٦- د هرات قیام ۳۰٥

۷- د خلق په جناح کې خپل منځي توطیې ۳۰٦

۸- په کابل کې د امریکا د سفیر دولف دابز قتل ۳۰۷

٩- د تره کي په دوره کې د افغانستان او پاکستان اړیکې ٣٠٨
١٠- د تره کي د قتل ماجرا ٣٠٩
١١- ترکی څوک ؤ؟ ٣١٢
١٢- د حفیظ الله امین درې میاشتې حکومت ٣١٣
١٣- د امین شخصیت او سابقه ٣١٤
١٤- مصؤنیت، قانونیت او عدالت ٣١٥
١٥- امین د یو انارشستی اداري بنسټ ایښوونکی ٣١٦
١٦- کابل ته د اغاشاهی د سفر معطلولو توطیه ٣١٧
١٧- امین څرنګه ووژل شو؟ ٣١٩
١٨- پر افغانستان د شوروی د سره پوځ یرغل ٣٢١
١٩- د شوروی پر نظامی تیری د افغانستان او نړۍ عکس العمل ٣٢٣
٢٠- د شوروی پر ضد د جهاد اعلان ٣٢٤
٢١- جهادي تنظیمونه او هغو ته د نظامی مرستو مقدار ٣٢٥
٢٢- ببرک کارمل د عامه نفرت په اوج کې په کار پیل وکړ ٣٢٧
٢٣- ببرک کارمل څوک ؤ؟ ٣٢٨
٢٤- د پلچرخی زندان خالی کېدل او بیرته ډکېدل ٣٢٩
٢٥- د شوروي د پلانونو په تطبیق کې کارمل ناکامه راووت ٣٣٠
٢٦- د کارمل وروستی تلاشونه ٣٣١
٢٧- د فرهنګی سقوط پیلامه ٣٣٣
٢٨- د ډاکتر نجیب الله د دورې پیل او د حکومت خصوصیت ٣٣٤
٢٩- ډاکتر نجیب الله څوک ؤ؟ ٣٣٥
٣٠- لویه جرګه، اساسی قانون او د جمهور رئیس ټاکل ٣٣٦
٣١- د ژینو توافقات ٣٣٦
٣٢- د حسن شرق حکومت ٣٣٩
٣٣- د جلال آباد جنګ ٣٤٠
٣٤- په نظامی پوټانشیل کې چاودنه (د تنی کودتا) ٣٤١
٣٥- د فضل الحق خالقیار حکومت ٣٤٣
٣٦- بې خاصیته ګوندونه ٣٤٤

۳۷- یو په بل پسې سقوطونه ۳٤٦
۳۸- د نجیب پر ضد کودتا او د رژیم سقوط ۳٤۷

## یو ویشتم فصل

## د تنظیمي حاکمیت دوره او ستونزې ۳٥۱

۱- د قدرت خلا او د کابل سقوط ۳٥۱
۲- د پېښور ناقصه موافقتنامه ۳٥۲
۳- مجاهدینو ته د قدرت انتقال او د مجددي حکومت پیل ۳٥٤
٤- د حضرت صاحب کابینه او جهادي شورا ۳٥٥
٥- حضرت مجددي د یو لوی بحران په غېږ کې ۳٥۷
٦- د پلچرخي موافقتنامه ۳٥۹
۷- پاکستان ته د حضرت سفر او الوتکه یې په راکټ ویشتل ۳٦۰
۸- د حضرت د دوه میاشتني حکومت خاتمه او ګیلې ۳٦۱
۹- حضرت صاحب مجددي څوک ؤ ؟ ۳٦۲
۱۰- د قیادي شورا او برهان الدین رباني حاکمیت ۳٦۳
۱۱- د اهل حل و عقد شورا ۳٦٤
۱۲- د اسلام اباد قران وهلې معاهده ۳٦۷
۱۳- د جلال آباد ناقصه غونډه او د فجایعو پیل ۳٦۸
۱٤- د هم آهنګۍ د شورا جوړېدل ۳٦۹
۱٥- د هرات غونډه ۳۷۰
۱٦- د ملګرو ملتونو بې نتیجې هڅې او د محمود مستیري ماموریت ۳۷۱
۱۷- د استاد رباني د حاکمیت وروستۍ پرده ۳۷۳
۱۸- پر کابل د تنظیمونو د جنګ او حاکمیت غایه ۳۷٤
۱۹- درې هولناکې څېرې (ګلبدین، مسعود، دوستم) ۳۷٦
۲۰- حیرانوونکې خسارې ۳۷۹

## دوه ویشتم فصل

## د طالبانو تحریک ۳۸٥

۱- د تاریخ لیکنې له نظره د طالبانو پر تحریک د لیکنې ستونزه ۳۸٥

ACKU

۲- طالبان څوک دي؟ ۳۸۶

۳- د طالبانو هدفونه ۳۸۷

٤- د تحریک پیل ۳۸۸

٥- د کندهار سقوط ۳۹۰

٦- د غزني سقوط او میدان ښار قرارگاه گرزول ۳۹۲

۷- د چارآسیاب فتح او د کابل ښار جنوب ته د طالبانو داخلیدل ۳۹۳

۸- د هرات سقوط او د رباني شدید عکس العمل ۳۹٤

۹- امیرالمؤمنین او د افغانستان اسلامي امارت ۳۹٦

۱۰- د رباني وروستی ناکامه تلاش (د ماهیپر غونډه) ۳۹۷

۱۱- د طالبانو ستر مارش او د ننگرهار، کونړ او لغمان سقوط ۳۹۸

۱۲- د کابل فتح او د ډاکتر نجیب اعدام ۳۹۹

۱۳- د طالبانو اداري تشکیلات او پنځه فقره ایزه اعلامیه ٤۰۰

۱٤- شمال ته د طالبانو پرمختگ او عکس العملونه ٤۰۱

۱٥- د مزار تراژیدي او د دښت لیلي فاجعه ٤۰۲

۱٦- د جنوب لویدیځ افغانستان د گاز د پایپ لین پروژه ٤۰٥

۱۷- د اسامه بن لادن افسانه ٤۰٦

۱۸- طالبان او ملگري ملتونه ٤۰۸

۱۹- د شمال ولایاتو نوي تصفیه ٤۱۰

۲۰- د عشق آباد بې نتیجې غونډه ٤۱۱

۲۱- مؤمن کدرونه او نامطلوب مامورین ٤۱۲

۲۲- د طالبانو د نظام اجتماعي کړه وړه ٤۱۳

ضمایم ٤۱٤

**لومړی ضمیمه:** د افغانستان د اوسنیو سرحداتو جوړښت او پرابلمونه ٤۱٤

**دوهمه ضمیمه:** په افغانستان کې د قومونو د ویش لنډه احصائیه ٤۲٦

**دریمه ضمیمه:** د افغانستان پر جغرافیایي جوړښت لنډ یادداشتونه ٤۳۰

مأخذونه او مراجع ٤۳۳

# مقدمه

(د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه) یو ضرورت زیږولی کتاب دی. ضرورت زیږولی په دې معنا چې د معاصر تاریخ یوه مستقل اثر ته ضرورت ؤ چې د پیل او ختم حدود یې معلوم او ټاکلي وي. که څه هم زموږ د معاصر تاریخ پیښې د تاریخ نورو دورو سره ګډې تشریح شویدي خو جلا اثر یې زما په سترګه شوی نه دی او هغه هم داسې یو اثر چې د معاصر تاریخ د جلاوالي او پیل له درکه کره دلایل وړاندې شوې وي.

دا مقدمه د لاندې ټکو د یادونې په خاطر لیکل شویده:

(۱)

لیکوال د دې معاصر تاریخ د ټولو پیښو بنسټیز محور د تاریخ پر دې تعریف استوار کړیدی: « په پرون کې د مادي، شعوري او سلیقه یي تفاوتونو او اختلافونو څخه د راپیدا شویو حوادثو علمي تحلیل او بیان تاریخ دی » دا چې دا تعریف د بل کوم عالم دی او بنایي همداسې هم وي، خو زما هغه یاددښت هیر دی، او هم بنایي زما د خپل ذهن زیږنده وي، خو په حق چې د منطقي پلوه یې جامع مفهوم افاده کړی دی.

په ټوله لیکنه کې د غه اصل په دقیقه توګه مراعات شویدی، خو د ضرورت پر اساس وروستی درې فصله (شلم، یوویشتم، او دوه ویشتم) چې تر اوسه لا پورې د پرون په چوکاټ کې نه دي او د غه زماني قیدي د پورتني تعریف سره اختلاف لري ور اچول شویدي.

البته دا زما له نظره ضروري وه څکه د غه حوادث چې ثقل یې نه یوازې زموږ هیواد بلکه سیمه ولړزوله او نړۍ یې هم ناآرامه کړه د حاضر نسل د پاخه خلکو عمر تر نظر لاندې تیر شویدی او زه چې د ډیر نژدې څخه د دغو هولناکو پیښو شاهد یم، د حوادثو د هیبتناکو وحشي طبیعته عاملانو

سره مې پېژندل نو ځکه د دغو پېښو تحلیل او بیان د لومړي لاس د فاکتونو حکم لري او دلته ځای ورکول يو لازمي امر ؤ. غالباً د تاریخ لیکنې استادان به زما دا نظر ونه مني او وبه وایي دا کیدای شوای چې دا برخه چې د تاریخ له چوکاټه دباندې ده د جلا مفصلې مقالې یا رسالې او حتی کتاب په شکل لیکل شوې وای، په تاریخ راګډول یې بې لزومه کار دی. زه دا نظر ردوم خو اوسنی کار کومه جدي سهو خطا یا اشتباه هم نه بولم، بلکې د دغو درو فصلو پېښې زموږ د تاریخ د پرونيو پېښو څخه راز پېدلې او د نړیوال استعمار یو ترخه او هولناکه عصاره ده او په دې کې شک نشته چې د تاریخي بلوغ مرحلې ته هم نژدې ده، نو لیکنه او په دې تاریخ پورې پیوندول یې هم له اهمیت څخه خالي کار نه دی.

( ۲ )

هغه آثار چې د دغې لیکنې له پاره مطالعه شوي دي د کتاب په پای کې معرفي شوي دي.

څرنګه چې دا یوه لنډه لیکنه ده او د پېښو په شرح کې د ماخذونو هغسې معرفي چې په پایلیکونو کې ویښوول شي د کار لمن پراخوله. په اثر کې پېښې هم هغه دي چې په نورو تاریخونو کې هم راغلي دي صرف هغه پېښې چې نوې کشف شوې یا د ندرت تر حکم لاندې راځي په لمن لیک کې یې مأخذ ښودل شوي دي، نور نو د دې کتاب د خصوصیت عمده ټکی دا دی چې د پېښو پر تحلیل ډېر زور اچول شوی دی.

په معاصر تاریخ کې افغانستان د نړۍ تاریخ ته ورننوځي او د لومړي ځل له پاره د نړۍ خور استعمار له هولناکې څېرې سره مخامخ کېږي، دلته د فتنو، فتور چلونو او چمونو په څپو کې لاهو کېږي، په جغرافیايي لحاظ هیواد د یو وحشتناک معبر شکل غوره کوي او په پای کې د هیبتناکو پېښو یو برزخ ځینې جوړېږي. د دغو پېښو ژور تحلیل تر وسې (قدرت) پورې شوی دی او د کتاب ارزښت هم پر دغه ټکي بنا دی.

باید یادونه وکړم چې دا کار د څو کالو د تحقیق محصول دی د ډېرو کلونو را په دې خوا چې مې د تاریخ په اړوند مقاله یا رساله لیکله نو د معاصر تاریخ یادداشتونه مې رابېلول او د پیوند او تحلیل کار یې په دوه کاله کې پای ته ورسید.

( ۳ )

ما د پېښو جریانات د میلادي سنې په قید لیکلي دي، دا ځکه چې دا ... لیک په ټولو ماخذونو کې راغلي دي او په دقیقه توګه چې میاشت او ورځ هم پکښې مراعات شوې دي دغه میلادي سنه شمسي یا قمري ته را اړول د کار سرګرداني زیاتوله، نو ځکه پر هم هغه میلادي سنه

مې تکیه وکړه، څو که ښاغلي لوستونکي وغواړي چې د دغې میلادي سنې څخه نیته د شمسي یا قمري سنې ته راواړوي نو دا لاندې فورمول مرسته ورسره کولای شي:

اول: د میلادي سنې څخه (٦٢١) کم کړي شمسي سنه ځيني راوزي.

دوهم: قمري او شمسي کال د (١٤١٩) او (١٣٧٧) په اعتبار په دې توګه د میلادي سنې سره عیارو:

قمري سنه پر ٣٣ تقسیم کړئ

```
٣٣ | ١٤١٩ | ٤٣
     ١٣٢
      ٩٩
      ٩٩
       ٠
```

شمسي سنه پر ٣٢ تقسیم کړئ

```
٣٢ | ١٣٧٧ | ٤٣
     ١٢٨
      ٩٧
      ٩٦
       ١
```

په پورتني حساب کې د شمسي حساب باقي (١) ډیر نقش لري په قمري کې د اصل سنې څخه د (٤٣) خارج قسمت منفي کول د شمسي حساب د (١) باقي په زیاتوالي شمسي سنه معلومیږي:

| | |
|---|---|
| ١٤١٩ | اصل قمري سنه |
| ٤٣ - | خارج قسمت منفي کول |
| ١٣٧٦ | |
| ١ + | د شمسي حساب باقي جمع |
| ١٣٧٧ | شمسي سنه |

د قمري سنې راایستل:

| | |
|---|---|
| ١٣٧٧ | اصل شمسي سنه |
| ٤٣ + | خارج قسمت جمع |
| ١٤٢٠ | |
| ١ - | د شمسي سنې باقي منفي کول |
| ١٤١٩ | اصل قمري سنه |

په قمري سنې د میلادي سنې اړول آسانه طریقه دا ده چې لومړی قمري په شمسي بیا په میلادي واړوئ.

## (٤)

دا لیکنه مخ کې تر دې چې د فصلونو په اعتبار متن پیل شي، یو مدخل لري او په مدخل کې د معاصر تاریخ اصطلاح توضیح شوې او پر مبدأ یې رڼا اچول شوې ده او زموږ د معاصر تاریخ د

روښانولو پر مباديو څو عنوانه کې خبرې شویدی او د مطلب د کره کولو دلایل وړاندې شويدی. دا کار ځکه شویدی چې لوستونکی په ناڅاپي توګه د معاصر تاریخ له پیښو سره مخامخ نشي او قبلي ذهني تیاری ولري.

د متن ۲۲ فصله هم د کرونو لوژی له پلوه او هم د پیښو د ثقل له لحاظه تصنیف شویدی او د لیکوال د فهم تر سطح پورې د تاریخي میتودولوژی قانونمندی پکښې مراعات شویدی. همدا رنګه په پای کې درې ضمیمې وراچول شویدی چې هغه د متن د تکمیلي حکم لري. په لومړی ضمیمه کې د افغانستان د اوسنیو سرحداتو د جوړښت ټول جریانات شرح شویدي، په دوهمه ضمیمه کې د افغانستان د مشهورو قومونو لنډه احصائیه راوړل شویده او په دې توګه د تاریخي مضمون د متمم په توګه اتنوګرافیکي کمبودی جبیره کړیدی. په دریمه ضمیمه کې یو څو لنډ جغرافیایي یادداشتونه اچول شویدی چې د تاریخ په مطالعه کې د لوستونکو سره مرسته کوی. همدا دی د دې کتاب خصوصیات، نور نو لوستونکو ته حوصله غواړم، زه نه عذر لرم نه غوښتنه! دا اثر چې می د کابل په یخو او تیاره شپو او د انساني جنایت یعنی عامې وژنې په صحنه کې لیکلی دی او هر آن به منتظر وم چې کوم راکټ به مې د کورنۍ سره ټوټه کړي، زما په عقیده کم کار نه دی زه یې خالصانه وړاندې کوم.

# مـدخل

## ۱- د معاصر تاریخ اصطلاح او د هغه د مبدأ مسأله:

د معاصر تاریخ اصطلاح یوه نوې مقوله ده او پر مبدأ یې چې د کومه ځایه بباید پیل شي ډیر اختلاف دی. مؤرخین او واقعات لیکونکي ډیر ځله د خپل محل لویه حادثه هغه ته د مبدأ په توگه ټاکي.

پخوا تاریخ لیکونکو د تاریخ د تقسیم بندۍ له پاره درې مرحلې ټاکلې چې هغه عبارت دي له: «لرغونی تاریخ، منځنی پېړۍ او نوې پېړۍ»[۱]. او وروستیو څېړونکو معاصر تاریخ د نویو پېړیو په چوکاټ کې شامل کړ او څرنگه چې د نویو پېړیو په مبدأ او پیل کې اختلاف موجود ؤ، نو د معاصر تاریخ په مبدأ او پیل کې هم اختلاف رامنځته شو. پر دې مسأله اتفاق حاصل ؤ چې نوې پېړۍ د منځنیو پېړیو د پای ته رسیدو سره راپیل کیږي، خو د منځنیو پېړیو د ختم په باب هم واحد نظر موجود نه ؤ.

دا خبره په عامه توگه کیدله چې منځنۍ پېړۍ په (۴۷۶م) کې لویدیځ روم د سقوط سره چې د اوداکر بربریانو[۲] پر لاس منځته راغلی پیل او د ختیځ روم د مرکز قسطنطنیې (اوسنی استانبول) د فتح سره چې د عثماني ترکانو پر لاس سر ته ورسیدله په ۱۴۵۳م کې پای ته ورسید.

دا یو عمومي نظر و چې نوې پېړۍ باید د ختیځ روم د مرکز د سقوط څخه راپیل شي، خو د تاریخي پیښو د ماهرو تحلیلگرانو دا نظر چندان نه تائیداوه او دې خبرې دوه علتونه درلودل: یو دا چې د مسیحیت د نړۍ خلکو د ختیځ روم د مرکز سقوط د مسلمانانو له خوا د مسیحیت پر مخ یو ... په توگه بلله، او د نویو پېړیو پیل چې د یو نهضت سره همردیف ؤ داسې نه خوښاوه چې د نوموړي سقوط سره رابطه ورکړي. دوهم دا چې د نویو پېړیو تاریخ پوهان زیاتره تر سمتي احساساتو لاندې راغلي وو او د خپلو محلاتو لویې پیښې یې د نویو سېړیو د پیل په توگه ټاکلې: مثلاً ایټالویان چې د رنسانس نهضت له هغه ځایه راپورته شوی او هغه هم د خپل طلوع ټاکي تاریخ نه لري د منځنیو پېړیو ختم او د نویو پېړیو مبدأ بولي.

آلمانیان د نویو پېړیو مبدأ په آلمان کې د مذهبي اصلاحاتو سره نړۍ، انگلیسان د نویو پېړیو پیل د خپل هیواد د صنعتي انقلاب سره پیوندوي، فرانسویان ډیر وړاندې راځي او د نویو پېړیو پیل

---

۱- دوره، باستان، قرون وسطی و قرون جدیده.

۲- odocre.

ته د فرانسې له انقلاب سره پیوستون ورکوي. په دې توګه نود نويو پېړيو د پيل په باب دومره اختلافات موجود دي او معاصر تاريخ چې د نويو پېړيو په بطن کې ځای لري، نو د هغه په باب هم د نظر اختلافات لږ نه دي.

زیاتره څېړونکي معاصر تاریخ د فرانسې له انقلاب څخه راپیلوي او په دې باب يې منطق هم قانع کوونکی دی، ځکه د فرانسې د انقلاب پېښه په لویديځ او حتی ختيځ کې د ډېرو لویو تحولاتو د مور حيثيت لري، خو دا منبع زیاتره د اوربا د تاریخ سره ښه مطابقت کوي خو دا هم يو مشروع کار دی چې هر هیواد خپل معاصر تاریخ ليکي وکولای شي د خپل هیواد د معاصر تاریخ يو د عمده پېښه چې د نويو تحولاتو زيږنده وي، د معاصر تاریخ د مبدأ په توګه راوړي او په زماني لحاظ دا پېښه باید د فرانسې د لوی انقلاب سره چې نږیوالې اغيزې لري مطابقت ولري يعنې نه ډير مخ کې او نه ډیر وروسته وي.

زموږ تاریخ پوهانو د معاصر تاریخ مبداء اتلسمې پېړۍ د وهمه نيمايي قبوله کړیده او دا نو هغه مهال دی چې د احمدشاه ابدالي په مشرۍ د افغانستان د امپراطورۍ خښته اېښودل کیږي.

که څه هم زه عقيده لرم چې زموږ معاصر تاریخ باید له هغه وخته راپیل شي چې زموږ خلک د لومړي ځل لپاره د اروپا له يوه لوی استعماري قدرت سره مخامخ شول. دا يوه ډېره لويه پېښه وه چې افغانستان د خارجي سیاست په صحنه کې ناشناخته حوادث استقبال کړل او هغو خوشحاله عواقب نه درلودل او له هم هغه وخته خارجي عامل پر داخلي عامل د سیاست په صحنه کې درونډوالی راووست او دا يو شوم امر و خو غټه پېښه وه چې زموږ د تاریخ مسیر يې د کسی او کيفي پلوه ولويوه خو طوفاني سواحلو ته ور برابر کړ.

دا نوې پېښې چې نطفه يې د اتلسمې پېړۍ په وروستۍ لسیزه کې ګېډۍ ته ولويده خو د نولسمې پېړۍ د لومړۍ لسیزې سره يې خپلې د وينو ډکې سترګې زموږ پر ټولنه را اوښې کړې مبدا جوړیدای شي. دا پېښې د تیمورشاه د راني د مړينې او پر تخت د هغه زوی زمان شاه له کښېنستلو سره پيل شوې او لکه د واورې غونډارې هر څومره چې دا ... هغومره يې پر حجم او خطر زیاتوب راتلئ. هغه مهال چې د نولسمې پېړۍ په پيل کې د ختيځ هند انګليسي کمپنۍ خپل نماينده ... مالکم په ايران کې د فتح علي شاه قاجار دربار ته راواستاوه او هغه ايران پر افغانستان راولمساوه چې د هند څخه د زمان شاه مخه ونيسي، څو انګليس د پنجاب د نيولو پروژه په پوره زړه سر ته ورسوي. افغانستان انځور شو او د انګليس په ... د سدوزو شهزادګان لکه د لرغوني روم ګلاډياتوران يو د بل ګېډۍ څیرلو ته تیار شول. دا حوادث د معاصر تاریخ مبدأ کیدای شي، خو تر اوسه دا يوازې زما نظر دی او پوخ شوی هم نه دی، نو ځکه زه د سلفو تاریخ لیکونکو تقسيم مراعاتوم او د معاصر تاریخ پیل ته به د افغاني امپراطورۍ تأسيس د مبدأ په حيث راوړم.

## ۲- د معاصر تاریخ د چوکاټ بندۍ پر مقدماتو یوه لنډه کتنه:

د احمدشاهي دولت تأسیس چې د معاصر تاریخ د مبدأ حیثیت لري د ټاکلو ټولنیزو او سیاسي علتونو معلول ؤ چې وروسته به نسبتاً مفصل وڅیړل شي.

پټه دې نه وي چې د مطلب د ښه کره کولو په خاطر ښایي تر دغې نیتې څو لنډ گامونه مخته واخیستل شي، ځکه زموږ تر بحث لاندې حوادثو نطفه په ځینو مواردو کې هم هلته ځای لري. اوس به د یو څو مطلبو په توضیح پیل وکړم:

اول: له هغې ورځې چې د افغانستان جغرافیایي موقعیت په خاصه توگه جنوب غربي سیمې خاص الخاص قندهار د دوو امپراطوریو (پارس او هند) ترمینځ د منازعې ټکی ؤ او اوبه تېوله اولسمه پېړۍ کې د همدغو امپراطوریو ترمنځ لاس پر لاس کېدې.

پس له ظهیرالدین بابر څخه د هغه زوی همایون لمسی جلال الدین محمد اکبر، کړوسی جهانگیر، کوسی شاه جهان او کردی عالمگیر اورنگ زیب هر یوه د لویو اردوگانو په سر کې د قندهار د جگړې پر ډگر د خپل رقیب صفوي ایران د شاه عباس څخه نیولې د سلطان حسین له لښکر سره جنگیدلی ؤ. په دې توگه دغې سیمې د وضع الجیش او سوق الجیش پلوه ډېر لوی ارزښت درلود.

دوهم: د روم امپراطوریو (صفوی پارس او کورگاني هند) ترمنځ د سوداگرۍ له همدغو سیمو تیریده او کندهار ډېر لوی مارکیټ و چې شپه او ورځ د ایراني او هندي مالونو کاروانونه ورته راروان وو او د دواړو امپراطوریو د حریصو مال سالارانو د حرص سترگې ورته راکړې وې.

دریم: هغه سخلشور د قبایل چې همیشه به د دولتونو له مرکزونو سره په جگړه یا به یې د فرار لار په مخه ورکوله ډېر د اغېزمنه جنگي قوه وه او هر وخت د دغو دوو امپراطوریو (پارس او هند) پاملرنه ځانته راجلبوله. هغو دغه خلک رانیول او بیا یې په نظامي سوقیاتو کې کار ورڅخه اخیست او دا یې د غټو نظامي ارزښتونو یوه منبع گڼله.

څلورم: د کندهار سیمه چې د ارغنداب د پر برکته سیند یوه عطیه ده، حاصلخیزي یې د لوی ثروت منبع ده او د همدغو دوو قدرتونو د حرص سترگې هر وخت ورته راکړې وې او اضافه تر شل کاله د همدغو دوو امپراطوریو ترمنځ خونړۍ جگړې روانې وې. دا او یو څه نور لوی او واړه مسایل چې د پښتنو لړۍ یې په ځان پسې راکشوله د افغانستان د معاصر تاریخ د مبداء پر چوکاټ بندۍ ژورې اغیزې درلودې.

دغه د پردیو تیریو او فشارونو ټولنه راوېښوله، سره له دې چې پر دې بیگانه حاکمیت به د

دغې وروسته پاته ټولنې خلک یو پر بل لمسول، او کور په کور په دې به یې تحریکولې، خو د خلکو عصبیت لکه غورځانده چینه ورغ په ورغ لوړیده.

په دغو ورځو یعنې د اتلسمې پیړۍ د پیل سره کندهار د صفوي پارس تر حاکمیت لاندې و او دوه عامله د دې سبب شول چې خلک د خپل هیواد آزادۍ او ملي حاکمیت د هغو پرد یو څخه وژغوري. یو عامل د صفوي دربار تر حد زیات فشار او د هغه دربار د جابر حاکم بیګلر بیګي ګرګین خان ظلم او بل عامل په ټولنه کې د یو مدبر هوښیار او د ټولنې په نبض پوه مشر (میرویس خان) وجود ؤ چې دغه ستر د تاریخي عملیه یې په بریالیتوب سرته ورسوله.

البته په عواملو کې دا عامل هم نظر اندازي کیدای نشي چې د صفویانو عمومي اداره د خپل بطن څخه داسې وروسته او شوریدلې وه چې نه یوازې د میرویس خان په مشرۍ د افغانانو قیام شاته و نه تمبولای شوای بلکه د افغاني خانزادګانو محمود او اشرف په مشرۍ افغاني سرتیرو د صفویانو امپراطوري له ریښو وکښله او د شاهنشاه سلطان حسین تاج یې پر خپل سر کیښود.

دا پیښې هغه زلزلې وې چې افغانان یې د تاریخ پر جلاله صحنو ته راتیل وهل او دوهم تکان نو دا و چې افغانستان پخپله د یوې پر طنطنه امپراطورۍ مرکز شو.

دغه پیښې د افغانستان د معاصر تاریخ د چوکاټ بندۍ د شمزۍ حیثیت لري او په ځان پسې یې نورې پیښې راتعقیبولې.

هوتکیان سره له دې چې د افغانستان د استقلال پیلامې یې کښیښولې، ولې قبیلوي خصلت یې نه ؤ صیقل شوی او دا وجه وه چې د هوتکو رهبران یو د بل پر ضد په اختلاف راپورته شول په دغو اختلافاتو کې د میرویس خان ورور عبدالعزیز میرویس خان ته زهر ورکړل او دا کار یې د ایران په لارښوونه وکړ چې هغوی به د پښتنو امارت دد ته ورکړي.

د میرویس خان زوی او نورو مشرانو عبدالعزیز له قصر څخه راوغورځاوه او مړ یې کړ.

د عبدالعزیز زوی د میرویس خان زوی محمود چې لیونی شوی ؤ اداره یې په خپله په لاس کې واخیستله. کله چې په ایران کې نادرشاه افشار ورته راپورته شو، شاه اشرف په کندهار کې د حکمران شاه حسین څخه چې د میرویس خان زوی و مرسته وغوښته خو هغه مرسته ورنکړه، کله چې اشرف د ایران نه راووت او د کندهار په لار کې... ته ورسید شاه حسین ابراهیم خان بلوچ ور ولیږی او هغه هلته اشرف مړ کړ. په دې توګه د هوتکو قدرت مضمحل شو او نادر افشار کندهار ته روان او پاچایي کورنۍ یې مازندران ته راتبعید او پسې قتل کړل.

دا حقایق په یوه منظوم قلمي تاریخ کې راغلي چې عبدالغفار هوتک د تیمورشاه سدوزي په دوره کې لیکلي دي.(۱)

۱ - رفیع: کتابونه دریابونه، د پېښور چاپ، ۲۳۲-۲۳۳ مخونه.

## ۳- د اتلسمې پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې د افغانستان نوې جيوپولټيکي بڼه:

اتلسمه پېړۍ د افغانستان د ګاونډيو دوو امپراطوريو (صفوي ايران او کورګاني هند) په انحطاط راپيل شوه.

دا دوې امپراطورۍ د پخواني مجد او عظمت څخه رالويدلي او د هولناکې تباهۍ پر پوله رواني وې. پر دې دواړو هيوادونو دود تورو زړو خاوندان متعصب او مستبد اپادشاهان مسلط و.

پاچا سلطان حسين صفوي يو مذخرف او ناپوه سړی و چې شاو خوا يې مداريان، جادوګران او خطاايستونکي خلک راټول او دربار په عياشۍ او فحاشۍ کې ورځ تر بلې ډوبيدی.

همدا رنګه کورګاني هند هم د يو متعصب او محيل امپراطور، (عالمګير او اورنګزيب) په نجسو منګولو کې راګير ؤ. دغسې ستره امپراطوري د جلال الدين محمد اکبر، او شهاب الدين محمد شاجهان عظمتونه او طنطنې شاته پرې ايښې او په چټکۍ يې پر قهقرا او د پرېوتو پر ګړنګونو ورغښتل.

د ماوراء النهر د ازبکانو خانانو هم پر خپل وحشت زياتوب راوستی ؤ او حکمرانان يې د داړمارانو غلو په څير اوښتي و او سيمه يې په وحشتناکه توګه سره شوړيدله.

افغانستان د دغه فتنه پاڅونکي مثلث په مينځ کې واقع و. د هيواد جنوب لويديځه سيمه د صفوي استعمار تر اداري لاندې وه. کندهار د هغوی ډيره قوي اردوګاه او د دغې نظامي او ملکي اداري په سر کې ګرګين خان ګرجي مقرر و چې په ساده شکايت به يې د خلکو سرونه غوڅول.

د هيواد ختيځې سيمې د دهلي د کورګاني اداري په لاس کې وې چې د اباسيند تر غاړه پښتني قبيلې ورسره په جګړه کې وې.

هغه هيواد (ايران) چې زموږ د هيواد جنوب لويديځې سيمې او د هغو مرکز کندهار يې په لاس کې ؤ يو ايراني ظريف مؤرخ يې داسې انځوروي: «همه اهل آن آفاق چنان برواده و مست و ملنګ شده بودند که از دستبرد همديګر مانند شيران مست و ګاوان جنګي همه پريشان حال و آشفته خاطر و دلتنګ بودند و اکثر اهل آن زمان پهلوان و کشتي ګير و شب رو و مکار و عيار و رند و لاابالي بوده اند و به هر جا و هر سراى که زن يا دختر جميله و يا پسر جميلي و يا اسپ و يا اشتر رهواري ګرانبهاى سراغ مينمودند ميرفتند و به زور و به پهلواني و شبروي و چالاکي و چستي و به فنون عياري و مکاري آنرا ميربودند.»[1]

---

۱- رستم التواريخ ۱۰۳ مخ.

داسې فتنې او جنایات چې د شهنشاهۍ په نفس مرکز کې روانې وې د استبداد او استعمار اربابانو پر هغو سیمو په مراتبو په قوت بلې کولې چې د دوی تر ولکې لاندې وه. دغه وضع زموږ د هیواد په جیوپولیټیکي جوړښت کې نوي بعدونه منځته راوړل. د یوې خوا زموږ پر هیواد د دوی حاکمې امپراطورۍ د کمزورۍ په ناروغۍ اخته شوې او زموږ خلکو دا فهم وموندی چې د فرصت په استفاده باید خپل واک له بیگانه و څخه را خپل کړي.

د اتلسمې پیړۍ په لومړۍ لسیزه کې د میرویس په مشرۍ خپلواک افغانستان اعلان شو نو په دوهمه او د دریمې لسیزې په یو برخه کې پخپله هغوی امپراطورۍ د افغانانو په لاس متلاشي شوه او د څلورمې لسیزې په وروستیو کلونو کې په سیمه کې احمدشاهي امپراطوري راوځلیده.

که څه هم دا د قبیلې طبیعي خصلت دی چې د تجمع له مرکزونو څخه فرار کوي او افغاني قبایل هم له پخوا څخه د اتلسمې پیړۍ تر اوایلو پورې د همدغه خصلت تابع وو ولې د استعماري فشار دا بعد په هغو کې هم دا احساس راژوندی کړ چې د بیگانه لاس له خپل سره لنډ کړي او همدغه شوی بعد د جیوپولیټیکي بنې په نوي کولو کې ژوري اغیزې وغورځولې. د قبیلو د مشرانو اتحاد چې د یو دلوی مشر تر لارښوونې لاندې یې متحد حرکتونه تنظیم کړ د، نه یوازې وطن خپلواک شو بلکې پخپله افغانستان ته یې دا زمینې برابرې کړې چې یو پراخه او قوي امپراطوري منځته راولي. دا ټول جریانات چې په کلتوري او سیاسي سطح کې روان وه په نتیجه کې یې د یوه قوي جیوپولیټیکي بنې ته تحقق ورکړ.

د افغانستان د هغې ورځې په جیوپولیټیکي جوړښت کې د میرویس خان نقش عمده ؤ چې هیواد یې د دباندنی استعمار څخه خپلواک کړ، او دا کار دومره اغیزناک ؤ چې تر ده وروسته د اخلافو څخه دوو محمود او اشرف هغه مسلط استعمار یعنې د هغوی امپراطورۍ ماڼۍ ونړوله او د میرویس خان بل زوی حسین چې له کندهاره یې هیواد اداره کاوه په ټالو حدودو کې هغه سیمې تر خپلې اداري لاندې راوستلې چې تر نظامي او سیاسي ارزښتونو یې کلتوري ارزښت زیات ؤ.

د میرویس خان زوی په ۱۷۲۷ م کې د شاد حسین هوتک په نامه پر دا لاندې سیمو حاکمیت درلود. « ... د هرات څخه تر غزنی او گومله، اسمعیل خان دیره، ملتان او د بولان دره یې په ولکه کې وه. »(۱)

البته دا هغه سیمې دي چې خلک یې په یوه ژبه خبرې کوي او د کلتور نور عناصر یې د توکمې جوړښت په شمول سره مشترک دي، نو بنا ٔ پر همدغو کلتوري اړخونو جیوپولیټیکي جوړښت یې د دغې پیړۍ په دوهمه نیمایي کې چې احمدشاهي امپراطوري منځته راغله دا یری د منځ ټکی تشکیل کړ او له دې مخه د باندې سیمې د اقمارو په شکل پر راوگرزول شوې.

۱ - تاریخ مختصر افغانستان د پوهاند عبدالحی حبیبی اثر، جلد دوم ص ۱۵۷

## ٤- پر هغو پېښو یو ځغلنده نظر چې په درو وروستیو پېړیو کې یې افغانستان ته ټکانونه ورکړیدي:

هغه پېښې چې په درو وروستیو پېړیو (١٨، ١٩، ٢٠) کې افغانستان ورڅخه راتېر شویدي که یې هرڅو مرد لنډي او خلص راولیکو بیا به هم یو اوږد طومار ورځ جوړ شي، نو زما په نظر دا به ښه طریقه وي چې هغه په کرونولوژیک قالب کې واچوو، په دې توګه به نو هم مهمې پېښې توضیح شي او هم به د لوستونکو سره د کتاب د متن په مطالعه کې د زماني پېژندنې له جهته مرسته وکړي.

١٧٠٣م: د کندهار مرزبان دولت خان د سرمست خان سدوزي زوی (د احمدشاه بابا نیکه) د خپل زوی نظر محمدخان سره د کندهار په ښاري سفا کې د صفویانو حکمران ګرګین خان د شپې په یو یرغل کې ووژل.

١٧٠٥م: میرویس خان هوتک د کندهار په کوهکران کې د قومي مشرانو یوه لویه جرګه په پټه دایره کړه او هغو ته یې ابلاغ کړه چې د ایراني استعمار څخه د آزادي مبارزه پیل کړي.

١٧٠٦م: د هند د مغولو امپراطور عالمګیر اورنګزیب د ٩٠ کالو په عمر تر پنځوسو کالو پاچهي وروسته مړ شو، اورنګزیب یو مستبد او د افغانستان پر ختیځو پښتنو یو متجاوز شخصیت ؤ.

١٧٠٧م: میرویس خان د کندهار د مانجي دوهمه جرګه جوړه کړه چې د هغې په فیصله ګرګین قتل او په کندهار کې ملي حکومت اعلان شو.

١٧١٣م: حاجي میرویس خپل ورور حاجي امکو د ډهلي دربار ته په سفارت ولیږی او د هند کورګاني دولت د کندهار ملي حکومت په رسمیت وپېژند.

١٧١٥م: حاجي میرویس خان تر ٨ کالو مشرۍ وروسته مړ او ورور یې عبدالعزیز په مشرۍ انتخاب شو. دا یو بې زړه سړی ؤ.

١٧٢٢م: هوتک محمود د *ایران* مرکز *اصفهان* ونیوئ او شاه حسین صفوي خپل تاج ده ته تسلیم کړ. په همدغه کال احمدخان (شاه) وزیږیدی.

١٧٢٥م: هوتک شاه محمود په اصفهان کې ووژل او اشرف هوتک پاچا شو.

١٧٢٩م: شاه اشرف ته نادر افشار ماتې ورکړه او د سیستان په زړه غرد کې د ابراهیم بلوچ له خوا ووژل شو.

۱۷۳۷م: نادر افشار تر یو کال کلابندۍ وروسته کندهار ونیوئ. د هغه ښار یې وران کړ او هوتک شاه حسین یې مازندران ته تبعید کړ.

۱۷۳۹م: نادر افشار ډهلي ونیوی او تر یو دلوی لوټبار وروسته د کندهار پر لار مشهد ته ولاړ او هلته یې جشن ونیوی.

۱۷٤۱م: احمدخان سدوزی نادر افشار د همرکابه ابدالیانو د گارډ په مشری وټاکه.

۱۷٤۷م: نادر افشار د خبوشان په فتح آباد کې قتل او احمدخان یې کورنۍ وساتله او پخپله کندهار ته راغی.

۱۷٤۷م: احمدخان د شیر سرخ په جرگه کې د افغانستان د پاچا په توگه وټاکل شو.

۱۷٥۱م: پنجاب، سند او کشمیر د احمدشاهي سلطنت جزء شول.

۱۷٥٦م: احمدشاه بابا ډهلي ونیوی.

۱۷٦۰م: احمدشاه د پانی پت پر میدان ۱۰ لکه مرهټیانو ته ماتي ورکړه او دوه لکه مړه او ۲۲ زره هندوان بندیان شول.

۱۷٦۳م: احمدشاه خلیفة المسلمین عثماني سلطان مصطفی ته د هند د فتح لیک ولیږی.

۱۷٦۷م: احمدشاه د بخارا له پادشاه... سره آمو سرحد وټاکئ.

۱۷۷۲م: احمدشاه ۵۱ کلن پس له ۲٦ کاله سلطنت مړ او په کندهار کې ښخ شو او تیمورشاه د احمدشاه زوی پاچا شو.

۱۷۷۳م: تیمورشاه پایتخت له کندهاره کابل ته نقل کړ.

۱۷۹۳م: تیمورشاه تر ۲۲ کاله سلطنت وروسته مړ او شاه زمان زوی یې پاچا شو.

۱۷۹٤م: د شاه زمان پر ضد په کندهار کې کودتا وشوه، خو ناکامه او ډېر لوی قبیلوی خانان د هغې جملې سردار پاینده خان پکښې اعدام شول. په دې کودتا کې د اول ځل له پاره خارجي عنصر هندي میر غلام محمد چې ښايي د هند شرقي کمپنۍ به رالیږلی ؤ پکښې گیر او اعدام شو دا سړی پنجابي و.

۱۷۹۸م: محمود شاه په هرات کې باغي شو. شاه زمان ورغی او هلته د خپل زوی کامران او ورور حاجي فیروزالدین سره یې په تهران کې فتح علي شاه قاجار ته وتښتېدل او د ایران د مداخلې دروازه خلاصه شوه. په همدغه کال شاه زمان رنجیت سنگ سک د پنجاب حکمران وټاکی.

۱۸۰۱م: سر جان ملکم په تهران کې د هند انگریزي سفیر شو او ده ته ماموریت ورکول شوی و چې شاه زمان مصروف کړي چې پر پنجاب ورنشي. د دوورونه سره اخته کړل، خو شاه زمان د محمود له خوا په سترگو ړوند شو.

۱۸۰۳م: په کابل کې د شیعه او سني جنګ

۱۸۱۷م: کامران میرزا وزیر فتح خان ونیوی او په سترګو یې ړوند او له همدغه ځایه لویې شخړې رااوچتې شوې.

۱۸۲۶م: د سردار پاینده خان زامنو لوی افغانستان خپل ترمنځ وویشی او میثاق یې لاسلیک کړ.

۱۸۲۹م: شاه محمود سدوزی د خپل زوی کامران له خوا په هرات کې ووژل شو.

۱۸۳۲م: الکساندر برنس انګریز د بخارایي سوداګر په جامه کې په بخارا او افغانستان کې وګرځېدئ، بیایې خپل سفرنامه ولیکله.

۱۸۳٤م: شاه شجاع او رنجیت سنګ معاهده وکړه او شاه شجاع پر کندهار حمله وکړه، خو مات او وشړل شو. رنجیت سنګ پېښور ونیو.

۱۸۳۷م: پوتنجر انګریز د ... د سوداګر په لباس کې کابل ته راغی او د ملایانو په کالو کې هرات ته ولاړ او خپل سیاسي کار ته یې ادامه ورکړه.

۱۸۳۸م: محمدشاه قاجار غوریان ته راورسیدی چې هرات ونیسي، په کابل کې دوست محمدخان ځان امیرالمؤمنین کړ، خو شاه شجاع د هند ګورنر جنرال او رنجیت سنګ ترمنځ د لاهور مثلث لاسلیک شو او شاه شجاع کابل ته راغی.

۱۸۳۹م: د اندوس ارضي قواوې د جنرال کین په مشرۍ کندهار ته ورسیدې.

۱۸٤۰م: د کابل په شمال کې د میر مسجدي په مشرۍ د انګریز پر ضد خلک پاڅول امیر دوست محمد له بخارا راغی ... او هغو د خپلې کورنۍ سره هند ته واستاوه.

۱۸٤۱م: د انګریز سفیر مکناټن د وزیر اکبرخان په لاس ووژل شو، همدا رنګه پرس هم ووژل شو.

۱۸٤۲م: د کابل څخه د انګریز د اردو وتل تصویب شول، خو د هغو ۱۷ زره پوځ د کابل او جلال آباد ترمنځ قتل او یو ډاکتر برایډن ژوندی ووت، په دې پسې شاه شجاع هم ووژل شو.

۱۸٤۳م: امیر دوست محمد له هند څخه راوستل شو او بیا د کابل پر تخت کښینول شو.

۱۸۵۵م: د امیر دوست محمد د زوی غلام حیدرخان او د انګریز ګورنر جنرال ترمنځ د جمرود لومړی تړون لاسلیک شو.

۱۸۵۸م: د امیر دوست محمد او سرجان لارنس ترمنځ د جمرود دوهم تړون امضاء شو.

۱۸٦۳م: امیر دوست محمد په هرات کې مړ شو.

۱۸٦۵م: شیرعلي خان په کابل کې د دوه زره تنو غړو په ګډون لویه جرګه جوړه کړه. په دې

پسې د کندهار خواته جنګ روان شو چې په هغه کې یې زوی او ورور ووژل شول.

۱۸۶۹م: امیر شیرعلی ته انګریزانو ۱۲ لکه روپۍ او ۱۲ زره توپک ورکړل او په دې پسې شیرعلی د هند د انبالې کنفرانس ته ولاړ.

۱۸۷۶م: د افغانستان لومړی کابینه د سید نورمحمدشاه په صدارت جوړه شوه.

۱۸۷۲م: د پرنس ګورچاکف (د روسیې خارجه وزیر) او ګرینویل (د انګریز خارجه وزیر) ترمینځ معاهده وشوه چې افغانستان د انګریز د نفوذ ساحه وبلل شوه.

۱۸۷۷م: د سید نورمحمدشاه صدراعظم او سر ویلیام پیلي د انګریز نماینده ترمینځ خبرې او د سید نورمحمدشاه مرګ.

۱۸۷۸م: د روس سفیر جنرال ستالیتوف کابل ته راغی او انګریز عکس العمل وکړ.

۱۸۷۹م: پر افغانستان د انګریز حمله او مزار ته د شیرعلي خان تګ او هلته وفات کیدل.

۱۸۸۰م: د میوند جنګ او د انګریز ماتیدل او د امیر عبدالرحمن د امارت پیل.

۱۸۸۵م: روسانو پنجده ونیوله د جنرال غوث الدین او افغاني عسکرو قتل عام.

۱۸۹۱م: د کوړک د تونل کار خلاص او د هند سپه سالار افتتاح کړ.

۱۸۹۳م: د ډیورند کرښه د امیر عبدالرحمن او سرما... ډیورنډ ترمینځ امضاء شوه.

۱۹۰۰م: امیر عبدالرحمن خان په باغ بالا (کابل) کې مړ شو.

۱۹۰۷م: امیر حبیب الله د هند د ویسرای لارډ ستو په بلنه هند ته سفر وکړ.

۱۹۰۹م: د مشروطه غوښتونکو لومړی غړی یا په توپ کې والوزول شول یا بندیان شول.

۱۹۱۱م: سراج الاخبار په نشر پیل وکړ، مدیر یې محمود طرزی ؤ.

۱۹۱۵م: د هند مهاجرین د راښدراپراتاپ تر مشرۍ لاندې په کابل کې راټول او د هند مؤقت حکومت یې جوړ کړ.

۱۹۱۹م: امیر حبیب الله په کله ګوش کې ترور شو.

۱۹۱۹م: امان الله پاچا شو او د افغانستان خپلواکي یې اعلان کړه او انګریز سره د کندهار، ننګرهار او پکتیا محاذونو کې جنګ وشو.

۱۹۲۱م: د انګریز د نماینده سر هانری دوبس سره خبرې پیل شوې او د شوروی سره تړون لاسلیک شو. د محمود طرزی او هنری دوبس ترمینځ ۸ مادی ۲ ضمیمې تړون لاسلیک شو (۲۱ نومبر).

۱۹۲۳م: د امان الله خان په دوره کې لومړی لویه جرګه د ۸۷۲ غړو په ګډون په جلال آباد کې جوړه او لومړی اساسي قانون یې تصویب کړ. د کابله تر ډکې تر سرحده لومړی د تلګراف لین جوړ

شو او په دې توګه د لومړي ځل لپاره کابل له هند سره وتړل شو.

۱۹۲٤م: په پکتیا کې د ګوډ ملا قیام د دولت پر ضد پیل شو. دی په ۱۹۲٥ اعدام شو.

۱۹۲۷م: اعلیحضرت امان الله شاه د دسمبر څخه د ۱۹۲۸ تر جولای پورې د یو شمیر آسیایي، اروپایي او افریقایي ممالکو ته سفر وکړ.

۱۹۲۸م: د استقلال او تجدد د ګوند مرامنامه د پاچا له خوا خپره شوه. دریمه لویه جرګه په پغمان جوړه شوه (۲۰۰۰) غړي یې درلوده د ننګرهار شینوارو په سنګوخیلو کې لومړی قیام پیل شو. پر قلعه مرادبیګ د حبیب الله کلکاني (بچه سقاو) حملې پیل شوې.

۱۹۲۹م: امان الله خان استعفی وکړه کندهار ته ولاړ. سقاو پر کابل حمله وکړه او په غزنی کې د امان الله خان تر لنډ جنګ وروسته عسکر مات او پاچا له وطنه ووت. ۹ میاشتې د حبیب الله کلکاني جاهلانه پاچهي پر کابل تیره شوه او په اکتوبر کې محمدنادرشاه پاچا شو.

۱۹۳۰م: محمدنادرخان لویه جرګه جوړه او هغه د افغانستان دوهم اساسي قانون تصویب کړ.

۱۹۳۱م: د کابل ادبي انجمن د محمدنادرشاه په امر جوړ شو.

۱۹۳۳م: د ... محمد عزیزخان د سیدکمال له خوا ترور شو. محمد عظیم منشي زاده د انګلیس په سفارت حمله وکړه او درې تنه یې مړه کړل. محمدنادرشاه د عبدالخالق په تفنګچه په ارګ کې ترور شو.

۱۹۳٤م: افغانستان په جامعه ملل کې عضویت ومونډ.

۱۹٤۱م: افغانستان په دوهم نړیوال جنګ کې خپله بې طرفي اعلان کړه.

۱۹٤٦م: سپه سالار شاه محمود خان صدراعظم اروپا او امریکا ته سفر وکړ، هند پر دوو مملکتونو هند او پاکستان ووېشل شو او د پښتونستان په نامه معضله د افغانستان غاړې ته ولویده.

۱۹٥۳م: شاه محمود خان مستعفي او داؤدخان صدر اعظم شو.

۱۹٥٥م: په کابل کې لويې جرګې حکومت ته د وسلو اخیستلو اجازه ورکړه.

۱۹٥۹م: د امریکا جمهور رئیس ایزنهاور د ٦ ساعتو لپاره کابل ته راغی.

۱۹٦۳م: سردار محمد داود استعفی وکړه او ډاکتر محمدیوسف صدراعظم شو.

۱۹٦٤: لويې جرګې دریم اساسي قانون تصویب کړ. په همدغه کال د افغانستان او چین ترمینځ سرحدي کرښه په ټینګه شوه.

۱۹٦٥م: ډاکتر یوسف له منځه ووت او میوندوال صدراعظم شو. د عقرب دریمې پرجنجال شخړه منځته راغله.

۱۹٦۷م: میوندوال استعفی وکړه او نوراحمد اعتمادي صدراعظم شو.
۱۹۷۲ داکتر ظاهر صدراعظم او لنډه موده کې مستعفي شو او شفیق یې پر ځای راغی.
۱۹۷۳م: (جولای) داودخان کودتا وکړه او جمهوریت یې اعلان کړ.
۱۹۷٤م: محمدظاهرشاه خپله استعفی محمدداؤد ته راواستوله.
۱۹۷۳م: میوندوال او یو شمیر نظامیان د کودتا په تور ونیول شول او اعدام شول.
۱۹۷٦م: لویه جرګه وشوه او څلورم اساسي قانون یې تصویب کړ.
۱۹۷۷م: په مسکو کې د داودخان او بریژنیف ترمنځ ټکر وشو.
۱۹۷۸م: د پرچمي خیبر قتل او د ستونزو پیل. د خلق او پرچم د غړو بندیانول او د ثور د (۷) کودتا د جمهور رئیس محمدداؤد او د هغه د ۲۷ کسیزې کورنۍ قتل عام، د خلق او پرچم تر مینځ مخالفت او د پرچم رهبران د سفیرانو په توګه له وطنه ایستل.
۱۹۷۹م: په کابل کې د امریکا لوی سفیر دابس اختتاف او بیا قتل شو. په هرات کې قیام چې ۵۰ زرو تنه او په یوه قول ۲۵ زره کسه ووژل شول. کیوبا ته د ترکي سفر او تر راتګ وروسته د امین له خوا د هغه قتل او امین رهبر کیدل، د امین قتل او د ببرک راتګ.
۱۹۸۰م: د شوروي د سره پوځ یرغل او د افغانانو او نړۍ عکس العمل، د مجاهدینو د تنظیمونو جوړیدل او د جهاد پیل.
۱۹۸۲م: د افغانستان څخه د تعلیمیافته او منور قشر تر پلان لاندې فرار ته اړ ایستل.
۱۹۸٤م: د لومړي ځل لپاره سکر راکټونه پر کابل راوویشتل شول.
۱۹۸۵م: په اخیر کې د ببرک ایسته کیدل د داکتر نجیب حکومت پیل کول.
۱۹۸۸م: د ژینو توافقات لاسلیک شول، شوروي قواوې له افغانستان څخه ووتلې، خو جنګ جاري ؤ.
۱۹۸۹م: د شوروي خارجه وزیر شوارد نادزې په عالي شورا کې وویل چې په افغانستان کې شوروي ۱۰۰ ملیارده ډالره خساره لیدلې ده.
۱۹۹۲م: کابل سقوط وکړ، نجیب الله د ملګرو ملتونو په دفتر کې پناه واخیستله او کابل مجاهدینو ونیوئ. د حضرت صبغت الله مجددي ۲ میاشتنی دولت، د برهان الدین رباني ٤ میاشتنی دولت، د شورای اهل حل و عقد دایریدل او د مجاهدینو ترمینځ د جنګ شدت او د کابل ٦۰ زره دی دفاع خلکو قتل عام او د ښار تر نیمې زیات ورانیدل.
۱۹۹٤م: د اسلام آباد تړون چې رهبرانو په مکه او مدینه کې پر قرآن قسم وکړ او بیا یې مات کړ منعقدیدل، د جلال آباد غونډه او بې نتیجې موافقې د مسعود او ګلبدین ترمینځ سخت جنګ چې

په یوه ورځ ۲ زره کسه یې دفاع خلک په کابل کې ووژل شول. د ملګرو ملتو د سرمنشي نماینده محمود مستري بې نتیجې تلاشونه.

د طالبانو راپورته کېدل، د کندهار، هلمند او اروزګان او غزني اخیستل او پر میدان ښار دریدل.

۱۹۹۵م: طالبانو پل علم ونیوی او د ګلبدین مرکز چار آسیاب یې خپله نظامي قرارګاه کړه او د کابل جنوب لویدیځ ته یې سوقیات وکړل. د هزاره ګانو مشر آیت الله مزاري د طالبانو په الوتکه کې ووژل شو. هرات سقوط وکړ اسمعیل خان د ۱۰۰۰ تنو سره وتښتید.

۱۹۹٦م: ملامحمد عمر د ۱۵۰۰ ملایانو په غونډه کې امیرالمؤمنین شو. جلال آباد سقوط، کابل طالبانو ونیو، ډاکتر نجیب یې اعدام کړ.

۱۹۹۷م: مزار ته د طالبانو ورتګ او په دشت لیلي کې د ۲ زره طالبانو قتل. بادغیس، میمنه، جوزجان او مزار شریف طالبانو ونیول.

۱۹۹۸م: کندز یې پخوا، بغلان یې وروسته او سمنګان یې په نوبت ونیول.

۱۹۹۹م: د عشق آباد بې نتیجې غونډه جوړه شوه.

# لومړی فصل

## افغانستان د شکل او محتوا له نظره د معاصرې مرحلې (د اتلسمی پیړۍ په دوهمه نیمایی) په پیل کې

ACKU

### ۱ – د افغانی امپراطورۍ مؤسس ابدالی احمدشاه:

احمدخان (وروسته شاه) یو خانزاده ؤ چې په اصطلاح نیکه گان یې تر اووه پښته د قدرت او صلابت خاوندان او په ټولو نژدی او لیرې قبایلو کې پیژندلی خلک وو او پر قومونو یې امر او حکم چلیدی.

دا چې د شیرسرخ په جرگه کې د قبیلو لوی مشرانو یو د پنځه ویشت کلن ځوان ته د وطن او خلکو اداره ورسپاری دا کومه تصادفی پېښه نه ده بلکی د احمدخان شخصیت او شرایطو ده ته دا مساعدت په برخه کړی ؤ چې ولس باور په وکړی او مشران اختیار [٤] ور وسپاری چې دده قوم سدوزی یو لږکی ؤ او خانانو ته بې تشویش نه پیدا کاوه یا دده پارس ځخه دیری پیسې راوړې وې او په هغوی جرگه وال رانیول یو ځه قابل تأمل خبر ده دا و که یې وهم منو، نو د احمدخان د انتخاب په چانس کې دوهمه درجه عوامل گڼل کیږی او اصلی عامل یې دده د قومي خانی بنسټونه او اعتبارات وه چې په جرگه کې یې ده ته بریالیتوب په برخه کړ،

احمدخان د پوپلزو د قبیلې د سدوزي ښاخ ته منسوب ؤ، دده مشر نیکه ملک پوپل د ځیرک دوهم زوی او پنځم نیکه یې ملک سدو د کندهار ارغستان د مرکز په توگه وټاکی او د ایران د شاه عباس صفوی دربار د هغه خانی په رسمیت پیژندلی وه.

د احمدخان نیکه دولت خان چې د ایران حاکمیت یې نه منی او مرکز یې د کندهار ښار صفا وه دده بیگلر بیگی گرگین خان په لښکر کې د زوی نظرمحمدخان (د احمدخان تره) سره یو ځای ووژل شو او بیا د احمدخان پلار (د دولت خان دوهم زوی) زمان خان په کرمان کې د یرغمل په توگه ساتل کیدی.

پس له هغه چې د میرویس خان په مشری د ایران حاکمیت ته په افغانستان کې خاتمه ورکول شوه، نو زمان خان هم د یرغمل حالت څخه نجات وموند او هغه مهال چې د عبدالله خان ابدالی زوی اسدالله خان په کال (۱۱۳۲هـ - ۱۷۱۹م) د محمود هوتک سره د دلارام په جنگ کې ووژل شو، نو پر ځای یې د احمدخان پلار زمان خان د هرات حکمران شو او دوه کاله یې د هرات حکومت وکړ او مرسته یې عبدالغنی خان الکوزی کوله چې د احمدخان د مور تربور او د زمان خان اخښی و. زمان خان پس له دوه کاله مړ شو او بیو مده د احمدخان مشر ورور ذوالفقار خان هم د هرات مشر شو خو وروسته بی اتفاقی راپورته شوی او فراه ته ولاړل. ذوالفقارخان د کشر ورور احمدخان سره کندهار ته ولاړ او هلته شاه حسین هوتک بندیان کړل او کله چې افشار نادر کندهار فتح کړ، نو عبدالغنی خان الکوزی دا دواړه ورونه له زندان را وایستل او افشار نادر ته یې وسپارل، افشار نادر احمدخان ته دخپل گارډ قوماندانی ورکړه او کله چې په خبوشان کې ووژل شو نو احمدخان کندهار ته راغی او دلته پاچا شو.

## ۲- جامعه د قبیلې په سیوری کې (د جرگو سیستم):

وایی هر چیری چې قبیله وی هلته جرگه هم وی او چیرې چې جرگه معمول وي، هلته ټولنه د قبیلوي مناسباتو په سیوری کې واقع وی.

د افغانانو ټولنه یوه قبیلوی ټولنه ده او تر هغه ځایه چې تاریخ په یاد لری له ډیرو لرغونو وختونو څخه پر دی ټولنه د قبیلې سیوری راخپور دی.

په قبیلوی ټولنه کې د جرگی نظام حاکم وي، په دی نظام کې تعاملی کودونه د حقوقو او جزا حدود ټاکی او په ټولنه کې لوی مسایل د لویی جرگی په وسیله د حل و فصل لار پیدا کوی. د جرگو

فيصله د روند قدسيت لري، که يو فرد د خپلې ټولې کورنۍ سره تباه کېږي هغه قبلوي خو د جرګې فيصلې په وړاندې بغاوت يا خيانت هيڅ نه قبلوي.

داسې لويې جرګې او زړ تاريخ لري، خو ډېرې مهمې جرګې په اتلسمه پېړۍ او بيا په نولسمه او شلمه پېړۍ کې شوېدې.

د اتلسمې پېړۍ په اوايلو کې هغه مهال چې هيواد د ايراني صفويانو په استعمار کې بند ؤ د حاجي ميرويس خان په مشرۍ دوې لويې جرګې د کوهکران (۱۱۱۷هـ - ۱۷۰۵م) او مانجې (۱۱۱۹هـ - ۱۷۰۷م) په مقامونو کې جوړې شوې، دا حرکتونه ټول مخفي و دڅو کار نظم ومونداو علني قيام پيل شو، د ايران حکمران بيګلربيګي ګورګين او د هغه نظامي او ملکي مشران قتل او د کندهار ملي خپلواک دولت اعلان شو او ميرويس خان د ملي مشر په توګه وټاکل شو.

دوهمه لويه جرګه د احمدشاه ابدالي د ټاکنې جرګه وه چې د کندهار په شېر سرخ کې جوړه شوه او په هغه کې د قومونو مشرانو برخه اخيستې وه او څو ورځې غونډې کېدې څو يې احمدخان سدوزی د احمدشاه په نامه مشر کړ او هغه په خپل تدبر او درايت د احمدشاهي امپراطورۍ بنسټ کښېښودی.

په ۱۹ پېړۍ کې په خاصه توګه چې د انګريز د يرغلونو په وړاندې افغانانو مقاومتونه کول، نو د برياليتوب رمز بې په دې ټکي کې پروت و چې د جرګو په فيصلو به دومره قوي واحد جبهه تشکيل شوه چې ډېرو لويو قدرتونو په هغوی کې د نفوذ توان نه درلود.

همدا رنګه په شلمه پېړۍ کې د غه جرګې د لويو مقاصدو لپاره دايرېدې. که څه هم دې جرګو ته د اولس د قدرت خاوندان راتلل يعنې ټولو عوامو په هغه کې برخه نشوای اخيستلای، نو ځکه د دموکراسۍ تمثيل نشي کولای، ولې د قبيلې په اشرافي ټولنه کې همدغه لار ده چې مسايل په جرګو حل شي.

جرګه د قبيلوي خانانو او د ټولنې د متنفذ قشر نمايندګي کوي، نو ځکه بې بوه عادلانه لار نشو بللای.خو تر کله چې يوه بله اصلح لار منځته راځي نو دا هم ناګزيره ده چې د ټولنې د خاصو مشکلاتو حل د جرګې په وسيله وکړو او همدغه جرګې په معاصر تاريخ کې د ستون فقرات حيثيت لري.

## ۳- د خانخانی دولت تمثیل (قبیلوی تعاملات او عنعنوی سنتونه):

افغانی امپراطوری چې احمدشاه تأسیس کړه دولتی شکل یې کاملاً خانخانی ؤ، د شیرسرخ په جرګه کې د قبیلو د خانانو له خوا احمدشاه ته پاچهی منظوره شوه او احمدشاه چې د اداری دستګاه تشکیل منځته راوړ، نو د همدغی جرګی د شاملینو او یو شمیر نور نظامی قوماندانانو څخه یې په پایتخت کې یو دایمی شورا تشکیل کړه چې په ټولو نظامی او ملکی چارو کې به یې د هغوی له مشورې سره سم کار کاوه.

نورمحمدخان علیزی مشهور به میر افغان د نادرشاه نظامی قوماندان او د شیرسرخ د جرګی ګډون کوونکی او پاچهی ته کاندید، محبت خان د پوپلزو د قبیلی مشر هغه کسان وه چې لوی نفوذ یې درلود، په دوی کې حاجی جمال خان بارکزی د پاچهی ادعا درلوده، ،خو جرګې په دې توګه هغه له ادعا څخه منصرف کړ چې فیصله یې وکړه چې: «پاچهی به د پوپلزو د قبیلی په سدوزی ښاخ کې وی چې حاضر نماینده یې احمدخان دی او وزارت به د حاجی جمال خان او د ده له کورنی سره وی.»[۱]

په دې توګه د خانخانی د دولت بنسټ کېښېښودل شو. احمدشاه په دې پوهیدی چې که د دغو خانانو تناوړ نه آزاد کړي، نو د دی سیالی او رقابتونه دده د سلطنت پایی هم وروریږدوی نو ځکه یې د پایتخت په شورا کې شامل کړل.

احمدشاه د قبیلوی مناسباتو جبر او د قبیلوی رقابتونو له تشویش څخه ودی ته وګمارل شو چې حاجی جمال خان بارکزی په شاه ولی خان بامیزي (پوپلزی) چې دده خپل قومی ؤ تعویض کړی.

دا کار په داسی یوه طریقه سرته ورسیده چې په ظاهره یې د خیر او صلاح بڼه درلوده خو په دننه کې ټول پوهیدل چې د حاجی جمال خان په حق کې تیری وشو. حاجی جمال خان د احمدشاه په وړاندی عکس العمل ونه ښود خو زوی یې (سردار پاینده خان) چې د احمدشاه د لمسی شاه زمان په وړاندی کود تا وکړه او ناکام او بیا اعدام شو ډیر خطرناک عواقب یې رامنځته کړه او دا بدیء د پاینده خان د زامنو په بغاوتونو او قیامونو هغه ځای ته ورسیده چې پاچاهی د سدوزو څخه محمدزو ته رانقل شوه.

د انتقالات او جریانات ټول به یو خانخانی چوکاټ کې سرته رسیدل او ځکه نو دغه دولت د

---

۱- ظفر کاکاخیل: پښتانه د تاریخ په رڼا کی، د پېښور چاپ ۸۵۷ مخ.

ACKU

خانخانی تشیل کاوه، دا دولت په دباندنی شکل کې ډیر غټ او قوي ؤ او یو شمیر کارونه یې د قبیلې پر خښته تکیه ؤ او دا خښته د دغې باعظمتې امپراطورۍ دروندوالی نشوای برداشت کولای، نو ځکه فقط د احمدشاه د قدرت او د تیمورشاه د دورې تر یوې برخې پورې دا خانخانی دولت بقا درلوده او وروسته یې په پاشلو او متلاشی کیدلو پیل وکړ ځو یې په درنو او اوږدو داخلي جګړو د بدن سیک ووت.

## ٤- درې مخ په زوال همسایه دولتونه (نادري ایران، کورګانی هند او د مرکزی آسیا خانات):

دلته د افغانستان د معاصر تاریخ د لومړیو وختونو سره په مطابقت کې په لنډه توګه پر درې ګاونډیو هیوادو (ایران، هند او مرکزی آسیا یا د بخارا پر امارت) رڼا اچوو.

### لومړی- ایران یا پارس:

په ۱۷٤۷م کې لوی چپاولګر پاچا نادر افشار هند ته نږدې د خراسان په خبوشان کې ووژل شو. احمدشاه چې دده د ګارډ قوماندان ؤ، دده کورنۍ د لوټمارانو ځخه وساتله او پخپله کندهار ته راغی، خو دلته پاچا او بیا د سیمې امپراطور ورځخه جوړ شو.

په ایران کې د مختلفو قبایلو خانانو او د نادر قوماندانانو هر یوه یوه سیمه په خپل اختیار کې واخستلو. په خراسان کې د نادر تر مرګ وروسته د هغه وړور علی قلی خان خان پاچا کړ، خو بل وروریې محمدابراهیم خان دی ونیوی ړوند یې کړ، ولې نورو بانفوذو کړیو دا دواړه ووژل، ځو په ۱۷٥۰ کې ابدالی احمدشاه هلته ورغی او د نادر لمسی شاهرخ یې وربان‌دی واکمن کړ او دده د ساتنې او نظامي قواو د تنظیم لپاره یې نورمحمد خان میر افغان ورسره مقرر کړ.

ځو وخته وروسته په مشهد کې د امام رضا روضې متولي د سید محمد په نام ځان پاچا کړ او شاهرخ یې ړوند او برطرف کړ، خو د جلایر قبیلې بغاوت وکړ او سیدمحمد یې وشړئ او ړوند شاهرخ یې بیا پاچا کړ.

د ایران بیلې بیلې سیمې سره جلا شوې وې، خو د نادر یو ډیر باتدبیره قوماندان کریم خان زند په ۱۷۵۷ کې دغه پراګندګی ته خاتمه ورکړه او پخپله د وکیل الرعایا په نامه د یوه مرکزی حکومت مشر شو، ولې ده ته هم قیامونه روان وه.

په خراسان کې علیمردان خان او نصرالله میرزا د قدرت مندۍ ادعا کوله، څو په ۱۷٦۹ کې آغامحمدشاه قاجار قدرت ترلاسه کړ او د قارجاریانو سلطنت یې قایم کړ چې د شلمې پېړۍ تر دوهمې لسیزې پورې یې دوام درلود او د لومړي رضاشاه پهلوي په کودتا یې وروستی پاچا خلع شو.

په عمومي توګه د نادرشاه تر مرګ وروسته که احمدشاه بابا ؤ که تیمورشاه په ایران کې یې د هیڅ ډول مداخلې هڅه ونه کړه، خو د نولسمې پېړۍ په پیل کې د قاجاریانو دوهم پاچا فتح علی شاه د ختیځ هند د انګریزي کمپنۍ د نماینده سرجان ملکم سره د افغانستان پر ضد پر یوه قرارداد امضاء وکړه او په دې توګه یې د بدنیتو ورېرانیست.

د اتلسمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې ایران د انحطاط پر پوله روان او د یوه قوي مرکزي دولت د نه لرلو په وجه یې ډېر زیانونه استقبالول، خو د افغانستان له پلوه هیڅ تشویش ورته پېښ نه ؤ. او حتی د دوی د فتنو او فتورونو په مخ نیوي کې مرسته ورسره کېده خو د نادر استبداد د رشد ټوله چینې تر ډېره وخته وچې ساتلې وې.

## دوهم- کورګاني هند:

په ۱۷۰۷م کې اورنګزیب عالمګیر مړ شو او پر ځای یې زوی بهادرشاه پاچا شو، خو د اورنګزیب په مرګ د لویو مغولانو دوران پای ته ورسیدی او د بې خاصیته او بې کفایته شهزادګانو دور پیل شو. د بهادرشاه تر مرګ وروسته جهاندارشاه په نامه دده زوی پاچا شو او دده د مغولانو د پاچاهي کورنۍ ټول نارینه قتل کړل، خو دووسرانو د حسین او عبدالله په نامه اختیار واخیست او په همدغه وخت کې د رفیع الدرجات او رفیع الدوله او نیکو سیر په نامه دری کسه پر قدرت راغلل او دغه د فتنو په زمانه کې هغوی هم مضمحل شول.

په دې پسې د بهادرشاه د لور له خوا لمسی روشن اختر د محمدشاه په نامه پاچا شو، څرنګه چې رنګه کالي یې اغوستل په رنګیلا مشهور شو، دده خپل غورد القاب داسې ټاکلي وه: (ابوالفتح ناصرالدین محمدشاه خجسته اختر بادشاه غازي شاه جهان). دی یو بې کفایته سړی ؤ او دده په وخت کې افشار نادر پر هند حمله وکړه او بیا یې په ډهلي کې دی دوباره پاچا کړ.

محمدشاه پر هند د احمدشاه بابا د لومړۍ حملې په وخت کې د ۱۷٤۷ په پای کې مړ شو او پر ځای یې زوی احمدشاه مغولي پاچا شو چې احمدشاه بابا دده په وخت کې ډهلي فتح کړ.

په ۱۷۵۹م کې علي ګوهر د شاه عالم په نامه پاچا شو چې تر ۱۸۰٦ پورې پاچا ؤ، ولې د انګریز تنخوا خور ؤ. دده تر مرګ وروسته یې زوی ثاني اکبرشاه پاچا شو او د اکبرشاه تر مرګ وروسته په ۱۸۳۷ کې دده د لور له خوا لمسی ثاني بهادرشاه مظفر پاچا شو چې دده په وخت کې د

ډهلي خلکو په ۱۸۵۷ کې د انګریز پر ضد قیام وکړ او انګریزانو په ډیره سختۍ دا قیام مات کړ او پاچا مظفر یې بندي رنګون ته ولیږئ چې هلته پسې مړ شو او په دې توګه د کورګانیانو یا د بابري مغولانو دوره پای ته ورسیده. نور نو تر دې وروسته پر هند د انګریز د حاکمیت مرحله ده چې تر ۱۹۴۷ پورې دوام وکړ.

افغانستان په خاصه توګه د احمدشاه بابا له دورې څخه راوروسته د هندي کورګانیانو سره ښې اړیکې درلودې حتی د مغولي پاچايي کورنۍ شهزادګۍ یې خپل زوی تیمورشاه ته واده کړې وه.

احمدشاه بابا د دغې کورنۍ پاچیان او شهزادګان په خپل حمایت کې ساتل، خو دغه کورنۍ په تاریخي لحاظ د شکست پر پوله روانه وه خو د انګریز په چپاو د تاریخ کندې ته وروغورځیده.

## دریم- د مرکزي آسیا خانات (د بخارا امارت):

د افغانستان په شمال کې د اوزبک شیباني دولت د خپل قدرت په وخت کې پر افغانستان د تسلط تلاشونه کول. د ۱۵۰۰م څخه تر ۱۵۹۹م پورې شیباني دولت تر آمو پورته په مرکزي آسیا کې حاکم ؤ او د افغانستان شمال او حتی بعضاً یې جنوب ته هم لاسونه راغزول. په دغه سل کاله کې د دغې کورنۍ ۱۲ کسه پاچهۍ ته ورسیدل چې ځینې یې قوي او ځینې ضعیف و، خو طبیعتاً د ملکتدارۍ د وحشت او استبداد ته تمایل زیات ؤ، نو ځکه د اولسمې پیړۍ په اوایلو کې د تاریخ له صفحې ووتله او پر ځای یې یو دبله کورنۍ منځته راغله چې په تاریخ کې د جنیدي پاچهۍ کورنۍ په نامه یادیږي. دغه کورنۍ چې تر ۱۷۸۵م پورې یې قدرت درلود ۱۲ پاچهانو حاکمیت پرې وکړ.

دا زمانه د احمدشاه بابا د سلطنت او د تیمورشاه د پاچهۍ درې کاله په ځان راکنیباسي. په لومړي سر کې دغه د آمو څخه د پورته غاړې حاکمانو پر شمالي افغانستان چپاونه وهل، خو په ۱۷۴۹م کې د احمدشاه بابا د سلطنت په دوهم کال وزیر شاولي خان د احمدشاه بابا له خوا شمالي افغانستان ته ولیږل شو او جنیدي دولت تعهد وکړ چې بیا به تیرې نه کوي او احمدشاه بابا هم د دوی د حمایت وعده وکړه. په ۱۷۶۷م کې یو ځل بیا پر شمالي افغانستان تیرې وشو او دا ځل وزیر شاولي خان د یو د لښکر سره هغه خواته ورغی، خو جنیدي دولت یو ځل بیا تعهد وکړ چې نور به داسې نه کوي او ضمناً دواړو خواو څخه یو تړون وشو چې د آمو سیند د افغانستان او بخارا امارت د سرحد په حیث په رسمیت وپیژندل شو.

په ۱۷۸۵م کې د جنیدي کورنۍ وروستی پاچا شاه عبدالعزیز له لاسه پاچهي ووتله او د منغیته په نامه یوې بلې ازبکې کورنۍ قدرت په لاس کې واخیست.

په ۱۷۸۸ کې د منغیته کورنی پاچا شاه مراد معصوم د سدوزی کورنی د دوهم پاچا تیمورشاه پر ضد ځینی اختلافات داسی وفهمول چې په یوه حمله په شمالی افغانستان په خپل لاس کې واخلی خو تیمورشاه د یو لک لښکر سره قندوز او آقچې ته راغی او شاه مراد چې متوجه شو توبه یې وایستله او یو ځل بیا امو د افغانستان او بخارا د امارت ترمنځ د سرحد په حیث قبول شو. تر دې وروسته د بخارا د منغیته کورنی پاچیان د روسانو تر تهدید لاندی شول او افغانستان هم انګریزي استعمار سره لاس و ګریوان ؤ نو د بخارا کمزوری پاچیان لکه سلطان مظفر او امیر عبدالاحد هغه کسان وه چې د افغانستان امراو ته یې نه مرسته کولای شوای او نه یې د ضرر رسولو توان درلود، بلکی د افغانستان د دعوا په طرف کې د بخارا د امارت پر ځای روسان ولاړ وو.

د منغیته کورنی وروستی پاچا، پاچا سیدعلم خان د روسانو له فشاره د امان الله شاه په وخت کې افغانستان ته راغی او دلته په کابل کې ځای ورکول شو خو همدلته مړ شو او هغه امارت هم له منځه ولاړ.

دا دری مخ په زوال دولتونه (ایران، هند او بخارا) د اتلسمی پیړی په دوهمه نیمایی کې د افغانی امپراطوری دری سپور میانی (اقمار) وه چې افغانی دوه پاچیانو (احمدشاه او تیمورشاه) هم د هغوی حمایت کاوه او هم د خپلی امپراطوری د امنیت لپاره ګیه ځینی اخیستله او د درو غتو امنیتی پوستو په شکل یې نظامی او سیاسی لحاظ دا دولتونه عیار کړی وه، خو د نولسمی پیړی د پیل سره چې د کورګانی هند پر ځای انګریزان وه دریدل او د بخارا امارت د روسانو په ولکه کې راغی او پر ایران هم د قاجاریانو تسلط حاکم شو، نو نه یوازې افغانی امپراطوری د اضمحلال تر څپو لاندې شوه، بلکی د داخلی جګړو په لمبو کې یې هر څه له لاسه ووتل.

PROPERTY OF ACKU
12290

# دوهم فصل

## د عصر مطالعه (لویدیځ استعمار او هند) او پر افغانستان د هغه اغیزې

### ۱ - د شرق الهند کمپنۍ (انگریز او بنگال):

پر هند د اروپایانو لار له هغه وخته راسپړه شوه چې سمندري کاشف (واسکوډیگاما) د پنځلسمې پیړۍ په اخیر کال ۱۵۹۸ م کې خپله پېړۍ د هندي سمندر پر جنوبي ساحل ودروله او هغه ځای یې کالیکټ وباله چې وروسته په کلکته تبدیل شو.

له دې وروسته پرتگالیان، هالېنډیان، انگریزان او فرانسویان له دغو سیمو راخپاره شول. دوی په لومړي سر کې د مغولي پاچیانو څخه د تجارت او سوداگرۍ اجازې او امتیازات اخیستل، خو وروسته مستعمري جوړولو علاقمندي ورته پیدا شوه.

په دې لړ کې د اولسمې پېړۍ په پیل کې د هالېنډیانو د ختیځ هند کمپنۍ جوړه شوه خو په رقابت کې یې د انگریزانو له خوا کمپنۍ او شرکتونه منځته راغلل، څو په پای کې د اتلسمې پېړۍ د پیل په دوهم کال کې د ختیځ هند انگریز د کمپنۍ منځته راغله.

د دغې کمپنۍ مامورانو ډیرې هلې ځلې کولې چې خپل فعالیت ته په نظامي سطح کې پراختیا وبخښي، څو د اورنگزیب یو لمسي د فرخ شیر په نامه د اتلسمې پېړۍ په دوهمه لسیزه کې ناروغه شو او دد علاج د کمپنۍ یو ډاکتر د (هملټن) په نامه وکړ او د غه بې عقل پاچا هغه ته

کلکتې ته نژدې د څلویښت کلیو د رانیولو او د هغه څخه په خپل میل استفاده کولو اجازه ورکړه او دا کلي نو په بنګال کې د یوې منظمې مستعمرې پیل ؤ او کالونی اصطلاح چې د مستعمرې لپاره استعمالیږي له هغه وخت څخه رواج شوه. [۱]

مرشد قلي خان یو ډیر جدي او په کار پوه نواب ؤ چې اورنګ زیب د بنګال په حکمرانی مقرر کړی ؤ خو هغه بیهار او اوریشه هم تر خپلې اداری لاندې راوسته او د انګریزانو د نفوذ له پراختیا سره یې مقابله کوله، دی په ۱۷۲۵ مړ شو او پسر ځای زوی شجاع الدین حکمران شو او هغه په ۱۷٤۰ کې مړ شو. پر ځای یې د بیهار صوبه دار علي و[...]ان قدرت ته ورسید. دا وخت له یوې خوا مغولي امپراطوری شوریده او له بلې خوا انګریزانو انکشاف کاوه، نو په نتیجه کې د (پلاسی) په سرنوشت ټاکونکې جګړه کې چې په ۱۷۵٦م کې پیښه شوه، چې د انګریز (کلایو) په قوماندانی د انګریز دری زره عسکرو (چې اته سوه کسه یې اروپایان وو) د هندي نواب ۱۸ زره سپرو او پنځوس زره پیاده لښکرو ته ماتې ورکړه او له همدغې جګړې څخه انګریز پر هندوستان مسلط شو. له دې وروسته کمپنۍ اختیارات اخیستل او په ۱۷۷٤ کې لومړی انګریز ګورنر جنرال (وارن هسټنګر) هند ته راغی. دا وخت د احمدشاه بابا تر مرګ یو کال وروسته زمانه ده.

## ۲- فرانسویان د انګریزانو سره سیالي کوي:

د اولسمې پیړی له اواخرو څخه د اتلسمې پیړی په ټول دوران کې فرانسویان او انګریزان په هند کې په سیالیو اخته وو.

په ۱۵۹۹م کال کې فرانسی د ختیځ هند کمپنی جوړه کړه او له دغې نیټې څخه یې تر څلویښت کاله وروسته پوری ښه انکشاف وکړ. په ۱۹۳٦م کې مدراس ونیوئ او د اتلسمی پیړی په سر کې د حیدرآباد (دکن) ځینې برخې ونیولې او د دکن نظام یې په خپل نفوذ کې راوست. خو کله چې انګریزانو پر بمبئی او کلکته نفوذ حاصل کړ نو د فرانسی نفوذ یې ور لږ کړ.

د ۱۷٤٦م څخه تر ۱۷٦۳م د فرانسی او انګلیس ترمنځ دری جګړې وشوې چې انګریز فاتح وګڼل شو او په ۱۷٦۳ کې د پاریس د تړون په اثر فرانسی ته د څو ښارو اختیار ورکول شو لکه د (باندیچری، چندرنګر، کاریکار) او څو نور کوچني ښارونه نور نو انګریز د سیمې واکمن راووت. [۲]

په بنګال کې د علي وردی خان تر مرګ وروسته چې د هغه لمسی سراج الدوله قدرت ته ورسید او بیا یې د انګریز د نفوذ مقابله کوله نو په پټه یې د فرانسویانو سردار یکی ساتل چې د انګریز مخه

---

۱- رهبر تاریخ هند (اردو) د هند چاپ ۲۳۸ مخ.

۲- فضل ربی پژواک د افغانستان د بین المللی روابطو تاریخ لومړی برخه، مترجم سیداسدالله ستوماں د کال چاپ ۹ مخ

په فرانسویانو ونیسی، ولی د انګریز حکمران (کلاتیو) د (بلاسی) په جګړه لاس پوری کړ او سراج الدوله ته یې ولیکل چې ته فرانسه زموږ پر ضد تحریکوی، نو ځکه د ۱۷۷٤ څخه چې انګریز لومړی ګورنر جنرال د ختیځ هند و کمپنی چار په لاس کې واخیستلی نو اروپا یې استعمار یانو لکه فرانسی او هالینډ انګریز تعقیباوه، ځو په فرانسه کې انقلاب وشو او په هغه پسې ناپلیون منځته راغی. ناپلیون یو ځل په ۱۷۹۸م کې پلان طرح کړ چې په هند کې د انګریز استعمار تکانی کړی، خو دا پروژه یې عملی نشوه په دې پسې یې ناپلیون دوهمه هڅه وکړه او د ۱۸۰۷م د می په ٤ د ناپلیون او د ایران د پاچا فتح علی شاه د نماینده ترمنځ یو تړون وشو چې د ایران له لارې به د افغانستان پر خاوره پر هند ورځی او انګریز به شړی، خو ددې پروژې د شنډولو له پاره د انګریز نماینده الفنستن په پېښور کې د شاه شجاع دربار ته راغی او په ۱۸۰۹م کې یې د پېښور مشهوره معاهده لاسلیک کړه چې که فرانسه د ایران له لارې د افغانستان پر خاوره هند ته راتیرېږی افغانستان به یې مخه نیسی.

وروسته تر دې د فرانسې خطر له هند څخه رفع شو، خو نور خطرات ورته متوجه شول او فرانسه په هند کې د انګریز سره خپلو سیالیو ته ادامه ورکړه او د بمبی په مقابل کې د ګواتاپو د فرانسی یو داډه وه، خو انګریز د هغه څخه هیڅ وخت واهمه او تشویش نه درلود. فرانسی د هند له اقتصادي ارزښتونو څخه استفاده ونه کړه، خو خپل سیاسی دروندوالی یې وساتۍ.

## ۳- په هندوستان کې د هالینډیانو تلاشونه:

پس له پرتګالیانو هالینډیان دوهم اروپایی هیواد ؤ چې په خپل استعمار کې د راکینلو له پاره یې د هند پر خوا هڅې پیل کړې.

په ۱۶۰۲ کې هالینډیانو یو سوداګري شرکت پرانیست او په لومړی سر کې یې دوی د خوشبو یه مساله جاتو ټاپوګانو ته مخه ونیوله او په دې پسې یې د سیلون ټاپو له پرتګال څخه واخیست او د هند د سمندر پر جنوبی غاړو باندې یې تجارتی نمایندګی تأسیس کړې.

دوی په هند غوښتل اخته وه چې انګریزانو د ختیځ هند کمپنی جوړه کړه او د هالینډ د تلاشونو د ختنی کولو کار یې پیل کړ او له دې سره سم د دغو درو کمپنیو ترمنځ جګړې پیل شوې چې په نتیجه کې د هند په جنوبی حوزه کې د هالینډ ټول متصرفات انګریز ته نقل شول صرف لینکا، یعنی سیلون او تر نیکومالی ورته پاته شو او په ۱۷۹٦م کې هغه هم انګریز ور څخه واخیستل[1] او هالینډ یوازې د جاوا پر ټاپو قابض پاته شو چې هغه یې د شلمې پیړۍ د څلویښتمو کلونو تر نیمایی پورې وساتی او تر دوهمې عمومی جګړې وروسته د اندونیزیا په نامه هغه هم ځینی خپلواک شو.

۱- رهبر تاریخ هند، ص ۳۰۹.

ACKU

## ٤ - په عمومي توګه پر هند د لویدیځ استعمار څه اغیزې پر افغانستان وغورځولې ؟

د اتلسمې پېړۍ دوهمه نیمايي چې زموږ د معاصر تاریخ مبادي و نتیجې ته پکې رسیږو په هند کې د اروپايي استعمار د برغلونو او پراختیا عصر دی.

د انګریز له خوا د ختیځ هند کمپنۍ ، د فرانسې د ختیځ هند کمپنۍ او د هالینډ د ختیځ هند کمپنۍ سره په سیالۍ کې وې څو د ۱۷٤٦م څخه تر ۱۷٦۳م پورې د انګریز او فرانسوي کمپنۍ ترمنځ جګړې وشوې په نتیجه کې انګریز فاتح راووت او همدا رنګه د ۱۷۸۳م د ورسیلز په تړون هالینډ د هندوستان څخه ووت.

همدا رنګه په ۱۷٥٦ کې د (پلاسي) د جګړې په فتح انګریز تر پرتګال کاملاً حاکم او د هند له جنوب او ختیځ څخه یې د شمال پر خوا حرکت وکړ څو پنجاب او سیند او د اباسیند په حوزه کې یې قوتونه ځای پر ځای کړل او په ۱۷۷٤م کې د انګریز لومړی ګورنر جنرال وران هشتنګر هند ته راغی.

دا جریانات چې محراق یې بنګال ؤ په چټکۍ د هند پر شمال واتیتیدل او د هند په شمال کې د افغاني امپراطورۍ حاکمیت جاري ؤ، خو دغه استعماري قوتونه د نولسمې پېړۍ د دوهمې لسیزې سره د افغانانو سره په فکر کې شوه، د دغو اروپايي استعماري دولتونو انکشافات چې هند یې په غیږ کې نیولی په لومړي سر کې غیر مستقیم او وروسته په مستقیمه توګه پر افغانستان منفي اغیزې راخپرې کړې چې وروسته په نسبتاً تفصیل وڅیړل شي.

# دریم فصل

## احمدشاهي دولت

### ۱- د امپراطورۍ د پراختیا لپاره لښکرکشي:

احمدشاه چې د سلطنت قدرت ترلاسه کړ، نو د شرایطو د مساعدتونو څخه يې په مدبرانه توګه استفاده وکړه.

ده چې د يوې افغاني امپراطورۍ نقشه طرح کړې وه، نو د هغې د پراختیا او ټینګښت له پاره يې فعالیتونه پیل کړه او په خپله شپږ ویشت کلنه پاچایي کې يې ژوند پر له پسې د جګړو په ډګر او د آس پر شا تیر شو، خو دا خبره ورسره ملګرې وه چې په هر ډګر کې به سوبه (فتح) د ده د غیږې ته ورتله.

ده په لویدیځ کې خراسان به جنوب او ختیځ کې کورګاني هند او په شمال کې د اوزبکو جنیدي دولت په هغو قالبونو کې ځای کړل چې ده ورته ټاکلي وه او وظیفه يې د افغاني امپراطورۍ د ټینګښت او پاینښت له پاره خدمت و.

ده د سفرونه او لښکر کشي چې د امپراطورۍ بنسټونه يې مزي کړل په دې توګه خلاصه کیدای شي:

اول: په ۱۷٤۷م کې چې ده ته قدرت وسپارل شو، نو تر مقدماتي کارو وروسته په ۱۷٤۸م کې د کندهار د حرکت وکړ او په مخه يې غزني، کابل، پیښور د اباسیند تر غاړو په خپلو حدودو کې شامل کړل، د کورګاني هند امپراطور محمدشاه رنګیلا د يو لک لښکرو سره ورته راووت، خو خبر د

دراندہ جنګ ته ونه رسیده او احمدشاه تر هغو ټاکلو فتوحاتو وروسته کندهار ته راغی.

دوهم: په ۱۷٤۹ کې احمدشاه له کندهاره هرات ته ولاړ هلته یې یو لښکر د اشرف الوزرا ء شاولیخان په قوماندانۍ د شمال ولایاتو ته واستاوه چې هغه بیله جنګه د شمال ټول حکمرانان احمدشاهي مرکز ته تابع کړل او پخپله احمدشاه د یوه بل لښکر په مشرۍ تر مشهده ولاړ او هلته یې ټول باغي قوتونه وځپل او شاهرخ یې پاچا او نورمحمدخان میر افغان یې ورته سپه سالار کړ.

دریم: په ۱۷۵۰ م کې چې په خراسان کې بیا بغاوتونه پیل شوي وو احمدشاه نیشاپور ته ورغی او باغي میرعالم خان خزیمه یې مات او شاهرخ یې بیا پاچا کړ. په دې وخت کې د امپراطورۍ پراختیا د آمو څخه تر بحیره عرب او د سند څخه د ایران تر دننو پورې رسیده.

څلورم- ۵۱- ۱۷۵۲ م: څرنګه چې د پنجاب صوبه دار میرمنو مالیه نه رالیږله احمدشاه وروسته روان شو، میرمنو مات شو احمدشاه کشمیر هم ونیوی او په لاهور کې یې دوه ملیونه روپۍ مالیه تحصیل کړه او پنجاب او ملتان یې هم د افغانستان جز کړل. په دې توګه کشمیر، پنجاب، ملتان او سند د احمدشاهي امپراطورۍ په چوکاټ کې شامل شول.

پنځم- ۵۹- ۱۷۵۷ م: په ۱۷۵۳ م کې میرمنو د پنجاب صوبه دار مړ شو او پر ځای یې د هغه نابالغ زوی محمدامین صوبه دار کړ خو مور یې مغلانۍ بیګم د هغه په نیابت کار کاوه او احمدشاه هم دا مقرري تایید کړې وه، خو په د غه دوران کې یو لړ بد تحولات رامنځته شول د ډهلي د امپراطور احمدشاه د محمدشاه رنګیلا د زوی صدراعظم عمادالملک غازي الدین احمدشاه کورګاني خلع او پر ځای دوهم عالمګیر پاچا کړ او وروسته یې هغه هم مړ کړ. همدا رنګه په کشمیر کې مستوفي سکجون د کشمیر والي مړ او هغه یې ډهلي ته تسلیم کړ، په همدې توګه ادینه بیګ پنجاب ونیوی او په هند پورې یې ملحق کړ.

دغې اوضاع احمدشاه سخت ودرداوه او د یوه قوي لښکر سره پنجاب ته راغی. لومړی یې سکجون هندو ونیوی او کشمیر یې بیرته راوګرزاوه په دې پسې دوهم عالمګیر د افغان نجیب الدوله په قوماندانۍ یو لښکر د احمدشاه جنګ ته راواستاوه، خو نجیب الدوله بیله جنګه احمدشاه ته تسلیم شو او احمدشاه فاتح ډهلي ته ورغی هلته یې افغاني مشران پر عهدو مقرر کړل، مالیه یې راټولې او دوهم عالمګیر پخپله وربرد د احمدشاه زوی تیمورشاه ته ورکړه او احمدشاه فاتح کندهار ته راستون شو.

شپږم- ۱۷۵۸ م: په پنجاب کې د افغاني حکمرانانو فشار سکان راټول او غازي الدین جسان راجپوتان پر ډهلي راوستل، سردار جان خان او د احمدشاه زوی تیمورشاه چې په پنجاب کې وظیفه داران وو تر خطر لاندې شول.

په داخل کې احمدشاه ته يو شمير مشکلات پيښ شول چې يو د هغو څخه د نصيرخان بلوڅ بغاوت ؤ. احمدشاه وزير شاه ولي خان بلوڅو ته وليږئ او بيا پخپله پسې ورغی، څو يې نصيرخان په نظامي او سياسي سطح کې قانع او تابع کړ او د هند د جنجالونو يې آينده ته پريښود.

اووم- ٦٠- ١٧٦١م: احمدشاه پر هند ور روان شو او تر ډهلي پورې يې پر لاره پر باغي قوتونه وټکول، بالاخره د پاني پت پر ميدان د ۳ لکه مرهټه لښکرو سره مخامخ شو، دده د سپرو او پياده و شمير ٦٠ زرو ته رسيدئ، خو تر سخت نظم او ډيسپلين لاندې او همدا وجه وه چې احمدشاه بريالی شو او ۲۲ زره اسيران ۵۰۰ پيلان ۵۰ زره آسان، دوه لکه غواوې او څو زره اوښان يې ولجه په لاس ورغلل او فاتح کندهار ته راوګرزيد. د هند پاچهي يې علي ګوهر ته وسپارله.

اتم- ٦٢-١٧٦٣م: په پنجاب کې سيکان باغي شول خو احمدشاه ورغی او ۷۰ زره د هغو لښکر يې ورکوټی او د پتيالی او تر هند حکومت يې يو سبک (امير سنګ) ته ورکړ او پخپله کندهار ته راغی.

نهم- ۱۷٦۹: يو ځل بيا د خراسان اوضاع خرابه شود ،خو احمدشاه سره له دې چې ناروغه ؤ، ورغی هلته يې باغيان وټکول او بيا يې پخواني ډوند شاهرخ پاچا کړ.

دا د احمدشاه وروستی سفر ؤ، دده په دې جګړو او پر له پسې سفرو سره قوي امپراطوري قايمه کړه خو امن او آرامي فقط د تور تر شپول لاندې وه او سره له دې د خراسان څخه د پنجاب تر وروستيو څنډو او د امو له حوزې څخه د عربو تر سمندرګی پورې يې د امپراطورۍ حدود رسيدل ،خو پيوند يې نه درلود، احمدشاه په خپل تدبير د افغانستان کلتوري حدود کې يو اداره قايمه کړه ، نور نو خراسان او کورګاني هند او بخارا يې د امنيتي حوزو په توګه پر راڅرخول.

## ۲- د عثماني خلافت له دربار سره اړيکې:

په هند او ايران کې تر فتوحاتو، په خاصه توګه په دمرهټه د غلبې څخه وروسته په ۱۷٦۳م کې احمدشاه د اسلامي خلافت دربار چې مرکز يې په عثماني امپراطوري کې ؤ د خليفه سلطان مصطفی خان په عنوان يو ډير اوږد او مفصل ليک وليږی او د دغه ليک په لوستنه سړی پوهيږی چې احمدشاه د خپل وخت د سياست نازکيو ته سخت متوجه دی. د همدی ليک لوستنه سړی په دې قانع کوی چې احمدشاه يوازې د جنګ د ميدان يو مدبر ستراتيژيست نه ؤ بلکې په سياست کې يې ځيرکيت او دراکيت د لوړ ارزښت وړ دی.

دا ليک چې اصل متن يې د استانبول د آرشيف په همايون نمبر ۳ کې شامل کيږی ډير اوږد او مفصل دی چې دلته به يې د ځينو برخو لنډيز راوړل شي. څرنګه چې دا ليک په کلاسيکه دری ليکل

شویدي او په کلماتو او د هغو په پیوندونو کې ځینې استعاروي اشارې پروتې دي، نو په ترجمه یعنې که په پښتو ترجمه شي هغه مطالب ګونګ پاتېږي نو ددې لیک به هم هغه دري متن دلته راوړل کیږي.

دا لیک څو برخې لري یوه برخه د سیمې پر تاریخ نظر اچوي او په دې ترڅ کې د شخصیتونو تر خصلتونه او د هغو عواقب په منطقي دلایلو توضیح او تشریح کوي او د لیکنې د هدف اصلي تکی یې همدا دی چې افغانان د خلافت دربار ته داسې معرفي کړي چې یوه تاریخي وظیفه یې په کفایت سره سرته رسولې ده او د هر ډول تحسین وړ دي. دا یو ډېر زور سیاسي لیک دی. په لیک کې احمدشاه د خلافت دربار ته تول معمول احترام پر ځای خو د یو امپراطور په توګه خپل مقام هم د مسلمانان وظیفه په ذهن ورځایوي. دې څو واره په دې لیک کې هغه ته د ورور خطاب کوي او دا خطاب دا په ډاګه ښیي چې احمدشاه ځان د هغه سره برابر بولي. یو ځای چې پر عثماني خطه د پردیو د یرغل نیتونه بیانوي نو وایي: «... چشم طمع به ممالک محروسهء آن برادر عالیشان دوخت...» بل ځای هم داسې اشاره کوي: «که حکمي از جانب آن برادر سپهر اقتدار...» احمدشاه په دې لیک کې د صفوي اقتدار انځور داسې کاږي: «... خاندان سلاطین صفویه که قریب سه صد سال مصئون از صدمه زوال و اختلال بود بحسب منشیت آفریدگار جهان و شومی اطوار اهل ایران که سالها در مهد امن و امان غنوده و دست باستیفای لذایذ و حظوظ نفساني کشوده و تن به اطاعت و انقیاد اوامر و نواهي الهی و اقتضای آثار و سنن حضرت رسالت پناهی نداده سر از جاده فرمان در می پیچیدند و در تقدیم لوازم خدمت و رسوخ عقیدت آن دودمان عالیه کوتاهی نموده تقاعد و تساهل می ورزیدند نوعی برهم خورد که شجرهء ثابت الاصل سلطنت بالکلیه منقطع گردید.»

په دې پسې په لیک کې د نادرشاه افشار په باب سره له دې چې د هغه له مهربانیو څخه همیشه مستفید و ولې حقیقت نه پټوي او د هغه مستبد پاچا اعمال داسې بیانوي:

«... بنابه تقدیم قیوم قدیر نادرشاه از ابیورد و درهء جز خروج کرد و به مرور خراسان و عراق وفارس و آذربایجان بل جمیع مملکت فسیح الفسحت ایران و هندوستان و ترکستان را مسخر ساخته و شجره استقلال تمامی سران و سرکردگان ایلات و احشامات مملکت ایران را از پا در انداخته دست تعدی و جور بر ایل جلیل افغان دراز نمود آثار تسلط بظهور آورد.»

د لیک په یوه بله برخه کې د نادر شخصیت، اخلاق او رواني خصلتونو په باب داسې بیان کوي:

«... چون بخار استکبار در دماغ آن مظهر صفت جبار آناً فاناً صعود نمود اکتفا بممالک متصرفه مذبور نکرده چشم طمع به ممالک محروسه آن برادر عالیشان دوخت و جمع کثیر از متجنده

هر قوم و هر ملک فراهم آورده آنقدر مواد قوت و زور اندوخت که امرای هندوستان و دکن و روسای ترکستان الی خطا و ختن و سکنه بلاد روم حرسها الله تعالی من الفتن از واهمه ورود او خائف و هراسان و همیشه متردد و خاطر پریشان بوده نفسی خوش بر نمی آوردند و دم آبی بکام دل نمی خوردند و هر قدر دست او در حکمرانی و ممالک ستانی قوی تر می شد ایاغ دماغ او از عروج نشست، غرور بیشتر لبریز باده ستمکاری و خلایق آزادی می گشت و اذیت های گوناگون و عقوبات از طاقت بشری بیرون بر سر مخلوقات الهی میگذاشت. آخر الامر که صورت طبیعی او از حد اعتدال در رفته و از تنبیه و تادیت سرکشان و متمردان در گذشته بحال فقر و عجز و بی گناه سرایت کرده به آتش تعدی و ظلم آن ستمکار بی سبب تر و خشک روزگار سوختن گرفت و به مضمون: «الملک یبقی بالکفر و لا یبقی بالظلم» شعله جانسوزی هم از پیراهن تن او سر کشید و خویشان و نزدیکان همه از اوضاع سبعیه اش بجان آمده متنفر شده هر یکی طریق مجانبت و مخاصمت گزید.

بشارت ده به مظلومان که ظالم کې رهد دایم
قوی چون گردد افتد آتش از خویش بر جانش

الحاصل کار او از دست نوکران ستمدیده اش به انصرام رسید.»

احمدشاه په ایران او هند کې د خپلو فتوحاتو مفصل گزارش د خلافت مقام ته ورکوی او په پای کې د ایران امنیت دښمنه اعمالو په باب په لیک کې به ملفوفه توگه پر خلیفه انتقاد کوی او ضمناً داډ ورکوي چې دا کار یعنې د امن اعاده زه پخپله وکړم او په داسې شیوه په هند کې د افغانانو د عظمت یادونه کوی چې د هغه یو د برخه به دلته راوړو او بیا به د ایران په باب د خلیفه د غفلت په باب د لیک د متن څخه یوه برخه رانقل کړو.

د لیک په دې برخه کې احمدشاه د خپل پاچا کیدو او تخت کښېنستلو یادونه کوی او بیا گزارش داسې راوړي: «جلوس بر تخت میمنت مانوس نموده شکر این موهبت عظمی عطیه کبرای حق تبارک و تعالی بجا آورده و اراده، سیر و شکار ممالک ایران و تادیب اشرار آن مملکت فسحت نشان بخاطر مصمم کرده سر آن و سرکردگان ایل جلیل افغان اطلاع به این معنی یافته بحضور آمده ظاهر نمودند که از روی تحقیق و تدقیق دقیقه پیمایان عرصه جهان مملکت هندوستان وسیعتر از جمیع ممالک روی زمین است و سلطنت آن ممالک بیقرین و بیکران الی خروج امیر تیمور صاحب قران تعلقه به روسای جلیل الشان انقلاب داشته و بیست و نه نفر از آن اهل جلیل مثل بهلول، اسکندر، فیروزشاه، شیرشاه و ابراهیم شاه و غیره فرمانروای آن مملکت بکمال عظمت و اقتدار نموده نقش نیکنامی و اشتهار بر صفحه، روزگار گذاشته اند، عنان سمند عزیمت فلک پیوند را بصوب

هند انعطاف داد... بعد از ظهور چنین فتح ارجمند (منظور فتح مرهته است) عنان بیکران عزیمت را بدارالقرار قندهار معطوف ساخت و از آنجا باقتضای رای صواب نما تسخیر مملکت خراسان الی اقصای ممالک ایران پیشنهاد عزیمت گردید.

در خلال این حال که آفتاب دولت خداداد را وقت عروج به اوج کمال و ستاره بخت دشمنان را هنگام هبوط و زوال بود علی قلی خان برادرزاده نادرشاه که بعد از انتقال او... حالش سریر سلطنت شده بود. تمامی اولاد احفاد نادرشاه را شعرای یک تن شاهرخ مرزا که از جانب پدر نبیره نادرشاه و از طرف مادر نوه شاه سلطان حسین صفوی بود برای مصلحت کار خود نگاه داشته و دیگر همه را به تیغ بی دریغ از هم گذرانیده دم درباست از باد شاهی کل میرد مثل شیر برفی از تاب آفتاب افتاد و اضمحلال گردید. بعد از ... این سانحه اهالی ایران باهم اتفاق نموده شاهرخ مرزا را در ارگ مشهد مقدس بر تخت سلطنت نشاند... »

دلته احمدشاه در دربار نمک حرامی شرح کوي چې شاهرخ پړندوس او کله چې احمدشاه خبرېږي ورپسې روانېږي او بيرته شاهرخ تخت ته رسوی او په اخیر کې داسی لیکی: « تاج سلطنت موروثه بر سر سعادت پرور آن نور حدیقه اقبال گذاشته ... جایش سریر استقلال گردانیده شد. »

دا دی اوس به د لیک هغه برخه راوړو چې ورپاندې ورته اشاره وشوه او احمدشاه په ملفونه توګه پر خلیفة المسلمین د غفلت انتقاد کوی:

« سابق برین سر عسکر ذی سطوت از آن دودمان عظمت برای تنبیه سرکشان آن سرزمین تعین می شد. بنابر این رسم و نظر به اینکه پادشاهان وارث پادشاهان میباشند و سعی در اسعاف مرادات همدیگر بظهور میرسانند مفتون خاطر محبت شحون چنان بود که در عرض آن مدت که این نیازمند درگاه احدیت مشغول به تنبیه کفار بود، البته سردار نامداری بجهت تادیب آن جماعت تعین شده و گوشمال بواجب به آن جماعت رسیده باشد درین وقت که مراجعت بمقر سلطنت اتفاق افتاده است معلوم شد که حکمی از جانب آن برادر سپهر اقتدار والا دودمان در باب تادیب سرکشان اوباش قزلباش ایران بظهور نپیوسته و حرتی از ملاحان بارگاه قیصری سر آن سرکشان را شکسته است، انشاء الله المستعان در ساعت ظفر اقتران متوجه سمت ایران بعزم تنبیه آن مفسدان حرکت و عنقریب خاطر دریا مظاهر برادر والااقتدار را که در عالم دوستی و اتحاد ولی یقین است که خواهان انجام این مقصود سراسر بیهوده خواهد بود و به امید فتح و ظفر خوشنود و مسرت امود نموده میشود. »[۱]

---

۱ - په ۱۳٤٦ کې د تاریخ ټولنی یوه رساله خپره کړه چې د دغه لیک متن او تعلیقات پکښې راغلي وو او ۱۵۰ مخه یې احتوا کول، ددې رسالی څخه د افغان نامی لیکوال داکتر محمود افشار د خپل اثر په دوهم جلد کې اقتباس کړی چې دلته د هغه له ۳۲ څخه تر ٤۰ مخه ځینې برخې اخیستل شویدی.

احمدشاه د خلافت (عثماني) دربار خپل یوازیني سیال باله، نو ځکه یې هغه ته د دې لپاره په وسیله خپل قدرت هم ورونښووئ او مقصد یې دا ؤ چې عثماني خلیفه چې د اسلامي نړۍ مشري یې پر غاړه درلوده په دې وپوهوي چې د افغاني امپراطورۍ واکدار احمدشاه دا صلاحیت لري چې افغانستان، ایران، هندوستان او بخارا په خپله اداره کې وساتي.

ده عثماني امپراطور ته د ورور خطاب کاوه چې دا د برابرۍ مفهوم افاده کوي.

دا چې په لیک کې احمدشاه د هغه څخه غوښتي وه چې مدینه منوره کې د ده په نامه یو مسجد جوړ شي او خلیفه سلطان مراد د هغه دا غوښتنه ونه منله داسې معلومیږي چې خلیفه د احمدشاه د نفوذ له پراختیا څخه واهمه درلوده او دا تشویش ورته پیدا ؤ چې که د غسې د فتوحاتو پر لیکه روان وي ښایي یو ورځ د خلافت اسلامي چپنه هم پر اوږو واچوي. خو احمدشاه دا درک کړې وه او همیشه یې د هغه د مقام او نماینده ګانو لمانځنه کوله.

احمدشاه په ټینګه دا غوښته چې د عثماني امپراطورۍ سره چې د اسلامي خلافت عنوان هم ور په برخه ؤ نیکې اړیکې ولري او د عثماني خلافت باور یې پر ځان د یو د قوت مظهر باله.

## ۳- اداري نظام او د دربار سیاسي کلتور:

احمدشاه ته چې د افشار نادر د مرګ پر وخت څومره ثروت په لاس ورغلی ؤ او بیا په کندهار کې د پادشاهي د انتخاب پر وخت د هندوستان د مالیې خزانه چې ایران ته روانه وه په لاس ورغله، نو د یو ه قوي پښو کتبه دولت د جوړښت له پاره یې لومړنۍ توانایي ومونده.

احمدشاه په دې پوهیدی چې په هره اندازه یو متمرکز قوي دولت قایم کړي په هغه اندازه به یې د فتوحاتو د هضم توان زیات وي. ده د افشار نادر مقتدره اداره لیدلې وه او د کورګاني هند د اداري مطالعه یې هم پخپله وکړه او هم یې خلک مؤظف کړه چې د افغاني امپراطورۍ لپاره یوه منظمه نقشه طرح او تطبیق کړي.

تر احمدشاه پخوا دلته افغانستان اداري نظام نه درلود نو ځکه احمدشاه مکملاً نوی نظام قایم کړ حو دا نظام د ایران د صفوي او مغولي هند د تشکیلاتو او وظایفو له پلوه یو ترکیب ؤ خو پخپله د افغاني ټولنې د قبیلوي عرف عناصر هم په ګډ وه.

اداري نظام په سر کې په دوو برخو ته وېشل کیدی چې هغه ملکي او نظامي برخې وې او ملکي برخه یې هم پر دوو نورو برخو مشتمل وه چې هغه امنیت او عامه خدمات وه. ددې ټول اداري او نظامي بخشونو په راس کې صدراعظم چې د اشرف الوزراء په نامه یادیدی ولاړ و او هغه هم د پاچا د مشاور حیثیت درلود او د حکم اصلي مصدر پاچا ؤ او پخپله اشرف الوزراء ملکي او نظامي

چارې پر مخ بیولې تر پاچا رالاندې ډیر ستر مقام هغه د قبیلوي خانانو، سترو نظامي قوماندانانو او روحاني مرشدانو شورا وه چې احمدشاه تر خپل انتخاب وروسته د هغو مشرانو څخه جوړه کړه چې د شیر سرخ په جرگه کې یې ګډون درلود او هغه قوماندانان چې له ده سره یې د افشار نادر د پوځ کې اشتراک درلود او هغه روحانیون چې په ټولنه کې د معنوي نفوذ خاوندان وو د دې شورا غړي شوه.

احمدشاه ټوله چارې د دغې شورا د نظر سره سمې اجرا کولې. په دې پسې په ملکي چارو کې مهم مقام دیوان اعلی (مالیه) اداره وه او د احمدشاه په وخت کې د دغه اداري مشر ته (دیوان بیگی) ویلې کیدې. د دیوان اعلی په وظایفو کې د ټولو مستقیمو او غیر مستقیمو مالیو ټولول په ټولو دولتي عایداتو او منابعو باندې کنترول، د دولتي ځمکو (خالصه) اداره، د ټولو مصارفو حواله، ضرابخانو او د جنسي موادو د ذخیرو او عامو خلکو ته د پورونو څارنه او اجراات یې د وظیفې جزء و. په دې پسې مقام چې زښت نفوذ یې درلود د اطلاعاتو اداره وه چې هغه وخته د (هرکاره) په نامه یادیدې او مشر ته یې (هرکاره باشي) ویل کیدې. ددې اداري وظیفه زیاتره د جاسوسانو په وسیله د حال احوال څخه د مسوولانو باخبره ساتل ؤ. له دغه دفتر څخه خلک زیات په واهمه کې و، خاصتاً د نوي مفتوحه سیمو خلکو ورڅخه ډیره ستر ګه کوله. بله مهمه اداره (دیوان انشاء) وه چې په اوسنیو وختونو کې دارالانشاء ورته وایي. ددې دفتر وظیفه د پاچا د احکامو او فرمانونو صادرول وو. په ۱۷۵٦ م کې په دغه دفتر کې د درباري مورخ وظیفه هم شامله شوه او محمود الحسیني چې منشي ؤ ،د مورخ وظیفه هم وروسپارل شوه چې تاریخ احمدشاهي یې ولیکی او اوس یو معتبر مأخذ دی.

قاضي القضات لوی قاضي ؤ چې په اداره کې د لوی صلاحیت خاوند ؤ هغه پر ټولو قاضیانو د امر په حیث حکم کاوه، (فریر) وایي: د احمدشاه د انتخاب په جرگه کې فیصله وشوه چې د دولت له پاره دې پر شریعت بنا د قوانینو یوه مجموعه تدوین شي، دا کار وشو، خو نه په تفصیل او د دغه وخت د احکامو یوه مجموعه چې فتاوای احمدشاهي نومیږي جوړه شوه او اوس هم شته، دا اثر په پښتو دی.

کلانتر بله مهمه اداره وه چې امنیتي چارې یې اداره کوله او دري مقامه یې په لاس کې وه چې یو یې میرشب بل یې محتسب (احتساب) او دریم یې د بازار داروغه ؤ چې لومړي د شپې د غلو تعقیب کاوه دوهم د منکراتو څخه د خلکو لرې ساتل او دریم د بازار د نرخونو مراقبت کاوه.

د ولایاتو تشکیلات موجود وه او د ولایت اداره چې یې صوبدار باله، صوبه دار په خپل ولایت کې د لوی صلاحیت خاوند و. په نظامي اداره کې ډیره لویه اداره د پاچا ګارډ ؤ چې (غلام خانه) ورته ویل کیده. همدا رنګه د جنګ په ډګر کې هغه ټولګی چې د پاچا امنیت به یې ساته لوړ مقام ؤ چې هغه ته رکابي ویل.

د دروند وسلو په جمله کې توپ ډېر لوړ اهمیت درلود او د دغې سلاح د ټولګۍ قوماندان ته توپچي باشي ویل کیدی چې پاچا به ډېر نازاوه. یوه بله اداره د نسقچي په نامه جوړه وه چې مشر ته یې نسقچي باشي ویل کیدی، د دغې ټولګۍ موظفین به د جنګي افرادو شاته ولاړ ؤ چې که به چا د جګړې څخه تښتــه کوله هغه یې تعقیبوله. شاهنچي باشي هم به نظامي مقاماتو کې د قدرور ځای درلود. ددې ټولګۍ خلکو به کوچنې توپونه پر اوښانو تړلي وه او په تګ کې به یې فیرونه به کول. دغې وسلې ته امبورک ویل کیدی. د وسلو ذخیره (جبهه خانه) قورخانه بلل کیده او قورخانه باشي هم د اهمیت وړ مقام ؤ. همدا رنګه د عسکري نظام چارو د نظم لپاره یو قاضي عسکر هم مقرر ؤ چې لویو افسرانو به هم له هغه څخه سترګه کوله.

د احمدشاهي دربار د سیاست بنسټ پر روحانیت او معنویت تکیه ؤ. در دربار ټول عناصر د پاچا څـخه نیـولې تر افسـرانو پورې ډېر جـدي خلک وه او د خطا او ګناه په وړاندې یې ډېر جـدي برخورد کاوه او په دې لار کې لوی خلک هم نه معافیدل. مثلاً نورمحمدخان علیزی میر افغان چې د احمدشاهي دربار ډېر لوی رکن او د شیرسرخ د جرګې غړی ؤ د احمدشاه له خوا د هغه د ګناه په مقابل کې دا سزا ورکول شوه چې دهاتي تر پښو لاندې یې هډونه وروځپځرل.

احمدشاه د لویو روحانیونو څخه د خپل سیاست په پرمخ بیولو کې کار اخیستی. د مثال په توګه میا عمر د پېښور د څوکنو پیر چې په قبایلو کې د لوی نفوذ خاوند ؤ احمدشاه د هغه په وسیله قبایل په خپله ولکه کې ساتل او د قبایلو ټولګۍ د میاعمر په دعوت پر هندوستان د احمدشاه په لښکرو کې روانیدی. دوهم لوی روحاني شاولي اللّه دهلوي ؤ چې د ډهلي په کورګاني دربار کې یې خپل نفوذ د احمدشاه په ګټه استعمالاوه او احمدشاه د مرهټې جګړې ته د دغه روحاني په دعوت ور روان شو. دریم لوی روحـاني میا فـقیـراللّه جـلال آبادي شکارپوری چې د سند په دربار کې یې د احمدشاه ګټې ساتلې... چې د مالي پلوه د احمدشاه یوه پخه تکیه ګاه وه د همدغه میا په مراقبت یې مالیات پرله پسې پایتخت اشرف البلاد ته رسیدل.

د غـو پیـرانو هر یه ډېر لوی لنګرونه درلودل چې د ورځې مـصـرف به یې په سلګونو پسـونه او لسګونو غوایي وه او دا مصارف ټول د احمدشاه لخوا ورته تهیه کیدل.

د پیرانو دغه خانقاوې په عین زمان کې د سیاسي هدایاتو او اجرااتو د اخذ او صدور مرکزونه هم وو او دا د احمدشاه سیاسي ابتکار ؤ چې له دغسې منابعو څخه یې کار اخیستی او د دغه کار په اجرا ء کې هم احمدشاه یو اغیښنی مدبر شخصیت ؤ او تر ده وروسته یې زامنو او لمسیانو د دغسې یوه کار صلاحیت او قدرت نه درلود.

په دربار کې د احمدشاه سیاست د غدر، دروغو او ریا کارۍ پر محور نه څرخیدی، البته په ځینو مواردو کې به یې په پټو او ښکاره تبلیغاتو افکار مصروفول.

## ٤- په احمدشاهي دوران کې د ټولنې فرهنګي څېره:

په احمدشاهي دوره کې پر ټولنه د روحانيت سيوري راخپور ؤ او د پاچا څخه نيولې بيا تر يو عادي فرد پورې هرڅوک د يوه پير په مريدۍ کې ؤ او د چاپيريال دغې اوضاع د ټولنې د فرهنګ پر شکل او محتوا خپلې اغيزې اچولې.

څرنګه چې له يوې خوا په کلتوري او سياسي صحنه کې يوه نوې امپراطوري رازيږيدلې وه او د هغې د ودې او پراختيا له پاره نوې اجتماعي مؤسسات بايد ايجاد شوې واى، خو څرنګه چې په ټولنه کې د فرهنګ مؤسسه کمزوره او د سياسي جرياناتو سره هم آهنګه نه وه نو امپراطوري يوازې د نظامي قدرت پر ستنو تکيه پاته شوه او هغه مهال چې نظامي قوتونه له سپکه ولويدل نو ټولنيز او سياسي بنسټونه چې د فرهنګ پر اصلي خښتو نه ؤ تکيه نو په لويدو او رژيدو يې پيل وکړ.

احمدشاه پخپله د معنويت ډيره لويه تومنه په ځان کې درلوده او دده د اشعارو ديوان دده پر باطني شخصيت ډير لوى شاهد دى، دى د تصوف او عرفان سره هم علاقمند دى، خو په شعر کې يې حماسه هم ځاى لري. دا ډول شعري سبک او مکتب د هغه وخت يو معمول ؤ خو احمدشاه نورو فرهنګي مسايلو ته هم متوجه ؤ.

دده تاريخي افتخاراتو د ساتنې ارزښت هم درک کړى ؤ نو ځکه يې په ١٧٥٤ کې په کندهار کې د «بيت الاشراف» په نامه لومړى موزيم جوړ کړ او دا پخپله د سلطان له خوا په ټولنه کې د يو فرهنګي بنياد د بنسټ ايښودلو حکم درلود.

احمدشاه د تاريخ له ثبت سره هم علاقمند ؤ او نو ځکه په درباري تشکيلاتو کې د دولتي مؤرخ له پاره يو مقام منځته راوړ او په ١٧٥٧م د دربار منشي محمود الحسيني يې په دغه وظيفه وټاکى او هغه هم هغه مشهور «تاريخ احمد شاهي» په دوه ټوکه کې وليکى چې يې د افغانستان د يوې مهمې تاريخي دورې ړښتيانى عکاسي کوى او دده د دربار تشويق ؤ چې پير معظم شاه د پير محمد فاضل زوى د پېښور د پيرسباک اوسيدونکى د «تواريخ حافظ رحمت خاني» وکيښ.

همدا رنګه قاضي دل محمد افغان په ١٧٦٦م کې په طب کې «بحرالفوايد» تاليف کړ او په ١٧٧٠ کې حافظ رحمت خان بړيخ د پښتنو د نسبي پيژندنې په باب «خلاصة الانساب» وليکى.

احمدشاه د علم او فضل خاوندانو ته ډير درناوى درلودى او په دې لړ کې د دغه وخت مشهور شخصيت ملامحمد غوث د اخوند ترکمان زوى او د تاج خان لمسى د احمدشاه فقهي مشاور او په پېښور کې قاضي مقرر شو. دده د منطقو پر ميرزا (يو منطقي اثر دى) حاشيه وکښله او د احمدشاه بابا عرفاني خبرې يې د «شرح الشرح» په نامه بيان کړې.

احمدشاه بابا تر هرڅه قضایي عدالت ته پاملرنه کوله، دده په وخت کې «فتاوای احمدشاهي» هم جوړ شوه ،خو چندان یې تطبیقي زمینه پیدا نکړه ولي په ځینو مواردو کې پخپله احمدشاه پر ځینو مسایلو ډیر جدي دریدې چې یو د هغو څخه د مریانو د وژلو مخنیوي مسأله وه، احمدشاه د فرمان په وسیله دا حکم صادر کړ چې هر چا چې خپل مریی (غلام) مړ کړ هغه د مریی بادار دی د قاتل په توګه قصاص شي. (۱)

احمدشاه مشهور عالم قاضي نصرالله خوانچه زي بارکزي د ارغستان څخه راوست او په کندهار کی یی لوی قاضي کړ. دا سړی د هغو تولو علومیانو نیکه دی چې د اعلیحضرت امان الله شاه تر وخته په دربار کې د خان علوم وظایف ورمحول کیدل.

احمدشاه بابا د هرات یو مشهور عالم ملا میرزا د ملامحمد سلجوقي زوی د هرات د پای حصار د مدرسی مدرس وټاکئ او دا علمي کورنۍ هم تر دا وروستیو وختونو پوري پیژندلی وه.

احمدشاه په کندهار، پیښور، هرات کې لويې مدرسې جوړې کړې چې هلته به همیشه د وخت علماؤ پر مسایلو مجلسونه کول. د کندهار د زړی جامع مدرسه یې ډیر مشهور وه، احمدشاه پخپله هم د هغې په غونډو کې برخه اخیستله.

## ۵ - د احمدشاه د مړینې پر وخت د افغانستان نقشه:

احمدشاه د افغانستان د سرحدی حدودو په باب دا سیاست همیشه په نظر کې نیوی چې جغرافیایي حدود د افغانانو د خپل ځای کلتور په ساحه کې د سیاست سره متوازن وساتي او په دی عقیده ؤ چې په هر د انداز د دغه سیاست په مدبرانه توګه عملي او تطبیق شي په هغه اندازه به افغانانو ته تاریخي بقا په برخه شي.

احمدشاه په دی برخه کې دری اصله تطبیقول: یو هغه ساحه وه چې هلته افغانان اوسیدل او د افغانانو لوی ښارونه پکښې واقع وه، دا اصلي افغانستان ؤ چې دده یې د ترقی او پراختیا له پاره زیار ایستی.

دوهمه هغه قبایلي سیمې وې چې قبایل پکښې اوسیدل او د هغو روحیه زیاتره بدوي وه او د مرکزیت او قانون څخه یې فرار کاوه، نو دوی یې هم آزاد پریښوول او د دوی د عنعناتو او سنتونو سره په مطابقت کې یې هغو ته اجازه ورکړه چې خپلی شخړې او مسایل د خپلو جرګو په وسیله حل کړي، خو په ښاری او مدني مؤسساتو کې یې د چارو مسوولان ودی ته متوجه کړل چې د دغو بدوي قبایلو د مرستې له پاره په حوصله کار وکړي. احمدشاه زیاتره د دغه قبایل د هندوستان په جګړو کې بیول او له دی لاری ښه ثروتمند شوی هم وه.

---

۱ - ګنګوفسکي. د دراتیانو امپراطوري، مترجم داکتر ګل محمد نورزی د کابل چاپ ٤۳ مخ.

د ریمه برخه هغه په کورګاني هند، نادري خراسان او جنیدي بخارا کې دولتونه وه چې سیمې او خلک یې احمدشاه د خپل نفوذ په ساحه کې ساتل او دا دری قسمته په حقیقت کې د احمدشاه لپاره د اصلي افغانستان د ساتنې او حفاظت له پاره هم امنیتي ارزښت درلود او هم یې اقتصادي ګټه ورڅخه اخیستله.

احمدشاه د خپل سیاسي او نظامي ژوند په وخت کې تر لس ځله زیات هند، خراسان او د افغانستان شمال ته ولاړ او ځان یې ډیر سخت ستړی کړ، چې ناروغي او مرګ یې هم له دغې خستګی څخه ؤ.

بالاخره په ۱۷۷۳م کې چې مړ کیدی یو ه پراخه امپراطوري یې په میراث پینبوده چې په ختیځ کې د سرهند څخه په لویدیځ کې د مشهد غرب ته تر سبزوارد پوري او د شمال له خوا د امو له سیند څخه په جنوب کې د عربي سمندرګی تر غاړو پوري واقع وه. (۱)

د غه حدود چې پورته توضیح شوه د اتلسمې پیړۍ په اوومه لسیزه کې د افغانستان د امپراطورۍ حدود وه خو دا یوله افغانستان نه ؤ، بلکې احمدشاه افغانستان د اباسیند څخه تر مشهده او د آمو څخه تر عربي سمندرګي پوري باله، نور کشمیر، پنجاب، سند، خراسان یې د افغانستان ملحقات بلل.

احمدشاه ډیر مدبر جنګي قوماندان او پاخه اداري کدرونه درلودل نو ځکه امپراطوري یې نسبتاً آرامه وه خو دده تر مرګ وروسته دغه نقشه د احمدشاه د احفادو له خوا سره وشړیدله.

---

۱ - منشي عبدالکریم، واقعات دراني، د لاهور چاپ نقشه د ۶۰ مخ سره تړلې.

# ځلورم فصل

## په افغاني امپراطورۍ کې د فتور پیل

### ۱ – تیمورشاه د قومي دښمنیو په پنجو کې:

تیمور د احمدشاه بابا په زامنو کې چې شمیر یې اتو ته رسیدی دوهم زوی ؤ او ډیر سرزوره سړی ؤ، خو احمدشاه بابا له دې خاطره هغه ته پاملرنه ساتله چې په زیاتره چارو کې به یې تدبر او زړورتیا ښودله، نو ځکه زیاتره مهم کارونه یې ورسپارل.

تیمورشاه هم عیاش و او هم بې پروا نو ځکه احمدشاه بابا دده په باب به تشویش هم کاوه. کله چې احمدشاه بابا په ۱۷۷۳م کې په کندهار کې د خپلې ناروغۍ ځخه ډیر په تکلیف شو، نو د دولت لوی مشران یې راوغوښتل او د هغو په غونډه کې یې تیمورشاه خپل ولیعهد وټاکی. که څه د استحقاق له مخې دا مقام د احمدشاه بابا د مشر زوی سلیمان حق خو احمدشاه د تیمورشاه لیاقت ته ترجیح ورکړه. له دې فیصلې وروسته احمدشاه بابا د خواجه عمران په غرونو کې یوې خوش آب و هوا درې ته ولاړ او تیمور هم دا مهال په هرات کې والي ؤ.

څو وخته وروسته چې احمدشاه بابا وفات شو نو دده لوی وزیر اشرف الوزرا شاولیخان چې د شهزاده سلیمان خسر ؤ ډیره لویه اشتباه وکړه او د خپل نفوذ نه په استفاده یې شهزاده سلیمان د احمدشاه بابا جانشین او پاچا اعلان کړ. په دې کار کې د دربار مشران دوې ډلې شول، یوه برخه د وزیر ملګرې او بل مخالف شول چې په دې جریان عبدالله خان دیوان بیګی د تیمورشاه په طرفدارۍ ودرید.

شاولیخان خپل زامن د بیعت لپاره غلجایي قلات او بلوچستان ته ولیږل، خو سلیمان چې وضع وفهمول پخپله یې ځان له میدانه وکیښ او تیمورشاه یې پاچا وباله.

شاه ولیخان چې یوازې پاته شوی ؤ عبدالله دیوان بیګی د زامنو سره ونیوئ او دوی یې بندیان د تیمورشاه مخې ته ور روان کړل چې هغه د هراته په قهر راروان شوی ؤ.

دوی د فراه په یوه سیمه کې تیمورشاه ته پیش شول او تیمورشاه سمدلاسه شاه ولیخان او دوه زامن اعدام کړل. دا قتل بس د باروتو پر کوټه د اور د سکروټو غوړځول وه. د کندهار په ښار کې ډیر لوی او واړه خانان چې د اشرف الوزرا ء په قطار کې و پر دی سـ دارید‌ل چې تیمورشاه به دوی ته هم د مرګ سزا ورکړی، نو هرې خواته د پټو توطئیو او دسیسو کار روان شو او حتی ډیر لوی سړی سردار جان خان د جنګ وزیر هم له نظره ولویدی.

دا فتـور دومره پراخه لمن وکړه چې تیمورشاه ته بیله دی بله چاره پاته نشوه چې پایتخت له کندهاره کابل ته یوسی او پښتانه د لویو عهدو خاوندان د قدر ته وغورځوی.

## ۲ - د کندهار څخه کابل ته د پایتخت د انتقال عوامل:

تیمورشاه چې د احمدشاه تر مړینې وروسته سمدستی کندهار ته راغی ورور یې سلیمان چې اشرف الوزرا شاه ولیخان پاچا کړی ؤ کور کښیناوه، شاه ولیخان او د هغه دوه زامن یې لا د هرات او کندهار په لار کې وژلی وه او په کندهار کې په ډیر قهر او غضب تحقیقات وکړ او د درانیانو لویه کورنی یې بې اعتباره کړ او ډیر خلک یې ووژل. په دی پسې یې سمدستی پایتخت د کندهار څخه کابل ته رانقل کړ.

تیمورشاه د خپلو درانیانو سره په ډیره بده بدی اخته شو، دده اعتماد پر ټولو درانی خانانو ختم شو او خانانو هم په ددنه کې دده سره د دښمنی پلانونه طرح کول او دا عوامل ددې سبب شول چې تیمورشاه د کندهار څخه ځان لرې کړي.

په لومړی سر کې تیمورشاه د خپل ذاتی امنیت په خاطر دا کار وکړ او علاوه له دی څخه تیمورشاه چې کندهار ته تکان ورکړی ؤ نو د کابل د ختیځی خوا په قبایلو کې یې هم د کندهار د سردارانو د نفوذ څخه واهمه کوله او د کابل موقعیت ده ته اجازه ورکوله چې له نژدی په هغو قبایلو کې خپل جدی مراقبت وساتی.

دریم عامل دا ؤ چې تیمورشاه عیاش سړی و او کابل د هوا مساعدت و ده ته زمینه برابروله چې د کال په هر موسم کې خاصتاً د دوبی په موسم کې مستی او میلی وکړی.

د دغو عواملو پ بنا یې په نوی پایتخت کې بو څه ودانی وکړی، خو خپل شاو خوا یې د

پښتنو د بانفوذه خانانو څخه وساتل. ده شیخ عبداللطیف جامي هروی خپل وزیر مقرر کړ، د خزانو چاری یې الطفات خان هندی ته وسپارلې او په دربار کې یې هم د پښتو پر ځای فارسي رواج کړه.

تیمورشاه دولس زره مسلح عسکر د محمدخان بیات تر قوماندانی لاندی مقرر کړل چې د باچا امنیت وساتی. تیمورشاه قاضی فیض الله خان دولت شاهی خپل مشاور وټاکی ولی پوره اعتماد یې نه پر کاوه.

په ۱۷۷۹م کې یو نفر مځکه وال ملاک فیض الله خان د خلیل قوم څخه پیښور کې تیمورشاه ته یاغی شو او په یو ناڅاپي حمله کې یې باچا وژئ، خو تصادفاً باچا خلاص او فیض الله خان د یو شمیر کسانو سره اعدام شو. په دی وار پیښور هم ده ته د امن په لحاظ منفی ټکی شو. تیمورشاه سردار پاینده خان د حاجی جمال خان زوی د کندهار د درانو په خانی وټاکی، خو پر هغه یې اعتماد نه درلود.

سره له دی چې تیمور د کابل په نسبتاً مصوونه فضا کې اوسیدی، خو آرامی یې چندان په برخه نه وه.

## ۳- پیښور د اختلافونو او توطیو محراق:

د ډیر پخوا څخه پیښور د افغانستان ژمنی پایتخت ؤ، دا د کوشانیانو له وخت څخه چې کانیشکا پر قدرت ؤ دوبی به یې پایتخت کابل ؤ او په ژمی کې به څلور میاشتی په پیښور کې اوسیدی.

کله چې تیمورشاه پایتخت له کندهاره کابل ته رانقل کړ، یو ځل بیا پیښور د ژمنی پایتخت ځیره غوره کړه. کله چې به په ژمی کې باچا او دربار پیښور ته رانقل شو، نو سیاست به هم دلته په څپو راغی.

د تیمورشاه د باچهی په پیل کې پیښور د لویو قومی، نظامی او روحانی متنفذو شخصیتونو اوسیدو ځای ؤ، او احمدشاه بابا د دغه ځای لوی قومونه د خپل درانی توب به کړی کې داخل کړی او د «بر درانی» په نامه د خاصو اعزازونو څخه برخمن وه. د تیمورشاه د باچا کیدو پر مهال چې کوم فتور په کندهار کې وپاڅید او د لویو دولتی او قبیلوی شخصیتونو په قتل او اعدام بدرګه شو، نو د دغو واقعاتو اغیزې په پیښور کې هم وشوی. ځکه دلته هم لوی متنفذ شخصیتونه د کندهار د مخالفو او موافقو کړیو سره تړلی وو، نو ځکه ډیر وخت نه ؤ تیر شوی چې دا ځای (پیښور) هم د توطیو مرکز شو.

د باچا اطلاعاتی اداره هم سخته متوجه وه، خو ضد و نقیض اطلاعاتو دواړه خواوی هم باچا

او هم مشران یو پر بل بې باوره کړه او دغې وضعې نوره هم د دسیسو او توطیو په زیږیدو او ډیریدو کې اغیزې وکړې او د پیښور فضا سراسر په زهرو ولړل شوه.

لومړنی تیاکه ۱۷۷۹م په ژمي کې هغه وخت وچاودله چې پاچا (تیمورشاه) د پیښور په بالاحصار کې اوسیدی، واقعه دا وه چې یو تن لوی مخکه وال د خلیل قبیلې مشر فیض اللّه خان د یوه بل روحاني پیرزاده میامحمد په همکاری یو لښکر د پاچا په اجازه تشکیل کړ چې د سکانو سره په غزا کوي، خو یوه ورځ یې دغه لښکر په دې نامه چې د پاچا سلام کوی بالاحصار ته ننوت او پاچا خبر شو. د بالاحصار بام ته وخوت خپل ګارد یې راوغوښت جنګ پیل شو، د مخالفینو شپږ اووه کسه مړ شو او د هغو دواړه مشران یعنی فیض اللّه او میا محمد وتښتیدل ولی د تیمورشاه عسکرو هغوی راوګرزول او فیض اللّه یې د یو لوی شمیر کسانو سره اعدام کړ، خو میامحمد یې د درباریانو په شفاعت له اعدام څخه معاف کړ. د دغې ډلې بل محرک ارسلاخان مهمند چې د شخړې په ورځ یې د خیبر لار بنده کړې وه په ۱۷۹۱م کې ونیول شو او اعدام شو.

پیښور د جغرافیایی موقعیت له پلوه ډیر اهمیت درلود ځکه له دغه ځایه پر کشمیر او پنجاب او حتی سند د دربار پاملرنه ساتل کیدای شوای، نو ځکه در دربار نظامی او سیاسی شخصیتونه به هملته اوسیدل، څو د دوی سره به د دسیسو او توطیو بازار هم ګرمیدی.

د تیمورشاه تر مرګ وروسته د نولسمې پیړۍ تر دوهمې نیمایی پوری پیښور د جریاناتو له پلوه پس له کابله دوهم مرکز ؤ، حتی په سیاسی جریاناتو کې یې تر کندهار او هرات هم د اهمیت پله درنه وه او څومره چې دغه وضع اهمیت پیدا کاوه په هغه اندازه د توطیې او فتور درجه یې پورته تلله.

## ٤- په پنجاب کې د سکانو بغاوتونه او قیامونه:

سکان د هندوستان یو شورانده ،خو بهادر قوم دی، دوی مغولانو ته هم رام نه وه او هر وخت چې به مرکزی دولت کمزوری و، نو دوی به سر راپورته کړ. هغه مهال چې احمدشاه بابا پنجاب واخیست او بیا ډهلی ته ورغی او هلته یې مغول باچا ماتحت کړ، نو سکانو کوشش وکړ چې ځانونه خپلواک کړی.

په ۱۷۵۷ کې چې احمدشاه بابا د ډهلی تر فتح وروسته وطن ته راوګرځیده سکانو په پنجاب کې یو قیام وکړ، خو احمدشاه بابا د دغه قیام ټکولو ته خپل زوی تیمور د لښکرو سره ولیږی، هغه سکان سخت ووهل چې هغوی غرو ته پورته شول.

د پانی پت پر ډګر مرهتیانو ته د احمدشاه لښکرو لویه ضربه ورکړه او کله چې احمدشاه

کندهار ته ولاړ سکانو خیال وکړه چې احمدشاه د پانی پت جګړې کمزوری کړی دی نو دا د بغاوت ښه موقع ده، خو احمدشاه پیه ۱۷٦۳م کې د سکانو د ټکولو لپاره امرتسر ته راغی او په جنډوله کې یې محاصره ولګوله. سکان وتښتیدل، خو احمدشاه له لوړ سره راوګرزول او پنځه ویشت زره یې ترې ووژل. نور نو د احمدشاه په ژوند کې سکانو سر ونه ښوراوه خو د احمدشاه بابا تر مرګ وروسته بې د تیمورشاه د باچهي په وخت کې په ۱۷۸۱م کې بیا باغی شول او حتی ملتان یې هم ونیوی خو تیمورشاه د یو لک لښکر سره پر ورغی او دوی یې غرونو ته فرار کړل.

د تیمورشاه تر مرګ وروسته د شاه زمان په وخت کې چې ډیر سر دردونه ایجاد کړل په ۱۷۹۵م په رهتاش کې او په ۱۷۹٦م کې یې په پنجاب کې سکان وټکول خو په ۱۷۹۹م شاه زمان یوه غټه تاریخي اشتباه وکړه په دغه وخت کې شاه زمان د پنجاب څخه پیښور ته راتی چې د جهلم په سیند کې څو توپونه ډوب شول، خو دده تر شا رنجیت سنګ هغه راویستل پاک یې کړل او په پیښور کې یې د شاه زمان حضور ته راوړل، شاه زمان د رنجیت سنګ دا عمل د دوستي یوه غټه نښه بلله او دا ماجرا جو یه سړی یې په لاهور کې د خپل ګورنر په حیث مقرر کړ. همدغه سړی له دې وروسته تقریباً څلویښت کاله چې ژوندی ؤ د افغانانو په دښمنی یوه شیبه هم هیره نه کړه او دا لومړی قوت شازمان هغه ته وروبخښی.

کله چې د سدوزو او محمدزو ترمنځ شخړې شدیدې شوې، نو په ۱۸۱۳م کې شاه شجاع د رنجیت سنګ په لاس کې بندي شو، خو په ظاهره کې چې شاه شجاع هغه ته پناه وړې وه میلمه وو ،خو انګریز ته یې له دغه ځایه لار صافه کړه.

رنجیت سنګ تر ۱۸۱۸م وروسته چې وزیر فتح خان قتل شو او داخلي جنګ شدت اختیار کړ، په پیښور څو واره حمله وکړه او بیا یې هغه پخپله قبضه کې واخیست. په ۱۸۳٤م کې انګلیسانو رنجیت ته د پیښور په ساتلو کې مرسته کوله او دا مهال دوست محمدخان انګلیس ته مراجعه کوله چې پیښور وروسپاري،خو یې د مایوسي په حال کې د روسانو تزار ته لیک ولیږی او دا لار د اکلینډ د قهر باعث شو ، خو یې شاه شجاع د رنجیت سنګ په معاهده ملګری کړ او شاه شجاع پر افغانستان راغی. د افغان او انګلیس لومړی جګړه وشوه انګریز او شاه شجاع سخته ضربه وخوړه او په دغه وخت کې رنجیت سنګ هم مړ شو او د نولسمې پیړۍ د دوهمې نیمایي په پیل کې د سک ټول مقبوضات انګلیس واخیستل.

## ۵ - د تیمورشاه مرگ او د داخلي جګړو پیل:

د تیمورشاه له مرگ سره افغانستان د ډېرو لویو بدبختو ورځو سره مخامخ شو. تیمورشاه سره له دې چې د دراني قبايلو او خپلې کورنۍ دد لويو لانجو سره مخامخ ؤ، خو د احمدشاه امپراطوري یې ساتلې وه خو دده له مرگ سره لویو بلاؤ سرونه راپورته کړل.

تیمورشاه په ۱۸۹۳م کال په پېښور کې ناروغه او په کابل کې مړ شو. وايي چې مرگ یې هم طبیعي نه ؤ بلکې د حرم ښځو مسموم کړی ؤ. دده ډېرې ښځې غوښتې وې او د هغو څخه یې ۲۴ زامن تر شا پرېښودل چې په اقتدار کې یې اته زامن وه چې مشر یې همایون او کشر یې شجاع ؤ. تیمورشاه مرگ ته په نږدې ورځو کې د هیواد اداره داسې ووېشله: کندهار یې مشر زوی همایون ته، هرات یې دوهم زوی محمود ته، پېښور یې دریم زوی عباس ته، کابل یې څلورم زوی زمان ته او غزنی یې کشر زوی شجاع ته او کشمیر یې هم بل زوی کهندل ته وسپاری.

کله چې د تیمورشاه مړی خاورو ته وسپارل شو تاج او تخت د خدعې په توگه سردار پاینده خان په مرسته شاه زمان ته وسپارل شو او هغه هم نور ورونه په بالاحصار کې بندیان کړ. په دې وخت کې هیواد له دروخواو تر تهدید لاندې ؤ: د غرب له خوا قاجاریانو فشار راوړی، د شمال په خوا کې نوی متغنیه دولت سرحدونه تخریشول، ختیځ او جنوب ته هم ناآرامي وې او انگریزان د جنوب له خوا د هغه پر شمال را روان وو او د پنجاب د اشغال پروژه یې تر لاس لاندې نیولې وه.

شاه زمان غوښتل هغه ځیني چې پر راماتی وې هواري کړي، خو ورونو پر آرامه نه پرېښووی. لومړی ادعا طلبه مشر ورور همایون ؤ چې قیام یې وکړ، خو په جنگ کې مات او ونیول شو، دی که څه چې بلوجستان ته تبنتیدلی ؤ ولې شاه زمان هغه په لاس راوړ او ړوند یې کړ.

دا ړوندول د درنو او اوږدو داخلي جګړو د پیل سیگنال ؤ، په دې پسې دوهم ورور محمود راپورته شو او په یوه فرصت کې یې شاه زمان ونیوی او په سترگو یې ړوند کړ.

له دې وروسته ټول هیواد د پاشلو او متفرقو جګړو په څپو کې لاهو شو. شهزادگانو ولسونه یو د بل پر ضد راولاړول او پخپله یې یو د بله سره قتلول. دغه د جګړو اور د دوو لویو قبیلو سدوزو او محمدزو ترمنځ روان شو چې وروسته پاچهي محمدزو ته نقل شوه. بیا د پاینده خان زامن یو بل ته خوشې شول او په هغه پسې د امیر دوست محمدخان زامن راپاڅېدل او د هیواد لمنې ته یې اور واچاوه، په دې توگه د تیمورشاه تر مرگ وروسته تر ۱۸۸۰م پورې چې امیر عبدالرحمن قدرت اخلې دا وطن د داخلي جګړو په اور کې پاک وسوځول شو.

# پنځم فصل

## څرنګه د پښتنو په رااوچتیدو کې خارجي عوامل پر داخلي عامل غالب شول؟

### ۱ - شاه زمان د امپراطورۍ په بیا ژوندی کېدو کې ناکامه شو:

د تیمورشاه مرګ او د شاه زمان پاچا کیدل په نړۍ کې د ډېرو لویو پېښو دوقوع سره برابره ؤ. ۱۷۹۳ م هغه زمانه وه چې اروپا د فرانسې دانقلاب تر زلزلې لاندې رېږدوله او انګریز پر دې پوره باور درلود چې که فرانسه د دغه انقلاب په قوت بریالی شي، نو په ختیځ کې به تر هرڅه اول د انګریز له لاسه د هند طلایي چرګه وباسي، لکه چې د دغه هولناک خوب یې د ناپلیون په وجود کې تعبیر وموند.

انګریز په شمالي هند کې پر هغو افغاني مقبوضاتو د تسلط پروژې طرح کولې چې د احمدشاه او تیمورشاه څخه شاه زمان ته په میراث پاته وې او د تیمورشاه له مرګ سره یې د بغاوت جنډې اوچتې کړې وې. پنجاب چې همیشه د سکانو د قیامونو مرکز ؤ د تیمورشاه له مرګ سره یې بیا سره راپورته کړ او شاه زمان د هغه ځای د پوره تصفیې په خاطر د یوې ډېرې زورورې لښکر کشۍ پلان تر کار لاندې ونیوی. څرنګه چې دا مهال، انګریزانو پنجاب د استعماري کړۍ د راڅرخولو پروژه تر کار لاندې نیولې وه، نو د شاه زمان تصمیم په سخت تشویش کې واچول،

د افغانستان په باب دانگریز استخباراتی اطلاعاتو هغوی ته د سیمې په برخه کې حقایق په پوره توگه څرگند ول چې پاچا مړ دی او تر لسو زیات شهزادگان د جهالت او ناپوهی پر نیلی سپاره اور بازی پیل کړیدی، هم یو د بله سره وژنی، هم ولس قتلوي او هم وطن سیځی.

پر همدغه وضع انگریز د خپل تخریب پلان عیار کړ او تر تطبیق لاندې یې ونیوی، شاه زمان چې لکه زندی سوی زمری هرې خوا ته یې پنبې او پنجې اچولې، ولې مطلوبې نتیجې په لاس نه راتلې.

کله چې به ده پر یوه خوا حرکت وکړ، نو له بلې خوا به یې بل ورور بغاوت بنا کړ او دی به مجبور شو چې ددغه اور د وژلو په خاطر تر مخنی پلان پر یږدی.

دده پر زیار ویوست چې د نیکه (احمدشاه) امپراطوری بیرته راژوندی کړي، خو داخلي او خارجي حوادثو داسي طوفاني څپې پر را ووهلې چې د پښو یې واچاوه.

انگریز او د ایران شاه فتح علی شاه قاجار د شاه زمان د مصروفولو په خاطر دده پر ځان مین او وطن دښمن ورونه تحریک او تشویقول چې شاه زمان ته خنډونه پیدا کړي، څو دا ؤ چې دا د لوی نیت خاوند باچا یې ناکام کړ او نه یوازې ناکا شو، بلکه په ډیر وحشت یې سترگې هم ړندې کړې.

په دې شک نشته چې د احمدشاهی امپراطوری په بیا ژوندی کولو کې شاه زمان ناکامه شو، خو دا لومړی ناکامی وه چې خارجي عامل یې عمده علت ؤ.

## ۲- دسدوزی شهزادگانو خپل منځی جگړو هیواد سخت ناروغه کړ:

تر مخه مو وویل چې د تیمورشاه څخه (٢٤) زامن پاته شوه چې دا هر یوه ددې هیواد په تباهی لویه یا کوچنی ونډه درلوده.

په دې ورونو کې یو شمیر چې غتیان یا یې مبندی د اشرافی کورنیو څخه وې د افغانستان د تاج او تخت دعوی پیل کړی او یو لوی اور یې ولگاوه.

ددغو اور بازیو عمده لوبغاړی همایون، محمود، زمان، فیروز الدین او شجاع (ورونه) کامران د محمود زوی، قیصر د زمان زوی، ملک قاسم د فیروزالدین زوی وه.

په دوی کې زمان چې په شاه زمان یادیږی او د تیمورشاه تر مرگ وروسته پاچا شو، یو ه اندازه د عزت نفس خاوند او عالیجناب شخصیت ؤ، نور نو ټوله، داړه ماران او د ایران او انگریز د دربارونو چاکران وه.

په لومړی ځل کې چې شاه زمان پاچا شو، همایون مشر ورور چې د کندهار والي ؤ سر واخیست، یاغی شو، خو په یوه ښکر کې ووهل شو او په سترگو ړوند شو.

په دې پسې د زمان بل ورور محمود وچې د هرات والي ؤ سرواخیست او د باچا او مرکز پر ضد یې بغاوت پیل کړ، دده مکرر جنګونه وکړل او یو ځل چې د بارکزي وزیر فتح خان په مرسته بریالی شو، نو شاه زمان یې خلع ځان یې باچا کړ او د زمان سترګي یې ړندی کړې، دی چې په هر ځل مات شو نو د ایران دربار ته به یې ورځغستل او فتح علی شاه قاجار هم دی د وروڼو په جنګ کې په پیسو او وسلو تقویه کاوه، د ایران په عمومی صورت دا پالیسي وه چې هر ورور ته یې مرسته ورکوله چې داد اور لوبه جاري وساتي.

فیروزالدین چې په حاجی یې شهرت درلود یو جبون او بې زړه سړی ؤ خو دی هم د فتح علی شاه سوغاتونو و میدان ته راوډانګاوه.

شاه شجاع د زمان شاه مورنی ورور یو محیل، چالاکه او بې تقوا انسان ؤ چې په یوه فرصت کې یې پاچهی همم تر لاسه کړه ،خو وروسته مات شو او د ١٨١٤ څخه بیا تر شل دویشتو کالو پورې په لودهیانه کې د انګریز په معاش اوسیدی او بالاخر د د انګریز او سیک د لښکرو په مرسته د کابل باچهی ته ورسید ،او دا یې ننګه ژوند د افغان او انګریز د جګړې په پای کې په ډیر ذلت پای ته ورساوه.

ددغو وروڼو زامن کامران، قیصر او قاسم هم ځانته لړمان وه، دوی هم د اور د ډګر لمبې بلې ساتلې او خارجي قدرتونو ته یې تابعیت تر پلرونو نه کم نه ؤ.

دا جریان چې تر شلویښت کالو زیات و کم وخت یې په برکې ونیوی هیواد یې د فقر او جهالت کندې ته وروغورځاوه او هغه احمدشاهی امپراطوری چې د هند او ایران کامروایی به یې کوله د سرد تنزل وکړ چې ساد د سیک رنجیت سنګ خپل امارت پر چلاوه او د امپراطوری احمدشاه لمسی شجاع د هغه په باداری فخر کاوه او د محمد زو سردارانو دده سر دد حکمرانی په خدمت کې وطن قربانی کاوه.

## ٣- لومړی کودتا او د هغې ترخه عواقب:

د شاه زمان پر ضد هغه پټه توطیه چې د لویو خانانو په وسیله په کندهار کې جوړه او په ناکامی پای ته ورسیده او د اقتدار ډیر لوی خانان د پاچا د غضب مورد وګرځیدل یو کودتا یې غوندی حرکت ؤ. په دغه حرکت کې یو ه طرح جوړه او تر تطبیق لاندې نیول شوې وه خو بد جهت یې دا ؤ چې په لاربښوده شورا کې یې یوه خارجی عنصر برخه درلوده او له دې جهته داسې فکر کیږي چې دا لومړی حرکت دی چې خارجی لاس رااوچت کړی ؤ.

لنډ تفصیل یې داسې دی چې شاه زمان کله پاچا شو، نو هغه د رحمت الله خان په نامه خپل یو

قومي سرې وزير کړ او د وفادار خان لقب يې ورکړ، په داسې حال کې چې سردار پاينده خان بارکزی نه یوازې تيمورشاه ته بلکې د شاه زمان په پاچا کیدو کې لوی خدمت کړی ؤ او وزارت يې خپل حق باله.

شاه زمان، سردار پاینده خان په کندهار کې د دراني قبيلو مشر مقرر کړ او کندهار دا مهال د اور یو تنور ؤ او د رحمت الله خان وزیر په فشار خلک د پاچا څخه زيات ناراضه شوي وو.

دا خو داخلي عامل ؤ خو خارجي عامل يې ډير مهم ؤ، لکه چې په ترمخنيو کرښو کې چې مو ولوستل، انگريز په پنجاب کې د شمالي هند د قبضې پروژه تر کار لاندې نيولې وه او تر هر څه يې د شاه زمان څخه سترگه کوله چې هغه پر هند لښکرکشي ونه کړي چې ددوی نقشه به ورته گډوډه کړي او شاه زمان هم دغسې اراده درلوده، نو ځکه انگريزانو مختلفې وسيلې په کار اچولې چې د هند څخه د شاه زمان مخه ونيسي. په هند کې د ختيځ هند کمپنۍ او گورنر جنرال دولزلي په ايران کې د فتح علي شاه قاجار دربار خپله پايگاه گرځولې ده او له دغه ځايه يې په دسيسو او توطئو لاس پورې کاوه.

۱۷۹۹م کال شاه زمان ته د ډيرو ستونزو کال ؤ په همدغه کال د کمپنۍ او انگريز لوی جاسوس مهدي علي ايران ته راغی او دلته يې کار پيل کړ او د کار عمده برخه يې د شاه زمان لپاره ستونزې پيدا کول ؤ.

په همدغو وختونو کې يو هندي چې غالباً پنجابي به ؤ، ځکه په نامه کې ميا ددغه مطلب ثبوت کوي او نوم يې پير غلام محمد ؤ، دا سړی په کندهار کې ديره شو او مريدانو ته يې لوی لنگر جوړ کړ، دده لنگر ته قومي مشران، روحانيون او عامو خلکو ډير ورجذب ؤ.

وايي ددغې کودتا يعنې د شاه زمان د خلع يا وژلو او بل چا ته د پاچهي سپارلو پلان په همدغه لنگر کې جوړ شو. کودتا کوونکو ځکه دا يو مصئون ځای باله چې دا د يو پير لنگر ؤ، خو وزير رحمت الله خان د اول څخه د دغه ډله تعقيبوله او شاه زمان ته يې د هغو راپور ورکاوه. ددې حرکت مشران دا کسان وو: سردار پاينده خان بارکزی، محمد عظيم خان الکوزی، محمد رحيم خان عليزی، نورالله خان بابر، اسلام خان پوپلزی، حکمت خان سرکاني، سلطان خان نورزی، خضر خان عليزی، زمان خان پوپلزی رکاب باشي، امير اصلانخان جوانشير، جعفر خان جوانشير او منشي محمد شريف خان قزلباش.(۱)

دغو کسانو پر دې معاهده قرآن او قسم کړی ؤ.

اول– شاه زمان دې معزول او پر ځای دې شاه شجاع باچا شي.

(۱) افغانستان در مسير تاريخ – غبار، ص ۳۸۶.

دوهم- آینده به باچا د قامونو د مشرانو په مصلحت باچا کیږي.

دریم- کوم باچا چې د قومي تقاضو مطابق کار نه کوی سرداران به یې په خپل اختیار معزولوی.[1]

ځنې داسې هم وایي چې دغې ډلې فیصله کړې وه چې شاه زمان به وژني او باچهي به شاه محمود ته وورکوي.[2]

د دغې کودتا طراحان مخ کې تر دې چې عمل وکړي ونیول شول، میا پیر غلام محمد هندی د هند پرر لور وتښتیدی، خو ونیول شو او د هغو افغانی قومی مشرانو سره یو ځای اعدام شو.

په دې کسانو کې سردار پاینده خان لوی قومي سړی ؤ، او یو لوی شمیر ملاتړلی زامن یې درلودل چې په سر کې یې وزیر فتح خان و راپورته شول او د انتقام جګړې یې پیل کړی.

دا کودتا د ډیرو ترخو عواقبو عامل وه او د سدوزو ځخه محمد زو ته د امارت د انتقال سبب هم دغه حرکت ؤ.

راغلو دې ټکی ته چې په دې حرکت کې خارجي عامل لاس درلود، د میاغلام محمد په باب تر اوسه ما کوم سند نه دی لیدلی چې دده ته دې لارښوونه یا د راپور ورکړنه او غوښتنه پروته وی، خو دا هم سالم عقل نشی ردولای چې دا چټاق پیر څرنګه په دغسې حساس وخت کې ځان کندهار ته راورساوه او بیا یې د پیری ترچوخی لاندې د قومونو مشران دې ته راوبلل چې د باچا پر ضد قیام وکړي.

دا خبره هم نظر انداز کیدای نشي چې د دې کودتا وخت ۱۷۹۹م کال ؤ او په دغه وخت کې د هند ځخه انګریزانو د شاه زمان پر ضد د ایران د باچا فتح علی شاه په دربار کې فعالیت پیل کړ چې دوه یا یونیم کال وروسته یې کپتان ملکم (سرجان مالکم) د سفیر په حیث د ایران دربار ته راواستاوه.[3] او هغه هم په فتح علی شاه پر هغه معاهده لاسلیک واخیست چې په هغه کې عمده

---

(۱) تاریخ په رڼا کې، کاکا خیل- ۹۰٤

(۲) افغانستان در مسیر تاریخ، ۳۸٦.

(۳) سرجان ملکم د هند شرقی کمپنې له خوا د فتح علی شاه دربار ته راواستول شو چې په تښتین هغه ایرانی باچا د شاه زمان د چپه کولو پلانونه عملي کړي. ده باچا او درباریانو ته رشوتونه ورکړل او د هغه قاجاری وخت په یوه سند کې لیکلی دی چې: «او دا ملکم صاحب هوښیار سفیر، بخښښونه ورکوونکی او خوش تقریر یو سړی ؤ دده مردمی سلوک او رفتار او د استرجي ښائیست په ایران کې تر اوسه ضرب المثل دی. د ایران شاعرانو د استرجی په ښایست او صفایی پورې شعرونه وویلی او عشقونه یې ورسره وکړل.» روضة الصفا.

دا مطلب د هرات د قلمرو استعمار د کتاب ځخه د فتح الدین فتاحی اثر او په ۱۳۷۰ په ایران کې چاپ شوی دی - ۱٥۲ مخ.

په پورته لیکنه کې د مطلب ټکی دا دی چې انګریزانو حتی له داسې کشافت کاری ځخه هم ځان لرې نه ساتی چې یو لغړزنی هلک د ایرانی دربار د لواطت کارانو غیږې ته واچوی. دغه استرجی نو هغه امرد با زیبا پسر ؤ چې انګریز د سیاست په لار کې وسیله وګرځوی.

ماده دا وه چې د افغانستان باچا (شاه زمان) که پر هند حمله وکړي د ایران باچا به پر افغانستان ورپورته کیږي.

په داسې حال کې چې دونه په طول و عرض پلانونه د شاه زمان چپه کیدو لپاره موجود وی، نو دا هم نفی کیدای نشی چې پیر غلام محمد هندوستانی مستقیماً د انګریز ایجنټ ؤ چې په دې کودتا کې یې لاس درلود او همدغه کودتا د ترخو عواقبو سره د افغانستان د تباهی بدرګه شوه.

## ٤- د افغانستان د تجریدولو لپاره د لارډ مارینګټن او مالکم طرحې:

د انګریز د هغو خطرناکو پالیسو څخه چې د افغانستان سیاسي او اجتماعي جوړښت یې د شکل او محتوا له پلوه سخت زیانمن کړ هغه د تجرید پالیسی وه.

کله چې انګریزانو د هند شمالی، په خاصه توګه پنجاب ته لاسونه راغزول نو د زمان شاه څخه یې ډیره سترګه کوله چې هغه پر پنجاب رانشی، نو د هغه د مخنیوی لپاره یې دوی پالیسی تر کار لاندې ونیولې چې یوه عاجله او بله د اوږدې مودې وه، په عاجله کې دا کار عمده ځای درلود چې شاه زمان د ورونو سره په جګړه مصروف کړي چې له هند څخه یې مخه بنده شي.

د اوږدې مودې پالیسی یې پر دې اصل ولاړه وه چې د افغانستان واکمنان چې د یوې اوږدې آیندې پر کرښه راپورته کیږي هغه باید له خارج څخه تجرید شي.

د دې دواړو طرحو طراح لارډمارینګټن د بنګال انګریز حکمرانۀ او د تطبیق پیل یې د یو بل انګریز، جان مالکم په وسیله سرته ورسید چې په ایران کې د فتح علی شاه قاجار دربار ته رااستول شو او هغه له دغه ځایه د شاه زمان لپاره لوېې ستونزې پیدا کړې، څو دا ورونه تول یو په بل وتکول شو او د افغانستان څخه یو د اور تنور جوړ شو.

لارډمارینګټن چې د ۱۷۹۸م څخه تر ۱۸۰۵م پورې په هندوستان کې ؤ د سیمې وضع په دقیقه توګه مطالعه کوله. دا هغه مهال ؤ چې د هند تود او بو ته د روسیې د امپراطور لوی پتر د طرحې په اړخ کې د فرانسوی (امپراطور) بوناپارت ناپلیون دا خطر هم رااوچت شوی ؤ چې هغه به د ایران او افغانستان له لارې پر هند ورخیژي او انګریز به له هنده شړي او په دې باب لیکونه د پارس باچا فتح علی شاه د میسور حاکم ټیپو سلطان او د افغانستان باچا شاه زمان ته هم رسیدلی وه، په دغو دریو شخصیتونو کې شاه زمان او ټیپو سلطان په رښتیا او صداقت د انګریز د خلع او قمع کار کاوه، خو د ایران طماع او ځان غوښتونکی باچا فتح علی شاه قاجار د ورځی په نرخ ډوډۍ خوړله او زیاتره د انګریز رشتونو یې سترګې ورروندولې.

انګریزانو د همدغې وضع په فهم او د هغو د عواقبو څخه په تشویش دا طرح منځته راووړه چې

پر افغانستان د تجرید پالیسی وچلوی. دا لویه او خطرناکه لوبه د افغانستان و پښو ولویده او د نولسمی پیړی له پیل څخه چې سرجان مالکم د سفیر په توگه د ایران دربار ته ورسید بیا د شلمې پیړی تر دوهمې لسیزې پورې چې امیر امان الله خان د افغانستان خپلواکی اعلان کړه، دغه د تجرید سیاست زندی د افغانستان غاړې ته لوېدلی وه او د نولسمی پیړی له دوهمې نیمایی څخه چې د (پطر) سیاست له دغه تجرید سره ضمیمه شو، نو د افغانستان د پرمختیا او پراختیا په وړاندې یې ډېرې ستونزې راپیدا کړې.

د مارینگټن مالکم طرح د زمان شاه د تضعیف په باب داسې وه چې د ایران شاه ته غټ رشوت ورکړی څو هغه دې ته حاضر کړی که د افغانستان باچا پر هند وربورته شی د ایران باچا به پر افغانستان لښکر کشی وکړی او د باچا مخه به د هند څخه راوگرځوي، نو همدا وه چې د نولسمې پیړی په لومړی کال یو د غټو تجربو خاوند انگریز سرجان مالکم د ایران دربار ته ولیږل شو. هغه دوی دانې د الماس غمی چې قیمت یې دوه نیم سوو روپو ته رسیدی فتح علی شاه قاجار ته ورکړل، همدا رنگه یې درې ملیونه روپۍ د قاجاریانو خزانې ته دېرش زره ټوپکه، شل توپ یې د ایران د دولت اردو ته وبخښل او په دې ترڅ کې یې د افغانستان څخه د خراسان ولایت د بیلولو او ایران ته د بخښلو وعده ورکړه. (۱)

په دې توگه فتح علی شا حاضر شو چې د انگریز هر فرمایش قبول کړی او د ۱۸۰۱م کال د جنوری په ۱۰ یې په ایران دا تړون لاسلیک کړ چې که هر وخت د افغانستان باچا پر هند حمله وکړې د ایران لښکرې به پر افغانستان یرغل کوی او که افغان باچا یا فرانسه پر ایران حمله وکړي، انگریز به د ایران مرسته کوي. سرجان مالکم د ایران باچا د شاه زمان او افغانستان د تضعیف لپاره دی ته تشویق کړ چې پر هرات حمله وکړي.

په عمومي توگه د انگریز د دې سیاست په نتیجه کې د سدوزی ورونو ترمنځ سختې شخړې رااوچتې شوې او په دې پسې هڅوی دغه د قدرت طلبی په جگړه کې میدان پر محمدزو بایلاوه او بیا د محمد زو سردارانو به خپل نوبت یو د بل ټکولو ته ملا وتړله او دغه ټوله ناملایمات او بدبختی د انگریز د پټ او ښکاره سیاست څخه منځ ته راتلل.

په نتیجه کې هیواد ټوټه، ټوټه، خلک وحشی او د تمدن څخه په څټ پورې وهل شول، په همدې توگه انگریز دغه بامـلاحظه او د عزت خاوند ملت نړۍ ته وحشي، درواغجن او د بشریت دښمن معرفي کړ او په دې توگه یې د نړیواله په ذهن کې دا ورځای کړه چې دوی د نړۍ څخه د دغو وحشیانو د شړلو په لار کې لوی خدمت کوي.

(۱) افغانستان در مسیر تاریخ، ٤٤٥

د لارډمارینګټن طرح عملي شوه او تقریباً یوسل و شل کاله افغانستان د نړۍ څخه تجرید شو چې وروسته حتی نړۍ هیر کړی هم ؤ، همدا رنګه د سرجان مالکم طرح هم ددې باعث شوه چې حتی په افغاني کلتور کې وروروژني او دایمي جګړې او په فتوا کې د هیواد ساتنې ته پوره ځای ورکړی چې اغیزې یې حتی په شلمه پیړۍ کې هم په روښانه توګه لیدل کیږي.

## ۵ - د ناپلیون پروژه، افغانستان پر هند د خیز د تختې په توګه:

ناپلیون چې په بوناپارت شهرت لري د فرانسې انقلاب راوزیږاوه او د یوه نظامي دیکتاتور په توګه یې د نولسمې پیړۍ نړۍ وریږدوله. دغه سړی د انګریزانو سخت رقیب ؤ او غوښتل یې هند د انګریز له ګوتو وباسي او په ختیځ کې د خپلې امپراطورۍ ستنې پر ځګې کړي.

ناپلیون د اتلسمې پیړۍ په وروستی کلونو کې چې مصر ونیوی غوښتل یې د سمندر له لارې پر هند راشي، خو کله چې ادمیرال نلسن د انګریز لوی سمندري قوماندان د مصر په ابوالخیر کې د ناپلیون بحریه تارو مار کړه نو ناپلیون د سمندر له لارې هند ته د راتګ څخه منصرف شو. تر دغې حادثې وروسته په ۱۸۰۵م کې چې یې د امپراطور په توګه پر اروپا مارشونه کول نو یو ځل بیا اراده ورته پیدا شوه چې د وچې له لارې پر هند وروخیژي، نو دا ؤ چې ایران او افغانستان یې په نښه ونیول او په لومړي سر کې یې د ایران باچا فتح علي شاه قاجار ته یو لیک ولیږی هغه ته یې ولیکل: که ته روزل شوی عسکر او د وسلو جوړولو صنایع ولرې، نو نه یوازې به خپل هیواد او آزادي وساتې بلکې د نړۍ د با قدرته هیوادونو په قطار کې به راشې او فرانسه افتخار کوي چې د نړۍ د دغسې یو شریف ملت سر د دوستی لاس ورکوي. (۱)

دوه کاله وروسته په ۱۸۰۷م کې د ناپلیون او فتح علي شاه تر منځ یو تړون لاسلیک شو چې په هغه کې ناپلیون تعهد کړی ؤ چې ګرجستان او قفقاز به له روسانو اخلي او ایران ته به یې ورکوي او ایران به د انګریز سره اړیکې شلوي او افغانستان به ودې ته تیاروي چې له خپلې خاورې ایراني او فرانسوي لښکرو ته لار ورکړي چې پر هند یرغل وکړي او ضمناً به دغو لښکرو ته لوژستیکي امکانات میسروي.

د همدې تړون له مخې فرانسې خپل یو غټ منصبدار جنرال ګاردان ایران ته واستاوه چې دغه پروژه عملي کړي. خو روسانو ګرجستان او قفقاز ته پرینښود او په اروپا کې ناپلیون ته هم نور مصروفیتونه پیدا شول او دا پروژه عملي نشوه او په نطفه کې شنډه شوه خو انګریز په یوه دور اندیشی کې پریوت او د آینده خطراتو د مخنیوي لپاره یې د افغانستان د رابیلولو او ځانته د متمایل کولو پر یوه طرح کار وکړ.

---

(۱) فضل ربي پژواک: د افغانستان د بین المللي روابطو تاریخ د کابل چاپ ۱۶-۱۷ مخ.

د ناپلیون پروژه نه یوه پخه نظامي او نه بنیادي سیاسي طرح وه، بلکې داسې ښکاري چې یوازې یې انګریزان په دې ډول داروول او انګریزان په رښتیا ودار یدل او په یوه اساسي کار یې پیل وکړ چې دا هم د انګریز دور اندیشي او د ناپلیون بې عقلي ثبوت ته رسوي. ناپلیون په دې خبر او نه پوه ؤ چې په افغانستان کې د احمدشاهي امپراطورۍ په واکمنانو کې زمان شاه هم زړور او هم باتدبیره سړی ؤ، خو د هغه د بدن شومه دا مهال انګریزانو ایستلی وه او په افغانستان کې یې د یوه هولناک داخلي جنګ او رلګولی ؤ، نو ځکه د ناپلیون د پروژې عملي کول عکس نه وه، همدارنګه په ایران کې بدې خور دربار چې د ناپلیون ځخه ډیرې هیلې درلودې خولې ته یې څه نه ورغلل نو دا پروژه ناکامه پای ته ورسیده.

## ٦- د شاه شجاع دربار ته د الفنستن سفارت او د پیښور د تړون عقد:

کله چې په ۱۸۰۷م کې د فتح علي شاه قاجار او ناپلیون ترمنځ قرارداد وشو چې د ایران او افغانستان له لارې به پر هند یرغل کیږي، نو انګریزان په لویه اندیښنه کې ولویدل او وروسته د کلکتې او لندن سیاستمدارانو دا فیصله وکړه چې د افغانستان سدوزی باچا (شجاع) خپل ملګری کړي او په دې توګه شاه شجاع دربار ته د یو انګریزي هیأت د راتګ پلان جوړ او تر عمل لاندې ونیول شو.

دا هیئت چې مشر یې «مونت ستیوارت الفنستن» انګریز ؤ د مختلفو فنونو او نظامیانو یوه قافله راروانه کړې وه چې شمیر یې څلور سوو تنو ته رسیدی او په دې کې «ملکي مامورین، انجنیران د سروې متخصصان او نظامي منصبداران او پیاده او سواره عسکر ورسره وه.»(۱)

هیئت د راجپوتانې، سند، د یره جاتو او کوهاټ له لارې د ۱۸۰۹ کال په فبرورې کې پیښور ته ورسیدی او د دغه کال د مارچ په ۱۵ یې د باچا (شاه شجاع) سره په دربار کې وکتل.

تر کتنو، تشریفاتو، میلمستیا او وروسته د سفیر الفنستن او شاه شجاع ترمنځ پر یوه دریو فقریز تړون لاسلیک وشو او انګریز په دغه لومړی تړون کې د خپلې غرضي روحیې له مخې داسې کلمات وارول لکه افغانستان چې د ایران او فرانسې له خوا تر تهدید لاندې وي او انګریز مرسته ورسره کوي. د شاه شجاع دا غټه اشتباه وه چې داسې فکر یې کاوه انګریزان به دده ته د تړون متن چې په کومو کلماتو لیکل شوی دی د هغه انشا او املا د ومره مغلقه ده چې ترجمه یې غیر ممکنه ده، دلته یې څو جملې را اخیستل کیږي:

(۱) د کابل سلطنت بیان د مونت ستیوارت الفنستن لیکنه، لومړی ټوک، د ډاکټر حسن کاکړ ترجمه د کابل چاپ، د مقدمې د «و» مخ.

«از آنجا که به سبب ظهور تمهیدات عنوان موافقت و مرافقت از طرف قوم فرنسیس با پادشاه ایران به اراده یورش آوردن بر ممالک سرکار عظمت مدار پادشاه دردران و بعد از آن در ممالک سرکار دولت انگلیس متعلقه کشور هند جناب شهادت و بسالت مرتبت نبالت و ایالت منزلت امیر الامر العظام فراست وکیاست ارتسام مستر الفنستن بهادر به جهت این معنی مامور آمده که به اتفاق و استیصواب کارگزاران حضور با هرالنور اعلیحضرت فلک رفعت قهر طلعت، ناهید جهت، عطارد فطنت، خورشید مرتبت، بهرام صولت، برجیس سعادت، کیوان منزلت، سکندر حشم، جمشید خدم، قان دربان، قیصر پاسبان ظل پروردگار جلیل، حامی مراسم معدلت و ماحی آثار بدعت بتائیدات الله پادشاه سپهر بارگاه کابل... »[۱]

د هغو کار واقعاً د تعجب وړ دی چې دا متن یې په انگریزي ژباړه کاوه. خلص دا چې دا تړون په دغه کال د جون په ۱۷ لاسلیک شو او دا لاندې درې مادې یې درلودې:

۱) که د ایران او فرانسې عسکر پر هند راځي د افغانستان له لارې به یې شاه شجاع مخه نیسي.

۲) که فرانسوی یا ایراني افغانستان ته داخل شي، انگریز به د افغانستان سره هر ډول مرسته کوي.

۳) دا یو د دوستۍ تړون دی او د افغانستان باچا به یو فرانسوی هم په خپل ملک کې نه پرېږدي.[۲]

(۱) داکتر محمود افشار افغان نامه ۲ جلد ایران چاپ، ٦٤ مخ.

(۲) غبار، افغانستان در مسیر تاریخ د کابل چاپ ۳۹۸مخ.

# شپږم فصل

## د سدوزيانو لويدل او د محمد زيانو راپورته کيدل

### ۱ - دسدوزيانو سقوط او د محمدزيانو قدرت ته د رسيدلو عوامل:

د سدوزو د سقوط او د محمدزو د عروج عوامل په دوو لنډو بحثونو کې ځيږو.

اول: د سدوزو سلطنت په ابدالي احمدشاه پيل او په ايوب شاه سدوزي پای ته رسيږي، ددغې لويې سلالې سقوط دا چې د نولسمې پيړۍ په پيل کې را ځرګند شو او دوې لسيزې وروسته يې ساوو ته عمده عامل او علت يې د انګريز او ايران توطيې او مداخلې وې. تر زمان شاه وروسته سدوزي شاهان چې د تيمورشاه زامن او لمسيان وه پخپله هم ډير ناپوه او بې همته خلک وه، دوی د ايران او انګريز لمنې ته ځانونه بهداو طلبانه توګه ورغورځول. دوی دا کار ددې لپاره کاوه چې پر خپلو رقيبانو ددغو خارجي هيوادونو څخه ملاتړ ترلاسه کړي، خو هغوی دوی استعمالول ځو يو کمزوري افغانستان د کمزورو حکمرانانو په اختيار کې منځته راولي او بيا يې پخپله ولکه کې وساتي.

د نولسمې پيړۍ په پيل کې چې د انګريزي کمپنۍ مامور سرجان مالکم له هنده د فتح علی شاه قاجار دربار ته ورسيد، نو ددغو دوو توطيه ګرانو دا پلان چې زمان شاه او ورونه په جنګ سره

اخته کړي له دغه ځایه د سدوزو د سقوط عوامل برابر شول، بیا چې پر له پسې شاه محمود او د هغه زوی کامران د زمان شاه بل ورور حاجی فیروزالدین او د هغه زوی ملک قاس او نور ددغې ملنډې لوبغاړي د ایران دربار ته ورځغلي او هغه دربار دا هر یو تحریکوی چې د بل پر ضد جګړه وکړي او همدارنګه د انګریز سره د شاه شجاع احمقانه وفاداري او هغوی خپل حامیان ګڼل دا ټوله د هغه عمده عامل اجزاء جوړوي چې د سدوزو سقوط یې منځته راوست. په دې کې شک نشته چې پخپله ددغو شهزادګانو او بقایاو تر منځ دوامداره جګړې ددې باعث شوی چې قدرت مخ ځینی وګرځوي او د یو بل چا غیږې ته ځان واچوی.

وروستیو سدوزیانو شهزادګانو دومره تنزل کړی ؤ چې د بارکزو دو لویو سردارانو سردار محمد عظیم خان او دوست محمد خان (امیر) هر یوه یو سدوزی باچا ځانته جوړ کړی و او ځانونه یې د هغه وزیران کړی وه، دا یوه کارتونی لوبه وه، سردار محمد عظیم خان د تیمورشاه بو زوی ایوب شاه باچا کړ او بالاحصار ته یې ورساوه او پخپله یې وزیر شو، سردار (امیر) دوست محمد خان بل سدوزی شهزاده سلطان علی باچا اعلان کړ او پخپله یې وزیر شو او دا دواړه باچاهان په نامه په یوه وخت کې په کابل کې اوسیدل.

وروسته د کندهار بارکزي سردارانو څخه پردل خان کابل ونیوی د بالاحصار په جنګ کې شهزاده اسمعیل ووژل شو او پلار یې ایوب شاه بندی شو، په پای کې په یو لک روپی رشوت زمان خان بارکزي دا وروستی د زقوم ګل پنجاب ته ورساوه او په دې توګه د سدوزو کمبله ټوله شوه.

دوهم: د محمدزو د راپورته کیدو عامل پخپله د سدوزو سقوط ؤ، خو دا سقوط چې محمد زو ور په برخه کړ، یو عامل یې د محمد زو د ډیر لویو مشرانو قتل ؤ. په خاصه توګه د وزیر فتح خان ړندول او بیا وژل د بارکزو سردارانو (ورونو) راپورته کیدل یعنی د محمد زو د عروج باعث وګرځیدل.

د سردار پاینده خان زامن چې قدرت یې له سدوزو څخه محمد زو ته رانقل کړ په دې ډول وه:

فتح خان، عظیم خان، تیمورقلی خان د یوې مور څخه.

نواب اسد خان، طره باز خان، نواب محمد خان، د یوې مور څخه.

عطاء محمد خان، یارمحمد خان، سلطان محمد خان، سید محمدخان، پیرمحمد خان د یوې مور څخه چې په پیښوري سردارانو شهرت لري.

پردل خان، شیردل خان، کهندل خان، مهردل خان، رحمدل خان، دا د بلې مور څخه چې په کندهاري سردارانو شهرت لري.

دولت محمدخان، امیرمحمد خان د کابل د جوانشیری مور څخه وه.

جبارخان، سلام خان، جمعه خان، دا درو مینځو څخه وو. [۱]

په ۱۸۰۱ م کې چې شاه محمود له زمان شاه څخه قدرت تر لاسه کړ نو وزیر فتح خان خپل ورونه یې په دې توګه پر عهدو ولګول:

دوست محمد خان یې په مرکز کې له ځان سره وساتئ، محمد عظیم خان او حاجی جبار خان ته یې کشمیر ورکړ، د پېښور څخه تر اټکه پورې یې یارمحمد خان او سلطان محمد خان ته وسپارله، سند او شکارپور یې رحمدل خان، غزنی یې شیردل خان، بامیان یې کهندل خان ته، کندهار او د هغه ملحقات یې د کلات څخه تر بولان او فراه پورې مهردل خان او پردل خان، ډیرې تر پنجابه کوهسار او پېښور یې نواب عبدالصمد خان او د ده زوی زمان خان ته وورکړل. [۲] په دې توګه افغانستان ټول د سردارا پاینده خان د زامنو په لاس کې شو.

کله چې محمود او د ده زوی کامران، وزیر فتح خان ووژل، نو په انتقام کې دا ټوله ورونه راپورته شول او په ډېره آسانۍ یې افغانستان د سدوزو له وجوده خلاص کړ او محمد زو ته قدرت نقل شو.

## ۲- دوست محمد خان، ځان امیر المؤمنین اعلان کړ:

سرداردوست محمد خان د نولسمې پېړۍ په دریمه لسیزه کې د څو اړخیزه بحران سره خامخ ؤ چې په هغو کې ډیر سخت او د ده ته خواشینونکی پېښه د پښتنو په سیمه کې د سیکانو نفوذ ؤ.

په ۱۸۳۱ م کې مشهور مبارز سیداحمد بریلوی د خپلو مجاهدو ملګرو سره د سیکانو سره په جنګ کې شهادت ته ورسیدی، درې کاله وروسته شاه شجاع د رنجیت سنګ سره یو ترون لاسلیک کړ چې هغه به په کابل د تخت ګیلو په جنګ کې د ده ته مرسته کوي او په دې پسې دوه کاره دوست محمد خان ته د نویو سر ګردانیو په بیه په سر ورسیدل، یو په همدغه ۱۸۳٤ م کې شاه شجاع پر کندهار حمله وکړه او دوست محمد خان یې مقابلې ته ورغی، څو یې هغه مات کړ او شاه شجاع بیرته په هند کې د انګریز لمنې ته وروتښتیدی او مطابق له دغې پېښې سره رنجیت سنګ او سیکانو پېښور ونیوی او د دوست محمد خان ورور سردار سلطان محمد خان باجوړ ته وتښتید.

دوست محمد خان چې د شاه شجاع تر شړلو وروسته کابل ته راورسیدی، نو د پېښور د راګرځولو او د سیکانو سره مقابلې ته یې ځان جوړ کړ. د ده باید د سیکانو مقابلې ته عام ولس رابللی وای، نو د وخت علماؤ مشوره ورکړه چې ته ځان امیر المؤمنین اعلان کړه چې بیا د جهاد د شرعي

(۱) ادوارد لاسیس پرس: عروج بارکزایي ترجمه پژواک صدقي چاپ کابل ص ۲۸ و ۲۹.
(۲) عبدالحی حبیبی، تاریخ مختصر افغانستان، ج ۲، ص ۱۱۰.

اعلان صلاحیت ورته حاصل شي. دوست محمد خان دا مشوره ومنله او د دغه شرعي لقب د اخیستلو لپاره داسې مراسم پر ځان شول.

د ۱۸۳۵م کال ؤ دوست محمد خا د خپلو یو شمېر معتمدینو سره د بالاحصار ختیځ ته د عیدگاه جومات ته ولاړ (هغه وخت عیدگاه د بگرامیو سره وه). په دې وخت کې میرحاجي د کابل د معروف مبارز عالم میر واعظ شهید زوی چې د علماؤ او روحانیونو مشر ؤ یو د شولو (وریجو) وړی د دوست محمد خان پر لنگی وروتومبځ او په ډېرو ساده مراسمو يې هغه ته د امیرالمؤمنین مقام ورکړ او خطبه پر وویل شوه او په سکه کې يې د امیر لقب هم داسې ځای کړ:

امیر دوست محمد به عزم جنگ و جهاد کمربست و بزد سکه ناصرش باد [۱]

امیر دوست محمد خان د امارت په مراسمو کې د شولو د وړی استعمال د یوه نیک دود په شکل پر ځای شوه، ځکه د احمدشاه ابدالی د انتخاب په وخت کې هم د هغه پر خولی د غنمو وړی تومبل شوي ؤ.

تر دغه انتخاب وروسته امیر دوست محمد له کابله پېښور ته روان شو او هلته د ښمنان په کلی کې د سوات اخند میان عبدالغفور د زرو مریدانو سره ورسره ملگری شو او هلته هم په خطبو کې د دوست محمد خان له نامه سره د امیرالمؤمنین لقب یاد شو او امیر پر له پسې د جهاد اعلانونه کول او خلک ورسره ملگري کېدل او سیکان يې وځپل، خو په ۱۸۳۸ کې یو ځل بیا شاه شجاع د رنجیت سنگ سره د همکاری لاس ورکړ او د افغانانو جهاد يې ناکام کړ، ځو امیر دوست محمدخان هند ته تبعید شو.

## ۳- دوست محمد خان د پېښور د راگرځولو په خاطر د روس تزار ته مراجعه وکړه:

هغه ډېره لویه واقعه چې یوه ډېره خطرناکه فاجعه يې وزیږوله هغه د روس تزار ته د امیر دوست محمد خان مراجعه وه.

امیر دوست محمد خان د سیکانو له خوا د پېښور نیولو سخت پریشانه کړی او حتی لیونی کړی وه، هغه څو وارد د بریتانوی هند مقاماتو ته مراجعه وکړه، خو هغو برنس او څو نور جاسوسان ورته راواستول، اساساً انگریز په دې خوښ ؤ چې پېښور سیکانو نیولی ؤ. نو هند ته د امیر مراجعو هیڅ نتیجه ورنه کړه او په پای کې يې په یوه خطرناکه لویه لاس پوري کړ، غالباً ده به داسې فکر نه کاوه چې دده عمل به ډېر شدید عکس العمل ولري.

---

(۱) احمدعلی کهزاد، رجال و رویداد های تاریخی د کابل چاپ ص ۷۸.

امیر دوست محمد خان داسې یو لیک د روسیې تزار ته ولیکی او ورولیږئ:

«له پخوا زمانو څخه د سدوزیو او بارکزیو د کورنیو په منځ کې عناد او نفاق موجود دی او ورځ په ورځ لا پسې پیاوړی کیږي، د انګلیس دولت له شاه شجاع الملک سره چې د سدوزیو له کورنۍ څخه دی د کابل د سلطنت د نیولو لپاره مرسته کوي، د بلې خوا د انګریز حکومت له رنجیت سنګ سره چې زما سره د جنګ په حال کې دي او غواړي چې پېښور ونیسي دوستانه او صمیمانه روابط ټینګ کړي دي، برخلاف زما او زما له کورنۍ سره ورځ په ورځ مناسبات پرې کوي، ځکه زه تل له سیکانو سره په مجادله کې یم او تر اوسه د افغانستان په لور د هغو د پرمختګونو مخه نیسم. ستاسې د امپراطورۍ حکومت د ایران له دولت سره دوستانه روابط ټینګ کړي دي او هغوی د انګریز په مقابل کې تقویه کوئ، که په همدغه ترتیب د روسیې حکومت د افغانانو سره چې وګړي یې تقریباً شل لکه کورنۍ دی مرسته وکړي، نو ما به خورا ممنون او سپاس ګذاره کړئ، په دې صورت کې به زه او زما کورنۍ او نور قبایل وکولای شي په بیلو بیلو مسایلو کې تاسو ته ګټور واقع شي. البته دا یو مسأله ده چې کولای شی ویې ازمویې او زمونږ په باره کې د امداد په هکله تصمیم ونیسئ. امیر دوست محمد»[1]

په همدغو ورځو کې د انګریز نماینده برنس په کابل کې ؤ هغه امیر له دې اقدام څخه د روسانو پنبه دې خووا ته راخلاصوی وبیراوه، نو دا ؤ چې کله د روسانو دغه سفیر کندهار ته راورسید، امیر خوښ نه شو او د کندهار حکمران ته یې حال ورکړ چې له دغه روس سره هیڅ خبرې ونه کړي او کابل ته یې د راتګ مخه ونیسي، خو دا مهال دا سړی کابل ته راروان شوی ؤ، هغه کابل ته راورسید او امیر مجبور شو چې خبرې ورسره وکړي.[2]

دا سفیر د ۱۸۳٦ په دسمبر کې کابل ته ورسید او د ۱۸۳۷ تر جون پورې په کابل کې ؤ. ده امیر ته د تزار لیک هم ورکړ او د پېښور په راګرځولو کې یې د هغه د مرستې ډاډ هم ورکړ او د کندهار حکمران کهندل خان ته یې هم وعده ورکړې وه چې د ایران سره د اتحاد په صورت کې به هرات هم هغه ته ورکول شي.

خو دا ټولو یې پشتیبانی وعدو سره امیر دوست محمد خان د خپل عمل د اشتباه ته متوجه شوی ؤ، په همدغو ورځو کې د بریتانوی هند د ګورنر جنرال نماینده سرالکساندر برنس په کابل کې ؤ، امیر د روس د نماینده وتیکوویچ سره په خبرو کې پر له پسې د برنس مشوره اخیستله او حتی د تزار لیک یې هم هغه ته وروښووی، امیر د خپل عمل عواقبو ته متوجه ؤ او برنس هم په کلکته کې

---

(۱) فضل ربی پژواک د افغانستان بین المللی روابطو تاریخ. د کابل چاپ، ۲٦ مخ.
(۲) عزیز نعیم، افغانستان مرکز ثقل بازی بزرگ، مقاله. افغانستان آزاد، دریمه ګڼه، ۱۰ مخ.

بریتانوي مقاماتو ته د امیر د صداقت په باب لیکنې وکړې، خو هلته د ګورنر جنرال سکرتر کپتان وید چې د شاه شجاع ملګری ؤ دا لیکنې خنثی او ګورنر جنرال ته یې داسې ورفهموله چې امیر دوست محمد د هندوستان سرحداتو ته د روسیې خطر رانژدې کوي.

د وتیکوویچ ماموریت او سفر یو د شومه فضا پر افغانستان راخپره کړه. انګریز د امیر له دې اقدام څخه چې روسیې ته یې مخه کړې ده سخت وبیرید او پردې یې په جنګی اقدام وکړ چې امیر په شاه شجاع تعویض کړي.

روسانو د ایران په همکاري کوښښ وکړ چې انګریز په هند کې تهدید کړي او ایران په افغاستان کې هرات او کندهار لاس ته وروړي او روسان د انګریز څخه امتیازات واخلي او د غو خبرو ته هغه مهال چې انګریز عکس العمل وکړ امیر دوست محمد خان متوجه شو خو دا نو هغه مهال ؤ چې په اصطلاح اوبه تر ورخ تیرې شوی وې.

دا د روسانو سره د افغانستان د دولت لومړی معامله وه چې سراسر یې منفي نتیجه وکړه، هغه سفیر وتیکوویچ چې کوم اسناد ورسره دوه، د لارې پرر سر په یوه هوټل کې ترور شو او اسناد یې وتښتول شول، دا چې چا دا کار وکړ؟ یې له انګریزانو څخه به نو بل څوک وه؟

## ٤- انګریزانو شاه شجاع په دوست محمد خان تعویض او د مثلث تړون له مخې یې د کابل پر تخت کښیناوه:

د ۱۸۳۷م تر نیمایی وروسته چې د روس نماینده د افغانستان ووت په بریتانوي هند کې لویه غوغا راواوچته شوه چې امیر دوست محمد خان روسان رادعوت کړي دي چې پر هند حمله وکړي، دې غوغا د کلکتې څخه تر لندنه بیا تر کابل پورې غوړونه کښول او د انګریز نماینده برنس چې حقایق یې دلته په کابل کې په سترګو لیدلي وه لیکلي دي چې: «دا ټوله غوغا او هیاهو یوازې ددې لپاره ؤ چې یو قزاق کپتان پر ته له هیڅ راز دبدبې او شوکت څخه د آس پر شا ځان کابل ته رسولی ؤ. »

په هند کې د انګریز ګورنر جنرال لارډ اکلیند چې یو سرټمبه سړی ؤ لکه د فتبال توپ د خپلو همکارانو په پښو کې نغښتی، دده د سکرتر کپتان وید او کابل ته رالیږل شوی سفیر سرالکزاندر برنس ترمنځ سخت رقابت او بدبیني وه، نو هر حال چې به د برنس له خوا د کابل څخه ګورنرجنرال ته استول کیدی کپتان وید به اکلیند ته بل راز معلومات ورکول او ددې کار یو عامل همدا ؤ چې کپتان وید د شاه شجاع سره یو ډول یارانه هم درلوده.

کابل ته د روسي منصبدار راتګ اکلیند سخت وارخطا کړ او لندن ته یې جدی ولیکله چې که

دوست محمد خان په پوبل چا تعویض نه شی، نو لیري نه ده چې د افغانستان څخه دې د هند لمنې ته اور ورولو یږي. برنس چې هر څه کوښښ وکړ فضا سالمیت ته راولی ونشوه ځکه کپتان ویداورته پکه وهله.

بالاخره لندن اکلیند ته اختیار ورکړ او هغه هم خپل سیاسی مشاور مکناټن همکاری ته راوغوښت او هغه یې په (ادینه گر) کې د سیکانو مشر رنجیت سنگ ته ولیږی او هغه د ۱۸۳۸م د می په ۳۱ د رنجیت سنگ سره خبرې وکړې او ورته وې ویل یو وخت تا او شاه شجاع یو تړون سره کړی ؤ چې شاه شجاع د کابل تخت ته ورسیږی او تاسې ته به هم امتیازونه په برخه شي که اوس تاسې هغه تړون تازه کړئ او انگریز هم ورگډ کړی نو آیا دا به د ټولو خواؤ په گټه نه وي؟ وایی رنجیت سنگ مکناټن ته وویل د انگریز وجود په دې تړون کې داسې دی لکه قند چې پر شیدو ور زیات شی[1] دوی به خوښبو توافق ته ورسیدل او د لاهور مشهور تړون چې د مثلث یعنې درې اړخیز په نامه هم یادیږي. د ۱۸۳۸م کال د جولای په ۲۵ په سمله کې د گورنر جنرال مهاراجه رنجیت سنگ او شاه شجاع الملک تر منځ لاسلیک شو دا تړون ۱۸ مادې درلودې چې په هغه کې شاه شجاع ته د کابل د تخت سپارلو وعده ورکول شوی وه او په مقابل کې شاه شجاع د خیبر څخه او د بولان تر درې وربورته د ټولو افغاني سیمو څخه سیکانو ته ورتیر شو، همدا رنگه د کاله دوه لکه روپۍ او پنځه زره لښکر باج یې هم پر ځان ومانه. دا تعهد یې هم وکړ چې دی به غیر د انگریز او سیک دولت څخه بل د هیچا سره اړیکې نه قایموی. ده وعده وکړه چې په هرات کې به خپل وراره مقرروي او د هرات په چارو کې به هیڅ مداخله نه کوی.

د دې تړون ۱۸ ماده پر دې ټکی ولاړه ده چې که پر انگریز یا سیک حمله وشي شاه شجاع به مرسته کوي او دوی به شاه شجاع حمایه کوی.

په دې بې ننگی شاه شجاع تړون لاسیک کړ او بیا یې نو د افغانستان تکل وکړ. شاه شجاع د دغسې تنزل دورې پخوا هم تیرې کړې وې، په ۱۸۳۲ کې چې هم د سیکانو په مرسته پر افغانستان راتلی« د بریتانوی هند د گورنر جنرال ویلیام بنتک ته یې د خپل شپږ میاشتنی معاش چې پیشه کې ورته اجراء شی عریضه ورکړې وه، خو هغه د څلورو میاشتو د اجرا امر ورکړی ؤ »[2]

مطلب دا چې شاه شجاع د قدرت لیوني سړی ؤ او د خپل نامه یا د افغانستان حیثیت ته یې نه کتل.

د مثلث تړون تر لاسلیک وروسته د ۱۸۳۸ کال د اکتوبر په لسمه انگریزانو د سملې اعلامیه

---

(۱) احمدعلی کهزاد، رجال و رویداد های تاریخی، چاپ کابل - ۸٤مخ.

(۲) عزیز نعیم: افغانستان مرکز ثقل بازی بزرگ، مقاله در ص ۱۲ شماره سوم اخبار آزاد افغانستان، چاپ پیښور.

خبرد کړ د چې په هغه کې یې امیر دوست محمد خان غندلی او شاه شجاع یې د افغانستان د خلکو او انګریز له پاره یو مهم شخص ښوولی ؤ.

په اعلامیه کې دوست محمد خان په دې متهم شوی دی چې د ایران ګټې ساتي او انګریز ته اعتنا نه کوی، د روسانو نوم په اعلامیه کې نه اخلی، خو پر امیر دوست محمد خان دا تور تړي چې هغه د انګریز دښمنان تحریکوي.

انګریز چې واقعاً توطیې یې جوړولې وایی دا هم یو تور ؤ چې ویل یې امیر تزار ته لیک لیکلی ؤ. قاضی عطاء الله خان د پښتنو په تاریخ کې په مستنده توګه دا خبره ردوی چې امیر دوست محمد خان تزار ته لیک لیږلی ؤ.

خو په هر صورت د سملې تر اعلامیې وروسته مکناټن او برنس او د انګریز لښکر د شاه شجاع سره راروان شو د ۱۸۳۹ په اپریل کې کندهار ته ورسید، هلته یو بل ترون په شاه شجاع لاسلیک شو د کندهار څخه تر کابله اولس د انګریز لښکرو سره پاشلې جګړې وکړې خو کابل ته ورسیدل او د ۱۸۳۹ د اګست په ۱۷ مکناټن دا شړل شوی او منفور باچا د کابل پر تخت کښیناوه او امیر دوست محمد خان بخارا ته وتښتیدی.

دا د یوه ډیر لوی او خونړي طوفان پیل ؤ چې افغانانو په خپلو وینو بدرګه کړ.

## ٥- د ملت عکس العمل (د افغان او انګریز لومړی جګړه):

د انګریز هغه لښکر چې شاه شجاع یې افغانستان (کابل) ته راورساوه مجموعاً (٥٤١٥٠) نفرو ته رسیدی چې (١٢٠٠٠) د لوازمو کارکوونکی یې درلودل او سامانونه یې پر (٣٠٠٠٠) بودګانو رانقلیدل. دا یو لوی لښکر و چې زموږ خلکو تر اوسه په دغو شمیر خارجي عسکر په خپله خاوره کې نه و لیدلی.

دغه لښکر شاه شجاع چې تر شل کاله زیات د فرنګیانو سره اوسیدلی ؤ کابل ته راورساوه او هغه د خپلې کورنی (٨٥٠) نارینه ښځې ماشومان او نوکران په بالاحصار کې ځای پر ځای کړل او د انګریز شکر یې ویوست.

د د ه د دربار او حتی د کورنی د چارو واګې انګریزانو په لاس کې ونیولې، هر څوک چې به د ده ته ورتلل، نو لومړی به یو انګریز مؤظف کتل او بیا به یې که لازمه ولیدله نو اجازه به یې ورکوله.

د کار ټوله اختیار د مکناټن په لاس کې ؤ او د ښار ټوله غونډیانی او د غرو لمنې د انګریز په لښکرو ډکې وې. د اولس مشران په مکرره توګه د انګریز افسرانو له خوا تحقیریدل او تهدیدل.

مکناټن انګریز د شاه شجاع ته ولیکل چې امین الله خان لوګری، عبدالله خان اڅکزی او د

امیر دوست محمد خان وراره سردار شمس الدین خان و هند ته تبعید کړه، شاه شجاع هم هغوی راوغوښتل او د مکناټن غوښتنه یې ورته وویله، دوی ځواب ورکړ چې موږ مکناټن نه پیژنو او د انګریز امر نه منو، دا موږ ؤ چې تاته مو د راتګ موافقه درکړه، ولې تا انګریز پر موږ حاکم کړ، پس ته مسؤل یې، وایي شاه شجاع آه وکیښ وې ویل: زه د انګریز په لاس کې یو بندي یم، هیڅ نشم کولای، د د خپله توره دوی ته کیښوله او وې ویل دا د اسلام توره ده واخلئ هر څوک چې یې ښه چلولی شئ هغه ته یې ورکړئ، زه ستاسې سره یم ،خو حال به نه وایاست. دا مشران چې راغله ملامومن، ګل محمد خان، عبدالعزیز خان، محمد شاه خان، سکندرخان او عبدالسلام خان یې خبر کړل[1] او په دې توګه د قیام ترتیبات ونیول شول.

په همدغه وخت کې امیر دوست محمد خان چې بخارا ته فراره شوی ؤ افغانستان ته داخل شو خو په ایبک کې مات شو او دې ته یې ترجیح ورکړه چې ځان انګریز ته وسپاري.

امیر دوست محمد خان د ۱۸٤۰ م کال په نوامبر کې په ناپیژندلو کالو کې کابل ته راغی او په بالاحصار کې یې ځان مکناټن ته وسپاری او هغه هم سمدستي د کورنۍ سره کلکتې ته واستاوه.

۱۸٤۱ م کال چې داخل شو د یوې خوا د انګریز فشار زیات شو، له بلې خوا د ملت عکس العمل په شدت راپورته شو، په لومړی سر کې یوې او بلې خواته لوی او کوچنی چاپې او داړې لویدې، څو د ۱۸٤۱ کال په نوامبر کې د انګریز یو غنډ عسکر په کوهستان کې نیست او نابود شول او په دې وخت کې معروف مبارز میر مسجدی خان راپورته شوی ؤ.

په همدغه وخت کې په کابل کې د نایب امین الله خان او عبدالله خان اڅکزي په رهبری یو قیام رااوچت شو چې په هغه کې د انګریز لوی سیاسی نماینده الکساندر برنس ووژل شو.

د غه قیامونه سره وتړل شول او د امیر دوست محمد خان ځوان زوی محمد اکبر خان د هغوی رهبري کوله، څو انګریزان په تنګ شول او په یوه غونډه کې چې د انګریز سفیر د محمد اکبرخان (وزیر) سره جوړه کړې وه د دغه کال په دسمبر کې پخپله مکناټن ووژل شو.

۱۸٤۲ م کال د انګریز لپاره دیر شوم کال ؤ، افغانانو د یوه قرارداد په ترڅ کې چې د ۱۸٤۱ کال د دسمبر په ۱۱ د طرفینو له خوا لاسلیک شوی ؤ، انګریزانو ته موقع ورکړه چې ووځی، خو د انګریز رهبرانو تفتین او تعلل کاوه، نو ځکه د نوي ۱۸٤۲ کال په جنوري کې اخطار ورکول شو چې ډیر زر کابل خوشې کړې.

د جنوری د ٦ څخه تر ۱۳ پورې د انګریز ۱۷ زره اردو له کابله جلال آباد ته وخوځیدله خو له د غه ستر بهیر څخه صرف یو د اردو ډاکټر د برایدن په نامه ژوبل او ناروغه جلال آباد ته ورسید، نور ټوله له یو مخیزه تپ او تباه شول.

---

(۱) میرغلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، ص ٥٥٤.

دا د افغان او انگریز لومړی جنګ ؤ چې انگریز ته یې لویه خساره تکیه کړه، په متفرقو جګړو او د کابل جلال آباد د لارې د وژل شوی لښکرو په شمول د انگریز « ۳۰۰۰۰ » کسه قتل شول او د پیسو خساره یې دیرش کروړه هندي روپۍ وې، د همدغې پېښې څخه لارډ اکلېنډ گورنر جنرال برطرف او حتی په لندن کې حکومت ټکاني شو.

انگریزانو د انتقام لپاره د جنرال پالک تر قوماندانۍ لاندې یو لښکر رااستاوه خو هغه هم په وارخطایي راغی او په چټکۍ ووت صرف د یو تبلیغ لپاره دا خبره برابره کړه چې انگریز خپل غچ واخیست. په کابل کې عصبیت په څپو ؤ، شاه شجاع به هره ورځ په بالاحصار کې د خپل قصر له کنگرو څخه ښار ته کتل او هرې خواته به یې د افغانانو عصبي لښکرې لیدې، دی چې به د هر چا سره مخامخ کیدی نو ورته ژړل به یې او دا خبره یې تکیه کلام گرځیدلې وه چې « سرکار بی گناه است! »

په پای کې د ۱۸٤۲ کال د اپریل په دوهمه ورځ سبا د وخته چې دا د انگریز راوستلی باچا په خپله گاډۍ کې په تیښته د بالاحصار څخه د جلال آباد خواته روان ؤ په سیاسنگ کې د یوې زړې ژرندې سره راگیر شو او د سردار زمان خان زوی شجاع الدوله خان په ټوپک فیرونه پر وکړل او مړ یې کړ، وایي په دغه وخت کې یې هم نارې وهلې چې « سرکار بي گناه است! »

د هند څخه د اکلېنډ تر وتلو وروسته لارډ الن برو د هندوستان لپاره گورنر جنرال شو او هغه بیر ته د امیر دوست محمد خان د راتگ زمینه برابره کړه.

د دغه وخت څخه چې شاه شجاع ووژل شو، بیا د دوست محمد خان تر راتگ پورې یوه ډراماتیکه صحنه په وطن کې جوړه شوې وه. کله چې شاه شجاع ووژل شو د کابل د هغه وخت روحاني شخصیت میرحاجی راغی او د ښار په منځ کې یې نارې کړل لوی لارډ (باچا) د کوچنی لارډ (مکناټن) سره یو ځای شو.

نواب زمان خان د موقع څخه په استفاده غوښتل ځان باچا کړي، خو نایب امین الله خان او نورو ملي مشرانو د وضع تر معلومولو په زیاته بیا د وزیر اکبر خان تر راتگ پورې د نواب زمان خان مخه په دې ونیوله چې ورته وې ویل مصلحتاً به د وضع د آرامۍ لپاره د شاه شجاع زوی فتح جنگ باچا کړو. میرحاجی چې د شاه شجاع د کورنۍ مخالف ؤ، د دې خبرې مخالفت یې وکړ او وضع و جنگ ته ورسیده، فتح جنگ چې دا بهتره بللې وه چې د انگریز لمنې ته ځان وغورزوي خپله ښځه وایستله او دې پسې انگریزانو د شاه شجاع پر بل زوی شاهپور زور ولگاوه او هغه دا غوښتنه ومنله او کله چې یې په کار پیل کاوه د خلکو په غونډه کې یې په ډېره سپینې سترگۍ وویل: « که څه هم د دې ولایت (افغانستان) پر خلکو اعتماد په کار نه دی، خو پر ما د انگریز د دولت د مشرانو خاطر

ډیر گران دی او دا کار د هغو د غوښتنې په خاطر او د خپل موروثي استحقاق په وجه قبلوم». (۱)

جنرال پالک چې هول زده کابل ته راغلی اول یې د چارچتی بازار ته اور واچاوه چې هلته د مکناټن مړی په تحقیر ځړول شوی ؤ، بیا د استالف کلي وسوځی چې هلته ملي مبارزین اوسېدلي وه. بیا یې په غزنی کې د سومنات دروازه چې غزنوی محمود راوړي وه له ځان سره یووړه او په چټکی له افغانستانه ووت.

په هند کې لارډالن برو گورنر جنرال، جنرال پالک ته ډیر درانه مراسم جوړ کړي وه او هلته یې په افغانستان کې د خپلې ترخې ماتې د پټولو په خاطر په بوه وینا کې وویل: د هندوستان خلکو! زموږ فاتح عسکرو پس له څو کاله دا دی د سومنات دروازه له افغانستانه راوړه او اوس یې تاسو ته سپارو باید زموږ اتحاد دایمي شي.»

دا جنگ چې سراسر د انگریز په رنگ زردی تمام شو، په هند کې یې نفوذ او حیثیت ته سخت زیان ورسیدی، وایی چې په هند کې د ۱۸۵۷ قیام چې نژدې ؤ د انگریز پښه وښویږی یو علت یې په افغانستان په جنگ کې ماتې وه.

په دې کې شک نشته چې په دې جنگ کې به افغانستان ته زیات زیان رسیدلی وی، خو د انگریز زیان هم مالي ؤ او هم د حیثیت سوال ؤ چې په پنځو قارو کې یې نوم بد او گریوان څیرې شو. بالاخره دې ته ورسیدل چې هم هغه پخوانی امیر چې دوی بندی ساتلی ؤ بیرته امارت ته راواستوی.

---

(۱) فیض محمد کاتب، سراج التواریخ. ۱۷۸مخ.

# اووم فصل

## د دوست محمد خان د امارت دوهم دور

### ۱- انگریز په کلکته کې د دوست محمد یاغی بنی وکښلی بیا یې کابل ته راواستوی:

وروسته تر هغه چې د لارډ اکلینډ نظامی پروژه او سیاست ناکامه او د دغې ناکامی په وجه اکلینډ برطرف او په عوض کې یې لارډ الن برو هند ته راغی، نو هغه بله هیڅ چاره ونه لیده، بې له دې چې بیر ته دوست محمد خان کابل ته راولیږی او د ده په وسیله خپل اسیران راخلاص کړي او د انگریز د مابعد سیاست لپاره په همدغه شخصیت خپله لاره هواره کړي.

خو د تجربې له مخې یې پلان داسې طرح کړ چې دوست محمد خان کابل ته راولیږي باید یاغی پرونه یې ایستل شوي وي او عقلاً یې دا درک کړي وي چې که د انگریز سره مخالفت وکړي، نو ناپیژندلی سرگردانی به ورته متوجه شي. د هغه وخت څخه چې دوست محمد له خپلې کورنی سره کلکتې ته ولاړئ، نو هلته د انگریزانو له خوا په ښکاره د تفریح په شکل خو په واقعیت کې د امیر د ډارولو لپاره د ده ته وخت ناوخته لوی او درانه عسکری تطبیقات ورښکاره کیدل د نظامی تسلیحاتو جوړولو فابریکو او د نظامی منصبدارانو د روزنې مرکزونو ته بیول کیدی او هلته د انگریزی طنطنه ورښوول کیده، دا ټول ده دې لپاره چې کله دې وطن ته ولاړ شي هلته یې دا حقیقت زړه ته ور تیر شی چې د انگریز سره نه کیږي.

د دوست محمد خان سره یې زوی شیرعلی (وروسته امیر) هم په دې تبعید کې ملګری ؤ، دغو نندارو په رښتیا پر امیر د واهمې اغیزه وکړه، خو ځوان شیرعلی یې عصبي کړ او د ډار پر ځای یې د انګریز څخه زړه له نفرت ډک شو، لکه چې د ژوند تر پایه یې له انګریز څخه بد وړل.

په ۱۸٤۲ کې چې د انګریز بېړۍ په اصطلاح په کابل کې غرقه شوه او هم یې خلک مړه شوه هم لوی پولې تاوان وررسید او هم یې نوم او عزت تباه شو، نو نوی ګورنر جنرال، دوست محمد خان کلکتې ته راوغوښت، امیر چې په هېڅ خبر نه ؤ نو په ملاقات کې ګورنر جنرال ناڅاپي ورته وویل چې شرایطو دا ضرورت منځته راوړی چې ته بیا کابل ته د امیر په توګه ولاړ شې، خو شرط یې دا دی چې د انګریز د دوست په توګه، نه د دښمن! د امیر خوله خلاصه پاته شوه، خو الن برو پسې زیاته کړه چې په جنګ کې د نورو وینو توېولو د مخنیوی په خاطر به ته خپل زوی محمد اکبر خان ته ولیکې چې د نور جنګ څخه لاس واخلي او د انګریز بندیان ورخوشې کړي، امیر بې له دې چې فکر وکړي لیک یې ولیکی او د نښانې په توګه یې خپلې (عینکې او د نصوارو قطی) اکبر خان ته راولېږله.

دا لیک چې اکبرخان ته ورسیدی هغه حیران شو ځکه د هغه سره ټول ملي رهبران ملګري وو او د بندیانو په بدل کې یې ډېر غټ امتیازات او تعهدات اخیستلای شوای نو د امیر د دغه امر عملي کیدل معطل شول.

انګریزان وارخطا شول وروسته یې په تهدید او ګواښونو لاس پورې کړ د ګورنر جنرال د قوله وزیر اکبرخان ته وویل شول چې که د دوست محمد خان امر ونه مني، نو انګریز به امیر دوست محمدخان د خپلې کورنۍ سره چې په هغو کې د اکبرخان ښځه هم شامل ده لندن ته ولېږي او بیا به ګیله نه وي.

د دغه کال په دوران کې ډېرې واقعې منځته راغلې، شاه شجاع ووژل شو، انګریز جنرال پالک او یو څه لښکری راولیږلی او هغو هم په چټکی خپلې پښې له افغانستانه سپکې کړې او په دې پسې ۱۸٤۳ کال راورسیدی چې انګریز د دوست محمد خان د رالیږلو تصمیم عملي کړ.

د راتګ د غه صحنه سراج التواریخ داسې راوړی ده: «د ۱۲۵۸ هجری د روژې میاشت چې د ۱۸٤۲ میلادی سره برابره ده امیر کبیر د خپلې کورنی سره د غرو په تفریح ځای کې ؤ د انګریز افسران او صاحب منصبان چې دلته یې اقامت درلود د امیر کبیر او ګورنر جنرال په ترون خبر وه، امیر کبیر ته راغلل او په احترام یې توپې له سره ایسته کړی او امیر ته یې مبارکی وویله چې کابل ته ځی، بیا یې ورته وویل چې شپه هم دلته تیروی او که کلکتې ته روانیږی، امیر سمدستي راروان شو او په کلکته کې یې د ګورنر جنرال سره ملاقات وکړ، ګورنر جنرال یو جلد تفسیر حسیني چې زرغون

پوښ یې و ، امیر ته هدیه کړ بیا یې دوه پیلان او اسان چې د سرو زرو براق یې وه امیر ته وړاندې کړل او امیر د افغانستان پر خوا راوخوځېدی. »[۱]

امیر په داسې وخت کې کابل ته راورسید چې دده دوه رقیبان یو رنجیت سنگ او بل شاه شجاع له دې نړۍ څخه کوچ کړی ؤ.

امیر ته په کابل کې تود هرکلی وویل شو ، ولې امیر هغه پخوانی د زړه ډک امیر نه ؤ ، بلکې هر څه ته یې په شک کتل. دی لوی مبارز امین الله خان لوگری بندی کړ او د وزیر اکبر خان صلاحیتونه یې هم تر ډېره حده ور محدود کړه ، هغه کسا چې د انگریزانو په وژلو کې یې برخه زیاته وه هغوی یې یا بندیان کړل یا یې له میدانه گوښه کړل.

کابل ته د امیر د راتلو سره کندهاری سرداران چې ایران ته فراره شوی وو هم کندهار ته ورسیدل او دا هم امیر ته د لوی تشویش باعث شول ، په خاصه توگه چې انگریزانو د امیر څخه تعهد اخیستی ؤ چې په کندهار او هرات به کار نه لري. امیر ته په کورنۍ کې هم جنجالونه وه او په همدغه گیر ودار کې دده زړور زوی وزیر اکبر خان په جلال آباد کې ناروغه او مړ شو او جنازې یې په مزار شریف کې خاورو ته وسپارل شوه او داسې افواهات خپاره وه چې امیر انگریز ته وعده ورکړې وه چې اکبرخان به له منځه وړي او د امیر په لاربښوونه په اکبرخان د الماس پوډر خوړل شوي دي ، دا آوازې وې حقیقت نه دی معلوم خو امیر کار ته اوږه ورکړه .

## ۲ - د پاینده خان د زامنو ترمنځ د سیالیو د جگړو وروستی دور :

د پاینده خان په ترشلو زیاتو زامنو کې مشر فتح خان ؤ چې زړورتیا او عقل و تدبیر کې یې نوم درلود ، دده نور وروڼه تسلیم وو او دده هم دخپل قدرت او صلاحیت په ساحه کې هغوی پر لویو عهدو مقرر کړی وو ، هغه مهال چې شاه محمود سدوزی او د هغه زوی کامران دا د لوی نفوذ خاوند سردار او وزیر یعنی فتح خان ړوند او بیا قتل کړ ، نو د غچ لپاره یې د کشمیر څخه تر خراسانه د آمو څخه تر سند پورې وروڼه راپورته شول او په دغه لوی فتور کې هم د سدوزو څخه پاچهی بارکزو (محمدزو ) ته نقل شوه او هم وطن وران ویجاړ شو.

د فتح خان تر مرگ وروسته د سردار پاینده خان زامن په خپلو کې هم د قدرت اخیستلو په جگړه کې راښکیل شول. دا جگړې تر هغه وخته روانې وې چې امیر دوست محمد د امیر المؤمنین په توگه قدرت ترلاسه کړ او بیا په شاه شجاع تعویض او په لودهیانه کې د انگریز بندی شو . ددغو جگړو له کیف و کان سره دلته غرض نه لرو ، د اختلاف او سرگردانۍ دوهمه مرحله له هغه وخته

---

(۱) سراج التواریخ . ۱۹۰مخ.

راپیل کیږي چې دوست محمد خان د انګریز په اجازه کابل ته راغی او دوهمه دوره یا چهې یې پیل کړه او دا نو سنه ۱۸٤۳ وه.

د امیر دوست محمد خان یوه غټه بدبختي دا وه چې شل ورونه او د ځوارلس ماندینو څخه یې ۵۲ زامن او لونې درلودې او ددې لښکر اداره په خپل ذات کې یو ډیر سخت کار ؤ.

خو امیر چې دا ځل د هنده راغی او اداره یې پیل کړه، نو هم یې ورونیو او نورو خپلوانو ته یې چنداني پاملرنه و نه کړه او خپل زامن یې پر لویو عهدو او کارونو مقرر کړل.

له دې جملې څخه یې سردار محمد اکرم خان د هزاره جات حکمران، سردار محمد افضل خان د کتیواز او زرمت حاکم، سردار شیرعلی خان د کرمې حاکم، سردار محمد اعظم خان د لوګر حاکم، سردار غلام حیدر خان د غزني حاکم، سردار محمد امین خان د کوهستان حاکم، سردار سیف الله خان د ګرشک حاکم، سردار فتح خان (لمسی د وزیر فتح خان زوی) د کلات حاکم مقرر کړل.

وروسته یې په دغو کې هم تغییر او تبدیل راوست او بل زوی سردار محمد اسلم خان یې د کوکچې حاکم او سردار محمد زمان خان یې د سرپل حاکم کړ.

کندهار او هرات په اول کې دده سره نه وه، خو وروسته یې هغه هم ونیول او خپلو زامنو سردار محمد امین خان، سردار غلام حیدر خان او سردار شیرعلی خان ته یې وسپارل.

همدارنګه نظامي قطعات یې هم د زامنو وزیر اکبر خان، سردار شیرعلي خان، سردار محمد امین خان او سردار محمد شریف خان ته وسپارل.

کله چې هم امیر ډاډه شو، خو ورونه یې سخت عصبي شول او پخپله د زامنو ترمنځ یې هم نقاضتونه راپورته شول.

کله چې دوست محمد خان له هنده کابل ته راغی نو کندهاري سرداران چې د شاه شجاع په راتګ په خارج او داخل کې آواره شوي وه کندهار ته راتول شول، خو هم د امیر د خویشخوریو څخه شکایت درلود او هم یې خپل ترمنځ رقابتونه جاري ساتل. دې سردارانو د قلات څخه تر ګرشک پورې او د جنوب خوا ته یې د سند تر غاړو او د افغانستان ټول جنوب لویدیځه حوزه او په شمال کې تر ارزګان پورې سیمې یې په لاس کې وې او د شکارپور حکمراني هم په دوی اړه درلوده.

په دغو ورونو کې کهندل خان د امیر دوست محمد خان سره رقابت کاوه، لکه چې یو ځل یې په کلات کې جنګ هم ورسره وکړ چې د بل ورور نواب جبار خان په بګاښ سره خلاص شول. خو څرنګه چې دا ورونه زاړه شوي وو، نو د مرګ ور ته مخه شوه، نواب جبار خان په ۱۸۵۳م، کهندل خان ۱۸۵٤م، مهردل خان هم په دغه ۱۸۵٤ کې مړه شول.

تر دغو مرګونو وروسته ددغو سردارانو زامنو خپل ترمنځ صحنه توده کړه، د کهندل خان زوی

محمد صدیق خان د خپل تره رحمدل خان سره د کندهار پر حکمرانی په جنګ شو او په دې پسې د مهردل خان زوی خوشدل خان د کهندل خان زوی سلطان علی سره په جنګ شول، خو د پردل خان زوی میرافضل خان، امیر دوست محمد خان ته خبر ورکړ چې دغه فتور ته خاتمه ورکړي او هغه هم تېول وشړل او خپل زوی شیرعلي خان یې هلته حکمران کړ او په دې توګه یې د کندهار جنجال پای ته ورساوه.

اوس نو امیر د هرات تکل وکړ، د دوست محمد خان د مشرورور سردار محمد عظیم خان زوی سلطان احمد خان چې امیر خپله لور هم ورکړې وه، ورته یاغی شو. دا ـ وزیر اکبر خان د یارانو څخه ؤ، د انګریز سرسخته دښمن ؤ خو کله چې دوست محمد خان د هنده کابل ته راغی، نو هغه کسان چې د انګریز په قتل و قتال کې یې برخه اخیستی وه سخت وځپل شول او په دې جمله کې یې سلطان احمد خان هم نظر انداز کړ، سلطان احمدخان په ایران کې ناصرالدین شاد ته ورغی او هغه په خپل سر د هرات والي کړ او دغه مبارز دومره ټیټ شو چې په هرات کې یې پر ناصرالدین شاه خطبه وویله او سکه یې هم د هغه په نامه چاپ کړه.

امیر دوست محمد دد ته هم عصبي ؤ، څو په اخیر کې پر هرات ورغی او دهلته یې مرګ ته هر کلی ووایه.

د دغې کورنۍ بل سردار د محمد عظیم خان زوی حبیب اللّه خان ؤ چې څو ورځې یې د کابل حکمرانی هم په لاس کې واخیستله، دا یو لیونی عیاش ؤ چې دوست محمد خان یې سخت زهیر کړ. دغه لیونی سردار وروسته خپله ټوله کورنۍ ښځه لونې زامن، روپۍ او ثروت په اباسیند کې غرق کړل په اخیر کې یې ځان پسې وروغورځاوه، څو هلته پسې ورک شو.

امیر دوست محمد خان په دوهمه دوره پاچاهی کې د ورونو او وریرونو سره ډېرې سرګردانه ورځې تیرې کړې، خو دده په مړینه د سردار پاینده خان د زامنو جنجال پای ته ورسید، ولې پخپله د امیر د زامنو له خوا د داخلي جګړې بله صحنه رانوې شوه.

## ۳- د هرات مسأله:

د افغانستان په معاصر تاریخ کې د هرات مسأله یو ډېر پر له پیچلی بحث احتوا کوی. دا مسأله چې د ۱۸۱۲م څخه را پیل شوې وه، په ۱۸۵۷ کې مطلق پای ته ورسیده. د دیپلوماتیکي پلو د دې مسألې یو پراخه ساحه احتوا کړې وه چې په هغه کې کابل، تهران، لندن، سنت پترسبرګ، ډهلی او حتی پاریس پکښې رانښکیل وه.

تقریباً پنځه څلویښت کاله دد غو مرکزونو د سیاسی مغزو خاوندان پر دې مسأله مصروف وو

او د معروفو کسانو څخه کامران میرزا د شاه محمود سدوزي زوی، وزیر یار محمد خان، امیردوست محمد خان د یزدانیلي او کلادستون د انګریز صدراعظمان، پالمرستون د انګریز خارجه وزیر پاتنجر انګریز په هرات کې د انګریز جاسوس، د روسي تزار او زعما، فتح علي شاه، محمد شاه، ناصرالدین شاه قاجار په نوبت د ایران پاچهان، دریم ناپلیون د فرانسې جمهور رئیس، مکینل په ایران کې د انګلیس سفیر، سیمونیچ په تهران کې د روس سفیر دد غې آسیایي مسألې د سیاسي او نظامي صحنې لوبغاړي ګڼل کیږي.

واقعه داسې را شروع کیږي چې روسانو ایران تهدید کړ او په ۱۸۱۲ م کې یې د ګلستان تړون په لاسلیک کړ چې د هغه په اثر په ګرجستان، دربند، باکو، شیروان، ګنجه قره باغ یعنی په آذربایجان او ارمنستان کې یې نفوذ له لاسه ورکړ.

په دې پسې په ۱۸۲۸ م کې روسیې دوهم تړون د ترکمان چای په نامه په ایران لاسلیک کړ چې د هغه په اثر یې نخجوان له لاسه ووت، پنځه ملیونه روپۍ غرامت پر واوښت، قنسلی قضاوت او تجارتی امتیازاتو یې په روسیه پورې تعلق ونیوی یعنی سیاسی او اقتصادي خپلواکي یې نقض شوه.

په دې توګه ایران د روسیې د نفوذ په ساحه کې واقع شو او دا دواړه تړونونه د فتح علی شاه قاجار د پاچهۍ په دوران کې وشوه.

روسیې چې په قفقاز کې پښې ټینګې کړې وې او مرکزی آسیا یې په خپلو لاسو کې لیده او ایران یې د امر تابع ؤ، نو یو ځل بیا د هند د نیولو مینه ورته پیدا شوه.

هرات چې د هندوستان د دروازې حکم لري، نو روسیې ایران دې ته تشویق کړ چې پر هرات حمله وکړي او داسې یې پټیلي وه چې کله ایران هرات ونیسی، نو له هغه ځایه پر هندوستان په اسانی سره حمله کیدای شي. حتی روسی ستراتیژستانو همدغه نظر تائیداوه. چخاچوف ویلي وو چې یو قول اردو له استرآباد څخه پر هرات ورپورته شي، نو د سترګو په رپ کې به یې ونیسي او له دغه ځایه فقط د یرش زریز لبنکر د کندهار او دیره اسمعیل خان پر لار پر لاهور ورشي نو ر د انګریز مقاومت ختمیږي او هندوستان به زموږ شی، خو محافظه کارو سیاستمدارانو به ویل چې نه دا کار باید د ایران پر لاس وشي. روسانو ایرانیانو ته سره او زرغونه باغونه بربښولي وو او څرنګه چې دربار سخت رشوت خور ؤ، نو په رشوتونو او سوغاتونو یې و دې ته تیار کړ د چې پر هرات حمله وکړي.

په ۱۸۳۸ م کې محمد شاه قاجار پر هرات د حملې لپاره تیاره شوه خو مخ کې تر دې چې هغه حرکت وکړي په ایران کې انګریز سفیر مکنیل یو مفصل راپور بریتانوي هند ته واستاوه چې روس،

ایران و دې ته تیار کړی دی چې پر هرات حمله وکړي، له دې سره په لندن کې د انګریز سیاسي مرکزونه ټول په حرکت کې شول. که څه هم انګریزانو تر دې پخوا خپل یو جاسوس پاتنجر د ملایانو په کالو کې هرات ته لیږلی ؤ چې هلته د ښار د جومات امام ؤ او هغه هم د وضع احوال ورکړی ؤ.

محمد شاه قاجار د یوې درنې قوې سره پر بادغیس حمله وکړه، هغه یې ونیوی پر هرات راغی او د ښار د مصلاؤ سره یې لښکر ځای پر ځای کړ، ددې خوا کامران د ښار دروازې وتړلې. ددغې ماجرا یوه ډراماتیکه صحنه داوه چې کله د ایران فشار زیات شو کامران او یار محمد خان غوښتل د ایران خوا ته ورشي او تسلیم شي، چې په دغه وخت کې پاتنجر انګریز چې د ملایانو کالي یې اغوستي وو هغه یې وکنیل او دریشي یې وکړه او کامران ته ورغی، هغه په حیرت ورته کتل، ده ورته وویل په تعجب مه ګوره، زه انګریز یم وظیفه پرځای کوم، تاته وایم چې د ایران خوا ته ورنشي، موږ انګریزان تا کامیابوو، دا دی سبا د کلاد سره د ایران لښکر ته وګوره هلته به درې واره سپین بیرغ پورته شي بیا به ځای پر ځای ودریږي، که همدغسې وشوه نو پوه شه چې د ایران باچا زموږ په لاس کې دی.

سبا همدغسې وشوه کامران چې ولیدل خپل قول یې مات کړ او محمد شاه ته یې خبر ورکړ چې نه تسلیمیږي او هغه هم محاصره سخته کړه.[۱]

وایی پاتنجر د خپل یوه ایجنټ په وسیله د ایران په لښکر کې د انګریز وزیر مختار مکنیل ته چې له دغه لښکر سره راغلی ؤ خبر ورکړ چې د بیرغ صحنه جوړه کړي.

څرنګه چې محمد شاه خیره سری کوله، انګریز په یوه شدید تهدید لاس پورې کړ او د عمان له سمندر څخه یې د خارک ټاپو تهدید کړ او له دې سره ایران ته واهمه پیدا شوه، څو محمد شاه خپل قوتونه له هراته لرې کړل.

د ۱۸٤۷ څخه وروسته چې ناصرالدین شاه د ایران باچا شو، یو ځل بیا د هرات مینه ور ولاړه شوه. د امیر کبیر د صدارت په وخت کې هغه ناصرالدین شاه د مسایلو عواقبو ته متوجه کاوه څو د هغه تر قتل وروسته بیا هم اعتماد الدوله میرزا آقا خان نوري چې د انګریز سړی، یعنی په اصطلاح اینګلوفیل ؤ بیا یې هم شاه د هرات په مسأله کې احتیاط ته تشویقاوه. میرزاحسین خان سپه سالار صدراعظم په دې پوهیدی چې انګریزان له دې څخه سخت په واهمه کې وو چې روسانو مرود نیولې او پر هرات ایران تحریکوی او په دې توګه هند ته سخت خطر متوجه دی. نو دا د ناصرالدین شاه په صحنه کې د هرات په رابطه په لندن کې د ایران سفیر ناظم الدوله ملکم خان په پاریس کې د ایران سفیر امین الدوله (امین الملک) خیله سپه سالار او میرزا آقا خان نوری فعال عناصر وه.

---

(۱) دا د متن ترجمه په اختیار او آزاده توګه د افغان نامې د دوهم جلد د ۱۳۳ مخ څخه اخیستل شوی ده.

په همدې وخت کې چې د روس او انګریز سیاست له یوې خوا په ټکر کې وه، د بلې خوا د ایران حرص ځپې وهلی، خو ډېر بده پېښه دا وه چې افغاني سرداران او د سدوزو بقایا او د معروف شخصیت وزیر یار محمد خان زوی سعید محمد خان ټول څو مغزی د ایران په خدمت کې فعال وه او هر یوه چې په هرات لاس وموند نو خطبه به یې د ایران پر شاه او سکه به یې هم د هغه پر نامه وهله، آخرین سړی د امیر دوست محمد ورارد او زوم سردار سلطان احمد خان سرکار ؤ چې د ایران تابعیت یې قبول کړی ؤ، ولې انګریز د خپلو ګټو په خاطر ایران ته دا موقع او اجازه نه ورکوله چې پر هرات قبضه وکړي، ځکه هغوی پوهېدل چې ایران د روسیې ګوډاګی دی او که هرات هم قبضه کړي، نو ژر به یې روسیې ته وسپاري.

د هرات د شخړې وروستی پرده نو دا وه چې د فرانسې د امپراطور دریم ناپلیون په ابتکار په پاریس کې د انګریز او ایران ترمنځ د پاریس تړون په ۱۸۵۷ کې لاسلیک شو چې د هغه محور د هرات مسأله او د هغې حل دی.

د دغه تړون په دوهمه ماده کې وایي چې انګریز به د ایران بندر ونه خوشې کړي او خپلې قواوې به وباسي په دې شرط چې:

په پنځمه ماده کې دا شرط داسې بیانوي:

د ایران اعلیحضرت شهنشاه تعهد کوي چې بې درنګه تدابیر په کار واچوي چې عسکر او کارکوونکي د هرات له ملک او ښار ځخه وباسي او په افغانستان کې نور ځایونه هم پرېږدي او دا کار باید په درې میاشتو کې وشي.

په شپږمه ماده کې وایي چې: د ایران اعلیحضرت شهنشاه په دې راضي دی چې هغه ټوله ادعاوې پرېږدي چې د هرات پر خاوره او ښار یې درلودې او د افغان ملک او د هرات ځخه هیڅکله ونه غواړي چې یا اطاعت ورته وکړي یا خطبه پر ووایي، یا یې سکه په نامه ووهي او اعلیحضرت وعده کوي چې د افغانستان په چارو کې به هیڅ مداخله نه کوي او د هرات او ټول افغانستان پر خپلواکۍ به اعتراف کوي په هغه صورت کې چې د ایران او هرات او افغانستان د ممالکو ترمنځ منازعه را څرګنده شي تعهد کوي چې د انګریز و دوستانه همکارۍ ته به مراجعه کوي او جنګ به نه کوي، خو که د انګریز فعالیت نتیجه ورنه کړي بیا به اقدام کوي. په اوومه ماده کې دې ته اشاره شوې ده چې که د هرات له خوا د ایران سرحدونه تهدید شي، نو ایران به وکولای شي لښکر کشي وکړي، خو د معضلې تر حل وروسته به ژر راوځي.

په اتمه ماده کې د جنګي اسیرانو په باب وایي چې د دې سند تر لاسلیک وروسته به چې د افغانستان په جنګ کې کوم بندیان د ایران په لاس کې لوېدلي دي بې له نقدي عوضه به یې خوشې کوي.

په څوارلسمه ماده کې انګریز تعهد کوي چې کله ایران د هرات څخه خپل عسکر تر شا کړي او په تهران کې د انګریز د سفارت تشریفات پر ځای شي انګریزي عسکر به د ټولو ایراني بندرونو څخه ووځي.

دا عهدنامه په پاریس کې ۱۲۷۳ هـ ق د رجب په میاشت کې چې د ۱۸۵۷ سره برابر دی لاسلیک شوه او پنځلس مادې یې درلودې چې د مادې پر ځای د فصل کلمه ورته استعالیږي.[1]

په همدغه عهدنامه سره د هرات مسأله پای ته ورسیده او د ایران لاس له هراته قطع شو.

## ٤ – د جمرود په نامه دوه تړونونه:

دا دوه تړونونه یو په ۱۸۵۵ او بل په ۱۸۵۷ کې د امیر دوست محمد خان او انګریزانو ترمنځ لاسلیک شول.

مقدمتاً باید وویل شي چې دا لومړی تړون د یو مرموز سیاست د عملي کولو لپاره د بې غشه لارې جوړول ؤ، معنی دا چې انګریز د سیکانو د شړلو سره نوي سرحدونه ټاکلي وه او د دغو سرحدونو څخه د انګریز خواته افغاني سیمې قبضه شوي وې، نو چې د دغه وضع او امر به تر تهدید لاندې امیر ومنی نو د یوه تړون پر مخ یې خپلو غوښتنو ته داسې تحقق ورکړ چې نه یوازې یې افغاني سیمې د ځان وبللې بلکه پخپله د افغانستان موجودیت یې هم تکانی کړ.

د جمرود تر لومړي تړون دوه کاله وروسته په همدغه جمرود کې یو بل تړون وشو چې په هغه کې هم انګریز خپلې ګټې د خپل لوی رقیب روسیې او د هغه د سرسپارلي ایران څخه راوګرځولې.

اوس به د دغو تړونونو د منځته راتلو پر عواملو او پېښو یو څه رڼا واچوو:

لوی ماجراجو په سیک رنجیت سنګ هغه وخت مړ شو چې د انګریز لښکرو شاه شجاع کابل ته راورساوه، په دغه وخت کې یې عمر هم ډیر نه ؤ، بلکې ۵۷ کلن ؤ.

د ده له مرګ سره د سیک دستګاه یو مخیز د خپله منځه منفجره شوه، هغه قوي اردو چې رنجیت سنګ په څلوېښت کاله کې جوړه کړې وه د دغو چاودنو عامل وګرځېده.

د رنجیت سنګ تر مرګ وروسته یې زوی خرک سنګ پر تخت کښېنوست، ده یو کال نه ؤ پوره کړی چې په ۱۸٤۰ م کې مړ شو، په ده پسې یې وررور نو نهال سنګ پر تخت ورپورته کیدی، خو چې ارګ ته ننوتې د عمارت کنګرې پر راوپرېدی او دې تر لاندې مړ شو.

په دې پسې د خرک سنګ ماندینه (رانی چندرکور) پر تخت ورپورته شوه، خو څلور میاشتې وروسته درباریانو ونیوله او په زندان کې یې ووژله او بیا د رنجیت دوهم زوی شیرسنګ تخت ته

---

۱) د افغان نامې ۲ ټوک د ۱۷۳ مخ څخه تر ۱۸۷ مخه پورې اختصار او آزاده ترجمه.

پښه ورپورته کړه او تر ۱۸٤٤م پورې ناست ؤ څو په دغه کال د خپل لس کلن زوی سره د هیان سنګ وزیر له خوا ووژل شو. په دې پسې د رنجیت د ریم زوی دلیپ سنګ باچایي پیل کړه او هیرا سنګ یې وزیر کړ، خو بیا یې همدغه وزیر ووژی او لعل سنګ خزانه دار یې وزیر کړ، همدغه لعل سنګ اردو ته حرکت ورکړ او د ستلیج د سند شاته یې د هندوستان په ساحه کې پر انګریزي سیمه حمله وکړه او دا انګریزانو ته یوه بهانه شوه چې پر پنجاب راپورته شي.

دا تفصیل چې ولیکل شو باید فکر و نه شي چې د تصادفاتو له مخې دا فتنه او فتور روان شوی ؤ، بلکې دا هم تر یوه منظم پلان لاندې انګریز دوی یعنې د رنجیت سنګ اولاده لکه د سدوزو او بارکزو شهزادګان او خانان یو د بل غاړې ته واچول، څو یې کمزوره کړل او بیا یې د پنجاب اختیار ورڅخه واخیست او په خپل ځان یې مربوط کړ. د ۱۸٤٦م څخه وروسته درې کاله منظم پنجاب تصفیه کیدی او په پای کې یې هغه افغاني سیمې چې سیکانو قبضه کړې وې هغه یې هم په ځان پورې وتړلې. یو ځل د پېښور او چچ هزاره افغانان ورپاڅیدل او سیکانو هم امیر دوست محمد خان ته وویل چې د انګریز سره زموږ په جنګ کې مرسته وکړه، موږ به افغاني مقبوضات بیرته خوشې کړو. امیر هم د عمومي غوښتنې په مننه اټک ته ولاړ، خو د انګریز سره یې ځان نه مخامخ کاوه، دده سره یې زوی محمد اکرم خان، شمس الدین خان او شادوله خان د ګجرات په جنګ کې ملګری وه او د سیکانو له خوا شیرسنګ او چترسنګ د ډیرو لښکرو سره راغلی وه.

په مقابل کې یوه ډیر زبردسته انګریز کرنیل هربرت ابدوارد انګریزی لښکر رهبری کاوه.

د جنګ په جریان کې سردار اکرم وتښتید امیر هم راپر شاه شو او د ورونو او زامنو سره کابل ته راغی او په دې توګه د افغانانو په سیمه کې د سیکانو مقبوضات ټول د انګریز په لاس کې ولویدل او له دغه تاریخه نو پېښور او د خیبر څخه هاخوا سیمو سودا د امیر له سره ووته.

اوس نو پنځه کاله له دغه تاریخه انګریز په منظمه توګه په پېښور او دهغه په شا و خوا کې ستراتیژیکي چارې سرته ورسولې.

انګریزانو امیر په همدغه وخت کې د کندهار او هرات په چارو کې سخت سرګردانه او مصروف ولید، نو دا یې ښه فرصت ولید چې په امیر یو داسې تړون لاسلیک کړي چې هغه پخپله پر دغو افغاني سیمو چې انګریز له سیکانو څخه غصب کړي وې تائید وکړي چې دا د انګریز دی او سرحدونه یې قانوني اعتبار لري او دغو عواملو د جمرود د تړون ضرورت منځته راوړ.

## د جمرود لومړی تړون:

په هند کې د انګریز ګورنر جنرال لارد دالهوزی ته مشاورینو وویل چې د بریتانوی هند نوی سرحدونه باید په امیر تصدیق شي. هغه هم امیر ته خبر ورکړ، امیر په خپله نماینده ګي خپل زوی

سردار غلام حيدرخان او گورنر جنرال په خپله نماينده گی د پنجاب گورنر سرجان لارنس وټاکل او دغو نمايندگانو د ۱۸۵۵م د مارچ په ۳۰ پر يوه تړون لاسليک وکړ چې دري مادې يې درلودی په دې توگه:

۱- د ختيځ هند کمپنی تعهد کوي چې د افغانستان د هغو سيمو استقلال چې د امير په لاس کې دی محترم وشميري او هيڅکله به د هغو په چارو کې مداخله و نه کړي.

۲- د ختيځ هند د کمپنی او د امير دوست محمد خان او دده دورثو او پاتې کسانو په منځ کې به له دې نيټې وروسته دايمي سوله او دوستی ثابته او برقراره وی.

۳- د دوست محمد خان د کابل او مضافاتو امير له خپلې خوا او د کومو کسانو له خوا چې دده ځای نيسی تعهد کوی چې د ختيځ هند د کمپنی په متصرفاتو کې به هيڅ ډول دخالت ونه کړی او لاس به پرې نه غځوی. له دې نيټې څخه وروسته به د ختيځ هند د کمپنی د دوستانو دوست او د ښمنانو دښمن وي.

په دغو درو مادو کې چې د امير نماينده په پېښو سترگو لاسليک پر وکړ ټوله خبرې په دريمه ماده کې د چې انگريز د امير څخه تعهد اخلي چې د ختيځ هند د کمپنی به متصرفاتو کې به هيڅ ډول مداخله نه کوي، د انگريز متصرفات څه وه؟ طبعاً د پېښور په شمول هند ټوله سيمې چې سيکانو غصب کړی وی او انگريز د هغو څخه غصب کړي.

انگريز چې له دې خوا بيغمه شو، نو يو بل جنجال غاړې ته واولويد چې په هرات کې روسانو د ايرانيانو پر لاس مداخلې پيل کړی او په هند کې يې د انگريز گټو ته خطرونه متوجه کول.

هرات د ايران تر سخت فشار لاندې ؤ حتی د ايران شاه ناصرالدين شاه پخپله د جنگ موزې په پښو کړې وې. ددغو خطراتو د مخنيوي په خاطر انگريز و امير دوست محمد خان ته خبر ورکړ چې هندوستان ته ورشي خو امير معذرت وړاندې کړ چې ليرې نشي تلای په همدې جمرود کې چې پېښور ته نژدې دی کيدای شي خبرې او مفاهمې وشي.

د بريتانوی هند گورنر جنرال لارد دالهوزی داځل هم سرجان لارنس ورته راواستاوه او د امير سره تر خبرو وروسته د ۱۸۵۷م د جنوری په ۲۶ يو تړون لاسليک شو چې دا د جمرود دوهم تړون بلل کيږی. دا تړون د امير په نمايندگی د هغه زوی سردار محمداعظم خان او د لارد دالهوزی په نمايندگی سرجان لارنس لاسليک کړ. دا تړون چې ۱۳ مادې لری په پای کې امير دوست محمد خان او هربرت ادوارد هم لاسليک کړی دی.

په لومړی ماده کې وايی چې ايران د امير دوست محمد خان پر متصرفاتو تيری کړی دی او يو جنگی حالت دی، نو څکه د ختيځ هند کمپنی د امير دوست محمد خان سره مرسته کوی چې د خپل

هیواد دفاع وکړی او د هیواد په تورو برخو کابل بلخ او کندهار کې د ایران د تجاوز مخه ونیسی، نو ددغې وضع د پای ته رسیدو تر وخته انګریز امیر ته د میاشتې یو لک روپۍ ورکوي.

نور نو په دغو روپو د نظامی اشکالو او انواعو څرنګه والی بنوول کیږی په څلورمه ماده کې وایی چې د انګریز منصبداران د انګریز د دولت په خوښه په افغانستان کې هغو ځایونو ته ورځی چې هلته افغانان د ایران سره په جنګی کار بوخت وی، دوی به د انګریز د مرستې مصرف هم څاری او بریتانوی مقاماتو ته به راپور ورکوی او امیر به د دوی امنیت هم ساتي.

پنځمه ماده کې امیر ته اجازه ورکوی چې په پېښور کې یو نفر وکیل یا نماینده وټاکي.

په شپږمه ماده کې دې ته اشاره کیږی چې خطر رفع شی مرسته به هم معطلیږی. په اومه ماده کې یادونه کوی چې د مرستې تر معطلی وروسته به انګریز افسران له کابله وځی او که مصلحت وی، یو نفر غیر فرنګی نماینده به په کابل کې پاته شی.

په یوولسمه ماده کې وایی چې دا تړون به هیڅکله هغه د ۱۸۵۷ تړون چې په پېښور (جمرود) کې لاسلیک شوی متأثر نه کړی امیر تعهد کوی چې د جګړې اسناد به مکمل انګریزی مقاماتو ته لیږی. په وروستنی ماده کې دا یادونه کوی چې امیر ته پخوا څلور زره توپک ورکول شوی وه او س یو ځل بیا امیر هیله کړی ده چې څلور زره توپک دې نور هم ورکړی، انګریز دا منی او دا توپک به ژر تر ژره ورته واستوی.[1]

دغه تړون دوې خبرې را منځته کړی: یو دا چې کله امیر دوست محمد خان له کلکتې څخه کابل ته رالیږل کیدی، نو هلته یې دده څخه تعهد اخیستی ؤ چې په هرات او کندهار به کار نه لری. په دې تړون کې یې هرات دده مقبوضه او د افغانستان د خاورې جزء بلله او دهمدغه تړون په اساس ؤ چې امیر په مستقیمه توګه د هرات مسایل په ځان مربوط وبلل.

بل دغه تړون ایران ته هم یو جدی اخطار ؤ چې انګریز د افغانستان په طرف ولاړ دی، لکه چې د خارک ټاپو په اشغال یې د ایران پنجې د هرات له غاړې خلاصی کړی او بیا په همدغه کال د پاریس په تړون کې چې د انګریز او ایران تر منځ وشو په کلی توګه د ایران واکمن په دې مکلف کړل چې د افغانستان په مسایلو کې به لاس نه وهی او هم پر هرات د ایران هر ډول ادعا ته خاتمه ورکړه.

دا دوه تړونونه چې د جمرود د اول او دوهم تړون په نامه یادیږی د افغانستان د ډیپلوماسی په تاریخ کې د خاص ارزښت درلودونکي دي.

---

(۱) دا متن د تړون له تفصیل څخه رالیږل شوی دی چې د فضل ربی پژواک د اثر (د افغانستان بین المللی روابط) په ۲۵-۳ د محورنو کې چاپ شوی دی.

## ۵- د امیر دوست محمد خان مرگ او د نوي فتور او فتنو پیل:

امیر دوست محمد خان ته سردارانو لوی امیر یا امیر کبیر وایه، دا ځکه چې ده د خپلې کورنۍ گټې د یرې ښې ساتلې او هم یې پر وروڼو او زامنو پیروزینې درلودې.

د سدوزي شهزادگانو سره چې ده د مشر ورور وزیر فتح خان یې وژلی ؤ، ډیرې کلکې انتقامي جگړې وکړې او په پای کې یې باچهي هم خپلې کورنۍ ته رانقل کړه.

ده د مور د کابل د جوانشیریانو څخه وه، نو ځکه هغه وروڼو چې میندې یې درانۍ یا پښتنې وې ده ته په ښه نظر نه کتل، خو ده د زړورتوب او په عین زمان کې هوښیارانه نرم خوی او په چالاکۍ او تدبیر جاه طلبی هر وخت بریالیتوب وریه برخه کړی ؤ. ده د ژوند وروستی ورځې ډیرې ستړې وې، ده د وراره سردار سلطان احمد خان سرکار چې امیر خپله گرانه لور د وزیر اکبرخان سکه خور نواب بیگمه په نکاح ورکړې وه، په سر کې امیر ته وفادار ؤ، خو کله چې امیر د هندوستانه راغی او په دوهم امارت کې یې د انگریز ضد عناصر وکوټل، نو سلطان احمد خان هم ځینې یاغي شو او بیا یې حتی دومره تنزل وکړ چې د ایران د دربار پرې یې پر غاړه کړ. په ۱۸۵۷ م کې چې د جمرود تړون وشو او بیا د پاریس د تړون په اساس ایراني قوتونه د هرات له شا و خوا ووتل، نو سلطان احمد خان د ایرانه هرات ته راغی او ځان یې حکمران کړ. ده ته ایراني رهبرانو داسې ورفهمولې وه چې ایران هر ډول مرسته ورکوي چې که ته د افغانستان حاکمیت وگټې. د غه بیعقل سړي ته د کابل د تاج و تخت سودا پیدا شوه او لومړی یې فراه ونیوله او بیا یې د کندهار او کابل نیت وکړ.

دلته په کابل کې امیر دوست محمد خان په دې خبر شو، نو د شپاړس زره عسکرو او ۳۲ توپونو سره هرات ته روان شو، ده سره ډیر سرداران او زوی یې امیر شیرعلي خان ملگری ؤ. کله چې د هرات مضافاتو ته ورسیدل، سلطان احمد خان ښار کلابند کړ او د امیر لښکر تر ښار د باندې پریوت، دا محاصره د ۱۸٦۲ د اگست څخه د ۱۸٦۳ تر مې پورې اوږده شوه چې هم د امیر لښکر او هم د هرات ښاریان د مصیبتونو سره مخامخ شول. په همدغه جریان کې د سلطان احمد خان میرمن او د امیر لور نواب بیگمه د ډیره غمه مړه شوه، فقط د ښار دروازې خلاص شوې چې مړی یې گازرگاه ته ورساوه، بیا ښار بند شو (جنوري ۱۸٦۳)، په دې پسې درې میاشتې وروسته په اپریل کې سلطان احمد خان مړ شو د هغه مړی هم گازرگاه ته یوړل شو او د سلطان احمد خان زوی شاهنواز خان بیا ښار بند کړ، خو وروسته د ښار خلکو غوغا وکړه او د ښار حکمران دروازې خلاصې کړې او د امیر لښکرې ښار ته داخلې شوې، خو امیر څه د عمر له لحاظه چې ۷۷ کلن ؤ او څه د ناروغۍ له کبله چې (ضیق النفس) ورته پیښې ؤ. د ښار ترفتح څو ورځې وروسته مړ او دی هم په گازرگاه کې ښخ شو. په همدغه ښار کې سردار شیرعلي خان ولیعهد خپل امارت اعلان کړ او ورونه یې چې دلته ورسره وو، د دې امارت اعلان ونه مانه او د هراته وتښتیدل او نور له همدغه گړیه او له همدغه ځایه په افغانستان کې د یو بل فتور او ربل شو.

# اتم فصل

## لویه لوبه (Great Gyme) او په افغانستان کې د هغې برخه

### ۱- د افغانستان د برېدونو جنوب او شمال ته په دیبي گامونو تېرونه:

ددې فصل د بحث تر پیل وړاندې باید دا توضیح کړم چې دا ددې اصطلاحوی لویه لوبه (گرېټ گیم) او دیبي گامونه (د یو اسا قدمونه) د نولسمې پېړۍ په تولو سیاسي او تاریخي متونو کې استعمالیدل او ټاکلي مفاهیم به یې زموږ ددې لیکنې په متن کې روښانه شي.

گرېټ گیم هغه لویه لوبه وه چې اصلي لوبغاړي یې روس او انگریزوه او نور د سیمې پاچهان ،امیران شاهزادگان، سرداران او خانان یې هم په منډه اچولي وه.

ددې لوبې ساحه د لندن څخه تر سنت پترسبورگ پورې او له هغه ځایه بیا تر استانبول او کلکتې پورې سمندرونه، غرونه، بیدیاوې او ښارونه په ځان راکښېستل.

دې عظیمې ملنډې چې استعمار یې د امپریالیزم و ستېج ته پورته کړ د نولسمې پېړۍ د څلورو څخه درې برخې وخت په برکې ونیوی او نړۍ ته یې داسې ټکان ورکړ چې هېڅ تاریخي سابقه یې نه درلوده.

دوهمه اصطلاح د (د یو اسا قدمونو) ده چې دا د روسانو هغې ملنډې ته ویل کېده چې په سنت پترسبورگ کې یې د «نیوا» له غاړو څخه پر مرکزي آسیا راځغستل او د قفقاز تر اشغال وروسته

یې د مرکزي اسیا پراخې سیمې تر خپلې سینې لاندې هواره کړې.

دا اصطلاح روسانو ته استعمالیږي او د روسانو دا تړ پوته هغه وخت سر ته رسیږي چې انګریزان د جنوب فتحه پر پنجاب، سند، د اباسیند پر حوزه او بلوچستان راغځلي او دا سیمې په خپل تسلط کې راولي.

په هم هغه وخت کې یو انګریز د یو ک اوف ارګیل چې د ۱۸٦۸ م څخه تر ۱۸۷٤ م پورې د کلیډستون په لومړۍ کابینه کې د هند د چارو وزیر ؤ وایي: « ... مونږ زیاتره د ډیبي ګامونو صحبت کوو چې روسانو د آسیایي فتوحاتو په ساحه کې اخیستې دي. دا اصطلاح د توصیف او تعریف لپاره استعمالوو، خو دې ته لږ پام ساتو چې د روسیې پرمختګونه د بریتانیې په نسبت ډیر ناچیز دا او جزیي دي. »(۱)

په دې توګه نو حقیقت دا دی چې دا دواړو یعنی انګریز او روس هر یو د په ډیبي ګامونو د جنوب او شمال له لوري پر افغانستان راغځستل، څو روسان د آمو پر غاړو او انګریزان د سلیمان د درو سره په اصطلاح بریک سول او بیا یې خپل ترمنځ فیصله وکړه چې افغانستان د یو بفر (حایل) په شکل عبار کړي، څو د دوی ترمنځ د اصطکاک خطر رفع او هر یو په دې لویه لوبه کې د ښکار شوی ملتونو د غوښو پر وریتو په فراغ خاطر میلې وکړي.

دا د دې دوو اصطلاحو په باره کې یو لنډه توضیح وه او اوس به د خپل بحث اصلي موضوع ته راشو او وبه ګورو چې په دغه استعماري لوبه کې د افغانستان برخه څومره دوه؟

باید وویل شي چې د دې لوبې ساحه هر څومره پراخه وه خو مرکز او محراق یې افغانستان ؤ او افغانستان د مرکزي آسیا او هند پر منځ هغه تاریخي معبر ؤ چې د پروني نړۍ ټول لوی فاتحین د هغه څخه تیر شوي وو او په هغو ورځو کې چې دا لوبه روانه وه د افغانستان هند ته د خطر ټکی ؤ او انګریز له دې څخه سخته واهمه درلوده چې روسان به د دغه معبر له لارې پر هندوستان وریورته شي. او س به د افغانستان د جنوب او شمال بریدونو ته ور څرمه د انګریز او روس پر ډیبي ګامونو یو څه رڼا واچوو.

انګریزانو د ۱۸۰۸ م څخه د سند خواته چې پخوا د افغانستان په ولکه کې ؤ پاملرنه وکړه، خو کله چې لارډ الکیند د ګورنر جنرال په حیث هند ته راغی نو په ۱۸۳۹ م کې یې د سند د میرانو (میر نور محمد، میر نصیر او نورو میرانو سرد) په ۱٤ فقرو کې یو تړون لاسلیک کړ چې یوه عمده ماده یې دا وه چې انګریز په سند کې پنځه زره عسکر ساتي او مصرف به یې د میرانو له خزانې څخه تادیه کیږي. په دې هم انګریزان قانع نشول، په ۱۸٤۱ کې یې بل تړون په میرانو لاسلیک کړ

(۱) د یو ک اوف ارګیل (مسأله ، افغان) مترجم فرهنګ د کابل چاپ، ۷ مخ.

او یو کال وروسته یې هم بل تړون ورباندې تحمیل کړ چې دا یو په بل پسې تړونونه د پینو تحلیل ګران د غنې (عنکبوت) تارونه بولي چې د سند پر ملت راتاو شول.

کله چې انګریز لښکر په افغانستان کې تباه شو سفیر میکناټن او سیاسي مامور الکساندر برنس قتل او د شاه شجاع ووژل شو، نو انګریزانو زور تر سند وکیښ او په ۱۸٤۳ کې یې حمله پر وکړه، میران یې بندیان او هندوستان ته تبعید کړل او سند یې خپله مستملکه کړه.

په دې پسې پنجاب ته وجوغیدل او د سیکانو د ټولنې د مریتوب پلان یې تر عمل لاندې ونیوی، د رنجیت سنګ اولاده یې یو په بل قتل کړل (تفصیل په ترمخنی فصل کې راغلی دی) او په ۱۸٤۹ کې یې نه یوازې پنجاب خپله مستملکه کړه، بلکې هغه سیمې چې د اباسیند په حوزه کې د پښتنو ملکیت ؤ او سیکانو غصب کړې دی هغه یې هم په کامله سپین سترګي وخوړلی.

په دې توګه په یو دلنډه موده کې یې د پنجاب ۱۷ ملیونه د سند دوه ملیونه او زیات پښتانه قومونه په ځان پورې وتړل، دا یقیناً ډیب ډوله ګامونه وه چې انګریز د جنوب له خوا راوځغستل، سند و پنجاب او د اباسیند حوزه یې تر سینه لاندې کړه او د سلیمان د غرو سره ودرید.

همدا رنګه په بلوچستان کې چې د افغانستان جز ؤ، په ۱۸۵٤ م کې په خان قلات میر نصیرخان یو تړون لاسلیک کړ چې د هغه په څلورمه ماده کې وایي چې که انګریز وغواړي د خان په سیمه کې هرې خوا ته بریتانوي افسران او پوځونه واستوي، خان به یې امنیت ساتي، په شپږمه ماده کې انګریز تعهد کوي چې پنځوس زره روپۍ به خان ته ورکوي. دا تړون د مستوتګ د تړون په نامه یادیږي او ډیر مشهور انګریز میجر جلکوب د میر نصیرخان سره لاسلیک کړ. دا خو د انګریز دیبې ګامونه وه چې د افغانستان د جنوب څخه یې مخ پر شمال راځغستل، همدا رنګه د شمال له خوا روسانو هم دیبې ګامونه غورځول او مخ پر جنوب راتلل.

پر قفقاز د لومړی الکساندر (۱۸۰۱-۱۸۲۵) څخه یرغل پیل شو، خو په ۱۸۵۹ کې د شیخ شامل په نیولو تکمیل شو.

په ۱۸۳۹ . ۱۸٤۰ م کې هغه مهال چې په افغانستان کې د انګریز سره لومړی جګړه روانه وه د روسانو پر خیوه حمله وکړه، خو د خیوې خان روسانو ته سخته ماتې ورکړه او حتی دا تشویش روسانو ته پیدا شو چې د مرکزی آسیا څخه به یې مطلق لاسونه قطع شي.

خو په شدت یې حملو ته ادامه ورکړه د په ۱۸٦۵ کې تاشکند په ۱۸٦٦ خجند ونیوی او د خوقند خان ته یې سخته ماتې ورکړه. په ۱۸٦۷ کې یې پر بخارا حمله وکړه او په همدغه کال یې د ترکستان نوی ولایت تأسیس کړ او یو کال وروسته یې سمرقند ونیوی او د بخارا پر خان یې مطلق حاکمیت قایم کړ.

روسانو په ربښتیا د هغو ببدیاؤ څخه چې دوه زره کیلومتره یې اوږدوالی او زر کیلومتره یې پسور ؤ په دیبی گامونو را تیر شول د مرکزی آسیا مهم ښارونه یې ونیول او د آمو پر غاړو ودریدل او هر خواته داسې فکر کیدی چې نو بل مارش به یې د افغانستان پر لار پر هند وي.

انگریزانو مخصوصاً د پرمختیا (فارورد) د پالیسی پیروانو نظر ورکاوه چې هر څومره ممکن وي باید په افغانستان کې د روسانو د مخنیوی لپاره سنگرونه جوړ شي.

د روسانو سیاسي دفترونو دا احساس کړی وه چې انگریزان په دې مسأله کې جدی برخورد کوی نو پر له پسې د ستت پترسبورگ څخه مکتوبونه لندن ته روان وه چې روسان په مرکزی آسیا کې یوازې د وحشی قومونو د فساد مخه نیسي او د تمدن د تعمیم کار کوي.

د ۱۸۵۸ م څخه روسانو گامونه چټک کړی وو، څو یې لس کاله ؛ نه دیبی گامونه په مطلوبو نتیجو ورسول او په مرکزي آسیا کې یې خپل نفوذ پراخ کړ.

اوس نو د شمال څخه روسانو او د جنوب څخه انگریزانو افغانستان ترجدي مطالعې لاندې نیولی ؤ، په افغانستان کې د امیر دوست محمد تر مرگ وروسته شیرعلی د ورونو سره په شخړو اخته ؤ او دا یوه داسې بې اعتباره صحنه وه چې نه روس پوهیدی نه انگریز چې دلته څوک اصلی واکمن په رسمیت قبول کړی.

د بلې خوا دا دواړه زبرځواکمن قدرتونه (انگریز او روس) په هره شیبه کې په دې واهمه کې وه چې یوه ساده د پیشقدمی به د یوه خونړی جنگ مقدمه شي.

د شیرعلی خان دوره د هر ډول خطراتو حامل وه. په همدغو سپیځلو کلونو کې د جنوب له خوا انگریز د سلیمان له درو سره بریک ونیوی او روسانو د جنوب له خوا خپلې خیمې د آمو د غاړو سره جگې کړی.

دا عظیم طوفان چې د دغې پیړی له لومړیو څخه پیل شوی ؤ په شپږو لسیزو کې اوج ته ورسیدی او نور نو دا دواړه زبرځواکونه د خطر د مخنیوي په خاطر په یوه چاره پسې شول.

## ۲ – د هندوکش او سلیمان په منځ کې د دوو زبرځواکو (روس او انگریز) د ټکر خطر:

د افغانستان په شمال او جنوب کې د نړی د هغې ورځې زبرځواکو (روس او انگریز) په دیبي گامونو ټوپ چې یو د آمو پر غاړه او بل د سلیمان پر تنگیو ودرید نو دا خطر رامنځته شو چې د دغو دو قدرتونو په اصطکاک به په دغه سیمه کې لویه او غټه تباه کوونکې جگړه را منځته شی.

روسانو فکر کاوه چې انگریز به د هندوکش په منځ کې سنگرونه ونیسي او له هغه ځایه به په

مرکزي آسیا کې د روسانو ګټې له خطر سره مخامخ کړي بالمقابل انګریزانو هم فکر کاوه چې ښايي روس تر آمو را تیر شي او د هندوکش درې تر ښېبو لاندې کړي او د هند خراته هڅې وکړي خو تر دغه بې دا فکر یقیني شوی ؤ چې ښايي د هرات او کندهار له لارې پر هند یرغل وکړي.

هغه مهال چې په جدي توګه انګریز د امیردوست محمد خان سره د جمرود دوهم تړون په ۱۸۵۷ کې وکړ او د هغه تړون په اساس یې ایراني لښکر له هراته وشړی نو روسان د وضع معلومولو سخت لیوال شول. په دغو وختونو کې د امیر زوم سلطان احمد خان سرکار د هرات حاکم شو او په ۱۸۵۸ کې د روسانو یو هیأت د خانیکوف په ریاست هرات ته راواستاوه او ددې هیأت عمده وظیفه د اوضاع معلومول وه. دا چې د خانیکوف هیأت څه معلومات د تزار وزارت خارجه ته ورکړه، یوه مسأله ده، خو په ۱۸۵۹ کې چې امیردوست محمد خان کندز ونیوی او بدخشان یې هم تر خپل نفوذ لاندې راوست، نو روسانو ته سخت تشویش پیدا شو، ځکه دوی امیردوست محمد د انګریز نماینده باله او هغه یې دومره وفادار ګمان کړی ؤ چې په هر ګام کې یې د انګریز ګټې ساتلې، نو روسانو ته دا سې فکر ورته پیدا ؤ چې ښايي په مرکزي آسیا کې دوی د هندوکش د لمنو څخه ژوبل شي. په دې توګه نو دوی هم د هندوکش په باب نظامي نقشې جوړولې.

بالمقابل انګریز هم په دې تدبیر کې ؤ چې د آمو څخه را دې خوا ته د روسانو مخه ونیسي. په لندن د پرمختیا (Forwerd Policy) د پالیسي طرفدارانو په جدي توګه یادونه کوله چې بریتانوی هند باید په افغانستان کې هندوکش پر مرکزي آسیا د یو سنګر په توګه عیار کړي. ددغه سیاست یو سرتمبه پیرو راولنسن چې مکناټن شاه شجاع په کابل کې ځای پر ځای کړ، نو دغه سړی (راولنسن) ته بې د ټول جنوب لویدیځ اداره وسپارله چې مرکز یې کندهار ؤ. دده تفکر همیشه پر همدغه محور څرخیدی چې انګریز باید په زور خپل سیاست پیاده کړي، دې وروسته د انګریز د صدراعظم د میزرائیلي مشاور ؤ او د پرمختیا د سیاست مشهور څیره ده. دغه سړي نظر ورکاوه چې د هندوکش درستې درې د انګریز له خوا اشغال او د هندوستان د دفاع لپاره کار ورڅخه واخیستل شي یا د دفاع په خاطر پر مرکزي آسیا د تیري د تختې په توګه کار ورڅخه واخیستل شي.

دغسې نظریاتو دا خطر بلکل رانژدې کړ چې روسان او انګریزان دې د هندوکش په درو کې سره ټکر شي.

په همدغه وخت کې چې د پرمختیا د تجاوز سیاست نغاره په لندن کې وهل کیده یو شمیر سیاستمدارانو نظر ورکاوه چې د هندوستان د ساتنې لپاره دې د علمي سرحد (Scientific Frontir) تیوری تطبیق شي. دې سیاست حکم کاوه چې انګریز دې د سلیمان د غرو درې (خیبر، پیواړ، پاړه چنار، توچي، کرم، ګومل او کورک) دې ټول په سنګرونو مجهزې شي او که پر هندوستان تیری

کیږي، نو له دې ځایه به یې مخنیوی وشي.

په ۱۸٤۱ کې چې انګریزانو په افغانستان کې ماتې وخوړه او بیا یې په بلوچستان کې د خان قلات میر نصیر خان سره یو تړون لاسلیک کړ نو په هغه کې یې کویټه هم ځانته راوګرځوله چې په ۱۸۷٦ کې یې لوی نظامي مرکز ورڅخه جوړ کړ او د کوړک لوی کوتل یې ټول سنګر بندی کړ، دا ټولې طرحې د هم هغو مقاصدو لپاره وې.

د روسانو خارجه وزیر برنس ګورچاکوف پرله پسې د لندن مقاماتو ته لیکونه لیږل او پر دې یې زور لګاوه چې انګریز باید د افغانستان د شمال په سرنوشت کې د روسانو مشورت واخلي او د هندوکش په باب باید زموږ نظریات تر غور لاندې ونیسي.

روسانو په مرکزی آسیا کې لیږې او نژدې بیدیاوې او ښاروته لاندې کول خو د هندوستان خواته یې همیشه سترګې کړې وې او دا یې له نظره نه غورځول چې افغانستان باید په دې لار کې استعمال کړي.

حتی داسې د لیونتوب حالات یې هم هرکلې کړل چې د امیرشیرعلی خان دربار ته یې د ستالیتوف د رالیږلو سره فکر کاوه چې د انګریز پرضد د امیر له تعصب او قهر څخه استفاده وکړي او دسلیمان په درو کې یې د انګریز جنګ ته ولمسوي او ترشا به هم روسان په پسې وي، خو په ۱۸۷۹ کې د برلین کانګرس ددې دول افکارو او نظریاتو مخه بلې خوا وګرځوله.

انګریز په دې ښه پوهیدی چې د افغانستان امیر او خلک د انګریز څخه نفرت لري، نو که یو د کوچنی موقع پیدا کړي خپله ضربه پر انګریزو نه سپموی خاصتاً چې روس یې هم تشجیع او تجهیز کړي.

انګریز د هندوکش او هرات په برخه کې ډیر محتاط ؤ او دلته یې حتی د یوه کوچنی مرغه الوتنه هم جدی تلقی کوله او د فارورډ پالیسی طرفدارانو خو هر تحمل که څه هم د عقل په ساحه کې ؤ په هندوستان کې د انګریز د ګټو په وړاندې بې پروایي بلله.

په ۱۸۷۹ کې چې لاردلیټن په بې معنا بهانه پر افغانستان یرغل وکړ مطلب یې دا ؤ چې کله افغانستان اشغال کړي، نو هم به د هندوکش خطر له خپل سره لیرې کړي او هم به د سلیمان د درو کامل واک ځانته حاصل کړي.

ددې بحث په نتیجه کې دا خبره منطقي بنسټ لري چې د نولسمې پیړۍ له پیل څخه بیا تر اوومې لسیزې پورې انګریز او روس یو د بل څخه په سخته بیره کې وو چې ټکر یې سره رانشي او ددغه احتمالي ټکر سیمې هندوکش، سلیمان او د هرات بیدیاوې وی، خو یې په مصلحت دغه خطر د افغانستان څخه د یوه بفر د جوړولو په طرح رفع کړ.

## ۳- انگریز د (تجرید) له سیاست سره د (بفر) طرح پیوندوی:

د نولسمې پیړۍ له پیل څخه چې د افغانستان لپاره د لارد مارینگټن طرح یعنې د (تجرید) سیاست تر کار لاندې ونیول شو، نو تقریباً شپیته کاله انگریز په ډیر احتیاط د افغانستان امراؤ تعقیبوله چې غیر له انگریز څخه د بل چا سره اړیکې قایمې نه کړي.

د سدوزو شهزادګان خو د یو او بل د وژلو او ړندولو په کار اخته وه او خود بخوده د تجرید په پړو ترلې وه، خو د بارکزو له واکمنانو څخه امیر دوست محمد د یوې اشتباه مرتکب شو چې روس ته یې نیمه نګاه وکړه او ددغه عمل په جرم یې درې کاله د لودهیانې جیل تیر کړ.

د تجرید سیاست د امیر دوست محمد خان تر مرګه (۱۸٦۳) په دقیقه توګه تر عمل لاندې ؤ او د ۱۸۵۷ د جمرود په تړون پر هغه یو د بله کلکه میخ طبیله هم ووهل شوه. ولې د امیر دوست محمد خان تر مرګ وروسته چې روسانو په ډیبې ګامونو پر مرکزي آسیا راځغستل، نو دا ځل دا واهمه انگریز ته پیدا شوه چې شایي پر بخارا تر نفوذ قایمولو وروسته روسان تر آمو هم ګامونه د هندوکش تر لمنو رااوږده کړي.

په لندن کې د فارورډ پالیسي پیروانو غوښتل افغانستان اشغال او د روس مخه ونیسي او ددغې نظریې لوی طرفدار راولنسن په وازه خوله ناري وهلې او صدراعظم دیسرائیلي چې کله به صدراعظم او کله به ګلاډستون سره په سیالیو بوخت ؤ دا نظریاتو ته ټینګ غوږ نیوی، خو په آسیا او اروپا کې د وضع هوښیارو انگریز څارونکو نظر ورکاوه چې د روسانو سره موافقې ته باید ورسیږو. روسانو پر مرکزي آسیا خپل تناوونه راتاوول، خو د انگریز تحریکول یې نه غوښتل، نو ځکه به یې هر وخت په مکاتبه کې افغانستان د انگریز د نفوذ ساحه بلله.

د انگریز یو شمیر دقیق سیاستمداران چې د هند په شمال کې یې د انگریز ګټې په نرمښت کې تصور کولې دا طرح رامنځته کړه چې د انگریز او روس ترمنځ یوه حایل (بفر) سیمه جوړه شي چې په هغه کې نه انگریز او نه روس مداخله وکړي او ددغه بفر شمال او جنوب ته قوتونه په ډاډینه سره سیمې او اولسونه تابع کړي او ددوی ترمنځ د اصطکاک خطر له منځه ولاړ شي. داسې یوه طرح په تیوري کې دواړو خواوو ته مطلوبه وه، خو په عمل کې دې کار ډیر سخت مشکلات درلودل. لومړنی مشکل یې دا ؤ چې دواړو مقابل خواوو یو پر بل باور نه درلود او ددغې بې باورۍ د کنټرول لپاره دا طرح باید پر داسې اساساتو راپورته شوې وای چې په ربښتیاني توګه دواړو خواوو د ټاکلو مسؤلیتونو څخه اوږه نه وای خالي کړې. په لومړي سر کې انگریز د «بفر» علاقمند ؤ چې د

« تجرید » له سیاست سره یې پیوند کړی. د انګریز سیاستمدارانو په مجلسو او صحبتونو کې د روسانو سره د « بفر » په باب یادونې کولې څو یې په رسمي مکاتبه کې د « حایل » خبره د روسانو په خوله یاده کړه. روسان لا په اول کې نه پوهیدل چې ددې بفر ساحه چیرې او څرنګه وټاکل شي، خو انګریز چې صراحت یې نه ورکاوه، خو پوهیدل چې دغه تیورې باید په افغانستان کې تطبیق شي او ورو ورو یې روسان هم په خپل نظر قانع کړل.

## ٤- د « بفر » طرح څرنګه منځ [illegible] اغ

په ۱۸٦۸ م کې چې امیر شیرعلی خان خپل رقیبان د میدانه وایستل او دوهمه دوره پاچهي یې پیل کړه، خو د همدغه ۱۸٦۸ م کال د نوامبر په دوهمه د هند وایسرای لارډ لارنس په مکتوبي توګه دده امارت په رسمیت وپیژند.

انګریز سره له دې چې د امیر سره د دوستی رویه پالله او د پاچهي په پیل کې یې دولس لکه روپۍ او دولس زره ټوپک ورکړل، بیا یې هم باور نه پر درلود او په دې ښه پوهیدل چې هغه د انګریز څخه بد وړي، نو ددې لپاره مخ کې تر دې چې لکه پلار غوندې دی هم اشتباه و نه کړي او د روسانو خواته مخ وانه ړوي، نو د « بفر » طرح یې تر کار لاندې ونیوله چې په دې توګه دده وزرونه وروتړي.

« د ۱۸٦۹ م کال په سر کې د ګلادستون د کابینې خارجه وزیر لارډ کلارندون په لندن کې د روسیې د سفیر بارون برونو سره د مرکزی آسیا پر مسایلو د بحث په وخت کې یادونه وکړه چې د هندوستان او روسیې د سرحداتو ترمنځ بود څنثی (Ncutrl) سیمه جوړه شی چې د دواړو هیوادو د نفوذ له دایرې څخه خارج وي او موافقه وشي چې دواړې خواوې د هغه احترام وکړي، د انګریز خارجه وزیر وویل چې انګلستان د هند د سرحداتو په لور د روسیې د خطر څخه کامل ډاډ لري چې هیڅ خوف نه احساسوي، خو د انګریز او روس ترمنځ د یوې بې طرفي سیمې وجود ښه دی چې د هغې خپلواکی امنیت او بې طرفي تضمین شی ». (۱)

بارون برونو د کلارندون د نظر سره موافقه وښودله او په سنت پترسبورګ کې یې د روس خارجه وزارت ته په تفصیل خبر ورکړ. د هاخوا یعنی د روسیې له خوا د پرنس ګروچاکف مکتوب په هم هغه ورځ د انګلستان خارجه وزارت ته ورسید چې په امباله کې د هند ویسرای لارډمایو د افغانستان باچا امیرشیرعلی ته هرکلی وایه.

ګرچاکف په هغو اوصافو متصفه سیمه چې د انګریز خارجه وزیر کلارندون ښوولی افغانستان معرفی کړی ؤ. همدا رنګه ګرچاکف بادرن برونو ته ویلی وو چې کلارندون ته ووایی چې روسان

(۱) فضل ربی پژواک: د افغانستان د بین المللی روابطو تاریخ، ۸۵ مخ.

افغانستان د هغو سیمو څخه خارج ګڼي چې هلته خپل نفوذ خپروي.

دا مکتوب چې د هغه کال د مارچ په اوومه ګرچاکف لاسلیک کړی ؤ د مارچ په ۲۷ کلارندون ته ورسیدی او په دې توګه کلارندون خپله ننبه وویشتله چې د رقیب په خوله یې هغه سیمه یاد کړه چې ده په زړه کې درلوده، خو په خوله یې نه ویل، ولې دلته بل مشکل ورته پیدا شو، هغه دا چې د افغانستان او بخارا سرحد که په نښه شوی نه وای، نو بخارا خو د روس تر نفوذ لاندې ده کیدای شي چې روس د آمو څخه دې خوا ته د خپل نفوذ لاسونه تر هندوکش پورې راوغزوي.[۱]

اوس نو دا په کار وه چې لومړی باید د افغانستان د شمال حدود په نښه شي او بیا حایل (بفر) سیمه وټاکل شي.

انګریز په ډېر احتیاط په دې مسأله کې د روسیې سره مخامخ کیدی، یو ځل د هند ویسرای ... ایو خپل یو حکومتي نماینده (دوګلاس فورسیت) Douglas Forsyth د ۱۸٦۹ په اکتوبر کې د روسیې پایتخت (سنت پترسبورګ) ته واستاوه او هغه هلته کابینې ته د ویسرای مکتوب او نظریات وړاندې کړل چې د یوې بې طرفې سیمې لپاره یې د ري اصله په دې توګه توضیح کړل چې د ...رحد معضله یې هم بکښې حل بللې وه:

۱ – هغه ځمکې چې همدا اوس د امیرشیرعلي په تصرف کې دي هغه دې د افغانستان د خاورې جز وبلل شي.

۲ – یاد شوی امیر باید د دغو یادو شوو سیمو په ماورا کې د نفوذ د پراختیا څخه ډډه وکړي او د انګریز حکومت باید په خپل ټوله قدرت د هغه د تعرض مخه ونیسي.

۳ – د امپراطوري حکومت (روسیه) هم باید خپل ټول نفوذ په کار واچوي چې پر افغاني خاوره د امیر بخارا د حملې مخنیوی وکړي.[۲]

دې مفاهمو درې کاله دوام وکړ خو مشکل هغه وخت ایجاد شو چې روسانو بدخشان او واخان د امیرشیرعلي د تصرف سیمه نه بلله بلکې هغه یې د بخارا د امارت جز ګڼله.

پرنس ګرچاکف آمو د سرحد په توګه قبلاوه، خو غوښتنه یې کوله چې کابل باید بدخشان او واخان د امیر بخارا د خاورې جز وګڼي.

بالاخره دا مسأله په یوه مجهوله توګه داسې حل شوه چې د آمو لوړې برخې سرحد وپیژندل شو او د بدخشان مسألې ته صراحت ورنه کړل شو. البته دا ۱۸۷۳م کال ؤ او انګریز او روس ته نوې مسایل راوړاندې شوي وه او لازم یې بلل چې د یوه حایل مسأله ژر تر ژره حل کړي چې په دغه سیمه

---

(۱) د یوکراوف اوګیل: مسأله افغانستان، مترجم فرهنګ، ص٤٦.
(۲) مسأله افغان، ٤٨مخ.

کې ددوی ترمنځ د اصطکاک مخه ونیول شي.
انګریز، روسانو ته دا پرله پسې په ډاګه کوله چې په هره اندازه سرحدات معلوم او ټاکلي وي، نو د یوه بفر وجود به د هر دول خطر څخه په امان وي. روسان هم په دې پوهېدل خو د سرحدونو د معلومولو او ټاکلو په برخه کې یې ګټو د انګریز له ګټو سره توپیر درلود.
په پای کې سره له دې چې سرحدات په نیم بنده حالت کې و، یعنې حدود لا پورې روښانه نه ؤ چې د بفر پر مسأله د انګریز او روس ترمنځ توافق راغی.
ولې د دغې تیورې د تطبیق اصل ته صادقانه وفادا و، د شیرعلي د باچهی په اخیر کې روسانو خپل سفیر جنرال ستالیتوف د شیرعلي دربار ته راواستاوه او سره له دې چې تعهد یې کړی ؤ چې افغانستان د انګریز د نفوذ ساحه ده بیا یې هم مداخله وکړه څو یې د امیر په قرباني، په جنګ د افغانستان د خلکو او هیواد د تباهۍ په قیمت په ۱۸۷۹ کې د برلین په کانګرس کې د افغانستان پر سر معامله وکړه او د ځینو امتیازاتو په اخیستلو یې افغانستان بیا د انګریز و نفوذ ته خوشې کړ. یعنې بفر په خاصو مراتبو او مواقعو کې مراعاتیدی او دا خبره تر ۱۹۰۷م پورې رااوږده شوه چې د روس او انګریز په معاهده کې پر بفر ټینګ مهر ونه ولګیدل خو لومړۍ نړیوالې جګړې د وضع مهار بل پلو ته کش کړ او په نویو جریاناتو کې بفر ډیر ژوبل شو.

## ۵ – سر ګرینویل او شهزاده ګرچاکف د بفر چوکاټ جوړوي:

په مرکزي آسیا کې د روسیې د ګورنر جنرالۍ د تأسیس او د دغې وظیفې ته د یوه تجربه کاره سړي جنرال کوفمان مقررول د دې کار مقدمه وه چې روسان باید د مرکزي آسیا په ټولو سیمو کې خپل مستعمراتي سیاست ته پراختیا ورکړي، خو په دې کار کې انګریز باید تخریش نه کړی دا تر هغه وخته چې د هند په شمال کې پخپله د دوی بنسټونه کمزوري شي.
په عمومي توګه د ۱۹ پیړۍ د اوومې لسیزې له پیل سره دواړې خواوې یعنې انګریز او روس پر دې متفق وه چې د دوی د نفوذ د ساحو ترمنځ یوه حایله سیمه موجوده وي. روسانو په وار وار په مخامخ خبرو او لیکونو کې افغانستان د دغسې حایل په توګه پیشنهاداوه خو انګریز له دې کبله په دغسې یو چوکاټ کې د افغانستان د ګډون مخالف ؤ، ځکه افغانستان د روس او انګریز ترمنځ د انګریز د نفوذ سیمه معرفي شوی وه، نو نن که هغه یو حایل (بفر) ټاکل کیدای د بفر شرایط دا وه چې په دغه سیمه کې به یوه خوا هم مداخله نه کوي او دی د انګریز ګټو ته زیان رساوه.
د بلې خوا انګریز د حدودو ټاکل مهم ګڼل چې د بفر تر موافقې وړاندې باید حدود ټاکل شوي

وي. بله عمده خبره دا وه چې غیر له افغانستان د بفر لپاره بله مناسبه سیمه نه وه او افغانستان یوازې سیمه وه چې د هغه په شمال کې روسان او په جنوب کې انګریزان د نویو مستملکاتو په کار بوخت وه او پر همدغه سیمه ددې خطر موجود ؤ چې ددغو دواړو زبرځواکونو ترمنځ دی ټکر راشي، نو دواړې خواوې دې ته متوجه وې چې دلته یو داسې ټاکلی چوکاټ جوړ شي چې هم د بفر شرایط ولري او هم د انګریز نفوذ نه وي پکښې نفی شوی.

د ترکستان نوی حکمران جنرال کوفمان د خپل هیواد د خارجه وزارت له خوا یو لیک د انګریز خارجه وزارت ته لیږلی ؤ چې په هغه کې یې لیکلی وه چې دده افغانستان د شمال یوه دقیقه اتنوګرافیکه نقشه جوړه کړې ده چې هغه به ددغه نوي چوکاټ په جوړښت کې مرسته وکړي. خو دغه وعده ډیر وخت پر ځای نشوه په ۱۸۷۲ م کې چې دارد واګستوس لافتوس د جارج :رکانان پر ځای په سنت پترسبورک کې د انګریز سفیر مقرر شو، ده بیا د افغانستان مسأله راپورته کړه او په همدغه وخت کې د انګریز خارجه وزیر لارد ګرینویل لافوس ته یو مفصل لیک ولیږی چې د روسانو کابینې ته یې ولولي. ګرینویل دې ته اشاره کړې وه چې دوی د کوفمان د اتنوګرافیکی نقشې لپاره ډیر انتظار وایستی، خو هغه و نه رسیده نو د هغو معلوماتو په اساس چې په لاس کې مو دی د امیر (افغانستان) متصرفات په لاندې توګه ټاکو:

۱ - بدخشان او واخان په ختیځ کې (سرقول څخه د کوکچې تر سینده پورې) او د آمو له سینده سره د هغه د اتصال نقطه به په ټوله سیمه کې د دغه ولایت شمال سرحد تشکیلوي.

۲ - افغاني ترکستان چې د قندوز، خلم او بلخ ولایتونو څخه مشتمله ده او د هغه شمالي سرحد د آمو سیند د کوکچې د سیند د جلا کیدو له نقطې څخه به تر خواجه صالح پورې د امیر په متصرفاتو کې شامل وي. او له خواجه صالح څخه به دې لوری ته یوه لویشت ځمکه هم روسانو ته وورنه کړي.

۳ - داخلي ایالات، لکه آقچه، سرپل، میمنه، شبرغان او اندخوی چې وروستی ذکر شوی سیمه په شمال لویدیځ کې د افغانستان د سرحد آخری نقطه تشکیلوی او هغه بیدیاوې چې د غې سیمې ته څرمه او د ترکمنو په آزادو قبایلو اړه لري د امیر په متصرفاتو کې شامل دي.

٤ - لویدیځ افغانستان او د هغه د متعلقاتو سره او د هغه حدود د ایران له سرحد سره تر یوې اندازې پورې روښانه او واضح دي ټاکلو ته ضرورت نه لري. (۱)

پر دې حدود د لندن او سنت پترسبورګ تر منځ ډیرې خبرې وشوې او کله چې د جنرال کوفمان نقشه راڅرګنده شوه په هغې کې هم په طبیعي توګه (آمو) د افغانستان سرحد ټاکل شوی ؤ، نو

(۱) فضل ربي پژواک، روابط بین المللی، ۶۳مخ.

روسان یو څه نرم شوه. د روسیې خارجه وزیر شهزاده گرچاکف په سر کې ډېر کلک ؤ چې بدخشان او واخان دې افغانستان ته نه ورکول کېږي او بیا یې د آقچې سرپل میمنې او اندخوي په برخو کې خېره سرې کوله چې دا د امیر شیرعلي خان حق نه دی. خو څرنګه چې روسانو په (مروه) کې ترکمن قبایل ټکولي او دد غې سیمې په لاندې کولو یې د اروپایي مطبوعاتو خوله پر ځان را خلاصه کړې وه، نو د زیاتې افشا ګرۍ د رفع په خاطر یې د ګرانویل پر نقشه امین ووایه او په ۱۸۷۳ کې پر دا حدود د افغانستان په حق کې تائید کړل او اوس نو د بفر معضلې له وړاندې لوی خنډونه پورته شول، صرف دا خبره چې افغانستان د انګریز د نفوذ ساحه قبوله شي هغه شهزاد ګرجاکف حتی د تزار له قوله په رسمي مکتوبو کې لندن ته ډاډ ورکړ چې روسان افغانستان د انګریز د نفوذ ساحه ګڼي.

د انګریزانو او روسانو تر منځ د دواړو امپراطوریو یعنې بریتانوي هند او روسیې تر منځه د حایل سیمې حدود معلوم شول، خو له دوی څخه یوه هم په ټاکلې توګه د بفر په باب کوم سند لاسلیک نه کړ، ځکه بیا هم دا یوه مجهوله معضله وه.

دواړو خواوو په خوله ویل چې افغانستان د بریتانوي هند او روسیې تر منځ یو (بفرستیټ) دی او یوه خوا به هم په هغه کې مداخله ونه کړي، خو دا یوه خبره وه، عملاً دواړو خواوو ډېر ځله دغه اصل نقضاوه، لکه چې یو ځل روسانو د خپل طبیعت په مقتضا بې له دې چې د بفر مقررات په نظر کې ونیسي خپل سفیر جنرال ستالیوف د امیرشیرعلي دربار ته راواستاوه او په دې توګه یې یوه معامله ګري وکړه. انګریز د مداخلې سطح تر دې حده جګه کړه چې په ۱۸۷۹م کې یې سماسم پر افغانستان نظامي تیري وکړ.

په هر صورت انګریز او روس د بفر یو نیم بنده چوکاټ افغانستان ته جوړ کړ، خود افغانستان ځینو داخلي او د باندنیو پېښو د هغه د استحکام مخه په مستدامه توګه نیولې وه.

# نهم فصل

## د «تجرید» او «بفر» په وړاندې د شیرعلی خان بغاوتونه

### ۱ – د انگریز څخه همیشنی شاکی:

شیرعلی د امیردوست محمد د کشرانو زامنو څخه ؤ، هغه وخت چې امیر دوست محمد خان د انگریز له خوا په کلکته او فیروزپور کې اوسیدی، شیرعلی هم له د سره ؤ، دی تازه ځوان ؤ، په بریتانوی هند کې یې د نړیوالې پانگه والی عظمتونه د سر په سترگو ولیدل خو دې هرې لیدنې په ده کې د عصبیت احساس ورځ تر بلې تحریکاوه.

دی چې په هند کې ؤ هم به یې پلار ته د انگریز بد ویل او کله چې کابل ته راغلل، نو په دې هم خواشینی کیدی چې پلار یې د انگریز ضد شخصیتونه له منځه وړل، که څه هم امیر دوست محمد خان د افغانستان څخه د پېښور د بیلیدو په نسبت خواشینی ؤ، ولې شیرعلی به هر وخت هغه ته ویل چې پېښور یوازې په تورد راگرځول کیږی.

په هغو ورځو کې چې په هند کې د انگریز پر ضد لوی بغاوت پاڅید (۱۸۵۷) شیرعلی په جدی توگه پلار ته وویل چې همدغه موقع د پېښور د راگرځولو ده، خو پلار به یې ده ته توصیه کوله چې د انگریز سره باید احتیاط وشی.

په ۱۸۶۳ کې چې امیر دوست محمد په هرات کې مړ شو او شیرعلي هم هلته د ولیعهد په توګه پاچهي اعلان کړه، نو انګریزان پوهیدل چې شیرعلي د امیر دوست محمد په زمانو کې د انګریز ډیر سخت مخالف دی.

د انګریز لوی سیاست پوهانو او د هغې جملې څخه سرهنري راولنسن چې د فارورډ پالیسي متفکر مغز او د افغانستان په چارو کې د لویو تجربو او تخصص خاوند سړی ؤ، هغه مهال چې شیرعلي په کابل کې قدرت ترلاسه کړ وویل: «دا مهال چې امیرشیرعلي خان په کابل کې اقتدار ته رسیدلی دی د انګریز له دولت سره هیڅ توافق نه لري، ځکه د انګریز څخه یې هیڅ ښه نه دي لیدلي او له هغې کبله زموږ بې ثبات سیاست ته ګوته نیسي او وایي: "انګریز همیشه د قوي طرفداري کوي، هرڅوک چې په هغه وخت کې پیاوړی وي د هغه په لور درومي او اوس چې ما پیاوړی نویني زما د دوستی آرزومن دی ،زه هیڅکله د هغوی سره د خبرو په برخه خپل وخت نه ضایع کوم" ».

راولنسن په یو بل ځای کې وایي چې امیر بېویل: د انګریز دا بې ساري مرستې له دې جهته دي چې موږ روسیې ته نږدې نه شو، شیرعلي دا مرستې د روسیې د خطر نتیجه بولي.

همدارنګه انګریز څیړونکی لیکوال او سیاسي شخصیت چې د افغانستان په باب دقیق مطالعات لري (داکتر بیلو) وایي: «امیرشیرعلي د انګریز څخه نفرت لري او خپل دغه نفرت پټوي هم نه!»

په عمومي توګه امیرشیرعلي خان د مرګ تر ګړې د انګریز څخه شاکي ؤ او د هغو نمایندګانو ته به یې خپل نفرت په صراحت ښکاره کړ او، انګریز هم د دغه سلوک په مقابل کې ډیرې لویې ستونزې ایجادولې، څو په امیر کې زړه وچاودې او انګریز هم بدنامه شو.

## ۲ - د «تجرید» او «بفر» څخه د شیرعلي خان نفرت او د انګریز تفتین:

هغه مهال چې امیر دوست محمد خان د هرات تر فتح وروسته هلته مړ شو، نو شیرعلي چې ولیعهدي یې پخوا اعلان شوې وه د ۱۸۶۳ کال د جون په دولسمه د افغانستان د امیر په توګه وپیژندل شو او دا وخت یې عمر ٤١ کاله ؤ.

د امیردوست محمد خان مرګ د روس او انګریز په سیـ..ـې تولنو کې په یوه ناڅاپي هیجان هرکلی شو، خاصتاً انګریز په تشویش کې شو چې پر ځای یې شیرعلي راغی او انګریزان په دې خبر وو چې هغه د انګریز څخه نفرت لري نو د زړو او نویو پاڼو مطالعه یې بیا پیل کړه او د یوه سیاسي پلان پر جوړښت یې کار روان کړ.

د «تجرید پالیسي» چې هغه د نولسمې پیړۍ له سر څخه پیل شوې وه د ۱۸۵۷ د جمرود په

دوهم تړون کې د امیر دوست محمد او لارډ لارنس په امضاوو تائید شوی وه او افغانستان غیر له انګریز څخه بل د هیڅ سرداریکی نه درلود، خو د «بفر» د پالیسي مقدماتي کارونه د انګریز او روس د سیاستونو تر منځ جاري وو.

شیرعلي خان چې د امارت پرچوکۍ کښېنوست د ورونو او کورنۍ د غړو له خوا ستونزې ورته پیدا شوې خو په خارجي سیاست کې دومره پوهیده چې افغانستان په استعماري چوکاټ کې له هغې آزادۍ څخه محروم شوی دی چې غیر له انګریز څخه بل د هیڅ سرداریکی و نه لري. دی د «تجرید» د پالیسي په مفهوم پوهیدی خو د دغې پالیسي په ابعادو یې لاسد نه ؤ رسیدلی، خو د «بفر» د پالیسي په باب یې هیڅ معلومات نه درلودل، ځکه د دغې پالیسي کم و کیف لا تر اوسه د سیاسي دفترونو په پانو کې پټ وه او په دې باب خبرې د تړول دروازو شاته کیدلې.

شیرعلي خان اصلاً یو آزاد خیاله سړی ؤ او فکر یې کاوه چې د امارت چارې یو څه زړه ورتوب غواړي او انګریز چې په دې پوه شي چې مقابل خوا سرشخي ورسره کوي حتماً شیوه ګی راوړي.

د ده د روس سره د انګریز اړیکي هم معلوم وو او په دې هم خبر ؤ چې ایران د انګریز رقیب دی، نو په دې منځ کې یې داسې فکر کاوه چې که په مهارت د دغه رقیبان (روس - ایران) د انګریز په مقابل کې استعمال شي، بیا یې افغانستان ته د خارجي سیاست په برخه کې آزادي پیدا شي. خو د ده په وړاندې حریف (انګریز) په دې لار کې ډیر ماهر ؤ، هغه په سر کې وغوښتل چې شیرعلي په خپل چوکاټ کې ځای ورته جوړ کړي، خو کله چې یې ولیدل شیرعلي خیره سري کوي او نه غواړي پر تاکلې کرښه حرکت وکړي و هغه پخوانۍ نسخه یې یو ځل بیا تر کار لاندې ونیوله، یعنې هغه نسخه چې په هغه یې سدوزي شهزادګان یو په بل قتل او ړانده کړل او بیا یې له میدانه وایستل او په هغه پسې د سردار پاینده خان زامن یو د بل غاړې ته وواچول او دومره یې وډبول چې یو کوچنی مستي هم ورته پاته نشوه او دا دی نن یې د امیر دوست محمد خان د زامنو لپاره هم پلان تر تطبیق لاندې ونیوی.

## ۳- د شیرعلي غاړې ته د ورونو ورلویدل:

په هغه ورځ په هرات کې پر شیرعلي خطبه وویل شوه نو هغه ټوله ورونه چې د مرحوم پلار سره هرات ته راغلي وو هر یوه پر یوه لار هغو ولایاتو ته وتښتیدل چې هلته پخوا حاکمان وو.

مشر وروړ سردار محمد افضل خان پس له مغفور امیر څخه باچهي خپل حق ویلله او د ده د دغه ادعا موید د ده سکه وروړ محمد اعظم خان ؤ چې په فتنه جوړولو کې یې غټ مهارت درلود، همدا رنګه نور ورونه حتی د شیرعلي خان سکه وروړ سردار محمد امین خان د کندهار والي به هم و بل

کله چې لوی امیر وفات ش، و نو نن هر زوی حق لري چې د خپلې سیمې باچا شي.

امیر شیرعلي چې د پلار د فاتحې څخه فارغه شوه، نو هرات یې خپل زوی یعقوب خان ته پرېښود او پخپله کابل ته راروان شو.

د همدغه کال (۱۸٦۳) په دسمبر کې یې له کابل څخه بریتانوی هند ته خبر ورکړ چې دده امارت په رسمیت وپېژني، خو انګریز تر شپږو میاشتو پورې ځواب ورنه کړ.

وروسته چې امیر د امنیت قایمولو په نیت لوړي زرمت ته روان شو چې هلته محمد اعظم خان والي ؤ، محمد اعظم بې له دې چې د ورور پیغام ته غوږ ونیسي مخ پر هندوستان وتښتېدی او په راولپنډۍ کې انګریزانو ځای ورکړ او د ورځې سل کلداري معاش ورته مقرر کړ. انګریز ته ښه وسیله په لاس ورغله او ددې لپاره چې امیرشیرعلي خان تهدید کړي د محمد اعظم ملګري یې هم هلته وروغوښتل او له دغه ځایه د شیرعلي خان پر ضد د فتنو بازار تود شو. په ۱۸٦٤ کې یې د مشر ورور سردار محمد افضل خان سره جنګ وکړ هغه تسلیم شو، خو ده بندي کړ او د افضل خان زوی عبدالرحمن (وروسته امیر) بخارا ته وتښتېدی.

په ۱۸٦٥ کې امیر د کندهار تصفیې ته روان شو هلته دده ورور سردار محمد امین خان لښکري د کلات او کندهار تر منځ سره په جګړه کې شوي، په دې جګړه کې د امیر ځوان زوی محمد علي چې د امیر دلښکر قوماندان ؤ او د امیر ځوان ورور سردار محمد امین خان دواړه ووژل شول او له دغه غمه امیر د لیونتوب سرحد ورسید او دده د غیابت څخه عبدالرحمن خان او محمد اعظم خان غزني او بیا کابل ونیوی او محمد افضل خان یې باچا کړ. هغه یو کال وروسته د هیضې په ناروغۍ مړ شو او سردار محمد اعظم خان باچا شو.

امیرشیرعلي خان د هرات څخه راروان شو او د عبدالرحمن او اعظم خان قواوې له کابله مخ له راغلې، څو په شش ګاو کې (غزني ته نژدې) جنګ وشو. عبدالرحمن او اعظم خان مات او د وزیرستان کاکړستان بلوچستان له لارې ایران ته وتښتېدل، اعظم خان په ایران کې مړ شو او عبدالرحمن خان بخارا ته ولاړ او بیا په سمرقند کې د روسانو تر نظارت لاندې یولس کاله واوسیدی.

امیرشیرعلي په ۱۸٦۸م کې یو ځل بیا کابل ونیوی او په دې توګه یې د باچهۍ دوهمه دوره پیل شوه، خو د امیر له غاړې یې د ورونو لاسونه خلاص نشول او ددغه بې بخته امیر د غمونو داستان دا سې څه ساده نه ؤ، بلکه په دې پسې یې د زوی یعقوب خان بغاوت وکړ البته په دا ټولو ناملایماتو کې انګریز لاس درلود.

دامیر شیرعلي یوه عمده کمزوري دا وه چې د ګرانې ماندینې عایشې تر سخت تاثیر لاندې ؤ،

دا بنځه د امیر د کاکا لور، یعنې د میر افضل خان لور او ډیره ښکلې وه، د دغې ښځې څخه د امیر زوی عبدالله جان د همدغې ښځې په غوښتنه امیر د ولیعهد په توګه اعلان کړ، دا وخت دا یو اووه کلن هلک ؤ، خو امیر ځوانان زامن درلودل، یعقوب خان یې چې یو وخت د هرات والي ؤ د امارت په کار و کې د امیر اوړ دوه، هغه چې د پلار دا بې انصافي ولیدله کندهار ته وتښتیدی او له هغه ځایه یې پر هرات حمله وکړه. دا ۱۸۷۰ کال ؤ، او د هرات حاکم فتح محمد خان یې ووژی، بله بلا چې پلار یې جنرال فرامرز خان ورولیږی دغه سړی د انګریز د یو ایجنټ کریم بخش هندوستانی په توطئه مړ شو او پر یعقوب خان تاوان شو.

شیرعلی خان سخت عصبي ؤ چې یعقوب خان نادم شو او د توبې ایستلو لپاره په کابل پلار ته ورغی، پلار هم سمدستي زندان ته واستاوه، په دې وخت کې د هندوستان وایسرای نارت بروک په یوه فتنه پاڅونه امیرشیرعلي ته یو لیک راولیږی او ورته وی لیکل، تاسې چې کومه وعده کړې وه او د هغه په اساس محمد یعقوب خان کابل ته راغی، تاسې باید دا تعهد مات نه کړی او ښایی په دې توګه په نیکنامه او د انګریز دوستۍ به موهم په برخه وي.

دی لیک د امیر پر ککره د یوه خطرناک زیګنال کار ورکړ او دا اشتباه یې وکړه چې یعقوب خان د انګریز په حمایت کې ځان سپارلی په داسې حال کې چې داسې نه وه او دا د انګریز یوه بله توطیه وه چې امیر ته یې په کورنۍ کې مخالفت پیدا کړ.

څرنګه چې شیرعلی خان سریع الاشتعاله سړی ؤ، نو د نارت بروک په ځواب کې یې هغه ته ولیکل: زه نه پوهیږم چې ته ولې ماته زما د زوی سپارښتنه کوې او د هغه زوی په باب چې اعمال یې زما د خجالت سبب دی.

لکه د وبسرای لیک چې امیرشیرعلی ته د راتلونکو بدو پیښو د وقوع یو زیګنال ؤ، همدارنګه د امیر دا لیک وبسرای ته هم دامیر سره د بریتانوی هند د راتلونکو اړیکو د بدیو یو زیګنال ؤ.

امیر ترقي خوښونکی سړی ؤ، خو د لیونتوب تر حده عصبي ؤ، ډیر ځله په کور ننوتی، یوه هفته به نه راوتی، کله چې به عصبي شو نو بد کلمات به یې استعمالول، خو که به د انګریز له خوا ناخواله ورسره وشوه په زوره به یې ناري وهلې چې دا د ارنوت قوم غواړي ما خپل قوم ته سپک کړي.

امیرشیرعلی د افغانستان په پاچهانو کې لومړی پاچا دی چې پتلون او کرتی یې واغوستله او توپی پر سر کړه. د دسګرټ هم څکول او ډوډۍ خوړلو ته پر میز او څوکۍ کښینستی.

دد هر دورځ د اروپا اخبارونه مطالعه کول او قاضي قادر ورته ترجمه کول، هغه قاضي قادرو چې د د سیاسي مشاور ؤ، خو په حقیقت کې د انګریز پوځ جاسوس ؤ.

امیرشیرعلی به ویل زما پلار او نیکه دا اشتباه کړې وه چې ډیرې ښځې یې وکړې، خو زه دا کار نه کوم.

## ٤- د امبالي په کنفرانس کې د امیر د لهجې صراحت انګریزان بیا مشکوک کړل:

په ۱۸٦۹ کې چې امیر ددوهم ځل لپاره باچا شو، نو انګریز بلنه ورکړه، امیر د لارد سرجان لارنس سره آشنا ؤ، دا مهال د هغه پرځای لارد ایو ویسرای شوی ؤ او په لندن کې د لیبرالانو حکومت او ګلادستون صدراعظم ؤ. لاردمایو امیرشیرعلی ته محترمانه بلنه ورکړ داو امیرهم د یوه مفصل هیأت په مشری د هند امبالي ته ور روان شو. د هیأت په غړو کې سیدنورمحمد شاه، جنرال حسین علی خان، ارسلاخان، عصمت الله خان، میرزا محمد نبی خان دبیر، شاغاسی شیردل خان او دده کوچنی زوی شهزاده عبدالله جان چې تازه یې ولیعهد کړی ؤ او یو دفرقه عسکر هم ورسره وو.

امیر د ۱۸٦۹ کال د مارچ په ۲۷ د هندوستان د ویسرای لارد مایو سره په تشریفاتو وکتل.

امیر په صراحت وویل چې د انګریز تړونونه ټول یو جانبه دي او باید دا نقیصه رفع شي، ددد جمرود لومړی تړون چې په ۱۸۵۵ کې دده له پلار سره شوی ؤ په مثال کې یاد کړ او وی ویل ددغه تړون په دریمه ماده کې لیکل شوي دي چې د ختیځ هند د کمپنی دوستان به د امیر دوستان او د کمپنی دښمنان به د امیر دښمنان وي، په داسې حال کې چې دا باید بالمقابل وای یعنی د بریتانوی هند طرف هم د غسې مسؤلیت اخیستی وای. په دې وخت کې سیدنورمحمد شاه د خپلې دوسیې څخه یو طرح ورواندې کړه چې د امیر دوست محمد خان د وختو د قراردادونو د غسې یو جانبه برخې یې اصلاح کړې وې او هم یې د انګریز له طرف څخه غوښتي وو چې د امیر شیرعلی د زوی عبدالله جان ولیعهدي قبوله کړي.

د لاردمایو ورځی سره کش شوی په چټکی یې پر دغو پاڼو نظر وځغلاوه وروسته یې پاڼی مخ ته کینښوولې او څو شیبې پټه خوله شو، غالباً ویسرای به فکر کاوه چې دا طرح تائید شي، نو په افغانستان کې د انګریز د هرډول لاس وهنې لاربندیزي او د ولیعهد په قبلیدو به د امیر لپاره دده سردارانو او وروڼو د توطیو مخه بنده شي.

لاردمایو دا طرح رد کړه او امیر ته یې په یوه مکتوب کې ولیکل چې انګریز خو د چا په داخلي چارو کې مداخله نه کوي خو وخت ناوخته به مرسته و نه سپموو، او علاوه پر دې انګریز به ستاسې په ښارونو کې انګریز نژاده نماینده مقرر نه کړي.

امیر له دغه کنفرانسه مأیوسه راغی او انګریز هم د امیر له صراحت څخه سخت ټکان وخوړ او پر دې مشکوک شو چې امیر به انګریز ته وفاداره پاته شي نو له همدغه ځایه یې هم خپل جاسوسان

د امیر په دربار کې په کار واچول، لکه: جنرال کریم بخش، بهادر غلام نقشبند، فتح علي او عبدالمجید او د دا ټولو په سر کې قاضي قادرو چې د امیر د پټو او ښکاره کارونو اجرا کوونکي ؤ او ورځنی راپور یې انګریز ته رساوه. علاوه له دې د امیر په کورني کې سردار ولي محمد لاټي، سردار محمد حسن خان، سردار محمد اسلم خان، د امیر ورونه او سردار شیرعلي خان د مهردل خان کندهاري زوی هغه کسان وه چې انګریز ته یې پټ خدمتونه کول ،خو کوم چا چې د امیر د سر کاسه له خاورو ورډکه کړه هغه قاضي قادرو ؤ چې د امیر په بغل کې یې ځای نیولی ؤ.

د امبالې په کنفرانس کې ډاکټر بیلو د امیر ترجمان ؤ هغه وایي چې امیر او د افغاني هیأت ټولو غړو دریشي کړې وې یوازې سیدنورمحمد شاه په وطني کالو کې ؤ. د مجلس په جریان کې چې به امیر خپله خبره خلاصه کړه په هغه پسې به سیدنورمحمد شاه د امیر مطلب په ډیپلوماتیکه لهجه یو قانومند مطلب ورځخه جوړ کړ. انګریزانو د امیر او سید نورمحمد شاه پر سیاسي بصیرت آفرین ووایه. په کنفرانس کې د امیر ټوله تلاش دا ؤ چې افغانستان د تجرید له چوکاټه وباسي، خو دې تلاش نتیجه ورنه کړه.

## ۵ - د سیستان مسأله او د ګولډسمت حکمیت:

پس له هغه چې پر هرات د ایران د تجاوز لاس د پارس د تړون(۱۸۵۷) په اثر قطع شو، نو دا ځل یې د افغانستان په جنوب لویدیځ کې سیستان ته لاس راوغزاوه، البته دا په افغانستان کې د امیر شیرعلي د مصرفیتونو ځخه یو د فرصت طلبي وه او دا هم نښي نفي کیدای چې په دې کې به انګریز لاس نه درلود ، ځکه د یعقوب خان په قضیه کې د ویسرای نارت بروک مداخله او د امیر درشت ځواب انګریز ډیر په قهر کړی ؤ.

ایران په غرضي توګه د سیستان یو د برخه د «قاین» چې د ایران سیمه وه ضمیمه کړه او له دې سره د ایران او افغانستان ترمنځ جنجال را اوچت شو. ځرنګه چې د ایران او انګلیس ترمنځ د پاریس د تړون (۱۸۵۷) په اساس په داسې قضایاؤ کې حکمیت باید انګریز ته سپارل شوی وای، نو ایران مراجعه ورته وکړه او انګریز هم د ګولډسمت په نامه یو انګریز دې کار ته وګمارده او د افغانستان او ایران هیأتونه یې هم وغوښتل.

د افغانستان له خوا صدراعظم سیدنورمحمد شاه اود ایران له خوا میرزا معصوم خان د ګولډسمت سره کمیسیون او پس له ډیرو خبرو چې کومه پریکړه وشوه هغه د افغانستان په زیان وه، سیدنورمحمد شاه مخالفت وکړ، خو اخیر یې په تهران کې پر هغه نیم بند دامین ووایه، خو امیر شیرعلي خان د انګریز ځخه سمنت خپه شو.

په ۱۸۷۲ کې د انګریز حکومت امیر ته بلنه ورکړه چې د دغې مسألې د حل لپاره برېتانوي هند ته سفر وکړي، خو امیر دا دعوت رد کړ او کابل ته یې د دغې مسألې د توضیح لپاره د انګریز د نمایندګانو له راتګ سره هم موافقه و نه کړه، خو خپل صدر اعظم سید نور محمد شاه یې د ۱۸۷۲ کال په اپریل کې سملې ته واستاوه. د دغه کال په جولای کې خبرې پیل شوې، خو د سیستان تور مسأله هاخوا ته نور مسایل بحث ته ولویدل. ویسرای نارت بروک او د هغه د باندنیو چارو وزیر برآلا سید نورمحمد شاه ته وویل چې امیر باید غیر له انګریز څخه بل د هیڅ سره اړیکې و نه لري، البته دا مطلب یې په یو با نزاکته پوښ کې ادا کړ چې امیر باید په سیاست کې د انګریز مشوره واخلي. همدا رنګه یو انګریزي هیأت په موقته توګه پریږدي چې د افغانستان سرحدونه معاینه کړي او په بلخ، هرات او کندهار کې د انګریز سیاسي او نظامي نمایندګان په دایمي توګه قبول کړي.

د سیستان په باب انګریزي طرف په بې میلي یو څو خبرې وکړې، نور د مذاکراتو توجه تولو دې خواته وه چې پر امیر د زړې (تجرید) پالیسي پرې را تاو کړي. خو سیدنورمحمد شاه د مقابل خوا نظریات یو په بل پسې د احترام په ډکه لهجه رد کړه او ویې ویل: لومړی په کار دی انګریز امیر ته د خپلې دوستۍ یو ه بیلګه وړاندې کړي، د امیر د نماینده سید نورمحمد شاه مقصد دا ؤ چې امیر ته د یو باثباته دولت په قایمیدلو کې مرسته او تضمین ورکړي خو انګریز ځان نه پوهاوه، پنځلس زره ټوپکه او لس لکه روپۍ یې ور واستولې، امیر ټوپک قبول کړه خو پیسې یې وانخیستې، دا هم انګریز ته سخته تمامه شوه چې امیر ولې په د غسې غرور پیسې وانخیستې.

د سیستان مسأله چې د ګولډ سمت په غیر عادلانه فیصله د افغانستان د خواشینۍ باعث وه، هما غــ ې لا پخپله راتلونکې ته پاته شوه.

# لسم فصل

## د رفورم او د سیاسي تفکر د خاوندانو راپورته کېدل

### ۱ - د شیرعلي خان په رفورمونو کې د سیدجمال الدین نقش:

د امیرشیرعلي خان د باچهی په دوهمه دوره کې چې په اداري، فرهنګي او نظامي برخو کې کوم اصلاحات راغلل او د یوه متمدن دولت د تأسیس هڅې پیل شوې په دې کې شک نشته چې په هغه کې د باچا فهم او وسعت نظر اغیزه درلوده، ځکه هغه مهال چې امیر څوان ؤ او د پلار سره په بریتانوي هند کې اوسیدی نو د انګریزانو عصري اداره او د هغه مؤسسات یې پخپله ولیدل او په دې علماً قانع شو چې د ختیځ هر د تولنه وغواړي چې آزاد او ابرومندانه ژوند وکړي او د پردو له استعمار څخه فارغه وي، نو ورته په کار دي چې د عصریت او تمدن و چوکاټ ته ځان واچوي.

اداري نظام باید پر تولنه اصولي حاکمیت ولري، فرهنګ باید د خلکو ذهنونه روښانه کړي، اردو باید د عصر له اصولو سره وروزل شي. دا تولنه فکرونه د د پخپله هم کړي وه خو کله چې د پلار تر مرګ وروسته یې قدرت په لاس کې واخیست، نو د ورونو او خپلوانو سره په یې سر و پایه جنګونو کې را ښکیل شو او پنځه کاله د د آرامه ورځ ونه لیده او له دغو ناآرامیو څخه په عصبي رنځونو هم اخته شو.

سیدجمال الدین د کونړ د ساداتو د کورنۍ یو هوښیار او عالم شخصیت چې د امیر دوست محمد خان په دربار کې هم بلد ؤ او هغه امیر د خپل زوی محمد اعظم استاد مقرر کړی ؤ د امیر دوست محمد تر مرگ وروسته د غه ناآرامی د ه پخپله هم لیدې. سیدجمال الدین ۱۸۵۵-۱۸۵۷ کې یو ځل هند، عراق، شام او حجاز ته سفر کړی ؤ او د منځنی ختیځ له جریاناتو او د هغو له علتونو ځخه پوهیدی. کله چې بیرته وطن ته راغی، بیا د لوی امیر مرگ واقع شو او په هغه پسې شیرعلی خان د ورونو سرداخته شو. نو دوهم ځل چې امیر شیرعلی قدرت تر لاسه کړ او محمد اعظم خان ایران ته وتښتیدی د شیرعلی د دربار توطیه گرانو امیر ته دا خبره ورسوله چې سیدجمال الدین د محمد اعظم خان استاد دی او ستا سره همکار کیدای نسی، په دې جمله کې محمد رفیق خان لودی د سیدجمال الدین له نفوذ ځخه ډاریدی، نو د باچا نظریې خراب کړ او هغه په اشاره سیدجمال الدین په دې پوه کړ چې د باندې ولاړ شي، خو نه د ایران له لارې.

وایی چې سیدجمال الدین کله د وضه روانیدی د امیرشیرعلی لپاره یې د اصلاحاتو یو مفصل طومار لیکلی او هغه ته یې وسپارل. په دې طومار کې په مفصله توگه هغه رفورمونه یاد شوي وو چې د امیر په ذهن کې د هندوستان په ټولنه کې د اوسیدنې ځخه په پاشلی توگه ځای شوی وه.

سیدجمال الدین د عصری کابینې، مواصلاتو، مطبوعاتو، معارف، اردو او حتی اقتصاد په باب د ده ته یادونې کړې وې.

د دامیر شیرعلی ته لیکلی وو چې انگریز د ټول مشرق دښمن دی، خو په دښمنی کې په دې کامیابه دی چې په شرق ټول نظامونه د استبداد پر بنسټ ولاړ دي او خلک د ناپوهی ځخه د خرافاتو په کنده کې پراته دی او د غو ملتونو ته د نجات ورکولو وظیفه د باچهانو پر عهده ده.

په دې توگه امیر شیرعلی د سیدجمال الدین هدایتنامه عملي کړه، سیدجمال الدین له وطنه ولاړې او بیا رانغی نو که عملاً د ده نقش په دغو رفورمونو کې نشته خو د ده نظریات بې اغیزی هم نه وه.

## ۲ - پر عصری پرنسپونو بنا دولتي تشکیلات:

په ۱۸۷٤ کې امیرشیرعلی اداري تشکیلاتو ته پاملرنه وکړه. دا د افغانستان په تاریخ کې لومړی ځل ؤ چې په عصری شکل دی یوه کابینه جوړه شي. په دې کابینه کې صدراعظم او وزیران پیژندلي د بنه نامه خاوندان او تر ډیره ځایه باسواده او د کار په سطح کې هم پوهیدلی خلک وو.

د امیر عالیجنابی دا وه چې په دې کابینه کې یې یو نفر هم د خپلې کورنۍ یا سردارانو ځخه داخل نه کړ او ددې لومړنی رفورم جوهر همدغه ټکی ؤ.

په دې نویو تشکیلاتو کې لومړی امیر د ۱۲ کسو خبیرو شخصیتونو یوه شورا جوړه کړه چې په رأس یې دی پخپله ؤ، ددې شورا وظیفه تقریباً مشورتي وه او امیر ته یې په کارونو کې مشوره ورکوله. په دې پسې یې کابینه له دې لاندې اشخاصو څخه جوړه کړه چې د وظایفو عنوانونه یې د دد په امر پښتو ایښوول شوي وو، خو دا کلمات زیاتره نامانوسه دي.

۱- سیدنورمحمد شاه کندهاری لوی تول مختار (صدراعظم)

۲- حبیب الله خان وردک لوی ملک (وزیر مالیه)

۳- ارسلاخان جبارخیل لوی مین د باندې (وزیرخارجه)

٤- عصمت الله خان غلجی لوی مین د غرو (داخله وزیر)

٥- میرزا محمدحسن خان لوی کنبل (د حضور سرمنشی)

٦- حسین علی خان پنجشیری تول مشر (سپه سالار - وزیر جنگ)

۷- احمد علی خان چغتایي لوی تولول (د خزانې وزیر)

ددې په اړخ کې د پوستي اداري په مرکز او ولایاتو او پېښور کې جوړې شوې چې نه یوازې یې د خلکو ارتباطات ساتل، بلکه د دولت په ارتباطاتو کې یې هم ژورې اغیزې درلودې.

امیر منظم پلان درلود چې د ولایاتو تشکیلات د یوه چوکاټ کې واچوي، خو د وروسته پاتې تولنې ستونزې هوارول ساده کار نه دی او ډیر کارونه معطل پاتې شول.

تر تولو هاخوا ته انگریز قطعاً نه غوښتل چې دلته دی یو منظم او باثباته دولت منځته راشي، خاصتاً چې د امیر په بغل کې یې قاضی قادرو غوندې جاسوس هم درلود، هغه به هره تانسته چې امیر سره پیوند کړ دده به په خپل تفتین هغه وروپاشله. امیر به زیاتره سید نورمحمد شاه ته اجازه ورکوله چې پخپله د کابینې غونډه دایره کړي او ریاست یې وکړي، امیر به په فوق العاده وختو کې د کابینې غونډې ته ورتلې.

سیدنورمحمد شاه صدراعظم د امیر ډیر اعتمادي ؤ او هم دغسې لیاقت یې درلود، ډاکتر بیلیو انگریز چې د امبالې په کنفرانس کې د امیر ترجمان ؤ وایي، نه یوازې ما، بلکه ویسرای او د مجلس هر گډون کوونکي انگریز تعجب کاوه چې دا سړی د سیاسی مسایلو په برخه کې له دومره وسیع مطالعې څخه څرنگه برخوردار شوی ؤ، دده ویل امیر د هر وزیر سره جلا مجلسونه هم کول او د وضع په باب یې ددوی نظر غوښتې.

په تشکیلاتو کې یو شی چې امیر سخت کمبود درلود هغه یوه منظمه اطلاعاتي اداره وه، امیر او دده تولو همکارانو تر پایه ددغې نقیصې چاره و نه کړه او دغې ناحیې څخه یې ډیر زیانونه ولیدل.

## ۳- د عصري مطبوعاتو ځلیدل او د سیاسي مفکرینو ظهور:

هغه مهال چې امیر د پلار سره په هندوستان کې د سیاسي تبعید ورځې تیرولې، نو دده پاملرنه عصري مطبوعاتو جلبوله او د یوې تولنې د روښانه کیدو او ویښتابه لپاره یې د غسې مطبوعات اغیزناکه وسیله بلله. په دې پسې سید جمال الدین هم په خپله وصیتنامه یا هدایتنامه کې امیر ته د عصري مطبوعاتو د رواج توصیه کړې وه. د ... مساعدتونو په استفاده د هغه وخت یو منور سړی میرزا عبدالعلي په ۱۸۷۳ کې د «شمس النهار» په نامه یوه جریده خپره کړه چې د هغې شکل او تر یو ځایه محتوایې د عصري مطبوعاتو نمایندګي کوله.

دا جریده په لومړي سر کې په ۱٦ مخونو کې په هفته کې دوه ځله خپریده. د جریدې په متن کې دولتي اعلامیې، خبرونه، مقالې او ادبي لیکنې خپریدلې. د جریدې ژبه فارسي وه، خو ځینې پښتو لیکنې هم پکښې لیدل کیدې. د لیکنې ژبه یې ډیره سخته او پخوانۍ مقیده فارسي وه چې یو ساده مطلب به په ډیرو اضافي کلماتو کې افاده کیدی.

جریدی زیاتره د دولت به ګټه تبلیغ کاوه، مثلاً دا لیکنه وګورئ: «برضمیر صاحبان فضل و کمال والیان باعز و جلال مخفی و محتجب نماناد که دراین اوان سعادت اقتران که خلایق ممالک افغانستان و ترکستان به زیر سایه هما پایه امیرشیرعلی خان در نهایت امن و امان و آسایش دارند و رعایای و شرفای این دیار متوجه کمالات ګردیده و شوق و دیدن اخبارات و حصول فواید ازآن ورزیدند، لهذا اقل العباد میرزا عبدالعلي حسب الفرمایش احباب اخبار صدق اثار مسمی به شمس النهار را در مطبع کابل جاری نمود.»[1]

دې جریدې د خلکو د اذهانو د روښنایې له پاره جدي کار کاوه، لکه په یوه مقاله کې چې لیکي: د افغانستان خلکو د پوهې له کرنې څخه زیان لیده چې هغه یې پر انګلستان په لږ بیه خرڅوله او د هغو په عوض کې یې ګران او قیمت توکران لاس ته راوړل او دا له دې کبله ؤ چې د غو خلکو خپل علم او کمال نه درلود.[2]

د کابل په د غه مطبعه کې به ځینې کتابونه او رسالې هم چاپیدلې چې په دې جمله کې د قواعدو رساله د امیر په امر د محمد ابراهیم خان په وسیله ترجمه او چاپ شوې ده. همدا رنګه یو شمیر نور آثار هم ولیکل شول یا ترجمه شول او چاپ شوي دي. د غه د عصری مطبوعاتو کار

(۱) محمد کاظم آهنګ. مطبوعاتو ته یوه کتنه په ۱۳۵۱ کې د کابل چاپ، ۴۸مخ
(۲) هم هغه تر مخنی اثر ۴۹مخ.

کوونکې هغه لومړی سیاسي مفکرین دي چې د وطن د آبادۍ لپاره یې یوازې توره کافي نه بلله، بلکې علم او عقل یې حامي بلل.

ددې فکر مؤجد البته سید جمال الدین او که د انصافه تیر نشو پخپله امیر شیرعلي هم ؤ. ددغه قشر بل لوی سړی سید نور محمد شاه صدراعظم ؤ چې په عصري تشکیلاتو کې یې غټه برخه درلوده او یو سیاسي منور مفکر ؤ.

همدا رنګه د سید نورمحمد شاه صدراعظم د کابینې وزیران ټول باسواده او منور خلک وو، ارسلاح خان وزیر خارجه، حبیب الله خان وزیر مالیه، میرزا محمد نبي دبیر او داسې نور زیات کسان وو حتی قاضي قادرو سره له دې چې د انګریز جاسوس او وطن ته خاین سړی ؤ خو په فرهنګي کار کې یې برخه درلوده، دی د امیر مطبوعاتي منشي او ترجمان ؤ.

امیر ته د هندوستان او انګلستان ټول جرايد راتله او هغه همدغه قاضي قادرو ورته ترجمه کول، یعنې باچا یو خبیر او روښانه سړی ؤ. په دې توګه په هیواد کې عصري مطبوعات او د سیاسي تفکر د خاوندانو نوی قشر راپورته شو، خو انګریز چې ددې تنویر دښمن ؤ د افغان او انګریز په دوهم جنګ کې یې هغه ټول له منځه یوړل.

## ٤- د عصري اردو تشکیل:

امیرشیرعلي خان د یو باثباته دولت د جوړست او ټینګښت لپاره د عصري اردو تشکیل لومړنی ضرورت باله. دی په دې پوره قانع ؤ چې پخوانی لښکری د پخوانی نظم په چوکاټ کې نن د جنګ په میدان کې توان نه لري، ځکه د جنګ تخنیک او تعلیم و تربیه نوي شوي دي. په خاصه توګه امیر د افغانستان جغرافیايي موقعیت چې ددو زبرځواکونو په منځ کې واقع ؤ ددې مستلزم باله چې د یوې منظمې عصري روزل شوي اردو په وسیله وساتل شي.

دده حسین علي خان د یو شمیر تجربه لرونکو صاحب منصبانو سره مؤظف کړ چې د اردو تشکیلات نوي کړي، خو کله چې د امبالې کنفرانس لپاره هند ته ولاړ نو هلته یې یو شمیر مسلمان هندوستانیان چې د اردو د کار متخصصین وو استخدام کړه. سردار بهادر غلام نقشبند، عبدالمجید او فتح علي خان د افغاني اردو روزنې هغه لومړني ښوونکي وو چې امیر له هنده ورسره راوستل. خو متأسفانه دا جاسـ ـان وو.

د اردو د نوي چوکاټ له مخې په سیمه ایز لحاظ اته مرکزه اردو نه وټاکل شول چې نظامي قطعات هلته ځای پرځای شول. دا مرکزونه کابل، جلال آباد، شیرآباد، کندهار، کورم، هرات، مـمنه او بلخ ؤ.

ددغه نوی تشکیل حساب پر غنډانو ؤ او په لاندې شمیر ود:

۶۲ پیاده غنډ، هر غنډ ۶۰۰ نفره، ټوله ۳۷۲۰۰ نفره

۱۶ سپاره غنډه هر غنډ ۶۰۰ نفره، ټول ۹۰۶۰ نفره

د فیلانو، آسانو، قاطرانو او غویو کشولو د توپخانې افراد ۵۱۹۰ نفره

په دې توګه ټوله منظم وسله بند عسکر په ۱۸۷۲ کې مجموعاً (۵۱۰۹۹۰) نفر ده. له دې څخه علاوه (۸۰) زره پیاده او (۱۶) زره سپاره غیر منظم ایله جاری هم ورسره ملګری وه، وسله یې چې مختلف ډولونه وه (۴۰۸۲۵) انګریزي او افغاني توپکونه ... (۳۶۹) انګریزی او افغانی توپونه هم ورسره وه. انګریزانو د ۱۹۷۷ تر مارچ پورې ۲۹ زره توپکونه ایر ته اهداء کړی وه.[1]

پیاده افرادو ته د میاشتې اوه روپۍ نقدې او هغه سپرو ته چې آس به ورسره حاضر ؤ ددغه دوه چنده معاش ورکولی. عسکرو منظم یونیفورم درلود چې (خولی، پتلون، کرتی او بالاپوش) څخه عبارت ؤ.

افسرانو او منصبدارانو هم نظامي یونیفورم استعمالاوه او حتی پخپله باچا به زیاتره په نظامي یونیفورم کې دربار ته راتی خو کله چې به یې د اردو معاینه کوله نو حتماً به یې نظامي یونیفورم اغوستی د اردو د روزنې لپاره یې په ځینو وختونو کې نظامي تطبیقات کول او کله کله به یې د خلکو د ننداري لپاره عسکری رسم ګذشتونه جوړول.

دا واقعاً یوه منظمه او روزل شوی اردو وه چې د هغه وخت په ژبه (اردل) پلټن ورته ویل کیدل.

مګر په ډیر افسوس باید وویل شي چې کله انګریز پر افغانستان دوهم تجاوز وکړ، دغه خیالاتي امیر دغې اردو ته اجازه ور نکړه چې د انګریز سره وجنګیږي. د انګریز پاخه پوهان وایي چې که امیر په دغه اردو د انګریز سره جنګیدلی وای، حتماً بریالی کیدی.

## ۵ – عمراني فعالیتونه:

د امیرشیرعلي خان په وخت کې د کابل ښار هم هغه پخواني تنګ او د یوې منظمې ښاري نقشې څخه بې برخې ښار ؤ، د بالاحصار ختیځ او شمال ته او یوه برخه شمال غربي خواته تنګې کوڅې غزیدلې وې.

که څه هم د احمدشاه بابا په وخت کې چې دا ښار ترمیم کیدی نو د هغه وظیفه دار سردار جان خان یو څو پراخې کوڅې د لاهوری دروازې جنوب لویدیځ ته جوړې کړی او په دې پسې چې د رانی تیمور شاه پایتخت کابل ته رانقل کړ، نو د دراني سردارانو په نامه ځینې ځایونه جوړ شول خو د

[1] پرهاند حبیبي، د افغانستان مختصر تاریخ، دوهم ټوک ۱۲۳مخ.

باچهانو پاملرنه یوازې بالاحصار ته وه چې په هغه کې یې نوې ودانۍ جوړولې.

دښار یو ځو محدود بازارونه چې د بالاحصار شمال ته واقع وه دومره تنګ وه چې د یوه طرف د دکاندار لاس به د بل طرف دکاندار ته رسیدی.

امیرشیرعلی خان لکه نورو مـــابلو ته چې متوجه ؤ دا یې هم له نظره نه وه لیرې چې یو نوی کابل جوړ کړي.

ددد کابل ښا و خوا د یوې ښارې نقشې د ښه تطبیق لپاره په دقیقه توګه تر نظر تیر کړل، البته د هغه وخت د شرایطو په مطابقت کې یې په حساسو جنګی وختونو کې د ښار دفاعي موقعیت ارزښت ته اساسي پاملرنه کوله.

په پای کې یې د اوسنی بی بی مهرو (بیمـارو) د غونډۍ ښا و خوا له هره پلوه مساعد او مناسب ځای وباله. دا ځای هم بالاحصار ته نژدې ؤ هم د غونډیو لوړوالی او ارتفاع د ارګ او نظامی مرکز لپاره اهمیت درلود او رابښکته ځمکې د ښار د کورونو او بازارونو لپاره پوره ګنجایش درلود. پس له ډیرو مشورو او مصلحتونو څخه یې د بی بی مهرو د غونډیو پر ښا و خوا دوه زره جریبه ځمکه د یوه ښار جوړښت ته تخصیص کړه چې هغه یې شیرپور وباله. دښار په سربیرنې خوا کې خارجی او داخلی دفاعی دیوالونه د ۲۰ فوتو په اندازه تر کار لاندې ونیول شول.

ددې ښـار کـار پـه ۱۸۷۰ کـال کې شروع شو چې د ورځې شپږ زره کسو کـارګرو او یو زر معمارانو ددې ښار د تأسیساتو په تعمیر کې کار کاوه، کارګران زیاتره عسکر وه چې علاوه پر خپل معاش د میاشتې پنځه روپۍ مزد هم ورکول کیدی.

ددې ښار اعمار تقریباً پنځه کاله دوام درلود او دیوالونه یې داسې پاخه جوړ شول چې ختیه به یې د پیلانو تر پښو لاندې پخیدله او کله چې به وچه شوه د برې غوندی به کلکه وه.

د مملکت د عمومی وضع خرابی د ښار کار سست او بیا پسې معطل کړ، ځو انګریز یرغل وکړ. کله چې امیر شیرعلی د کابل نه ووت ددې ښار ختیځ او لویدیځ دیوالونه لا نه وه جوړ شوی، ځو هغه مهال چې په کابل کې د انګریز سفیر کیوناری ووژل شو او د هغه په انتقام جنرال رابرتس انګریز کابل ته راورسید، نو خپلې قواوې یې په همدغه نوی ښار کې ځای پر ځای کړې او بیا چې کله له دغه ښاره انګریزان وتل، نو د یو شمیر ودانیو سرد بې باکی وشوی او خرابی وروړسیدی.

امیرعبدالرحمن خان چې باچا شو هغه شیرپور ته لاس هم ورنه وړ او دا ښار همدغسې پاته شو، خو په وروستیو کلونو کې د ښار په نوی نقشه کې بیخی له منځه ولاړ.

ACKU

# یوولسم فصل

## بحران او د سیاسي موازنو ګډوډیدل

### ۱ - د روسانو له خوا د خیوا اشغال او د انګریز له خوا د فارورد پالیسي لوځړې:

روسانو د مرکزي آسیا په سیمو کې خیوا ته د ډیر پخوا څخه سترګې برګې کړې وې د پنځوسمو کلونو په پای کې روسانو په یوه ډیره درنه او مجهزه قوه پر خیوه حمله وکړه ،خو د خیواخان دومره قوي ؤ چې روسان یې پر شا وځغلول، څو په اورانبورګ کې تکیه شول. له هغه تاریخه روسانو پر له پسې پر خیوا د اشغال په منظور تیاری نیوله، څو یې په ۱۸۷۳ کې دوامداره یرغل پیل کړ.

انګریز روسان په دې برخه کې څارل او د افغانستان باچا امیرشیرعلي خان هم ځان باخبره ساتی، انګریز غوښتل د افغانستان امیر په یوه داسې موقف کې راولي چې د روسانو د پیشقدمي څخه انګریز ته شکایت وکړي، خو امیر آګاهانه دا کار نه کاوه، حتی د امبالې په کنفرانس کې (۱۸۶۹) امیر د هند له ویسرای لارډمایو سره تر پایه د روسانو د پیشقدمي په باب یوه خبره هم و نه کړه، امیر پوهیدی چې د روس د پیشقدمي څخه اصلاً انګریز په اندیښنه کې دی او باید پخپله

د افغانستان مرسته وغواړي او د وسله بند کیدو غم یې وخوري.

د لندن او ستت پترزبرګ تر منځ ډیر لیکونه تبادله شول ،خو د روسانو هدف یو دخبرد کوله چې د وی د وحشي قومونو د رعیت کولو لپاره دا کار کوي چې هلته تمدن وروړي او د افغانستان په باب چې انګریز اندیښنه لري داډ ورکول کیږي چې هغه موږ د انګریز د نفوذ ساحه شمیرو او هلته د هیڅ ډول مداخلې اراده نه لرو.

انګریزانو داسي خیال کاوه چې دا خلک به بیا بې ډیر وخت روسان مصروف وساتي، خو په ۱۸۷٤ کې ناڅاپه په خیوا سقوط وکړ او روسي عسکر ورننوتل او دا انګریز ته یو ډیر لوی د خطر زیګنال ؤ.

په لندن کې د سیاست ماغزه ټول په بنور کې شول او د بارتل فریزر په نامه یو انګریز دا طرح وړاندې کړه چې افغانستان باید په مستقیمه توګه تر نفوذ لاندې راوستل شي او د سیاسي او نظامي پلوه د یوې نوې ادارې په چوکاټ کې ځای شي.

په همدغو تازه وختونو کې د لیبرالانو حکومت او د هغو صدر اعظم ګلادستون خپل ځای محافظه کارانو او د یزرائیلي ته ورپرېښی ؤ او یو ځل بیا هغه د انګریز او افغان د لومړي جنګ د وختو زوړ د فارورډ پالیسي متفکر مغز راولنسن د دیزرائیلي اړخ ته ځای ونیوی او هغه ته یې دا توصیه وکړه چې موږ د افغانستان او د هغه له لارې د مرکزي آسیا په مسایلو هغه وخت خبریدای شو چې هلته انګریز نژاده سفیر او مامورین ولرو.

د لندن په سیاسي دفترونو کې د افغانستان او مرکزي آسیا په باب د فارورډ پالیسي ټول مقررات فورمولبندي شول، په ۱۸۷٥ کې خان قلات (بلوچستان) او د انګریز د نماینده ترمنځ یو تړون لاسلیک شو چې د هغه په اثر قلات او کویټه د انګریز له خوا د نظامي مرکزونو په توګه یاد شول په داسي حال کې چې په ۱۸٤۱ کې د میر نصیرخان او انګریز ترمنځ په تړون کې کویټه د افغانستان سیمه بلل شوې وه.

د لندن څخه د هند ویسرای لارډ نارت بروک ته ولیکل شول چې د امیر شیرعلي سره تماس ونیسي چې انګریز نمایندګان ومني، خو نارت بروک چې د لیبرل ګوند غړی ؤ او د بلې خوا د دغه کار په خطر ناکو عواقبو پوهیدی تر وخت پخوا یې وظیفه پرېښووله او دیزرائیلي او لارډ سالسبري د راولنسن په سپارښت لارډ لیټن د هند ویسرای کړ چې هغه د افغان او انګریز د دوهم جنګ ماجرا وپاڅوله.

## ۲- د افغانستان وجود بې لزومه دی (لارډلیټن):

لارډلیټن چې د نارت بروک پر ځای د هندوستان د ویسرای په حیث راغی، اصلاً د لیونتوب تر حده عصبي سړی ؤ.

د لیبرالانو ویسراګان لکه لارډمایو او لارډنارت بروک که نور څه نه وه خو د ډیپلوماسي په حد کې عزتناکه شخصیتونه وه، ولې لیټن برعکس د هغو عصبي او د مقابل طرف عزت ته بې پروا ؤ.

لارډمایو د امبالې په کنفرانس کې د امیرشیرعلی سره او نارت بروک د سملې په غونډه کې د سیدنورمحمد شاه سره چې پر ټاکلو مسایلو خبرې کولې، نو د ډیپلوماسي اداب یې کاملاً مراعاتول او په مکاتبه کې یې هم دغه رویه پالله، خو لیټن همیشه د تهدید او قهر په ژبه خبرې او لیکنه کوله.

دی چې هند ته راغی، نو امیرشیرعلی ته یې لیک راولیږی چې یو انګریزی هیأت به د مستر لوین پیلی په مشری کابل ته درشی او د کابل او کلکتې تر منځ به پر خبرو وږغیږی، خو امیر په احترامانه لهجه جواب ورکړ چې په کابل کې د انګریزی هیأت راتګ د امنیتی پلوه مشکلات لري.

عصبي ویسرای چې دا ځواب ولید، نو په کابل کې یې د انګریز مسلمان نماینده عطاء محمد وروغوښت او د امیر په باب یې پوښتنې ورڅخه وکړی عطا محمد ورته وویل چې یو قلم باید ووایم چې هغه پر انګریز باور نه لری او وایی چې انګریز سراسر زما د منځه وړلو په تلاش کې دی، دده د امیر د غتیو شکایاتو په باب وویل چې انګریزانو د افغانستان خاوره (کویټه) د خپلې نظامي پایګاه په توګه بدله کړې ده، د پېښور کمشنر د امیر سره په غیر مؤدبانه لهجه مکاتبه کوی، په قراردادونو کې مساوي شرایط نه مراعات کیږي او داسې نور.

لیټن چې یو تندرو د فارووړد پالیسي پیرو ؤ د لندن د سیاسی حلقاتو د تفکر په چوکاټ کې بې غوښتل په زور سره د روسانو مخنیوی وکړی او ددې کار لپاره د هندوکش درستې درې باید دانګریز په عسکرو او وسلو مجهزې کړې، کندهار، هرات او بلخ باید کاملاً د بریتانوی هند د اداري نفوذ په ساحه کې واقع شی. کابل او غزني باید نظامي پایګاوې شي، شینواری او مهمند له ننګرهاره بیل او پښین او سیوی له کندهاره بیل او په بلوچستان پورې وتړل شی، همدارنګه خیبر، کورمه او بولان (نظامي ستراتیژیکی سیمې) باید په هند پورې وتړل شي، اساساً د افغانستان وجود بی لزومه دی او په دې باب باید جدي قاطعیت څرګند شي.

دا یوازې د لارډلیټن نظر نه ؤ بلکه لومړی شخص چې دا نظریې د فارورډ پالیسي پیروانو ته تلقیناوه هغه راولنسن ؤ چې د افغانستان او سیمې د چارو متخصص بلل کیدی. همدارنګه لارډ سالسبري او حتی صدراعظم دیزرائیلي دلټین په دفاع ولاړ ؤ، خو ډیر جدي مخالف چې د ډیرو قوي اسنادو پرمخ یې د غه د فارورډ پالیسي د تندروانو طرحې انتقادولې هغه د ګلادستون د حکومت د هند د چارو وزیر ډیوک اوف ارګیل ؤ چې په رښتیا د انګریز د ابرو ساتنې لپاره یې زیار ویوست، خو لیټن او نورو په کامله بې پروایی د انګریز د حیثیت جام د افغان او انګریز د دوهم جنګ په پیل کولو پرځمکه وویشت.

## ۳- د پیښور مذاکرات(سیدنورمحمد شاه- پیلی):

هند ته د لیټن د رسیدو سره د بریتانوي هند او افغانستان پر آسمان تورې لړې راخپرې شوې.

لارډلیټن په کابل کې د هند مسلمان نماینده عطاء محمد سملې ته راوغوښت او د هغه څخه یې د امیر د شکایاتو په باب پوښتنې وکړې، هغه هم د امبالې د کنفرانس څخه بیا تر اوسه د اوضاع په باب مفصل توضیحات ورکړل، خو لیټن هغه ته وویل چې هر څه کیږي امیر باید انګریز نژاده مامورین په خپل ملک کې ومني او که د انګریز غوښتنې و نه مني، نو باید وروفهمول شي چې افغانستان یو د غنمو دانه ده چې د ژرندې د دوو ډبرو تر منځ پرته ده. کله چې عطا، محمد په کابل کې د امیرشیرعلی سره خبرې کولې نو د لیټن دا خبره یې ورته وکړه چې افغانستان یو د غنمو دانه ده، امیر سروښوراوه او په نیمه خندا یې هغه ته وویل: لیټن اشتباه کوي، افغانستان د ترازو شاهین دی چې د هغه د دواړو پلو توازن پر برابریږي. د ګلادستون د لبرل حکومت غړي ډیوک اوف ارګیل وایي په رښتیا چې یو آسیایي زمامدار په خپل دراکیت او منطق زموږ د اروپایي دیپلومات لیټن په غاړه د حماقت دیپلوم وروځړاوه.

په هر صورت پس له ډیرو خبرو او مکاتبو څخه دا فیصله وشوه چې یو افغاني هیأت د پیښور د کمشنر لویس پیلي سره ځینې خبرې وکړي او امیر د غه کارته سیدنورمحمد شاه صدراعظم وټاکی چې په غړو کې یې میراخور احمدجان خان او میرزا محمد باقر هم شامل وو. دا هیأت د ۱۸۷۷ کال په جنورې کې پیښور ته لاړ او هلته د انګریز د نماینده سررابرت پیلي سره خبرو ته کښیناست. پیلي د لارډلیټن پر دې نظر ډیر زور لګاوه چې په افغانستان کې انګریز نژاده نمایندګان راولیږي، خو سیدنورمحمد شاه دا د جمرود د هغو معاهدو څخه مخالف عمل باله چې په ۱۸۵۵ - ۱۸۵۷ کې د امیر دوست محمد خان په وخت کې شوې وې. پیلي ورته وویل چې دا به یوه ضمیمه ورواچوو،

سیدنورمحمد شاه ورته وویل چې د انگریز سره زموږ معاهدات ټول یو جانبه دي، مثلاً یوازې دا هدایت کوي چې د انگریز دوست او دښمن به افغانستان ته دوست او دښمن وي، خو د افغانستان د طرف هیڅ یادونه نشته. که د ضمایمو ضرورت وي راځئ چې دا ټولو ته ضمایم ورواچوو.

د جنوري څخه د مارچ تر نیمایي پورې د سیدنورمحمد شاه او پیلي ترمنځ ډیرې خبرې وشوې، خو هغه نتیجه چې انگریز یې انتظار درلود تر لاسه نشوه. سیدنورمحمد شاه ورته وویل: انگریز په دې کار چې په افغانستان کې د انگریز مامورینو لپاره تلاش کوي ډیره سخته اشتباه کوي، موږ په پوره باور وایو چې دا کار ته افغانان جوړ نه دي او د څلویښتو کالو وړاندې د مکناټن تجربه مو هم له یاده لرې نه ده.

د همدغو خبرو په جریان کې د ۱۸۷۷ د مارچ په ۲٦ نیټه سیدنورمحمد شاه په ناڅاپي توگه مړ شو (دا یو مرموز مرگ دی) د ده جنازه کابل ته راوړل شوه او امیر د خبرو د جریان له پاره حبیب الله خان وزیر پیښور ته واستاوه، ولې پیلي ورته وویل چې لیټن وایي خبرې خلاصې شوې.

## ٤- سلطان عبدالحمید هم امیرشیرعلی دانگریز دوستۍ ته راباله:

د عثماني امپراطورۍ سلطان، عبدالحمید چې د روسیې تر تهدید لاندې ؤ او د ۱۸۷۸ په جنگ کې روسان تر استانبول پورې وررسیدل او د ۱۸۷۸ په پیل کې یې د سان ستیفانو تړون پر تحمیل کړ چې د هغه په اثر پر بالقانانو د روس حاکمیت جاري شو. خو انگریز د روس دا حرکت په ټوله اروپا او آسیا کې د روس او انگریز د نوې دښمنۍ اساس او عامل باله او ترکیې ته یې قوي مرستې ورکولې چې د روسانو سره اختلاف ته دوام ورکړي.

په دې توگه نو عثماني امپراطور د روس مخالف او د انگریز دوست ؤ، په همدغو وختونو کې امیرشیرعلی د بریتانوي هند د ویسرای لارډلیټن سره په جنجال کې ؤ او د انگریز څخه یې سخت نفرت کاوه، انگریز ته دا واهمه ډیره زیاته شوې وه چې امیر شیرعلی روس ته مراجعه او دعوت ورنکړي.

نو انگریزانو سلطان عبدالحمید ته، چې په هغو ورځو کې یې د خلیفة المسلمین اعتبار هم درلود، وظیفه ورکړه چې امیر شیرعلي ته یو هیأت ولیږي، څو هغه د انگریز د سیاست سره همنوایي ته راوبولي.

سلطان عبدالحمید د فوزي افندي په مشرۍ یو هیأت کابل ته راولیږی چې مستشار یې هدایت الله، باشکاتیب یې حسین او دوه تنه غړي د منیر او خیري بیگ په نامه ؤ. انگریزانو

غوښتل د هندوستان د مسلمانانو یو منور شخصیت سر سیداحمد خان(د انگریز طرفدار) هم ورسره ملگری کړی، خو وروسته یې هغه معطل کړ، ځکه امیر د هغو مسلمانو مامورینو څخه بنه نه راتله چې د انگریز په خدمت کې وه.

دغه هیأت د ترکیې د امپراطور سلطان عبدالحمید دوستانه لیک امیر ته ورکړ او نور یې مفصل مجلسونه ورسره وکړل. د سلطان په لیک او د فوزی افندی په صحبتونو کې دې ته ډیره اشاره کیدله چې امیر باید پر روس اعتماد ونه کړي او د انگریز د دوستي څخه هرڅه تر لاسه کولای شي.

په پای چې دا هیأت روانیدی، نو امیر په دې لاندې متن یو لیک سلطان عبدالحمید ته ولیږئ:

«ستاسو سفیر د انگریزانو په باب ستاسو اعلیحضرت نظریات راڅرگند کړل او گومان کوم د هغه مکتوب مفهوم چې ماته مو استولی او د اروپا د اطلاعاتو او پیښو په هکله د معلوماتو ارائه کول ؤ. دا هم پرته له دې څخه چې زیات زحمتونه وگالم د کومو اطلاعاتو له مخې چې له بیلو بیلو منابعو څخه مې په لاس راوړی دی، داسې معلومیږي چې روسي عسکر ستاسو د اعلیحضرت مقر ته نږدې شوی دی او انگریزان د هغه عادت مطابق چې تاسو ته یې د مرستې او کومک وعده کړی تر اوسه پورې بې طرفه پاته دی او د خپلو تعهداتو سره سره بیا هم نه غواړي چې له خپل معموله سیاست څخه منصرفه شي او دخالت وکړي، تول نړۍ ته روښانه ده چې د عثمانی امپراطوری او د انگریز د دولتو خلل ناپذیره دوستي له پخوا زمانو څخه تر اوسه پورې دغه دوه هیوادونه سره نږدې کړي دی، مگر د تأسف ځای دی چې په دغسې یو د بحرانی او وخیم وخت کې چې عثمانی دولت د انگریزانو هر راز مرستو ته اړتیا لري هیڅ راز اقدام نه کوي.

د انگریزانو په باره کې له دغو ملاحظاتو څخه وروسته دغسې نتیجې ته رسیدلی یم چې له څو مودې څخه را په دې خوا انگریزانو د دوستي او صداقت له لارې انحراف کړی دی او داسې فکر کوي چې هماغه فعالیتونه او قوتونه چې انگریزان پر هغه باندې افتخار کوي، روسان هم هغه لري او حتی په ځینو مواردو کې په تیره بیا د تعهداتو په سرته رسولو کې تر انگریزانو هم تیری کوي او زه شخصاً دې عقیدې ته رسیدلی یم چې نه بنایی د انگریزانو تعهداتو ته په اعتماد قایل شو.

که څه هم پوهیږم چې ستاسو اعلیحضرت زما د وروستي لیک په هکله چې په هغه کې مې د انگریزانو په باب خپل نظریات لیکلي او تاسو لیکلي دي چې په دې مورد کې چې د انگریزانو دوستي پرته له هغو الفاظو چې پر کنگلو (یخ) باندې لیکل شوي بل څه نه دی، زما له نظر سره موافقت نه لري. بیا ددا خبره یادوم، اوس اوس تاسې دې نتیجې ته رسیدلی یاست چې د انگریزانو دوستي د اعتماد وړ نه ده او بنایي چې پرې اعتماد ونه شي دا خبره ثابته شوی او تاسې

بې ګوري چې انګریزان د ضرورت په وخت کې خپل دوستان او ملګري هیروي او دوی پرته له مرستې څخه قسمت او سرنوشت ته پرېږدي، نو بیا هم هیله کوم چې دا ځلې زما عقاید او نظریات د انګریزانو په باره کې تر خاصې توجه لاندې ونیسئ، ځکه که انګریزانو عدالت او انصاف درلوده او خپل تعهدات یې تر سره کړي وای زمونږ مشکلات به هم رفع شوي وای، مګر هغوی یوازې د خپل زور په قدرت اعتماد لري او تل له مونږ سره په نخوت، تکبر او تحقیر آمیزه وضع رویه کوي، په مقابل کې د هغو مذاکراتو په اثر چې د روسیې له نماینده سره، چې اوس اوس په کابل کې دې کړي دي دا خبره راته ثابته شوي چې روسان د انګریزانو په نسبت له مونږ سره صمیمانه او شرافتمندانه وضع کوي او له دې جهته څخه خپله وظیفه بولم چې تاسو اعلیحضرت تهووایم چې د انګریزانو له دوستې څخه صرف نظر وکړي او له روسانو سره د اتحاد لاس ورکړئ.

له پاک خدای څخه غواړي چې عثماني عساکرو ته فتح او ظفر ورکړي او درست مسلمانان دې مظفر دولري. »(١)(١) فضل ربي پژواک، د افغانستان د بین المللي روابطو تاریخ ٨٢-٨٣ مخونه.***

ددې لیک متن د عثماني دربار څخه وړاندې په لندن کې د باندنیو چارو وزارت ته ورسیدی او د لارډسالسبري او په خاصه توګه د دیزرائیلي چې په دغو ورځو کې په لارډمیکانسفیلډ مشهور شوی ؤ تېول سیاسي مامورین او خاص الخاص د فارورډ پالیسۍ پیروان سخت عصبي شول او په اتفاق دې نتیجې ته ورسیدل چې په هند کې د انګریز ویسراي لارډلیټن ته اجازه ورکړي چې یوه بهانه او پلمه وپلټي او پر افغانستان حمله وکړي.

خو د دغه سیاست ډیر وران عواقب لا منځته نه وه راغلي چې د لیبرالانو سیاستمدارانو بیانونه خپرول چې د انګریز سیاست ناکامه دی او زمان دا وښوده چې په افغانستان کې یې یو ځل بیا هر څه بایلل.

## ٥ - کابل ته د روسي هیأت راتګ او بحران اوج ته رسېدل:

روسي یو هیأت د برید جنرال ستالیتوف په مشرۍ کابل ته راولیږئ. دا هیأت دن، اې زګونوف په مرستیالي راروان ؤ د (انګریزي او ترکي) ژبو ترجمانان، یو طبي ډاکتر او د یوه بریدمن تر قوماندانۍ لاندې د ٢١ تنو قازاقانو یو ه قوه ورسره وه.

دا هیأت چې د ستت پترزبورګ څخه مؤظف شوی او بیا په تاشکند کې د ترکستان د حکمفرما جنرال کوفمان له خوا تعلیم ورکول شوی ؤ په ناڅاپي توګه د آمو غاړو ته ورسید او د سرحد خلکو ته یې وویل چې دوی د امیر سره مجلس ته ځي، د مزار شریف لویناب شیردل خان امیر

شیرعلي خان ته احوال وکړ او هغه زړه نازړه دا نابللې میلمانه ومنل او د ۱۸۷۸ کال د جولای په ۲۲ کابل ته راورسیدل، امیر هم خپله میلمه پالنه پرځای کړه.

دوی امیر ته د کوفمان لیک ورکړ او داسې یې څرګنده کړه چې دوی غواړي د افغانستان او روسیې تر منځ د دوستۍ تړون وکړي او په دغه تړون کې د امیر د ګران زوی عبدالله جان ولیعهدي په رسمیت وپیژني.

امیر په دې هیله شو چې د دغه روسي هیأت له وجود څخه به د انګریز د تهدید لپاره کار واخلي خو انګریز د دې هیأت له راتګ سره سخت وارخطا شو او د امیر د باچهي د ړنګیدو تصمیم یې ونیوی.

د روسانو چالاکي دا وه چې په همدغو ورځو کې د برلین په کانګرس کې د اروپايي هیوادونو مشران راټول وه او انګریز د ترکیې په ګټه د سینټ ستیفانو د موادو پر الغا فکر کاوه او روسانو غوښتل کله چې د ستیفانو په تړون کې انګریز ته امتیاز ورکوي نو د افغانستان پر سر باید معامله وکړي او معامله نو دا وه چې افغانستان یې بوځل بیا د انګریز نفوذ ته ورخوشې کړ او په مقابل کې یې په بالقان کې د انګریز څخه امتیاز واخیست او بلغاریا یې منځ ته راوړه. روسانو ستالینوف په چالبازۍ رالیږلی ؤ او امیر یې استعمال کړ. دا د روسانو غټه تیګی وه، ستالینوف لا په کابل کې ؤ چې روسانو د برلین د کانګرس فیصله لاسلیک کړه، نو په پټه یې لیک او سړی په کابل کې جنرال ستالیتوف ته راواستاوه او ورته ویې ویل چې د افغانستانه په چل راووځه او د امیر سره هیڅ شی امضاء نه کړي.

پر امیر د انګریز فشار روان ؤ، روسي هیأت امیر ته داسې ورفهمولي وه چې دوی به د ېرې غټې قوې د امیر حمایت ته راولي، خو وروسته په پلمه جنرال ستالینوف د کابل ولاړ او کله چې انګریز د افغانستان پر سرحدونو حمله وکړه او امیر کوفمان ته حال ورکړ هغه په ځواب کې ورته وویل چې د زیتون پانه په لاس کې ونیسه او انګریز ته مراجعه وکړه، د زیتون پانه معنا دا چې د انګریز سره صلح وکړه.

د امیر څخه لار ورک شو او یو غیر عملي خیالي نقشه یې جوړه کړه چې دی به سنت پترزبورګ ته ځي او هلته به دولتونو ته شکایت کوي چې انګریز د غسې تیری کړی دی، امیر ته د انګریز د وایسرای لیټن لیکونه راورسیدل او د یو هیأت د راتګ هیله یې وکړه، خو عصبي امیر هیڅ شی قبول نه کړ. د سنت پترزبورګ په نیت له کابله روان ؤ ځو تر مزار شریف تیر نشو چې هلته د کانګرین په ناروغي مړ شو. په دغو ورځو کې د انګریز لښکرې افغانستان ته داخلې شوې وې او دا ټوله د یو غلط پلان او نافهمي څخه دا فاجعه منځته راغله.

## ٦- ترخه مکاتبه (د امیر شیرعلی خان او لارډلیټن تر منځ):

کابل ته د روسي هیأت راتګ د امیر شیرعلي په نسبت د انګریز سیاسي مامورین سخت په تشویش کې واچول او د فارورد پالیسي پیروان یې د لیونتوب تر سرحد هم واړول.

د بریتانوي هند ویسرای لارډلیټن داسې فکر کاوه چې امیر شیرعلي بس دده ناکامی ته ملا ترلې ده او د عصبیت څخه لکه لنبته خوړلی مار پر له تاویدئ، ځو د وضع معلومولو لپاره یې د یوه هیأت د رالیږلو تجویز وکړ او د امیر په نامه یې یو لیک ولیکی، دا لیک که څه هم کلمات یې ترخه نه دي، خو هغه د ډیپلوماتیکه انشا، او املا چې رواج ده په دغه لیک کې نه دده مراعات شوی او نو ځکه دا امیر ته یو ډول اهانت ؤ، دا دی د لیک د متن لنډیز:

« ... د هغه باوري اطلاعاتو په اثر چې په ورستیو وختونو کې د کابل د پیښو په باب ما ته له کابله او نورو ځایونو څخه رارسیدلي دي لازم ولیدل شو چې د غه لیک هغه اعلیحضرت ته ولیږم او بیا یې ژر تر ژره ځینې مهم مسایل چې د هندوستان ګټې پکې شاملې دي ستاسو اعلیحضرت په اطلاع ورسوم، ددې منظور لپاره لازم بولم چې یو خصوصي نماینده چې د انګلستان دولت په هغه باندې باور لري او د عالي درجو او مقام خاوند دی او ستاسو اعلیحضرت هم هغه پیژني کابل ته واستوم. دغه سړی جناب جنرال سرنیویل چمبرلین دی، نوموړی د عالي درجې ممتاز نښان او بازوبند خاوند او د مدراس د اردو قوماندان دی. دغه جنرال به کابل ته راشي چې پخپله ستاسو اعلیحضرت سره د مهمو او ضروري پیښو په باره کې خبرې وکړي... نو ځکه دغه مکتوب د هغه له راتګ څخه مخ کې د نواب غلام حسین خان په ذریعه چې د هند د حکومت یو امین او باوفا سردار دی ستاسې اعلیحضرت حضور ته واستول شو. نوموړی به د موضوع جزئیات د هند د حکومت د مخصوص نماینده د رسیدلو تر وخت کې د هغه اعلیحضرت حضور ته په عرض ورسوي او هیله به وکړي چې افغاني سردارانو ته خاص فرمان صادر کړئ چې په درسته لار کې له پېښور تر کابله پورې د هغه د سفر لپاره آسانتیاوې برابرې کړئ چې د انګلستان د دولت مخصوص نماینده افغانستان ته تیر شي. »(۱)

دا لیک د ۱۸۷۸ کال د اګست په ۱٤ نیټه لیکل شوی او امیر ته په هغه ورځ په کابل کې ورسید چې امیر د خپل ګران ځوانیمرګ زوی عبدالله جان پر جنازه ولاړ ؤ او دا د اګست ۱۷ وه. (۲)

---

(۱) د افغانستان د بین المللي روابطو تاریخ، ۸٤ مخ.

(۲) د دغه لیک د رسیدو په تاریخ کې اختلاف دی، خو زیاتره دا نظر لري چې همدغه د شهزاده د مرګ په ورځ رسیدلی دی.

امیر د خپل زوی د مرگ غم څلویښت ورځې اعلان کړی ؤ ،خو د انگریز هیأت تر دغې ورځې یوه هفته وروسته یعنی د اگست په ۲۵ د خیبر په دره کې علی مسجد ته داخل شو او زور یې ولگاوه چې کابل ته تیر شی ، ولی یو افغان سرحد ساتونکی افسر فیض محمد خان د هغو مخه ونیوله او ورته وې ویل مور به کابل ته خبر ورکړو هر کله چې هغوی اجازه وکړی بیا تاسې کابل ته روانیږی خو انگریزی هیأت په عصبیت پیښور ته روان شو . د لارډ لیټن دا پروژه چې په ناکامی کې یې د شهزاده عبدالله جان د مرگ تصادف بې اغیزی نه ؤ ، خو د لیټن او د هغه د اعوانو انصارو غساوت هم د فضا په تیاره کولو کې مرسته کوله او بدبینی یې په څپو راوستلې.

اول د چمبرلین تر مشری لاندې هیأت سره یو بل لیونی عصبی انگریز چې په کابل کې یې ځان د مرگ په خوله ورکړ ، کیوناری او زرکسه سپاره او څو توپونو سره راروان شوی ؤ او دا د یو هیأت ترحجم ډیر لوی ؤ.

نواب غلام حسین ته یې هدایت ورکړی ؤ چې امیر ته ووایی چې ډیر ژر روسی هیأت له کابله وباسی او انگریزی مامورین په خپله خاوره کې قبول کړی ، خارجی سیاست د انگریز تر هدایت لاندې اجراء کړی . ددې په عوض کې به انگریز د کاله دولس لکه روپۍ امیر ته ورکوی او هم به چې مړ څوک امیر معرفی کړی هغه به د ولیعهد په توگه ومنی (دا وخت عبدالله جان مړ شوی ؤ) .

د سپتمبر په میاشت کې د لندن اخبارونو پر له پسې ددغو جریاناتو تفصیلات خپرول او د هندی انگریزی اخبار (پایونیر) خو تر دې ځایه وړاندې تللی ؤ چې د بریتانوی هند حکومت ډیر ژر زره عسکر تهیه کړی دی او عنقریب به پر مرکزی آسیا حمله وکړی.

د هند له خوا په شفاهی توگه امیر ته زیات تهدیدونه راتلل ، بالاخره د ۱۸۷۸ کال د اکتوبر په ٦ نیټه امیر دا لاندې لیک چې تقریباً د ویسرای د پخوانی لیک ځواب ؤ د هغه په عنوان ولیږی:

«... زه ستاسې د لیک د مطالعې څخه په تعجب شوم ، ځکه دغه لیک له یو لړ تهدیداتو او تر خو عباراتو څخه مرکب ؤ او د یو دغسې مکتوب لیکل د یو دوست له خوا بل دوست ته او د یوه دولت له خوا چې د دوستی غوښتونکی دی حقیقتاً د تعجب وړ دی ، د رالیږلی هیأت راتگ که څوازې د زور له لارې وی د هغې نتیجه او ثمر به څه شی وی ؟ همدغه راز درې نور لیکونه چې زما مامورینو ته رسیدلی دی او زما سره موجود دی ، درست له ترخو او کرکیچنو عباراتو څخه ډک دی او د عادی او جاریه آدابو او رسومو مخالف دی ، په دې وخت کې چې زه او زما روح په یو دلوی مصیبت اخته یو د انگریز د دولت د مشرانو له خوا د همدردی اظهار او صبر او حوصله ما ته خورا ستر تسلیت ؤ ، نو ښه دا ده چې تاسو په نظر کې ولرئ چې بیړه او عجله د خبرو اترو د ځای د تعینولو په حقله او د مقصد د لاس ته راوړلو په عرض لزوم نلری د دوستی او نیک نیتی اظهار نورې لارې

لرې او پرته له دې څخه دې چې ستاسو د عمالو په وسیله تعقیب کیږي زما د مامورینو له خوا هیڅ راز عمل چې د آدابو مخالف وي سر نه دی وهلی او هیڅ راز دښمني بې د انګریز د دولت په نسبت نه ده ښوولې، هغوی نه غواړي که کوم هیواد سره جنګ وکړي، خو که کوم هیواد بې له دلیل او صحبت څخه زموږ له دولت سره د ښمني وکړي هغه وخت زموږ مقدرات د څښتن تعالی په لاس کې دي او څه چې د هغو اراده وي هغې ته تسلیم یو.»

دا دوه لیکه د غوني په توګه راوړل شول چې د اوضاع وخامت ورڅخه وفهول شي.

## ۷- انګریز د جنګ تصمیم ونیوئ:

بیچاره امیر چې لکه تر هیڅ دلی هوسي چې د لیوانو په منځ کې راګیر شی، د هرې خوا د مایوسي څپیږې پر مخ خوړلې، روسی سفیر جنرال ستالیتوف چې د برلین د کانګرس فیصله په پټه ورته رالیږل شوې وه او لاربښوونه ورته شوې وه چې هوش کوه د امیر سره پر کوم قرارداد لاسلیک ونه کړی، د کابل څخه په دې پلمه وتښتیدی چې د امیر سره د قرارداد د متن مسوده به تزار ته ورښیي او بیرته به راشي په داسې حال کې چې چالبازه روس د امیر پر سر خپله معامله وکړه نور یې ده ته احتیاج نه درلود، نو هسې یې ځان ځینې خلاصاوه.

انګریز سخت ورته خشمیدی او هغه سخت لیک یې ورته رالیږلی ؤ چې متن یې په ترمخنبو مخونو کې ولیکل شو، هسدا رنګه طبیعت هم جفا ورسره وکړه چې ځوان او ګران زوی یې (عبدالله جان) ورڅخه واخیست، بل ځوان زوی (یعقوب خان) یې اته کاله په بند کې ساتلی ؤ بل ځوان زوی یې (ایوب خان) په هرات کې ؤ چې لږ د امیر زور پر ورغلی ایران ته یې پناه یوړله. وروبه یې تولهٔ د انګریز په خدمت کې وو او د امیر د تباهي لپاره هریوه د اوظلبانه ځان میدان ته کاوه.

امیرشیرعلي چې کله د زوی له فاتحې راخلاص شو، نو یو ګیله آمیزه لیک یې د بریتانوی هند دربار ته د ویسرای په عنوان واستاوه (چې متن یې په ترمخنی مخونو کې راغلی دی) دا لیک بل څه نهٔ ؤ صرف یو ډول دوستانه ګیلې یې درلودی خو پر انګریز داسې ومنیت لکه پر اور چې تیل توی شي. ویسرای لاردلیتن سمدستی مرکزی حکومت ته خبرر ورکړ او ورڅخه وې غوښتل چې سمدستي دې افغانستان ته د جنګ اعلان ورکول شي او انګریزی لښکری دې افغانستان ته داخلې شي.

مرکزی کابینې د اکتوبر په ۲۵ ځواب ورکړ چې: «تر اوسه پورې اوضاع هغو اقداماتو ته آماده نه ده چې ویسرای ذکر کړې دی. د مرکزی حکومت په عقیده مخ کې تر دې چې زموږ عسکر د

افغانستان تر سرحداتو تیر شي په یوه معتدله لهجه د امیر څخه وغوښتل شي چې د خپل حرکت معذرت وغواړي او د افغانستان په داخل کې د بریتانیا د سفارت سره موافقه وکړي، خو په عین زمان کې باید نظامي ترتیبات هم ونیسي. »

که څه هم د حکومت رئیس د یزرائیلي او د کابیني غړي ټول محافظه کاران او د فارورد پالیسي طرفداران وه، ولې داسې د لیونتوب تر حده متجاوز لکه لارد لیټن نو په حکومت کې بې مثاله ؤ.

د حکومت تلګرام چې د ویسرای دفتر ته ورسید نو هغه سمدستي خپله کابینه راوغوښته او دغه جریان د «ډیلي نیوز» اخبار د یو راپور په شکل د اکتوبر په ۳۱ ګڼه کې خپور کړی دی او لیکلي: په هند کې د نیابت کابینې فیصله وکړه چې امیر ته التیماتوم ورکول شي او شرایط دې ورته ولیکلي، هم دی د التیماتوم وروستی تاریخ ورته معرفي شي.

حتی د ډېره تلوار دی چې دا د التیماتوم پاڼه یو نفر قاصد ته ورکړه او ورته وې ویل چې که د مرکزي حکومت بل هدایت ورسید هغه به په لار کې درته ابلاغ شي. د ویسرای له خوا د اکتوبر په ۳۱ تاریخ د امیر شیرعلي په نامه التیماتوم صادر شو او په هغه کې امیر ته لیکل شوي وه چې دوې مسألې باید په نظر کې ونیسي، لومړی باید د خپل وروستي لیک د لیکنې څخه رسماً معذرت غواړي، ځکه دا انګریز ته اهانت دی، دوهم په کابل کې د انګریز د رسمي سفارت ومني.

دغه التیماتوم چې د نوامبر له دوهم څخه تر شلم تاریخ پورې وخت درلود په اتلس ورځې کې امیر باید د هو یا نه ځواب ورکړي وای او که نه انګریز پخه اراده اعلان کړې وه چې پر افغانستان به حمله وکړي.

په دغه دوران کې امیر په سلا او مشورو اخته ؤ، خو د هرې ورځې د پروګرام څخه بې دده سیاسي مشاور قاضي قادر وچې اصلاً د انګریز جاسوس ؤ او د امیر ورور سردار ولي محمد خان مشهور په لاټي ټوله جریانات منصل پېښور ته لیږل او له هغه ځایه ویسرای ته وړاندې کیدل.

امیر چې یو ځل پخوا هغه مهال چې د کندهار په جنګ کې بې ځوان زوی محمد علي او ځوان سکه ورور سردار محمد امین خان ووژل شول او امیر د اعصابو په ناروغۍ اخته او حتی لیونتوب ته ورسیدی، دا ځل هم امیر د اعصابو د فشار له دغسې یوې ضربې سره مخامخ شو.

امیر ۵۱ زره روزل شوی مسلح سواره قواوې درلودی، خو دده ته د خپل ناروغه فکر څخه دا سودا وړپیښه شوه چې بنه طریقه دا ده چې روسیې ته ورشي او هلته د اولسونو و سرانو ته د انګریز دا تجاوز رسوا کړي، په داسې حال کې چې روسیه په دې پورې حیرانه وه چې څرنګه د شله امیر د ورتګ مخه ونیسي، د ترکستان حکمران جنرال کوفمان په زرو منافقتونو ډاډ ورکاوه چې انګریز به

هیڅکله پر افغانستان یرغل و نه کړي. بالاخره چې مایوسه شو نو د نوامبر په ۱۷ تاریخ یعنی د التیماتوم د تاریخ د پوره کیدو څخه دړې ورځې وړاندې یې د التیماتوم نرم ځواب ولیکی او د محمد عثمان خان په لاس یې ورکړ خو هغه چې د خیبر دري ته داخلیدی د هاخوا د انګریز مسلح قوتونه تر سرحد راتیر شوي ود او د امیر دا وروستی غشي هم خطا شو. امیر دا تاریخی مسؤلیت په کامله بې وقوفي پرغاړه واخیست چې د جلال آباد څخه بیا تر کندهار او هراته او کابله پورې ټولو مسلح قوتونه ته امر صادر کړ چې د انګریز مخه و نه نیسي او تر ثاني امر پورې دې منتظر وي.

امیر د ۱۸۷۸ کال د دسمبر په ۱۰ یو لوی دربار جوړ کړ چې په ــَ ـپ یې دیر قومي مشران او دیني پیشوایان راغوښتي وو او هغو ته یې وویل چې زه مزار شریف ته ځم او له هغه ځایه پترزبورګ ته ولاړ شم او هلته به یې د انګریز سره معلومه کړم. خلکو په تعجب او وحشت دا خبرې واوریدی، وروسته یعقوب خان چې اته کاله زندان یې جسمي او روحي شیره ایستلی وه خپل خلف اعلان کړ او په دې پسې د کورني سره مزار شریف ته روان شو.

د انګریز لښکرې د تورخم له لارې د جنرال براون په قوماندانی، د پیواړ له لارې جنوبي (پکتیا) ته د جنرال رابرتس په قوماندانی او کندهار ته د چمن له لارې د جنرال ستیوارت په قوماندانی داخلي شوې.

امیر د ۱۸۷۹ د جنوري په اول مزار شریف ته ورسید او هلته ناروغه شو، دد پښه وروسته شوه وایي ګانګرین شو خو د مسموم کیدو آوازې یې هم وې، خو زه فکر کوم چې سختو عصبي فشارونو وواهه ځو دد غه کال د فروري په ۲۱ د ۵٦ کالو په عمر له دې نابودي دنیا څخه ستر ګې پټې کړې.

# دوولسم فصل

## د سرتمبه سیاست خطرناکه عواقب

### ۱ - د انګریز او افغان دوهم جنګ او لومړی جنګ توپیرونه:

دې جنګ د افغان او انګریز له لومړی جنګ سره ډیر توپیرونه درلودل، لومړی خو دا جنګ پر یو د مستقیمه کرښه روان نه ؤ، بلکې په دوو صحنو کې یې واقعات ویشل کیږی په دې توګه چې یو د انګریز د التیماتوم څخه چې د ۱۸۷۸ کال د نوامبر له ۲۱ څخه پیل شو تر هغه وخته جاری ؤ چې امیر شیرعلی خان له کابله مزار شریف ته روان شو، په دې وخت کې د انګریز سره د امیر په امر خلک د انګریز له جنګه راګرځول شوي وه، دا یو د سره صحنه وه او کله چې یعقوب خان د پلار په نیابت په کابل کې کښېنوست، نو انګریزانو خپل قوتونه په د رو سمتو (کندهار، پکتیا او جلال آباد) کې بریک کړل او پر یعقوب خان یې کار پیل کړ، څو په دې منځ کې امیر شیرعلی په مزار کې مړ شو او یعقوب خان په کابل کې باچا شو، نو د انګریز کار ښه صورت ونیوی، څو یې په یعقوب خان د ګندمک تړون وکړ چې د هغه تړون په اثر میجر کیوناری د انګریز د سفیر په توګه کابل ته راغی.

په کابل کې د کیوناری سفیر او غړو د قتل او د سفارت تر سوځولو وروسته د دغه جنګ دوهمه صحنه پیل شوه چې دا نو ډیره توده او د اولس د غوښتنې سره برابره وه.

د لومړي جنګ سره د دغه دوهم جنګ بل توپير دا ؤ چې په لومړي جنګ کې د افغانستان په ختيځ سرحدونو کې دا وطن له سيکانو سره خامخ ؤ، او انګريز د هغو شاته ؤ، خو په دې جنګ کې انګريز د سرحد پر کرښه ولاړ ؤ او پخواني حايل (ليک) له منځه تللې ؤ.

دريم توپير يې دا ؤ چې په لومړي جنګ کې يې له خورا ليرې ځخه جنګي قوتونه راسرشول او داځل يې د افغانستان سره پيوست قوتونه داسې ځاى پرځاى کړي وه: «په پيښور کې دوې فرقې، په کورمه کې يوه فرقه، په کويټه کې دوې فرقې حاضرې ولاړې وې، د دغې سپاه شاته يوه سل زريزه قوه پرته وه چې د مخابراتو، تلګراف، صحي نظم او قوي ... اتو ... ېزدوه (د هرې پنځلس زريزې فرقې ته ۲۵ زره بار وړونکي حيوانات تخصيص شوي وه) همدارنګه د تجزيې يونټونه او د باروتو، مرميو، ارابه جوړولو فابريکې يې فعالې وې او د دې د اورګاډي کرښې يې هم په کار اچولې وې.»(۱)

د انګريز په طرف کې د جنګ په رابطه ټول له عيني او ذهني وضع د لومړي جنګ په تناسب پر علمي او ټکنولوژيکي اساس ډېره پرمخ تللې وه او پخپله بريتانيا هغسې تکليفونه چې د لومړي جنګ په وخت کې يې په اروپا کې درلودل په دې دوهم جنګ کې په ټولو صحنو کې مساعدتونه ورته په برخه وه او هر څه چې افغانانو د نو دلته هيڅ توپير نه راغلى، فقط جنګيدل، مړه کيدل او نه تسليميدل يې چې په لومړي جنګ کې خصلت ؤ، په دوهم جنګ کې هم څه توپير نه ؤ پکښې راغلى او هغه توپير چې امير شيرعلي د ... د عصري تربيې په برخه کې راوست هغه هم عصبي امير فلج کړ او بس.

## ۲- د انګريز لښکرې افغانستان ته داخلې شوې:

د هغه بهانه يې التيماتوم وخت چې د نوامبر په ۳۱ پوره شو د همدغې ورځې له سبا وختې څخه د انګريز لښکرو د افغانستان ختيځ، جنوبي او جنوب لويديځ سرحدونه تر پښو لاندې کړه او پر دغه هيواد يې يرغل پيل کړ.

د هندوستان ويسراى لارډ ليټن د حګرې د مراقبت لپاره د سمبلې څخه لاهور ته راغى او د اعلى قوماندانۍ مرکز يې همدلته وټاکئ. ده په داسې ګړيو کې چې د انګرېز قوتونه د افغانستان تر سرحدونو تير شوي، يو لوى دربار يې جوړ کړ او په هغه کې يې ملکي او نظامي مامورين او مصروف خلک راوغوښتل يوه اعلاميه يې له دغه ځايه خپره کړه. په دې پوچه اعلاميه کې يې نه يوازې يوه خبره هم ځانته تکيه نه کړه بلکې ټول مسؤليتونه يې د اميرشيرعلي پرغاړه وروغورځول

(۱) غبار، افغانستان در مسير تاريخ ٦۲۵مخ.

او انګريز يې حق په جانب او مجبور وباله چې دا اقدام يعنې لښکرکشي يې کړې ده. دد په ډېره بې شرمۍ وويل: موږ د سردارانو او خلکو سره منازعه نه لرو او د هغو د خپلواکۍ احترام کوو او په کارونو کې به يې مداخله ونه کړو. (خو يوازې امير ته جزا ورکوو!)

د انګريز قوتونه په لاندې توګه تقسيم شوي او پر درو معبرونو راتېر شول:

لومړۍ دسته پنځلس زره نفره د (جنرال سرساموېل براون) په قوماندانۍ د خيبر له لارې جلال آباد ته د دسمبر په ۲۰ ورسېدل.

دوهمه دسته درې زره او دوه سوه نفره د جنرال «فردريک رابرتس» په قوماندانۍ د کورمې څخه د خوست په استقامت را روانه وه خو د قبايلو د مقاومت په وجه په شترګردن کې معطل پاته شوه.

دريمه دسته دولس زره نفره د جنرال «دانيلدستيوارت» په قوماندانۍ وه چې له کويټې څخه د کوږک د کوتل پر لار کندهار ته راروان شو او دا لار يې په يوه مياشت کې طې کړه.

دا ټوله اردو په ډېره نوې وسله مجهزه وه چې د هغه وخت په حساب ډېره پرمخ تللې بلل کېده، شپږ ډيرش پونده توپونه چې په فيل کشول کېدل (انفيلډ) توپکونه او نور لوژستيکي سامانونه او په سيار تلګراف مجهز وه چې له هر پلوه يې د افغان او انګريز د لومړۍ جنګ پر انګريزي قوتونو يې برترۍ درلوده.

دا عمل کاملاً د فارورو د پاليسۍ د تطبيق په چوکاټ کې شوی ؤ، خو په لندن کې د ليبرال ګوند سياسي لارښوونکو خاصتاً د ګلادستون د وخت د کابينې د هندوستان د چارو وزير د يوک اوف ارګيل لکه يو جادوګر داسې پېشګويي ګاڼې کړې وې چې د فارورد پاليسي ناکامي سل په سل کې حتمي بلل کېده.

د نوامبر د ۲۱ څخه چې د انګريز د التيماتوم ورځ وه، شل ورځې وروسته لارډبيکانسفيلد يعنې هغه پخواني ديزرائيلي چې اوس د محافظه کارانو صدراعظم ؤ د لارډ ليټن له کار څخه په رضايت سره اعلاميه صادره کړه او وې ويل په افغانستان کې زموږ د جنګ هدف د يوه (عارضي) سرحد پرځای د يو (علمي) سرحد منځته راوستل ؤ او په دې کار کې هم بريالي شوو.

د ۱۸۷۹ د فبروري په ۱۳ ( يوه هفته د اميرشيرعلي خان تر مرګ وړاندې) ديزرائيلي د انګليس په پارلمان کې براَلا وويل چې زموږ د جنګ مقصد په افغانستان کې که څه هم مداخله بلل کېږي دا وه چې دا دی نن د درې شاهراؤ خاوندان يو او هندوستان مو يوه پخه کلا کړه.

دا مغروره لارډ چې کوم خوب ليدی تعبير يې فقط شپږ مياشتې وروسته د سفير کيوناري په قتل کې راڅرګند شو او دی د يو بدنامه ډيپلومات په توګه د سياست له صحنې ووت او ليبرالانو ملنډې په ووهلې.

## ۳- اميرمحمد يعقوب (يو عليل او رواني ناروغه شخصيت):

که تاريخ په رښتيا يو بې لحاظه او بې رحمه قاضي وبولو، نو هغه به د اميرشيرعلي د ښو جهتونو په اړخ کې د هغه بدجهتونه چې زياتره د افغانستان سره د ناځوانمردۍ او جفا حکم لري د بخښلو وړ و نه بولي.

امير شيرعلي پنځوس زره د روزل شوي اردو او کافي وسله درلوده، خو د انګريز د تيرۍ په وخت کې بې هغه د خپل ليوني فکر چې په سستت پترزبورګ کې به د ملتونو په مخ کې انګريز شرموي هغه فلج کړه، پخپله انګريزان وايي چې که امير له دغې اردو څخه کار اخيستی وای، نبايي انګريز دې د خپل فشار مخه نيولای وای. دوهم دا چې امير دوه مره د خپلې ګرانې مايني عايشې تر نفوذ لاندې ؤ چې د هغې په توصيه بې ځوانان او د کارزامن (يعقوب او ايوب) دواړه فلج کړه (عايشه د مير افضل خان لور د سردار کهندل خان لمسۍ او د امير د کاکا لور وه او عبدالله جان د دې زوی ؤ).

د همدغې ښځې په شيطنت بې يعقوب خان بنديخانې ته واچاوه او او داته کاله بې چې ښه د جسم او روح شومه ورو ايستله، نو په داسې وخت کې بې له زندانه راويوست چې انګريز د کندهار، جنوبي او ننګرهار حوزې په نظامي لحاظ نيولې وې. دغه بېچاره شهزاده په دې خبر نه ؤ چې په وطن کې څه پېښېږي.

يعقوب خان تر بند پخوا ډير غښتلی او هوښيار سړی ؤ، ده ډير نظامي او اداري خدمتونه کړي وو او هرات بې اداره کاوه، په جنګ کې دومره غښتلی ؤ چې خلکو به د غښتليوالی په لحاظ شيربچه ورته ويل، خو کله چې د بند فشار او تجريد بې د بدن قوت وزيښی، نو کله چې بې پلار له کابله مزار شريف ته ولاړ دی بې په کابل کې پرېښود ځرنګه چې د هيڅ شي څخه خبر نه ؤ حيران ؤ چې څه وکړي.

په دې وخت کې بې خسر سردار يحيی خان (د سردار سلطان محمدخان طلايي زوی) چې د يعقوب د بند په وخت کې په هند کې فرار ؤ او د انګريز ايجنټ ورڅخه جوړ شوی ؤ، ورته راورسيدی او دا بې خبره انسان بې په لاس کې واخيست.

يعقوب خان روحاً دومره وهل شوی ؤ چې وايي يوه ورځ په مجلس کې دروازه باد ووهله په درب پيش شوه دی له وارخطايي وغورځيد او ودريد، بله ورځ چې مجلس شروع ؤ او ده تر کړکۍ وړاندې کتل وی ليدل چې يو توپ داسې پروت دی چې خوله بې دده قصر ته برابره ده ژر بې سړی د

مرنجان غونډۍ ته واستاوه او د هغه توپ خوله يې چپه کړه.

د غسې یو معذور او علیل سړی او هغه هم په د غسې وخت کې چې انګریز پر افغانستان حمله کړې ده د ده ته د وطن نظامي او ملکي چارې ورحواله شوې.

د ده غوښتل چې د انګریز غوښتنې ومنی، څو هغوی خپلې قواوې له افغانستانه وباسي، دا کار د ده آرزو وه، خو په عمل کې ممکنه نه وه، ولې د ده خسر یحیی خان و چې تر اوسه یې لا په پټه د ده سردارېکې ساتل ځکه امیر شیرعلي خان لا ژوندی او په مزار شریف کې ؤ او له دې څخه بیریدی چې زیان ور ونه رسوي. خو یعقوب خان ته یې د انګریز سره د دوستی په باب خپلې توصیې جاری ساتلې.

همدغه وضع جاري وه چې ناڅاپه په مزار شریف کې امیر شیرعلي وفات شو.

## ٤- د یعقوب خان غمجنه باچایي او د ګندمک شومه معاهده:

امیر شیرعلي خان چې په مزار کې مړ شو، نو د مرګ خبرې په یوه هفته کې کابل ته راورسید او د فبروري په ۲۹ (۱۸۷۹) د یعقوب خان د باچهی اعلان وشو، د تاج پوشی مراسم یې ډیر ساړه و، صرف د کابل د هغې ورځې یو روحاني خواجه محمد ناصر پایمناری د امامت خطبه ولوستله او امیر ته یې د دستار (لنګی) وروتړله، حاضرین پر وضع دومره بې باوره وه چې نه پوهیدل امیر ته بیعت ورکړي یا نه. خو واهمه هم وه، نو ځکه بیعتونه واخیستل شول.

هلته د یعقوب خان ورور سردار محمد ایوب خان چې د پلار په ژوند کې مشهد ته فرار ده ؤ د پلار د مرګ او ورور د باچاکیدو له خبر سره هرات ته راغی او د هرات حکمراني یې د سردار محمد عمر خان او سپه سالار حسین علي خان څخه واخیستله.

نوی امیر په لومړی ګام کې مقرری وکړې خو کوم خلک چې یې مقرر کړي وو هغه مشکوک خلک وه د مثال په توګه د ده خسر سردار یحیی خان چې د امیر شیرعلي په وخت کې په بریتانوی هند کې ؤ د کابل والي مقرر شو او خلکو دی یو انګریز مآب سړی پیژندی همدارنګه سردار شیرعلي خان د سردار مهردل خان زوی چې د انګریزانو یو ایجنټ ؤ دا یې د کندهار والي کړ، نور یې هم له دغه قراره وه.

د ۱۸۷۹ د مارچ په اوایلو کې یې د هند ویسرای ته د پلار د مرګ او د خپلې باچایي خبر ورکړ، څرنګه چې په لندن کې پر محافظه کار حکومت د لیبرالانو له خوا په پارلمان او مطبوعاتو کې سخت انتقادونه روان وو، نو د لندن محافظه کار زعماؤ ویسرای ته لارښوونه وکړه چې ډیر

جنګ بار له اوږو وغورځوی، نو کله چې د یعقوب خان لیک هغه ته ورسید نوموړی دا د صلح یو لیک وباله او ډیر ژر یې د امیر خسر سردار یحیی خان چې په هند کې ؤ کابل ته راولیږی او یو هیأت یې د منشی بختیار تر مشری لاندې مؤظف کړ چې په کابل کې د امیر سره خبرې وکړي او پر دا ټولو سربیره خپل سکرتر الفردس لاین ته لارښوونه وکړه چې د هغه جال چوکاټ بندی وکړی چې وروسته به افغانستان پکښې راګیر شی.

د انګریز هیأت په کابل کې د امیر یعقوب او د هغه د مشاورانو سره خبرې وکړې د صلح شرایط هم هغه وه چې امیر شیرعلی ته یې وړاندې کړی وه، ولې شیرعلی سرکشی کوله او نوی امیر یې منلو ته اوږې تیتې کړی.

پر دې تر هر څه خپل خسر سردار یحیی خان ډیر اغیزمن واقع شو او په دې پسې منشی مختیار هم بدابلیس نهٔ هغه هم په ټوکو ټکالو کې امیر ته سره او زرغونه باغونه وروښوول، څو د ۱۸۷۹ د مې په میاشت کې یې بیچاره او په روحی ناروغه اخته امیر لکه د خیرات وزګړی د ګندمک سیمې ته ورساوه.

انګریز چې سخت انتقام جویه قوم دی، ګندمک یې ځکه دغه کار ته انتخاب کړی ؤ چې تقریباً څلویښت کاله وړاندې ددوی ۱۷ زره اردو دلته له منځه تللې او ویاړونه یې له خاورو سره برابر شوي وو.

په جلال آباد کې د انګریز د قواوو قوماندان جنرال براون د ډیرو افسرانو او نظامی قوتونو سره پخوا لا دلته په غونډیو کې ځای پرځای شوی وه، همدا رنګه سرلوئیس کیوناری او نور سیاسی خلک حاضر شوی وو، مسایل پخوا لا فیصله شوی وو، دلته صرف پر ترون لاسلیک وشو چې لنډه متن یې دا دی:

۱- ددې قرارداد د لاسلیک د ورځې څخه د دواړو هیوادو تر منځ دایمی سوله او دوستی ټینګیږی.

۲- ددې قرارداد له امضاء څخه وروسته به د افغانستان امیر د خپلو اتباعو هغه ډله چې د جنګ په وخت کې د انګریز له دولت سره مکالمه، مراوده او مکاتبه درلوده د رسمی فرمان په اثر وبخښی.

۳- د افغانستان امیر مجبوره دی چې وروسته له دې له نورو هیوادو سره خپل معاملات د انګلستان سره د مذاکرې په اساس او د هغو په خواهش اجراء کړی، د افغانستان امیر حق نه لری له نورو هیوادو سره سماسمه روابط ټینګ کړی او د انګریز د دولت له مشورې پرته له کوم بل هیواد سره د جګړې اعلان وکړی، ددې شرط په مقابل کې د بریتانیې دولت حاضر دی

نوموړی امیر د پردیو د تیری په مقابل کې د پیسو او وسلو او عسکرو په وسیله په هر ډول چې د بریتانیا دولت وغواړی حمایه کړی او هر وخت چې مناسب وبولي مرسته به یې وکړی. که د بریتانیې عسکر د کوم ضرورت په وخت کې د امنیت د برقرارۍ او د خارجی تیری د دفاع په غرض د افغانستان خاورې ته داخلیږی د سولې او امنیت له برقرارۍ وروسته به فوراً هیواد ته بیرته وگرځی.

٤- د دې لپاره چې د دواړو هیوادو مناسبات لا ټینگ شی او د افغانستان سرحدونه د پردیو له تیریو څخه وساتل شی د انگریز دولت لازم بولی چې خپل دایمی نماینده افغانستان ته واستوی، دغه نماینده به د خپلې رتبې مطابق یو ټولگی عسکر هم له ځانه سره ولری، او هم د بریتانیې هیواد حق لری چې د ضرورت په وخت کې خپل خصوصی نمایندگان له معینو هیأتو سره افغانی سرحداتو ته واستوی په مقابل کې افغانستان امیر حق لری خپل نماینده د هند د ویسرای دربار یا نورو هندی مقاماتو ته واستوی.

٥- د افغانستان امیر د انگریز د نمایندگانو د محافظې او ساتنې لپاره او له دې کبله چې د هغو سره د شرافتمندانه رویه وشی ځان مسؤل بولی او د بریتانیې دولت په مقابل کې وعده ورکوی چې هیڅ وخت به د افغانستان په داخلی معاملاتو کې مداخله و نه کړی او د هغو نمایندگان محترم وساتی.

٦- د افغانستان امیر له خپلې خوا او نورو سردارانو له خوا تعهد کوی چې له انگریزی نمایندگانو او نورو وگړو سره چې د تجارت لپاره افغانستان ته راځی شرافتمندانه معامله وکړی او د هغو په شخصی معاملاتو کې مداخله و نه کړی.

٧- امیر له انگلستان سره تجارتی روابط ټینگوی او د هیواد ترمنځ سړکونه پرانیزی، ترڅو چې دواړه هیوادونه سره آزادانه تجارت وکړی او هم دواړه هیوادونه به سره اتفاق وکړی دغه لارې له خطر مخه محفوظې وساتی. دغه تجارتی معاهده به د دواړو هیوادو ترمنځ د یو کاله لپاره مرعی الاجرا او د هیوادو ترمنځ به آزاد دوی.

٨- له کورمې څخه تر کابله د تلگراف د سیم د غځولو لگښتونه به د انگریز د دولت پر غاړه دوی او د هغه ساتنه په امیر اړه لری.

٩- له دې کبله چې د دواړو هیوادو ترمنځ دوستی برقراره شی او د بریتانیې عسکر له ډاډینې سره د افغانستان د خاورې څخه وځی، د سیالکوټ ولایت او د فوشنگ علاقه د کوړک تر غرد پورې، د کرم علاقه د جاجی تر سرحد پورې د مشرقی تر څنډې پورې (هفت چاه) او لنډی کوتل دی انگریزانو ته واگذار شی مگر د دریو علاقو (کرم، پشین، رسوی) واگذاری به

دایمې او قطعي ډول نه وي، دا سیمې به د هغو اراضیو په نامه (چې امانت سپارل شوي دي) یادې کړو او بیا به مسترد ي شي د دغو سیمو مالیه د اداري ضروري لګښتونو له ورکړې څخه وروسته افغانستان ته ورکول کیږي او یوازې د هغې اداره او حمایه به په بریتانیا پورې تعلق لري. برسیره پر دې د بریتانیې دولت به د خیبر او پیچ د تیرید ځېو اداره او نظم و نسق چې د پیښور او جلال آباد ترمنځ واقع دي د دغو سیمو آزادو قبایلو سره دوستانه مناسباتو سره به لاس ولري.

۱۰- له دې کبله چې د افغانستان امیر وشی کولای خپل بشپړ اقتدار برقرار کړي او هم پورتنی شرایط صادقانه اجراء کړي د بریتانیې دولت وعده ورکوي چې هغه او د هغه جانشینانو ته د مملکت د اصلاح په غرض د کاله شپږ لکه کلدارې ورکړي.

امیر یعقوب - سرلوئیس کیوناری

## ۵- د کابل قیام او د کیوناری قتل:

د ګندمک د تړون په اثر کیوناری چې هغه معاهده یې د انګریز د نماینده په توګه لاسلیک کړې وه د هندوستان د ویسرای له خوا د هغې معاهدې د « ٤ » مادې په اساس په کابل کې د سفیر په توګه رامعرفي شو. نوموړی دا مهال د لندن په مطبوعاتو کې د یو سیاسي قهرمان په حیث معرفي کیدی او علیاحضرتې تولواکمنی پر زرینه پانه د مبارکی لیک ورته رالیږلی او د « سر » لقب یې ورته منظور کړی ؤ.

دغه سرلویس کیوناری د ۱۸۷۹ کال د جولایی د میاشتې په دوهمه نیمایی کې د یوې ډلې ملکی او نظامی شخصیتونو سره کابل ته ورسیدی او د جولای د میاشتې په ۲٤ په بالاحصار کې د باچا د مانۍ د اړخ سره په یوه بله مانۍ کې ځای پرځای شو.

د ده بعنې کیوناری هم د میکناټن په شان یو مغرور حکومت پیل کړ، تر هر څه وړاندې یې د عسکرو د معاشاتو کار په لاس کې واخیست او داسې فکر یې کاوه چې په دې توګه به هغوی مات شي، ولې د هغو غرور یې راوپاروه.

په دغه وخت کې چې یعقوب خان باچا شو، هغه په هرات کې خپل ورور « محمد ایوب خان » ته حال ورکړ چې یو پلټن عسکر ورته راولیږي، دغه هراتي پلټن چې هفتې هفتې یې پر لار وهلی وې، مفلس او وږي وه او ورته ویل شوي وو چې معاش به په کابل کې درته اجراء شي. دغو ستړو او عصبي عسکرو سپه سالار داود شاه خان ته مراجعه وکړه هغه ورته وویل: اوس اختیار د کیوناری

په لاس کې دی هغه په بالاحصار کې دې ورشي چې هغه یې درته اجرا کړي. دغه عسکر چې کیوناري ته ورغله هغه وبریدی او وارخطا شو فکر یې وکړ چې پرده حمله کوي.

هغه د عمارت دروازې وتړلې او د دهلیز څخه یې پر عصبي لښکر ډزې وکړې چې یو تن پکې شهید شو، عسکرو چې دا وضع ولیدله، په څغاسته شیرپور ته راغله( دلته د دوی د اوسیدنې ځای ؤ) له دغه ځایه یې خپلې وسلې واخیستې او په بالاحصار رکې د سفیر پر کور حمله وکړه. یعقوب خان دا جریان د خپل کور له بام څخه کتلی او خپلو ناظرانو ته یې ناري وهلې چې مخ یې ونیسئ، خو په دغه حال کې چا داسې ناري اوریدلی؟

لښکر د سفیر له کور سره راتول شو دا مهال بیا د سفارت له خوا ډزې وشوې، مقابلتاً عسکرو هم فیرونه پیل کړل دا ورځ فیرونه وه ماښام هم تېکان کېدل څو سفارت اور واخیست، سبا ته ایله دومره شوه چې اور یو څه کم شو او خلکو یو شمیر سوځیدلی مړي پکې پیدا کړه خو کیوناري و نه پیژندل شو. ډاکتر بیلیو انګریز چې په دغه وخت کې په افغانستان کې دی وایي چې د کیوناري سره د سفارت ۱۲۳ غړي ووژل شول. [1]

یعقوب خان داود شاه خان جنرال، خپل خسر یحیی خان او داسې نور خانان او خپل زوی ولیعهد موسی خان قیام کوونکو ته ورولیږل چې د سفیر له مرګ څخه لاس ونیسي، خو قیام کوونکو، خانان وډبول او شهزاده په منډو پلار ته وتښتیدی او دا صحنه د خپلو عواقبو لپاره پر ځای پاته شوه.

## ٦ - یعقوب خان د انګریز پښو ته ځان واچاوه:

د سفارت د سوځولو او د سفیر او د سفارت د غړو او عملې قتل کمزوره او په عصبي ناروغیو اخته امیر لیونتوب ته ورساوه او نه پوهیدی چې څه وکړي. دداکاګان سردار محمد حسن خان او ولي محمد خان مشهور په لاټې ډیر تلاش کاوه چې د انګریز پاملرنه خپلې خوا ته راواړوي.

د ۱۸۷۹ د سپتمبر په څلورمه شپه په علي خیلو (ځاځیو) کې د سفارت د تباهی او د سفیر او غړو د قتل خبر د مخابرې مامور کپتان کینولي ته ورسید او هغه سمدستي دا خبر سملې ته مخابره کړ، جنرال رابرتس په دغه شپه د ویسرای لارډلیټن سره ؤ.

د انګریز په ټولو دستګاؤ کې سخته وارخطایي پیدا شوه، لندن او سمله ډیر سخت عصبي وه، او لیټن ته لار ښوونه وشوه چې جدي چاره یې وکړي. په بریتانوي هند کې د انګریز د قواؤ قوماندان جنرال فریدریک هایټر داسې پروژه جوړه کړه چې علی العجاله دی دوه پلې او یوه سپره لیوا د

---

(۱) ډاکتر بیلیو د تومیانی ترجمه تایپی نسخه ۹۲ مخ.

رابرتس په قوماندانی پر شترگردن ورپورته شی او بیا دې ځان کابل ته ورسوی، د رابرتس په غیاب کې چې ترڅو له سملې څخه رابرتس رارسیدې د هدایت مطالب جنرال ماسی قواوې سوق کړی او د سپتمبر په ۱۱ شترگردن ته ورسیدل او پر لوګر رابنکته شول.

یعقوب خان ته اطلاع ورسیده چې سردار محمد حسن خان او سردار ولی محمد خان لاټی ځانونه رابرتس ته رسولی دی، دغې خبرې سخت وارخطا کړ، نو د حبیب الله خان مستوفی په مشری یې هیأت رابرتس ته ولیږی چې دی خپله پیشقدمی معطله کړی، تر څو امیر د سفیر قاتلان پیدا کړی، خو رابرتس پر دغه هیأت وخندل او نوره اعتنا یې ورته ونه کړه. رابرتس پر مخ را روان شو وارخطا امیر د لوګر په غالې برخو کې د رابرتس حضور ته ورغی خو هغه به تروه تندی خبرې ورسره وکړی او نور هم پرمخ راغی څو کابل ته ورسید، دلته رابرتس دوه هیأتونه مؤظف کړل چې ملکی او نظامی تحقیق وکړی او په مقابل کې افغانی مبارزانو ملامشک عالم، محمد جان خان او نور راغلل او بو ځل بیا د افغان او انګریز د لوی جنګ صحنې رامنځته شوی.

محمد یعقوب خان د رابرتس په لاس کې بندی ؤ او رابرتس د بالاحصار څخه بود اعلامیه خپره کړه چې هیڅوک وسله نشی ګرځولی او بیا یې د کابل لوی نظامی او ملکې مشران اعدام کړل او د بالاحصار په نړولو یې لاس پورې کړ. نو رنو په کابل کې آرامی ورکه شوه او انګریز د کال په وروستیو شپو ورځو کې اعلان وکړ چې له کابله وځی، خو کوم شرایط چې یې ایښی دی هغه باید ومنل شی.

افغانان په هرځای کې د انګر پر ضد راپورته ودچې مهم یې د میوند جنګ دی. د امیر یعقوب خان ورور محمد ایوب خان ۱۸۸۰ د جولای پر ۲۷ د کندهار په میوند کې د درنو وسله بندو قواو سره د انګریز پر ضد وجنګیدی او هغوی یې مات کړل د افغانانو دا فتح په تاریخ کې مهمه پیښه ده.

امیر یعقوب خان د ۱۸۷۹ د دسمبر په دوهمه له کابله هند ته تبعید شو. رابرتس په خپل کتاب (٤١ کاله په هند کې خدمت) کې لیکی: «یعقوب خان چې ما ولید د ۳۲ کالو په عمر ؤ، دی بو ریزد اندامه سړی ؤ، سر یې کوچنی او تندی یې کوږ ؤ سترګې یې بې نوره وې او مخامخ یې چاته نشوای کتلای، دی ډیر کمزوره ؤ او ما د عزت سلوک ورسره کاوه.»(۱)

---

۱) د افغان او انګلیس دوهم جنګ د ډاکتر جلالی مقاله، ٦٨ مخ.

# دیارلسم فصل

## د وحشتناک استبداد او توطیو عصر

### ۱ – هولناکه څیره (امیرعبدالرحمن خان) :

د عبدالرحمن خان د باچهی دورې ته د عصر کلمه استعمالول بې مناسبته کار نه دی، ځکه په دغه دوره کې افغانستان د داخلی او خارجی سیاست له نظره پر یوه نوی کربنه حرکت وکړ، د دغې دورې یا عصر په وجود کې د افغانستان لپاره خورا ډیر منفی بُعدونه راچاپیر شول چې د افغانستان خاورې او خلکو ته یې بې حسابه زیانونه ورسول، ولې هغه ټکانونه چې د عبدالرحمن خان دولت له خوا وطن ته په برخه شول له هر د پلوه یې د پخوا سره توپیر دولود، د همدغو دلایلو په بنا دا فصل ټول د امیرعبدالرحمن خان کار او سیاست ته تخصیص شوی دی.

عبدالرحمن خان د امیر محمد افضل خان زوی او د امیر دوست محمد خان لمسی ؤ، نوموړی په ۱۸۳۰م کې زیږیدلی او په ۱۹۰۱ کې مړ شوی دی. تقریباً پنځوس کلن ؤ چې په ۱۸۸۰ کې یې د کابل پر تخت تکیه وکړه او نور ۲۱ کاله نو لکه د تورو ښرخ د اولس پر سر وڅرخیدی او لسگونو زرو انسانان یې مړه او معیوب کړل، ځو یې هغه انارشیزم چې د افغان او انگریز د دوهم جنگ څخه وروسته پر افغانی ټولنه مسلط شوی ؤ او په هر ښار او کلی خان او ملا په خپل زړه باچهی کوله ،مطلق پای ته ورسوله او تام امنیت یې قایم کړ، خو دا امنیت هم د قبرستان امنیت ؤ، هر ځای په

قبرستانو کې امن او امان وي، عبدالرحمن خان هم د دې وطن څخه یو قبرستان جوړ کړ.

عبدالرحمن خان هم پخپله بې سواده ؤ او هم یې له باسواده انسان څخه ښه نه راتلل. ده د فهم او پوهې خاوندان یا د وطن څخه فراره کړل یا یې په زندانونو وغورځول او په خپله ۲۱ کلنه باچهی کې یې یو ښوونځی هم تأسیس نه کړ.

دی پخپله د ډیرو تجربو خاوند سړی ؤ او دا معنا داره خبره به یې هر وخت کوله چې «ژوند د گلو بستر نه دی» په دې توگه د هر ډول ناملایماتو په وړاندې یې او سپنیز موقف غوره کاوه.

ده روسان او انگریزان دواړه ښه پیژندل، خو تر روسانو یې و انگریز ته ترجیح ورکوله، نو ځکه د انگریزد امر په متابعت کې یې هیڅ وخت غفلت نه کاوه ،خو په دې خوا کې یې دومره مهارت درلود چې هیچا ته یې څرگنده بیلگه په لاس نه ورکوله چې دی د انگریز د امر تابع وبولی.

د ده د باچهی په وخت کې د افغانستان دروازې د اروپا د سیاست پر مخ را خلاصې شوی، خو ده یوازې د انگریز په خوښه گام مخته اخیستی. د افغانستان د خاورې تمامیت د ده په وخت کې تهدید او تحدید شو. د ده د پاچهی د پیل سره انگریز ته د گندمک د تړون د منلو تعهد ورکړ او بیا یې د ډیورنډ معاهده وکړه چې د افغانستان دروغ بدن تگړی بیل شول. د ده زندانونه همیشه د خلکو ډک وه او وحشتناکه شکنجې ورکول کیدې، دی داسې نمونه مستبد ؤ چې کله به یې څوک حضور ته وروستل کیدل ،نو پر لار به یې سکته وکړه، په دې توگه نو باید ده ته د افغانستان د تاریخ یوه هولناکه څیره ووایو.

## ۲- د دوو امپراطوریو مخلوق:

امیرعبدالرحمن خان د دوو امپراطوریو ، یعنی د بریتانیا او روسیې په توافق د افغانستان تاج و تخت ته ورسیدی. البته دا خبره باید له یاده ونلی نه وي چې د افغانستان د باچهی د اقتدار حاصلولو په کار کې یوازې د دوو امپراطوریو انتخاب پر عبدالرحمن خان کافی نه و؛ بلکې پخپله عبدالرحمن خان هم په دې کار کې د سیاسي او نظامي اقتدار نقش درلود.

هغه مهال چې انگریز دوهم یرغل پر افغانستان پیل کړ او په همدغه جریان کې د واقعاتو لړۍ په هولناک ډول په حرکت راغله داسې چې امیر شیرعلی په مزار شریف کې مړ شو، په کابل کې یې مجذوب الحاله زوی یعقوب خان باچا شو او په هغه انگریزانو د گندمک جبری معاهده لاسلیک کړه او د همدغې معاهدې له مخې سرلو یس کیوناری کابل ته د سفیر په توگه راغی او په څو هفتو کې دا سفیر قتل او سفارت د غرو سره وسوځل شو او دا پیښې د یوه کال څخه په کمه موده کې سرته ورسیدی.

انگریزان په خپلو سرزوریو هم وډاریدل او هم وشرمیدل، نو تصمیم یې وزسوی چې د افغانستان اداره یو داسې سردار ته وسپاري چې هغه هم د کفایت خاوند وي او هم انگریز ته وفادار وي.

امیرعبدالرحمن خان چې هغه وخت لا د سردار په لقب یادیدی یوولس کاله په سمرقند کې د روسانو تر حمایت لاندې د یو مهاجر او فراري په توگه تیر کړی وه.

کله چې انگریزان د افغانستان د اداري له دې طریقې څخه ناهم شول چې پخپله کارونه سرته ورسوي، نو په یو د پاخه او تجربه داره سردار پسې شول. انگریز، عبدالرحمن خان پخوا لا کشف کړی ؤ، خو هغه د روسانو په لاس کې ؤ او دایې ایجابوله چې د روسانو موافقه حاصله کړي، لکه چې د ئه کار ډیر مخفي سرته ورسید او د ترکستان گورنر جنرال کوفمان د امیرعبدالرحمن ته داسې اجازه ورکړه چې هغه دې د ترکستان څخه د تیښتې په شکل ووځي او موږ به هم تجاهل وکړو.

عبدالرحمن خان په دې پوهیدی چې هر اړخیز امکانات ورته میسر دی، دوې امپراطوری (انگریز او روس) موافق دي چې دی افغانستان ته ولاړ شي. د افغانستان سیاسي نظامي او حتی اجتماعي وضع دومره ورانه ویجاړه وه چې هر چا عبدالرحمن له خدایه غوښت. همدارنگه پخپله عبدالرحمن د تدبیر او هوښیاری څخه پوره برخمن ؤ، نو ځکه ډیر ژر د ترکستان څخه راووت او پر کړلیچونو د بدخشا ته راورسیدی. دد بدخشان میران پیژندل حتی دوستي یې ورسره درلوده او د هغو څخه یې ښځه غوښتې وه، د هغو مرسته یې وغوښته، نور یې د افغانستان داخل ته د لیکونو او سړیو په وسیله خبر ورکړ چې دی راغلی دی چې وطن ته د بربادی څخه نجات ورکړي. دد همدلته څو ورځې صبر وکړ، ځکه دی د سیاست پر لار راروان ؤ نو هېڅکله یې جنگي احساسات نه ښکاریدل، خلک سخت ورته په انتظار کې وو، خو دد هغو ته وعدې ورکولې، خو ورځ یې تیروله او ددې منتظر ؤ چې انگریز دده له راتگ څخه څرنگه عکس العمل ښیي، خو داؤ چې د گریفن انگریز د لیک په رارسیدو د مکاتبې د پرانیستل شو.

## ۳- دعبدالرحمن خان او سرلیبل هانري گریفن مکاتبه:

پس له هغه چې په کابل کې د انگریز سفیر او سفارت تباه شول، نو ویسرای لارډلیټن په هند کې او د محافظه کارانو حکومت په لندن کې سخت وډردیدل، خو څه یې په وس پوره نشول، په کابل کې رابرتس او په کندهار کې ستیوارت ډیرې خرابۍ پیښې کړې، خو انگریز دا حقیقت ښه درک کړ چې افغانستان یو قدرتمند سردار ته وسپاري او هغه باید دا استعداد ولري چې د انگریز سره دوستي وپالي.

په سر کې لیتن او د لندن محافظه کارانو په عصبیت دا فیصله وکړه چې هرات ایران ته ورکړی او کندهار په هند پورې مربوط کړي او باقي افغانستان یو سردار ته وسپاري.

په دغو ورځو کې د عبدالرحمن خان په شخصیت افغانان او انګریزان قانع وه چې هغه مملکت اداره کولای شي، نو لاردلیتن په سر کې د کندهار انګریز سیاسي مامور سنټ جان ته لارښوونه وکړه چې د عبدالرحمن خان سره تماس ونیسي، خو وروسته د افغانستان په چارو کې مدبر سیاسي مامور لیپل ګریفن ته دا وظیفه وسپارل شوه او هغه د امیر عبدالرحمن خان د خور شابو جانی (ځینې وایي د مور) په وسیله هغه ته د ۱۸۸۰ په اپریل کې یو لیک په دې مضمون ورولیږل شو:

«محترم دوست سردار عبدالرحمن خان! پس له رسمي مراتبو او شناسی د سلامتی د آرزو تر ښکاره کولو، اطلاعاً زحمت درکوم چې د انګریز دولت چې په سلامتی تاسې قطغن ته راغلی یاست خوشحالی ښکاره کړې او خوښ به شي په دې وپوهیږي چې تاسې څرنګه د روسیې څخه حرکت کړی دی او ستاسې اراده او خیالات څه دي؟

ستاسې دوست ګریفن

سردار عبدالرحمن خان د ګریفن د دې لیک په ځواب کې ولیکل:

«محترم دوست ګریفن صاحب! ستاسې مراسله راورسیده او زما تر حضور تیره شوه. زه د تاشکند د حکمران په اجازه قطغن ته راغلی یم، اراده لرم دا د اضطراب په وخت کې د خپل ملت سره مرسته وکړم. که تاسې د خیر و علاقمند یاست د ښځینه و سایلو څخه صرف نظر وکړی او د خپلو هوښیارو نمایندګانو په وسیله د اتحاد رشته قایمه کړئ. د اپریل ۳۰ - ۱۸۸۰

په همدغه دوران کې محافظه کار حکومت له منځه ولاړ او لیبرل حکومت منځته راغی او د انګریز کابینې فیصله وکړه د ژمي تر رسیدو پخوا عسکر وباسي، نو یو بل لیک یې په دې مضمون عبدالرحمن خان ته ولیږئ:

«محترم سردار! مونږ انتظار لرو چې تاسې ژر کابل ته راورسیږئ چې د صلح خبرې پیل کړو.»

په دې وخت کې عبدالرحمن خان د هندوکش تر غرو راواوښت په دې وخت کې د ګریفن څلورم لیک ورورسید چې ډیر ژر د کابل د امیر په توګه قدرت ترلاسه کړه.

سردار عبدالرحمن خان د دغې مکاتبې په پای کې د شمال (چهاریکار) څخه کابل ته ورسید او د ۱۸۸۰ کال د جولای په ۲۲ د افغانستان باچا شو.

## ٤- هوښیار، بې رحمه او مستبد زمامدار (ضیاء الملة والدین):

عبدالرحمن خان د ژوند سړو او تودو روزلی او تر خو تجربو د عقل او هوښیارۍ لویه برخه ورته په نصیب کړې وه.

دی یوولس کاله د روسانو تر مراقبت لاندې په سمرقند او تاشکند کې اوسیدلی ؤ او د روسانو د سیاست له ډیرو لوڅو او پټو سره آشنا ؤ، همدا رنګه انګریز هم ښه پیژندی او د خپل سیاسی موجودیت لپاره یې انګریز ته پر روس ترجیح ورکوله. همدارنګه انګریزان هم په دې پوهیدل چې د عبدالرحمن خان په وجود کې د افغانستان حتی سیمې وضع په خپله ګټه څرخولی شي.

د ګریفن سره دده مکاتبه دده د هوښیارۍ، حوصلې او د شخصیت د ثبات ډیر لوی دلیل دی.

عبدالرحمن خان د ۱۸۸۰ کال د جولایی په دوه ویشت د کابل پر تخت کښینوست، خو انګریز هغه وخت د قدرت اخیستلو اجازه ورکړه چې په دده یې هغه معاهده (ګندمک) چې په یعقوب خان یې لاسلیک کړی وه ومنله او حتی دا تعهد یې هم ځینې اخیستل شوی وی، منبعد په دا انګریز په لاس او قبضه کې وی. دده صادقانه تعهد ورکړ چې غیر له انګریز څخه به بل د هیچا سره تعلقات نه ساتی، خو تصادفاً د دیزرایلی محافظه کار حکومت د ګلادستون لیبرال ته ځای پرینبود او په دې توګه هغه فیصله ناګرده شوه چې هرات به ایران ته ورکوی او کندهار به د بریتانوی هند په ولکه کې وی. انګریز عبدالرحمن خان ته کندهار پریښود او پر هرات یې اجازه ورکړه چې ځانته یې تابع کړی.

دده د باچهی تر پیل یوه هفته وروسته په میوند (کندهار) کې انګریز ماتې وکړه او ددغه کار د جبیرې لپاره د انګریز لوی افسر جنرال رابرتس د خپلو قواؤ سره کندهار ته راغی او په پیرپایمال کې یې سردار محمد ایوب خان مات کړ (اګست) بیا یې کندهار د امیر عبدالرحمن خان نماینده سردار شمس الدین خان ته وسپارئ.

انګریزان په تدریج ووتل او امیر عبدالرحمن خپله جبلی مستبده اداره پیل کړه. په لومړی سر کې یې هغه مبارزان چې د انګریز سره جنګیدلی وو لکه جنرال محمد جان خان وردک، میربچه خان، درویش خان بابا قشقار، ملامشک عالم او عبدالکریم اندری، حسین علی خان سپه سالار، داود شاه خان، نایب سالار محمد شاه خان غلجایی او داسې نور یې په اقسامو وسایلو له منځه یوړل او پر عامو خلکو یې په داسې بې رحمی او استبداد حکومت چالانه کړ چې د خلکو بهیرونه یا د ملکه ووتل یا همدلته ووژل شول.

دده تر ټولو خطرناکه د جاسوسی اداره وه چې حتی میړه او نارینه یې یو پر بل بې اعتماده

کړل. د ه خلکو ته په شکنجه کولو کې ابتکار کاوه. غرغره، په توپ کې الوزول، د اندامونو غوڅول او حتی پوستونو ایستل پر متهمینو اجرا کیدل.

دا خبره قابل تأمل ده چې په افغانستان کې بې نظمي دې حد ته رسیدلې وه چې بې له دغه عمله یې د اصلاح لار نه وه؟! دې ته باید عاقلانه ځواب وویل شي؟

## ۵ - د انګریز او روس یرغلګره ډیپلوماسي:

افغانستان د خپل حساس ستراتیژیک موقعیت له امله په ټوله نولسمه پیړۍ کې د انګریز او روس کې د یرغل هدف ؤ.

د انګریز او افغانانو ترمنځ دوې جګړې چې پیښې شوې عمده علت یې د انګریز او روس ترمنځ سیالي او رقابتونه وه او هر یوه زیار ایسته چې دا د بریتانوی هند او مرکزي آسیا ترمنځ مهم معبر په خپل نفوذ کې راولي. سره له دې چې په ۱۸۷۲ کې دوه ګرچاکف ګرینویل په موافقتنامه افغانستان د انګریز د نفوذ په ساحه کې په رسمیت منل شوی ؤ، خو روسانو بیا هم لاس غزونې کولې او کله کله به یې انګریزان په تشویش کې اچول.

د ۱۸۸۰ څخه چې امیر عبدالرحمن د افغانستان د حکمروا په حیث وپیژندل شو، دلته د افغانستان په باب د انګریز او روس د ډیپلوماسۍ خطرناکو پولو ته ودریده.

امیر عبدالرحمن خان د ګندمک د تړون په منلو کوبټه انګریز ته سپارلې وه او انګریز په ډیره چټکۍ د کوبټې ټوله سیمه په ۱۸۸۳ کې قبضه کړه او بو کال وروسته یې د کوبټې د اورګاډي د لین په تیرولو پیل وکړ. روسانو چې د انګریز دا چټک یرغل ولید، نو په مرکزي آسیا کې یې بالمثل کار پیل کړ او مرو چې د افغانستان په قبضه کې وه اشغال کړه او ګرانویل (د انګریز خارجه وزیر) ته یې په لندن کې د خپل سفیر په وسیله دا پیغام ورساوه: «د روس او انګریز سیاستمدارانو همیشه تأکید کړی دی چې متمدن قدرتونه چې په اړخ کې غیر متمدن ګاونډي لري ډیره مشکله به وي چې د قلمرو د پراختیا څخه لاس لنډ کړي.»

روسان په دې هم بسنده نشول او په ۱۸۸۵ کې هغه مهال چې امیر عبدالرحمن خا د هند د ویسرای سره په راولپنډۍ کې په سیاسي مذاکراتو مصروف ؤ روسانو پنجده ونیوله او درې سوه افغاني عسکر او د هغو افسر یې قتل کړل او لویه فاجعه یې منځ ته راوستله، خو د انګریز ناځواني دا وه چې افغانستان ته یې وعده ورکړې وه چې روسان به نوره پیشقدمي ونه کړي، خو کله چې روسانو د پنجده سره پر پل خاتون یرغل وکړ انګریزان وتښتیدل او حتی د افغاني عسکرو سره یې هیڅ مرسته ونه کړه، ځو افغانان قتل عام شول او چا روسانو ته هیڅ ونه ویل.

انګریزانو په چټکۍ په ۱۸۸٦ کې ټول پښین او سیوی قبضه کړه او د کوږک د تونل د سوری کولو کار یې پیل کړ، څو په ۱۸۹۱ کې تر دغه تونل ګاډی ووتله. امیر عبدالرحمن خان په خپل فرمان د چمن سیمه انګریز ته وسپارله، څو هغو هلته د اورګاډی سټیشن جوړ کړ.

انګریزانو او روسانو د امیر عبدالرحمن خان په دوره کې د افغانستان پر جنوب او شمال یرغلونه وکړل او د افغانستان ډیرې ټوټې یې بیلې کړې، د انګریز تر څپیړې لاندې امیر په داټولو حالاتو کې د تجاهل یو سیاست مخې ته اچولی ؤ او فقط وهلو او شکنجو ته یې ادامه ورکوله.

## ٦- د امیر د خارجي سیاست ستراتیژي او د پنجده فاجعه:

عبدالرحمن خان د دوو قوي او یو د کمزوري دولت په کړۍ لویدلی او شکنجه کیدی د شمال له خوا روس د جنوب له خوا بریتانوي هند او د غرب له خوا ایران پرله پسې تر فشار لاندې نیولی ؤ.

د امیر دوه غټ رقیبان سردار ایوب خان او سردار اسحق خان لومړی انګریز او دوهم روس په لاس کې ورته نیولی وه او همیشه یې دی په تهدیداوه، ایران که څه هم پر امیر د فشار له پاره کومه وسیله نه درلوده، خو په عنعنوي توګه به د افغانستان سرداران چې دلته مرور شول، نو ایران ته به یې ځان راورساوه.

عبدالرحمن خان د روسبې سره د مناسباتو په برخه کې ډیر محتاط ؤ، که څه هم یوولس کاله ده د مرکزي آسیا د روسانو په حوزه کې تیر کړې وه خو د خپل نیکه (امیر دوست محمد خان) او تره (امیر شیرعلي خان) له سرنوشت څخه چې د روسانو په خاطر یې سخت او هولناک خطرات استقبال کړل پوره تجربه او فهم درلود، نو ځکه د خپل امارت له پیل څخه یې په انګریز پسې سیاسي اقتدا وکړه.

انګریزان له دې څخه ډیر راضي وه چې امیر عبدالرحمن خان په ډیر یو نازک رمز هم پوهیدی او د کارونو د تدبیر صلاحیت یې هم درلود دا چې زړه یې سخت او بې رحمي یې د افعی په شان وه په دې هم انګریزان خوشحاله وه، ځکه پس له هغه چې د امیر شیرعلي په وخت کې رفورم او یو د عصري او مهذب ژوند ته تولنه ور برابره شوه او دا وضع انګریز ته د تحمل نه وه نو امیر عبدالرحمن د دغه جریان د بیخ او بنسټ ایستلو لپاره په رمز سره د انګریز غوښتنې سرته رسولې.

ده دوه ویشت کاله د دې وطن پر سر تورو وڅرخوله او د انسانانو کله منارونه یې جوړ کړل او ټولنې چې د عصر فرهنګ ته یو ګام په مخ اخیستی ؤ په فرسخونو یې پر شا راټیل وهله او د دې لپاره چې د قرون وسطایي نظام شرایط پوره پکښې تطبیق شي په زرګونو فال بینان، جادوګران او د

خرافاتو رواجوونکی یې له هند څخه افغانستان ته راولیږل چې په دې توګه ټولنه په خرافاتو کې غرقه کړي.

امیر د انګریز مسلمان نماینده هم په خپل دربار کې قبول کړ او پخپله هم په ۱۸۸۵ کې د هند د ویسرای سر د خبرو لپاره راولپنډۍ ته ولاړ.

په پای کې یې د انګریز په خوښه د (ډیورند کرښه) قبوله کړه او د افغانستان ډېرې هغه سیمې چې ستراتیژیک موقعیت یې درلود هغه یې انګریز ته پرېښوولې، غالباً دا عذر له نظره نه غورځول کیږي چې امیر ډیر مجبوریتونه درلود خو د ... پرېدو نه دده چې امیر د انګریز د اوامرو د منلو او د خپلو خلکو په ټکولو کې د افراط څخه کار اخیستی دی.

امیر د روسانو سره په احتیاط برخورد کاوه او کوښښ یې دا ؤ چې دی د روس او انګریز ترمنځ د کوم ټکر وسیله و نه ګرځي. خو د سیاست محور یې بیا هم د «تجرید» او «بفر» د پالیسیو پر بنسټ تکیه ؤ. د ده یوازې د انګریز سره اړیکې ساتل او د انګریز او روس ترمنځ یې خپل هیواد ته د یوه ثابت بفر حیثیت ورکړ.

سره له دې چې امیر ډیر احتیاط کاوه چې روسان تخریش نه کړي خو روسانو بهانه غوښتله. په همدغو ورځو کې د انګریز روس او افغانی هیأت خبرې د شمال لویدیځ سرحد د کرښې ایستلو په باب جاری وې چې روسانو د انګریز د هیأت مشر جنرال لمزدن ته چې په سرخس کې اوسیدی شکایت وکړ چې افغانستان ډیرې ترخې خبرې کوي، هغه قاضی سعدالدین ته خبر ورکړ، خو هغه وویل دا یوه بهانه ده د بیا یې روسان د یوې فاجعې په منځته راوستلو لاس پورې کړي.

په دې وخت کې د مرو حاکم علی خانوف له یو سل پنځوس سپرو سره یو بل روسی افسر هم د یو سل پنځوس سپرو سره په سیمه کې صندوق کمپنی ته راغلل همدا رنګه شپږ زره روسان مرو ته راوستل شول، دا یو مکمل تهدید د افغانی قوماندان جنرال غوث الدین پر له پسې د وضع د حساسیت په نسبت علی خانوف ته لیکونه واستول، خو هغه غوږونه کاڼه واچول.

په ۱۸۸۵ په مارچ کې وضعیت دومره وخیم شو چې ټولوا کمنی ویکټوریا د روسیې امپراطوری تزار الکساندر ته تلګرام وکړ او ورته یې لیکلی چې د افغان او روسی عسکرو د جنګ په مخنیوی کې د خپل نفوذ څخه کار واخلی. د مارچ په ۱۶ د لندن اخبارو او مخالفو ګوندونو د ګلادستون حکومت وغندی چې د روسانو د ف جعې مخه نه نیسی.

د مارچ په ۲۵ د جنرال کامیرون عسکرو په کشک کې افغانی عسکرو ته د سنګرونو د خوشې کولو امر وکړ، خو هغو دا امر و نه مانه او د مارچ په ۳۰ د روسی او افغانی عسکرو ترمنځ جګړه پیښه شوه او انګریزانو دا یو تجاوز وباله او ګلادستون صدراعظم د اپریل په ۲۷ پارلمان ته

پیشنهاد وکړ چې یوولس ملیونه پونده کریدت ورکول شي چې له دغې جملې څخه شپږ نیم ملیونه د پنجده د پیښې د لازمه ترتیباتو لپاره خرڅي شي.

ګلادستون وروسته خبرې نرمې کړې او افغانستان ته یې د روسانو په حواله پرېښود. دا یوه داسې فاجعه وه چې روسانو په ډېرو نفرو حمله وکړه او د سترګو په رپ کې یې جنرال غوث الدین او افغاني محدود عسکر ټول قتل کړل. د انګریزانو نامردي دا وه چې وتښتېدل او د افغاني عسکرو باروت چې لانده شوي وو ددوی څخه یې باروت وغوښتل خو هغو ورنه کړل.

د پنجده د موضوع معلومولو لپاره د انګریزانو خارجه وزیر لارد کراتولي د آلمان امپراطور پیشنهاد او روسیې د دنمارک پر پاچا باندې اصرار درلود او انګریزانو د روسانو نظر ورسره ومانه ،خو نړۍ د انګریزانو نامردي کاملاً ولیدله او وې غندله.

امیر عبدالرحمن خان په دغه وخت کې په راولپنډۍ کې ؤ هلته هم د هند ویسرای دروا غ ورته وویل، خو امیر یې له صبره بله چاره نه درلوده.

دغې فاجعې امیر ډېر ودردراوه، خو د انګریز فشار دومره پر زیات ؤ چې په خپله سیاسي ستراتیژۍ کې یې هیڅ بدلون نشوای راوستلای. پنجده هم هغه وخته د افغانستان له لاسه ووتله.

## ۷- ډیورنډ لین:

پس له هغه چې انګریز په خپل ټول حکمت امیر ترو هلو په څغلولو ستړې کړ او بنه یې دې ته تیار کړ چې د افغانستان د بدن ټوټې ورڅخه غوڅې کړي او امیر سترګې ونه رپوي نو د ډیورنډ معاهده یې (چې د بین الدول حقوقو له نظره معاهده هم نشي ورته ویل کیدای) په لاسلیک کړه.

امیر قدم په قدم او بند پر بند وتړل شو او د کار مقدمات داسې پیل شول:

تر ۱۸۸۷ وروسته چې د افغان او روس د سرحد ټاکلو کار پای ته رسیدلی ؤ انګریزانو کویټه، اټک او راولپنډۍ د جنګي استحکاماتو له پلوه د درنو اډو په شکل عیار کړل او جنرال رابرټس د ۳۰ زرو عسکرو سره یوسفزي تر چترال پورې تابع کړل.

په ۱۸۹۳ کې انګریز درنې قواوې د افغانستان په استقامت راسوق کړې او امیر ته یې یادداښت راولیږۍ چې د جنرال رابرټس سیاسي هیأت د یوې فرقې عسکرو سره په جلال آباد کې قبول کړي، امیر عبدالرحمن هم عصبي شو خپلو یو لکو عسکرو ته یې د تیارسۍ امر ورکړ او د جهاد د اعلان اراده یې وکړه، خو انګریز چې دا مقاومت ولید، نو خپله پښه یې ورټوله کړه او په دې یې قناعت وکړ چې خپل سیاسي مامور مارتیمر ډیورند د پنځلس نفرو سره کابل ته راولیږي (د سپتمبر

میاشت) ډیورند کابل ته راغی او پس له ډیرو خبرو یې پر هغه معاهده لاسلیک وکړ چې د ډیورند په نامه یادیږي او انګریزانو په دې معاهده د افغانستان موقعیت یوه قاطع بفر ته برابر کړ، د ترون لنډیز دا دی:

د ډیورند د معاهدې سواد:

د سرحد د تحدید په باره کې معاهده

نیټه: د ۱۸۹۳ کال د نوامبر ۱۲

د ۱۳۱۱ هـ ق کال د جمادی الاول ۲

د ډیورند د لاسلیک اصل معاهده د ډیورند د مراسلاتو د کتاب (۱۱۰) مخ کې او مربوط نقشه یې په (۱۰۷) مخ ملحق شوی ده.(۱)

د غه معاهده د جناب امیر عبدالرحمن خان I.S.C.G د افغانستان او د هغه د ملحقاتو امیر له یوې خوا او سر هانری مارتیمر ډیورند I.S.G.E.I.G.K د هند د عالیه دولت فارین (خارجه) سکرتری او د عالیه دولت اخوا نائب او وکیل له بلې خوا لاسلیک کوی.

له هغه ځایه څخه چې د افغانستان د سرحد په نسبت د هند پر خوا ځینې مسألې منځ ته راغلی او څرنګه چې هم جناب امیر صاحب او هم د هند عالیه دولت د دغو مسایلو د انفصال هیله او خواهش د دوستانه اتفاق له لارې لري او د خپل اقتدار او تسلط د دایرې د حدودو د تعیین او تقرب هیله لری، ترڅو چې د دواړو هم عهدو او هم پیمانو دولتو ترمنځ په دې امر کې د رایی او خیال هیڅ اختلاف په آینده کې واقع نه شی، نو د دې لیکنې په وسیله په لاندې ډول معاهده کیږی.

۱- د جناب امیر صاحب د هیواد ختیز او سهیلیز حد په اوږدو له واخان څخه د ایران تر سرحده پورې په هغه خط کې چې پر نقشه باندې کنبل شوی دی او د دې عهد لیک مل دې تعیین کیږی.

۲- د هند عالیه دولت د افغانستان په لور چې د دې خط په آخوا ملکونو کې واقع دی هیڅوخت به د مداخلې لاس ور و نه غزوي او امیر صاحب به هم د هندوستان په لور د دې خط په آخوا ملکونو کې هیڅکله مداخله و نه کړی او لاس به وانچوی.

۳- و د بریتانیې عالی هیواد متعهد کیږی چې جناب امیر صاحب دې اسمار او د هغه پورته ناوه تر چنګه Chanaka پورې په خپل لاس کې ولری او له بلې خوا امیر صاحب تعهد کوی چې هیڅکله په سوات، باجوړ او چترال د ارنوی Arnawai په ناوې او باشګل Bashigal کې مداخله نه کوی او لاس به پکې نه وهی. د بریتانیې دولت هم تعهد کوی چې د برمل ملک لکه

(۱) له دغه د متن لنډیز د افغانستان د بین المللی روابطو د تاریخ له دوهمې برخې څخه د مرحوم فضل ربی پژواک لیکنه ده د ۶۷ مخ مخه را نقل شوی دی.

ځرنګه چې په مفصله نقشه کې کښل شوی او مخ کې جناب امیر صاحب ته ورکړه شوی دی جناب امیر صاحب ته به پرېښودل شي او امیر صاحب د وزیرو او دوړو په پاتې ملک کې له خپلې ادعا څخه تېرېږي او هم د جاګی (چغی) (Chagah) په نسبت له خپلې ادعا څخه صرف نظر کوي.

٤- د سرحد بندۍ د غه کرښه به وروسته له دې څخه په تفصیل سره وکښل شي او نښې به یې په هر ځای کې چې ممکن وي د افغان او برتش د کشنرانو په وسیله کېښودل شي او د دغو کمشنرانو مرام او مقصد به دا وي چې د یو او بل په اتفاق پر یو سرحد باندې موافقه وکړي او هغه سرحد باید حتی الامکان بعینه د هغې حد بندۍ مطابق وي چې په دغه نقشه کې د دې معاهدې سره ملحقه ده، لیکن سرحد ته نژدې د موجوده کلیو محلیه حقوق دې په نظر کې ونیول شي.

٥- د چمن د مسالې په نسبت د نوي انګریزي چهاونۍ په باره کې جناب امیر صاحب د خپل اعتراض څخه تېرېږي او د سرکي لیږي (یا سرکي تیږي Sorkai Taigai) په اوبو کې چې اخیستي یې دي د بریتانیې علیه دولت ته یې تسلیموي په دې حصه کې د حد بندۍ سرحد به په لاندې ډول وکښل شي د حد بندۍ خط به (شاه کوتل) ته نژدې د خواجه عمران د غرد پاسه چې انګریزي ملک ته نژدې دې داسې ځی چې (مرغه چمن) او د شېرو اوبه (Sharo oba) چینه افغانستان ته پرېږدي او عدل د نوي چمن د کلا او افغاني تهانې تر منځ کېږي او له لښکر ډند څخه تېرېږي وروسته له هغې د عدل د غه کرښه د ریل سټیشن له منځه هغه غرد ته چې په (میران بولدک) مشهور دی رسېږي او د جنوب لوري ته راګرځي، د خواجه عمران به د غرونو کې شاملېږي او د ګواشی (Gowashi) تهانه په انګریزي ملک کې پرېږدي او هغه لارد چې د نبوراوک او د ګوابنې په لور ورځي د افغانستان په تعلق کې یې پرېږدي د بریتانیې دولت به په نوموړې لاره کې تر نیم میله پورې هیڅ مداخله ونه کړي.

٦- د دغې عهد نامې شرایط د بریتانیې عالیه دولت او د افغانستان د جناب امیر صاحب داسې بولي چې د غه عهد لیک د سرحد په نسبت د دوی په منځ کې د رایې او خیال د رستو اختلافاتو خاطر خواه او بشپړ د فیصله ده، د هند عالیه دولت او هم جناب امیر صاحب دا په خپله غاړه اخلي چې د جزوي فقراتو د اختلافاتو انفصال مثلاً هغه راز اختلافات چې په آینده کې د سرحد د نښه اېښوولو د مقرر د افسرانو له خوا پرې غور او فکر کېږي، په دوستانه لاره به فیصله شي، تر څو چې په آینده کې د دغو دو دولتونو ترمنځ تر وسه، وسه پورې د شک او شبهې او غلط فهمۍ د رست اسباب له منځه لیرې کړی شي.

٧- ځرنګه چې د هند عالیه دولت د بریتانیې د دولت په نسبت د امیر صاحب د نېک نیتي په هکله

مکفی او بشپړ دلایل نه لري او هیله لري چې افغانستان د استقلال او خود مختارۍ په حالت کې ووینی، نو ځکه د بریتانیې دولت به د امیر صاحب له خوا د جنګ د اسبابو د رانیولو او خپل هیواد ته د هغو د راوړلو په هکله هیڅ ایراد او اعتراض ونه کړي او نوموړی هیواد به پخپله د جنګ د اسبابو څه مرسته ورسره وکړي، برسیره پر دې د دې لپاره چې د هند عالیه دولت د امیر صاحب د هغه دوستانه رویې به نسبت چې په دې خبرو کې یې ښوولې دی علاوه پر هغه (۱۲) لکه روپو چې کال په کال ورکول کیږي په کال کې ٦ لکه روپۍ نورې هم زیاتې کړي.

فقط د ۱۸۹۳ کال د نوامبر ۱۲ او د ۱۳۱۱ قمری کال د جمادی الاول په دوهمه نیټې ولیکل شو د.

دا د ډیورند د معاهدې یوه خلاصه وه خو د بین الدول د حقوقو له نظره په مشکل د معاهدې نوم ورته یادولی شو. د معاهدې یو جانبیت له دې څخه پوره څرګند دی چې په متن کې پخپله انګریز د امیر په نمایندګۍ رغیږي، په هره فقره کې د جناب امیر صاحب جمله استعمال ول دا معنا ورکوي چې د امیر پر ځای یو بل څوک د د نظر او تعهد بیانوي په هر صورت د دغې معاهدې کار پوره دوه کاله وخت ونیوی، د افغانستان له خوا (سپه سالار غلام حیدر خان څرخي د ننګرهار ولایت والي او نظامي قوماندان، سردار شیریندل خان د پکتیا والي، سردار ګل محمد خان د ارګون حاکم او محمد عمر خان نورزی فراهي) د امیر نمایندګان وه، د انګریزانو له خوا (ستراوني کمشنر، مستر دانلډ او مستر میکماهن) نمایندګي کوله. د ډیورند د کرښې تر لاس لیک وروسته په ټولو قبایلو مخصوصاً وزیرو او مسودو کې سخت شورش پیل شو، دوی له امیر څخه غوښتل چې د انګریز څخه، مه خلاص او په افغانستان پورې وتړل شو، خو امیر به په دې بهانه چې تاسې زما په خوله نه کوی له دې څخه ډډه کوله چې دغه قومونه ځانته واخلي.

انګریزانو په ډیر جبر او نظامي وهلو ټکولو قبایل نه یوازې رام نه کړل، بلکې لوی تشویشونه یې پیدا کړل، خو د شلمې پیړۍ پیل سره لارډ کرزن نوی تشکیلات منځته راوړل او وضع ته یې د انګریز په ګټه تغیر ورکړ.

## ۸- د عبدالرحمن خان وروستي بې نتیجې سیاسي تلاشونه:

د ډیورند په تړون د امیر ټول اندامونه د استعمار په پړو وتړول شول، انګریز پخوا لا دی د ملت څخه را بیل کړی او د ولس پر ضد یې داسې استبدادی ماشین په چلولو ؤ چې یو دوست هم په وطن کې ورته پاته نه ؤ.

دا خبره ضرورتاً په تکرار کوم چې امیر د وحشي او باغي ټولنې د رعیت کولو لپاره مجبور ؤ چې د یو مقدار شدت څخه کار واخلي خو په دې لار کې افراط، وطن ته دده ضرر تر نفع زیات کړ.

د ډیورند له معاهدې څخه یو کال وروسته په ۱۸۹٤ کال کې د انګریز لوی سیاستمدار لارډ کرزن (چې وروسته د هند ویسرای او بیا د بریتانیا خارجه وزیر ؤ) کابل ته راغی او د امیر سره یې خبرې وکړې او د انګریز د دولت غوښتنې یې وروړاندې کړې.

دده امیر څخه وغوښتل چې د چمن څخه د کندهار تر داخل پورې او په مشرقی کې تر ډکې پورې د اورګاډي د لین او تلګراف د لین سره موافقه وکړي. امیر د کرزن ټوله غوښتنې رد کړې، کرزن د روسیې سره د افغانستان د مخامخ کیدو په صورت کې د قواو رالیږل پیشنهاد کړل، خو امیر ورته وویل په جنګ کې موږ عسکرو ته ضرورت نه لرو، خو پیسو او وسلې مرستې قبلوو. کرزن د کندهار له لارې هند ته ستون شو.

په دې پسې په دا بل کال (۱۸۹۵) کې د بریتانیا ټولواکمنې ویکتوریا په نامه د انګریز دولت امیر عبدالرحمن ته بلنه ورکړه چې لندن ته ورشي، خو امیر تمارض وکړ او پر ځپل ځای یې زوی سردار نصرالله خان ورواستاوه، امیر زوی ته یوه هدایتنامه ورکړه چې د هغې په د یرشمه ماده کې یې لیکلي وه: کله چې د انګریز له ملکې څخه رارخصتیږې، ملکې ته ووایه چې حضرت قبله مې یوه غوښتنه لري چې د سرکار والا له خوا یو نفر په لندن کې مقرر شي چې هر وخت د حضرتي ملکې او شهزاده ګانو په ستر ګو لیدلي احوال مې پلار ته ولیږي او د هغه لیکونه دلته راورسوي. زه له‌ د خپلې موږ په شان ستاسې څخه ددې غوښتنې د قبول هیله لرم.»(۱)

سردار نصرالله خان ته په لندن کې په ډیرو لوړو تشریفاتو هرکلي وویل شو، خو هغه د پلار غوښتنه یې ونه منل شوه.

امیر د انګریز له خوا د تحمیل شوي تجرید د سیاست سره د زړه علاقمندي درلوده، ځکه په فراغت یې خلک ټکولی شوای او چا څه نشوای ورته ویلای، همدارنګه د بفر په برخه کې هم راضي ؤ خو ددغه سیاست د تطبیق لپاره مجبور ؤ چې همیشه د دقیق تدبیر فکر وکړي.

په لنډه توګه دد شرقي ذهنیت سره مطابق پر انګریز دا ملامتی ویله چې هغوی ځوانمردي نه لري او د خپل قول پابنده نه وي، خو په دې نه پوهیدی چې د استعمار په قاموس کې دا هسې کلمې ځای نه لري.

د امیر د ژوند د وروستیو کلونو سیاسي تلاشونه ټول بې نتیجې ؤ، نو د ژوند وروستي ورځې یې په ناراضۍ کې تیرې شوې.

(۱) غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، ص ٦۹٦

## ۹- د امیر د مرګ پر وخت د افغانستان نقشه:

امیرعبدالرحمن خان پس له تقریباً یوویشتو کالو باچهۍ څخه وروسته د ۷۱ کالو په عمر د ۱۹۰۱م کال د اکتوبر په لومړۍ ورځ د نقرس په ناروغۍ له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

د ده تر ځان وروسته یو ګوډ وړوند استبداد ځپلی افغانستان پرینبود د امیر د مرګ پر وخت په وطن کې نه ښوونځی ؤ، نه کتابتون، نه صنعتي مؤسسه (بې له یوې حربي فابریکې) او نه کوم د هنري زدکړې ځای. په وطن کې کله منارونه ولاړ وه او زندانونه په نرو او ښځو ډک وه، خو تام امنیت برقرار ؤ او دا امنیت د قبرستان امنیت ته ورته ؤ. د امیر شیرعلي خان د وخت پوهان او روښانفکران یا وژل شوي وو یا د وطن څخه فرار دوو. د افغانستان د سرحداتو د ټاکلو کار چې د امیر شیرعلي خان د وخت څخه پیل شوی او د انګریز او روس تر منځ مفاهمې پر کیدلی د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې تر ډیره ځایه حدود وټاکل شول.

د هیواد شمال ته د امیر شیرعلي په نامه خط چې په ۱۸۷۳ کې د روسیې له خارجه وزیر شهزاده ګرچاکف او د انګریز د خارجه وزیر لارد کرینویل ترمنځ پروتوکول شوی وه په هغه کې بدخشان او د هغه متعلقات د واخان یوه برخه د کوکچې تر سیند پورې نښاني شوې وه، همدارنګه د افغاني ترکستان په برخه کې کندز، خلم او بلخ شامل وه او بیا د کوکچې څخه تر خواجه صالح پورې د آمو سیند چپه خوا د افغانستان په حدودو کې شامل وه، پر همدغه کرښه آقچه، سرپل، میمنه، شبرغان او اندخوی د افغانستان په حدودو کې شامل وه.

همدارنګه د ریجوی د خط حدود د ذوالفقار خم آب او خواجه صالح پورې ۳۷۰ میله په نښه شول دا کار د امیرعبدالرحمن خان په وخت کې په ۱۸۸۷ کې سرته ورسیدی.

په همدې توګه د پامیر خط چې د امیرعبدالرحمن خان په وخت کې په ۱۸۹۵ په لندن کې د روسیې د سفیر او د انګریز د خارجه وزیر ترمنځ په نښه شوی ؤ لوی پامیر روسیې او کوچنی پامیر افغانستان ته ورکول شو او هم د واخان دهلیز ناخواسته د امیر په غاړه وروځړول شو.

د شمال ختیځ څخه تر جنوب لویدیځ پورې یعنې د پامیر له جنوب څخه د سیستان تر ملک سیاه پورې د ډیورند کرښه د امیرعبدالرحمن خان او د هند د خارجه چارو د سکرتر ډیورند ترمنځ امضاء شوه چې د افغانستان ډیر اندامونه پکښې غوڅ شول (د ډیورند حدود تر دغه اوسنی عنوان وړاندې راغلی دی).

فقط د ایران سره د سرحد مسایل د عبدالرحمن مخه لاینحله پاته شوه، په همدغو حدودو کې د افغانستان نقشه د امیر د مرګ پر وخت راپاته شوه چې زر آفتونه پر مسلط وه.

# څوارلسم فصل

## د عیاشیو او فتنو دربار

### ۱ - د شملې پیړۍ په پیل کې نړۍ او افغانستان:

شلمه پیړۍ په نړۍ او افغانستان کې د ډېرو ترخو تراژېډیو عصر ؤ، په همدغه پیړۍ کې پر نړۍ دوه خونړۍ نړیوال جنګونه تحمیل شول چې د بشریت په تاریخ کې یې سابقه نه درلوده، همدارنګه په افغانستان کې سرې او تودې ډېرې منځته راغلې، خو ددغې پیړۍ وروستی دوې لسیزې د افغانستان د تباهۍ او د خلکو په وینو بهولو بدرګه شوی.

ددې پیړۍ په پیل کې یعنې په ۱۹۰۱م کال د انګریز تړلواکمنه ویکتوریا تر ۶۳ کاله باچهۍ وروسته مړه شوه او پر ځای یې ۶۰ کلن زوی اووم اډورډ باچا شو چې هغه هم په ۱۹۰۱ کې مړ شو.

د ویکتوریا دوره انګریزانو په خپل تاریخ کې یوه زرینه پاڼه بولي، ځکه ددغې ملکې په دوران کې انګریز پر نړۍ موټ راتاو کړ او پر امپراطورۍ یې لمر نه غوټه کیدئ.

د لندن په سیاسي صحنه کې دوه ګوندونه لبرل او محافظه کار د انګریز د عظمت د ساتلو او پراخولو په فعالیت بوخت وه او دوه ډېر لوی سیاستمداران د یزرائلي (محافظه کار) او ګلادستون (لیبرل) په داسې سیاسي سیالیو اخته وه چې هر یوه د انګریز ګټې مقدمې بللې.

په روسیه کې د تزار نیکولای استبداد ځپې وهلې په ۱۹۰۵ او ۱۹۰۷ کې دوه انقلابه وشول چې د ډیرو وینو په تویولو خاموشه شوه او د راتلونکو انفجارونو زمینې یې برابرې کړې.

روسیې په مرکزي آسیا او قفقاز کې د نفوذ ساحې پراخې کړې او د بخارا امارت یې په خپلو منګولو کې ونیوی.

په ایران کې د شلمې پیړۍ په پیل کې مظفرالدین شاه او ایران مشروطه غوښتونکي په جګړه کې وه څوو یې پر مظفرالدین شاه ددوی په اصطلاح عدالت خانه تحمیل کړه.

ترکیې ته چې په ناروغه سړي یې شهرت پیدا کړی و بدې ورځې په مخ کې وې، د عثماني امپراطورۍ پایې په ړیږدیدو وې او سلطان عبدالحمید د انګریز په حمایت کې د خپلې باچهۍ د بقا خوبونه لیدل.

افغانستان ته ورڅرمه په صوبهء سرحد او بلوچستان کې د لارډ کرزن تشکیلاتي پلان تر عمل لاندې ونیول شو او د ۱۹۰۱ کال په اپریل کې لارډ کرزن (چې تازه ویسرای شوی ؤ) د یو دوه زره کسیز دربار په وړاندې (د هندوستان د شمال مغربي ولایت) جوړیدل اعلان کړل. دا ولایت پر پنځه ضلعو (هزاره، پېښور، کوهاټ، بنو، دیره‌ء اسمعیل خان) مشتمل ؤ چې پنځه قبایلي ایجنسي (ملکنډ، خیبر، کورمه، شمالي وزیرستان او جنوبي وزیرستان) پورې تړلې وې او په ملکنډ ایجنسي کې چترال، دیر او د سوات خانې شاملېدلې.

دا نوی ولایت چې پخوا د پنجاب څخه اداره کیدی په نوي تشکیل کې مستقیماً په مرکزي دولت پورې وتړل شو.

په دې تشکیلاتو کې د ولایت او قبایلو د ایل کولو لپاره د مومندو ملیشا، د جنوبي وزیرستان سکاوټان، د خیبر توپک ویشتونکو او د کرمې ملیشا په نامه نظامي ډلې جوړې کړې.

دغه نوي ولایت چیف کمشنر چې په سرحدي قبایلو کې یې د کار پخه تجربه درلوده سرهیرالډ ډین وټاکل شو او دغه سړي د افغانستان څخه د پښتنو سیمو او قومونو د بیلولو لپاره ډیر دروند فعالیت پیل کړ.

بلوچستان په دې نویو تشکیلاتو کې پر دوو برخو وویشل شو چې یو یې خاص بلوچستان یا د بلوچستان ریاست ؤ چې په هغه کې قلات، لاس بیله او خاران مهمې سیمې وې او مرکز یې د بلوڅې قلات ښار ؤ.

دوهم بریتانوي بلوچستان ؤ چې په هغه کې کوټه، نوشکي، بولان او نصیرآباد شامل وه، او په قبایلي سیمو کې (مري، بګټي، لورلایي، سیوي، جاغي، ژوب، پښین، او د چمن ایجنسي) شاملې وې.

دغو خطرناکو تشکیلاتو افغانستان په شکنجه کې واچاوه او د لارډ کرزن څخه امیر حبیب الله خان سخت نفرت کاوه، لکه څرنګه چې هغه څو واره امیر ته د مسافرت بلنه ورکړه، خو هغه د کرزن په وخت کې دا سفر ونه کړ او کله چې هغه له هنده ولاړ بیا امیر حبیب الله هند ته ورغی.

دا خو د شلمې پیړۍ په پیل کې د هغې نړۍ د یوې برخې په باب معلومات وه چې د افغانستان سره یې اړیکې درلودل، خو پخپله افغانستان د یوې ویرونکې خپسکي څخه خلاص شوی ؤ، امیر عبدالرحمن خان د دغې پیړۍ په پیل په ۱۹۰۱ کې مړ شو او پر ځای یې مشر زوی (سردار کلان) حبیب الله خان باچا شو.

د حبیب الله خان له پاچهۍ سره هغه پخوانی فشارونه کم شول د افغانستان څخه تبعید شوی شخصیتونه او کورنۍ بیرته وطن ته راوغوښتل شول چې په هغه کې د طرزیانو او مصاحبینو کورنۍ شاملې دي.

امیر حبیب الله د فرهنګ علاقمند سړی ؤ او د ده په وخت کې ځینې فرهنګي مؤسسې منځ ته راغلې. دربار تر نظم لاندې راغی، د دولت مؤسسې د خپلو ښو او بدو خبرو سره په ټولنه کې تجلا وکړه.

سیاست دربار ته ننوت او مختلفې سیاسي ډلې منځته راغلې او یود پر جنبو جوشه دوره پیل شوه، خو دا امیر طبع عیاشي ته ډیره مایله وه نو دربار هم پر هغه خوا سوق شو.

## ۲- امیر حبیب الله (سراج الملة والدین):

حبیب الله چې د امیر عبدالرحمن خان تر مرګ وروسته د افغانستان اداره په لاس کې واخیستله د فقید امیر مشر زوی ؤ چې په ۱۸۷۲ م کال د پلار د فرار په وخت کې په سمرقند کې وزیږیدی.

په ۱۸۸۰ کې چې یې پلار کابل ته راغی، نو دی یې په مستقیمه توګه تر روزنې لاندې ونیوی او د ۱۸۹۰ څخه چې د ۱۸ کالو ؤ د سردار کلان په نامه یې پلار اداري چارو ته وګماره.

دی د بدخشانۍ مور څخه ؤ او تر دده دوه کاله کشر ورور یې سردار نصر الله خان، چې سکه ورور یې ؤ، ورسره همکار ؤ.

حبیب الله خان ذاتاً نرم طبیعته سړی ؤ او میلان یې عیش او عشرت ته زیات ؤ خو ډیر هوښیار هم ؤ، نو ځکه همیشه یې د خپل مستبد او قهار پلار طبیعت ساتئ او پلار یې په دې قانع کړی ؤ چې پس له هغه څخه حبیب الله د هیواد د اداري لپاره پوره صلاحیت لري.

دی په خپله ۱۸ کلنه باچهی کې په څو څیرو کې راڅرګند شو، خو په دا ټول دوران کې یې د انګریز سره د پلار په وصیت خپله وفاداري وساتله او په عین زمان کې یې په ماهرانه توګه په خپل پرستیژ انګریزان قانع کړل.

دی ۲۸ یا ۲۹ کلن ځوان ؤ چې پر تخت یې پښه کښیښووله، خو پلار یې په وصیتنامه کې او سپین ږیرو مشاورینو په نصیحت کې دا ورفهموله چې دا ټولنه مذهبي ده باید ځان د هغې سره په مطابقت کې عیار کړي، همدا وجه وه چې په یوه خوا ګرځنه ریاکاري یې شیخي ته لاس واچاوه په سم دربار کې ناري کړه چې زما پنځه ماینې دي، ددې لپاره چې شرعي امر مې پر ځای کړی وي، یو دیې په همدې مجلس کې طلاقوم، بیا یې یوه د پاخه عمر ښځه سنګساره کړه چې هغې د یرش کاله پخوا عشق بازي کړې وه. ددې قبیله یې ځینې کارونه وکړل، خو عیاشي بیرته ځان ته ورکش کړ.

ده د انګریز سره ځینې وخت نازدانه شوخي کولي، مثلاً د لارډ کرزن بلنه یې هند د سفر لپاره ونه منله، خو کله چې هغه له هنده ولاړ بیا ده هند ته سفر وکړ.

د ۱۹۰۷ مشهور تړون چې د انګریز او روس تر منځ شوی ؤ او د افغانستان په برخه کې یې د امیر موافقه غوښته، ده ځان تیر او دا او هغه یې تایید نه کړ.

په لومړۍ نړیواله جګړه کې یې د افغانستان په اړوند د انګریز دا غوښتنه ومنله چې بې طرفي وکړي، خو په کابل کې د هند د مؤقت او جلاوطنه حکومت په تشکیل کې د انګریز پر غوښتنو اغماض وکړ. د انګریز سره دا بې اعتنایي ګانې جدي نه وې، هغوی هم پوهیدل.

وروسته یې په دربار او حرم کې عصري تشریفات جاري کړل، څو د کورنۍ او د دربار په عکس العملونو کې په ۱۹۱۸ ترور شو.

## ۳- په سیاسي صحنه کې د حبیب الله او انګریز لوبه:

د ۱۹۰۱ کال د اکتوبر په اول حبیب الله د امیر عبدالرحمن خان جانشین شو او په دغه وخت کې دده اول کار داؤ چې انګریزانو ته یې خبر ورکړ چې دی د امیر مرحوم پر ځای د افغانستان واکدار شو، انګریزانو هم مبارکي ورته وویله او ورته یې ولیکل چې اجازه وکړي یو انګریز هیأت کابل ته ورشي چې پخواني تړونونه تائید کړي.

ځوان امیر د هند د ویسرای لارډ کرزن لیک ته مختصر ځواب ورکړ او د هیأت له رالیږلو څخه یې اغماض وکړ، صرف ورته وې لیکل چې هغه تړون چې زما مرحوم او مغفور پلار د انګریز سره کړی دی تر کله چې انګریز ته محترم وي دی به هم ورته وفادار وي.

کرزن د لیکونو دا لړۍ اوږده کړه او په شپږم لیک کې یې امیر ته بلنه ورکړه چې هند ته ورشي

خو امیر تمارض وکړ او په بل ځل کې کرزن اخطار ورکړ چې که د پخوانیو تړونونو تجدید نظر ته حاضر نشی نو د انگریز مستمرې به هم بنده شي، خو امیر په دغه خبره دومره عصبی شو چې تر کله کرزن په هند کې ؤ د ده هلته سفر ونه کړ.

په ۱۹۰۳ کې انگریزانو یو سیاسی افسر (ایچ، آر، سی، دابس) هرات ته راولیږی چې د روسانو سره پر سرحد ځلی تازه کړی خو روسان د هغه سره کار ته حاضر نشول، د بلې خوا امیر حبیب الله هغه ته خبر ورکړ چې له هرې خوا هرات ته راغلی د هغې خوا فوراً ووځی، دا عمل انگریزانو پر خپل پرستیژ یو د بله ځپېړه وبلله.

تر ۱۹۰٤ پورې امیر ولارد کرزن ته سم ځواب نه ورکاوه ځو یې په دغه وخت کې بریتانوي هند ته د یو هیأت د رالیږلو خواست وکړ او هغو هم سمدستی د هند د باندنیو چارو سکرتر ویلیام دن راولیږی. دا هیأت د ۱۹۰٤ کال د دسامبر په ۱۲ کابل ته راورسید او امیر په لویو تشریفاتو هغه کابل ته راوست، پنځه ټولگی عسکر چې په انگریزی وسله مجهز وو هغه ته هر کلی ووایه او ۲۱ توپه ورته وویشتل شود، په دې پسې سمدستي ۳۰ زره روپی (کابلی) یې د میلمستیا په توگه وروليږلی.

دوی ورځی وروسته خبرې پیل شوی چې امیر پخپله اشتراک پکې کاوه. امیر په انگریزی پوهیدی او دن پارسی ویلای شوای، خو ترجمانان یې مؤظف کړی وو، دا خبرې د ۱۹۰۵ تر مارچ پورې اوږدې شوې او موضوع یې د ۱۸۸۰ کال هغه تړون ؤ چې امیر مغفور او انگریز کړی ؤ.

امیر د یوې کتنې په ترڅ کې دن ته وویل چې روسانو ده ته ویلی دی چې د روسانو سره اړیکی ټینگی کړې، نو هغه افغانی سیمې چې انگریزانو نیولی بیرته به یې افغانستان ته وروسپاری، خو افغانستان به دا کارونه کړی، ځکه د انگریز سره مخالفت د افغانستان په تباهی تمامیږی.

انگریز خاصتاً لارد کرزن چې په ۱۸۹٤ کې یې حبیب الله د پلار تر څنگه په کابل کې لیدلی ؤ نو کله چې حبیب الله خان د سراج الملة والدین په نامه د فقید امیر پر ځای باچا شو او لارد کرزن په همدغو وختونو کې د هند ویسرای شو نو پوره باور یې درلود چې امیر حبیب الله به د ده غوښتنې پر ځمکه وانچوی، خو په دې محاسبه کې کرزن خطا وتلی ؤ، امیر د کرزن بلنې ته ډیر سست ځواب ورکړ او په ۱۹۰٤ کې یې خپل زوی سردار عنایت الله خان د یو هیأت په مشری کلکتې ته واستاوه، دغه شهزاده ته اجازه نه وه ورکول شوی چې یو خبره هم د سیاست په باب وکړی او هغه هغسې پوزبنده چې تللی ؤ هم هغه شان بیرته راغی، انگریزانو ډیر دروند هر کلی ورته ووایه او ډیرې نظامی ننداري یې ورکړې، خو ځوان شهزاده یې له یوې ځکینی خندا څخه حتی د تشکر حرف هم تر خوله نه رااېستی.

د ویلیام دن سره چې کابل ته راغلی ؤ او یوه ډېره ساده معاهده یې د ډېرو خبرو په پای کې لاسلیک کړه هم خبره دد غه قرارداد چې امیر د خپرو د فیصلې حق ځانته انحصار کړی ؤ او بل چا به جرئت د نظر اظهار نشوای کولای.

ځوان امیر ډېر حاضر جوابه هم ؤ، یو ځل په خبرو کې دن وویل ما ته زما حکومت اجازه راکړې ده چې په صراحت وړغیږم، امیر وخندل او په لوړ آواز یې وویل مبارک پردې پولې پورته کړئ راځه چې بې پردې وړغیږو. د ډېرو خبرو په پای کې امیر د دن سره په دې لاندې متن لاسلیک وکړ:

«بسم الله الرحمن الرحیم. اعلیحضرت سراج الملة والدین امیر حبیب الله خان د افغانستان د مملکت او د هغه د توابعو مستقل باچا له یوې خوا او جناب سر لویس ویلیام دن د هندوستان د باعظمته دولت د باندنیو چارو وزیر او د انګلستان د باچایی دولت محترم نماینده له بلې خوا:

پورته یاد شوی اعلیحضرت باچا په دې وسیله قبلوی چې د عهدنامې په جزیی او کلی مسایلو کې او په داخلي او خارجي چارو کې قرارداد کی چې والاحضرت ضیاالملة والدین زما پلار نورالله مرقده و انګلستان د علیه دولت سره منعقد کړی ؤ عمل شوی زه هم هغه ټوله قبلوم او عمل به کوم او مخالفت به نه ځینی کوم.

همدارنګه سر ویلیام دن په دې وسیله قبلوی چې هغه عهدنامه او تعهد چې د انګلستان علیه دولت د اعلیحضرت سراج الملة والدین د مرحوم پلار والاحضرت ضیاء الملة والدین سره د خارجی او داخلی مسایلو په باب منعقد کړی دی هغه قبلوم او په اعتبار یې باقی بولم او لیکم چې د انګلستان دولت به د هغه په خلاف په هیڅ وجه کوم کار ونه کړی.

د سه شنبه ورځ د محرم الحرام څوارلس کال ۱۳۲۳ هجری قمری، مطابق د ۱۹۰۵ کال د مارچ ۲۱ په کابل کې امضاء شو.

امیر حبیب الله خان - لویس ویلیام دن

دا ؤ هغه قرارداد چې پس له ډېرو خبرو لاسلیک شو.

د ملاقاتونو په ترځ کې یو ځل د روس په وړاندې د افغانستان پر موقف خبره یاده شوه، امیر دن ته وویل: انګریز باید افغانستان ته وسله او پیسې ورکړی چې د روسیې پنبې د مرکزی آسیا څخه وباسی، ځکه اوس روسانو د جاپان له خوا ټکر خوړلی دی او افغانستان تر جاپان پاته نه دی، خو دن امیر ته وویل د افغانستان او جاپان ترمنځ ډېر توپیر دی.

بالاخره پس له ډېرو خبرو او جنجالی بحثونو چې کابل د هلی او لندن یې مصروف ساتلی ؤ، د ۱۹۰۵ کال د مارچ په ۲۱ دا معاهده د امیر له خوا لاسلیک شوه.

د معاهدې تر لاسلیک دوې ورځې وروسته امیر دا یادداښت انګریزانو ته وسپاره:

۱- د کابل په شیرپور کې به د انګریزانو هدیره ساتي.
۲- بریتانیا به د ایران سره د سرحد په باب یو منځګړی رااستوي.
۳- دافغان او هند د سرحد هغه برخې چې نه دي نښاني شوي کار به یې په سم موسم کې پیل کیږي.
٤- د قبایلو په باب به امیر تر هغه فیصلې تیرې نه کوي چې دده مرحوم او مغفور پلار کړې وه.
د دن هیأت د مارچ په ۲۷ د کابل څخه رخصت شو او د امیر اوږې یو څه سپکې شوې.
په دې منځ کې د افغانستان په رابطه پخپله د هند په اداری چوکاټ کې ډیر سخت مخالفتونه راپورته شول چې مهم یې د وسله بندو قواو د مشر لارډ کچنر او د ویسرای لارډ کرزن تر منځ ؤ چې وروسته کرزن استعفی وکړه.
امیر حبیب الله مستمری هم واخیسته، خو په میمنه، مزار شریف او فیض آباد کې یې د انګریز د واقعه لیکونکو د مقرری سره موافقه ونه کړه.
ددن موافقتنامه د هند په ګټه نه وه، خو ددې لپاره چې امیر یې د چنګه خطا نشی په دې هم خوښ وه چې رشتې کاملاً پرې نشوې.
دلته د قضایاؤ نتیجه ګیری دا حکم کوي چې آیا امیر دومره وطن پرست او د خپل وطن او خلکو په غم کې ؤ ؟ په کلی صورت د غسې توقع د سیاست له چوکاټ څخه بهر ده، حبیب الله خان د امیر عبدالرحمن خان زوی ؤ او هر څه یې تر خپلې عیاشی قربانول، خو په دې شک نشته چې کافی مقدار هوښیار او دراک ؤ، دده هیڅکله د انګریز حساس رګ ته ګوته نه وروړه ،خو نور یې چې څه کول هغه د یو نازولی ماشوم په شان وه چې کله د پلار ږیرې ته لاس وراچوي، خو هغه نه ورته په قهر کیږي. انګریز خپله محیلانه څیره هم هغه شان چې پخوا وه ساتله او د امیر کمزوره رګونه یې په لاس کې ونیول او بیا یې نو چې څه غوښتل هغه یې به کول.

## ٤- هندوستان ته د امیر حبیب الله سفر:

د افغانستان د دیپلوماسی په تاریخ کې هند ته د امیر حبیب الله خان سفر د مهمو پیښو څخه ګنل کیږي، ځکه مثبتو او منفی نتیجو یې د افغانستان په سیاست کې نوی بعدونه رامنځته کړل.
وروسته تر هغه چې د انګریز نماینده ویلیام دن له کابله هند ته ولاړ هلته د ۱۹۰٦ په فبروری کې آوازه خپره شوه چې امیر متمایل دی چې هند ته سفر وکړي.
انګریز ته هیله پیدا شوه چې په دې سفر کې به د امیر څخه هغه امتیازات په لاس راوړي چې د دن په مذاکراتو کې یې له لاسه ورکړي دي.
په دغو وختو کې لارډ کرزن له هنده تللی ؤ او لارډ منټو د هند د ویسرای په توګه واکدرلود.

دغه نوي ویسرای امیر ته بلنه ورکړه چې هند ته د منظرو کتلو او د زمریانو ښکار ته ورشي. امیر دا بلنه ومنله او د ۱۹۰٦ د دسمبر په ٦ د سلو نفرو درباریانو، مامورانو، افسرانو او د دربار له عملې او درې سوه عسکرو سره روان شو او د ۱۹۰۷ کال د جنوري په دوهمه د هند خاورې ته داخل شو، دی د پېښور، لاهور او اګرې له لارې د بریتانوي هند پایتخت کلکتې ته ولاړ او د بمبئي څخه په بېړۍ کې کراچۍ ته او له هغه ځایه پېښور او کابل ته راغی.

دد سفر ټوله دوې میاشتې او پنځه ورځې ونیولې، امیر ته ویسرای لارډمنټو او سپه سالار لارډکچنر او نورو انګریزي درباریانو نرو او ښ ... ه‌ر ک ... په. امیر ته یې د ویلیام دن پر ځای سر هانري میکماهن میلمه پال مقرر کړ، څو داسې خیال ونه شي چې هند غواړي د کابل خبرې په کلکته کې تعقیب کړي، همدارنګه یې په میلمه پالانو کې درې ښایستې انګریزي ښځې هم شاملې کړې، څو د امیر سترګې په خوږې شي.

د هند مسلمانانو په ډېره خوښي مسلمان امیر ته تود هرکلی ووایه، په ځینو ځایونو کې یې اعانې ورکړې د هندو او مسلمان ترمنځ دې د ښو اړیکو توصیې وکړې. د انګریز باچا د اعلیحضرت په خطاب پیام ورته راولیږی.

د لارډمنټو او لارډ کچنر سره یې ځینې پټې خبرې وکړې، خو عملاً یې داسې څرګندوله چې دی خبرو او مذاکراتو ته نه دی راغلی ولې په ماهرانه توګه یې انګریزان په دې قانع کړل چې دی د انګریز سره دوستۍ او اتحاد ته وفادار دی.

دد تر ټاکلې وخت ډېرې ورځې په هند کې تیرې کړې او دلته په افغانستان کې آوازې ګډې شوې چې امیر یې وژلی دی، چا به ویل چې بندي یې لندن ته بیولی دی، مذهب ته منسوب خلکو به ویل چې هغه عیسایي شوی دی.

امیر چې له سفره افغانستان ته راغی نو یو شمیر غرضي تبلیغیان یې بندیان او څلور کسه ملایان یې په دار وځړول، بیا یې د ټول افغانستان سفر پیل کړ.

امیر ته د هند عصري پرمختیاؤ ډېرې مزې ورکړې او د خپل هیواد د عصري کولو لپاره یې د هند څخه متخصصین استخدام کړل.

## ٥ - د روس او انګریز د ۱۹۰۷ تړون او د افغانستان برخه:

د هند څخه د امیر حبیب الله تر راګرځیدو تقریباً شپږ میاشتې وروسته د انګریز او روس ترمنځ د ۱۹۰۷ مشهور تړون وشو (اګست) چې ایران ته یې کلې زیان متوجه شو او افغانستان یې ولړزاوه.

د شلمې پېړۍ په لومړي لسیزه کې چې روسان د شمال له خوا پر جنوب د هند سرحداتو ته رانژدې کېدل او انګریزان هم د هند د دفاع او هم په مرکزي آسیا کې د ګټو حاصلولو حرص لیوني کړي وو، نو دا خطر ډېر رالنډ شوی ؤ چې ښایي دلته دې په سیمه کې یو لوی ټکر منځته راشي.

په روسیه کې د ۱۹۰۵ انقلاب روسیه وبېروله چې له منځه ونه چوي او داسې واهمه یې درلوده چې انګریز ښایي پټ قوتونه په روسیه کې تحریک کړي.

ددې لپاره چې یوه سالمه فضا ایجاد شي انګریز خپل سفر ارترنیکولسن په ستت پترزبورګ کې د روسیې حکومت ته واستاوه او هغه روسیې ته ډاډ ورکړ چې انګریز غواړي د دوستۍ په شیوه د روس ګټې په نظر کې ونیسي. دا خبرې په لندن او پترزبورګ کې ډېرې اوږدې شوې او د اوږدوالي یو عامل یې په دې تړون کې د افغانستان موقف ؤ، خو د ۱۹۰۷ کال د اګست په ۳۱ د روسیې په پایتخت ستت پترزبورګ کې د روسیې د خارجه وزیر ارسوالسکي او په پترزبورګ کې د انګریز د سفیر ارترنیکولسن تر منځ د ایران، افغانستان او تبت په باب پر یوه معاهده لاسلیک وشو چې د هغه په اثر ایران پر شمال او جنوب ووېشل شو، افغانستان د انګریزو نفوذ ته وسپارل شو، خو دا شرایط یې درلود چې د افغانستان د امیر موافقه باید واخیستل شي.

د افغانستان په باب په دغه تړون کې دا لاندې مواد شامل وو:

اول: د انګلستان د اعلیحضرت حکومت اعلام کوي چې د افغانستان د سیاسي وضع د تغییر قصد نه لري او برسېره پر دې د انګریز د اعلیحضرت باچا حکومت تعهد کوي چې خپل نفوذ په افغانستان کې یوازې په سوله غوښتونکي مفهوم استعمال کړي، پخپله به روسیه نه تهدیدوي او افغانستان به هم تشویق نه کړي چې د روسیې په مقابل کې تهدیدي تدابیر غوره کړي. له بلې خوا د روسیې د اعلیحضرت امپراطور حکومت اعلام کوي چې افغانستان د روسیې د نفوذ له ساحې څخه د باندې بولي او تعهد کوي چې خپل درست سیاسي روابط له افغانستان سره د اعلیحضرت د انګریز د باچا د حکومت له لارې اجرا کړي، همدارنګه تعهد کوي چې هیڅ یو سیاسي نماینده به افغانستان ته و نه لیږي.

دوهم: د انګریز د اعلیحضرت باچا حکومت د ۱۹۰۵ کال د مارچ د ۲ نیټې په تړون کې چې په کابل کې لاسلیک شوی دی ویلي دي چې: ټول تعهدات او مقررات چې مرحوم امیر عبدالرحمن خان منعقد کړي دي په رسمیت پېژني او هیڅکله د افغانستان د هیواد په داخلي چارو کې د مداخلې نظر نه لري او تعهد کوي چې د پاسنۍ یاد شوي تړون په خلاف به د افغانستان د خاورې کومه برخه په تصرف او یا د خپلې خاورې ضمیمه نکړي او د هغه هیواد په داخلي چارو کې له مداخلې څخه تر هغه وخته پورې د هم هغه تړون په اساس چې پخپله امیر د هغو تعهداتو په سر ته رسولو سره کوم چې اعلیحضرت د انګریز باچا د حکومت سره یې کړي دي ډډه نه وي کړې ځان به ژغوري.

دریم: د روس او افغانستان صالحه مقامات چې مخصوصاً د دغه مقصود د سرته رسولو لپاره ټاکل کیږي کولای شي چې پر سرحد او یا په سرحدي ولایاتو کې د سرحدي او غیر سیاسي مسایلو د تنظیم او سمون لپاره مستقیمه او سماسمه روابط ټینګ کړي.

څلورم: د انګریز او روسیي حکومت په افغانستان کې د تجارت په مورد کې د «مساوات» پرنسیپ قبول او تعهد یې کوي، یعني کومې آسانتیاوې د انګریزي او هندي سوداګرو او یا سوداګرۍ لپاره برابرې شوې او یا به برابرې شي په مساویانه توګه دې د روسیي پر تجارت او روسیي سوداګرو دې هم تطبیق شي. که د تجارت بشـ ـوب ی نمایندګانو د لزوم ایجاب وکړي دواړه حکومتونه به د هغه په باره کې د لازم تدابیرو په باب خبرې سره وکړي او د امیر د استقلال حقوق به په نظر کې ونیسي.

پنځم: دغه تړون به هغه وخت نافذ شي چې د انګریز حکومت د پورتني ذکر شوي شرایطو په هکله د افغانستان د امیر رضایت د روسیي د حکومت ته خبر ورکړي.[1]

په هند کې د انګریز حکومت د لارډ منټو په لیک امیر حبیب الله ته ډېرو ښو کلماتو په استعمال دغه پورته مادې وریادې کړې چې تایید یې ورولیږي. د لیک نېټه د ۱۹۰۷ د سپتمبر ۱۰ وه، خو امیر له همدغه ځایه په تمارض او پلمو پیل وکړ. نوموړي مکتوب ته یې د سپتمبر په ۲۷ ځواب ولیږي او هلته یې وورته وولیکل چې زه اوس د افغانستان په سفر کې یم چې کابل ته ورسیږم بیا به غور پر وکړم.

د بریتانیا په پارلمان او د لندن په سیاسي ټولنو کې د امیر دا پلمو ته د دولت قهر وپاڅاوه. دا موضوع د امیر په شورا کې تر بحث لاندې او تړون اوشو.

امیر پس له یوه کاله د ۱۹۰۸ د اګست په ۱٤ لارډ منټو ته یو بې سر وبره لیک ولیږي چې هغوی په دې پوه شوه چې امیر هیڅ حاضر نه دی دا تړون ومني.

په همدې بهانو او پلمو دا تړون همداسې وچ پاته شو او تر نورو حوادثو لاندې پټ شو.

## ٦- دربار او تشریفات:

امیر حبیب الله خان طبیعتاً د نظم او دسپلین علاقمند پاچا ؤ، خو ټولنه ډېره وروسته پاته وه او د هیڅ نوي حرکت او عمل لپاره یې د قبول استعداد کمزوره شوی ؤ او البته د دې علت به هم د امیر عبدالرحمن هولناک استبداد ؤ چې د خلکو زړونه یې د ژوند څخه ورتور کړي وو.

(۱) دغه متن د افغانستان د بین المللی روابطو تاریخ (فضل ربي پژواک) لیکنه د کابل چاپ دوهمه برخه ۸۷-۸۸-۸۹ مخونو څخه اخیستل شوی دی.

ولې ددې سره امير حبيب الله خان پر خپل دربار د ډيرو درنو تشريفاتو حکم جاري کړ.
درباريان ټول مکلف په دريشي اغوستلو شوه او دا يو اروپايي لباس ؤ چې امير رواج کړ.
د عسکري صاحب منصبانو او افرادو لباس د لويو ملکي افسرانو او عادي مامورانو لباسونه سره بيل شوي وه.
د دربار په مجالسو کې د ګډون کوونکو د دريشيو هدايت ترمخه صادر يدی او بيا به د هرې دريشی د خصوصياتو سره په مطابقت کې ګډون کوونکی کښښستل او ځايونه يې مخ کې ټاکل شوي وه.
د باچا حضور ته ورتګ په قبلی کارت وه، ددغه کار څخه حتی د کورنی غړی او شهزادګان هم مستثنی نه وه.
د باچا دسترخوان د خوړلو له ډيرو ښو نعمتونو څخه مالامال ؤ، حبيب الله په اصطلاح يو شکمبو باچا ؤ، د آشپزانو لپاره يې عناوين غورد کړی وه، مثلاً مربا باشی د هغو مربا جوړونکو مشر ؤ چې د باچا د طبيعت سره به يې مرباوې جوړولې، ترشی يا اچار باشی او داسې نور، د آشپزی يو کتاب يې هم چاپ کړ او په سفرونو او د ښکار په تفريحی ورځو کې به آشپزخانه ددده ترمخ روانه وه.
په کور کې يې ښځو ته چې ډيرې مايني هم درلودی لاربنوونه شوی وه چې امير ته به په قبلی اجازه ورځي.
امير د وبې په کابل (پغمان) او ژمی په جلال آباد کې تيراوه او کله کله به يې نورو ولاياتو ته هم سفرونه کول.
په دربار کې ده ته نژدې يو سردار عبدالقدوس خان اعتماد الدوله ؤ چې دده پلار ته يې ډير خدمتونه کړی وه او بل حسين خان مستوفی الممالک ؤ چې امير امان الله خان د خپل سلطنت په لومړيو کې په ونه وځړاوه او مړيې کړ، دغو دوکسانو په دربار کې نفوذ درلود خو په اړخ کې د امير ورور نايب السلطنه سردار نصرالله خان اوو دده شهزادګان معين السلطنه عنايت الله او عين الدوله امان الله خان د توجه وړ شخصيتونه وه. خو دوی هم د امير د طبيعت په ساتنه کې د درباری تشريفاتو څخه يو ويښته هم انحراف نه کاوه.
حبيب اللهٔ د فرمان صادرولو ډير علاقمند ؤ او ځينی مسخره فرمانونه يې هم صادر کړی دی چې په يوه کې نيک محمد خان ايشک آقاسی ته ليکی چې د دربار عمله دې دوباره ږيرې نه خريی، بلکې قيچی کوی دې.
دغه دربار او تشريفات هم د کابل پر اوضاع د عصر يوه پيکه رڼا خپره کړه.

## ۷- د عصري فرهنګ رواجول:

امیر حبیب الله هغه وخت چې شهزاده ؤ او پلار د کارونو د اجرا ء صلاحیت ورسپارلی ؤ د افغانستان او نړۍ له حالاتو څخه یې ځان باخبره ساتۍ.

دی په دې پوهیدی چې تعلیم او تربیه او عصري فرهنګ کولای شي یو هیواد د ترقی پر لار ور برابر کړي.

ځینې واقعه ځیړونکي وایي چې امیر عبدالرحمن خان دده ته لیکلي وصیتنامه پرې ایښې وه چې ما ځمکه درته شدیاره کړه ته تخم پکې وکړه او ددې څخه یې مطلب دا ؤ چې ما امنیت درته قایم کړ ته د ښوونې او روزنې خواته ګام په مخ واخله. خو د غسې یو سند تر اوسه ما نه دی لیدلی. د بلې خوا د امیر عبدالرحمن په مستبد طبیعت کې ددغسې یوې لارښوونې ګنجایش نه لیدل کیږي او د بلې خوا پخپله امیر حبیب الله یو نرم طبیعته او د عصري فرهنګ علاقمند سړی ؤ، نو ځکه ددغسې یو ښه کار ویاړ ولې دده څخه واخلو او دده پلار ته یې ورکړو چې په ټول عمر کې یې د مکتب او ښوونځي لپاره یوه خښته هم ایښې نه وه.

د امیر حبیب الله په امر په ۱۹۰۳ کال کې یو ښوونځی تاسیس شو چې وروسته په لیسه مسمی شو او د امیر د نامه په اړوند یې د حبیبیې نوم پرکیښود.

په حبیبیه کې درې درجې وې چې ابتدائیه، رشدیه، اعدادیه نومرې او په دې هر یوه کې مختلف مضامین ویل کیدل او ښوونکي یې افغانان او هندیان (پنجابیان) وه ا دا ښوونکي هغه وخت کابل ته راغلل چې امیر د هند په سفر کې دوی هلته استخدام کړل.

په حبیبیه کې د زده کوونکو او ښوونکو او مختلفو څانګو احصائیې مرحوم غبار په خپل تاریخ (افغانستان در مسیر تاریخ) کې په تفصیل راوړی دی، خو دا خبره د ډیرې پاملرنې وړ ده چې په دغه اولنۍ وخت کې پر اجتماعي مضامینو طبیعي او ریاضیات هم دلته تدریس کیدل او یو لابراتوار یې هم درلود.

ددې په اړخ کې نظامي تعلیمات هم کیدل او نوی وسلې ازمویل کیدی. مطبعه فعاله شوه او بیا د سراج الاخبار افغانستان اخبار چاپ شو چې یوه ګیه یې خپره شوه او بیا بند شو.

زده کوونکي او ښوونکي ډیر نازول کیدل او ددې ټولو فرهنګي تشکیلاتو په رأس کې شهزاده عنایت الله معین السلطنه واقع ؤ.

د همدغې لیسې د سیاست لمبې راپورته شوی او د لومړی مشروطې مبارزان زیات د همدغې لیسې ښوونکي وه چې په توپو کې والوزول شول او زندانونه په ډک شول چې په راتلونکو عناوینو کې به یې څیړنې ته ادامه ورکړو.

## ۸- د لومړي مشروطه غوښتونکو سرنوشت (توپ او زندان):

د امیر حبیب الله د وخت فرهنګي نهضت چې د حبیبیې په دارالعلوم (وروسته لیسه) کې راپیل شوی ؤ، وروسته یې سیاسي بعد هم وموند. د دغه تعلیمي او تربیتي مرکز استادان د هغه وخت روښانفکران وو او د خپل هیواد د شاوخوا نړۍ د حالاتو مطالعه یې هم درلوده، ځکه په دغه وخت کې د باندنیو مطبوعات کابل ته رسیدل او د هغو مطالعې په دغه قشر کې سیاسي غوښتنې راوپارولې.

د دغه نهضت سابقه د نونسمې پیړۍ په وروستیو لسیزو کې د سید جمال الدین له هغو فعالیتونو سره تړاو لري چې هغه شخصیت په عثماني امپراطورۍ او عربي هیوادونو کې راپیل کړي وه.

او همدارنګه د ایران فرهنګي قشر چې په رهبرۍ کې یې مذهبي پیشوایان ولاړ وو د قاجار ناصرالدین شاه پر ضد راوپاڅیدل او د نونسمې پیړۍ په وروستۍ لسیزه کې د تنباکو د انقلاب په عکس العمل کې ناصرالدین شاه ترور او پر ځای یې زوی مظفرالدین شاه کښېنوست. دغو فرهنګي او سیاسي مبارزانو په شدت له باچا څخه د عدالت ځای (د قانون حاکمیت) غوښت، په دې لار کې ډیرې ناخوالې وشوې څو په ۱۹۰۷ کې مظفرالدین شاه د دغو غوښتنې ومنلې او عدالت خانه یې تأسیس کړه. دغو مبارزانو پر دغه نهضت د مشروطې نوم کښېښود (یعنې مشروطه قانون دولت).

همدارنګه په عثماني ترکیه کې د سلطان عبدالحمید د استبداد پر ضد اولسونه راپاڅیدل او د مشروطې په عنوان یې هغه دیکتاتور باچا مجبور کړ چې په ۱۹۰۸ کې د قانون حاکمیت ته غاړه کښېږدي.

پورته مو وویل چې د دغو نهضتونو القا کوونکی سید جمال الدین ؤ، هغه چې کله د افغانستان څخه وتی نو امیر شیرعلي خان ته یې یو لاربنود پرې ایښی ؤ چې د هغه پرمخ امیر شیرعلي د عصري فرهنګ او د دولت د جوړښت له عصري تشکیلاتو سره موافقه وکړه، څو پر افغانستان د انګریز د برغل او بیا د امیر عبدالرحمن خان په یوویشت کلن تور استبداد کې هغه ټول له نهضتونه خاورې شول، خو کله چې امیر حبیب الله خان باچا شو هغه د نورو فرهنګي او اجتماعي چارو په جمله کې یو شمیر هغه کورنۍ چې د باندې ته فرار او مهاجرې شوې وې بیرته وطن ته راوغوښتې، په دې جمله کې یوه کورنۍ د طرزیانو وه چې د عثماني امپراطورۍ په یوه سیمه کې اوسیدله، دا مهال د کورنۍ مشر غلام محمد طرزي وفات شوی او زوی یې محمود طرزي د نورې کورنۍ سره کابل ته راغی.

محمود طرزی یو تعلیمیافته او په عصری پوهنه مجهز شخصیت ؤ. هغه په هغه مهال کې چې سیدجمال الدین په استانبول کې اوسیدی له هغه سره اوو میاشتې تیری کړی وې او د هغه د حضور فرهنګی فیض یې حاصل کړی ؤ، نو کله چې کابل ته راغی دلته یې ورو ورو ځوانان راټولول او هغو ته یې د دغو هیوادو (ترکیې او ایران) د سیاسی نهضتو په باب بیانونه کول، دی په لومړی سر کې په یو ډیر کوچنی موقف د مولوی عبدالرؤف کندهاری د سراج الاخبار افغانستان (چې یوه ګڼه یې ۳٦ مخونو کې چاپ شوه) په ټولنه کې شامل شو، خو ددې لپاره چې د امیر نبض یې پوره معلوم کړی وی ځان یې همداسې مخفی وساتی.

دده په پټه د حبیبی د استادانو سره چې د ترکیې او ایران مشروطه غوښتنې سره تشجیع شوی وه غیر مستقیمې اړیکې ساتلې او هغوی ته یې د باندنی مطبوعاتو د مطالعې توصیې کولې او زیاتره یې دغه مطبوعات دوی ته تهیه کول.

څو دا ؤ چې د سراج الاخبار افغانستان د ټولنې او حبیبی د استادانو د فعالیت په ګډون د مشروطې نهضت راڅرګند شو.

دغو مبارزانو چې تشکیلات منځته راوړل چې د یو سری یا پټ حزب شکل یې درلود. مثلاً کوچنی ټولګی جوړې شوی چې په رأس کې به یې یو کس ؤ او دغه د ټولګی مشرانو به سره پیژندل، نور غړی به په خپله کړی کې سره آشنا وه. د غړو یو شمیر افغانی منورین او پوهان وه او ددوی په اړخ کې ځینی هغه هندوستانیان هم وه چې د امیر حبیب الله په امر استخدام شوی وه، ددغه هندوستانی ډلې مشر ډاکتر غنی ؤ چې د هغه دده وروڼه نجف علی او چراغ علی هم ورسره وه.

ددغه ډاکتر غنی په باب تر اوسه قاطع حکم نه دی شوی چې دی په رښتیا یو نهضت غوښتونکی ؤ او که د امیر په دربار کې د انګریز یو پوخ جاسوس ؤ.

ډاکتر غنی په هغه کال چې امیر عبدالرحمن خان خپل زوی سردار نصرالله خان لندن ته واستاوه، نو هلته انګریزانو دغه ډاکتر غنی چې په لندن کې په تحصیل بوخت ؤ د ترجمان په حیث له سردار سره ملګری کړ، سردار پر دغه ځوان هندوستانی ډیر مهربانه شو او هغه یې راد عوت کړ چې افغانستان ته راشی.

د سردار نصرالله خان تر راتګ وروسته ډاکتر غنی کابل ته راغی، دغه مهال د امیر عبدالرحمن خان د ژوند وروستی کال ؤ، ډاکتر په دربار کې د ترجمان په توګه مقرر شو، خو کله چې امیر حبیب الله خان پاچهی ته ورسید، نو ډاکتر غنی ته د فعالیت زمینه برابره شوه، څو یې وروڼه هم پسې راوغوښتل. په وروڼو کې یې نجف علی هغه سړی ؤ چې کله امیر امان الله خان اروپا ته سفر وکړ، دده په قبایلو او سرحداتو کې دا تبلیغات کول چې شاه امان الله خان او ملکه ثریا کافران

شوی او په فحشاء اخته دی. دغه مشکوک کسان د پاکو افغانانو په بغل کې په فعالیت اخته وو.

د افغانی مشروطی مشر مولوی محمد سرور واصف ؤ چې پلار یې مولوی احمد جان متخلص په تاجر د امیرعبدالرحمن خان په دربار کې د اداری پست خاوند ؤ او په عین زمان کې عالم او ادیب سړی ؤ، مولوی واصف په همدغه کورنۍ کې روزل شوی ؤ چې دی هم عالم، لیکوال، شاعر او د عصري جریاناتو د مطالعې خاوند ؤ. په دغه کړۍ کې د شاملینو شمیر تر ۳۰۰ تنو ته رسیدی چې په کوچنیو ټولګیو کې ویشل شوی وو.

د دغه جمعیت د مرام غټې ټکی دا وو:

۱- د اسلام اصولو ته اطاعت او د قرآن عظیم تقدیس او د ټولو اسلامی احکامو قبلول.

۲- د ملی حقوقو د په لاس راوړنې او د حکومت د رژیم مشروطه کول د ملت د نمایندگانو تر نظر لاندې نظام منځته راوستل او ملی حاکمیت او د قانون د حکم د تأمین لپاره پر له پسې هڅې.

۳- د معاشرتی چارو د درست والی د ضمیمه اعمالو د غندنې په لار کې د عامه تلقین لپاره کوښښ.

٤- د ټولو اقوامو او قبایلو په منځ کې حسن تفاهم او پخلاینی او ملی وحدت د ټینګیدو لپاره هڅې.

۵- د صلح او پخلاینې له لارې د ملت د اصلاح کوښښ نه د دهشت اچونې او د وسلې او زور د استعمال له لارې.

٦- د پوهنې (معارف) او ښوونځیو تعمیم او د خلکو د ویښتابه د وسایلو او مطبوعاتو پراختیا.

۷- د انتخاباتو له لارې د خلکو د نمایندگانو څخه د ملی شورا د مجلس تأسیس.

۸- د افغانستان د استقلال تحصیل او د سیاسی آزادۍ اخیستل او د خارجی نړۍ سره د سیاسی او اقتصادی اړیکو قایمول (چې په هغه وخت کې غیر له بریتانوی هند له دولت څخه د بل چا سره اړیکې نشوای درلودلای.).

۹- د مساوات (برابرۍ) او اجتماعی عدالت د اصولو تأمین.

۱۰- د نوی مدنیت د بنسټونو پراختیا د صنعت، حرفت لارو جوړولو او ښارونو آبادولو د اوبو او برېښنا او نورو د جوړښت فعالیت غوښتنه. (۱)

څوک چې په دغه جمعیت ته داخلیدل نو په قرآن او توره به یې قسم کاوه او د غه لس اصله به یې منل.

د مشروطه غوښتونکو په یوه غونډه کې دا تصویب شوه چې د جمعیت هر غړی باید یوه

(۱) جنبش مشروطیت (پوهاند حبیبی) ۵۵مخ.

تفنگچه له ځان سره ولري. د دغه تصویب اسناد د تاج محمد خان بلوغ پغماني په کورکې ودچې ورور یې محمد شریف خان چې دده سره مخالف ؤ غلا کړل او دربار ته یې ورسول.

په ۱۹۰۹ کې د مولوی واصف په مشرۍ جمعیت غونډه وکړه او یوه عریضه یې د امیر په نامه ولیکله چې د قانون حکومت به دده د سلطنت د بقا لپاره گټور وی. د غه عریضه یې د پروفیسور غلام محمد میمنه گی په وسیله په جلال آباد کې د امیر حضور ته وړاندې کړه. امیر په سر کې عصبیت ونه ښود، خو د دربار چاپلوسانو او متملقینو هغه ته چوغلی کوله، څو امیر عصبی شو او د ۱۹۰۹ کال په مارچ کې یې په جلال آباد کې د توپ او زندان امر صادر کړ چې په هغه کې مولوی واصف د هغه ورور سعدالله او ترد عبدالقیوم یو ځای په توپ کې ورسره والوزول شول. همدارنگه کابلی لعل محمد خان، غوربندی جوهر شاه خان او محمد ایوب خان کندهاري هم هغه کسان وو چې د توپ الوزولو مجازات ورکول شوه.

په دې پسې یو لوی بهیر د وخت در وښانفکرانو د زندان تورو تمبو ته ولیږل شول.

د دغو زندانیانو مفصل لستونه د (افغانستان در مسیر تاریخ) او (جنبش مشروطیت) خپاره کړی دی چې که څوک وغواړی مراجعه ورته کولای شی.

په دې جمله کې چې زندان ته ولاړل یو هم ډاکتر غنی پنجابی ؤ خو وایی چې هغه بیا هم په زندان کې ددغو بخت گرځیدونکو د احوال معلومولو لپاره استول شوی ؤ، ځکه د کاکا سید احمد خان (عبدالرحمن خان لودی د پلار) څخه حکایت دی چې ډاکتر غنی په زندان کې هم د یو راجا په شان ژوند کاوه، خو د دغه وخت دراک او مشهور شخصیت میرقاسم خان د ډاکتر غنی دفاع کوی او وایی چې هغه سالم شخصیت ؤ، پوهاند عبدالحی حبیبی وایی چې د ډاکتر غنی په باب یې تر اوسه کره اسناد نه دی لیدلی. په هر صورت امیر حبیب الله د مشروطې دروازې ته لوی قفل ور واچاوه او زندانونه یې د وطن په اصلی زامنو ډک کړل، خو د فرهنگ نسبی پراختیا او مطبوعاتو ته یې په نسبی توگه آزادی ورکړه چې ډیره ښه نمونه یې (سراج الاخبار افغانیه) دی چې د محمود طرزی په ریاست خپریدی او ددغه شخصیت فرهنگی خدمتونو هغه ته په افغانستان کې د نوی فرهنگ د پلار لقب ورکړی دی.

نهضت غلی شو خو ورک نشو، بلکې داخل یې پخپله د امیر تر ږیره لاندې انکشاف په برخه شو، د امیر زوی عین الدوله امان الله د یوه نهضت په ملاتړ ودرید چې هغه د ځوان افغان غورځنگ ؤ.

هغه مهال چې امیر حبیب الله د لغمان په کله گوش کې ترور شو او بیا په کابل کې امان الله باچا شو، نو د غه د لومړی مشروطی غړی یې د زندانونو څخه راوایستل او د دولت په اداره کې یې مقرر کړل. د همدغو کسانو په بصیرت او ملاتړ د امان الله رفورمونو تحقق وموند.

## ۹- سراج الاخبار:

د سراجي عصر په نهضت کې د سراج الاخبار نقش ته ډېره سترګه وراوړی.

کله چې په ۱۹۰۶ کې لومړی اخبار د سراج الاخبار افغانستان په نامه د مولوی عبدالرؤف په مدیریت خپور شو، نو د هغه یوه ګڼه خپره شوه نور بند شو. داسې اسناد او شواهد ډېر شته چې د هند څخه انګریزانو امیر حبیب الله ته اخطار ورکړ او هغه هم د دغه اخبار خپرونه بنده کړه. پنځه کاله وروسته د محمود طرزی په مدیریت د سراج الاخبار افغانیه خپرونه پیل شوه چې تقریباً اته کاله یې دوام ورکړ.

سراج الاخبار افغانیه که څه هم د یو ځان غوښتونکی امیر د خوشحالولو لپاره ډېرې مدحې درلودې، خو په عین زمان کې یې د عصری اسلوب سره سم داسې لیکنې هم خپرولې چې هغه نه یوازې د افغاني ټولنې د ویښتابه لپاره، بلکې د ګاونډیو هیوادو لکه بخارا، ایران او هند په ټولنو کې یې هم اغیزې خپرولې.

محمود طرزی چې اوس د هیواد په فرهنګی تاریخ کې د مطبوعاتو د پلار په نامه یادیږی یو فهیم او دراک شخصیت و، د د انتقاد ته په مطبوعاتو کې ځای ورکړ.

سراج الاخبار په ډېر لوی تیراژ نه خپریدی یعنی شمیر یې تر ۱۴۰۰ ګڼو زیات نه ؤ، خو د خپریدو ساحه یې ډېره پراخه وه، یعنی مرکزی آسیا هند او ایران ته هم رسیده او د بریتانوی هند د جاسوسی مقاماتو او په مرکزی آسیا کې د روسانو مامورینو او پخپله د امیر بخارا له خوا یې په ډېر جدیت مراقبت کیدی.

د محمود طرزی سره سربیره پر خپل علمی صلاحیت د دربار اړیکی هم ملګری وه هغه دا چې د دوې لونې د امیر حبیب الله دؤ زامنو شهزاده عنایت الله شهزاده امان الله ته ورکړې وې او د هغو حمایت هم ورسره ملګری ؤ.

محمود طرزی د ځوانانو په روزنه کې هم د لوی بصیرت خاوند ؤ د ده دوه همکاران عبدالرحمن خان لودی (چې وروسته محمد نادرشاه اعدام کړ) او عبدالهادی داوی (چې ۱۴ کاله د هاشم خان په زندان کې ؤ) یې داسې روزلی وو چې هغه وخت به ویل کیدل چې دا دوه د محمود طرزي دوه وزرونه دي. سربیره پر دې محمود طرزی ډېر ځوانان په خپله غیږ کې روزل او حتی شهزاده امان الله ده روزل شوی شخصیت ؤ.

محمود طرزی یو دموکرات سړی ؤ او د مطبوعاتو نقش ته په ډېر ارزښت قایل ؤ، ده به ویل

مطبوعات په یوه تولنه کې د خرافاتو د مخ نیوی او د عقل د حاکمیت یوه اغیزناکه وسیله ده.

د محمود طرزی انتقاد پر ډیرو لوړو مقاماتو هم وربرابریدی. په ۱۹۱۲ کې د کندهار خلکو د حکومت پر ضد قیام وکړ، د قیام علت یې هم دا ؤ چې د یوه شهزاده د واده ترتیبات نیول کیدل د کندهار والی سردار محمد عثمان خان کابل ته راغلی ؤ په یوه مجلس کې یې وویل چې په کندهار ښې بدلزنی ښځې شته د شهزاده مور ورته وویل چې یو څو د شهزاده واده ته راواستوه.

څرنګه چې والی په کابل کې مصرفونه کړی وو او یو موټر یې هم رانیولی ؤ دا خبره ښه بهانه شوه، کله چې کندهار ته راغی کوتوال یې مؤظف کړ چې د هر نامداره سړی کورته خبر ورکړی چې ښځه یې باید کابل ته ولاړه شي. هغه به د شرمه څخه هرڅه ورکول او دا یوه د خورد و برد ښه وسیله شوه، څو خلک په عذاب شول قیام یې وکړ قاضی او د هغه زوی یې ووژل او لویه رسوایی جوړه شوه، امیر نایب له کندهاره وروغوښت څو یې په ډیر تکلیف دا غایله غلې کړه.

محمود طرزی ته دې مسالې د انتقاد ښه زمینه برابره کړه، څو یې د ۱۳۳۱ هـ د ذی الحجه په ٤ ګیه کې (سراج الاخبار) د «امن و آسایش» تر عنوان لاندې یوه مفصله مقاله چاپ کړه، دلته یې د یوې برخې لنډیز راوړو:

«پادشاه برای ولایات شاهانه حاکم مقرر و انتخاب می کند، اصیل بگویی اصیل، ریش سفید بگویی ریش سفید، نمازخوان بگویی نمازخوان، متدین بگویی متدین، عالم بگویی عالم، عاقل بگویی عاقل، کیست که حقانیت و دیانتش تسلیم نمیکند، وقتیکه مقرر میشود به درجه، مفلس و مفلوک می باشد که اسپهای سواره خود و نوکران خود را بقرض تدارک کرده به هزار مشقت و خون جگر خود را به دایره، حدود ولایت که مقرر شده پرتاب میکند به مجرد یکه در آنجا میرسد، اژدها بگویی اژدها، نهنگ دریا بگویی نهنگ دریا، بلا بگویی بلا می شود.

اسپ ها بگویی کمند ها کمند ها، مال مواشی بگویی رمه ها رمه ها، گله ها گله ها، شتر ها بگویی قطار ها قطار ها، نقدی بگویی خزانه ها، جنس بگویی صندوقها صندوقها را مالک میگردد، طرفه تر اینکه چون نام آنرا بپرسید میگوید که: «پیشکش و تارتق» میباشد که این کلمه ها را دیگر هیچ کتاب لغتی حل کرده نمی تواند، مگر قاموس العلوم خود جناب نایب الحکومه صاحب ها (دلته مقصد یې محمد عثمان خان دی) این بلای مبرم سو اخلاق...»(۱)

ددې قبیله انتقادات ډیر وه، پر یوه مقاله محود طرزی په غټه نقدی جریمه د امیر په امر محکوم شو، بیا د هغه پیسې شهزاده امان الله تادیه کړی.

محمود طرزی ځینی داسې مقالې هم په سراج الاخبار کې خپرولې چې انګریز یې تخریشاوه،

---

(۱) میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ ص ص ٤ ۷۱ - ۷۱۵.

یو د هغو ځخه د (حی علی الفلاح) تر عنوان لاندې وه چې د پنځم کال په لسمه ګڼه کې خپره شوې او سانسور شوې وه.

«علی الفلاح: ای ملت نجیبه افغانیه! شرافت ملی و قومی خود را محافظه کنید، استقلال و حاکمیت دولتی خود را صیانت نمائید. افغان که دیانت و دینداری، شجاعت و بهادری به غیرت و ناموس شعاری در تمام دنیا مشهور شده باشد آیا این را بر وجدان و ایمان و شرف و ناموس خود چنان گوارا کرده میتواند که نام حمایت و تابعیت دولت اجنبی غیر دین و ملت برو بوده باشد؟... معنی صاف و صریح تابعیت و حمایت این است که یک دولت به دیگر دولتی بگوید که بغیر از من دیگر را نشناس! یعنی از من به دیگر دولت نه سفیر بفرست و نه سفیر قبول کن! معنی صاف و صریح استقلال تامه و آزادی کامله نیز اینست که هر دولت در همه چیز هایی که در بالا مذکور گردید مستقل و آزاد باشد... تا به حال هرچه که بود، بود، هرچه که شد، شد، لیکن بعد از این افغان آن افغانی نیست که از حقوق خود چشم پوشی بتواند...»(۱)

د سراج الاخبار د غسې نشراتو نه یوازې د کابل په سیاسي تولنه کې ښور واچاوه، بلکې په مرکزي آسیا او هند کې یې هم د استعماري قوتونو د غاړې رګونه وپرسول.

د ۱۹۱۷ په فبروری په ترکستان کې د روسیې حکمران جنرال کروپاتکن په هند کې د روسی نماینده تووميسکي ته تلګرام واستاوه چې د سراج الاخبار ګڼې هلته رسیږي او د بخارا او نورو ښارو په خلکو کې یې د روس او انګریز ضد احساسات راپاڅولي دي، د هند حکومت ته دې وایه چې د افغانستان پر امیر زور واچوي چې دد غه اخبار خپرونو ته تغیر ورکړي.

انګریزانو پخوا لا د سراج الاخبار ځخه سر ټکاوه، لکه څرنګه چې د بریتانوي هند د خارجي چارو مسؤل (ای. ایچ. ګرانت) د ۱۹۱۵ د جولای په ۲۱ یادداښت کې د غسې لیکنې د تشویش وړ وبللې.

محمود طرزی سربیره پر سراج الاخبار د خپلې میرمنې اسماء په وسیله ارشاد النسوان اخبار علاوتاً محمود طرزي ۳۱ رسالې او کتابونه ۲٤ هم خپور کړ او د سراج الاطفال جریده هم نشر کړه. په نثر او نظم خپاره کړل او په دغه وخت کې عنایت مطبعه چې شهزاده عنایت الله یې چارې پر غاړه درلودې فعاله شوې وه او دغه نشرات یکې چاپیدل.

دا یو ډیر لوی فرهنګي حرکت ؤ خو عیاش دربار او په هغه کې فتنه ګرو شخصیتونو ددغه حرکت سره مخالفت کاوه. څو دا ؤ چې په ۱۹۱۹ اوایلو کې امیر حبیب الله ترور او بیا اعلیحضرت امان الله باچا شو، د سراج الاخبار پر ځای امان افغان اخبار راووت او محمود طرزی نورو لویو سیاسي چارو ته مؤظف شو.

---

(۱) پوهاند عبدالحی حبیبی، جنبش مشروطیت در افغانستان، ص ۱۱۸.

## ۱۰- لومړۍ نړیوال جنګ او افغانستان:

ددغې تباه کوونکې جګړې عمده عامل د اروپا د استعماري هیوادونو حرص او د مستعمرو پر سر سیالي وې، خو په ظاهره کې په سربستان کې د اطریش د شهزاده او شهزادګۍ وژلنګ ؤ چې د ۱۹۱٤ کال د جولای په ۲۸ اطریش سربستان ته د جنګ اعلان ورکړ او په دې پسې آلمان د اطریش په طرفداری روسیې ته چې د سربستان طرفداری یې کوله د اګست په اول د جنګ اعلان ورکړ او له دې سره لومړی نړیوال جنګ پیل شو چې د ۱۹۱۸ کال د جنوری په ۱۱ ؤ چې د صلح کنفرانس د آلمان او متفقو ترمنځ د امریکا د جمهور رئیس ویلسن په ګډون په پاریس کې جوړ شو دوام وکړ.

په دې جنګ کې متحدین آلمان، اطریش، هنګری، ترکیه او بلغاریه وود او په مقابل ک یې متفقین بریتانیا، فرانسه، روسیه، ایتالیا، امریکا، جاپان، رومانیه، سربستان، بلژیک، یونان او پرتګال ود.

ددغې جګړې په لومړیو وختونو کې چې انګریز پر ترکیه (عثمانی) حمله وکړه، څرنګه چې د ترکیې امپراطور د اسلامی خلافت رهبر ؤ نو په اسلامی نړۍ مخصوصاً هندوستان کې یې چې د انګریز مستعمره وه ډیر منفی تأثیرات وکړل.

په هند کې د انګریز پر ضد د خلافت پارټۍ راووته او د مهاجرت تحریک روان شو چې مسلمانان باید د هند د دارالکفر څخه ووځي، دغه تحریک هغه وخت زور واخیست چې شیخ الهند محمود الحسن او د هغه ملګرو پښتنو قبایلو ته لاس راوغزاوه چې له دغه ځایه د انګریز پر ضد جهاد پیل کړي. انګریز چې په اروپا کې د یوه شدید جنګ سره مخامخ ؤ تشویش پیدا کړ چې په هند کې یو لمن اور ورته وانخلي.

د هند او قبایلو دینی علماؤ د افغانستان د امیر څخه غوښتل چې د اسلامی رهبر په حیث د انګریز پر ضد جهاد اعلان کړي، خو انګریز تر ډیره ځایه باوري ؤ چې امیر به په دغسې سره اور ورګډ نشي. امیر داسې مسایل په دربار کې مطرح کړل چې د دربار غړي پر دوو ډلو وویشل شول چې یوه د جنګ ډله بلل کیده او بلې د امیر په میل د افغانستان لپاره بې طرفي غوښته.

انګریز هم په بیلو بیلو وسیلو امیر ته خبر ورکاوه چې افغانستان بې طرف وساتي. خو د امیر پر اوږو دا بار ډیر دروند شو مخصوصاً کله چې د ترکیې اسلامی خلیفه او د جرمنی امپراطور هیأتونه ورته راولیږل او دی یې ودې ته تشویق کړ چې جهاد اعلان کړي، نو په ماهرانه توګه یې هم هغه غافل ساتل هم یې د هندوستان او قبایلو دینی علما ، نه مایوسه کول او هم یې په دربار کې اختلاف و شدید حد ته نه پرېښوی، د همدغو پېښو په مطالعه دا حکم منطقی ښسټ لري چې سرې

ACKU

ووایی امیر حبیب الله په ربنتیا یو هوښیار ډیپلوماتؤ چې افغانستان یې په دغه جنګ کې بې طرفه وساتئ.

شیخ الهند خپل یو رشید شاګرد مولانا عبیدالله سندهی (دی یو سک ؤ چې مسلمان شوی او لوی اسلامی عالم ؤ) کابل ته راوستاوه چې امیر و جهاد ته تشویق کړی.

په دې پسې د هند یو راجه (مهندراپراتاب) چې د انګریز پر ضد و او په آلمان کې اوسیدی د آلمان د امپراطور له خوا کابل ته راغی، په همدې لړ کې جرمني او اطریشی هیئتونه د هنتګ او نیدرمایر په مشري او یو ترکی شخصیت کاظم بې هم ورسره ؤ، دا ټول په کابل کې راغونډ شول او پر امیر یې فشار اچاوه چې د انګریز پر ضد جهاد اعلان کړي. خو امیر دا ټوله په کابل کې د بابر په باغ کې واچول او د امنیتی مسایلو په پلمه یې هغوی په تجرید کې تر هغه وخته وساتل چې څو یې د لوري اعتصاب وکړ او بیا امیر په پغمان کې خپل حضور ته وغوښتل او دوی یې په یو ډاسې وضع کې وساتل چې نه بیخی مأیوسه شول او نه زیات هیله من.

د بریتانیا پاچا امیر ته لیک راولیږی چې پر بې طرفی یې ټینګ کړی، خو امیر د هغه ځواب وځنډاوه څو د ۱۹۱۵ د سپتامبر په ۱۲ د بریتانوی هند د باندنیو چارو سکرتر ګیله وکړه او مکتوبی یې امیر ته ولیکل چې دا کار د دوستی شیوه نه دد.

امیر سمدستی په کابل کې د انګریز نماینده سیف الله ته وویل ته د یو مسلمان او افغان په توګه چې دلته څه وینی هغه باید په ربنتیانی توګه هند ته ولیکی، دلته لوی بحران دی او زه هغه آراموم او هغوی باید په دې قانع کړی چې زه دانګریز یو صدیق دوست یم او د افغانستان بې طرفی به تر هغه وخته چې زموږ داخلی ګټې د خطر سره مخامخ نشی وبه یې ساتو.

بالاخره د ۱۹۱٦ د جنوری په ۱٦ امیر د بریتانیا د باچا او د هند د ویسرای لیکونو ته ځواب واستاوه او په هغه کې یې د هغه مستمری د زیاتوالی په باب ولیکل دا د افغانستان د عزت او آزادی لپاره یو تحقیر دی، بې طرفی باید په داخلی اقداماتو تقویه شی او دا کار ډیری پیسې غواړی.

امیر د بریتانیا له پاچا څخه تشکر وکړ او څرګنده یې کړه چې تر هغه وخته چې افغانستان ته کوم خطر متوجه نه وی د افغانستان رفیع او خداداد دولت به بې طرفی ته دوام ورکړی او هغې دوستی ته چې تاسې اعلیحضرت یاده کړی ده همیشه به په احترام ګوری. (۱)

د جنګ په پای کې امیر هیله درلوده چې د صلح کنفرانس ته به افغانستان هم ور دعوت کړی، ولې لندن د امیر ځواب ولیکی چې د صلح په کنفرانس کې هغه هیوادونه ګډون کوی چې په جګړه کې یې ګډون درلود. په دې توګه د امیر لاس په یخو اوبو پریوللی شو او په داخل کې هم عکس العملونه ورته پیدا شول.

---

(۱) لرد ویک ادمک (تاریخ روابط سیاسی افغانستان از زمان امیر عبدالرحمن تا استقلال) ترجمه علی زهما ص ۱۲۰-۱۲۲

## ۱۱ - په کابل کې د هند مؤقتې آزاد حکومت:

بو له هغو ډېرو سرګردانو قضایاو څخه چې په یوه بحرانی وخت کې امیر حبیب الله ورسره مخامخ شو هغه په کابل کې د هند د موقتي آزاد حکومت تأسیس ؤ چې امیر یې پر یوه جهت د انګریز له تهدید سره مخامخ کړ او پر بل جهت یې په دربار کې د اداری قدرتونو ترمنځ د یوه خطرناک تضاد اور لمبور کړ.

دا د نړیوالی لومړی جګړې ورځې وې او د آلمان او ترکیې هیأتونه لا په کابل کې وه چې امیر د انګریز پر ضد جهاد ته تشویق کړی چې د یو هندی شهزاده راجا مهندراپراتاب او مولوی عبیدالله سندهی له خوا د امیر ورور سردار نصرالله خان دې ته وهڅاوه چې په کابل کې د هند د آزاد مؤقت حکومت د تأسیس لپاره اقدام وکړی، هغه د امیر سیاسی مشاور حاجی عبدالرزاق اندړ ته لارښوونه وکړه چې په ډېره سړه سینه یې له دې چې هنګامه جوړه شی د هندی آزادی غوښتونکو سره مرسته کړی.

په دغو وختونو کې یو بل هندی مسلمان شخصیت مولوی برکت الله چې د جاپان څخه امریکا ته او له هغه ځایه آلمان ته او له آلمانه کابل ته راغلی ؤ له دغو دوو تنو (راجا مهندرا پراتاب او مولوی عبیدالله سندهی) سره یو ځای شو. څو دا ؤ چې د ۱۹۱٦ په سپتمبر کې دغو کسانو په کابل کې له باغ بابر څخه چې ددوی اوسیدنځای ؤ د هند مؤقتی آزاد حکومت اعلان شو.

په دې حکومت کې راجا مهندرا پرتاب صدر، مولوی برکت الله وزیر اعظم او مولوی عبیدالله سندهی داخله وزیر وټاکل شول.

دغه حکومت په لومړی سر کې په دې کارونو لاس پورې کړ:

۱ - یو هیأت تزاری روسیې ته استول چې هغوی خپل سفیر کابل ته راولیږی.

۲ - هندوستان ته د یو هیأت استول.

۳ - د پارس له لارې استانبول او برلین ته یو سفارت لیږل.

٤ - چین او جاپان ته د یو هیأت لیږل.

٥ - هندوستان او برلین ته مکرر بل سفارتی هیأت هم لیږل.

٦ - د جنود الربانیه په نامه (د خدای لښکر یا د نجات لښکر چې د مسلم سالویشن ارمی) په نامه هم یاد شوی یو تشکیل په استانبول، تهران، کابل کې د کاغذ پر مخ جوړ کړ چې ټول عالم اسلام یې د هند څخه تر مصر او د استانبول پورې په بر کی نیول او مربیان یې خلیفة المسلمین،

قاجار احمدشاه او امیر حبیب الله ود. سالاران او افسران یې ډیر شخصیتونه او قبایلو خانان ود.

انګریزان له دغه جریان څخه خبر وو او پر امیر حبیب الله خان یې زور اچاوه چې دغه ماجرا ته خاتمه ورکړي، خو دغې ماجرا د دربار په زړه کې جرړې غځولې وې او امیر په ډیر تدبیر هم د تصادم مخه نیوله او هم یې هغوی مصروف ساتل او انګریز ته یې ډاډ ورکاوه چې دلته به کوم جنجال راونه پاځیږي.

په کابل کې د هند د موقتي حکومت داخله وزیر مولوی عبیدالله دغه د کابل د فعالیت ګزارش په یو ډول کیمیاوي ترکیب رنګ پر وریښمینو دسمالو ولیکی او بیا یې یو انګریز ایجنت ته چې دوی نه پیژندی او فکر یې کاوه چې د تحریک صادق غړی دی دا دسمالونه ورکړل چې په هند کې یې مولوی عبدالرحیم سندهی ته ورسوي او هغه به یې بیا په عربستان کې شیخ الهند محمود الحسن ته ولیږي. خو دغه عبدالحق دغه دسمالونه لوی انګریزي افسر خان بهادر رب نواز خان ته ورکړل او هغه هم انګریزي مقاماتو ته وسپارل. په دې توګه دغه د کابل راز افشاء شو او انګریز یوه اوږده محاکمه پیل کړه چې ډیر خلک پکښې را ګیر شول.

(د دغه رب نواز خان یو زوی الله نواز خان ؤ چې په کابل کې د محمد نادرشاه سره راغی او بیا وزارت او سفارت ته ورسیدی).

تر دغه افشاګری وروسته چې په کابل کې د هند مؤقتي آزاد حکومت د ډیرو فشارو سره مخامخ ؤ نو څه یې یې په وس پوره نشوه او عکس العملونه یې د امیر په دربار کې راوپاځول.

د دغه تحریک دوه کسه غړي عبدالباري او شجاع الله لاهوري، مولوی عبیدالله د ایران له لارې ترکیې ته ولیږل، خو د ۱۹۱٦ په اګست کې د ایران په محمود آباد کې ونیول شول او ایراني سرحدي پولیسو روسي ګارد ته تسلیم کړل او هغو په تربت جام کې انګیزي ماموراتو ته وسپارل، څو په هند کې د وریښمینو دسمالو په محاکمه کې د سلطاني شاهدانو په توګه حاضر کړل شول.

همدارنګه د چین او جاپان ته د مهندراپراتاب له لیکونو سره دوه کسه میراسینګ او شیخ عبدالقادر ولیږل شول، خو هغوی هم په تاشکند کې ونیول شول او په مهمند کې د انګریز قنسل ته وسپارل شول.[۱]

د امیر حبیب الله په دربار کې دغه جریان خیلې منفي اغیزې واچولې او په دننه کې د امیر او د هغه د ورور سردار نصرالله خان ترمنځ هم یو د بې اعتمادی فضا رامنځته شوه.

شهزادګان عین الدوله امان الله او معین السلطنه عنایت الله او یو شمیر نور سرداران یوې خواته ود چې د امیر پر محافظه کاری یې انتقاد کاوه، بلې خوا ته سردار عبدالقدوس خان اعتماد

(۱) برهاند حبیبی، جنبش مشروطیت در افغانستان، ص ۹۳.

الدوله چې یو شمیر محافظه کار عناصر یې پر ځان راټول کړي و، او د انګریز سره یې د نیکو روابطو هیله کوله.

امیر په ډېر تدبیر او حکمت هندي مبارزین مصروف ساتل او ځان یې هغو ته په ګیر نه ورکاوه خو د دربار د اختلافاتو څخه بې واهمې هم نه ؤ.

حوادثو پر بل راتاویدل د هند مؤقتي او آزاد حکومت هم نور ختم شو او غړي یې سره وپاشل شول، خو امیر د دغو جریاناتو په عکس العمل کې خ ... نه بایلاوه.

## ۱۲ - د عیاش باچا په دربار کې د فتنو او فساد رخنه:

امیر حبیب الله خان د تجمل او تشریفاتو له پلوه یو نمونه یې دربار جوړ کړ چې عصري مناسباتو روښانه انعکاس پکښې درلود، خو څرنګه چې باچا د لیوني ځان غوښتنې په روحیه ځان د ټولو چارو مرکز او محور باله نو ورو ورو یې د اداري ملونې له لاسه وتلې او د دربار چسپازه او محیل عناصرو یې په پوست کې ځای نیوئ.

لومړۍ نړیوال جنګ او پر امیر د انګریز فشار چې بې طرفي وساتي او د بې طرفي په وړاندې د افغانستان او قبایلو د مذهبي قشرونو مخالفت، کابل ته د جرمني ترکیبي هیأت راتګ او د هغو اداره، په کابل کې د هند د مؤقت آزاد حکومت د تأسیس فعالیت او پر دربار د هغه اغیزو امیر حبیب الله ډېر ستړی کړ.

امیر که څه هم پخوا طبیعتاً عیاش سړی ؤ، خو وروستیو حوادثو د حرم انزوا ته تیل واهه. نو امیر او یو ډله ښځې پر ځان راټولولې او د بګچه پزانی د امیر کار ؤ، ډېر لږ په دربار کې معلومیدی او د دد دغه غیابت د فتنو او فساد د تعمیم ته لار خلاصه کړه.

په دربار کې د شهزادګانو او بانفوذه سردارانو څخه چې امیر ته یې د مشاورینو حیثیت درلود د افغانستان د بې طرفي په مسأله کې عملاً دوه حزبه (دا دوې ډلې وې) منځته راغلې وه چې یو یې د جنګ په حزب یادیدی او دا ارمان یې تعقیباوه چې د انګریز څخه د افغانستان آزادي واخلي. په دغه حزب یا ډله کې چې مشري د امیر وررور سردار نصرالله خان کوله د امیر دوه زامن عنایت الله او امان الله چې جنرال محمد نادر خان او محمود طرزي هم ورسره همفکر وه، ددوی سره د مسلمانانو مذهبي قشرونه او د قبایلو مشران ملګري وو. په مقابل کې یو شمیر محافظه کار سرداران چې د انګریز طرفداري یې کوله او د امیر د بې طرفي سیاست یې تائیداوه د عبدالقدوس خان اعتماد الدوله پر دور راټول وه.

امیر همیشه د دفع الوقت سیاست تعقیباوه او زیاتره یې دغه ګروپونه مصروف ساتل، خو د امیر دغه سیاست هم ناکامه ؤ، ځکه د امیر پر ضد یې دومره نفرت عام کړ چې حتی ورور او زوی یې ودې ته وهڅول چې د امیر پر ضد باید کودتا وکړي.

امیر په دربار کې تر هر چا پر میرزا محمد حسین خان مستوفی الممالک ډیر تکیه کوله، ځکه هغه پټې چوغلی ورته کولی او د دربار په باب یې پټ اطلاعات امیر ته رسول. امیر په کورنی کې هم پر آرامه نه ؤ، د شهزاده امان الله مور چې د شاغاسی شیردل لور او د بارکزو لوی بهیر پورې تړلې ؤ، ورور یې لویناب خوشدل خان او د هغه زوی والی علی احمد خان چې ملکې لور هم ورکړې وه، د بارکزو بانفوذه خانان دربار ته را اورد کړل، په دغو کې یو شمیر توطیه ګر او ځینې یې دومره رشوت خوارده وه چې د یوې مخې یې دربار د فساد په دم کې تیل واهه.

امیر د عصبیت څخه حتی ملکې ته طلاق ورکړ او زوی یې شهزاده امان الله د خپل قصر څخه وشړل، خو د سردار نصر الله خان په شفاعت وبخښل شول.

په دربار کې فساد عام شو او داسې توطیې په جوړیدې چې امیر یې هم په کشف نه بریالی کیدی او بوازنی تکیه یې پر محمد حسین خان مستوفی ممالک وه او هغه هم امیر ته صادق نه ؤ او حتی د ټول دربار سره یې په بیلو بیلو سطحو کې تضادونه درلودل، نو ځکه د امیر پر عصبیت به یې هره ورځ زیاتوب راوستی. څومره چې به امیر تهدیدونه زیاتول هغومره به یې نفرت جلباوه او د درباریان بیریدل چې زیان ور ونه رسیږی، نو د امیر د بربادی په لار کې یې چې وس رسیدی برخه یې اخیستله.

امیر چې د لومړی مشروطې رهبران په توپو کې الوزولی او په نورو یې زندانونه ډک کړی وو، نو د هغو ځای یو شمیر رادیکال ځوانانو نیولی ؤ چې د امیر د قتل پلانونه یې عملی کول، چې دد ې جملې څخه په ۱۹۱۸ کې کله چې د امیر د تولدی جشن په تماشو کې د شوربازار څخه په موټر کې تیریدۍ د یوه دکان له بامه یې پر موټر فیر وشو امیر ته څه زیان ونه رسیدی، خو سبا نیول نیول شروع شول او د امیر جاسوسانو د هغه وخت یو مشهور ځوان عبدالرحمن خان لودی د کاکا سیداحمد خان کندهاری زوی ورته په ګوته کړ او امیر هم لودی او هم نوځوان روښانفکران د یوې مخې زندان ته واچول، خو څوک یې اعدام او مړه نه کړل.

په آخر کې امیر د کورنی د خپلوانو او د دربار د بانفوذه اشخاصو له خوا ډیر تجرید شوی ؤ، بوازې په حرم کې یې په عیاشی او ساعتتیری وخت تیراوه او په دربار کې د مستوفی ممالک او یو بل جاسوس (سرور بچه ءبیوه) غوندې خلکو سره تیریدی.

دغه فتور او فتنې پخپله امیر و ځان ته ایجادولې، څو یې په دغه اور کې ځان مکوټ کړ.

ځینې داسې منطقي حدسیات هم شته چې امیر د نړیوال جنګ تر خلاصېدو وروسته انګریز ته د افغانستان د خپلواکۍ پېشنهاد ورکړی ؤ او امیر هم نور انګریز ته د نفع منبع نه وه، نو ځکه یې په توطیو کې را ګېر کړ او له منځه یې یووړ، څو د غسې غوښتې غلې شي، خو عکس العمل یې ډېر شدید ؤ.

## ۱۳- د امیر د قتل فاجعه:

امیر حبیب الله چې د عمر په وروستیو کلونو کې د روښانفکرانو او عامو ولسونو نفرت جلب کړی ؤ، نو د تفکر خاوندانو فکر کاوه چې حتماً به امیر په یو فجیع شکل له منځه ولاړ شي.
روښانفکرانو د امیر له انګریز دوستۍ څخه نفرت کاوه، په خاصه توګه چې امیر د لومړي مشروطې د غړو په وینو لاسونه سره کړي وو په راوروسته کې یې زندانونه په دوی ډک کړي وو، نو د امیر پر ضد یو سخت عکس العمل راپاڅېدلی ؤ.
عام ولسونو هم پر امیر بد وویل چې غله او لیوان یې د دوی په ځان ورایله کړي دي، رشوت خوري او بې باز خواستي و خپل آخرین حد ته رسیدلې وه چې مصئونیت هر اړخیز له منځه تللی ؤ.
د شهزاده امان الله مور علیا حضرته چې یوه کینه ښځه وه او امیر د هغې پر عزت تیری کړی ؤ او په طلاق یې تهدید کړې وه، د امیر د قتل پلان جوړ کړ او شهزاده امان الله چې هغه هم د پلار څخه سخت ناراضه و تشویق کړ چې د خپلو راډیکال یارانو په وسیله د امیر چاره وکړي.
سردار نصرالله خان د امیر ورور هم له دې کبله چې امیر د افغانستان په مسأله کې د انګریز خاطر غوښتې عصبي ؤ او له دې څخه یې واهمه درلوده چې امیر یې مړ یا بندي نه کړي د جنګ حزب چې د امیر ضد شخصیتونه پکې رایوځای شوي وو ټول پر دې بیریدل چې د امیر په وجود کې د پلار (امیر عبدالرحمن) روح حلول و نه کړي، خو د دغو عناصرو څخه د دربار پټ ګوند (حزب سری دربار) جوړ شو چې په مشرۍ کې یې سردار نصرالله خان ولاړ ؤ دا لاندې شهزادګان (عنایت الله او امان الله) محود طرزي د مصاحبینو له کورنۍ څخه جنرال محمد نادرخان او نور یو شمیر رادیکال ځوانان شامل وو.
دوی فیصله وکړه چې کله امیر د ژمني تفریح ځای جلال آباد ته ولاړ شي هلته به وژل کیږي، دغه فیصله د قرآن مجید پر پاڼه ولیکل شوه او ټولو لاسلیک کړه او دغه قرآن مجید یې سردار نصرالله خان ته ورکړ چې د امیر تر مرګ وروسته به دې پاچا وي.
د ۱۹۱۸ په ژمي کې چې امیر جلال آباد ته ولاړ، نو هلته په ټاکلي ورځ سردار نصرالله خان له کوره راونه وت، کله چې د دغو غړو څخه یو د دغې سردار ورته وویل: زه نه غواړم ورور مړ کړم،

خو د بندی کېدو سره یې موافق یم.

دې خبرې د پټ ګوند ټول غړي ویېرول او دا فکر یې کاوه چې سردار نصرالله خان به امیر خبر کړي په داسې حال کې چې لیکلی سند هم ورسره پروت دی، خو سردار دا کار ونه کړ او د پټ ګوند غړو هم پټه خوا غوره کړه، امان الله د سردار نصرالله خا په پټه یو بل پلان تر کار لاندې ونیوی چې په هغه کې دده ځوان ملګری شامل وو او د بلې خوا یې د مور په مرسته هغو کسانو ته چې په دغه پلان کې شامل وو یې د ریغه مرستې ورکول کیدې.

دوی میرزا محمد حسین خان مستوفی ممالک چې د امیر د استخباراتو کار یې هم کاوه تعقیبول، خو څه یې په لاس نه ورتلل. بیا یې هم امیر ودې متوجه کاوه چې د خطر ټکی امان الله دی! په دې ډله کې چې د امان الله په قوماندہ یې کار کاوه ډېر کاری سړی شجاع الدوله خان ؤ چې وایی د امان الله خان مور زوی ورته وایه. کومه تفنګچه چې امیر په ووژل شو هم علیا حضرتې هغه ته ورکړی وه (د دغه خبره ما ته یعنی ددې کرښو لیکوال ته معروف مبارز میرقاسم خان لغمانی په څلویښتمو کلونو کې وکړه چې تفصیل یې ما په هفته ٔ اخبار کې خپور کړی دی)

په دا بل کال ۱۹۱۹ کې د جنوری په اول امیر حبیب الله خان د خپلې مفصلې عملې او بارخانی سره جلال آباد ته ولاړ چې د ژمی ورځې هلته تیری کړی. عین الدوله امان الله یې په کابل کې په حکمرانی پرېښود او په دې سفر کې یې هغه ورسره ملګری نه کړ، غالباً ورځخه بېریدی به چې مړ یې نه کړی.

امیر د جلال آباد څخه د کبانو د ښکار په نیت د لغمان کله ګوش ته ولاړ او هلته د فروری په شلمه شپه پخپله خیمه کې د یو نامعلوم سړی له خوا په تفنګچه داسې وویشتل شو چې چا یې چندان آواز هم وانهورید او امیر چې پر شقیقه یې مرمی ویشتل شوې وه داسې ځای پر ځای مړ ؤ چې ښور یې لا نه ؤ خوړلی.

په سبا چې د امیر قتل علنی شو، تر هرچا سردار نصرالله خان حیرت او تعجب وکړ او په دې پوه شو چې دا کار په داسې شیوه د هغه پټ ګوند له خوا شوی دی چې دی یې مشر ؤ خو دا یو کال یې غافل ساتلی ؤ.

سردار نصرالله خان په تلوار د امیر مړی جلال آباد ته راورساوه او هلته یې د خپل امارت اعلان وکړ او د بیعت په اخیستلو یې پیل وکړ، نصرالله خان یو مکتوب هم د امان الله په نامه ولیکئ او شجاع الدوله خان ته یې ورکړ چې هغه په کابل کې امان الله ته ورساوه او په دغه وخت کې امان الله خان د باچاهی اعلان کړی ؤ چې ټول اردو او د کابل ښاریانو هغه منلی ؤ. د امان الله خان سره خزانه او اردو وه، نو ځکه نصرالله خان او عنایت الله خان وبېریدل او سمدستې یې ځان خلع او امان الله خان ته یې د خپل بیعت خبر ورکړ، خو د جلال آباد اردو دغه سرداران او د مصاحبینو د کورنی غړی ونیول او بندی یې کابل ته راولیږل او په کابل کې رسماً د امان الله پاچهی پیل شوه.

# پنځلسم فصل

## آزاد او خپلواک افغانستان

### ۱ - امان الله خان قدرت ته رسیږي:

د امیر حبیب الله د قتل عواقب هغسې چې انتظار کیدی د حوادثو لړۍ په ځان پسې تعقیب نه کړه. که څه هم ادعا طلبه سردار نصرالله خان، شهزاده عایت الله خان او نور شهزادګان او د هغو اعوان او انصار کم نه وه او کیدای شوای چې یو خطرناکه کورنی جنګ یې منځته راوړی وای، خو خبرې غوټه پیدا نکړه او په ډیره آسانتیا باچهي امان الله ته انتقال شوه.

په جلال آباد کې د نصرالله خان د امارت اعلان او د بیعت اخیستل د نصرالله خان اشتباه وه او دا چې دوست محمد خان ناظم یې تشویق کړ چې د پکتیا له خوا پر کابل قبایل ور مات کړی او کونړی شیخ چاچا د مهمندو لښکر تیار اوه چې پر کابل یې ور روان کړی او محمد حسین خان مستوفی الممالک د تګاب او نجراب د خلکو لښکر د شمال له خوا پر کابل راتاوه، خو دا یو کار یې هم ونه کړ او امان الله خان چې په کابل کې یې ځان باچا اعلان کړی او د کابل خزانه او اردو یې په لاس کې وه نصرالله خان او د هغه طرفداران پر ځای کښېنول شو او ؤ چې نصرالله خان په یوه لیک کې امان الله خان ته د خپلې استعفا خبر ورکړ او بیعت یې هم ورته اعلان کړ. په دې پسې سردار

عنایت الله او نورو شهزادګانو هم امان الله ته ځانونه تسلیم کړل.

دوی د امیر د مرګ په ۱۲ ورځ (د مارچ په ۸) له جلال آباد څخه په موټر کې کابل ته راغلل او په لنډو ورځو کې د امان الله په امر ونیول شول او بندیان شول.

امان الله، عنایت الله چې باجه یې هم ؤ بیرته خپل حرم ته ورخوشې کړ، ځکه دا یو بې آزاره شخص ؤ، خو هر څه چې نصر الله خان و هغه د لوی نفوذ خاوند او په قبایلو کې یې ډېر احترام کیدی نو ځکه امان الله خان د هغه څخه سترګه کوله او د ارګ په زندان کې یې چې جر ثقیل نومیدی واچاوه.

امان الله به هم هغو ورځو کې چې باچهۍ یې اعلان کړه سمدستي یې د ارګ له زندان څخه هغه ځوان رادیکال روښانفکران آزاد کړل چې د امیر حبیب الله پر موټر د فیر په قضیه کې بندیان شوي وو او دوی ته یې مهم اداري پوستونه وروسپارل.

شجاع الدوله خان د مرحوم غبار په قول د امیر حبیب الله قاتل او د امان الله ډېر نژدې اعتمادي سړی ؤ. په دغه حساس وخت کې د امنیت چارې وروسپارلې او د اطلاعاتو کار یې هم کاوه.

هغه ځوان عناصر چې د عصري تعلیم او تعلم له پلوه مجهز وو او د دوهمې مشروطې غړي بلل شوي دي د کارونو په رأس کې ودریدل او امان الله خان هم آزادې زمینې ورته برابرې کړې. امان الله خان پخپله یو زړور او وطن دوست شخصیت ؤ، دده د افغانستان د ودانۍ او پرمختیا لپاره ډېر فعالیتونه وکړل خو متأسفانه چې د هیواد په اړخ کې یې یو محیل دښمن انګریز خنډونه ورته پیدا کول.

امان الله خان په سادګۍ هم قدرت ته ونه رسیدی، دده قدم پر قدم حریفان او رقیبان په کمین کې وو، مخصوصاً میرزا محمد حسین مستوفي الممالک د امیر حبیب الله په ژوند کې شهزاده امان الله هغه ته تور کړی ؤ.

امان الله د پلان په طرح او تطبیق کې یو باتدبیره ماهر سړی ؤ، هغه مهال چې په جلال آباد کې سردار نصر الله پټ ګوند فیصله ماته کړه او د امیر د قتل د ګروپ د غړو په امضا یې قرآن مجید هم له ځان سره وساتئ، یو کال امان الله خان په ډېره حوصله هم سردار نصر الله غافل وساتئ او هم یې د خپلو ملګرو په وسیله هم هغه د امیر د قتل پلان په دا بل کال داسې عملي کړ چې سردار نصر الله ورته په تعجب کې شو.

امان الله خان په خلاص لاس له یارانو سره همکاري کوله او هغو هم په هغه ورځ کې چې امان الله خان په کابل کې پاچهي اعلان کړه او تره یې په جلال آباد کې بیعتونه اخیستل د امان الله ملاتړ وکړ.

امان الله د امیر حبیب الله د مرګ په اوومه ورځ د (فبروری په ۲۸) خپله لومړی اعلامیه صادره کړه، د دوویل:

«ای د افغانستان معظم ملته! ما د پلار د شهادت پر وخت د سلطنت وکالت په کابل کې پر عهده درلود او اوس په هغه اصالت د امانت د روند بار متوکلاً و معتصماً بالله پر غاړه اخلم. کله چې ستر ملت زما پر سر د باچهي جوغه کښېښووله ما عهد وکړ چې د افغانستان دولت به لکه د نړی نور مستقل قدرتونه د هیواد په داخل او خارج کې آزاد او مستقل وی. د افغانستان خلک به د قانون تابع وی، بیګار او نور جبری کارونه بند دی، دلته به ډیر اصلاحات راځی چې هیواد په نړی کې خپل مناسب ځای ومومی، زه به د شاورهم فی الامر په اساس د هیواد چارې اجرا کوم. تاسې به د خپل دین او هیواد په چارو کې ډیر هوښیار اوسئ او په بیداری به وطن ساتئ.

زه تاسې او ټول اهل اسلام او ټوله بنی نوع انسان ته خیر او سعادت غواړم»[۱]

امان الله د لومړی ورځې څخه دا غوښتنه کوله چې زه به د خپل شهید پلار قاتلان پیدا کوم او په دې لار کې به تاسې هم د هغه معنوی پلار په بازخواست کې راسره ملګری یاست. امان الله خان د باچهی په ډیرو مهمو کارو لاس پورې کړ او غوښتل یې د سردار نصر الله د بند مسأله د خلکو له یاده وباسی، خو د سردار نصر الله خا په باب ډیرې آوازې خپریدې او خلکو همدردی ورسره ښوولله(دا د هغه وخت د ځینو خلکو نظر ؤ)

بالاخره امان الله خان مجبور شو، د می ۱۹۱۹ په میاشت کې په یوه خاص دربار کې چې شهزادګان حاضر وه د امیر حبیب الله خان د شهادت قضیه تر غور لاندې ونیوله او د متهمینو په باب یې نظر وغوښت. د امیر شهید د قتل په باب درې کسه سردار نصر الله خان، عبدالاحد خان او علی رضاخان افسر لومړی درجه مسؤلین راووتل، چې نصر الله خان په بند کې پاته شو، عبدالاحد خان تبعید شو او علیرضاخان اعدام شو.

په دې کې شک نشته چې دا افسر بې ګناه ؤ، خو امان الله خان باید یو څوک قاتل تراشلی وای، نو په دغه لومه کې دغه بې ګناه افسر راګیر شو.

د سردار نصر الله سره په درباری خلکو کې هم همدردی موجوده وه چې په دې جمله کې د یوې تروریستی ډلې مشر محمد اختر خان د ناظر محمد صفر خان امین الاطلاعات زوی ؤ او په ملګرو کې یې یو هندوستانی ملا د عمادالدین په نامه هم شامل ؤ چې زیاتره احتمال لری انګریز به رالیږلی ؤ، دغې ډلې غوښتل چې د یوې جمعې په ورځ چې امان الله خان پغمان ته ځی په لار کې یې ترور کړی، نو د دغه کار لپاره یې د قرغې پل ونړاوه او تروریستان په شا و خوا ځمکو کې ورته پټ شول.

---

(۱) غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، ص ۷۵۲.

خو امان الله خان ته اطلاع رسيدلې وه ،نو دغه کسان یې محاصره او ونیول، محمد اخترخان چې خبر شو پر سر یې تفنګچې فير وکړ خو مرمۍ یې د شقيقې څخه تر سترګه راووتله او مړ نشو، ونیول شو او علاج يې پیل شو، په عین زمان کې امان الله خان هم تحقیق ځینې کاوه، د تحقیقاتو په نتیجه کې څرګنده شوه چې دوی د امير امان الله د وژلو او د سردار نصرالله د آزادولو نیت درلود.

د دغې توطیې د کشف سره د برې پټې خبرې رسوا شوې او ډېر پټ کسان افشاء شول.

امان الله خان د دغې ډلې ځینې کسان اعدام، ځینې بندیان ځینې یې ایله کړه، خو ملا عماد الدین په چالاکۍ کې د یو شمير هندي کارکوونکو په وسیله چې دربار ته منسوب وه، روغ رمټ هندوستان ته وتښتیدی.

تر دغې توطیې وروسته امیر پر سردار نصرالله خان مراقبت او فشار زيات کړ، څو سردار نصرالله یو کال او درې میاشتې وروسته په هغه جرثقیل کې مړ شو او مړی یې امان الله خان په احترام خاورو ته وسپاری.

## ۲- د خپلواکۍ اعلان او د خپلواکۍ جنګ:

وروسته تر هغه چې ځوان باچا د ملت په نامه په خپله لومړۍ وينا کې افغانستان آزاد او خپلواک اعلان کړی ؤ، نو د ۱۹۱۹ د مارچ په دریمه نیټه یې بریتانوی هند د ویسرای لارډ چلمسفورډ په نامه یو لیک واستاوه او په هغه کې یې نوموړی ویسرای ته د خپل شهید او فقید پلار د مړینې او د خپلې باچهۍ خبر ورکړ او د لیک په پای کې دې کلماتو انګریزان فکر جن کړل: «... نه باید د هغه ملګری څخه پټه وي چې د افغانستان مستقل او آزاد حکومت ځان تیار بولي چې هر وخت او هر موسم د دوستۍ د ایجاباتو سره قراردادونه او تړونونه د انګریز د غښتلي حکومت سره عقد کړي، داسې کارونه به د تجارتي ګټو په لار کې زموږ حکومت او ستاسو حکومت ته په ګټه وي.»

په دې پسې په کابل کې د بریتانیې نماینده هند ته اطلاع ورکړه چې نوی امیر د ۱۹۱۹ د اپریل په ۱۳ په دربار کې داسې اعلان وکړ: «زه ځان او خپل هیواد د داخلي او خارجي لحاظه کاملاً آزاد او خپلواک اعلانوم، تر دې وروسته به زما مملکت لکه د نړۍ نور ممالک او قدرتونه آزاد وي.

و هیڅ یوه خارجي قدرت ته به د سر د يو ويښته په اندازه اجازه ورنکړم چې د افغانستان په داخلي او خارجي چارو کې مداخله وکړي او که دغسې اقدام وکړي سر به یې په همدغه توره ورغوڅ

کړم (په دغه وخت کې امیر لوڅه توره په کمربند پورې تړلې وه او د دغې جملې پر وخت یې هغه په لاس کې پورته کړه) ».

وروسته امان الله خان په دغه مجلس کې د انګریز نماینده ته اشاره وکړه او وې ویل: « ته پوه شوې! » ما ورته وویل: « هو، زه پوه شوم! »

امان الله خان خپلې دا خبرې په عمل پسې تعقیب کړې، بخارا ته یې سفیر مقرر کړ، د شوروی اتحاد سره یې اړیکې ونیولې او ایران ته یې د سفیر مقررولو هدایات صادر کړل.

د بریتانوی هند ویسرای د ځوان امیر مکتوب ته یو سرسری ځواب ورکړ، د ده په خپل مکتوب کې د حبیب الله مرګ هغه ته د یو دوست ضایعه وبلله او امان الله خان ته یې مبارکی وویل او بس.

امان الله خان دې ته ونه کتل سمدستي یې د اداری اصلاحاتو په لړ کې کابینه تشکیل کړه چې په هغه کې یې محمود طرزی خارجه وزیر او عبدالقدوس خان یې صدراعظم کړ او نور وزیران یې وټاکل (خوو صدراعظم تر پایه وچ پاتې ؤ او چارې یې پخپله باچا اجراء کولې).

د ۱۹۱۹ د مې له پیل څخه امان الله خان په جنګی سوقیاتو پیل وکړ، ختیځې خواته یې جنرال صالح محمد خان، جنوبی خواته جنرال محمد نادرخان او کندهار ته یې عبدالقدوس خان د وسله بندو قواو په مشری واستول.

امیر د مې په اوایلو کې په یو دلویه غونډه کې د جهاد اعلان داسې وکړ چې که جهاد ته تیار یاست وسلې واخلئ او خلکو هم امین پر ووایه.

د مې په ٤ لارډ چلمسفورد هند ویسرای لندن ته خبر ورکړ چې امان الله جنګ پیل کړ او په همدغه ورځ یې په پېښور کې ګورنر روزکیپل ته خبر ورکړ چې تیاری ونیسی او په همدغه ورځ افغانی عسکرو چې په نظامی کالو ملبس وه د باغ سیمه چې پر لنډی خانه او کافر کوټ پورته واقع وه ونیوله او له دې سره سم جنګ پیل شو.

د مې په اووم انګریز یو لښکر لنډی کوتل او بل پاړه چنار ته ولیږل، همدارنګه پېښور او نور شا و خوا یې تقویه کړل، د مې په ۸ انګریز لویه ډکه بمباری کړه.

سپه سالار صالح محمد خان چې تازه په کابینه کې د دفاع وزیر ټاکل شوی ؤ او اوس د مشرقی محاذ قوماندان ؤ، د مې په ۳ د ټولو هدایاتو په صرف نظر جنګ پیل کړ، دا ناڅاپی کار د هر مصلحت څخه د باندې ؤ، حاجی عبدالرزاق اندړ چې د ختیځو سرحداتو په قبایلو کې د امیر له

خوا د قبایلو پاڅولو ته لېږل شوی ؤ د هغه ځای په صالح محمد خان ته ولیکل چې ډېر پام کوه چې جګړه بې موقع پیل نه کړې، دلته ما قبایل تیار کړي دي، حمله باید پر داسې وخت وشي چې له دې خوا یې قبایل تعقیب کړي، خو له دې ټولو خبرو سره صالح محمد خان حمله وکړه او د مې په برولسم د انګریز فشار زیات شو نو په داسې حال کې چې ٤٠٠ ځوانان پر میدان پراته و، دی و تښتیدی او په ختیځ سرحد کې بری انګریز ته وړ په برخه شو.

. حاجی عبدالرزاق امان الله خان ته ولیکل چې دا کار به صالح محمد خان د بې عقلی څخه کړی وي یا به یې غداری کړی وي، خو زه یې دا دوهم تائیدوم.

امیر چې خبر شو صالح محمد خان یې اعداماوه، خو د وضع په حساسیت یې د هغه په بند اکتفا وکړه.

همدغسې یو غدر د کندهار په محاذ کې هم وشو، هغه دا ؤ چې سردار عبدالقدوس خان لا د کابل او کندهار په لار کې ؤ چې انګریز د چمن له خوا پر سپین بولدک فشار ورووړ، په کندهار کې لویناب خوشدل خان والي ؤ او د سپین بولدک په کلا کې ۳۰۰ عسکر د محمد یوسف خان تر قوماندانۍ لاندې په دفاع مصروف وه، د کندهار څخه خوشدل خان مرستندویه قوه ور ونه لیږله او ۳۰۰ نفره د محمد یوسف خان سره تر ورستی نفسه وجنګیدل، ځو اکثریت یې مړه او نور یې سخت زخمیان شول او محمد یوسف خان د کوما په حال کې ؤ چې انګریز د سپین بولدک کلا ونیوله.

خو کله چې عبدالقدوس خان هلته ورسید د نظامی پلوه یې قطعات منظم کړل او قومی لښکرې یې سپین بولدک ته سوق کړې او انګریز یې شا ته وټمباوه.

امان الله خان غوښتل خوشدل خان هم اعدام کړی، خو دا یې ماما ؤ او مور یې د هغه د خلاصولو لار برابره کړه.

په دغو محاذونو کې د پکتیا محاذ کامیاب او عمومی قوماندان یې چې سردار محمدنادر خان ؤ بریالی راووت.

محمد نادرخان د اپریل په ۲٤ ګردېز ته ورسید او هلته یې اعلان وکړ چې افغانستان د خپلواکی اخیستلو په مبارزه لاس پورې کړی دی. د ده سره چې ډېر ماهر افسران، معروف سرداران او مشهور روحانیون ورسره وه د پکتیا قومونه هم ورسره ملګری شول.

وروسته تر متفرقو جګړو د مې په ۲٦ جنرال محمد نادر خان د لس زره ولسی او ۳ زره منظمو عسکرو او محدودو توپو سره د ټل پر نظامی کلا حمله وکړه، انګریزی عسکر کلک جنګیدل او

هوایي بمبارد هم رووان ؤ، خو د انګریز د قواو پښه هغه وخت وښوئیدله چې قومي ملیشې ورڅخه بیلې شوې او څرنګه چې د جګړې توان ورته پاتـه نـه ؤ ځانونه یې تسلیم کړل او د انګریز دې تسلیمی یوه ولوله پاڅوله، افغاني قواوو د تل کلا فتـح کړه او د هغـې لـه برج څخه یې د انګریز بیرغ راکوز کـړ او د افغانستان بیرغ یې هلته اوچت کړ. د تل په فتح کوهاټ او پیښور هم تر تهدید لاندې شول.

په دې وخت کې انګریز د متارکې غوښتنه وکړه او کابل هم ورسره ومنله او افغاني قواو ته یې امر وکړ چې د ډیورند د کرښې دې خواته راشي، کله چې هغه راپرشا شول انګریزي قوا بیرته هغه ځایونه ټول ونیول چې افغاني قواو نیولي و او په دې کې تل هم شامل ؤ. دا د کابل د حاکمیت یوه غټه اشتباه وه، البته په دې توګه یې په وروستیو خبروکې چې د صلح لپاره کیدلې د انګریز لاس اوچت کړ.

که څه هم و دې جنګ ته ځینې ډیرې درنې قواوې د هوایي قوت په شمول را میدان ته کړي وې، ولې د افغاني قواوو روحیې کار وکړ او هغه دومره اوچته وه چې انګریز یې د بن بست سره مخامخ کړ.

په دغه دوران کې د جلال آباد او کابل د انګریز جنګـي الـوتکو بمبارد کـړل او په دې تـرڅ کې د لومړي ځل لپاره د حبیبیې زده کوونکو او د کابل خلکو د انګریز پر ضد لومړی مظـاهره وکړه.

انګریزانو په دهلي کې افغاني سفیر سردار عبدالرحمن خان ډ کې ته راوست او هلته یې دده د کورنۍ غړي وګرځول او ده ته یې پیغام ورکړ چې امیر متارکه وکړي. سردار عبدالرحمن خان ۱۷ ورځې په کابل کې ؤ څو د ۱۹۱۹ د جون په دریمه امیرامان الله خان د متارکې سره موافقه وکړه او په دې توګه د ویسرای او امیر ترمنځ مکاتبه پیل شوه، دغو خبرو د دغه کال تر جولایي پورې دوام وکړ، څو موافقه وشوه او باچا له خوا یو هیأت د والي علي احمد خان په مشرۍ د صلح د قرارداد لپاره راولپنډۍ ته روان شو.

جنګ په ټولو محاذو کې بند شو، خو په دغه متارکه او د صلح په هیأت، افغاني قوماندانان چندان خوښ نه وه.

## ۳- د صلح خبرې:

لکه په پورتنیو کرښو کې چې اشاره ورته وشوه د خپلواکۍ لپاره جنګ د مې په میاشت کې تود شو، دد غې میاشتې په دریمه د انګریز الوتکو پر کابل حملې پیل کړې. د مې په څلورمه پاچاهي ماڼۍ او نور هدفونه د الوتکو په بمبارد زیانمن شول.

د مې په میاشت کې افغاني مبارزانو په ختیځ، جنوب او جنوب لویدیځ (مشرقي، پکتیا او کندهار) کې جنګ ته ادامه ورکړه، خو انګریز د خطر احساس وکړ او د جون په دریمه یې د اوربند سره اعلان وکړ او د صلح د خبرو لپاره یې د یوه هیأت د ورتګ پیشنهاد وکړ، په دغه لړ کې دوه وار د مختلف افغاني هیأتونه په راولپنډۍ او موسوري کې او یو ځل انګریزي هیأت په کابل کې ډېرې اوږدې خبرې سرته ورسولې. لومړۍ خبرې د والي علي احمد خان په ریاست د ۱۹۱۹ په جولای کې په راولپنډۍ کې پیل شوې. دوهم ځل خبرې د محمود طرزي په مشرۍ د ۱۹۲۰ او بل په ۱٤ په میسوري کې وشوې او دریم ځل د انګریز سیاسي سکرتر واپس کابل ته راغی او دا خبرې د ۱۹۲۱ د جنوري په پنځم پیل شوې. دلته به په اختصار پر دغو خبرو یو مرور وکړو:

### د راولپنډۍ غونډه:

د انګریز د غوښتنې له مخې د صلح د خبرو لپاره امیر امان الله خان یو هیأت د والي علي احمد خان تر ریاست لاندې وټاکل چې راولپنډۍ ته ورشي، د کابینې مخصوصاً د وزیر خارجه محمود طرزي له نظره والي علي احمد چې دغه وخت داخله وزیر ؤ، مطلق مطلوب سړی نه ایسیدی او په مقابل کې یې عکس العمل دومره زیات ؤ چې عبدالهادي داوي د خارجه وزارت لوی مامور د علي احمد سره د همکارۍ څخه معذرت وغوښت.

علي احمد چې روانیدی محمود طرزي احتیاطاً په کابینه کې د هیأت لپاره یو د کار طرز العمل تصویب کړ، په دغه طرزالعمل کې د بحث په وخت کې اعتراضات او د مقابل طرف د اعتراضاتو د دفع په باب مشخص لارښوونې ورته شوې وې، د جنګ د ضرر او د صلح د شرایطو حدود ورته په نښه شوي وو او دا ورته یادونه شوې وه چې هیأت باید هره فیصله په اتفاق آراء تصویب کړي، په پنځمه ماده کې لارښوونه ورته شوې وه چې خبرې فقط د دغه طرزالعمل سره برابرې وکړي او که نورې خبرې منځ ته راغلې چې په دې طرزالعمل کې یې ځواب نه ؤ باید د مرکز سره تماس ونیسي، خو علي احمد خان چې وچ مغزه، ناپوه او مغرور سړی ؤ کله چې راولپنډۍ ته ورسید هلته یې پر خپل سر خبرې پیل کړې، یو د بله غټه اشتباه له دې ځایه وه چې د هیأت سره هغه

مشکوک پنجابي ډاکټر غني چې د لومړي مشروطې په وخت کې هم خبرې پر پیدا وې د هیأت سره د ترجمان په توګه ملګری شوی ؤ. دا هم د امیر په اشتباهاتو کې یوه نه بخښونکی عمل ؤ. هیأت د جولای په ۲۵ راولپنډۍ ته ورسید او د بریتانوی هند د خارجي سکرتر هملټن ګرانټ سره یې خبرې پیل کړې او د اګست په ۸ د والي علي احمد او ګرانټ ترمنځ یوه پنځه ماده ایزه معاهده لاسلیک شوه چې د افغانستان موقف یې په شرم آوره توګه د ډاګه وهلی ؤ.

په لومړۍ ماده کې لیکل شوي وو چې د دې معاهدې له لاسلیک څخه وروسته د افغانستان او انګریز ترمنځ مصالحت قایم دی.

په دوهمه ماده کې انګریز یادونه کړې وه چې د خپل خواشینۍ د سړولو په خاطر هغه وسلې چې افغانستان یې رانیسي د هندوستان له لارې یې اجازه سلبوي چې افغانان یې خپل وطن ته یوسي.

په دریمه ماده کې لیکلي شوي وه چې انګریز د پخواني مرحوم امیر تولې پیسې چې د هند په خزانه کې دي، ضبطوي او نور به هم اوسني امیر ته هیڅ پیسه نه ورکول کیږي.

په څلورمه ماده کې د انګریز د دوستۍ د جلب لپاره شرط اینبوول شوی ؤ چې افغانستان که وتوانیږي چې په راتلونکو شپږو میاشتو کې د انګریز قناعت په خپلو اعمالو حاصل کړي، نو انګریز په شپږ میاشتې وروسته یو بل افغاني هیأت راوغواړي او خبرې به ورسره وکړي.

پنځمه ماده کې لیکل شوي وو چې د افغانستان او هند ترمنځ سرحد چې پخواني مرحوم امیر قبول کړی ؤ او اوسنی امیر به یې هم قبلوي او د سرحد هغه برخې چې په نښه شوې نه دي یو انګریز هیأت به یې په نښه کوي او امیر به یې هم مني او د انګریز عسکر به په دغه سیمه کې تر هغه وخته پراته وي چې دا سرحد په نښه کیږي.

دا تړون د افغانستان ملا غوڅه ورماته کړه او د دې مستقیم مسؤل که علي احمد وي، خو پخپله امیر هم د مسؤلیت څخه نشي معاف کیدای، ځکه د هیأت تعین پخپله امیر پر خپل سر کړی ؤ.

کله چې علي احمد کابل ته راغی امیر په دربار کې دومره پر په قهر شو چې اعداماوه یې خو وروسته یې په کور کې بندي کړئ. د امان الله خان مور د خپل دغه ورارد د موقعیت په بیرته ټینګولو کې په ۱۹۲۱ کې علي احمد د بند څخه خوشې کړ او حتی لور یې هم پسې ورکړه. علي احمد هغه سړی ؤ چې د سقاوي اغتشاش په وخت کې په جلال آباد کې د باچهي اعلان وکړ، خو خلکو وشړئ، بیا کندهار ته وتښتیدئ او هلته د سقاو د چوبکیانو په لاس ورغی کابل ته یې راوست او د حبیب الله کلکاني په امر په توپ کې والوزول شو.

دوهمه غونډه د میسوري وه چې افغاني هیأت د محمود طرزي په مشرۍ ګډون پکښې کړی ؤ او پس له یو بن بست څخه بې نتیجې پای ته ورسیده.

د افغانستان خارجه وزارت د هند بریتانوي حکومت ته خبر ورکړ چې د مساوي حقوقو په اساس د دواړو دولتونو ترمنځ یوه معاهده وشي او انګریز هم موافقه وکړه، په دې توګه افغاني هیأت د محمود طرزي په مشرۍ د ۱۹۲۰ کال د اپریل په ۱۲ په موسوري کې د انګریزي هیأت سره وکتل او خبرې پیل شوې، دغو خبرو د جولای تر وروستیو دوام وکړ خو انګریز یو لړ تحمیلات راوړل او بالاخره د جولای په اخیر کې افغاني هیأت بې له دې چې پر کومه معاهده لاسلیک وکړي، هند خوشې کړ او وطن ته راغلل. په دې هیأت کې عبدالهادي داوي د خارجه وزارت د سرحداتو د چارو مسؤول د هیأت نایب رئیس غلام محمد خان وزیر تجارت دیوان نرنجنداس ملکي برګډ پیر محمد خان ترخیلي کرنیل غلام صدیق خان چرخي مستشار (په هند کې) او یو د تحریر هیأت ورسره و.

افغاني هیأت د انګریز څخه غوښتل چې د افغانستان خپلواکي په رسمیت وپېژني او د نویو روابطو لپاره د ترونونو لار خلاصه کړي او دغه خبرې باید نشر شي، خو انګریز دهغو د نشر سره موافقه نه کوله او یو لړ فشارونه یې هم وارودول چې په دې توګه خبرې بې نتیجې پای ته ورسیدې او هیأت کابل ته راغبرګ شو.

د انګریزانو سیاسي غبارت په هیڅ وخت او هیڅ ځای کې داسې نه و را اوچت شوی لکه د افغانستان په قضیه کې. دوی په سر کې ډیر ساده فکر کاوه او تر متارکې وروسته یې داسې شرایط ایښوول لکه افغانستان ته چې د جنګ مجازات ورکوي، خو ورو ورو یې د وضع حساسیت درک کاوه، څو د موسورۍ د غونډې تر بې نتیجې پای ته رسیدو وروسته یو دم متوجه شول چې ښایي هر څه یې په زحمت په لاس راوړي یو دم له لاسه ورکړي.

د شوروي روسیې د نوي دولت سره د اړیکو قایمول (۲۷ مارچ ۱۹۱۹) په سر کې انګریز ته یو بې ارزښته واقعه وه خو دا د محمود طرزي د مبتکرې ډیپلوماسۍ یو شاهکار و چې انګریز یې تهدید کړ چې که د افغانستان خپلواکي ونه مني نو په سیمه کې به لوی مصیبتونه ورته جوړ شي.

انګریز د راولپنډۍ په غونډه کې د افغاني هیأت سرتېمبه رئیس، والي علي احمد خان خطا یوست او سراسر یې د افغانستان په زیان په هغه معاهده لاسلیک کړه، خو د موسورۍ په غونډه کې چې محمود طرزي د هیأت مشر و، نو د هغه سره یې خبره سرې ځای ونه نیوی او نو دا و چې افغاني هیأت بې له کومې نتیجې راروان شو.

په دې منځ کې سربېره پر دې چې په روسیه کې انقلاب شوی و، په ترکیه کې هم مصطفی کمال قدرت ته ورسیدی د روسیې دولت مخالفت کې د کلچاک او دنګین لښکرو هم ماتې وخوړه او آذربایجان روسانو ونیوئ، په ایران کې هم د انګریز د ګوډاګي وثوق الدوله له منځه ولاړ، دا ټوله

هغه پيښې وې چې انگريز يې د سختې وارخطايي سره مخامخ کاوه.

د موسوري تر غونډې وروسته د هند بريتانوي حکومت او لندن په دې خبرو سخت مشغول وه چې د افغانستان د امير سره يوې داسې موافقې ته ورسيږي چې امان الله خان د بالشويکانو لمنې ته ونه لويږي او روسان هغه د انگريز په مقابل کې جگړې ته ونه هڅوي.

خو دا دواړه فکره کاملاً غلط وه. امان الله يو نشنلست ؤ او محمود طرزی هم دومره ساده نه ؤ چې په سيمه کې يې د خپل سياست د پرمخ بيولو مهارت نه درلود.

امان الله خان او محمود طرزي دواړو په بل هيڅ شي کې فکر نه کاوه، يوازني ارمان او غوښتنه يې د هيواد کامله خپلواکي وه. د بريتانوي هند تجربه کاره ډيپلومات هانري دابس لندن ته پر له پسې مشوره ورکوله چې د امير سره په مسالمت برخورد وشي او د غوښتنو زياته برخه يې بايد ومنل شي، دا ځکه چې د سيمې وضع همداسې ايجابوی. خو په لندن کې خارجه وزير هم هغه پخوانی سرتمبه لارډ کرزن لا پوره راوبښ شوی نه ؤ او غوښتل يې په زور هر څه پر افغانستان تحميل کړي، خو وروسته متوجه شو او د هند حکومت ته يې اجازه ورکړه چې د افغانستان سره خبرو ته کښيني.

د بريتانوي هند څخه د ۱۹۲۱ د جنوري په پنځمه يو هيأت د هم هغه دابس په مشرۍ افغانستان ته را داخل شو او د جنوری له ۲۰ څخه د دغه کال د دسمبر تر اول پورې ډيرې اوږدې او ستړې خبرې وشوې.

خو دلته يو ځل بيا د امان الله خان او محمود طرزي د ډيپلوماسي يو بل شهکار پام لرنه جلبوي هغه دا چې د انگريز هيأت ودې ته حاضر کړی چې د زړه له کومې د افغانستان خپلواکي ومنی، نو د همدغه وخت سره چې د دابس خبرې د افغاني هيأت سره په کابل کې روانې وې، هلته يې په ماسکو کې د همدغه ۱۹۲۱ کال د فبروري په ۲۸ د روسانو له نوی دولت سره د دوستی تړون لاسليک کړ، دا هم يو بل فشار ؤ چې پر انگريز وارد شو او هغو په خپلو شرايطو کې دا خبره پسې زياته کړه چې که د افغانستان او بريتانيا ترمنځ د دوستی معاهده کيږي افغانستان به د روسيې سره د دوستی معاهده باطلوي، خو پر دغه خبره افغاني ډيپلوماتانو خندل او يو ځل د دغه کال په نوامبر کې چې دابس او هيأت يې په پغمان کې د امير سره ملاقات کاوه امير په جدي لهجه ورته وويل مهرباني وکړئ هغه څه چې مونږ غواړو او حق يې هم لرو تاسې يې راکړئ مونږ به سمدستي د روسيې سره په ټولو روابطو نوی نظر وکړو، خو تاسې تر اوسه لا افغانستان هغه د نولسمې پيړۍ په سترگو گورئ.

معاهده څو واره معطله شوه، بالاخره په ١٤ مادو کې د نوامبر په ۲۲ (۱۹۲۱) د محمود

طرزی او دا بس له خوا لاسلیک شوه او هم دا بس په همدغه تاریخ د سرحدی قبایلو په باب یو مکتوب د محمود طرزی په عنوان صادر کړ.

په دې معاهده کې د افغانستان خپلواکي په رسمیت پیژندل شوې وه ،خو د مشکلاتو د حل لپاره یې لارې لا پوره نه وې خلاصې کړې او همدا وجه وه چې کله د ۱۹۲۱ کال د دسمبر په اول اعلیحضرت امیر امان الله خان د غه معاهده د انگریزي هیأت په وړاندې لاسلیک کوله په وینا کې یې وویل دا معاهده د افغانستان او انگریز ترمنځ د دوستی معاهده نه ده، بلکې د حسن همجواری معاهده ده.

د صلح او د خپلواکي په رسمیت پیژندلو خبرې چې د انگریز سره پیل شوې وې، بالاخره دغه د حسن همجواری په معاهده سرته ورسیدې.

## ٤- ر فورم (اصلاحات):

امان الله خان د باچهي له پیل څخه د هغو تولو کارو اجراء تر لاس لاندې ونیوله چې په خپله لومړۍ وینا کې یې ملت ته وعده ورکړې وه. د باچا لوی مشاور او همکار محمود طرزی رفورمونه په ډیر بصیرت فورمولبندي کړل او بیا یې په ترتیب سره باچا پر هغه لار روان کړ چې د هغه عصر ربنتیانی غوښتنه وه.

که څه هم د خپلواکی داعیه او د هغې کامیابه نتیجې د سیاسی رفورم مقدمه برخه وه خو فرهنگی رفورم د امان افغان د اخبار له خپریدو سره چې د سراج الاخبار پر ځای یې لومړی گڼه د ۱۹۱۹ کال د اپریل په ۱۲ د عبدالهادي داوی په مدیریت خپره شوه. دا د فرهنگ او عصري مطبوعاتو یو ه هینداره وه چې د ځوان افغان د دولت غوښتني او کړني یې منعکسولې، د دغه اخبار خپرونو په خلکو کې د معارف غوښتني یو داسې ولوله راوپاڅوله چې خلکو داوطلبانه اعانه دولت ته ورکوله او د ښوونځي تأسیس او معارف یې پخپله پرغاړه اخیستل.

کله چې د انگریز سره د حساب تصفیه وشوه او افغانستان د هغې ورځې دوو زبرځواکونو (انگریز او شوروی) په رسمیت وپیژند او دا د رسمیت پیژندنې لړۍ په اروپا او آسیا کې پسې تعقیب شوه، نو د ځوان افغان دولت ودې ته فارغه شو چې د ټولنیز ژوندانه د نوي کولو په خاطر په بیلو بیلو ساحو کې رفورم راولي.

د رفوم ډیر مهم اړخ د قوانینو طرح او تطبیق ؤ چې د قانون تر حاکمیت لاندې یو قانونمند دولت منځ ته راشي.

د ۱۹۲۳ کال د فبروري په ۲۹ په جلال آباد کې د ملت په ۸۷۲ نمایندگانو په گډون په لویه جرگه کې د افغانستان لومړی اساسي قانون تصویب شو او بیاد پغمان په لویه جرگه کې تائید شو.

تر دغه اساسي قانون وراندې چې یو شمیر قوانین تدوین شوي، و هغه د اساسي قانون سره هم آهنگه او وریسې په مختلفو چارو کې د قوانینو د تدوین لړۍ په چټکۍ روانه شوه.

دا لومړی دوره د ۱۹۱۹ څخه تر ۱۹۲٤ پورې په ډاډه توگه پرمخ تله، خو له دغه وخته وروسته چې په تعیناتو او مقرریو کې خپل سري پیل شوه او د امان الله خان د ... ر چې د بارکزی شیردل خان لور ده، خپلوان بارکزي خانان په خانخاني روحیه دولت ته ننوتل، بو ... وانین ورو ورو شاته غورځول کیدل، دا وضع دومره اسفناکه شوه چې د ۱۹۲۸ د پغمان په لویه جرگه کې غلام محی الدین آرتي په زوره ناري کړل چې تر کومه وخته اعلیحضرت خپل ټول خاین وزیران نه وي غرغره کړي، تر هغو اصلاحات هیڅ معنا او مفهوم نه لري.

امان الله خان بې له دې چې قانون ته اعتنا وکړي، بې له دې چې صدراعظم ته اختیار وسپاري ټوله چاري پخپله اجرا کولې او قانون هم باچا غیر مسؤل بللی ؤ.

مولوی عبدالواسع کندهاري چې دده قانوني مشاور او د تقیني چارو مسؤل ؤ او د هر قانون تر توشیح وروسته به یې پر قانون لاسلیک کاوه څو واره یې باچا ته وریاده کړه چې قانون تر پښو لاندې کیږي، خو د فتنه جو دربار په تحریک باچا پر په قهر شو او بندي یې کړ.

د فرهنگ په سطح کې معارفو دومره پراختیا وموندله چې حتی د پکتیا او خوست خلکو هم ۷۰۰ زره افغاني اعانه دولت ته ورکړه چې ښوونځی ورتاسیس کړي او په همدغه وخت کې په گردیز، خوست، زرمت او څمکنیو کې څلور ښوونځی جوړ او زدکوونکو په زده کړه پیل وکړ.

په نورو ولایاتو کې هم د معارف سره مینه په څپو کې وه او په کندهار او کابل کې هندوانو هم ښوونځي جوړ کړل او په وروستیو کې د مستوراتو ښوونځی هم تأسیس شول او خارج ته د لوړ تحصیل لپاره هلکان او نجوني ولیږل شوي.

د مطبوعاتو په برخه کې په لس گونو جریدې او مجلې خپریدلې او د ارشاد النسوان په نامه هم یو جریده خپریده او په هر ولایت کې یوې جریدې خپروني کولې.

په اقتصادي برخه کې رفورم په صنایعو له انکشاف سره پیوند شو او په د باندني تجارت کې افغاني پیداوار و د نړۍ مارکیټونو ته لار پیدا کړه.

په عمراني برخه کې نوي ښارونه جوړ شول او د کابل ښار له پخوا څخه څو چنده پراخ شو. د ولایاتو تر منځ لارې او سرکونه د سره جوړ شول او په لار کې د مسافرانو د هوساینې لپاره هوټلونه په کار ولویدل.

د ټیلفون او تلګراف لین د کابل او ولایاتو ترمنځ وغزول شو او د یوې فرانسوي کمپنۍ سره د یوه قرارداد توافق وشو چې د جنوب او شمال او کابل تر منځ د اورګاډي لین وتړي. ددې رفورمونو په وړاندې انګریز ډیر خندونه غورځول. په ۱۹۲٤ کې یو سړي چې عبدالکریم نومیدی او ځان یې د پخواني باچا یعقوب خان زوی باله په خوست کې خلک تحریک کړل ځو حکومت او خلکو هغه وشړی.

په همدې توګه پخپله په خلکو کې هم نارضایتی وه لکه چې ملاعبدالله او ملاعبدالرشید په پکتیا کې راپورته شول او رفورم یې بدعت وباله، خو دا ټوله د هغه ځای د حاکم چې یو هندوستانی او د انګریز ایجنټ ؤ، خلک خطا ایستل او د حکومت پر ضد یې راولاړ کړل.

رفورمونه خلکو ښه هرکلی کړل، خو په دربار کې د فتنې او فتور عناصرو فضا مسمومه کړه.

## ۵ - د رفورم ضد عوامل:

دا یو ډیر دقیق او د جدی احتیاط مستلزم بحث دی. احساساتو او شخصی علاقمندیو ته باید ځای ورنه کول شي، د سالمو او غیر سالمو رفورمونو ترمنځ باید په تفکیک کې د قضایاو مختلف ابعاد په نظر کې ونیول شي.

امیر امان الله (چې د ۱۹۲۶ د جون له ۷ څخه امان الله شاه شو) واقعاً یو وطن دوست باچا ؤ، خو د شهزادګی غرور هغه ته ډیره لږ اجازه ورکوله چې د سالمو او په مسایلو کې د آګاه شخصیتونو د مشورو ته غوږ ونیسی.

د ه خیال کاوه چې باچا یې یو لایزاله قدرت دی او باچا چې څه وغواړي هغه کیدلای شی، دا ددهٔ د ذهن یوه اشتباه وه، دوهمه ډیره غټه خطا یې دا وه چې یې دلیله د مور پر ټیر یې ډیره تکیه کوله (ددغې مسألې رواني جهت باید مطالعه شي) بارکزی درباریان چندان په پوست پاک خلک نه وو هغو فقط ملکه سرور سلطان (دامان الله مور) خوشحاله ساتله، نور د هغې په حمایت یې په دربار کې لویې فتنې پاڅولی او د رشوت خوری له لارې یې جیبونه ډکول.

امان الله چې دا رفورمونه پیل کړل ټول خلک ورته خوشحاله وو، خو د دربار محافظه کار عناصر په دې خوښ نه وو، ځکه په دغو رفورمونو کې ددوی ګټې له خطر سره مخامخ کیدې.

د رفورم څخه د بدې استفادې زمینې ډیرې زیاتې دی او حتی په یوه ساده او بې آزاره مسأله کې چې هغه ښوونځی ؤ، هم بده استفاده کیدله داسې چې د ښوونځی څخه ۳ یا ٤ کروه لیرې هلکان په بې ښوونځی ته جلبول چې هغوی به هلته د رسیدو توان نه درلود نو د دغو هلکانو د معافولو په

بدل کې به سرمعلم رشوت اخیست. یا به یې ځوان هلکان چې د کور، باغ او یتې کار به ورد غاړې ؤ د ښوونځي په نامه راکشول کیدل او بیا به یې په رشوت خوشي کول. په دې توګه یې خلک له معارف څخه زړه توري کړل. (۱)

باچا سره له دې چې دموکراسي یې تمثیلوله، ولې ډیر وختونه به یې د استبداد خولی پر سر کوله. د ۱۳۰۳ په لویه جرګه کې یوه غړي مولوی عبدالواسع ورته وویل چې داخله او معارف وزیرانو څخه خلک په غوغا دي د بازخواست وړ دي. امیر [illegible]روخته لهجه هغه ته ځواب ورکړ دا زما وزیران دي او ماته مسؤل دي نه تاسي ته. (۲)

د مثبتو رفورمونو په اړخ کې د غیر ضروري او حتی ځینو مضرو کارونو رواج هغه عوامل وو چې رفورم او اماني دوره یې له بن بست سره مخامخ کړه. په دې کې شک نشته چې د د کدرونو د روزنې لپاره په خارج کې د محصلینو روزل یو ضروري کار ؤ، خو د اروپا سره دومره په افراط عشق یوه لویه غلطي وه او دا یوه لوړه آرزو وه چې خپله ټولنه په ظاهر د د اروپا په شان جوړه کړي، خلک یې مجبورول چې د ریښي واغوندي او شپو پر سر کړي د ښځو له سره په زوره چادري غورځول دا یو غیر ضروري او مضر عمل ؤ، که څه هم د باچا آرزو به دا نه وه چې په دغسې رسوایی دا کارونه وشي، خو پخپله په دربار کې د باچا حریفانو دا کار کاوه چې د باچا موقف کمزوره شي.

داسې مضر عملونه دومره زیات شول چې سالم رفورمونه یې تر اغیزې لاندې ونیول او حتی د سالمو رفورمونو کې یې دومره رخنې جوړې کړې چې د رفورم د علاقمندانو څخه دا آواز پورته شو:

دیده در خون جگر زد غوطه باد لعنت به چنین مشروطه

د مشروطې څخه یې مراد رفورمونه وو.

دا خو په داخل کې د رفورم د سقوط عوامل وو، په خارج کې وضع تر دې ډیره درنه او خطرناکه ده، انګریز یو منظم پلان طرح او تر تطبیق لاندې نیولی ؤ. هغه هندوستانیان (پنجابیان) چې د پخوا څخه د انګریز پټ ریوټچیان وو، په اماني دوره کې یې بیا هم پر کارونو حاکمیت او لویه تخریبي برخه درلوده، کله چې د قانون اساسي د انفاذ امر صادر شو په پکتیا کې والي امیرالدین پنجابي چې هندوستاني ؤ په لوی محفل کې وویل اوس د شریعت وخت تیر شو او اوس د قانون وخت دی.

د غه اوضاع د رفورم علاقمندانو لیدله، خو باچا د چا پر خبره غوږ نه نیوی د کابل او ولایاتو اداره چې تفصیل یې علامه حبیبي په خپل اثر (جنبش مشروطیت در افغانستان) کې راوړی دی د

(۱) ډاکتر بورګی د افغانستان دوهم اساسي قانون ته یوه کتنه د پیښور چاپ، ص ۳۶.

(۲) ډاکتر بورګی د افغانستان دوهم اساسي قانون ته یوه کتنه د پیښور چاپ، ص ۳۷.

باچا هغه ماماخیل معرفي کوي چې ټول والیان او وزیران وو او د هیواد د رفورم او اداری سره یې هیڅ علاقه نه درلوده، په عیاشی کې غرق او د جیبو په ډکولو اخته وو. په کابل کې محمود یاور او بیا شاغاسی علی احمد (بارکزیان) والیان وه. په کندهار کې عبدالعزیز خان بیا محمد سرور خان وریسې عبدالکریم خان نایب الحکومه ګان وه (چې دا هم ټول بارکزی او د باچا ماماخیل وه مزار شریف او هرات د عبدالکریم خان نایب الحکومه نیک محمد خان فرقه مشر او محمد ابراهیم خان نایب الحکومه او عبدالرحمن خان فرقه مشر په لاس کې وه چې دا هم ټوله بارکزیان وه.

په پکتیا کې عبدالحکیم خان بارکزی، په غزنی او ارزګان کې دوست محمد خان ناظم بارکزی، په ګرشک کې محمد امین خان بارکزی او نور هم له دغه قرار حکمرانان وه او په دغو ټولو کې یو هم داسې کس نه ؤ چې د رفورم پروا دې وساتی، یا دې د خپل جیب پر ځای د وطن غم ورسره وي. په دې توګه د سالم نظر خاوندان یو په بل پسې د کابله یا خارج ته ولاړل، یا خانه نشینه شول، حتی محمود طرزی هم تحمل ونه کړای شوای.

په مقابل کې انګریزورو وروخپله نقشه تر کار لاندې ونیوله، ډاکټر غني پنجابی او د هغه ورور مولوی نجف علی او نورو هندوستانی ملایانو او په پای کې کرنیل لارنس د رفورم او امان اللّه د سقوط سناریو تر عمل لاندې ونیوله. په عامه اذهانو کې یې امان اللّه کافر او د وطن رسم و رواج ته د یو دښمن په توګه معرفي کړ.

## ٦- د اعلیحضرت امان اللّه شاه تاریخي سفر او د هغه عواقب:

د ۱۹۲۷ م کال په وروستیو میاشتو کې چې د هیواد سیاسي فضا کافی اندازه مکدره وه او د دولت د اداری فساد څخه غمجن حالت د هر کور دروازه ورټکولې وه، نهضت غوښتونکی باچا اراده وکړه چې خارج ته سفر وکړي. دا چې دا سفر څومره ضروري او د معقول مصلحت څخه برخوردار ؤ؟ باید وویل شی چې ظاهراً خو دا ستر طوفانی کار ښه جلوه درلوده، ولې بې وخته ؤ خاصتاً بیا دا چې په دغه مسلط بحران کې دا سفر شپږ میاشتې ونیولی او د باچا په دغه اوږده غیابت کې یو مخیز د امنیت او اداري شیرازه وشلیده او د دښمن د خاینانه پلان د ښه تطبیق زمینه برابره شوه. دا خبره البته بیخایه نه ده چې د دغه سفر هم لکه ځینی نور کارونه د امان اللّه خان د بوالهوسی څخه منبع درلوده. امان اللّه شاه د ۱۹۲۷ کال په وروستیو میاشتو کې کابینې ته وویل چې اراده لری یو شمیر آسیایی او اروپایی هیوادونو ته سفر وکړی او افغانستان معرفی کړی، دا یقیناً ښه کار ؤ، خو بې وخته ؤ، نو ځکه زیان او تاوان یې د ده وطن او خلکو ته سخت ټکان ورکړ.

امان الله شاه د خپلو سفري ملګرو په برخه کې ښه انتخاب کړی ؤ او ملکه ثریا (شاه خانمه) یې هم د ځینو ښځو سره بیولې وه، ده البته دا کار د احتیاط له مخې کړی ؤ چې دلته بیا متعصب قشرونه پسې و نه وایي چې د فرنګیانو ښځو سره یې میلې کولې. خو مخیل دښمن چې ورته په کمین کې ؤ دغه د ملکې د تګ ځخه یې دده پر ضد ډیر خطرناک کار واخیست.

د امان الله شاه دا سفر د ۱۹۲۷ دسمبر کې پیل او د ۱۹۲۸ تر جولای پورې یې دوام وکړ دا لاندې کسان یې د سفر ملګري وو:

۱- محمد یعقوب خان شاغاسی (وزیر دربار).

۲- سردار شیر احمدخان د دولتي شورا رئیس (د سردار فتح محمد خان زوی).

۳- سردار محمد حسن خان مصاحب (د سردار محمد عمر خان زوی).

٤- حبیب الله خان د وزارت حربیې معین.

۵- عبدالرحمن خان فرقه مشر د هرات عسکري قوماندان (شهنواز خان بارکرزي زوی).

٦- غلام یحیی خان طرزی په وزارت خارجه کې د اسلامي ممالکو د څانګې مدیر.

۷- محمد امین خان دروازي (د محمد ولی خان خورزی) د خارجه وزارت د شفر مدیر.

۸- غلام صدیق خان چرخی سرمنشي (په دې وخت کې د خارجه وزارت کفیل).

۹- محمود طرزی غیر رسمي ملګری.

۱۰- والي علي احمد خان، شخصي ملګری.

۱۱- عبدالوهاب او عبدالتواب کنډک مشر دمحمود طرزی زامن، دملکي ورونه سر بیره پر دې یو شمیر ترجمانان هم ورسره وو.

باچا هند، مصر، ایتالیا، فرانسه، بلجیم، آلمان، انګلستان، شوروی، ترکیې او ایران ته ولاړ چې په دې هر مملکت کې یې ډیر درونډ هرکلي وشو. دده په خپل دغه سفر کې نه یوازې د افغانستان لپاره تبلیغات وکړل، بلکې استعمار یې هرځای وټکاوه.

انګریز ورته وویل چې شوروی ته سفر و نه کړي، هر امتیاز چې وغواړي ځینی دریغ به نشي، خو امان الله و نه منله.

په ترکیه کې د مصطفی کمال اتاتورک او په ایران کې یې د رضاشاه سره ډیرې اوږدې خبرې وکړې. امان الله شاه په دغه سفر کې د افغانستان لپاره خورا ډیرې فابریکې او د صنعت سامان رانیول او کوربه هیوادونو ددغه ځوان او قهرمان باچا چې په آسیا کې د انګریز سر ور ټیټ کړی ؤ، خورا زیات عزت کاوه او ډیر امتیازات یې ورکول.

خو انګریز سخت پر له تاویدی او په هم هغه وخت کې چې باچا لا په خارج کې ؤ دلته یې په داخل کې د اور پیلوزی ورته کنبینول.

امان الله شاه خاین او بې حسابه باچا نه ؤ، دی لومړی باچا ؤ چې ملت ته یې د خپل سفر د مصرف راپور ورکړ.

په دې سفر کې مصرف او عواید داسې وه:

اول- مصرف: میلمستیاوې، اعانې و ښاروالیو او شفاخانو نه، د غریبو افغانانو سرد مرسته، بخښښونه، د هوټل خرڅونه، د هوټل کرایه او نور تړوله جیب خرڅونه نولس لکه او یو پنځوس زره افغانۍ.

دوهم- عایدات: سوغاتونه، تحفې او بخښښونه، یو کروړ اته ویشت لکه او اته اتیا زره افغانۍ.[۱]

امان الله شاه په سلګونو ماشینونه، فابریکې، عمراني، طبي او نظامي سامانونه فرمایش کړل چې ځینی یې راورسیدل او ځینی یې د اماني دورې تر سقوط وروسته ورک یا د بدرګه افغانانو تر استفادې لاندې راغلل.

امان الله لا د هیواد څخه د باندې ؤ چې په شمال کې آواز پورته شو او بیا پخپله د امان الله خان مور هلته ورغله او هغوی ته یې پلو وړاندې کړ خو یې مؤقته آرامي راوستله، د دغې نا آرامي عامل هم پخپله د ملکې قومیان بارکزیان وو.

داسې نارامي لړ نه وی، انګریز خپل قوي جاسوسان قبایلو او حتی ښارونو ته ننه ایستلي وو. دا آوازې هره ورغ خپریدې چې باچا په خارج کې مسلماني پرې ایښې او هره ورغ ګرجی (کلیسا) ته ورځي.

په خاینانه طریقه د ملکې مونتاژ شوی عکسونه په قبایلو کې تیتیدل، سر به د ملکې ؤ او هغه به د یوې اروپایي لوڅې ښځې په بدن پورې نصب شوی ؤ او یو قبیلوی سړي په شکل فهمولی شوای چې دا ساختګی دی.

د قبایلو بې خبره خلکو چې دا عکسونه ولیدل یو زوږ یې اوچت شو، په دې پسې انګریز خپل ماهر جاسوس کرنیل لارنس سبمې ته راولیږی او هغه پر دغه اور تیل پسې توی کړل، په کابل کې د انګریز سفیر سرفرانسیس همفریز په دربار کې تفتین کاوه ،محمد ولی خان دروازي چې یو تاجک سړی ؤ د باچا په وکالت پر سردارانو یو ګوزار ؤ او هرې خواته د مارانو سرونه راپورته شوی وو. امان الله شاه د طنطنو سره له دې سفر څخه راوګرځیدی، خوشباوره باچا هیله درلوده چې ولس به یې د ستر ګو رانجه کړی، خو اولس د باچا سره په دې شپږ میاشتې غیابت کې نه یوازې بیګانه شوی ؤ، بلکې د دښمنی په خشم کې ورته ایشیدی.

دا سفر که یو کامیابه جهت درلود ، خو ډېر ناکامه او غمجن عواقب یې باچا ملت او وطن ته په نصیب کړل.

---

(۱) عزیزالدین پوپلزیی، سفرهای غازی امان الله شاه، چاپ کابل، ص۳۰۳.

## ۷- د بیدویلاؤ راویښول:

اعلیحضرت امان الله شاه د ۱۹۲۸ په جون کې د اوږده سفر څخه وطن ته راوګرځید او ددې سره سم یې د یوې بلې لویې جرګې د جوړیدو فرمان صادر کړ او حتی دومره مخته ولاړ چې د کندهار نایب الحکومه ته یې په ټیلفون کې وویل چې شپږ تنې ښځې هم دغه مجلس ته راولیږه.

دا جرګه چې د اماني دورې دریمه لویه جرګه وه د ۱۹۲۸ د اګست په ۲۸ په پغمان کې جوړه شوه. اعلیحضرت د خپل سفر ګزارش هم ورکړ وروسته یې دغه شل فقرې تصویب کړې:

۱- شورای دولت په شورای ملي تبدیل شوه.

۲- د مجازاتو عفو یوازې د باچا حق دی.

۳- د تفتیش عمومي دیوان تأسیس شو.

٤- هر وزارت به د تفتیش یوه دایره ولري.

۵- د مساکینو او مجانینو لپاره دې ځایونه جوړ شي.

٦- د عسکري مکلفیت دوره درې کاله ده.

۷- د عسکري مکلفیت نقد بدل ممنوع شو.

۸- ټول نښانونه لغو شول.

۹- ملکي رتبې لغو شوی.

۱۰- ټول رسمي القاب لغو شول، فقط د غریز کلمه به د نومونو سره لیکل کیږي.

۱۱- په نظامنامو کې دې د هر جرم جزا وټاکله شي.

۱۲- نقدی جریمه دې هم د نظامنامې سره سمه اخیستل کیږي.

۱۳- تجارتي او نورې عصری محکمې دې جوړې شی.

١٤- تدریس او وعظ په شهادتنامه پورې مربوط دی او د دیوبند ملایان افغانستان ته نشی راتلای.

۱۵- د افغانستان پنځلس کلنی سالم خلک دی هر کال پنځه افغانی او مامورین دې د یوې میاشتې تنخوا د عسکر وسلو د رانیولو لپاره ورکوي ددې بسپنې لایحه دې شورای ملی جوړه کړي.

۱٦- ملی شورا دې د رشوت د بندولو لپاره لایحې جوړې کړي.

۱۷- که مجرم محکمې ته حاضر نشي دده په غیاب کې دې جزا ورته وټاکل شي او قانون دې شورای ملي جوړ کړی.

۱۸- شهزاده رحمت الله ولیعهد شو.
۱۹- د افغانستان د بیرغ رنگ تور، سور او زرغون وټاکل شو چې پر غرونو د لمر ختو منظر ولري او دورادور یې د غنمو وږي وي لوړ (الله-محمد) پر لیکلي وي.
۲۰- پس له هرو پنځو کلو دې لویه جرگه جوړیږي.[1]

دا جرگه تر یوه جبر لاندې جرگه وه باچا په ډیر غرور د مسایلو سره برخورد کاوه. څه چې تصویب شو د هغو سره اکثریت موافقه نه درلوده خو «۱۱» او «۱٤» مادې د یو دلوی رسوب او عکس العمل باعث شوې. په جرگه کې تر مخه تولو وکیلانو ته فهمول شوي وه چې هیڅوک انتقاد نشي کولای، که کوم مطلب ولری هغه دې لیکلی و سردار شیر احمد خان رئیس شورا ته ورکړي.

په دې جرگه پسې د ستورې د مانۍ په چمن کې یوه جلسه جوړه شوه، هلته اول عبدالرحمن خان لودی پر باچا انتقاد وکړ چې لس کاله یې د صدارت چارې پخپله په لاس کې نیولي دي او مسؤل معلوم نه دی، د دغو څرگندونو ځخه لودی مجبور کړای شو چې استعفی ورکړي، همدارنگه نور ټول پخوانی رفورمستان یو په بل پسې له میدانه ووتل.

انگریز خپل ټول قوت په منفی تبلیغاتو زور ولگاوه او مذهبی قشرونو داډول نغاره سخته درباوله چې اسلام په خطر کې دی او امان الله کافر شوی دی، د امان الله شاه ځخه لار ورکه شوه، ده چه د سفر ځخه د تازه راتگ په وخت کې د ښار پر څلور لارو لوحې نصب کړې وې چې دلته بقرده اره ښځه نشي تیریدای اوس یې د شپې په پټه یو دیو ده ټوله کړه.

امان الله شاه چې سیل اخیستی ؤ هر څگ ته یې لاس وراچوئ او وضع دومره ورته بحرانی شوه چې د ۱۹۲۹ په ۲۰ دسمبر کې یعنی په غو شپو کې چې له کابله وتی یو گام نور هم شاته ولاړ او یو دا تلس فقره ای اعلامیه یې صادره کړه، لنډیز یې په دې ډول دی:

«د اعیانو مجلس په تشکیل، څارنوالی (مدعی العموم) په مقرری افغانی محصلان به له ترکیې راغوښتل کیږي. د دیوبند ملایان به افغانستان ته راتلای شي، د رشوت مخه به نیول کیږي، ښځې به خپل لاسونه او مخ پټوي او د سرو ینستان به نه لنډوی د ملایانو په تدریس کې به له هغوی شهادتنامه نه غوښتل کیږي، د نفوسو د تذکرې توزیع منع او د شرابو څښل به مجازات کیږي.

په هرې یوې ولسوالی کې به یو محتسب ملا مقرریږي، د رخصتی ورځ به له پنجشنبې ځخه جمعې ته تبدیلیږي، ښځې به اروپایی جامې نه اغوندی او چادری به په سر کوی، نظامیان مرید کیدای شي او مرشد نیولی شي، د ښځو د حمایې انجمن به داعیانو د مجلس تر تأسیس پورې

(۱) برهاند حبیبی، د افغانستان تاریخ پیښلیک، د کابل چاپ، ص۲۵۸.

معطل وي. د پور اخيستل آزاد دي او د کاليو په اغوستلو کې به کوم قيد نه وي. »(۱)

امان الله شاه د ډيرو درنو ټولنيزو مسايلو سره په احساساتو برخورد کاوه او دده د هر فعل او حرکت څخه محيل کمين نشينه دښمن استفاده کوله.

ده پخپله ډيرې بيدې بلاوې ځانته راوبنولی، د پغمان د جرګې (۱۱) او (۱٤) فقرې واجباً بيدې بلاوې وې چې امان الله يې وډاروی او په ډير وقاحت يې ۱۸ فقره اې اعلاميه په نشر کړه.

دا پخپله په لوی لاس ده د خپل دولت د سقوط زمينه برابره کړه، څو دا دې تر نن پورې يې د ک وملت ته پاته دي.

## ۸- سقوط:

د مرکز اداره چې د بې کفايته او فاسدو اشخاصو په لاس کې لويدلې وه، نو په ولاياتو کې اداري فساد تر مرکز په څو چنده زيات او خطرناک ؤ. د اغتشاش لومړی شعله د ننګرهار له شينوارو څخه راپورته شوه، څو يې ټول ولايت په خپله لمن کې راونغاړي.

د ۱۹۲۸ کال د اکتوبر په مباشت کې د عبوري پونده ؤ (کوچيانو) او ځايي سنګوخيلو شينوارو ترمنځ جګړه وشوه چې د سنګوخيلو څو کسه پکښې ووژل شول. ځايي خلکو د محل حاکم ته عرض وکړ او د کوچيانو نيولی قاتلين يې وروسپارل، خو حکومت د سنګوخيلو پرعرض غوږ نه نيوئ او د کوچيانو بنديان يې هم راايله کړل. په دې پسې دغو خلکو د اعلی حکومت پر مرکز جلال آباد کې عرض وکړ او هلته هم ددوی پر عرض چا غوږ ونه نيوئ او په دغه واقعه کې د کوچيانو څخه حکومتی کسانو غټ رشوت اخيستی ؤ.

دغه پيښه ددې باعث شوه چې هغه پټ لاسونه چې په سرحد کې د امانی دولت د سقوط لپاره فعال وو ډيره استفاده وکړي. په ډيرو لنډو ورځو کې په شينوارو کې د دولت د کهی قشلې عسکر له درديدلو خلکو سره پټ همکار شول او د ياغيانو په يوه حمله قشله ورته خوشې شوه او هغو ښه ډيره وسله په لاس راوړه. ددغو ياغيانو مشر محمد افضل خان نوميدی چې په غير مستقيمه توګه د نورو خوا او څخه هم تشويقيدئ.

په ننګرهار کې قوماندان محمد ګل مهمند ؤ او کابل سردار شيراحمد خان د رئيس تنظيميه په حيث ورواستاوه، په دغه وخت کې د ننګرهار روحانيون او شيخان هم ورسره ملګري شول، ولې د شينوارو بل مشر محمد علم خان هم سر راپورته کړ او خپلې غوښتنې يې ډيرې لوړې کړې.

---

(۱) قانونپوه داکتر بورګی: د افغانستان دوهم اساسی قانون ته يوه کتنه. د پيښور چاپ ۱۳۷۵، ص ٤۳.

د نوامبر په ۲٤ په کابل کې د انگریز سفیر همفریز د امان الله شاه سره وکتل او هغه ته یې وویل چې ژر د شینوارو پیښه حل کړی که نه د ټولو قبایلو د راپورته کیدو خطر دی.

باچا د هرې خوا د جبونو، خاینو او بې خاصیته خلکو په لاس کې پروت ؤ، یو سالم تصمیم یې هم نشوای نیولای.

په عین زمان کې یو لښکر د عبدالوکیل خان نورستاني او بل لښکر د محمود خان یاور په قوماندانی له کابله سوق شول. د نوامبر په اخیر کې غلې ته ورسیدل او هلته یاور محمود خان دومره اوږدې خبرې د جبارخیلو او خوگیانیو سره پیل کړې چې هغو ښه ترتیبات پر دوی د تعرض لپاره ونیول، نو په یوه حمله یې دا لښکر خلع سلاح او دا دوه لوی منصبداران یې اسیر کړل او خورا ډیره وسله هم په لاس ورغله.

نور نو خبره تر گنډلو ووتله، یاغیانو له هرې خوا پر جلال آباد یرغلونه پیل کړل، هغه ښار یې تاراج او ښکلی عمارتونه یې ورلوټې لوټې کړل.

په وروسته کې امان الله خان والي علی احمد خان ورواستاوه او دا هغه وخت ؤ چې علی احمد ته پخپله د باچهی سودا په سر شوې وه، خو کله چې یې امارت اعلان کړ خلکو قبول نه کړ او په ډیر فضیحه یې وشړی.

په همدغو وختونو کې چې شینوارو بغاوت وکړ او ختیځه خوا بحرانی شوه نو په شمال کې یو بې نامه کلیوال د څو با نفوذه ملکانو سره د کابل او شمالی لار بنده کړه. دغه سړی حبیب الله نومیدی چې د کلکان ؤ او په بچه ء سقاو مشهور ؤ.

دغه بې امنیتی دومره دولت سراسیمه کړ چې د کابل ښاروال احمدعلی خان یې ورته راواستاوه او بیا یې همدلته رئیس تنظیمه کړ احمد علی خان په سرای خواجه او جبل السراج کې د یاغیانو سره وکتل او د هغو سره موافقې ته ورسید او قسم یې هم ورسره وکړ.

هغه امتیازات چې حبیب الله غوښتل هغه که وسله وه که معاش ؤ که رتبه ټول باچا وورته منظور کړل، خو په دغه وخت کې حبیب الله و باچا ته ټیلفون وکړ او داسې وښودله چې گواکې احمدعلی خان دې ورته وې ویل: بچه ء سقاو زموږ په لاس کې دی اوس څه ورسره وکړم؟ امان الله ورته وویل: بس دغه حرامي ووژنه، ددې خوا ورته وویل شوه چې موږ پر قرآن لاسلیک ورسره کړی دی، امان الله په ځواب کې ورته وویل دا قرآن خو ما نه دی لاسلیک کړی او دا زما امر دی چې دغه حرامي یاغي مړ کړه. په دغه وخت کې حبیب الله ږغ پر وکړ چې زه حبیب الله یم، پوه شه چې په کابل کې به یې درسره معلومه کړم.

امان الله حق حیران شو او دا خبره نوره تر رغیدو ووته، دلته شمالی سر اوچت کړ او کابل یې

تهدیداوه ،هلته په جلال آباد کې د یاغیانو او سردار شیراحمد خان ترمنځ پر ۲۱ فقرو مشروط بحث وشو او شیراحمد خان هغه کابل ته رامخابره کړې.

ددغو فقرو غټې ټکې دا وه چې باچا به د سلطنت څخه خلع او ولیعهد به هم ایسته کیږي. حکومت به منحل کیږي او محمود طرزی به د افغانستانه وځي او نورې فقرې هم له دغه قراره وې.

امان الله شاه له دې خاطره چې خلک په دې قانع کړي چې د محمود طرزی سره نورې اړیکی نه لري، د خپل تره سردار نصرالله خان (چې ددغه وخت مړ ؤ) لور علیا بیگمه په نکاح کړه. (۱)

د دسمبر په اخیر کې بچه ٔسقاو پر قلعه ٔمراد بیگ او باغ بالا حمله وکړه او پغمان هم د سقاویانو تر حملې لاندې شو. په کابل کې اوضاع خرابه وه، خو د انگریز سفیر سرفرانسس همفریز خارجیان تشویقول چې له کابله ووځی او په دې توگه یې عام تشویش زیاتاوه.

د ۱۹۲۸ د دسمبر په وروستی هفته کې دولس انگریزی الوتکو په کابل کې انگریزی اتباع پیښور ته بوتلل. ټول سفارتونه وتړل شول، یوازې د ترکیې او ایران او شوروی سفارتونه خلاص وو.

د ۱۹۲۹ د جنوری په لومړۍ هفته کې امان الله شاه له باچهی استعفی وکړه او خپل ورور سردار عنایت الله خان یې په پاچهی وټاکی، خو سقاو ارگ محاصره کړ.

امان الله شاه کندهار ته ولاړ او عنایت الله خا د سقاو زوی حبیب الله ته یو هیأت چې حضرت محمد صادق مجددی، سردار محمد عثمان خان او قاضی محمد اکبر خان (یو بل قول وایی چې عطاء الحق خان چې وروسته د سقاو وزیر خارجه شو هم په دغه هیأت کې ؤ) باغ بالا ته واستول چې د سقاو زوی ته ووایی چې باچا نوی شو، نو تاسې عنایت الله خان ته بیعت وکړئ. خو دغه هیأت چې په پښه اراده نه وه روان شوی، د باغ بالا پر ځای په ده کپک کې دولتي عسکرو ته ورغله مبارکی یې ورکړه چې امان الله خان مستعفی شو او اوس عنایت الله خان باچا شو. عسکرو چې دا واوریدل ټول وپاشل شو او د کورو پر خوا روان شول، وروسته دا هیأت د سقاو د زوی حضور ته ورغلل او هغه یې خبر کړ چې که وغواړی بیعت کولای شی، خو په دغه غونډه کې سیدحسین چې وروسته د سقاو د زوی د جنگ وزیر شو ،وویل کله چې د بیعت خبره راشی، نو زموږ خپل امیر حبیب الله ته ولې بیعت و نه کړو. له دې سره د حبیب الله کلکانی سره بیعت وشو او دوه کسه یو حضرت محمد صادق مجددی او بل سردار محمد عثمان خان ودې آرزو ته ورسیدل چې امان الله او ورور یې له صحنې وتلل او دوی یو بل چا ته وظیفه په سر ته رسوله.

درې ورځې وروسته د یو پروتوکول پر مخ عنایت الله خان د خپلې کورنی سره په یوه

---

(۱) ډکتور خلیل الله وداد بارش، حبیب الله کلکانی مردی در حریق تاریخ، چاپ پیښور، ۱۳۷۷، ص ۲۸.

انګریزي الوتکه کې پېښور ته ولاړل او له هغه ځایه په اورګاډي کې چمن ته او بیا په موټر کې کندهار ته ورسیدل، امان الله خا کندهاریانو تشویق کړ چې بېرته کابل ونیسي او د یو لښکر سره راروان شو، پر غزني د سقاو الوتکو بمبارد کړ. امان الله د کامیابۍ چانس درلود ځکه وردګ او هزاره یې همکارۍ ته تیار شوي وو، دبلې خوا څخه غلام نبي خان څرخي چې په مسکو کې سفیر و د یوه لښکر سره مزار اود هغه حوالي ونیول، خو امان الله شاه چې زړه یې د غو حوادثو ورتور کړی و تصمیم ونیوئ چې نور له وطنه ووځي، نو د غزني نه راوګرځیدی اود ۱۹۲۹ په جون کې د مهمندو د رباط له لارې سپین بولدک ته ولاړ او هلته یې کورنۍ چې د کندهاره راغله ورسره یوځای شو، چمن ته ولاړل او له هغه ځایه ایتالیا ته ولاړ او هلته یې ژوند غوره کړ.

پر کابل د سقاؤ د زوی باچهي راپیل شوه د جاهلیت ډېره ستره نمونه وه او هیواد ته یې ستر مادي او معنوي تکان ورکړ.

## ۹- امان الله د تاریخ د محاکمې په وړاندې:

د افغانستان په تاریخ کې د امان الله د باچاهۍ دوره د داسې درنو پېښو حامل وه چې د هغو په تحلیل سړی دې نتیجې ته رسیږي چې دا یو خطرناک سنتیز و چې د افغانستان په یوه ټاکلې مرحله کې د جیوپولیټیکي بدلون څخه راوزېږیدئ او ډېر ښه او بد، روښانه او تیاره، خوشحاله او غمباره عواقب یې په ځان پسې درلودل.

دلته د بحث محراق دا دی چې دا جیوپولیټیکي بدلون څرنګه حوادثو راوزېږاوه؟

د نړیوالو او سیمه ایزو پېښو اغیزې څومره اغیزمنې وې؟

دلته تر ټولو وړاندې د لومړۍ نړیوالې جګړې په پای کې ځینې بدلونونه د جدي مطالعې مستلزم دي:

۱- د جګړې په پای کې که څه هم انګریز په فاتحینو کې و، خو د جګړې تباه کوونکي فشار یې د بدن شومه ورایستلې وه په خاصه توګه په هند کې هندو مسلمان او سیک و لسونو قیامونه ورته سازماندهي کوله په دغه جریان کې انګریز خپلې پښې په قدرت نه بلکې په مهارت ټینګې کړې وې.

۲- د سیمې په سیاسي اوضاع کې د روسیې بالشویکي انقلاب په مستقیمه توګه پر مرکزي آسیا (دافغانستان پر سرحداتو) اغیزه درلوده.

۳- امیر حبیب الله چې د ټول جنګ په دوران کې د مختلفو داخلي او خارجي فشارونو سره د انګریز په ګټه بې طرفي ساتلې وه. د جنګ په پای کې یې امتیازي (خوحق) غوښتنې درلودې، ولې

انګریز هغو ته سخت بې اعتنا ؤ، نو ځکه امیر او دربار د انګریز څخه ناراضه وه.

امیر حبیب الله رسماً د «تجرید» له سیاست څخه د وتلو خبر انګریزي هند ته ورکړی ؤ او «بفر» خو پخپله خپل پخوانی ماهیت بایللی ؤ.

همدغه عوامل د جیوپولتیک د بدلون باعث ګرځېدل او همدغه عوامل هغه وخت په مضاعفه توګه اغېزمن شول چې د امیر حبیب الله تر قتل وروسته یې دویم زوی امان الله باچا شو.

هغه یو لړ نهضتونه چې د امیر حبیب الله په وخت کې لا رااوچت شوي وو د امان الله په راتلو سره ښه فعال شول او بالاخره نوی او ځوان امیر (امان الله) د انګریز په مقابل کې قیام وکړ او انګریز چې د لوی جنګ څخه ستړی او په هند کې یې لاس تر ډېره لاندې ؤ د افغانستان خپلواکي په عصبیت تعویق کړه، خو د اماني دولت له دې عمل څخه هم وېریدی او هم عصبي شو چې د شوروی انقلابي روسیې سره یې ګوته بنده کړې وه، له همدغه ځایه یې په ډېر صبر او حوصله د خپلو دسیسو او توطیو ته منظم پلانیزه شکل ورکړ او د دغه پلان د تطبیق وظیفه یې خپلو دوو فعالو او خطرناکو مامورینو ته ورکړه چې یو یې په کابل کې ورته سفیر کړ، یعنې سر فرانسیس همفریز او بو هم د شمال لویدیځ صوبې اعلی کمشنر روز کیپل ؤ.

دلته امان الله رفورمونه پیل کړل او په یوه لنډه موده کې یې ۵۰ نظامنامې (قوانین) نافذ کړې، ښوونځی او فرهنګي مؤسسې یې تاسیس کړې، په اقتصاد کې یې نوې لارې وایستلې، اردو یې جوړه کړه او داسې نور کارونه.

عکس العملونه ورته راپورته شول بیرته یې رفورمونه لغو کړل، بیا یې بیرته پیل کړل، په اداره کې خپل سري او رشوت خوري منځته راغلې، وضع ګډه وډه شوه خو اماني دولت سقوط وکړ.

اوس نو د محاکمې ځای دا دی چې آیا د دغې وضع د سقوط مسؤل څوک وه؟ دا یوه عامه خبره ده چې د نادرخان د وخته بیا تر اوسه کیږي چې امان الله بې له تدبیره او په تلوار داسې کاروته لاس واچاوه چې هغه ملت ته بیخي نا آشنا وو! دا د محافظه کارانو منطق دی.

ځینې هغه روښانفکران چې د اماني دورې څخه پاته وو او په هغو پسې ځینې نور نوی روښانفکران چې د مسایلو سره یې احساساتي برخورد کاوه ویل به یې چې دا د انګریز لاس ؤ که نه امان الله خان خو سم روان ؤ.

هغه کسان چې وایي امان الله خان بې تدبیره او په سرعت روان ؤ او همدغه اصلاحي پروګرام نادرخان هم عملي کړ، ولې دومره هنګامه پرجوړه نشوه. دا کسان د مسألې یو جهت ګوري. دا یې له یاده ایستلې وه چې د امان الله د دولت د سقوط لپاره انګریز خپل ټوله قدرت په کار اچولی ؤ خو نادرخان ته یې نه یوازې مشکلات نه پیدا کول، بلکې مرسته یې هم ورسره کوله. په دې پسې دا

پوښتنه راپورته کيږي چې امان الله به هم دغسې وضع اختيار کړې وای لکه د نادرخان، يعنی انګريز به يې ځانته نه تحريکولای.

دا پوښتنې ته بايد ځواب وويل شي چې آيا امان الله بايد د افغانستان د استقلال پر غوښتنه هم ډېره ټينګه وای؟ انګريز له همدغه ځايه عقده واخيستله او هغه مکاتبه پر دې کاملاً شاهد ده چې انګريز نه يوازې د افغانستان د استقلال داعيه رد وي، بلکې د دغه آواز د جګولو له خاطره پر اماني دولت جريمې هم اېږدي.

د شوروی روسيې د نوی انقلابی دولت سره د امان الله د روابطو په باب چې انګريز يې عصبی کړی و، بايد ووېل شي چې د امان الله په ډيپلوماسی کې د روسيې سره د روابطو قايمول او ډېر نږدې والی په دې خاطر ؤ چې له دغې لارې پر انګريز فشار واچوي چې د خپلواکی غوښتنه ومنی، خو دا هم بايد له نظره ونه لويږی چې د شوروی سره د روابطو په برخه کې د بې ضرورته افراط څخه کار اخيستل کيدی او په دې لار کې ځينو تاکلو کړيو دلچسپی درلوده. شک نشته چې انګريز د دغو نويو روابطو څخه په سخت تشويش کې ؤ او په عين زمان کې د شوروی نوی انقلابی دولت ناځوانی داوه چې بيا يې هم د افغانستان څخه د انګريز د بيرولو لپاره يو ببو جوړاوه لکه چې په همدغه تهديد يې په ۱۹۲۱ کې د شوروی روسيې او بريتانيا ترمنځ تجارتی قرارداد لاسليک کړ.

په دې محاکمه کې چې يوې خوا ته امان الله او بلې خوا ته انګريز دې د انګريز موقف له سره معلوم ؤ چې هغه د خپلې هندی مستعمرې په اړخ کې په افغانستان کې هيڅ ډول تغيير نه غوښت، افغانستان بايد هم هغسې د عبدالرحمن خان او حبيب الله د وخت افغانستان وای او که فرض محال انګريز هم د تغيير لپاره رضايت درلودای نو په افغانستان کې به يو کمزوره او د انګريز تر هدايت لاندې يو دولت حاکم وای، په داسې حال کې چې اوس خپلواک او د قانون دولت پراختيا کوله او په سياسی ډګر کې يې د پنځو قاروو د هيوادونو سره سياسی روابط هم قايمول.

اوس به د امان الله خان پر کرکتر يوه رڼا واچوو:

امان الله خان يو افراطی وطندوست او په يوه تاکلی حد کې سخت نشنلست ؤ، خو شهزاده ؤ، د عبدالرحمن خان او حبيب الله خان وينه يې په رګو کې وه او له دغه درکه سخت خودخواه، مستبدالرايه او په عين زمان کې په يوه خاصه روانی کمزورۍ هم اخته ؤ. دی که د يوې خوا قانون ګزار ؤ نو د بلې خوا څخه پخپله غټ قانون شکن ؤ. ده په قانون کې باچا بې مسؤليته کړی ؤ، خو صدراعظم چې د کارونو مسؤل ؤ، هغه يې نه مقرراوه او پخپله يې ټوله چارې اجرا کولې. وزيران چې ده ته مسؤل وه دی هيچا ته مسؤل نه ؤ، په دې توګه يوه انارشی په اداره کې روانه وه. په يوه لويه جرګه کې ده د تقنينی مشاور مولوی عبدالواسع د داخله او معارف له وزيرانو څخه د خلکو د

شکایت پرغ وکړ، په دغه وخت کې باچا په عصبیت ځواب ورکړ چې دا زما وزیران دي، ما ته مسؤل دي په بل چا اړه نه لري.

یا هغه وخت چې د یاغی ګوډ ملا سره یې یو لوی شمیر خلک ووژل داوی ورته وویل شوه به دا وای چې د محکمې امر دې پراخیستی وای، امان الله په تمسخر ځواب ورکړ: آیا ته خبر نه یې زه د امیرعبدالرحمن خان لمسی هم یم.

یوازې ښه روزونه یو فرد نه تولنه نیکمرغه کوی، بلکې عمل په کار دی. امان الله خان ښه آرزو درلوده ،خو دستګاه یې دومره فاسده شوه چې بدنام ترین خلک مصدر د کار وو او باچا هم فارغ الباله ګرځیدی.

ده رفورمونه په قوت پیل کړل، خو کله چې د هغو په عکس العمل کې د منګلو ملا عبدالله او ملا عبدالرشید راپورته شول او یو کال یې بغاوت جاری وساتې چې د دولت د یوه کال مکمل عواید یې وخوړل، بالاخره بیا هم امان الله په خپل سر د یو ډیر بد او خطرناک پرشانګ عمل سرته ورساوه، په ۱۹۲٤ یې په پغمان کې یوه لویه جرګه جوړه کړه چې د پکتیا د باغیانو پر ضد د اولس ملاتړ حاصل کړی خو په جرګه کې وروسته پاته کلیوالو خانانو په ده ټول رفورمونه باطل کړل او ۱۹ فقرې یې په دې توګه په ومنلې:

۱- د مجازاتو قانونی تعیین مخ کې تر جرم منع دی، یعنی د جزا قانون یې له منځه یوست او قاضی ته بیرته هغه صلاحیت وربه برخه شو چې دی د جرم په مقابل کې د پیشانی ترشی ځخه تر اعدام پورې صلاحیت لری.

۲- د صغیری نجلی نکاح روا ده.

۳- نجونې باید په کور کې سبق ووایی نه په مکتب کې.

٤- د مامورینو په محاکمو کې به ملا او قاضی شامل وی.

۵- په ښوونځیو کې د خارجی ژبو تر زدکړی پخوا باید د نیات ولولی.

٦- محتسب باید د احتساب کار وکړی.

۷- په شرعی دعوو کې د تذکرې وجود شرط نه دی.

ددې قبیله نورې فقرې.

په دې پسې چې امان الله خارج ته سفر وکړ، چې راوګرځیدی یو ځل بیا په شدت رفورمونه اعلان کړل او بیا بیرته یې توبه پروکښله.

په دې توګه دا دمدمې او نوسانی حرکات ددې باعث شوه چې باچا د ملت په وړاندې خپل موقف ډیر راټیټ کړی. د روانې کمزورۍ اړخ یې دا ؤ چې هر څه یې مور ورته ویل، ده په پټو سترګو

اجرا کول او مور یې هم د دومره پوهې او فراست خاونده نه وه ،بلکې پر خپلو خپلوانو او قومي مینه وه چې مغوی یې په امان الله مقررول او امان الله هم د افغانستان د کلي برخې اداره د خپلو دغو ماماخیلو بارکزو ته وسپارله چې یو مخیزه رشوت خواره او په هیڅ بند و واز نه وه.

دلته یو خبره هم د امان الله خان هغو ملګرو ته متوجه ده چې دده سره د ځوان افغان په ډله کې ملګري وو. په دې کې محمود طرزی، عبدالهادی داوی، عبدالرحمن خان لودی، میر قاسم خان لغماني او داسې نور چې وطن پر سبطر د زوال پر یوت او امان الله خان هم د نااهلو ماماخیلو په غیږ کې ګروګان شو، دوی ولي میدان ایله کړ چې ځوک سفارتو ته ولاړل او ځوک په کورکې کښېنستل، دوی باید په هره وسیله او حتی شدید عمل امان الله یوازې نه وای پرې ایښی.

انګریز په قاطع تصمیم د اماني دولت سقوط ته ملا تړلی وه، خو تر ډیره ځایه امان الله په خپل عمل هم دغه د انګریز له پروګرامو سره مرسته کوله.

امان الله د تاریخ په محاکمه کې د ملامتی ځخه بری کیدای نشي، خو دا دلیل هم بیخي عامیانه دی چې که دده سازش کړی وای نو انګریز به دا بد دورځ پر وطن نه راوستلی.

ددې بحث په نتیجه کې باید وویل شي چې امان الله د خپلو اولو کارو په خاطر د احترام وړ دی، خود باچهی په دوهمه مرحله کې د تاریخ په وړاندې محکوم دی.

د اماني دورې د پیښو ځینې علاقمندان هم زیاتره دا پوښتنه کوی چې امان الله یو راسخ العقیده مسلمان ؤ او که یو کافر یا ملحد ؟

که څه هم دا پوښتنه د ډیرو ساده ګانو له خوا راپورته شوی ده او په ځواب هم نه ارزی، خو بیا هم په دغه رابطه ځینې خبرې باید روښانه شي.

تر کله چې په یوه مسأله کې د انګریز پښه داخله وی هلته باید هر هغه څه چې د انګریز له وضع ځخه تبلیغ کیږی سړی یې باید عکس فکر وکړی.

آیا پر امان الله داسې یوه قرینه او شاهد موجود دی چې هغه دې کوم وخت د دین او مذهب پر ضد کوم اظهار کړی وي ؟ هیڅوک داسې سند نشي وړاندې کولای.

پر انګریز داسې په لس ګونو نمونې وړاندې کیدای شي چې د پلار او نیکه سور کافر به یې په مذهبی کالیو کې زمور تولنې ته رالیږی. ددې ځخه ځوک انکار کولای شي چې کرنیل لارنس یې د پیر کرمشا په نامه قبایلو ته راولیږی او یا یې خپل ایجنټ ملا منهاج الدین ته وظیفه ورکړه چې په امان الله پسې د کفر اتهام وتړي.

دا د کفر او اسلام خبره تر اوسه لا پای ته نه ده رسیدلې او همدا نن د اسلام مختلفې ډلې چې هره یوه یې د جهاد دعوه هم لري یو د بله سره تکفیروی او یو پر بل جهاد اعلانوی. دا د کفر ټاپه د

انګریز له خوا په خاصه توګه د افغانانو د وروستهپاته قبیلوي ټولنې د غافل ساتلو او د خپلو هدفونو په رسیدلو کې یوه ډېره اغېزمنه وسیله وه او ده او تر هغه وخته به وي تر څو ټولنه د فهم او سواد څخه برخورداره کېږي.

انګریز خپل روزل شوي پاخه جاسوسان د سوداګر، ملا، غالي خرڅونکي، سماوارچي، مامور، ترجمان او په لباس کې پر کابل راروان کړل او دا ټولو به ناري وهلې چې اسلام په خطر کې دی او امان الله کافر شوی دی.

امان الله چې د هرې عقیدې سړی ؤ، خو دومره پوهیـ ... شو چې د دې ځمکې سړی ؤ او دا ضرورت یې هم نه درلود چې کفر ته دې معتقد شي، ولې انګریز او د هغه ایجنټانو په څلور مذهبه هغه کافر کړ.

انګریز خپل پلان په لس کاله کې د تطبیق وروستۍ مرحلې ته ورساوه، امان الله یې په خپلو خلکو وټکاوه او د سقاو په پوست کې یې په یوه جاهلانه حمله ټول فرهنګ د خاورو سره برابر کړ او هغه تاریخي دښمنۍ یې د افغانانو سره وکړه چې دا دې زخمونه یې لا تر نن پورې هم التیام شوي نه دي.

# شپاړسم فصل

## دوهم حبيب الله خان

### ۱ - کابل د بدوي کلتور تر چپاو لاندې:

د امان الله خان تر سقوط وروسته يې ورور سردار عنايت الله خان چې په پاچهۍ تاکل شوی ؤ، درې ورځې مقاومت ونکړای شو او د حبيب الله کلکاني مشهور په بچه، سقاو لښکرې له شمالي څخه پر ښار راخپرې شوې.

دا د بدوي کلتور نمايندگانو په ډېر هول او سخته بې رحمۍ د کابل ښاريان وټکول او په چور او چپاو يې لاس پورې کړ.

درې کسانو د حبيب الله بچه، سقاو ورور حميدالله، د کابل والي ملک محسن او پردل چې وروسته سپه سالار شو په کابل کې دولتي دايرې او د خلکو کورونه چور او تالان کړل او خال خال بې عفتيو ته يې هم لاس وروااچاوه، خو په کلي صورت يې دا کار نه کاوه ځکه په بدوي کلتور کې د غسې کار هم ښه نه گڼل کيږي.

حبيب الله بچه، سقاو هم دا د چور او چپاو کار چندان بد نه باله، بلکې ويل به يې دا د ښار شتمنۍ زمور د اورې محصول دی.

حبيب الله د خپلو ملگرو او لښکرو سره کابل ته داخل شو او د جنوري په ۱٦ پخپله د

مهمانخانې قصر ته (چې اوس آرشیف ملی دی) ولاړ او هلته یې خپله تاریخی وینا د افغانستان و خلکو په نامه ایراد کړه.

دده مبارک وویل: «ما د پخوانی حکومت لاتې گری، کفر او بې دینې اوضاع ولیدله او د رسول الله(ص) د دین د خدمت لپاره مې د جهاد ملا وتړله، ترڅو تاسې وروڼه له کفر او لاتی گرۍ څخه وژغورم. وروسته له دې به زه د بیت المال پیسې په تعمیراتو او مدرسو (مکتبونو) ونه لگوم او دا پیسې به خپلو عسکرو ته ورکړم چې چای قند او پلو ووهی او ملایانو ته به ... ورکړم چې عبادت وکړی.»

دده دولت مالیات او محصولات او ټول عواید وبخښل او په اخیر کې یې دا هم ورعلاوه کړل چې ولاړ شئ وروسته له دې همیشه خپل ساعت تیر کړئ، چرگان وجنگوئ، مړزان وجنگوئ او ساعت تیری وکړئ.»[۱]

دا د سواد او فهم څخه عاري انسان د دولتمدارۍ بوی هم نه ؤ وړی او په دې نه پوهیدی چې که مالیات او محصولات نه وي، نو مملکت به څرنگه وچلیږي چې دده رعیت په اطمینان خاطر چرگان او مړزان پکښې وجنگوی، په دې یې هم سر نه خلاصیدی چې آیا د بیت المال اختیار داسې دربسته دده په لاس کې دی چې دی یې هر چاته بخښلی شي؟

پخپله حبیب الله طبیعتاً تهذیب پذیره سړی ؤ ، په لږ وخت کې یې د بدویت ډیر اخلاق بدل شول، خو پر دده راټول متنفذین مخصوصاً سید حسین وزیر جنگ، ملک محسن د کابل والي او سپه سالار پردل ډیر وحشي او د تمدن سخت دښمنان وو. دوی نه یوازې چور او چپاو کاوه، بلکه په لوی لاس یې تخریبونه هم کول، مثلاً په یو کور کې چې به یې ښه خونه ولیدله هغه به یې نړوله او که به نور داسې څه چې دوی به نشوای وړای هغه یې تخریبول.

خلکو ته یې سختې شکنجې ورکولی او حتی ډیر یې وژل او معیوبول یې. حبیب الله چې په دې وخت کې د غازی امیر حبیب الله خادم دین رسول الله په نامه او القابو نومول شوی ؤ په مارچ کې یو فرمان صادر کړ چې: هغه مذهبی مدرسې چې د امان الله خان په وخت کې تعطیل شوې وې بیا دې جاری شی، خو دولتی مکاتبو ته اجازه نه ورکول کیږی، ځکه هلته د کفارو او بیگانه ژبې تدریس کیږی او شاگردان جغرافیه او ریاضي لولی.[۲]

سقاویانو د کابل خلکو ته په داسې سترگه کتل لکه د دین څخه اوښتي خلک او حتی خلکو ته به یې مخامخ ویل چې امان الله کافر ؤ او تاسو هم کافران واست چې د هغه سره ناست واست.

---

(۱) ډاکتر بورگی: د افغانستان دوهم اساسی قانون ته یوه کتنه د پیښور چاپ، ص ۷٤ د بحران ا نجات د ۹۷ مخ په حواله.

(۲) ډکتر خلیل وداد بارش، امیر حبیب الله کلکانی مردی در حریق تاریخ. چاپ پیښور، ص ۱۲۸.

په دې خوا کې ګډوډي دې ځای ته ورسیده چې کوم سقاوي عسکر به پرد کان سودا وکړه ، نو پیسې به یې نه ورکولې او که به دکاندار خپل حق غیښتې وغوښت نو ناري به یې وهلې چې دا د کافر امان الله ملګری او پخپله هم کافر دی، که یې دغه دکاندار وژلی وای بیا یې بازخواست هم نه کیدی.

په اول کې دا سختی زښته زیاته وه خو وروسته یو څه سهولت راغی، ولی رشوت هم د چور حد ته ورسیدی.

دفتر او دیوان نه ؤ، په دفترو کې به دغو بې سواده خلکو پښې غزولې وې. ماته (ددې کرښو لیکوال ته) مرحوم میرقاسم خان وویل چې ده د اعتباری خلکو څخه اوریدلی دی چې د جمعې په ورځ به د ستوری د قصر په سالون کې چرګان جنګول کیدل، وروسته به غرمه هم دلته ډوډی خوړل کیدله او بیا به ملایانو وعظونه کول او بیا به د جمعې لمونځ کیدی، سقاویانو په کابل کې د کابلیو نجونو غوښتنې پیل کړې او دا یوه سیالی وه چې هر یوه به په کور کې یوه کابلۍ نجلۍ درلوده، په دې لړ کې د حبیب الله ورور حمیدالله څلور نجونې وغوښتې او سیدحسین څلویښت نجونې په کور کې کښینولې وې.

د کابل د ښار پاکۍ او صفایی ته هیڅ پاملرنه نه کوله او په یوه کمه موده کې ښار چټلیو پر سر واخیستی. نوی راغلی کلیوال چې په صحرا کې آزاد هر ځای د رفع حاجت لپاره کښیناستل، نو دلته هم په کوڅو کې یې دغه کار کاوه او د ښار کوڅې دومره چټلې شوې چې سړی پکښې تیریدای نشوای.

په وروسته کې یې آوارګی دې ځای ته ورسیده چې یو ساده سپاهی به هم ویل: «ما و حبیب الله در یک سنګر بودیم او کیست که سر ما حکم می کند»

په دې توګه ۹ میاشتې کابل تر دغه بدوي کلتور لاندې کوټل کیدی.

## ۲- کلکانی حبیب الله (بچه سقاو) څوک ؤ؟

هغه خوار او بې سواده سړی چې د یو خارجی قدرت په پلان د کابل پر تخت را پورته شو او د امیر حبیب الله خان غازی خادم دین رسول الله په پرطنطنه القابو یې وغتیاوه، اصلاً په ټولنه کې د یوې ښکته پایې څخه را پورته شوې ؤ، دلته نه یوازې ده د زیږیدو نیټه لیک معلوم نه دی، بلکې حتی د پلار نوم یې لا داسې ورک دی چې په مختلفو آثارو کې په مختلفو نومونو یاد شوی دی.

دا خو معلومه ده چې نوم یې حبیب الله ؤ او د کابل ولایت د کلکان ؤ او د پلار نوم یې زه ځکه امین الله یادوم چې یو معروف او محترم لیکوال عبدالحق واله چې سقاویې سره پیژندی، «مردی در

حریق تاریخ » د کتاب لیکوال دکتور خلیل وداد بارش ته یې ویلي ؤ.

د پورتنی کتاب لیکوال چې د لومړی لاس معلومات وړاندې کوی وایی چې د حبیب الله پلار امین الله د زابل ولایت د مرکز قلات په عسکری غنډ کې عسکر ؤ، څرنګه چې په غنډ کې یې وظیفه په اصطلاح آبرسانی وه، نو اوبه به یې راوړلې او په غنډ کې بابا سقاو ورته ویل کیدئ.

حبیب الله لکه نور کلیوال هلکان همداسې رالوی شو، په کلکان کې محمد حسین خان مستوفی الممالک (چې امان الله خان اعدام کړ) یو لوی باغ درلود او د حبیب الله پلار لا هلته باغبان ؤ، بیا حبیب الله چې رالوی شو هغه هم په دغه باغ کې خدمت کاوه.

دغه باغ هغه مهال چې مستوفی الممالک اعدام شو د بخارا باچا ته چې تازه مهاجر شوی ؤ، وبخښل شو، په همدغه باغ کې څو واره حبیب الله د بخارا باچا ولید او هغه ته به یې ویل چې دی غواړی په هغو قواو کې وجنګیږی چې بخارا د روسانو څخه آزادوی.

حبیب الله ډیر ژر په غلاؤ روږد شو او کورونه به یې وهل، خو د هغه ځای یو ملک، محسن کلکانی یې په پله ولاړ ؤ. بیا ددې لپاره چې د ورځې چلاؤ وکړی کابل ته راغی او په قطعه ء نمونه کې عسکر شو، توپک یې هم واخیست، خو د امانی دورې په اداري بې لګامی کې حبیب الله هم د توپک څخه استفاده وکړه، لار یې ووهله بیا وتښتیدی او تر سرحد واوښتی.

ده په یوه داړه کې چې د مزار څخه خزانه راتله هغه یې ووهله او څه پیسې چې په لاس ورغلی په پاړه چنار او بیا پیښور کې سماوار راویوست، خو کله چې د شینوارو بغاوت پیل شو نو دغه سړی هم خپل کارو بار پرینبود او خوست ته راغی.

ده په جماتونو کې د باچا پر ضد د جهاد بیاونه له ملایانو څخه واوریدل او په یوه فرصت کې یې د یوه ملا دعا اخیستله چې هغه ورته وویل له دې ځایه پرمخ ولاړ شه، یو ځای به یوه ونه په مخه درشی د هغې بیخ غار کړه هر څه دې وموندل هغه واخله، ده هم دا کار وکړ او دغه غاره پیسې او توپک په لاس ورغلل او بیا یې ځان شمالی ته ورساوه.

د ۱۹۲۸ م په نوامبر کې د حبیب الله بچه ء سقاو په رهبری د غلو ډلې د شمالی لار قطع کړه، دولت د کابل ښاروال احمد علی خان ورواستاوه هغه چې رئیس تنظیمیه هم مقرر شوی ؤ د غلو له دغې ډلې سره پر یو سند لاسلیک وکړ چې دولت به هر غله ته درې زره افغانی معاش او ټولو ته ۸۲ جاغوری توپک او د هر توپک سره ـ ۱٦٤ کډی کارتوس ورکوی. په همدغه وخت کې د تګاو آخندزاده صاحب د یوې ډلې غلو سره د کلکان د ملاویس الدین په کلا کې حبیب الله د امیر په توګه وټاکل.

د دسمبر په دوهمه هفته کې سقاو پر شهر آرا حمله وکړه او ددغه ځای درې طبقه یی برج ته

سقاو ځان ورساوه. په همدغه ګیر و دار کې حبیب الله د شرنپل په یوه چره سخت زخمي شو، خو سمدستي له دغه ځایه یو نامعلوم ځای ته یوووړل شو، خو بې له تردیده دا خبره یقیني ده چې دلته تژدي د انګریز سفارت ته یوووړل شو او هلته یې علاج وشو.

د دسمبر تر آخره خارجیان له کابله ووتل او د ۱۹۲۹ د جنوري په ۱٤ امان الله مستعفي او کندهار ته ولاړ او پرځای یې ورور عنایت الله باچا شو، خو هغه درې ورځې وروسته کابل خوشې او حبیب الله بچه ءسقاو په کابل کې پر تخت کښېنوست.

حبیب الله ګردی، سخوټ، توربخن سری ؤ او ډېر لنډې ږیره یې درلوده، کلیوالی کالی یې اغوستې وه، خو واسکټ یې د مرمیو لوی کتارونه را پیچلي وه.

په خبرو کې آزاد ؤ، د کلام نزاکت یې نه درلود، خو مقابل طرف ته به یې کتل. په خبرو کې یې مبالغه نه کوله او درواغ یې هم نه ویل، رد سری ؤ.

مثلاً قاري دوست محمد چې د خپلو ملګرو ښوونکو رپوټ ورکړی ؤ چې د جمعې په ورځ دې تروروی، ده هغوی ونیول او د اعدام امر یې پر ورکړ، خو قاري دوست محمد یې هم پورې واهه او وې ویل: «ای دوس با رفقای خود خیانت کرده اعدامش کنید».

حبیب الله په لږ وخت کې د ښاري اخلاقو سره روږد شوه، ده د محمد زو د کورنی څخه یې ښځه وغوښته، توره دریشي یې وکړه او د هغو خلکو سره به یې کتل چې قبلاً به یې د ملاقات وخت اخیستی ؤ.

حبیب الله په عین زمان کې کافي خودخواهي هم درلوده، پخوانی لمریز تقویم یې په سپوږمیز (قمري) تقویم بدل کړ او پر هغه یې د حبیبي تقویم نوم کېښود.

همدارنګه غوښتل یې د افغاني (سکه) کلمه هم حبیبي واړوي. دی تر هر چا د حضرت نورالمشایخ د خبرې تابع ؤ او هغه ودې ته لمساوه چې د امان الله د وخت خلک ټول له قدرته وغورځوي، خو سقاو لکه یو سیل وچ او لانده ټول په ځان کې رانغاړل.

## ۳- د حبیب الله (بچه ءسقاو) دربار او کابینه:

حبیب الله هم په ارګ کې کښېنستی، خو ناستون یې د دربار شکل نه درلود او زیاتره به چې سړی دد غه کاریکاتوري دربار صحنې لیدلې، نو داسې فکر به یې کاوه چې یوه تمثیلي کمیډي ننداره کوي.

د غټ افسر او عادي افرادو ترمنځ په دې توپیر کیدای شوای چې غټ صاحب منصب به ډېرې کتاروزنې پر اوږو ملا او متیانو راتاو کړې وې او حاضر باشان به پسې روان وو، خو ساده افرادو به هم

د افسرانو په شان کالي اغوستي وه ،خو کتار وزنی به یې لږ وې. دلته د حاضر باش کلمه یاده شوه په هغو ورځو کې حاضر باش یوه د هول او حراس څخه ډکه کلمه وه حاضر باش به هېڅو ماتونکی فرد له ځان سره گرځول او هر چاته چې به یې طبیعت واوښت، نو هغه به یې ډباوه. خلکو چې به حاضر باش ولید ،نو پر هره خوا به تبنتیدل. په ارگ کې مطلقه بې قیدي وه هرچا کولای شوای چې د نوی امیر حضور ته ورشي خو د حاضر باشانو له بیرې هیچا جرئت نه کاوه چې حتی د ارگ د یوال ته وگوري.

د امیر حضور ته د ورانډې کیدو پر وخت د سلام پر ځای صرف د «چشمت صدقه» کلمه ویل کیده او امیر به هم د خلکو عرض شفاهي اوریدی، ځکه لیکلی عریضه ده نشوای لوستلای. دا چې ده به بیا شفاهي حکم وکړ او دا حکم به هم په شفاهي طریقه تر مرجع پورې څرنگه رسیدی دا نو یوه بله ماجرا وه.

خو څو وخته وروسته چې دا بدوی مخلوق یو څه ښاري شو، نو دربار هم یو څه رونق پیدا کړ، بیا نو امیر په دربار کې پر چوکی او کله پر میز کینینستی او د خلکو پر عریضه چې به امیر حکم صادر کړ هغه به منشي لیکئ او بیا به مرجع ته لیږل کیدئ.

کله چې به دغه کلیوال او بدوی بهیر کې د ښاریت عنصر ځای ونیوئ دربار دو جبهو ته وویشل شو، یوې خوا ته نسبتاً معتدل او یو څه باسواده خلک وو، لکه عطاء الحق وزیر خارجه، شیرجان وزیر دربار، کریم خسرو رئیس ضبط احوالات او ځینی نور، دوی حبیب الله تشویقاوه چې د ښاري مناسباتو سره ځان عیار کړي، ځکه دوی لیدل چې په بدویت کې د دوی بقا نشته او ښایي په ډیرو بدو عواقبو اخته او له منځه ولاړ شي، خو په مقابل کې یې بله جبهه د مطلق جاهلو، وحشي، غلو او داړه مارانو ډله وه چې مشري یې د کابل والي ملک محسن، سید حسین وزیر جنگ او داسې نورو کسانو کوله، دوی د یو مجهول هندوستاني محمد محفوظ خان له خوا چې د حربیه وزارت مرستیال ؤ حمایت کیدل(د محمد محفوظ په باب داسې یقین ته نژدې شک دی چې هغه د انگریز جاسوس ؤ او دربار هم ده پر له څرخاوه دا د حکیم محمد جان خان هندی زوی ؤ چې پلار یې هم مرموز سړی ؤ). که څه هم تهذیب پذیره جبهه کامیابه شوه او حبیب الله هم ږیره لنده کړه، هم یې توره دریشي وکړه ،هم یې محمد زی ښځه په نکاح کړه، خو مخالفې جبهې یې وهلو، وژلو، لوټ او تالان ته دوام ورکړ او حبیب الله هم د هغو په ورانډې د «بنده بې دخل است» موقف ونیوئ.

د امیر حبیب الله خادم دین رسول الله(بچه سقاو) کابینه هم یوه کوچنی او محدوده کابینه وه او د معارف او عدلیې وزارتونه پکښې حذف شوي وو، نو دا کسان پر عهدو مقرر وه:

سیدحسین نایب السلطنه او وزیر جنگ(محفوظ خان د وزارت معین).

حمیدالله (د حبیب الله ورور) معین السلطنه.

عبدالغفور خان تګابی داخله وزیر (چې وروسته حبیب الله پر بدګمانه شو او مړ یې کړ)

صاحبزاده عطاء الحق (خارجه وزیر)

صاحبزاده شیرجان (د دربار وزیر)

غلام مجتبی خان (د مالیې وزارت وکیل)

نور غټ مامورین دا کسان وه: ملک محسن د کابل والی، عبدالغنی کلابیګی، میرزا محمد یوسف خان (د محمد حسین مستوفی الممالک ورور) سرمنشی صاحبزاده عبدالغفور خان د کابل د ګمرک رئیس، ملا برهان الدین کشککی د حبیب الاسلام د جریدې مدیر او داسې نور وو.

یو شمیر سرداران او د کابل د اشرافي کورنیو غړي هم ورسره وو، لکه محمد کبیر سراج، حیدر اعتمادی (د عبدالقدوس خان اعتمادی زوی)، سردار محمد عثمان خان، محمود سامی د امانی دورې نایب سالار او داسې نور.

په ولایاتو کې یې هم والیان همداسې کسان وو او د هر یوه سره دا سودا وه چې حبیب الله د دوی سره همسنګره وه، نو نن د حکم حق نه لري، بلکه هر یوه به په خپل اختیار کارکاوه.

حکومت هم د جرنیل او کرنیل خودمختار لقبونه یو شمیر کسانو ته ورکړي وو چې معنا یې دا وه چې دوی هرڅه یې زړه وغواړي هغه کولای شي. حبیب الله یو بیچاره او د سیاست څخه بې خبره سړی ؤ صرف دا یې اوریدلی وو چې انګریز او روس د اسلام دښمنان دي نو یوه ورځ یې په عام دربار کې وویل چې یو ځل زه د افغانستان له جنګه فارغ شم بیا به په مسکو او لندن کې دا د اسلام دښمنانو ته سبق ورکړم.

حبیب الله په نامه حکومت درلود خو عملاً یې ورځ تر بلې مشکلات ځانته ایجادول. د دولت د مالیاتو او محصولاتو حساب مخ له منځه تللی و او هر سقاوی افسر چې به پر ځمکه، باغ، دکان او سرای ور برابر شو، نو د مالیې په نامه به یې هغه لوټ او تالان کړ. دغو بدوی صحرایانو هر یوه د کابل په ښار رکې د خلکو کورونه په زور ونیول او افسرانو یې د سردارانو په کورو کې واړول او کابلي نجونې یې ځانته په نکاح کړې.

دا بې بند و باری او فشار وروسته تر تحمل ووت خلکو د هیواد جنوب ته سترګې نیولې وې چې له هغه ځای د سپه سالار محمد نادرخان قوتونه پر کابل راروان وو.

دا قبیلوی قوتونه چې کابل ته راورسیدل او سقاویان یې ونیول یا وتښتیدل او مشران یې په دارو ځړیدل.

## ٤ - د امان الله خان تکفیرول:

په کندهار کې د امان الله خان وجود ټول سقاویان په تشویش کې اچولي وو، مخصوصاً چې کله کندهاریانو د حبیب الله بچه ء سقـاو امارت رد او دده سره یې د یو باغي په شا جنګ د هر مسلمان فریضه وبلله، دغو فتوا مذهبي علماؤ د ۱۹۲۸ په اخره کې صادره کړه او بیا خلک پر امان الله خان راټول شول چې کابل ته ولاړ شي او له هغه ځایه بچه ء سقاو وشړي او بیرته امان الله شاه باچا کړي. سقاو هم په همدغه وخت کې په ۱۹ فقرو کې یوه چاپ شوې شرعي فتوا د امان الله خان پر ضد خپره کړه او هغه یې تکفیر کړ.

ددغې ۱۹ فقریزې فتوا غټ ټکي دا وو:

شفاهي سلام یې منع کړی او سلام یې د سر په اشاره تبدیل کړی ؤ. د لنګوټې پر ځای یې خولی مقرر کړې وه. د پخوانیو کالیو پرځای یې نړۍ کالي (دریشي) ټاکلي وه. د ږیری خریل یې رواج کړی وه، د ښځو ښوونځي یې تاسیس کړي وو. برقع (چین داره چادري) یې له منځه وړې وه. خارج ته یې (د تعلیم لپاره) نجونې لیږلې وې. ددیني علماؤ سره یې مخالفت کاوه، محصلینو ته یې په انګریزي ښوونځیو کې د تعلیم اجازه ورکړې وه، په شرع کې یې فساد اچولی ؤ، قمري سنه یې په شمسي تبدیل کړې وه، انګریزي تاریخ او سنه یې هم اعلان کړې وه، د جمعې رخصتي یې پنجشنبې ته اړولې وه. د ملا امامانو او موذنانو معاش یې موقوف کړی ؤ، حضرات مجددیان (محمد صادق خان او محمد معصوم خان) یې بندیان کړي او د حضرت صاحب ملا امام قاضي عبدالرحمن یې اعدام کړی ؤ. د ملایانو امر معروف یې بند کړی، بت پرستي او شراب خوري یې ترویج کړې وه. ملا عبدالله خان او د جنوبي ملایان او مشران یې اعدام کړي وو.

د امان الله دا اعمال ټول د شریعت مخالف وو، نو ځکه مونږ خپل بیعت د هغه سره ساقط کړی او حبیب الله خان ته بیعت ورکوو.

ددغې اعلامیې په پای کې حبیب الله بچه ء سقاو د امان الله خان خلع او خپله باچهي اعلان کړې ده او وعده یې ورکړې ده چې د حنفي مذهب په خلاف بدعتونه به منسوخ او جبري عسکري خدمت به موقوف او خوش به رضا کړي، همدارنګه ښوونځي او مالیات به لغو کړي.(۱)

پر دغو فتوا ځو اویا کسو ملایانو، ملکانو او پیژندلو کسانو لاسلیک کړی او امان الله یې تکفیر کړی ؤ. ددغه امضاء کوونکو مشهور کسان دا وو:

(۱) میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، ص ۸۲۷ - ۸۲۸.

د اماني حکومت غټ مامورین: سردار فیض محمد خان ذکریاد معارف وزیر چې په اماني دوره کې هم لوی مامور ؤ او په نادرخاني او ظاهرخاني کې هم وزیر ؤ. سردار شیراحمد خا د دولت د شورا رئیس، سردار حیات الله خان د امیر حبیب‌الله خان زوی، سردار محمد عمر خان د امان الله خان اکا، سردار عزیز الله د نایب السلطنه نصرالله خان زوی، میرزا میرهاشم خان وزیر مالیه، میرزا احمد حسین خان معین وزارت مالیه، د داخله وزارت رئیس تفتیش، مجتبی خان، میرزا سید حبیب خان مستوفی (د ربنتیا او فرهنگ پلار)، رئیس تمیز قاضي محمد اکبرخان، حبیب الله خان د حربیه وزارت معین، محمود خان د امان الله خان یاور، دد غو څو اویاؤ کسو په جمله کې صرف عبدالهادی داوی تر خپلې تائیدی امضاء لاندې دا کلمات لیکلي وو: «د مسایلو جزئیات علماؤ ته معلوم دی.»

د دیني علومو پوهان څومره دا تائیدولای شي چې یو باچا په همدغو موادو چې په دې اعلامیه کې راغلي دي تکفیر کیدلای شي؟ دغو جاهلو بدویانو داسې فکر کاوه چې د کابل ناراضه ټولنه چې واقعاً د امان الله د باچهي په اخیر کې د خاینو مامورینو د جبر او رشوت خورۍ څخه تر پزې رسیدلي وه د امان الله د دولت په باب عقده درلوده، خو دومره یې عقل کار کاوه چې د غه مواد د دوی د دردونو بیان نه کاوه بلکې دا د وحشي تالانګرو یو چل ؤ چې غوښتل یې ځانونه د خدای پر لار برابر وبولي او امان الله په کفر ونیسي، خو د کابل خلکو لیدل چې د سقاو ټول دستګاه د وحشت او بربریت نمایندګي کوي.

دا اعلامیه هم په ډیره بې سوادانه طریقه لیکل شوې ده او د سلیقې اختلاف ته هم دیني رنګ ورکول شوی دی. داسې معلومیږي چې هرچا د خپل زړه مطابق څو توري پرزیات کړي دي.

دلته دا به یو ظالمانه حکم وي چې پر هغو خلکو صادر شي چې دغه فتوا یې لاسلیک کړې ده، دا واقعاً د جبر او زور کار ؤ او که چا مخالفت کړی وای سمدستي پر هغه د ملحد او کافر حکم صادریدی. خو ځینو سردارانو په دې کار کې ډیر شرمونکی موقف ونیوی. دا هغه کسان وو چې د امان الله څخه یې مقامونه غوښتل، خو ځرنګه چې نه وه ورته رسیدلي نو په انتقام جوبي یې دا کار کاوه.

مخصوصاً کبیر سراج به په ډیره بې شرمۍ د حبیب الله تر شا دریدی او بیا به یې پر امان الله څو بدې خبرې وکړې او حتی داسې هم پیښه شوه چې بچه ءسقاو هغه له خپل حضوره وشړی او دده عمل یې په لوی آواز داسې اعلام کړ چې «امان الله از این برادران پست برباد شد».

د سقوي په ۹ میاشتو کې د تکفیر او په الحاد د متهمولو کار دومره ساده ؤ چې یو ساده او بې سواده سړي چې ټوپک به وورسره ؤ پر یو سړي د کفر حکم وکړ او که به دلیل ورڅخه وغوښتل شو، نو ویل به یې «کور هستی در وخت امان الله کافر کار میکرد». د کابل په زندانونو کې خورا ډیر خلک په دغه اتهام اچول شوي وو. بچه ءسقاو نور ښوونځي تړلي وو، صرف د حساب او خط

ښوونځی ته یې اجازه ورکړې وه، یو ځل د هغه ښوونکو معاش نه ؤ اخیستی، هغه وخت داسې عریضه د کابل والي ته کیده، دغو بدبختو ملک محسن ته عریضه وکړه چې معاش یې اجراء شي هغه ورته وویل: «ما مکتب نه می مانیم، شما کافران امانی از کجا آمدین که معاش می خواهید» وروسته یې زندان ته واچول.

## ۵ – د سقوي دولت ماهیت:

آیا پر سقوي جریان د دولت اطلاق کیدای شي؟ ددې پوښتنې ځواب باید منفي وي، ځکه هغه متشکله عناصر چې د یو دولت په ماهیت کې لازمي دي، سقوي دوره یا جریان د هغه ځخه کاملاً محروم ؤ.

دا جریان اصلاً د اماني دورې د بې کفایتو او خاینو مامورینو د عمل عکس العمل ؤ، خو تر دغه داخلي عامل وړاندې خارجي عامل ډیر اغیزمن ؤ چې طرح یې د نړۍ د سیاست په لویه مدرسه لندن کې شوې وه. لکه چې وړاندې هم وویل شوه د انګریز پر ضدْ د امان الله له خوا د خپلواکۍ د جنګ بریالی کیدل د انګریز عقده راپورته کړه او تصمیم یې ونیوْ چې افغانستان یو ځل بیا ډیر پخوانیو عصرونو ته وکوچوي.

حبیب الله بچه ء سقاو هیڅ قشري خصلت نه درلود، بلکې صاف او ساده د ټولنې د جهالت د ډیرو ژورو ځخه راپورته شوی او تاج و تخت ته رسول شوی ؤ. په ده پسې روان تالانګر بهیر داسې فکر کاوه چې دوی د قدرت په حصول کې پخپله اتلان دي، خو د مسایلو پیژندونکي پوهیدل چې تر دغه دیګدان د بل چا اور لاندې دی او دا دیګ د نورو په اور ایشي.

د سقوي جریان حکمروایان د یوې متمرکزې ادارې تابع نه وو، نو ځکه خصلت یې تر استبدادي حالت هم خطرناکه کیږي، ځکه د استبداد چلوونکي یو متمرکزې ادارې ته تابع وي او هر څوک چې د هغه په رأس کې واقع وي د هغه امر او حکم د وحي منزل په شان نافذ وي. خو په سقاوي کې هر افسر او فرد په مستقله توګه د قدرت تمثیل کاوه، هر افسر په زماني لحاظ په یوه لحظه کې هم د مجریه قوې هم د مقننه قوې او هم د قضائیه قوې ځخه په فردي لحاظ برخوردار ؤ، داسې چې سړه یا ناریه وسیله به یې پورته کړه، نو څوک چې به یې وواژه دا دده اجرائي حق ؤ، دا چې دغه مرګ دده د مقتول په حق کې لازم ولید دا یې قانوني حق ؤ او دا چې دغه حق یې ځانته عدالت ګاڼه دا یې قضایي خصلت ؤ.

ددغسې یوې قضیې ډیر ښه ممثل او قاطع فیګر د سقوي دورې د کابل والي ملک محسن ؤ چې په هیڅ بند و واز نه ؤ او حتی حبیب الله هم د هغه ځخه سترګه کوله، خو ددغه وحشي ملک محسن

هم خپل عمل په مذهب توجیه کاوه او دا خبره به یې همیشه په خوله کې وه چې موږ په شریعت کار کوو او د امانی دورې لاتیان او کافران نه پرېږدو.

د سقاویانو له ظلم و زور څخه چې تکلیف او عذاب ټول خلک له دوی څخه متنفر کړل، نو حبیب الله اراده وکړه چې پر خپله داړه مار ډله او ټپله د روحانیونو او قومي متنفذینو یو اتمسفیر راتاو کړي، نو د هغو په نامه یې یو فرمان صادر کړ چې په سر کې یې خپل فعالیتونه او خدمتونه توضیح کړي او په پای کې هغوی ته دعوت ورکړی دی چې ده ته ورشي چې مکافات ورکړل شي.

اولس ۹ میاشتې د وینو په سیند او د اور په لمبو کې لاهو او وریت ؤ او هیڅ د یوې شیبې لپاره هم مصونیت نه درلود. دغه یو عبوري خو ډیر مخرب جریان ؤ چې د قرون وسطی ډیر علایم او شواهد یې په ځان کې درلودل.

څرنګه چې یو بې نظمه او بې لګامه جریان ؤ، نو هیواد د یو مجمع الجزایر شکل پیدا کړ چې هر ولایت و ځانته بیل ؤ او بچه ء سقاو د خپلو حاضر باشانو سره پر مرکز هم پوره مسلط نه ؤ. لارې او تجارت بند شو او یو انقلاسیون خوله ولګوله چې پخپله یې سقاویان هم وارخطا کړل. په پای کې یې فکر وکړ چې دا اور په یوه سړي وژل کیږي چې هغه سپه سالار محمد نادرخان دی نو سردار احمدشاه خان د نادرخان د تره زوی چې ورسره بندي ؤ نادرخان ته یې ولیږی چې ما ته راشه د ټول وطن نظامي چارې به در وسپارم، دی ساده سړی دا سې فکر کاوه چې نادرخان به ده ته راشي، نادرخان ده ته راغی، خو هغه مهال چې ده د سر سودا یې په سر کې وه او په خپل رانګ یې ددې ډلې امیر او نور سرغنه ټول په دار وځړول او دې فاجعې ته یې خاتمه ورکړه.

## ٦- د وخت د مشهورو کسانو وژنه:

داسې خو هر باچا امیر او فرمانروا وژنې کوي، امان الله خان هم وژل کړي، خو خپل عمل ته یې که نور څه نه ؤ یو ظاهري پرده وراچوله، مثلاً محمد نادرخان، محمد ولي خان او محمود سامي د محکومیت لپاره قانوني محکمه تشکیل کړه، خو د حبیب الله هغې بې توجبې قتلونه نه وو.

په دې لیکنه کې زما نه دد غو وژل شوي کسانو سره کومه علاقه ده او نه د حبیب الله د محکومیت لپاره شواهد وړاندې کوم، بلکه دا کسان چې حبیب الله وژلي دي زیاتره یې هغه کسان دي چې دوی د امان الله خان سره شخصي عقدې درلودې او د سقاو په راوستلو کې یې هم هغه ته زمینه سازي کړې وي، خو سقاو لکه تر هودې وتلی مار زیاتره یې همدغه خپل مارګیران وچیچل.

سقاویانو د ۱۹۲۹ په مې کې کندهار ونیوئ، په دغه وخت کې مشهور والي علی احمد خان«بارکزی» هلته حکمراني کوله، خو کله چې سقاویان ښار ته ننوتل دی د یوه هزاره د کور په تاخانې کې پټ شو خو سقاویانو پیدا کړ او کابل ته یې راولیږی. دا هغه سړی دی چې د امان الله

خان سره یې څو واره خیانت وکړ او غوښتل یې د افغانستان امارت ته ځان ورسوي. سقاویانو په دغه وخت کې د امان الله خان تقنیني او شرعي مشاور چې په کندهار کې یې د حبیب الله بچه ء سقاو تکفیرنامه خپره کړې وه هم ونیوی او کابل ته یې راولیږي.

حبیب الله دا دواړه علي احمد او مولوي عبدالواسع په توپ کې والوزول. باید وویل شي چې مولوي یو روښانفکره عالم ؤ او شهید ورته ویلای شو.

دریم مشهور سړی فیض محمد (هزاره) کاتب د سراج التواریخ لیکوال ؤ چې حبیب الله د محمد عظیم کوهستاني، میر آقاخان مجتهد او خلیفه غلام حسن خان سره هزاره جات ته واستول چې هلته د هزاره ؤ بیعت واخلي، خو هیأت ناکامه شو او چې کابل ته راغلل بچه ء سقاو میرزا فیض محمد دومره په لرګو وواهه چې د هغه وهلو څخه ناروغه او مړ شو.

هغه سرداران چې د سردار محمدعثمان خان په مشري یې د بچه ء سقاو د راوستلو لپاره فعالیت کړی ؤ وروسته د بچه ء سقاو له فشارونو او وحشي حرکاتو څخه ودې فیصلې ته رسیدل چې حبیب الله ترور کړي، خو حبیب الله خبر شو او دا سرداران یې ونیول، سردار محمد عثمانخان یې په یوه صندوق کې واچاوه، ژوندی یې ښخ کړ پر سر یې شلغم ور وکرل، نور یې سردار عبدالمجید خان او سردار حیات الله خان د امیرحبیب الله خان زامن، عبدالحمید خان توخي او قاضي محمد اکبرخان یې ووژل او قاضي عبدالرحمن خان خو یې پر پلخشتي کې بند له بنده جلا کړ او سر یې هلته وځړاوه.

ملک محسن خو هره ورځ د کابل پر سرچوک د خلکو لاسونه او پښې او پر دیوالو به د خلکو سرونه ځړیدل، دا یې ټوله داسې اعلانول چې د شریعت حکم یې پر ځای کړی دی.

د ورځې له خوا ټول خلک بیریدل چې کوم حاضرباش لاس وروانه چوي او د شپې له خوا د سید حسین او ملک محسن د لوټمارانو له بیرې خلکو ته خوب نه ورتلئ.

حبیب الله په سر کې پر وژلو ډیره تکیه کوله، خو وروسته یې د مرګ حکم نه کاوه، خو سید حسین او ملک محسن ته یې هم څه نه ویل چې لاس لنډ کړي.

## ۷- آیا انګریز د سقوی دورې په حاکمیت کې لاس درلود ؟

دې پوښتنې ته صریح او مستند ځواب په مشکل پیدا کیدای شي، ځکه انګریز په ماهرانه توګه هم امان الله خان وواهه او هم یې په مهارت سقاو پر کابل مسلط کړ او په داسې مدبرانه طریقه چې په خپله ګټه یې وه هم سقاو د دار پر تخته وخیژاوه او ه یې نادرخان د صحنې هیرو راوبوست.

انګریز خو امان الله او د رفورم د دورې روښانفکرانو ته تر یو منظم پلان لاندې د درنو او ترخو مجازاتو پروګرام عملي کړ او صحنې ته د بچه ء سقاو راوستل هم د دغه پلان جز ؤ.

حبیب الله کلکانی بچه سقاو یو خوار کلیوال سړی ؤ او نور ملګري یې هم بدوي او کلیوال وحشي طبیعته خلک وو، انګریز دوی ته خپله څیره نه ورښووله، بلکې د نورو خاصتاً د خپلو ایجنټانو چې مذهبي ماسک یې پر مخ غوړولی ؤ دوی په حرکت راوستل.

دلته موږ په یو څو منطقي قیاسونو دا خبره ثبوت ته رسوو چې د سقویانو په مسلطولو کې انګریز لاس درلود.

د امان الله په اواخرو کې په کابل کې د ایران سفیر سید مهدي فرخ وایي: «بې له تردیده د ۱۳۰۷ شورش د انګریز پخه نقشه ده، دغه طرح د هند د پټو اطلاعاتو په دفتر کې وشوا او په چټکۍ انګریزانو تر عمل لاندې ونیوله او امان الله خان یې له صحنې ویوست.» مهدي فرخ زیاتوي چې: «انګریز د یو ماهر شطرنج باز په توګه خپل چال وکړ.»[1]

آیا دا چې حبیب الله د شهرآرا په جنګ کې زخمي شو او بیا د انګریز سفارت ته یووړل شو او هلته یې علاج وشو،[2] دا پخپله یوه قرینه نه ده چې انګریز د حبیب الله نصبولو ته کلک نیت کړی ؤ؟

د امان الله خان په طرد او د سقاو په راوستلو کې د حضرت محمد صادق نقش لږ نه ؤ، مخصوصاً دده وړور حضرت فضل عمر نورالمشایخ چې په ډیره غازي خان کې یې ځای نیولی ؤ او کوچیان یې تر تبلیغ لاندې نیول چې د امان الله خان پر ضد قیام وکړي او د بچه سقاو سره خو یې اړیکې دومره نژدې وې چې د هغه په بلنه کتواز ته راغی او هلته یې قرارګاه ونیوله یو ځل یې څلور زره سلیمانخیل د امان الله خان پر ضد ولیږل، بیا یې د سقاو امارت شرعاً تائیداوه. دده د لنګر لپاره د ورځې ۱۵ غوایي او ۳۰ پسونه حلالیدل، نور نو غوړي، وریجې او چای و بوره هم له دغه څخه قیاس کړی دا ټول چا ورکړل؟ د سیمې په خلکو کې دا توان نه ؤ حضرت صاحب خپل څه نه درلودل، نو تاسې قضاوت وکړئ چې دا له کومه ځایه تمویلیدل؟

سقاو ساده سړی ؤ هغه انګریزان کفار بلل او روسان یې د بخارا دښمنان بلل، خو پټو استادانو ورته ویلي وو چې د انګریز د سفیر همفریز عزت کوه، نو هغه مشهوره افواه چې خبره ده او ښایي حقیقت هم و نه لري، خو بې څه هم نه ده چې په یوه مجلس کې یې ویلي وه چې زه د انګریز د سفیر څخه ډیر راضي یم، هم یې معاش ور زیات کړی او هم یې رتبه ورپورته کړی. (دا عاجزه په دې نه پوهیدی چې د سفیر معاش او رتبه په ده اړه نه لري).

انګریز تر هغه وخته استعمالاوه چې ښه یې د اماني دورې بقایا په ټکول، وروسته یې په لغته پورې وهئ، ځکه ضرورت یې له منځه تللی ؤ.

---

(۱) میر محمد صدیق فرهنګ «افغانستان در پنج قرن اخیر»، ص ٤٨٤.

(۲) اتحاد ملي جریده، د ۱۹۷۲ د جولای ګڼه.

## ۸- د سقوی دورې په بحران کې د ایران او شوروی نیتونه:

سقوي طوفان هیواد سخت ټکاني کړ او ځینو فرصت طلبه ګاونډیانو داسې فکر وکړ چې نور افغانستان له منځه ځي، نو دوی باید خپله برخه تر لاسه کړي.

د ایران شهنشاه رضا شاه چې په اماني دوره کې یې د بر تینګه د ورورۍ دعوه کوله، خو کله چې یې ولیدل چې سقاوي بحران د هیواد موجویت لړزوي، نو د تیمورتاش تر ریاست لاندې یې یو هیأت ته وظیفه ورکړه چې د هرات د بیلولو کار سرته ورسوي، دې هیأت په لومړي سر کې مطبوعاتي تبلیغات پیل کړل او د ایران مطبوعاتو ولیکل چې: «هرات د ایران جز لایتجزا (نه بیلیدونکی) دی» او له دې سره یې د هرات خواته سوقیات هم پیل کړل. سقاویان سره له دې چې د فرهنګ مخصوصاً سیاست څخه بې برخې خلک وو، ولې د ایران دا تبلیغات بد پر ولګیدل او په حبیب الاسلام ورځپانه کې یې ولیکل: «هرات د افغانستان جز لایتجزا دی».

دې وضع انګریز وارخطا نه کړ خو روسان یې وبیرول، ځکه هغو لیدل چې که هرات ایران واخلي نو انګریز یې په غیبر کې نیسي او په دې پسې پر مروه او عشق آباد او ترکمنستان به یې حملې ته تشویق کړي.

نو له همدغه امله د ۱۹۲۹ د اپریل په ۱۵ د شوروي خارجي کمیساري (وزارت خارجه) اعلامیه خپره کړه او په هغه کې یې ایران ته اخطار ورکړ چې که ایران پر هرات باندې د تیري اراده عملي کړي، شوروي بې تفاوته نشي پاتیدای. (۱)

که څه هم حبیب الله بچه ء سقاو خپل وزیر جنګ سیدحسین مزار شریف ته ولیږي او هغه ته یې وظیفه ورکړه چې د شوروي پر ضد یاغي ابراهیم بیګ لقي ته مرسته برابره کړي، ابراهیم بیګ دا مهال د امیر بخارا په طرفدارۍ د بالشویکانو سره جنګیدی.

شوروي غوښتل د سقاو سره د دفع الوقت سیاست په معیارونو چلاو وکړي، خو د انګریز څخه یې دا واهمه درلوده چې دا یې سره وښکره سیل پر مرکزي آسیا چې د بالشویکانو تر نقشې لاندې ؤ راخوشې نه کړي. خو اطلاعاتي د فترونو داد ورکاوه چې انګریز دا بهیر په عبوري توګه د دې لپاره راپورته کړي، دې چې په مستقیمه توګه د امان الله او نادر لاس سره ونه منبلي او منځ ته یې باید یو حایل ورواچوي چې هغه بچه ء سقاو ؤ، دا ځکه چې افغانستان یوه قبیلوي ټولنه ده که مستقیم امان الله او نادر سره منبلي، نو سبا به د نادر لپاره په کورني کې جنجالونه پیدا شي.

---

(۱) امیر حبیب الله کلکاني «مردی در حریق تاریخ»، ص ۱۵۳.

دوهم سقاویان یو بدوي او وحشي بهیر دی چې د کابل ټولنه په ډېر ژر له ځانه منفوره کړي او کله چې نادرخان هغه له منځه یوسي په ټولنه کې به د ناجي کریډت ورپه برخه شي او انګریز به یو داسې هوښیار سړی و قدرت ته رسولی وي چې پر هغه انګریز اعتماد ولري. دغو اطلاعاتو د شوروي تشویش کماوه او دې خوا ته یې پاملرنه ساتله چې سر له اوسه د نادرخان سره د نویو اړیکو سالم قالبونه جوړ کړي.

## ۹- د سقوي حاکمیت سقوط:

هسې خو د هغه لومړي ورځې سقوي جبري حاکمیت په سقوط محکوم ؤ، خو څرنګه چې د یوه ټاکلي ماموریت لپاره مسلط شوی ؤ، نو هغه ماموریت یې د خپل آمر د پلان مطابق په سر ورساوه او په دې توګه یې خپل عمر هم پای ته ورساوه.

کوم نیم بنده صنعتي اقتصاد چې په هیواد کې د خلکو د نسبتاً ماړه ژوند تضمین ورکولای شوای او پخوانی فیوډالي مناسبات د زوال سره مخامخ شوی. و د سقویانو په وسیله هغه یو مخبزه تباه او برباد شول او هیواد تر پخواني فیوډالي حالت هم ژورو ته ورتیل وهل شو، دا کار د هیواد جنوبي زبرځواک ځکه وکړ چې کله ټولنه وږي او فقر ته اړ باسي نو په داسې ټولنه کې خپل هر ډول کار سرته رسولای شي. په دوهمه برخه کې یې هغه فرهنګ چې د ټولنې د ذهن چینې یې ورخلاصې کړې وې او ښوونځیو، کتابتونونو، په خارج کې تحصیلاتو، د نړۍ د معتبرو ژبو سره آشنایي او د عصري مطبوعاتو پراختیا یې تمثیل کاوه دا په ډاګه کوله چې افغانستان به ژر د نړۍ د ژوندیو او عصري دولتونو په کتار کې ودرېږي، خو هغه ناځوانه زبرځواک د دې ونې ریښې هم ووهلې او دا کار یې په یوه بدوي وحشي او د تمدن څخه په عاري قوت یعني سقویانو سرته ورساوه.

۹ میاشتې دا وطن د اور او وینو په سیند کې روان ؤ خو څرنګه چې د هغه بدوي قدرت بقا پخپله انګریز هم نه وه تضمین کړې او د یوه ضرورت پر بنا یې هغه منځته راوستلی وه نو دلته چې هرڅه بې امنیتي ورته راپورته کیدی انګریز نه یوازې مرسته نه ورسره کوله بلکې کړې لارې به یې ورښوولې چې ښه یې غابښوونه ووځي.

د هغې ورځې څخه چې حبیب الله د کابل پر تخت کښېنوست یوه ورځ یې هم په آرامه او امن تیره نه کړه، ټول وطن رداوه، خو ده به ویل دا د کافر امان الله ملګري دي چې غواړي لاتې ګرې وکړي.

د ۱۹۲۹ د فبروري او مارچ میاشتې د سقاو پر ضد د لویو قیامونو میاشتې وې، لومړی امان الله به کندهار کې تیاري ونیوله او پر غزني راروان شو، د ده سره هزاره او وردګو هم لاس ورکړی ؤ،

برابر له دغه وخت سره سپه سالار محمد نادرخان د فرانسې څخه د هند پر لار د افغانستان جنوبي سرحداتو ته داخل شو.

دا دوې حادثې د حبيب الله خادم دين رسول الله لپاره ډېر تشويش باعث وې، خو انګريز نه غوښتل چې امان الله کامیابه شي خو نادرخان ته يې موقع ورکوله چې خپل پروګرام مخ ته بوځي.

د امان الله خان د وهلو لپاره حضرت شوربازار د کتواز په سليمانخيلو کې کار وکړ او د يوځلور زره کسيز لښکر يې تيار کړ چې په غزني کې يې د امان الله پر ضد وجنګوي خو امان الله تر دغسې يوې صحنې پخوا په دې حقيقت ته رسېدلی ؤ چې انګريز په هر صورت وي دې له صحنې باسي نو ځکه د غزني څخه راپر شا شو او له کندهاره هند او ايټاليا ته مهاجر شو، د حبيب الله لپاره دا خوښي په يوه بله مزه بدرګه شوه چې غلام نبي خان څرخي د شوروي څخه د لښکر سره د هيواد شمالي سيمو ته داخل شوی او حتی مزار شريف او د هغه حوالي يې هم نيولې وه او مخ پر کابل راروان ؤ چې د کندهار څخه يې ورور غلام صديق خان د امان الله خارجه وزير تلګرام ورکړ چې امان الله له هيواده ووت، نو ځکه غلام نبي خان هم ګيلي ميدان خوشې کړ او شوروي ته ولاړ او دا سيمې بيا د سقاو تر حاکميت لاندې راغلې. حبيب الله او دده دربار لا په دغو خوښيو کې غرق ؤ چې د هيواد له جنوب څخه د سپه سالار محمد نادرخان د پرمختيا خبرونه ور ورسيدل او بوځل يې بيا زړونه په دربې شول.

د دغه کال د اپريل په مياشت کې د سپه سالار لښکرو د لوګر په څرخ کې د سقاو سره جګړه وکړه او سقاو په دې پوه شو چې قبايل د نادرخان په طرف دي او قبايل بو داسې قدرت دی چې هر طرف ته شي هغه حتماً بريالی کيږي.

د دغه کال د مې مياشت د حبيب الله لپاره د يو آني بخت بيدارۍ مياشت وه، په دغه مياشت کې سقوي لښکرو د پردل سپه سالار په مشرۍ د کندهار ښار ونيوی او هلته يې والي علي احمد خان او آخندزاده عبدالواسع بنديان کړل او بيا يې کابل ته راوليږل چې دلته حبيب الله په توپ کې والوزول.

سقاويانو ته ټول وطن ياغي ؤ او اوس يې په ميدان کې غټ حريفان لکه امان الله او غلام نبي خان څرخي له ميدانه ايستلي و، خو يو ډير قوي شخصيت چې د جنګ او تدبير ډير پوخ قهرمان ؤ پاته ؤ او قدم په قدم دده د زندې لپاره رانژدې کيدی. د سپه سالار سره درې ډير کلک پاخه هوښيار با تدبيره او په خلکو کې د لوی اعتبار خاوندان ورونه هم ولاړ وو او دا ماشين يې پرمخ راروان کړی ؤ.

محمد هاشم خان په مشرقي (ننګرهار) کې کار وکړ او هغوی يې تنظيم کړه، شاه ولي خان د

سپه سالار د اوامرو د رسولو یوه مطمینه وسیله وه او پخپله سپه سالار فقط د مختلفو قبیلو خلک راټولول او جرگې یې جوړولې او دا دومره ستړې کار ؤ چې څو واره سپه سالار ناروغه هم شو.

د غه قومونه متحد شول او پر کابل راروان شول د اکتوبر په میاشت کې د توپونو مرمۍ د ارگ پر دیوالو ومښتې، حبیب الله چې مأیوسه شو، نو د ارگ د خزانو او وسلو سره شمالي ته وتښتیدی.

د کابل د فتح سره سپه سالار محمد نادرخان د محمد نادرشاه په نامه باچا شو او د سقاو د نیولو امر صادر شو، سقاو حبیب الله د ملگرو سره ونیول شو او په لومړی تل کې دا کسان په دار وځړول شول:

۱- پخپله حبیب الله بچه ء سقاو.

۲- سیدحسین وزیر جنگ.

۳- حمیدالله د حبیب الله ورور.

٤- ملک محسن د کابل والی.

٥- شیرجان د دربار وزیر.

٦- محمد صدیق د پکتیا فرقه مشر.

۷- محمد محفوظ (هندوستاني) امنیه قوماندان.

۸- عبدالغني خان قلعه بیگي.

له د غو اعدامو سره د بچه ء سقاو حاکمیت سقوط وکړ او اعلیحضرت محمد نادرشاه د کابل پر تخت تکیه وکړه.

## ۱۰- آیا سقوي اغتشاش یو دهقاني غورځنگ ؤ ؟

دا پوښتنه چې آیا سقوي اغتشاش یو دهقاني غورځنگ ؤ ؟ په دا وروستیو کلونو کې چې زموږ فرهنگیان د شوروي ادبیاتو سره بلد شول راپورته شوې ده.

یو شمیر غیر پښتون اقلیتونه خاصتاً تاجکان د حبیب الله کلکاني امارت ته قانوني رنگ ورکوي او د هغه د پښو غورځول د پښتنو له تعصب څخه راولاړ شوی عمل بولي.

په وروستیو کلونو کې چې د هیواد په شمال په خاص ډول د بدخشان په تاجکي سیمو کې چې ستمي حرکتونه پیدا شول او بیا یې ریښې تر کابله راورسیدې، نو دوی د حبیب الله له نامه سره د بچه ء سقاو د کلمې ترل یو متجاوز اشرافي تیری وباله او حتی په پرچمي حاکمیت کې خو د هغه نوم امیر حبیب الله خان ثاني کیښوول شو.

څرنګه چې د سقاویانو شخصي او ټولنیز اعمال ټول د تمدن او ښاریت پر ضد وو او د فرهنګ ډېره یې تېره کړه، نو ځینې ستمي مفکرینو پر دغه حرکت دد هقاني غورځنګ نوم کښېښووی. دوی د خپلې دغې ادعا لپاره په غیر علمي طریقه یو مثال هم وړاندې کړ او هغه دا چې حبیب الله یې د ایمیلیان پوګاچف سره برابر کړ چې د اتلسمې پېړۍ په اوومه لسیزه کې یې ځان تزار ویاله او بزګران یې په ځان پسې کړل او د روسیې یو شمیر ښارونه یې ونیول، خو لښکر یې مات او دی د ملګرو سره ونیول شو او د ټولوا کمنې دوهمې کاترینې له خوا په دار وځړول شو.

پوګاچف هم په سر کې غل، لاروهونکی، او کلیوال بز[illegible]ۍ، خو [illegible] یې لوټمار او داړه ماري ته شوه او بیا یې په ځینو سیمو کې د بزګرانو ترمنځ په عدالت ځمکې ووېشلې.

څرنګه چې کلکاني حبیب الله هم یو کلیوال بزګر ؤ چې څو موده یې غلاوې کولې او لارې یې نیولې وې، وروسته چې د خپلې ډلې او ټپلې سره پر دوی کار شو، نو نه یې فرهنګ پېژندې او نه د مملکتداری په کار پوه ؤ، نو ځکه یو څه مشکلات یې پیښ کړل.

دا کسان چې په دغو منطقو یا سقوی اغتشاش دهقاني غورځنګ بولي یا حبیب الله د ایملیان پوګاچف سره برابروي، نو دا باید له یاده ونه باسي چې پوګاچف بزګر ؤ او لکه د سیل اوبه پر خپل سر روان ؤ خو حبیب الله بل چا روان کړی ؤ. حبیب الله چې په باړه چنار کې د نورو سره پر غلا ونیول شو، نو انګریزانو ډېر ژر له زندانه خوشې او افغانستان ته راروان کړ چې دلته یو ملا دونې په بېخ کې ټوپک او پیسې ورښیي، بل یې پر شا ټپوي او په کابل کې یې د انګریز سفیر همفریز یې لکه سیوری تعقیبوی، نو دا بزګر چې د غلا څخه د باچهۍ چپه کولو ته رامخته شوی ؤ دا دی نه ؤ بلکې نور وو چې دی یې پر اوږو رااخیستی ؤ، پوګاچف د خارجي قدرت له خوا نه ؤ راپورته شوی، نو ځکه یوازې د بزګرۍ ماجراجویي سره خارجي ملاتړ کفایت نه کوي چې د یوه اغتشاش څخه دهقاني غورځنګ جوړ کړي.

# اولسم فصل

## د حساب او تصفيې دوره

### ۱ – پرځېل شوی کابل د نادرشاد د سلطنت پيل:

د سقويانو نه مياشتې حکمرانۍ کابل له هر پلوه خراب او زيانمن کړ. د امان الله خان سرد د حبيب الله بچه، سقاو جنګونو او بيا پخپله د دغه بدوي بهير بې پروايي ګانو د کابل ښار خراب، ناپاکه او د لوږې سوبې د خلکو د ژوند لپاره يې بلکل نامناسبه کړ.

دا ښار او د هغه زړه دارګ دومره وران خراب شوی ؤ چې کله د ۱۹۲۹ کال د اکتوبر په دوهمه هفته کې محمد نادرخان ورته راداخل شو د اوسيدلو له پاره يې يو مناسب ځای نه درلود، ځو په باغ عليمردان کې د يو آشنا فتح محمد خان امين العسس په کور کې يې تر هغه وخته استوګنه غوره کړه، څو ارګ يو څه ترميم شو.

د اکتوبر په ۱۵ ورځ چې محمد نادرخان کابل ته داخل شو، نو مستقيماً د سلامخانې ودانۍ ته ولاړ او هلته د کابل مخور او ډير قبيلوی مشران راټول شوی وو. محمدنادرخان حاضرينو ته په خطاب کې وويل: زما ارمان د وطن نجات ؤ او دا دی نن مې دا ارمان سرته ورسيد او وطن مې د غلو له لاسه ووژغوری. زه پخپله د باچاهۍ آرزو نه لرم، يوه لويه جرګه به راوغواړو چې هغوی يعنې د ملت نمايندګان زعيم وټاکي، په دې وخت کې ټولو حاضرينو په يوه آواز نارې کړل چې لويې جرګې ته

ضرورت نشته ته زموږ باچا یې. په دې وخت کې فیض محمد د معارف پخوانی وزیر (چې په سقوی دوره کې هم د حبیب الله بچه ء سقاو د اعتماد او اعتبار څخه برخوردار ه ؤ) پر پښو ودرید او وې ویل: اعلیحضرت ته د پخوانی لویې جرګې اکثریت اعضاء دلته حاضر دی، نو دوی چې له سپه سالار څخه غواړي چې د باچاهي تکلیف ومني، دوی باید د خلکو دا غوښتنه رد نه کړي.

سپه سالار دا غوښتنه ومنله او په دې وخت کې حضرت مجددی (نورالمشایخ) راوړاندې شو او د محمد نادرخان پر سر یې پګړۍ د تاج او جوغې په توګه وروتړله او پس له دوه ساعته چې سالون ته سپه سالار محمد نادرخان ننوتلی ؤ د هاخوا اعلیحضرت محمد نادرشاه راووت.

محمد نادرخان چې پر وران ویجاړ کابل باچهي پیل کړله، نو په دې ښه پوهیدی چې دده په وړاندې ساده چارې نه دي پرتې بلکې غرونه غرونه کار باید وکړي او هر قدم باید په ډیر احتیاط کښیږدي، دده سره د امان الله خان طرفدارانو رقابت کاوه، خو دا نیکمرغي په نصیب وه چې انګریز نه یوازې خنډونه نه ورته ایجادول، بلکې د مرستې لاس یې هم ورغزاوه او ده هم د انګریز سره په کامله هوښیارۍ راشه درشه درلوده.

اعلیحضرت محمد نادرشاه د امان الله خان نژدې همکار او د رفورمستانو سرحلقه عبدالرحمن خان لودین چې په اخیره کې د امان الله خان څخه خوابدی ؤ کابل ښاروال مقرر کړ او ورته وې ویل څرنګه چې ته د کندهار د ښاروالي د کار تجربه لرې او هم صادق سړی یې نو په دغسې یوه خطیره مرحله کې دا وظیفه درسپارم.

عبدالرحمن خان ته د دربار مؤظفینو وویل چې د ارګ ترمیم مقدم وګڼي، خو عبدالرحمن خان د ښار د ترمیم پلان جوړ کړی ؤ او په هغه کې ارګ ته وروسته نوبت ورکول شوی ؤ. ده ته څو واره خبره ورکول شو چې ارګ ته پاملرنه واړوي او یوه ورځ محمد هاشم خان صدراعظم په منت ورته وویل چې ته د ارګ کارځنډوې، نو عبدالرحمن خان هم په ترخه لهجه ورته وویل: هو تاسې نازولي تر نور کابل وړاندې خپل کار سموی په داسې حال کې چې ما ته د ارګ او د کابل د یوې کوڅې توپیر نشته، نو له همدغه ځایه یې قهر ځانته جلب کړ. (۱)

که دا خبره ریښتیا وی، نو نادرشاه ملامت نه ؤ ځکه هغه ارګ یوازې خپلې استوګنې ته نه غوښت بلکې د دفتر او دیوان ټوله خبرو په ارګ اړه درلوده او ده نشوای کولای کوږدیپلوماتیک هیأتونه وزیران او نور اهل دربار د فتح محمد خان امین العسس په کور کې ملاقات ته راوغواړي.

د بلې خوا په کابل کې دولتی دفترونه سقاویانو لوغ کړی وو، قالینې یې وړی وې، چوکۍ او نور سامانونه یې یا وړی وو یا یې تخریب کړي و.

حتی د کوڅو او بازار لارې او سړکان یې لا خراب کړي وو د بلې خوا لکه چې وویل شول په تیرو ۹ میاشتو کې د کابل هره خوا د کثافاتو مرکزونه وو او د دا ټولو پاکول ډیر درونډ کار ؤ، خو

(۱) دا خبره ما ته مرحوم میرقاسم خان وکړه چې په دغه وخت کې په کابل کې ؤ.

نادرخان به تر نورو خبرو وړاندې د ښار د ښیا ودانۍ او پاکۍ توصیې ډېرې کولې.
په لږه موده کې د باچا او صدراعظم په پاملرنه کابل یو ځل بیا وبرېښېدی او یو څه رونق یې پیدا کړ. د ارګ ودانۍ هم تر میم شوي او باچا د خپلې کورنۍ سره هلته استوګنه غوره کړه.
باچا د امانی دورې ودانیو ته چندان علاقه نه ښووله او حتی د دارالامان نوم یې هم په دارالفنون بدل کړ، خو خلکو دا نوم قبول نه کړ او وروسته هم هغه دارالامان نوم دوباره وړاندې پوخ شو.

## ۲- د محمد نادرشاه شخصیت او سابقه:

محمد نادرشاه د محمد یوسف خان زوی د سردار یحیی خان لمسی او د سردار سلطان محمد خان طلایی کړوسی ؤ چې سلطان محمد خان بیا د امیر دوست محمد خان ورور او د سردار پاینده خان زوی ؤ.
د محمد نادرخان کورنی د افغان او انګریز په دوهم جنګ کې چې وروسته امیر عبدالرحمن خان پر کابل مسلط شو د نادرخان نیکه سردار یحیی خان انګریزانو ته پناه یووړه، ځکه دی د امیر محمد یعقوب خان خسر ؤ او وایې چې د ګندمک معاهده دده په ټونګ په امیر یعقوب خان امضاء شوه.
سردار یحیی خان ته انګریزانو په یوه ښه آب و هوا کې د استوګنې ځای ورکړ چې هغه د هرادون ؤ. د سردار یحی خان دوه زامن سردار یوسف خان او سردار آصف خان ته د انګریز په ښوونځیو او پوهنځیو کې د زدکړې فرصت میسر شو او ددغو دوو ورونو سرداراتو زامنو هم تحصیل وکړ چې د سردار یوسف خان زامن عبدالعزیز، محمد هاشم، شاه ولی، شاه محمود او د ټولو په سر کې محمد نادرخان ؤ دا انګریزانو په ډېره پاملرنه وروزل شول، په دغو ورونو کې محمد نادرخان د عقل او تدبیر څخه ډېر برخوردار ؤ.
محمد نادرخان یو آرام، متین، د نظم او دسپلین خاوند، مدبر قوماندان ؤ. خو په عین زمان کې سخت انتقام جویه او د قهر په وخت کې سره له دې چې نه یې په رنګ نه په آواز او نه په حرکاتو کې تغییر راتئ خو د کوبرا مار په شان یې خپل خصم واهه.
د نادرخان کورنی د امیر عبدالرحمن خان تر مرګ وروسته په هم هغه کال چې امیر حبیب الله خان مفرورین بیرته هیواد ته راوبلل د ۱۹۰۱ په وروستیو میاشتو کې کابل ته راغله.
امیر حبیب الله د نادرخان پلار او تره (یوسف خان او آصف خان) خپل مصاحبین وټاکل چې وروسته دا کورنی د مصاحبینو په نامه یادېدله. په ۱۹۰۸ کې محمد نادرخان جنرالی ته ورسید او هغه مهال چې یې په پکتیا کې د منګلو اغتشاش خاموش کړ په ۱۹۱۱ کې د باچا د حضور نایب سالار شو.
په ۱۹۱۳ کې د سپه سالار امیر محمد خان پر ځای سپه سالار شو، په ۱۹۱۹ کې چې امیر حبیب الله خان د لغمان په کله ګوش کې ووژل شو او نصرالله خان په جلال آباد کې وه، پر دوی هم دا

شک پیدا شو چې د سردار نصرالله خان ملاتړ یې کړی دی، نو د امان الله خان په امر ټول ځنځیر پیچه کابل ته راوستل شول. دا البته د نادرخان لپاره یوه بې احترامي وه، خو امان الله خان ډیر ژر جبیره کړه او نادرخان ته یې په دربار کې د لوی عزت ځای ورکړ. د استقلال په جنګ کې چې د ختیځ (ننګرهار) جبهه جنرال صالح محمد خان ته ورکول شوې وه او محمد نادرخان د جنوبي جبهې ته لیږل شوی ؤ، صالح محمد خان په ډیره بې غیرتی ماتې وکړه، خو جنرال سپه سالار محمد نادرخان فاتح راغی.

دا وخت صالح محمد خان د دفاع وزیر ؤ، امان الله خان سخت پر په قهر شوه، تکری یې ور پر سر کړ او په بازارو یې وګرځاوه او د هغه پر ځای یې سپه سالار محمد نادرخان د دفاع وزیر کړ.

په ۱۹۲۳ کې د لومړي ځل لپاره د نادرخان او امان الله خان ترمنځ اختلافات پیدا شو او د اختلاف وجه همدا وه چې د وزیرو د قبیلې ځینې کسان نادرخان ته ورلیږل شوي وو چې وسله ورکړي، خو نادرخان دا کار یو څه وځنډاوه او امان الله خان په خشونت پوښتنه ورڅخه وکړه، محمد نادرخان د وظیفې څخه استعفی وکړه او امان الله خان هم منظور کړه او په پاریس کې یې وزیر مختار مقرر کړ.

د همدغه اختلاف په وخت د محمد نادرخان زوی محمد طاهر چې د محمد ظاهر وررور ؤ مړ شوی ؤ او نادرخان یې په علی آباد کې فاتحه اخیستله، امان الله خان په دغه فاتحه کې د نادرخان پر ځینو کارونو انتقاد وکړ، خو محمد نادرخان ورته وویل: اعلیحضرته، ستا رفورمونه ددې ملت تر طاقت لوړ دي، یو وخت به ته پخپله پر خپل دغه کار نادم شې. زه ددغو رفورمو څخه د ځینو سره شدید مخالف یم او په دې هم ښه پوهیږم چې د افغانستان پادشاهی به د مخاطرې سره مخامخ کړي. تر دې وروسته محمد نادرخان په ۱۹۲٤ کې پاریس ته ولاړ، ولې هلته یې هم استعفی وکړه چې په عوض یې غلام نبی خان څرخی مقرر شو.

نادرخان په ۱۹۲۹ کې د سقاو تر وهلو وروسته کابل ته راغی او باچا شو، ده ډیر زیار ویوست او ډیر کارونه یې هم وکړل خو په افسوس باید ووایو چې په ۱۹۳۳ کې یو نفر محصل په تفنګچه وویشت او مړ یې کړ.

د محمد نادرخان کورنی د حبیب الله خان او امانی دورو کې په عزت اوسیدلې وه، امیر حبیب الله خان د محمد نادرخان یوه خور ځانته په نکاح کړې وه او د امان الله خان دوې خوندی یوه د شاه ولی خان سره او بله د شاه محمود خان سره وې. د امان الله خان ګرانه خور یې چې محمد هاشم خان ته ورکړې وه، هغې د هاشم خان سره موافقه ونه کړه او امان الله خان د خپل د تره سردار محمد عمرخان زوی حسن جان ته ورکړه او بیا یې واده داسې وکړ چې په ټول کابل کې جشن نیول شوی ؤ او دې کار د نادرخان ټوله کورنی عصبي کړه.

محمد نادرخان یو هوښیار، با تدبیره او د سیاست په رمز آګاه شخصیت ؤ او د افغانستان په تاریخ کې د لویو کسانو په جمله کې ځای لري.

ACKU

## ۳- د محمد نادرشاه حکومت:

پس له هغه چې د سقاؤ پرده ورتوله شوه ، پخوانی سپه سالار او اوسنی اعلیحضرت محمد نادرشاه د صحنې پرمخ راڅرګند شو.

د ډاکتر طاهر بورګی په قول: «دې دورې له دواړو پخوانیو دورو سره توپیر درلود ، دا دوره نه د امان الله خان دورې خصوصاً د هغه د وروستیو کلونو د دورې په شان د غرب د تهذیب او ژوند د دود شیفته دوره چې غوښتل یې د خولی په سرکولو او د چادری په ایستلو ټولنه بدله کړی او نه د غازی امیر حبیب الله خادم دین رسول الله په شان له جهانی مدنیت سره دښمنه دوره وه چې مالیات او دولتی عایدات یې خلکو ته او بیت المال یې خپلو سپاهیانو او... ته ورباخښه چې قند و پلو وخوری او ده ته دعا وکړی (او پخپله چرګان مرزان او زرکان وجنګوی) او په دې ډول د هغه په نظر یوه مسلمانه او د لاتپی ګری پاکه ټولنه جوړه کړی. دا نوی دوره د دواړو دورو له ترکیب څخه جوړه یوه دوره وه، د دواړو دوره یو طبیعی سنتیز ؤ چې د امان الله خان د دورې مثبت رفورمونه د اهلو مامورینو په لاس تر اجرا لاندې ونیول»[۱]

د نادرخاني دولت په سرکې پخپله نادرخان او په هغه پسې یې ورور سردار محمد هاشم خان ډیر با انضباطه او په اداره کې ډیر سختګیره خلک ؤ ، وریسې نور دولتی اراکین یې هم ساده خلک نه وو او هر یو یې په خپل چوکاټ کې د صلاحیت خاوند ؤ. ده که څه هم د خپل وروړ محمد هاشم خان په صدارت حکومت جوړ کړ ، خو د کار ټولې جدی کیلی یې په خپل جیب کې ساتلې.

ده له لاندې کسانو څخه د نوې دورې حکومت جوړ کړ:

سردار محمد هاشم خان صدراعظم.

سردار شاه محمود خان حربیه وزیر.

سردار فیض محمد خان خارجه وزیر.

محمد ګل خان مهمند داخله وزیر.

حضرت نورالمشایخ عدلیه وزیر ( وروسته یې زوم) حضرت فضل احمد عدلیه وزیر.

محمد ایوب خان قزلباش مالیه وزیر.

محمد اکبرخان وریسې میرزا محمد یفتلی د تجارت وزیر.

علی محمد خان بدبخشی د پوهنې وزیر.

---

(۱) ډاکتر بورګی: د افغانستان دوهم اساسی قانون ته یوه کتنه د پیښور چاپ ۱۳۷۵ . ۷۹ مخ.

الله نوازخان د رب نوازخان (هندی) زوی (مشکوک شخصیت) د فواید عامې وزیر.
محمد اکبرخان د طب مستقل مدیر.
رحیم الله خان د پست و تلگراف مستقل مدیر.
سردار احمدشاه خان د باچا د تره زوی د دربار وزیر.
عبدالاحد خان مایار د شورا رئیس.
میرعطاء محمد خان حسیني د اعیان د مجلس رئیس.
میرزا محمد نوروز خان د باچا سرمنشی.
صدراعظم د هر وزیر څخه په جدی توگه د کارگزارش غوښت او هره شپه یې د ټولو ولایاتو احوال په ټیلفون کې اخیست.

## ٤- په نادرخانی دوره کې د امنیت ستونزه:

پس له هغه چې سقاو ووهل شو، نو مسأله په دغسې سادگی ختم نشوه، بلکې عکس العمل یې درلود او محمد نادرخان هم دغه ټکی ته د اول څخه متوجه ؤ، نو قبلی تیاری یې ورته نیولې وه، که څه هم یو شمیر د امانی دورې روښانفکرانو هم نوی دولت تخریشاوه خو د نوی حکومت پاملرنه د کابل شمال ته وه، څو دا ؤ چې د ۱۹۳۰ کال په جون کې د شمالی هغه قومونه چې د حبیب الله کلکانی په باچهی کې یې لوی گټې تأمین وې په غټ قوت قیام ته راوپاڅیدل. د نادرخان له خوا هغو ته توصیه وشوه چې دغه کار و نه کړي، خو هغو خبرې ته غوږ نه کښېښود، نو محمد نادرشاه یو ځل بیا هغو قبایلو ته چې د سقاو څخه یې د کابل د نجات په لار کې له ده سره مرسته کړې وه مخ ورواړاوه او له هغې خوا د ۲۵ زرو کسو په شمیر قبایل پر راخوشې شول او ډیر ژر یې امنیت قایم کړ، خو مالي او ځاني تلفات یې ډیر وه.[1]

په ۱۹۳۲ په خوست کې د ملالیونی په مشرۍ د حکومت پر ضد یو قیام وشو، خو نادرشاه ژر د جرگو له لارې د هغه د پراختیا مخه ونیوله.

پخپله کابل هم نا آرامه ؤ، هر شپه د امان الله طرفدارانو شبنامې خپرولې او سره له دې چې د هاشم خان ضبط احوالات په ډیر شدت د دغسې اعمالو مرتکبین تعقیبول، خو وضع بیا هم نا آرامه وه.

د محمد ولی خان (د امان الله خان وکیل) او محمود سامی (تخریب کاره او جاسوس شخصیت) یو ځای محاکمه، روښانفکران پر نادرخان بې اعتماده کړل او ده ته یې د یو توطیه گر شخص په سترگه وکتل.

---

(1) A history of Afghanistan By Baskakoxe P. 226.

یو اشتباه چې نادرخان وکړه هغه دا وه چې ده خیال کاوه چې په وژلو او وینو تویولو به امنیت راشي، خو په دې کې یې ډیر سخت ضرر ولید.

نادرشاه غلام نبی خان څرخي چې په اماني دوره کې یې د هغه سره رقابت درلود، د ۱۹۳۲ کال په نوامبر کې کابل ته راوغوښت هغه چې راورسید ناڅاپه د نوامبر په ۸ یې هغه اعدام کړ او دا د قتلونو یو دلړی وه.

د ۱۹۳۳ په جون کې په برلین کې افغانی وزیر مختار محمد عزیز خان د باچا ورور د یوه افغان محصل سید کمال په تفنگچه ترور شو.

د کابل امنیت سخت حساس ؤ، مخصوصاً خلکو د انگریز څخه ډیر بد وړل. د همدغه کال په سپتمبر کې د محمد عظیم منشي زاده ډلې په کابل کې د انگریز پر سفارت حمله وکړه او هلته یې درې کسه ووژل، خو دا کسان ونیول شوه او ټول اعدام شول او په تعقیب یې غلام جیلاني خان، شیرمحمد خان، محمد مهدي جان (د کابل د چندولو یو قزلباش د امان الله خان د سرمنشي معاون) فقیر احمد خان په همدغه سپتمبر کې په کابل کې اعدام شول.

اوضاع دومره حساسه شوې وه چې وایي د محمد هاشم خان په زندان کې داسې بندیان هم وو چې په دوسیه کې یې لیکلي وو: «در چوک کابل باهم پُس پُس می کردند» (دا به البته مبالغه وي، خو د هغې ورځې له پولیسي فشار څخه لیرې کار نه ؤ).

د همدغې وضع په عکس العمل کې د ۱۹۳۳ کال د نوامبر په ۸ اعلیحضرت محمد نادرشاه د دلکشا په چمن کې چې شاگردانو ته یې مډالونه پر څیگر ورمښلول د عبدالخالق نومي یوه محصل په تفنگچه ترور شو.

دا قتل ډیر ترخه عواقب درلودل، خو یوه د تعجب خبره دا ده چې یو کال وړاندې په همدغه د نوامبر په ۸ تاریخ په همدغه دلکشا په چمن کې غلام نبی خان چرخي د محمد نادرشاه په امر تیر باران شو او یو کال وروسته په همدغه نوامبر په ۸ ورځ په هم هغه محل کې محمد نادرشاه په قتل ورسیدی.

د غلام صدیق خان چرخي د غلام نبی خان د ورور زوی عبدالغفار صدیق په یوه مقاله کې چې د سراج مجلې د ۱۳۷٤ کال په گڼه کې چې د ایران په قم کې چاپ شوې په ۲۲۱ مخ لیکلي چې عبدالخالق د نجات د لیسې د ۱۱ صنف زده کوونکی د خپل بادار غلام نبی خان په انتقام کې محمد نادرشاه وواژه. (۱)

ځینې وایي د غلام نبی خان میرمنی عبدالخالق ته ویلی وو چې د غسې یوه تاریخی نښانه ریږدی چې د غلام نبی خان قاتل باید په هم هغه ورځ او هم هغه محل کې په قتل ورسیږي.

---

۱) د افغانستان دوهم اساسی قانون ته یوه کتنه، ۸۳مخ.

په هر صورت د محمد نادرشاه تر مرګ وروسته د اعدامونو مخه بنده شوه، خو د زندان دروازې ډېرې پرانیستې پاتې شوې او د امانی دورې روښانفکران په غټ شمیر په دغو زندانونو کې وو، محمد نادرخان بل غټ روښانفکر عبدالرحمن لودین هم ووژی او د هغه ملګری تر خورا ډېرو وختو په زندانونو کې پراته چې ځینی یې هلته مړه شول، څوک معیوبه یا په عصبی تکلیفونو اخته راووتل، خو تر زندان وروسته ډېره ښه وضع ورسره کیدله او د لویو مقامونو اعتماد په وشو.

د نادرخان په وخت کې د امنیت مسأله ډېره ستونزمنه وه خو د نادرشاه او هاشم خان په تدبیر د ډېرو بدو عواقبو مخه ونیول شوه.

## ۵ - د یو قانونی دولت بنسټیو نه ایښوول:

محمد نادرشاه پوهیدئ چې تر کله د قانون پر بنسټ یو دولت تکیه ونه لری، نو هغه نه یوازې پخپله بقا نشی پیدا کولای، بلکې د وطن موجودیت هم په مخاطره کې اچوي.

دی په دې پوهیدی چې د امانی دولت د نظامنامو سره حساسیت موجود ؤ او دا هم یو پلان شوی کار ؤ چې په دې توګه د امان الله دولت له رینبو له منځه یوسی او دا هم خارجی لاس او داخلی اجیران وه چې بحران یې رامنځته کړ. خو نادرخان ته د خارج له خوا مشکل متوجه نه ؤ او په داخل کې د پردیو اجیران یا ووتل او یا همدلته منزوی شول، خو هوښیار باچا له دغه فرصت څخه په استفاده هم هغه قوانین چې په امانی دوره کې په نظامنامه یاد یدل د اصولنامو په نامه نافذ کړل، ډېر لږ تغییر یې پکې راوست.

محمد نادرخان په یو باصلاحیته هیأت اساسی اصولنامه ( اساسي قانون) تدوین کړ، دا هم هغه اساسي نظامنامه وه چې د امانی دولت د قوانینو د مور حیثیت درلود.

په اساسي اصولنامه کې د اساسي نظامنامې د باچا د حقوقو فصل تعدیل او په هغه کې د امان الله خان پر ځای د محمد نادرخان نوم راغی. د دولتی شورا پر ځای ملی شورا او د اعیانو مجلس په اصولنامه کې داخل شو.

همدارنګه حکومت د ملي شورا د انتخاباتو اصولنامه جوړه او دا دواړه د ۱۳۰۹ کال د سنبلې په ۲۸ د لویې جرګې غونډې ته وړاندې او تصویب شول او د دغه انتخاباتی قانون له مخې د ۱۳۱۰ کال د سرطان په ۱٤ د سلامخانې په مانۍ کې د ملی شورا غونډه باچا پرانیستله او هیواد یوې قانوني مرحلې ته داخل شو. دغه اساسي اصولنامه تر ۱۳٤۳ کال پورې نافذه وه او د هغه سره په مطابقت کې ډېرې اصولنامې جوړې او تر تطبیق لاندې ونیول شوې.

د قوانینو تطبیق د صدراعظمانو او وزیرانو په لاس کې ؤ، محمدهاشم خان چې ۱۸ کاله پر

افغانستان صدراعظم ؤ همیشه به یې د خپل میل سره برابره شورا جوړوله.

په دې کې شک نه ؤ چې شورا د یوې فورمولیتي شکل درلود او د اسې کسان وکالتونو ته راتلل چې صدراعظم او حکومت ته به حلقه په غوږ غلامان ؤ.

خو د ا ټولو خبرو سره د غه اصولنامې او د هغو پر بنیاد حکومتونه بیا هم که شکلاً هم وه، خو یو قانوني رنګ یې درلود.

د شورا رئیس عبدالاحد مایار ورد ک د ۱۹۳۲ څخه تر ۱۹٤٦ پورې د محمد هاشم خان ماموریت وروستی کال ؤ پر له پسې مقرر ؤ، دا ځکه چې دا سړی د صدراعظم د اعتماد وړ ؤ او د ه هم شورا ډیره ښه ورته اداره کوله.

د دغې شورا په لومړۍ غونډه کې چې محمد نادرشاه هم حاضر ؤ پر ځینو مسایلو د محمد نادرشاه او ځینو وکیلانو خاصتاً د کندهار د وکیل عبدالعزیز خان ترمنځ مشاجره وشوه، خو وروسته تر دغې پیښې د شورا تر پایه چې هاشم خان صدراعظم ؤ یو آواز هم را اوچت نشو.

## ٦- د دیني علماؤ سره د باچا اړیکی:

محمد نادرخان تر هر چا په دې ښه پوهیدی چې د دیني علماؤ سره ځان په منفي خوا کې مخامخ کول د خپلو ریښو ایستلو حکم لري.

په دیني علماؤ کې چې د روحانیت چپنه یې پر اوږو وه هغه معروف حضرت فضل عمر مجددی (مشهور په حضرت صاحب شوربازار) ؤ چې نادرخان په حکومت کې د عدلیه وزارت چوکی ورکړه او درې کاله وروسته یې خپل زوم حضرت فضل احمد مجددی پر خپل ځای معرفي کړ او دا حضرت هم په ډیر احترام هر کلی کیدی.

باچا امر کړی ؤ چې په ټولو اصولنامو په تدوین کې دې د علماؤ مشوره اخیستل کیږي چې د شریعت سره برابر قوانین تدوین شي خو په دې کار کې به یې قبلي پر هغو کار وکړ او بیا به یې دې ته تیار کړل چې مخالفت و نه کړي.

د دې لپاره چې د غه دیني بانفوذه علما هم مصروف کړي او هم یې تر خپل نظارت لاندې وساتي، نو دیني علماؤ څخه متشکل یو مجلس یې په ۱۹۳۰ کې د «جمعیت العلماء» په نامه جوړ کړ، هغوی ته به یې کله کله ډیر بحث برانګیزه مسایل ورمحول کول چې دوی به ورځې ورځې په مصروف وو، د باچایي خزانې او آشپزخانې څخه ښه معاش او مکلفه ډوډۍ ورته مقرره وه، د محمد هاشم خان د ضبط احوالات ډیر پاخه او قوي غړی همدلته مؤظف وو چې کومه خرابي منځته رانشي. باچا پخپله د دوی سره کتنې کولې او په ډیرو مسایلو کې یې له دوی څخه مشوره اخیستله

او ډیرې قیمتداره تحفې به یې ورکولې.

په دې پسې یې په کابل کې عربي دارالعلوم جوړ کړ چې چاپ کړي ملایان یې د مدرسینو په توګه ورولیږل او د دې ټولو په سر کې یې سردار عبدالرسول خان چې د دیني علماؤ سره یې ناسته ولاړه وه او د محمد هاشم خان هم ډیر د اعتماد وړ سړی ؤ د رئیس په توګه ورمقرر کړ او دغه سړي هم په تام صلاحیت دغه دارالعلوم اداره کړ.

محمد نادرشاه د اماني دورې او حتی د سقاو د دورې ملایان هم په غیږ کې ونیول، ملا برهان الدین کشککی چې د سقاو د اخبار «حبیب الاسلام» رئیس ؤ او په هغه کې یې په نادرخان پسې ډیر بد تورونه تړلي او سپکې سپورې ویلې وې دا یې هم وبخښئ او په دارالتحریر شاهی کې یې مقرر کړ، وروسته یې نور مقامونه او پوستونه ورکړل.

محمد نادرشاه باچا او صدراعظم محمد هاشم خان تر هر کار دغه کارته په دقت متوجه وو چې د دیني علماؤ سره اړیکې د کوم بحران سره مخامخ نشي او په دې کار کې بیخي کامیابه هم وو.

## ۷- د اقتصادي پراپلمونو د حل تلاشونه:

په دې کې شک نشته چې محمد نادرخان په یوه ډیر خطرناک وخت کې د افغانستان چارې په لاس کې واخیستې. ۱۹۲۹ او ۱۹۳۰ کلونه په ټوله نړۍ کې د لوی اقتصادي بحران کلونه وو او په ټوله اروپا او آسیا او حتی امریکا ډیر لوی او عظیم شرکتونه دیوالي شول او یوه هولناک فقر د هغې ورځې په نړۍ خوله ولګوله. دا د لومړۍ نړیوال جنګ او پانګه والې د وحشت څخه راپورته وضعې هرې خواته تباهي خپره کړه او افغانستان هم په غیر مستقیمه توګه له دغه بحران څخه بې اغیزې نه ؤ پاته شوی، برسیره پر دې د سقاوي تاړاک بل آفت ؤ چې تقریباً یو کال د وطن د شتمنی څخه ګټه وانخستل شوه، بلکې شتمني د داخلي جنګ په لمبو کې وسوځل شوه.

د کابل خزانه یو ځل امان الله خان، بیا سردار عنایت الله ورسره یووړه او وروستی ځل د سقاو په دوره کې چور او چپاو او څه چې پاته وو هغه هم د سقاو زوی له ځان سره یووړل.

محمد نادرخان چې راغی هیڅ یې نه درلودل هغه (۱۷۵۰۰۰) سترلینګ پونډه چې یې د انګریز څخه اخیستي وو هغه د انګریز سره دده د ګوډاګی توب په قرینه کې ورحسابیدل، خو ده حوصله کوله.

محمد نادرشاه په دې پوهیدی چې په اقتصاد کې باید یوه قانونمنده لار په مخ واخلي او نو ځکه ځیني ډیر پوه او لایق خلک ځانته رانژدې کړل چې یو هم دغه عبدالمجید زابلی ؤ چې پخې تجربې یې درلودې. هغه د کابل، مزارشریف، هرات او کندهار سوداګران ودې ته وهڅول چې مړې

سرمایې په کار واچوئ. ده سهامي شرکت تأسیس کړ چې په هغه کې ډیرو پانګه والو برخه واخیستله، دولت دې شرکت ته د ځینو اقلامو د انحصار حق ورکړ او له دغې ناحیې خورا ډیرې پیسې راپیدا شوې. په دې پسې د زابلي په وسیله شرکت سهامي په ملي بانک تبدیل شو او ځینې شرکتونه هم تأسیس شول چې یو د هغو څخه هاشمي شرکت ؤ چې تر پنځه ملیونه افغانیو یې سرمایه نه زیاتیده (٥ . ٤) ملیونه دولت سهم پکښې اخیستی ؤ او نوره سرمایه یې د سرمایه دارانو وه. د دې شرکت ګټیو نور هم تشویق کړل چې شرکتونه جوړ کړي او په همدغه ۱۹۳۰ کې تر دیرش شرکته زیات جوړ شول.

پانګه والا نو پر دولت اعتماد پیدا کړ او نو ځکه ډیرې مړې او راکدې پیسې راووتې او په کار ولویدې، البته په دغه کار کې د عبدالمجید زابلي نقش ډیرې یادونې وړ دی، او همدا وجه وه چې په ټوله ظاهرشاهي دوره کې دی ډیر وخت د تجارت او اقتصاد وزیر ؤ او علاوه له دې څخه د هیواد په صنعتي کولو کې د ده برخه ډیره مهمه وه، ده ډیرې فابریکې هم په کار واچولې او د افغانستان لپاره یې یوه ډاډمنه آینده تضمین کړه.

د محمد نادرخان او محمد هاشم خان په ډیره پاملرنه هغه زیاتې ماتې او ګوډې ترمیم شوې او اقتصادي پراختیا وطن ته پریماني راوړه.

## ۸- اداري تشکیلات:

یو له هغو مهمو کارونو څخه چې محمد نادرشاه د امنیت، اقتصاد، فرهنګ او نورو پرمختیا و لپاره بنسټیز اهمیت ورکاوه هغه د سیمیزو تشکیلاتو مسأله وه.

په اوله کې شمال او جنوب، ختیځ او لویدیځ او مرکزي برخې په ریاست تنظیمو تقسیم کړې او هغو ته یې ډیر مجرب او جدي خلک ور مقرر کړل.

په ۱۳۳۰ کې چې تازه یې کابل نیولی ؤ خپل ډیر فعال ملګری محمد ګل مهمند کندهار ته د تنظیمیه رئیس په توګه رامقرر کړ.

په ۱۹۳۱ کې یې خواجه هدایت الله چې د هزاره ګانو سره یې د عقیدې اشتراک درلود، هزاره جات ته د تنظیمیه رئیس په حیث ور مقرر کړ، خو هغه په اخلاص کار ونه کړ.

څرنګه چې شمالي ولایاتو خاصه پاملرنه غوښته، نو محمد ګل خان مهمند چې وزیر داخله هم ؤ په عین زمان کې یې د شمالي ولایاتو رئیس تنظیمیه کړ. په دې لړ کې محمد نادرشاه د خپلو ځوانو سردارانو د روزنې لپاره هغوی ته هم لوی اداري اختیارات ورکول، لکه سردار محمد داؤد خان چې یې د مشرقي رئیس تنظیمیه کړ.

همدارنګه خپل ډیر تجربه کار مامورین یې هم په دغو عهدو مقررول، مثلاً: عبدالاحد خان رئیس شورا یې د فراه او چخانسور رئیس تنظیمیه کړ، دغو کسانو تر هر څه وړاندې د امنیت ساتل زیات په پام کې نیول. وروسته چې دولت بو څه مطمین شو، نو یو بل نوی او اساسي تشکیل یې منځته راوړ چې په هغه کې پنځه ولایتونه او څلور اعلی حکومتونه وو، په دې ډول:

کابل، کندهار، هرات، مزار شریف، قطغن او بدخشان، پا پنځه عمده ولایتونه وو.

فراه، سمت جنوبی، سمت مشرقي، میمنه، دا څلور اعلی حکومتونه وو، په وروسته کې پر دغو تشکیلاتو هم غور وشو او په دې چارت کې لوی حکومتونه، ولسوالی او علاقداری هم ورزیاتې شوې. خو دولت فقط د اطلاعاتی پلوه پر تشکیلاتو غور کاوه.

صدراعظم محمد هاشم خان هر والی او حاکم أعلی او د ټولو په سر کې د مخابراتو وزیر سخت متوجه کاوه چې ټیلفون باید فعال واوسی، صدراعظم هیڅکله داسې نه پېښیده چې د هر والی او اعلی حاکم څخه د هغه دقیق ګزارش وانخلی او بیده دې شي. همدارنګه ټول والیان او اعلی حاکمان مؤظف وو چې د خپلو مسؤلو کارکوونکو ګزارش هر ورځ تر رخصتی وروسته واخلی او بیا د صدراعظم ګزارش پر جوړ کړی.

د ضبط احوالاتو د اداري کار کوونکی په ناپیژندلې ډیره په ولایاتو کې فعال وو او همدارنګه ضبط احوالات هم صدراعظم د ولایاتو له جریان څخه خبراوه په دې توګه اداري تشکیلات د امنیت په خدمت کې وو.

## ۹- فرهنګي فعالیتونه:

محمد نادرشاه پخپله بو بافرهنګه سړی ؤ، نو ځکه یې د سقاوی په دوره کې چې فرهنګ ته کومه صدمه رسیدلې وه د هغې د جبیرې لپاره ډیره پاملرنه وکړه. د امانی دورې هغه بو شمیر روښانفکران چې له زندان څخه د باندې پاته وو هغه یې په یوه انجمن کې راټول کړل، د کابل ادبی انجمن یې د لاندې غړو څخه د ۱۹۳۱ کال د جون په ۵ پرانیستې:

۱- احمد علی خان درانی مدیر

۲- میرغلام محمد غبار

۳- محمد کریم نزیهي

٤- سرور ګویا

۵- سرور جویا

٦- غلام جیلانی خان اعظمي

۷- غلام جیلاني جلالي
۸- قاري عبدالله
۹- عبدالعلي مستغنی
۱۰- امین الله زمریالی
۱۱- محمد قدیر ترکی
۱۲- احمدالله کریمي.

دې انجمن د کابل په نامه یوه مجله هم خپره کړه او په تاریخ او ادبیاتو کې یې د یادونې وړ کارونه سر ته ورسول.

محمد نادرشاه فرهنګي کار ته پخپله توجه کوله، په علی آباد کې چې د استقلال د لمر نښان څخه پنځه سوه جریبه ځمکه ورکول شوې وه هغه یې روغتون او پوهنتون ته وقف کړه. دده په امر ډیر ښوونځي فعال شول او په کندهار کې وزیر محمد ګل خان د کندهار ادبي انجمن جوړ کړ چې د هغه ځای لیکوالان او روښانفکران پکې راټول وه او د پښتو په نامه یې یوه مجله هم خپروله.

همدا رنګه د هرات ادبي انجمن هم فعالیت پیل کړ چې ډیر د قدر وړ آثار یې خپاره کړل.

د محمد نادرشاه په وخت کې یو فرهنګي غورځنګ راپورته شوی ؤ او هرچا مینه ښکاره کوله چې په هغه کې برخه واخلي.

محمد نادرشاه د هرې حرفې او شغلې خلک په خپل کار کې مشغولول او ده به ویل ډیر بد حالت هغه دی چې خلک بې شغلې شي او د بې کاره سوی کله (سر) د شیطان کارخانه ده.

د فرهنګي قدردانی یوه نښه یې پخپله د غه ده چې ده پخپله د معارف مډال د یوه محصل پر ځیګر وتړومبی چې هغه د لاندې له خوا د تفنګچې مرمی پر ورخوشې کړې. د محمد نادرشاه فرهنګي هڅې بندی نشوی، بلکې دوام یې پیدا کړ.

## ۱۰- د دولت خارجی سیاست:

محمد نادرشاه او ورونه یې د سیاست په رمز آګاه وو، ځکه دوی په اماني دوره کې په خارج کې دیپلوماتیک ماموریتونه سر ته رسولي وو، خو تر ټولو مهم اصل چې دغه ورونه هغه ته جدی معتقد وو هغه د محمد نادرشاه قیادت او رهبري وه.

محمد نادرشاه هغه مهال چې د فرانسې څخه د وطن پر خوا را روانیدی او کابل د کلکاني حبیب الله تر ضربې لاندې ؤ هم هلته یې د انګریزي مامورینو سره ښکاره او پټې لیدنې کړې وې، کله چې د فرانسې د نیس له بندر څخه ببئی ته ورسیدی دلته یې د بریتانوی هند له مامورینو سره بیا

هم خپله خبره پخه کړه او هغو داړ ورکړ چې دده د کار خنډ به ونه ګرځي.

کله چې خوست ته راورسید، په دې وخت کې امان الله شاه د کندهار د پنځه زره کسیز لښکر سره غزني ته ورسید او په یقین چې د حبیب الله کمبله یې ورټولوله، خو حضرت نور المشایخ د کتواز پنځه زره سلیمانخیل پر غزني راسوق کړل، داسې ویل کیږي چې دد غې لښکر کنبې مصرف انګریز ورکړی ؤ چې امان الله د صحنې ووځی او نادرخان بچه سقاو ووهی.

امان الله په غزني کې په دې پوه شو چې هر څومره لښکرې ولري او هر څومره قومونه ورسره وي انګریز دده د وهلو پلان لري، نو د وضع د درک شاته وګرځاوه، څو د کندهار څخه بریتانوي هند او بیا ایټالیا ته ولاړ.

د امان الله تر وتلو وروسته محمد نادرشاه ته د سقاو د وتلو زمینه ښه مساعده شوه، څو بریالی شو.

محمد نادرشاه د شوروي څخه هم بې تشویشه نه ؤ، خو په ډیر ځراکت یې هغوی په خپل وجرد قانع کړل او د هغو د افزایش یې ورته عملی کړ چې په مرکزي آسیا کې یې د ابراهیم بیګ د برغلونو د مخنیوي لپاره پر هغه د افغانستان دروازې بندې کړې او کله چې تر آمو ها خوا ته وروتښتید روسانو ونیوئ او نیست او نابود یې کړ.

د ایران او ترکیې سره یې د نژدې دوستۍ لپاره ډیر دقیق او سیاستمدارانه پلانونه عملي کړل.

سرحد او قبایلو په باب یې د انګریز سره په مناسباتو کې هیڅ خدشه وارده نشوه او حتی ویل کیدل چې د سرحد په باب په یو معمولی کار کې یې هم د انګریز مرضي معلوموله.

په عمومي توګه افغانستان یو مستقل هیواد ؤ خود استقلال هنګامې یې نه بزغیدئ او د غه سوړوالی د اماني دورې طرفدارانو ته موقع برابره کړه چې دا آوازه خپره کړي چې محمد نادرشاه د افغانستان تر استقلال تیر شوی او د امیر حبیب الله خان د وخت آزادی به ولری خو دا ټوله خصمانه آوازې وې.

## ۱۱ – د محمد نادرشاه ناڅاپي قتل:

اعلیحضرت محمد نادرشاه د خپلې ټولې محتاطي ورزې سره د یو شمیر انتقام جویانه احساساتو قرباني شو.

محمد نادرشاه په ظاهره ډیر آرام او خاموشه سړی ؤ، نه یې ډیرې خبرې کولې، نه یې پر حرارته ویناوې ایرادولې، خو په دننه کې سخت انتقام جویه سړی ؤ. دا یله خبره ده چې دی هوښیار او مدبر سړی ؤ او وطن ته هم د غسې جدي سړی په کار ؤ، ولې په ځینو مواردو کې یې خپل قهر هیڅ تیرولی

ښوای او لکه افعی مار پر خپل ښکار به يې حمله کوله، مثلاً د عبدالرحمن خان لودی سره پر دوړ ی ناست ؤ خبره يې سر د و اوښته، د ه هغه ته غدار ووايه چې د امان الله سره يې غدر کړی دی، خو هغه هم عصبی سړی ؤ ، د د ته په ځواب کې د غاصب خطاب وکړ او نادرخان هم ناري کړل چې دغه سړی لاندې تير باران کړئ». (۱)

همداراز د څرخي غلا نبی خان وژل هم يو انتقام جويانه حرکت ؤ، کيدای شوای چې دغه کورنی يې له ځانه راضي ساتلی وای.

ددې قسمه نور هم عصبيتونه او فشارونه زيا تيدل او هرې خواته د انتقام دو جانبه اور بل ؤ.

د ضبط احوالاتو شبکو د خطروړ کو اطلاعاتو راپورو نه صدراعظم او باچا ته ورکول او هغو هم د خشونت څخه کار اخيست. زندانونه په خلکو ډ ک وه او هيڅوک د کور او کار د مصئونيت څخه مطمئن نه وو، ماته مير عبدالعزيز چې يو ځل د کابل والی هم ؤ په جلال آباد کې ويل چې دغه اطلاع هم رسيدلې وه چې د څرخيانو کورنی په دې کار اخته دی چې باچا يا صدراعظم ووژنی (مير عبدالعزيز يوه موده د ضبط احوالات معاون هم ؤ) خو و اطلاع ته چندان اعتنا و نشوه، څو دا ؤ چې د ۱۹۳۳ کال د نوامبر په ۸ عبدالخالق نومی د نجات د ليسې محصل اعليحضرت محمد نادرشاه د تفنگچې په مرمی مړ کړ.

معروف انگريز مؤرخ سرپرسی سايکس د محمد نادرشاه د قتل د حادثې په باب وايي: «... په دې توگه محمد نادرشاه د افغانستان په زمامدارانو کې ځای لری، سرنگون شو. هغه يې له پيسو په داسې حال کې چې د ناروغی رنګ هم په پورې وو صرف په خپل شخصيت او خپل شهامت هيواد ته نجات ورکړ چې د يو غاصب او ظالم د استبداد تر لغتو لاندې زهيريدی. ده هيواد له بوې دورې انارشی څخه چې ښايي يو نسل يې په غيبر کې نيولی وای نجات ورکړ. ده له هغه وخته چې پر تخت يې تکيه وکړه د ملي يووالی لپاره زمينې برابری کړی.» (۲)

د محمد نادرشاه تر وژلو وروسته هغسې چې انتظار کيدی په انتقام کې به يې ډيرې وينې توی شي د باچا ورونو او د دولت امنيتي مقاماتو لاس لنډ وساتی، خو نادرشاه واقعاً يوه غته ضايعه وه.

---

(۱) دغه بيان ما ته (ددې کرښو ليکوال ته) مرحوم حاجی بازمحمد د معين خيرمحمد خان وروړ کړی دی چې ويل زه د وروړ سره دغه ډوډی د ميز پر سر حاضر وم.

(2) Sir Percy Sykes A History of Afghanistn vol 2 p 283.

# اتلسم فصل

## پر خدای متوکل باچا

### ۱ - کورنۍ شورا داصولنامې مطابق محمد ظاهرشاه په باچهی ومانه:

کورنۍ شورا د محمد نادرشاه په کورنۍ کې یوه عنعنه وه، په دې شورا کې د یحیی خان د کورنۍ مشران به وخت پر وخت راټولیدل او پر روانو جریاناتو به یې غور او بحث کاوه، دغه کار ته محمد نادرخان په خورا ډېر اهمیت قایل ؤ. نو کله چې د ۱۹۳۳ کال د نومبر په ۸ محمد نادرشاه ووژل شو په هم هغه شپه د کورنۍ شورا غونډه وکړه او د اساسي اصولو د (۵) مادې مطابق یې د فقید باچا یوازنی زوی محمد ظاهر شاه چې عمر یې ۱۹ کلو ته رسیدی د محمد نادرشاه پر ځای په باچهی ومانه.

د باچا کورنۍ چې ډېر ستر غړی یې د لاسه ورکړی ؤ، خو په دې بیا ډاډه وه چې د مرحوم اعلیحضرت وروڼه په خاصه توگه محمد هاشم خان ډېر هوښیار با تدبیره او د سیاست په رمز آگاه شخصیتونه وه.

ACKU

د افغانستان روښانفکره کسان په دې ډېر اندېښمن وه چې هم باچا محمد نادرشاه او هم د هغه مشر ورور محمد عزیز خان په آلمان کې د افغانستان وزیر مختار دواړه د معارف تعلیمیافته ګانو ووژل، نو ښايي باقي ورونه په خاصه توګه صدراعظم محمد هاشم خان به د معارف دروازې وتړي، خو دغو مشرانو دا کارونه کړ، بلکې معارف ته یې خپله پاملرنه هم هغسې لکه پخوا، بلکې تر هغه زیاته وساتله او د ښوونځیو او تعلیمي مرستو شمېر کال په کال مخ پر زیاتېدو ولاړی.

کورنۍ شورا محمد ظاهرشاه باچا اعلان کړ، خو د هغه په وضع کې تر هغه پخوانۍ شهزادګۍ څه زیاتوب رانغی او د کاربوج ټوله دده د مشر تره صدراعظم محمد هاشم خان پر اوږو ؤ.

د کورنۍ شورا یو عمده خصوصیت دا ؤ چې مسایل یې ډېر جدي تر بحث لاندې راوستل او پرنسیپونه یې مراعاتول او کله کله به یې حتی د صدراعظم کارته هم د انتقاد ګوته نیوله او صدراعظم هم په دغه شورا کې په حوصله یا هغو ته قناعت ورکاوه یا یې پخپله قناعت کاوه، خو تر شورا د باندې هیچا جرئت نه درلود چې صدراعظم ته په جګو سترګو حتی وګوري.

په کورنۍ شورا کې ځوان هلک باچا محمد ظاهرشاه د مجلس په رأس کې د رئیس په حیث کښېنستی، خو نظر او فیصلې ټوله د مشرانو په خاصه توګه د صدراعظم محمد هاشم خان د نظر سره په مطابقت کې کېدلی.

کورنۍ شورا چې باچا محمد ظاهر شاه ومانه، نو د اساسي اصولنامې مطابق ټول ملت ورته تابعیت وکړ، نوم یې په خطبه کې یاد شو او سکه یې په نامه ووهله، خود کورنۍ شورا په مصلحت محمد ظاهرشاه د المتوکل علی الله لقب هم ځانته وټاکئ چې ځلوېښت کاله یې د نامه ضمیمه ؤ.

## ۲ - د محمد ظاهرشاه شخصیت او سابقه:

محمد ظاهرشاه د محمد نادرشاه زوی ؤ چې په ۱۹۱٤م کال کې زېږېدلی ؤ او په ۱۲ کلنۍ کې هغه مهال چې پلار یې د اعلیحضرت امان الله شاه له خوا په فرانسه کې وزیر مختار شو د هغه سره فرانسې ته ولاړ، محمد نادرشاه دی او دوه نور وریرونه محمد داود او محمد نعیم یو ځای تعلیمي مؤسسې ته معرفي کړل. شپږ کاله یې هلته فرانسوي ژبه او یو څه انګریزي زده کړه، خو کله چې محمد نادرشاه په کابل کې د افغانستان د باچا په توګه کار پیل کړ، نو شهزاده محمد ظاهر یې له فرانسې راوغوښت او دی هم په ۱۹۳۰ کې کابل ته راورسید.

محمد نادرشاه په دې پوهېدئ چې دده تر حضور لاندې باید هم دلته زده کړه وکړي چې د وطن په خوی او بوی بلد شي. یو کال وروسته یې د خپل تره د زوی سردار احمدشاه خان لور حمیرا و دغه شهزاده ته په نکاح کړه او په دې پسې یې په نظامي اکاډمۍ کې داخل کړ چې هغه یې هم عاجل

ولوستله او په دا بل کال هد حربیې د وزارت مرستیال شو.

محمد نادرشاه یوازې خشک عسکری مسلک ته نه ورخوشې کاوه، بلکې د معارف له چارو سره یې هم آشنا کړ او یوځل هم د معارف د وزارت مرستیال شو. دی د یوې لویې حرصلې خاوند سړی ؤ او په کارکې هم نه ستړی کیدئ.

معروف انګریز ډیپلومات او مؤرخ سرپرسی سایکس وایي: «په ده کې (یعنی محمد ظاهرشاه) د پلار استعداد په وراثت ځای شوی ؤ، ده د عسکری، په خاصه توګه د چارو سره ډیره علاقه درلوده او سپورت ته یې ډیر اشتیاق ؤ.»(۱)

محمد ظاهرشاه اوردې ویناوې نه کولې او په خبرو کې یې هم ډیرې اوریدلې او لږ یې پخپله خبرې کولې، خو په خبرو کې ډیر با ادبه او د مقابل طرف ټول کړه وړه یې په نظر کې نیول.

په یوه وروستی سفر کې چې ایتالیا ته یې وکړ د پخوانی باچا امان الله خان سره یې وکتل او یوځای یې په مطبوعاتو کې عکس خپور شو، او دا حرکت یې د افغانستان ځوان نسل او روښانفکران چې د امانی دوران او امان الله خان قیصې یې اوریدلی وې پر محمد ظاهرشاه مین کړل. کله چې امان الله خان د سویس په زوریخ کې وفات شو او جنازه یې افغانستان ته راوړل شوه او بیا په جلال آباد ښخ شو، نو فاتحه یې محمد ظاهرشاه واخیستله.

په ۱۳۵۲ هـ ش کې محمد ظاهرشاه د ووطن ځخه د باندې ؤ چې دلته دده د تره زوی او پخوانی صدراعظم کودتا پر وکړه او دی یې خلع کړ. محمد ظاهرشاه تر اوسه د ایتالیا د روم په ښار کې اوسی او اوس ډیر سپین ږیری شوی دی، خو پیغامونه یې د وطن په نامه خپرېږي.

## ۳- د محمد ظاهرشاه په امر د هاشم خان کابینه جوړه شوه:

د محمد نادرشاه تر وژل کیدو وروسته چې محمد ظاهرشاه باچا شو هغه سمدستی خپل تره پخوانی صدراعظم محمد هاشم خان بیا په صدارت مامور او هغه هم د ۱۹۳۳ کال د نوامبر په ۱۲ خپله کابینه په دې توګه باچا ته معرفي کړه:

سردارشاه محمود خان حربیه وزیر.

فیض محمد خان خارجه وزیر.

محمد ګل خان داخله وزیر.

فضل احمد خان مجددي عدلیه وزیر.

احمد علی خان د معارف وزیر.

(1) Sir Percy Sykes . A History of Afghanistn Tow vol 2 p 330.

میرزا محمد خان د تجارت وزیر او د مالیې د وزارت کفیل.

الله نواز خان د فواید عامې وزیر.

محمد اکبرخان د طب مستقل مدیر.

رحیم الله خان د پُست او تلگراف او ټیلفون مستقل مدیر.

کابینې به په هفته کې یو ورځ د صدراعظم په مشرۍ غونډه کوله او په هغه کې به هر وزیر د خپلې ادارې د اجرآتو په باب صدراعظم ته گزارش ورکاوه او د کار په مربوطه ساحه کې به یې د یوه نوي انکشاف په باب نظر څرگنداوه، صدراعظم سخت دقیق سړی ؤ، دده د مجلس جریانات پخپله دیکته کول او بیا به د مجلس منشي هغه د تصویباتو کتاب ته رسول، خو هغه امر به چې صدراعظم په سره رنگ د کوم وزیر پر پیشنهاد ورکړی ؤ، هغه ډیر جدي تلقي کېدی او حتی صدراعظم به ددغسې کار د اجراء لپاره وخت هم تعیناوه او که به نه ؤ اجراء شوی نو بل وزیر ته به یې هدایت ورکاوه چې د هغه په وزارت خانه کې دغه کار اجراء کړي.

د مجلس وزرا اسرار ډیر پټ ساتل کېدل، یو ځل محمد اکبر خان د مجلس یوه قصه کوم ځای کړې وه، کله چې صدراعظم خبر شو، نو هغه یې سمدستي د کابینې څخه وایستې.

صدراعظم د وخت د حساسیت په وجه امنیت او ادارې ته ډیر متوجه ؤ، نو ځکه د کار زیاته برخه یې د محمد گل خان وزیر داخله سره وه، محمد گل خان نه لوی صلاحیت ورکول شوی ؤ او هغه هم له دغه صلاحیت څخه ډیره سالمه استفاده کوله.

په دوهمه برخه کې اقتصادي مسایلو ته زیاته پاملرنه کېدله، په دې برخه کې عبدالمجید خان زابلي چې د پخوا څخه د اقتصادي پراختیا لپاره یې خپل صلاحیت ثابت کړی ؤ صدراعظم جدي مشورې اخیستلې وروسته یې په کابینه کې د اقتصاد د وزیر په حیث ورسره شامل کړ.

صدراعظم د تلگراف او ټیلفون مستقل مدیر ډیر جدي څارل او ویل به یې چې د هر ډول زیان او تاوان حوصله لرم، خو دا نشم تحمل کولای چې یوه دقیقه هم ټیلفون خراب یا معطل شي او د ټیلفون مؤظفین پوهېدل چې صدراعظم واقعاً د ټیلفون د خرابۍ تحمل نه لري.

## ٤- د ملکي تشکیلاتو نوی جوړښت:

سردار محمد هاشم خان یو استخباراتي شخصیت ؤ، دده همیشه د پټو اطلاعاتو دفتر د خپلو اداری کارونو لاربنود گرځاوه. مخصوصاً چې محمد نادرشاه ترور شو او دده هم زندانونه په بندیانو ډک کړي وو او هرې خواته ویره خپره وه، نو بنیادي او بنستیز کار یې دا وباله چې اداري سیمه ایز تشکیلات داسې عیار کړي چې دده استخبارات د هغو اداری ته ورسیدی شي.

په دې کار کې د ده يو طبيعي استعداد درلود او ځينو کسانو چې ليدلي ؤ وايي چې رواني عقدې يې د دې باعث وې چې ټولنه په شکنجه کې وساتي، د ده د فشار دورې ته استبداد صغير ويل شوي دي دا په دې معنا چې د امير عبدالرحمن دوران استبداد کبير ؤ.

ده په ډير دقت په ۱۳۱۳ (۱۹۳٤) کې د افغانستان د ملکي تشکيلاتو يو نوی چارټ وړاندې کړ او دا په ډير احتياط لکه يو بافت داسې سره پيوند شوی ؤ.

تشکيل داسې ؤ:

۱- کابل ولايت:

لوی حکومتونه ٤ ، محلي حکومتونه ۲۵ ، علاقداری ۳.

۲- کندهار ولايت

لوی حکومتونه ۳ ، محلي حکومتونه ۱۷ ، علاقداری ۲۱.

۳- هرات ولايت:

لوی حکومتونه ۲ ، محلي حکومتونه ۸ ، علاقداری ۱۹.

٤- مزارشريف ولايت:

لوی حکومتونه ۱ ، محلي حکومتونه ۱۲ ، علاقداری ١٤.

۵- قطغن او بدخشان ولايت:

لوی حکومتونه ۱ ، محلي حکومتونه ۱۷ ، علاقداری ۱۷.

٦- سمت مشرقي ولايت:

لوی حکومتونه ۱ ، محلي حکومتونه ۱۱ ،علاقداری ۱۰.

۷- سمت جنوبي ولايت:

لوی حکومتونه ، محلي حکومتونه ۵ ، علاقداری ۲۵.

۸- ميمنه ولايت:

لوی حکومتونه، محلي حکومتونه ۵ ، علاقداری ٦.

۹- فراه ولايت:

لوی حکومتونه، محلي حکومتونه ۲ ، علاقداری ٦.

په دې ټوله تشکيل کې قومي بافت هم په نظر کې نيول شوی ؤ او حتی په استخباراتی چارو کې د دې لپاره چې د قومونو د اتحاد په برخه کې د قيامونو مخه ونيسي ډير ځله يې دغه تشکيلات مانع کيدل او دغه کار تر دا اخيره ټولو حکومتونو، په خاصه توګه په پکتيا کې سرته رساوه. دغه تشکيل پخپله صدراعظم تر مراقبت لاندې ساتی او حتی هره شپه يې په ټيلفون کې احوال اخيست، هر والي، لوی حاکم او حتی محلي حاکم چې به يې توجهی وکړه، نو په هم هغه وخت کې يې د وظيفې څخه پسې اخيست.

## ۵ - د سعدآباد په تړون کې د افغانستان غړیتوب:

د دوهم نړیوال جنګ ځړه او ګرد له جنګ څخه څلور پنځه کاله وړاندې لا د اروپا پر سر څرخېدله او کله کله به یې پر آسیا هم څپه راوهله.

د شلمې پېړۍ په دېرشمو کلونو کې په آلمان کې نازیزم او په ایتالیا کې فاشیزم ژېړري لمبې وکړي، څو په ۱۹۳٦ کې د روم او برلین محور جوړ شو چې د جنګ په دوران کې یې جاپان، بلغاریا او ځینې نور هم غړي شول. د دې جریان مخه که څه هم په اول کې د هسپانیې خواته وه چې جنرال فرانکو یې حمایت کاوه، خو کله چې ایتالیا پر حبشې حمله وکړه او په کامله سپین سترګی یې هغه آزاد مملکت په خپله ولکه کې راوست، نو جامعه ملل هم د دغه تجاوز مخه ونه نیولای شوای او په دې توګه هغه نړیواله مؤسسه له منځه ولاړه.

دغه خطر د نژدې ختیځ او منځنی ختیځ له لارې سیمې ته متوجه ؤ چې تر هر څه وړاندې یې ترکیه او عراق او وروسته یې ایران او افغانستان هم تهدیداوه.

د بلې خوا لویدیځ هیوادونو اتحاد شوروي ته هم په شک کتل چې بنا یې که وضع یو څه بحراني شي، نو شوروی دې پر دغه سیمه یرغل وکړي.

د همدغو جریاناتو له مخې تصمیم ونیول شو چې ترکیه، ایران، عراق او افغانستان په یوه تړون کې سره رایوځای شي، ځرنګه چې مصطفی کمال وفات شوی ؤ، نو رضاشاه پهلوی په دې پوهیدی چې دی معمر مشر دی او حتماً به قیادت دده وي. نو دا ؤ د ۱۹۳۷ د جولای په ۷ د تهران د سعد آباد په ماڼۍ کې د دغو څلورو هیوادونو نمایندګانو پر یوه تړون لاسلیک سره وکړه چې وروسته د سعدآباد په تړون یاد شو.

په دې تړون کې څلورو هیوادونو: افغانستان، ترکیې، ایران او عراق فیصله وکړه چې د خارجي تجاوز په وخت کې به یو د بل حمایت ته رسیږي او همدارنګه په اقتصادي او کلتوري برخو کې به یو دبل همکاري سره کوي.

د هم هغه کال په سپتمبر کې په ژنیو کې د ترقي او اتفاق شورا غونډه وکړه او د سعد آباد د تړون څلور هیوادونه یې هم د هغې شورا په غړیتوب وټاکل.

ځرنګه چې افغانستان لویو بین المللي جریاناتو ته ورننوتی، نو په ۱۹۳۹ د اروپا او ختیځ وضع یوه ریږدونکی بحران په څپو واوستلې وه او د دوهم نړیوال جنګ لړې پر نړۍ راخپرېدی نو د دې لپاره چې څلور غړي چې د سعد آباد په تړون کې شامل وه، یو مشترک محاذ غوره کړي، دد غه

کال په اپریل کې علي محمد خان خارجه وزیر تهران ته ورغی، خو چندان راضي رانغی.

دا تړون یو خنثی په نامه پاتهٔ په ۱۹٤۳ کې چې جنګ هم په شدت ادامه درلوده د تړون د موادو مطابق پس له پنځه کاله خود بخوده یې دوام تائید شو، خو جنګ بې ضرورت له منځه یوړ ځو پسې ختم شو، او د همدغه تړون پرمخ ؤ چې د بغداد او سنتو تړونونه منځ ته راغلل او د افغانستان څخه یې وغوښتل چې غړیتوب یې ومني.

## ٦- د افغانستان او آلمان نژدېوالی:

افغانستان د لومړی نړیوال جنګ څخه د آلمان پاملرنه جلب کړې وه چې په نتیجه کې د ترک او آلمان هیأت کابل ته راغی او امیر حبیب الله خان یې دې ته تشویق کړ چې د انګریز پر ضد جهاد اعلان کړي، خو دا نقشه بر بالی نشوه، ولی تر جنګ وروسته بیا هم آلمان او افغانستان دواړو ډیر نژدې او دوستانه اړیکی ټینګ کړل چې د امان الله خان د اروپا په سفر کې آلمان خاص ځای درلود.

د محمد نادرشاه په وخت کې هم آلمان ته پاملرنه زیاته وه، لکه چې باچا خپل وررور محمد عزیز خان له مسکو څخه برلین ته د وزیر مختار په توګه راتبدیل کړ، په ظاهرشاهي دورې په لومړی لسیزه کې هم دغه پاملرنه دوجانبه موجوده وه.

په ۱۹۳٦ کې شاه محمود خان حربیه وزیر په آلمان کې د بین المللي المپیا د لوبو لیدلو لپاره هغه هیواد ته ولاړ، په دې پسې صدراعظم محمد هاشم خان د علاج لپاره هغه هیواد ته ورغی.

همدا رنګه فیض محمد خان خارجه وزیر او عبدالمجید خان د ملي اقتصاد وزیر د وسلو د رانیولو، صنعتي ماشینونو او د کار پېژندونکو (متخصصینو) د استخدام او د ملي اعتباراتو د حصول لپاره آلمان ته ولاړل. حتی ویل کیدل چې افغاني هیأتونو د هټلر سره هم کتلي او هغه ډیر دروند هرکلی ورته ویلی ؤ.

په همدغه وخت کې (۱۹۳۷) لوفت هنزا الوتکی په هفته کې یو ځل د کابل او برلین ترمنځ الوتنې پیل کړې، افغانانو د آلمان څخه وسلې رانیولي او په ۱۹۳٦ کې د کاني موادو د تفحص تړون وشو او په دغه برخه کې المان او افغان مختلط شرکت تاسیس شو. په ۱۹۳۷ کې د سوداګری د اعتباراتو قرارداد لاسلیک شو چې یو شمیر متخصصین افغانستان ته راغلل. آلمان په ۱۹۳٦ کې افغانستان ته ۲۱ ملیونه مارکه اعتبار ورکړ چې په هغه د تجارت د پراختیا زمینې برابرې شوی.

ددغو اړیکو پراختیا البته پر انګریز ښه نه تمامیده، خو ډیر تشویش وړ یې هم نه بلله او پخپله محمد هاشم خان چې د آلمان سره په روابطو کې هرګام مخته اخیست. یو ځل به یې د بریتانوی هند د مامورانو نبض کتئ او هغو هم پر محمد هاشم خان اعتماد درلود، نو ځکه حتی قضا ددې

اجازه هم افغانستان ته ورکړه چې د بین المللی فشار سره د جګړې په دوران کې آلماني متخصصین ونه شړي، خو آلمان چې د ۱۹٤۱ د جون په ۲۲ پر شوروی حمله وکړه، نو شوروی د ۱۹٤۱ په اکتوبر کې افغانستان ته یو یاددانبت راولیږه چې په افغانستان کې د آلمانیانو وجود شوروي زغملی نشي، په دې پسې انګریزانو هم دغسې یو اخطار صادر کړ، څو افغانستان مجبور شو چې آلماني او ایټالوی متخصصین د خپلې خاورې وباسي.

افغانستان د آلمان سره اړیکې د جنګ په ورځو کې لیرې شوې، خو تر جنګ وروسته چې آلمان بیا راژوندی شو، افغانستان پخواني اړیکی ورسره نوي کړل.

## ۷- افغانستان د دوهم نړیوال جنګ په وخت کې:

دوهم نړیوال جنګ چې په ۱۹۳۹ کې پیل شوی ؤ په ۱۹٤٥ کې پای ته ورسیدئ. ددې جنګ لمبې چې له اروپا څخه اوچتې شوې وې ډیری ژر آسیا او د نړۍ نورو برخو ته ژبورې شوې.

ددې جنګ دوه طرفونه د محور او متفقینو په نامه یادیدل چې په محور کې آلمان، ایټالیا، جاپان او د ختیځی اروپا کوچنی هیوادونه شامل وو او په متفقینو کې انګلستان، فرانسه، شوروی اتحاد، د امریکا متحده ایالتونه او یو شمیر نور اروپایي هیوادونه شامل وو.

دا یو خطرناک جنګ ؤ، هغه چې مستقیماً په جنګ کې داخل وه ډیر مالی او ځانی زیانونه وروړسیدل او هغه چې شامل نه وه هغه هم بې زخمه پاته نشول.

ددې جنګ په دوران کې چې د افغانستان په شمال کې شوروی روسیه په لویدیځ کې ایران او په جنوب او ختیځ کې بریتانوي هند پکې رائسکور شول په افغانستان کې محمد ظاهرشاه باچا او سردار محمد هاشم خان صدراعظم ؤ. محمدهاشم خان په ډیر لوی تدبیر نه یوازې افغانستان د جنګ له لمبو څخه وژغورئ او وطن ته زیان ونه رسیدئ، بلکې د اقتصاد د تنګیو سره سره یې حتی د سیما څخه کافی ډالر هم ذخیره کړل چې وروسته په پراختیایي پروژو کې کار ورڅخه واخیستل شو.

د جنګ په پیل کې د ۱۹۳۹ د سپتمبر په ٦ په باچایی فرمان سره په جنګ کې افغانستان بې طرف اعلان شو.

کله چې جنګ زور واخیست او د محور قواوې د ختیځې اروپا له لارې د شوروی روسیې خاورې ته داخلې شوې او دلته یو شمیر محوری او متفقینو قواو غوښتل افغانستان هم لکه ایران خپله پایګاه جوړه کړی شو د ۱۹٤۱ کال د جولای په ۲۸ افغانستان یو ځل بیا خپله بې طرفی تائید کړه.

په دې پسې د همدغو ۱۹٤۱ کال په نوامبر کې لویه جرګه راغوښتل شوه او هلته په جدی

توګه افغانستان بې طرف اعلان شو. څرنګه چې په افغانستان کې یو شمیر المانی او ایتالوی انجنیرانو په ځینو پروژو کې کارونه کول، ددوی په باب هم شوروي روسیې او هم بریتانوی هند تشویش څرګنداوه، نو دا ده چې د ۱۹٤۱ په اکتوبر کې شوروي اتحاد او په هغه پسې انګلیس افغانستان ته یادداښتونه ورکړل چې دغه آلمانیان او ایتالویان وباسي او افغانستان هم د ځینو شرایطو په منلو دې کار ته غاړه کښېښووله او هغه کارکوونکي یې په عزت د افغانستان څخه وایستل.

د جنګ سنګیني پر افغانستان هم پر یوته او یو شمیر امنیتي ستونزې یې منځته راوړې، خو مدبر صدراعظم محمد هاشم خان چې په عین زمان کې یو مستبد شخص و په جدي توګه د افغانستان اوضاع نورمال وساتله او د هغه وخت د شرایطو سره په مطابقت کې د محمد هاشم خان کار د هر ډول ستاینې وړ دی.

## ۸- د محمد هاشم خان استعفا او د سپه سالار د حکومت پیل:

د دوهمې نړیوالې جګړې په پای کې چې هرې خواته نوی تحولات را روان وو افغانستان هم پر پخواني حال خپل سیاسی ژوند ته ادامه نشوای ورکولای.

سردار محمد هاشم خان چې ۱۸ کاله یې په تریو تندي او شلاخو حکومت کړی و، تر جنګ وروسته دموکراسي د ورځې شعار وګرځید او محمد هاشم خان د یو هوښیار شخصیت په حیث پوهیدئ چې نور دده د وجود بقا تر ضرورت د باندې ده او ده نشوای کولای چې د ورځې له شعار سره ځان عیار کړي.

دا مسأله د باچایی کورنې په شورا کې مطرح شوه او هلته محمد هاشم ځان پخپله اعتراف وکړ چې نور دده اداري او سیاسي ژوند پای ته رسیدلی دی او ددغه نوي عصر سره یې د خپل کشر ورور سردار شاه محمود خان کرکتر مناسب وباله او دا نظر ټولو تائید کړ.

د سردار محمد هاشم خان څخه د قدرت انتقال چې څونه فکر کیدی تر هغه په ډیر سهولت سرته ورسید، ښاغلی ډاکتر بورګي په خپل اثر (د افغانستان دوهم اساسي قانون ته یوه کتنه کې) ددغه انتقال په باب یو ډیر ارزښتمند سند وړاندې کوي، دی لیکی: «... ښاغلی عبدالرحمن پژواک یوه ورځ په پیښور کې د محمد هاشم خان د استعفا په باب په یوه صحبت کې وویل چې ما (پژواک) په وزارت خارجه کې کار کاوه چې راته وویل شوه ما پښین صدراعظم صاحب ته ورشم او زه هم ورغلم، هلته هغه را ته وویل چې زما له خوا یوه استعفا ولیکه! ما په تعجب وویل چې صدراعظم صاحب تاسو استعفا کوئ؟ ده وویل هو، زه اوس سپین ږیری شوی یم او باید ځوانان کار وکړي،

وروسته ما یوه لیکنه وکړه چې د شپې هم هغه زما لیکنه له راډیو څخه نشر شوه. »(۱)

نو داؤ چې د ۱۹٤٦ په مې کې محمد هاشم د ناروغی په عنوان له وظیفې څخه مستعفی شو او پر ځای یې د مې د میاشتې په ۹ سپه سالار سردار شاه محمود خان د باچا له خوا په صدارت مامور شو او اجازه ورکول شوه چې خپله کابینه جوړه کړي.

سپه سالار سردار شاه محمود خان یو نرم طبیعته او دموکرات سړی ؤ، ده د خپل صدارت له پیل څخه ځینې اولسي کارونه پیل کړل چې د خلکو د خوښی باعث وګرځېدل او کله چې به په ټولنو کې راڅرګند شو نو خلکو په لاسونه ورته پړ کول او د زنده باد دموکراسی شعارونه به یې ورکول.

خلکو د ډیرې مینې پر شاه محمود خان د دموکراسی د پلار نوم کښېښود او ده هم په دغه نامه خوشحالي کوله، شاه محمود خان یوه خلاصه فضا رامنځته کړه او پخوانی د خپسکی دروند والی یې له ټولنې پورته کړ.

## ۹- د سپه سالار کابینه:

سپه سالار سردار شاه محمود خان چې د ۱۹٤٦ څخه تر ۱۹۵۳ پورې اوه کاله صدراعظم ؤ څو واره یې د کابینې په غړو کې بدلون راوست چې په تفصیل د هغو ټولو معرفي کول د دې لیکنې له حوصلې څخه د باندې ده نو د لته صرف د ده د لومړی کابینې غړی معرفي کیږي:

د دفاع وزیر سردار محمد داؤد خان

خارجه وزیر علی محمد خان بدخشي

داخله وزیر فاروق خان عثمان

عدلیه وزیر میرعطاء محمد خان حسینی (هراتی)

مالیه وزیر میرزا محمد نوروزخان لوګری

د معارف وزیر نجیب الله توروایانا

د اقتصاد وزیر عبدالمجید خان زابلی

د فوایدعامې وزیر انجنیر محمد کبیر لودین

صحیه وزیر سلطان احمدخان

د پست او تلګراف وزیر غلام یحیی خان طرزی

د کانو وزیر غلام محمد خان شیرزاد

(۱) ډاکتر بورګی (د افغانستان دوهم اساسي قانون ته یوه کتنه) ۱۰٦ مخ. ددغه مخ مطلب ما آزاد را اخیستی دی خو په محتوا کې یې تغییر نه دی راغلی.

د مطبوعاتو مستقل رئیس صلاح الدین سلجوقي
د زراعت مستقل رئیس ډاکتر محمد یوسف خان (په فرانسه کې یې تحصیل کړی ؤ)
د دربار وزیر سردار احمدشاه خان
د صدارت اول معاون علی محمد خان بدخشی
د صدارت دوهم معاون سردار اسدالله سراج
د دولت وزیر سردار شیراحمدخان
د ملی شورا رئیس عبدالاحد خان مایار (ورد ک)
د اعیان مجلس رئیس فضل احمد مجددی
سرمنشی محمد عمرخان ابوی

سردار شاه محمود خان د اماني دورې د سیاسي شخصیتونو څخه چې هر یوه تر لس کاله زیات په زندان کې تیر کړی وو، کله چې خوشې شول صدراعظم په حکومت کې شامل کړل چې له دغې جملې څخه یو عبدالهادی داوی ؤ چې د شورا او اعیان رئیس او بیا سفیر ؤ، همدارنګه میرقاسم خان لغمانی د امان الله خان منشی چې له زندانه راووت شاه محمود خان په خپله کابینه کې د عدلیه وزیر په توګه ورسره واخیست.

شاه محمود خان د حکومت په لومړیو وختونو کې د حکومت پوستونه (د کابینې مربوط) په ګروپ بستیو وویشل او د هر ګروپ په سر کې یې یو زبده شخصیت مقرر کړ.

لومړی ګروپ د نظامی او امنیتی ؤ چې د ارګ حربیه او داخله پکې شامل وه او مشر یې سردار محمد داؤد خان ؤ، دوهم ګروپ د اقتصادی چارو ؤ چې مشر یې عبدالمجید زابلی د اقتصاد وزیر ؤ، دریم د سیاسي چارو ګروپ ؤ چې په رأس کې یې علی محمد خان خارجه وزیر مقرر ؤ، څلورم ګروپ د فرهنګی چارو ؤ چې په رأس کې یې فیض محمد خان وزیر معارف مقرر ؤ. دغه ګروپ بستیو ډیر دوام ونه کړ او بیرته وزارتونه مستقیم په صدارت مربوط شوه. د شاه محمود خان اداري تشکیلاتو یوه اندازه مؤثریت درلود.

## ۱۰ – د ډیموکراسی تمثیل:

### اول – د سیاسی بندیانو خوشې کول:

د سردار محمد هاشم خان په زندان کې د امانی دورې روښانفکران بندیان وو، خو کله چې سپه سالار سردار شاه محمود خان صدراعظم شو هغه دغه بندیان آزاد کړل، په دې بندیانو کې داسې کسان هم وو چې تر ۱۵ کلونو زیاته موده په زندان کې تیره کړی وه.

يو له دغو بنديانو څخه عبدالهادي داوي ؤ چې کله له بندي خانې راويستل شو، نو د شورا د مجلس رياست او بيا په سفارتونو کې مقرر شو، او د دغه ټول ترخه خاطرات له زړه وايستل، بل سړی مير قاسم خان د امان الله شاه منشي او د امان افغان مدير ؤ، چې کله له زندانه آزاد شو، نو د صدراعظم په کابينه کې وزير عدليه شو.

همدارنګه بابا عبدالعزيز خان الکوزی په لومړی شورا کې د کندهار وکيل او د طلوع افغان مدير چې تر بند وروسته کندهار ښاروال شو، خو دغه سړي خپل عصبيت نه پټاوه او برآلا يې نادرخان او هاشم خان ته ښکنځل کول.

داسي نور په لس ګونو خلک وو چې د عمر يوه برخه يې زندان خوړلې وه او دا هم بايد وويل شي چې د هاشم خان زندان يوه خطرناکه شکنجه ګاه وه او هغه کسان چې له زندانه راووتل، نو جسماً ډير سخت ناروغه وو، ولې شاه محمود خان لاربښوونه کړې وه چې د دوی د رواني آرامۍ لپاره مرستې ورسره وشي.

## دوهم - د محصلينو اتحاديه:

په ۱۹٤۹ کال کې چې د صدراعظم ماموريت دريم کال ؤ د پوهنتون د محصلينو اتحاديه د هغو له خوا جوړه شوه.

په دې اتحاديه کې مشهور کسان د کابل د اشرافي او سرداري کورنيو غړي وو، خو يوونيم د عوامو غړي هم ورسره وو، چې مشهور يې دغه کسان وو:

محمد اسحاق عثمان، عزت الله مجددي، کاظمي د ننګرهار د چپرهار، عبدالکبير او کبير الله سراج (د سردار کبيرجان زامن) بصير حکيمي، شعيب (د جنرال آصف خان زوی) سردار حفيظ نوابي او داسي نور کسان.

په يوه بله غونډه کې غلام علي آئين، يونس سرخابي، عبدالواحد، امان الدين اميرپور، غلام حيدر نورس، ميرعلي احمد شاملزاده، عبدالکريم نصرتي او په يوه غونډه کې ډيرش کسه سره يو ځای شو.

په دې غونډه کې ويناوې وشوې او يونس سرخابي پر سردار محمد داؤد انتقادونه وکړل، همدارنګه پر ضبط احوالاتو، د سردار محمد هاشم خان پر تير حکومت سخت اعتراضونه وشول او يو ځل د کندهاري محمد عمر په غوښتنه د نجات ليسې څخه تر پل باغ عمومي پورې يو مارش وشو.

دغې اتحاديې ته کابل ښاروال فرهاد اپارتمان ورکړ، دوی هم هنري ننداره ورکوله او يو جوش و خروش يې پيدا کړ، بالاخره يې صدراعظم ډير په تنګ کړ او هغه هم د اتحاديې دروازه وتړله او ناري يې کړل: «دموکراسي نه دموکراسي!»

## دریم- د آزادو مطبوعاتو منځته راتګ:

مطبوعاتو چې په ډموکراتیکو ټولنو کې د څلورمې قوې نوم پیدا کړی ؤ د دموکراسی مهم عنصر شمیرل کیږی، په افغانستان کې دا عنصر د سپه سالار شاه محمود خان د صدارت په پنځم کال د مطبوعاتو د نوي قانون د انفاذ سره منځته راغی.

لومړنی د آزاد مطبوعات هغه وو چې د حکومتی مطبوعاتو په اړخ کې خپریدل او پر ورځنی سیاسي اقتصادي فرهنگی او د دولت پر چارو به یې انتقادونه کول د آزادو مطبوعاتو هرې جریدې د یوې سیاسي ډلې د ژبې حیثیت درلود.

د انگار جریده چې د فیض محمد انگار په مدیریت خپریده، د ویښ زلمیانو د ډلې نشراتی ارگان ؤ، همدارنگه د وطن جریده چې د میرغلام محمد غبار په رهبری خپریده د وطن د ډلې ارگان ؤ، د ندای خلق جریده د توندروه منتقدینو له خوا د ډاکتر محمودی په رهبری خپریده. ددې په اړخ کې یوه ادبی او د معتدل انتقاد پالونکې یوه جریده د اولس په نامه وه چې د هیواد مشهور ادبي او علمي شخصیت گل پاچا الفت خپروله.

دغوو آزادو مطبوعاتو په لږ وخت کې د حکومت سینه ورتنگه کړه او د جرایدو بندولو ته یې پلمې غوښتې څو د وطن جریدې د بندولو پلمه د یو پنجشیری قاضی عبدالحی په نامه ماجرا چې د کندهار والی وهلی ؤ برابره شوه، دغه خبر نوموړی قاضی رد کړی او جریده بنده شوه. ندای خلق د مطبوعاتو پر قانون انتقاد کړی ؤ هغه یې د بندولو پلمه شوه، همداسې د انگار جریده د نشر څخه پاته شوه او د ډموکراسی پلار سپه سالار شاه محمود خان په خپل لاس د ډموکراسی اولاد یو په بل پسې خپه کړل او نور نو یوازې دولتي جریدې د نشر په میدان کې پاته شوې.

## څلورم- کلوپ ملی:

دا د کابل د لویو دولتي اراکینو، سردارانو او اشرافو یوه ټولنه وه چې د ډموکراسی تر عنوان لاندې راووتله او سردار محمد داؤد خان یې مشر ؤ، په همدغه وخت کې سردار محمد داؤد خان د ملی دفاع او داخله وزارت سر گروپ هم ؤ، همدارنگه په دې ټولنه کې عبدالمجید خان زابلی د اقتصاد او مالی چارو سر گروپ، علی محمد خان د خارجي چارو سر گروپ، سردار فیض محمد خان زکریا د معارف او فرهنگی چارو په سر گروپ او ددغو گروپونو د وزارتونو لوی آمران په دغه ټولنه کې شامل وو.

دغه ټولنه په هغو ورځو کې د سیاسي اوضاع او احوال د معلومولو او په خپله گټه د هغې د راڅرخولو کار کاوه، خو په خپل کار کې دومره ناکامه وه چې حتی د خپلې طبقې او گروپ خلک یې

هم ورسره موافق نه وه، یو له هغو څخه عبدالحی عزیز د سردار حسین خان عزیز زوی چې د پلان په کار کې متخصص ؤ، نه یوازې د کلوپ ملی سره ملگری نه شو بلکې هغه یې ډیر هم تخریباوه.

کلوپ ملی ډیر ژر خپل حیثیت بایلاوه او د هرچا له خوا د یوه حکومتی دام نوم پر کیښوول شو، که څه هم کلوپ منظمی غونډې درلودی او ښی میلمستیاوې به یې هم ورکولې، خو چندان یې کار مخته نه ولاړ، څو پخپله د سردار محمد داؤد خان زړه ورڅخه تور شو او د هغه کسبله یې ورتړوله کړه.

کلوپ ملي غوښتل په اولس کې کار وکړي، خو اولس د هغه څخه ځان لیرې کړ.

## پنځم- د ښاروالیو د قانون سالم تطبیق:

سپه سالار صدراعظم شاه محمود خان د خپل صدارت په دوهم کال د ښاروالی د اصولنامې د ډیموکراتیک تطبیق زمینه برابره کړه او د ښارونو خلکو په عمومی او مستقیمو او سري رایو د انتخاباتو صندوقونو ته رایی واچولې. په دې بې غرضانه او د حکومت د مداخلې پرته انتخاباتو که د ښارونو هغه ډیر صادق او کار پوهه خلک د ښاروالیو وکیلان شوه او هغو بیا اصلی ښاروالان وټاکل.

د هیواد په پایتخت کابل کې انجنیر غلام محمد فرهاد ښاروال شو چې په عین زمان کې د برېښنا رئیس هم ؤ، دی سړی په آلمان کې تحصیل کړی ؤ او دومره بې کبره او با تقوا سړی ؤ چې وروسته خلکو د پاپا (یعنی پلار) نوم پر کښیښود. دې ښاروال د کابل عمرانی څیره وربدله کړه او د میوند ستره جاده چې د بالاحصار له (تخته پُل) څخه د ابن سینا تر روغتون پورې غزیدلی وه جوړه کړه، همدارنگه د نادر پښتون جاده یې هم د عمرانی شهکار یوه نمونه وه.

د افغانستان په دوهمه درجه ښار کندهار کې خلکو د دغه اصولنامې په استفاده مشهور مبارز سړی بابا عبدالعزیز خان الکوزی چې ۱۳ کاله یې د محمد هاشم خان په زندان کې تیر کړی وو ښاروال وټاکئ.

همدارنگه د هیواد په نورو ښارونو کې هم مشهور خدمتگار او کار پوه خلک د ښاروالانو په توگه منځته راغلل او هرڅوک په دې پوه شول چې د سپه سالار حکومت کار و اهل کار ته سپاري.

## شپږم- د ملی شورا د اوومې دورې ماجرا:

په ۱۹٤۹ کې د شورا د اوومې دورې انتخابات وشول چې یوه ولولې یې وپاخوله، دا د محافظه کار قشر او د ځوان منور قشر ترمنځ یوه سخته مبارزه وه چې د ملي شورا اوومه دوره یې د نړۍ د پارلمانو په توگه واړوله.

په انتخاباتوو کې حکومت مداخله و نه کړه او حتی صدراعظم پخپله د رایی صندوقانو ته ورغی او هغو کسانو ته یې رایه ورکړه چې هغوی پر حکومت د شدیدو انتقاد کوونکو څخه وه.
دا یو نمونه یې پارلمان ؤ ، د کابل له ښار څخه ډاکتر محمودی او میرغلام محمد غبار راغله، د کندهار څخه پوهاند عبدالحی حبیبی، د هرات څخه صلاح الدین سلجوقی، د مزار شریف څخه مولانا خسته، د مینې څخه نظر محمد نوا د بدخشان څخه سید محمد دهقان او د اندخوی څخه کریم نزیهی چې دا ټوله عالمان او په اولس کې د احترام څخه پیاوړی شخصیتونه وو، شورا ته راغلل. دغه منور اقلیت چې د شورا نورو وکیلانو یې نظریات تائیدول د حکومت څخه د قانون په تطبیق کې شکوې درلودې. دوی یو شمیر لوړ رتبه مامورین چې د کورنیو په بسته گی مقرر شوی د قانون لومړی ماتونکی وبل. دوی د حکومت څخه د ځینو مواردو کې د مصرف حساب هم وغوښت او زیاتره پاملرنه یې پخوانی سهامی شرکت چې یو شمیر شیان یې په انحصار کې وو او بانک ملی ته منسوبه وه، خو وضع دومره ضیقه او په یوه بن بست احته شوه چې اخیر صدراعظم پښیمانه ؤ چې ولې یې ډموکراسی راوستله، خو عامه ټولنه د ډموکراسی د تطبیق لپاره ډیر تیاره وه.

## ۱۱ - د ډموکراسی خاتمه:

سپه سالار که له یوې خوا اولس ته د ډموکراتیکو حقوقو په ورکولو کې د ویاړ او خوښی احساس کاوه، خو د کورنۍ او نورو سرداری کهولونو د منفعت طلبه سردارانو د شکایت او حتی تهدید څخه ډیر په تکلیف ؤ هغسې خیالی جهان چې سپه سالار د ډموکراسی په سناریو کې لیدې، دلته به د ډیرو توندو او ترخو سره مخامخ کیدی او په دې توگه به کله کله پښیمانی ورته دریدله.
په لومړی قدم کې د محصلینو اتحادیې نفس ورتنگ کړ او نارې یې کړه «ډموکراسی نه ډموکراسي» محصلین په دې هم آرام نه شول چې اتحادیه یې بنده کړه، بلکې بازارو ته راوتل، ځو دا د ډموکراسی پلار خپل زامن په خپل لاس زندان ته ورتیل وهل.
په دوهم قدم کې د شورا د اوومې دورې وکیلانو نفس ورتنگ کړ او دومره انتقادونه پر وربرابر شول چې د ډموکراسی څخه یې خوا ورووهله. سپه سالار چې د یوې خوا د ډموکراسی د رازیږیدلو تر تهدید لاندې ؤ او د ډموکراسی د پلار زامنو د هغه څخه نورې غوښتنې هم کولې او د دې په اړخ کې د سرداری کورنیو محافظه کارانو دده تیر کارونه اشتباهات گڼل، نو سپه سالار ته سیاسی ناروغی پیښه شوه او د ډموکراسی پر غاړه یې چاړه هم سمه نه وربرابریده.
علاوه پر دې سردار محمد داؤد خان چې د ډیکتاتوری پلار ؤ د سپه سالار په وړاندې یې مشکلات ایجادول او شدید سبوتاژ یې مخې ته اچولی ؤ.

د ملي شورا د اتمې دورې انتخابات چې ورسیدل نو صدراعظم د ډموکراسۍ شاته وغورځوله او د محمد هاشم خان د صدارت په توګه یې د معلومو کسانو لستونه تهیه او په ځرګنده توګه یې هغه راوستل. دغه عمل د منورینو شکایت و پاڅاوه او داؤد خان هم پټ لاس پکښې واهه. د پرونی ډموکراسۍ پلار دونه شاته راغی چې یو ډله مشهور خلک لکه سیداسمعیل بلخي، خواجه نعیم د کابل قوماندان، محمد ابراهیم د ګوشوار زوی او محمد علی ګوهر یې په دې تهمت چې کودتا یې کوله بې له محاکمې په زندان کې واچول.

په دې پسې یې مخ آزادو مطبوعاتو ته راواړاوه او هغه غیر حکومتي جریدې چې د آزادو مطبوعاتو نمایندګي یې کوله په یوه پلمه او بله بهانه له منځه یووړې.

د حکومت پر ضد یوه ډیره لویه مظاهره وشوه چې په دغسې کمیت او کیفیت پخوا چانه وه لیدلې، خو د ډموکراسۍ د پلار سرې ورته پرسیدلی وه او د پردې مظاهره یې ځو ځایه برید وکړ او ډیر روښانفکران زندانونو ته ولاړل.

د ډموکراسۍ پلار نه یوازې د ډموکراسۍ د تطبیق په پروژه کې ناکامه شو، بلکې د خاندان سردارانو هم ډیرې ګیلې ورځخه کولې. د دې وضع ځخه یوازې سردار محمدداؤد استفاده وکړه چې په صدارت مامور شو.

## ۱۲ - افغانستان ته د امریکا پاملرنه:

پس له لومړۍ نړیوالې جګړې ځخه امریکا لکه کشپ (سنګ پشت) د خپلې کاسې ځخه سر راوبوست، خو تر اروپا یې پنبه د نورو خواو ته چندان وانه ړوله، دا ځکه چې امریکا یو پانګه وال هیواد ؤ او دده د معاملې لپاره په اروپا کې بازارونه موجود وو. دا ځوان سرمایه دار هیواد چې د ډموکراسۍ په پلوۍ یې ځوان نهضتونه حمایه کول، نو افغانستان چې په آسیا د یو نوي او ځوان نهضت په توګه راپورته شوی ؤ په ۱۹۲۱ کې د محمد ولی خان دروازی په مشرۍ چې کوم هیأت د افغانستان د خپلواکۍ معرفي کولو لپاره اروپا ته تللی ؤ د پروګرام سره سم امریکا ته هم ورغی او هلته یې د امریکا د دولت ځخه غوښتنه وکړه چې افغانستان په رسمیت وپیژنی او ډیپلوماتیکی اړیکی ورسره قایمې کړي، خو امریکا له دې غوښتنې سره دلچسپي و نه ښووله او د دې کار دوه علته وو: یو دا چې د انګریز د نفوذ د ساحې یو آزاد شوی هیواد ؤ او امریکا نه غوښتل انګریز له ځان ځخه خوابدی کړي او دوهم افغانستان د امریکا لپاره په اقتصادي سطح کې هیڅ ګټه نه درلوده نو دا ؤ چې د افغانستان سره د امریکا اړیکې ډیر وخت معطل پاته شوه.

په دیرشمو کلونو کې چې افغانستان یو ځل بیا د خپلواک هیواد په حیث د نړیوالو پاملرنه

جلبوله، نو تر ټولو پخوا آلمان او ایتالیا د همکارۍ لاسونه ورته راوغزول، د آلمان سره د افغانستان اقتصادي اړیکې دومره پراخې شوې چې نه یوازې د سیمې بلکې د اروپایي هیوادونو سترګه یې هم ځانته راواړوله.

امریکا چې په دغو کلونو کې د اقتصادي ګټو څخه علاوه سیاسي ګټې هم په نظر کې نیولې، نو د افغانستان موقعیت یې پاملرنه جلبوله، ځکه دا هیواد په یوه خاص موقعیت واقع ؤ چې هم یې د کمونیستي ابرقدرت سره سرحد درلود او هم د ایران او بریتانوي هند سره له سیاسي نظر دروند ارزیابي کېدی.

نو داؤ چې پخپله امریکا افغانستان ته پاملرنه وکړه او د ۱۹۳٤ د اګست په ۱۱ یې افغانستان په رسمیت وپیژند او په دابل کال ۱۹۳۵ په مي کې د امریکا لومړی لوی سفیر وهارني بروک کابل ته راغی او خپله اعتماد نامه یې باچا ته وړاندې کړه.

وروسته تر دې په اروپا کې د فاشیزم بحران د امریکا ټوله پاملرنه هلته جلب کړه او افغانستان هم مصروفیتونه پیدا کړل څو په ۱۹۳۹ کې دوهم نړیوال جنګ پیل شو او پر شوروی د آلمان تر حملې وروسته هند ته خطرونه متوجه شول او افغانستان د یو معبر په حیث اهمیت پیدا کړ، په همدې لحاظ افغانستان ته د امریکا پاملرنه جلب شوه او افغانستان هم د وضع په درک سمدستي خپل سفیر عبدالحسین عزیز هلته معرفي کړ او دغه سفیر د ۱۹٤۲ کال د جون په ۵ خپله اعتماد نامه د امریکا جمهور رئیس روزویلت ته وړاندې کړه.

افغانستان د خپلو انکشافي چارو لپاره امریکا ته د مرستې او معاملې پیشنهاد وکړ، خو امریکا به په ځواب کې ورته وویل چې امریکا یو ډموکرات هیواد دی او د هغو هیوادونو سره اړیکې جدي پالي چې په ټولنیز جوړښت کې یې د ډموکراسي عنصر ځای ولري، دا وخت په افغانستان کې محمدهاشم خان صدراعظم ؤ، څرنګه چې هغه اتلس کاله صدارت کړی ؤ او د بلې خوا د ترجنګ وروسته نو یو خبرو د هغه وجود اضافي کاوه نو په ۱۹٤٦ کې یې استعفی وکړه او پر ځای یې ورور سپه سالار سردار شاه محمود خان صدراعظم شو او هغه ځینې داسې ډموکراسي بنیادونه کښېښوول چې د ډموکراسي د پلار په نامه یادېدی، دغه شخصیت امریکا ته منلی ؤ، نو داؤ چې په ۱۹٤۷ کې دا ډموکراتیک صدراعظم امریکا ته سفر وکړ او په اګست کې نیویارک ته ورسید او له هغه ځایه واشنګټن ته ولاړ او ډېر تود هرکلی ورته وویل شو.

مخ کې تر دې چې صدراعظم دا تاریخي سفر وکړي، نو امریکا ته یې دا وروفهموله چې په افغانستان کې پانګه اچونه لوی ګټور کار دی او افغانستان تر هر چا په امریکا خوښ دی چې دلته په افغانستان کې پانګه په کار واچوي.

په دا بل کال ۱۹٤۸ کې صدراعظم خپل وراره سردار محمد نعیم چې د افغانستان په خارجه وزارت کې د پوره مطالعې خاوند سړی ؤ امریکا ته د سفیر په توګه معرفي کړ.

سردارمحمد نعیم خان امریکایي مؤسساتو ته دا ورفهموله چې ددوی لپاره د بندونو، ویالو او سړکانو جوړولو لپاره خورا زیات کار شته، نو دا ؤ چې امریکایانو لومړی د خپلو متخصصانو په وسیله سیمه مطالعه کړه او کله چې ډاډمن شول، نو په ۱۹٤۹ کې یې یوویشت ملیونه ډالره لومړی پور (قرضه) د بندو جوړولو لپاره ورکړی او د موریس نودسن په نامه کمپنی په کندهار کې کار پیل کړ. د نوموړی کمپنی د انجنیرانو په وسیله د کندهار د ښار د شمال ختیځ په ٤٠ کیلومتری کې د ارغنداب پر سیند یو بند جوړ شو چې کار یې د ۱۹٥٠ د جون څخه د ۱۹٥۲ تر اپریل پورې وخت ونیوئ او لاندې خصوصیات یې درلودل:

لوړتیا ٥٠ متره

سورېی ١٠ متره

ظرفیت یو ملیون مکعب جریبه

د بند نس ۰۰ ۳۰، ۲٥ جریبه

د بند د اوبو د جهیل اوږدوالی ۱۸ کیلومتر

تر اوبو لاندې ځمکه ۰۰۰۰، ٤۸۰ کیلوواټه

د ۱۹٥۳ په نوامبر کې دوهم پور اتلس نیم(١۸.٥٠) ملیونه ډالر د امریکا څخه واخیستل شو، دا ځل د هلمند پر سیند د یوه بند جوړ شو چې ۱۹٥۳ کې افتتاح شو او خصوصیات یې داسې وه:

ظرفیت یې ۰۰۰/۰۰ ۳/٦ جریبه مکعب

لوړتیا ۱۰۰ متره

بندوالی لوړ ۱۰ متره ښکته ۲۰ متره

د بند لاندې ځمکه ۰۰۰/٦٠ جریبه

د اوبو د جهیل اوږدوالی ٥۸ کیلومتره

تر اوبو لاندې ځمکه ۰۰۰/۰۰ ٥ ایکړه

د امریکایان امریکن هوایی کمپنی د ۱۹٥٦ په سپتمبر کې ١٤ ملیونه ډالره افغانستان ته پور ورکړ چې په هغه د کندهار هوایس ډګر او ډیپلوماتانو د روزنې چارې سرته ورسیدی.

د ۱۹٥۷ د جون په ٣٠ امریکا پنځه ملیونه اووه سوه پنځوس زره ډالر د هلمند وادي د پراختیا او پرسونل د روزنې او ۲ ملیونه اته سوه شپیته زره ډالره یې د پرسونل د روزنې لپاره پور ورکړ.

همدارنګه د ۱۹۵۸ د جون په ۳۰ یې اووه ملیونه او سوه اته زره ډالره یې د سپین بولدک کندهار او کندهار کابل د اسفالت لپاره پور ورکړ او دا کارونه ټول د امریکایي انجنیرانو په لاربښوونه سرته ورسیدل. د افغانستان اقتصادي غټې ریښې په امریکا کې دی چې یو له هغو څخه د نیویارک په رزرو بانک کې یې (۹۳۷۷۲۷) اونسه طلا د خپلې سیکې د پشتوانې په توګه په ۱۹٤۹ کې ایښې وه.

د امریکا پاملرنه دومره زیاته وه چې د ۱۹۵۹ د دسمبر په ۹ د امریکا جمهور رئیس ریزن هاور د شپږو ساعتو لپاره کابل ته راغی.

کله چې سردار محمد داود صدراعظم شو، نو هغه هم امریکا ته سفر وکړ او امریکایانو چندان باور په ونه کړ، ځکه امریکایانو د افغانستان څخه غوښتی وو چې بغداد او بیا د سنتو په تړون کې چې پاکستان، ایران، ترکیه، انګلستان، عراق یې غړي وه، ګډون وکړي خو افغانستان نه وه منلی، ددې لپاره چې افغانستان تشویق کړي امریکایانو په ۱۹۵۵ کې جهاني بانک ته د افغانستان لار خلاصه کړه او د هم هغه کال د جولای په ۱٤ افغانستان د هغه بانک غړی شو. خو کله چې امریکایانو پاکستان ته نظامي مرسته ورکړه افغانستان د امریکا څخه مخ وګرځاوه او سردار محمد داؤد سخت عکس العمل وکړ، خو یې لویه جرګه راوغوښته او افغانستان ته یې د کمونیست بلاک څخه پور واخیست او له هغو څخه یې وسله واخیستله چې د افغانستان دا عمل پر امریکا ډیر بد تمام شو.

د داؤد خان تر استعفا وروسته د ۱۹٦۲ کال په سپتمبر کې باچا محمد ظاهرشاه امریکا ته سفر وکړ او امریکایانو یو ځل بیا مخ راوګرځاوه، خو شوروي په افغانستان کې ډیرې بدې ریښې ځغلولې وې او دا مناسبات شګوفان نشول او افغانستان د امریکا او شوروی د سیالیو ډګر شو.

په ۱۹۷۹ کې چې په افغانستان کې کمونیستي انقلاب راغلی ؤ، په همدغه وخت کې په کابل کې د امریکا سفیر دابس د شوروی د «کی.جی.بی» او د افغانستان د اطلاعاتي مؤسسې د غړو له خوا وتښتول شو او بیا په کابل هوټل کې په قتل ورسیدئ.

دا د افغانستان او امریکا د مناسباتو ډیره تاریکه پرده وه او تر هغه وروسته چې مجاهدینو د شوروي د وهلو لپاره د امریکا ایډیال کامیابه کړ، نو امریکایانو افغانستان ته پاملرنه و نه کړه او څومره چې افغانستان قربانی ورته کړې ؤ دوی بیخي افغانستان هیر کړ او هغه مهال چې په افغانستان کې د ورور وژنې په جګړه کې په لکونو افغانان ووژل شول او د کابل ښکلی پایتخت کابل په کنډواله بدل شو بیا هم امریکا دغومره ویل چې دا د افغانانو خپل کار دی چې سره جوړ شي موږ ددوی په چارو کې مداخله نه کوو، دا تراژیدي اوس هم دوام لري.

## ۱۳- د سپه سالار د حکومت په لومړیو درو کالو کې د پولي اقتصاد یوه تابلو:

په دغه کال (۱۹٤٦) چې شاه محمود خان صدراعظم شو د افغانستان دارایي په د باندنیو بانکو کې له دې قرار دوه:

د نیویارک په فدرال بانک کې ساتلې طلاوې (۷٦۷ , ۹۳۷) اونسه چې په افغاني باندې یې تسعیر شوی مبلغ (۷٦۳ , ۲۳۵ , ٤۳۵) افغانی.

مسکوکې طلاوې (۹٤۵ , ۱۸٦) په (٦۵۰ , ۱۸۰ , ۵۱۸) گرامه وزن او (۷۳۵ , ۵٦٤ , ۵۱۲) افغانی قیمت.

په ۱۹٤۹ کې د افغانستان بانک دارایي داسې اعلان شوې وه:

طلا (۵۱۲ , ۵۸٤ , ۹۵۵)

نقره (۱٤ , ۵٦۸ , ۲۸۵)

خارجي اسعار (۷۲۱ , ۷۸۳ , ۱٤۱)

دولتي نوټ (۱۳۵ , ۹۳۷ , ۱۷۵)

مسکوک (۱ , ۳۸٦ , ۹۷۲)

بانکي نوټ (۸۵ , ۳۹٦ , ۹۷۲)

ټوله (٤ , ٦۹٤ , ٦۵۷ , ۹۸۱) افغانی.

په هم هغه کال کې چې سپه سالار صدراعظم شو د امریکا په بازار کې د افغانستان (۳۸۹ , ۵۹۸ , ۱) قرقلي پوسته په (۲۲ , ٤۲۲ , ۱۹۸ , ۲۱) ډالره خرڅ شول.

دا خبر د یادونې د دې چې دا ټوله پیسې د پخواني صدراعظم محمد هاشم خان په تدبیر راټولې شوې دي، خو ورو ورو هم هغه له منځه ولاړې او هم افغانستان نور نو د لاسه لا پورورې پاته شو.

د دولت په مؤسسه کې عواید او مصارف په یوه معقوله موازنه کې په کار لویدل، مثلاً په هم هغه کال چې سپه سالار صدراعظم شو د دولت عواید ۳۳۸ ملیونه افغانۍ او مصارف یې ۳٤٤ افغانۍ وې او صرف ٦ ملیونه افغانۍ یې کسر درلود.

په ۱۹۵۰ کال کې چې د شاه محمود خان د صدارت څلورم کال پیل کیدی د کابل په بانک کې د اسعارو رسمي نرخ او په بازار کې آزاد نرخ له دې قرار دؤ:

شل ډالره په رسمي قیمت (۱٦۷۵) افغانی

سل ډالره په آزاد بازار کې (۲۰۹۵) افغانی
سل هندي کلدارې په رسمی قیمت (۳۵۱) افغانی
سل هندي کلدارې په آزاد بازار کې (۴۳۹) افغانی
سل پاکستانی کلدارې په رسمي قیمت (۵۰٦) افغانی
سل پاکستانی کلدارې په آزاد بازار کې (٦۳۳) افغانی
سل سویسی فرانکه په رسمي قیمت (۳۸۷) افغانی (۱)

په عمومی توګه افغانستان یوازنی هیواد ؤ چې پس له جنګ څخه یې نه یوازې اقتصادي شیراز نه وه پاشل شوې، بلکې پانګی دارایی یې هم زیاته شوې وه.

## ۱٤ - د سپه سالار د حکومت د سیاسی پیښو لنډ اجمال:

د سردار شاه محمود خان حکومت د خارجي سیاست په برخه کې هغه وخت د ډیرو ستونزو سره مخامخ شو چې انګریز د هند له قارې څخه د وتلو پلان تر عمل لاندې ونیوی.

کله چې دا فیصله اعلان شوه چې انګریز له هنده وځي او دا قاره به پر دوو برخو ویشل کیږي چې د هند او پاکستان په نامه به دولتونه منځته پکښې راځي، نو د ۱۹٤۷ کال د جون په ۱۳ د افغانستان حکومت انګریزانو ته خبر ورکړ چې د افغانستان له سرحداتو څخه تر اباسیند پورې دا ټوله پښتانه اقوام دی. ددوی څخه باید پوښتنه وشي چې ځانته خپلواکي غواړي او که په هند یا پاکستان یا افغانستان پورې ځان مښلوی، خو انګریز د جولای په ۳ د ۱۹٤۷ ځواب ورکړ چې د بریتانیا او افغانستان تر منځ په ۱۹۲۱ کې سرحدونه منل شوی دی، نو اوس چې دلته قدرت انتقالیږي افغانستان باید په شمال مغربی صوبه کې مداخله و نه کړي.

دد غه کال په جولای کې چې سپه سالار شاه محمود خان لندن او واشنګټن ته سفر وکړ، نو هلته یې د انګریزی او امریکایی ډیپلوماتانو سره خبرې وکړې، خو هغو به دا خبره وړاندې کوله چې پاکستان رفراندم وکړ او پښتنو ځانونه په پاکستان پورې وتړل، خو دد غه رفراندم جعل په هر اړخیزه توګه معلوم نه ؤ.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ فضا ډیره تیاره شوه. د ۱۹٤۷ کال د سپتمبر په ۲۰ چې کله د ملګرو ملتونو په مؤسسه کې د پاکستان په شمول مسأله وړاندې شوه افغانستان د پاکستان پرخلاف منفی رایه ورکړه. څرنګه چې د پاکستان ملا دهندوستان څخه مسلمانانو مهاجرینو چې

(۱) پوهاند حبیبی د افغانستان تاریخی پیښلیک ۲۹٦ مخ، په ترمخې مخ کې هم احصائیې له دغه اثر څخه رااخیستل شوي دي.

شمیر یې (۶,۵۰۰,۰۰۰) رسیدی ورکړه کړی وه ،نو د افغانستان سره یې نرمه رویه کوله او افغانستان هم په دغه استفاده ډاکتر نجیب الله د پوهنې وزیر د ۱۹۴۷ په نوامبر کې پاکستان ته ولیږئ، هغه هلته د پاکستاني زعماؤ سره مفصلې خبرې وکړې، حتی محمد علی جناح د مثبتې همکارۍ وعده ورکړه، ولې د مسألې حل ته یې اوږده نه ورکوله او اوضاع وار په وار خرابیده څو د ۱۹۴۹ د جون په ۱۲ پاکستاني الوتکو مغلگی بمبارۍ کړه چې ۲۲ افغانان پکښې ووژل شول او بالمقابل د دغه کال د جولای په ۲۶ د افغانستان ملي شورا ډیورند لین رد کړ او دې کار نوره هم فضا خرابه کړه.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د یو کال را په دې خوا سخت تبلیغاتي جنگ پیل شوی ؤ او په کابل راډیو او اخبارو کې د ۱۹۴۸ د جون له ۱۶ څخه د پښتونستان د تحریک په نامه پراخ پروپاگنډ شروع شو.

د غه اوضاع د سپه سالار د حکومت تر پایه روانه وه او کله کله به یې دومره پراخ بریدونه پیدا کړل چې حتی د سیمې امنیت به یې له تهدید سره مخامخ کړ. دغه اور ته سردار داؤد خان چې د سپه سالار په کابینه کې وزیر دفاعؤ سخته لمن وهله او که نه پخپله سپه سالار هیڅ خوښ نه ؤ چې دا جنجالي ډول یې په غاړه وخړیږي.

د نورو عمده مسایلو څخه یو ده هم په ملگرو ملتونو کې د افغانستان د غړیتوب مسأله وه.

افغانستان چې د نړیوالې دوهمې جگړې په وخت کې د بې طرفۍ په ساتلو ډیر د قدر وړ موقف موندلی ؤ، نو کله چې د ملگرو ملتونو مؤسسه جوړه شوه دا د سولې او امن موسسې ته یې په علاقمندۍ د غړیتوب پیشنهاد ورکړ.

هغې مؤسسې هم د ۱۹۴۶ کال د نوامبر په ۹ په ملگرو ملتونو کې د افغانستان غړیتوب تائید کړ او په دې پسې لس ورځې وروسته د افغانستان لومړی نماینده عبدالحسین عزیز خپله اعتمادنامه د ملگرو ملتو سرمنشي تریگولی ته وړاندې کړه.

عبدالحسین عزیز په ۱۹۴۳ کې لا په واشنگټن کې د افغانستان د سفیر په حیث په کار پیل کړی ؤ او د سیاسي کار څخه یې رضایت څرگند ؤ نو ځکه ملگرو ملتونو ته د نماینده په توگه معرفي شو.

د ملگرو ملتونو د تخنیکي مرستو لومړۍ هیأت د ۱۹۵۰ کال د جون په ۲۲ کابل ته راغی چې دلته د انکشافي پلانونو په کار کې مشوره ورکړي. څرنگه چې ملگري ملتونه لا په اقتصادي لحاظ نه ده پیاوړی شوي، ولی د ۱۹۵۱ کال د می په ۲۸ د افغانستان د شمال د نفتو د کشف لپاره یې مرسته وکړه.

افغانستان په ملګرو ملتونو کې د یو با اعتباره دولت په حیث شامل ؤ د افغانستان د سیاسي مناسباتو بله عمده برخه په کابل کې د لویدیځ د سفارتونو کارونه وو.

د ملګرو ملتونو هیأتونه به زیاتره د علمي تحقیقاتو لپاره د شمال ته تلل او هلته شوروي اتحاد د شک په نظر ورته کتل او پخپله شوروی هم په افغانستان کې ځینې د جاسوسۍ پټې شبکې په کار اچولی وې، نو له همدغه امله امریکا او بریتانیا دوه ډیر ماهر شخصیتونه د سفیرانو په توګه راولیږل چې دلته اوضاع وڅاري، ځکه هغه نوی مولود (پاکستان) د خطر سره مخامخ ؤ.

د ۱۹٤۹ کال د اپریل په ۲۰ لویس د ریفوس د امریکا د لوی سفیر په حیث کابل ته راغی، تر دده مخ کې د (ای پالمبر) امریکایي پر لاس د ۱۹٤۸ جون په ٥ په کابل کې د امریکا سفارت سویه له وزارت مختاری څخه لوی سفارت ته جګه شوې ود.

په دې پسې د ۱۹٤۹ د جون په ۲۰ یعنې دوې میاشتې د ریفوس تر رانګ وروسته الفرد ګاردنر په کابل کې د بریتانیا د سفیر په حیث په کار پیل وکړ.

دا دوه سفیران ډیر ماهر ډیپلوماتان وو او د نژدې څخه یې هم افغانستان څارئ او هم یې په مرکزي آسیا کې د شوروي اتحاد د فعالیتونه تر مطالعې لاندې وو او هم یې د انګریز د نوبو نقشو مراقبت کاوه. په عمومي توګه دا هغه ستونزې وې چې د شاه محمود خان د حکومت پښې یې ور کمزوره کړې.

## ۱۵- د سردار محمد داؤد صدارت:
### (د شاه محود خان استعفا)

د ۱۹٥۳ کال په سپتمبر کې تر ۷ کالو صدارت وروسته د سردار ز شاه محمود خان سپه سالار د ناروغی په وجه استعفا له راډیو څخه اعلان شوه، خو جناب سپه سالار دا نه وه قبوله کړی چې صدارت به پریږدي، ځکه تر دغه اعلان وړاندې په لنډو ورځو کې یې په یوه مرکه کې ویلي وو چې دی اراده نه لري چې استعفا وکړي.

خو هر څه چې وه نور نو کورنی شورا دې نفی کړی ؤ او د باچا له خوا هم یو بل سردار چې کاملاً د سپه سالار د کرکتر مقابل تیپ ؤ د کابینې په جوړولو مامور شو. لکه پر شاه محمود خان چې د ډموکراسی د پلار نوم اینوول شوی ؤ پر نوی صدراعظم سردار محمد داؤد د یکتاتوری د پلار نوم ډیر مناسب ؤ.

سردار محمد داؤد خپله کابینه داسې معرفي کړه:

۱- لومړی مرستیال علي محمد خان بدخشي

۲- دوهم مرستیال سردار محمد نعیم.

۳- د دفاع وزیر محمد عارف خان، پس له دې چې عارف خان استعفا وکړه، صدراعظم دا چارې اجراء کولې.

٤- داخله وزیر: لومړی دوه کاله پخپله صدراعظم بیا شاعالمي وروسته سید عبدالله خان.

٥- مالیه وزیر: عبدالملک عبدالرحیم زی بیا عبدالله ملکیار.

٦- تجارت وزیر: عبدالرؤف حیدر بیا عبدالرحیم زی، بیا عبدالله ملکیار اخیر غلام محمد شیرزاد.

۷- معارف وزیر: ډاکتر عبدالمجید بیا ډاکتر علی احمد پوپل.

۸- فواید عامې وزیر: شاعالمي بیا محمد کبیر لودین.

۹- صحیه وزیر: ډاکتر غلام فاروق بیا ډاکتر عبدالظاهر.

۱۰- مخابراتو وزیر: شاعالمي بیا محمد مرید خان.

۱۱- د کانو او صنایع وزیر: ډاکتر محمد یوسف.

۱۲- د کرنې وزیر: میرمحمد یوسف خان بیا حیدرعدالت.

۱۳- د مطبوعاتو مستقل رئیس: صلاح الدین سلجوقی، بیا محمد هاشم میوند وال، بیا سیدقاسم رشتیا او په اخیر کې ډاکتر سهیل.

۱٤- د پلان وزیر: د وزارت چارې پخپله سردار محمد داؤد خان پر مخ بیولې.

خو عملاً عبدالحی عزیز معین په کار کې نقش درلود. (۱)

داؤد خان په ډیر توده وینه کار پیل کړ او د کابینې غړي یې هم سخت په کار واچول، خو د پاکستان سر د سیاسي اختلاف په وجه یې ځان او وطن دواړ ډوبل کړل.

لویدیځ دې ځانته راکښاوه چې د بغداد (سنتو) او (سیاتو) په تړونو کې یې د پاکستان، ایران او ترکیې سره سر وروتړي، خو سردار د عصبیت څخه یې له دې چې د تاریخ درسونه رایاد کړي یو ځل بیا د شوروی (روسیې) په منګولو کې ځان وغورځاوه.

سردار محمد داؤد ښه کافي پاځه او غوښن کارونه سر ته ورسول ،خو په سیاسي ډګر کې یې هم سختې تېکرې وخوړې، شوروی اتحاد دده سیاسي موقف تائیداوه، خو دا د افغانستان د ملګرې په خاطر نه و، بلکې د اوبو په خړولو کې ځانته کبان پلتل.

---

(۱) ددې کابینې یادداښت زیاتر د ډاکتر بورګي له اثر د افغانستان دوهم اساسي قانون څخه اخیستل شوی دی.

## ۱۶ - داؤد خان لس کاله په یوه سیاسي کشاله کې مصروف ؤ:

د ۱۹۵۳ د سپتمبر څخه چې سردار په صدارت مامور شو بیا تر ۱۹۶۳ پورې چې په استعفا مجبور شو پوره لس کاله د پاکستان سره په یوه ډېره ورانونکې کشاله کې ګیر پاته شو.

څرنګه چې افغانستان په پاکستان کې د ماورای سرحد سیمې شاملې نه بللې، نو شخړه د هم هغه ۱۹٤۷ څخه پاځیدلې وه او هغه وخت هم دغه مسأله داؤد خان توده ساتله.

هغه مهال چې امریکا پاکستان ته نظامي مرسته ورکړه، نو د سردار حکومت په سخت تشویش کې ولوید او د ۱۹۵۳ کې د سپتمبر په ۳۰ یعنی څو ورځې د صدارت له ماموریت څخه وروسته په یوه وینا کې د امریکا دغه مرسته د سیمې د امنیت لپاره خطرناکه وبلله او په اکتوبر کې یې سردار محمد نعیم کراچی او سعودي عربستان ته واستاوه.

په ۱۹۵٤ کې د آسیا د جنوب ختیځې خوا د (سیټو) تړون وشو چې پاکستان یې غړی شو او دا هم پر افغانستان یو تهدید شو، له دې سره پاکستان یو بل ګام مخې ته واخیست او د پښتنو سیمې یې د لویدیځ پاکستان په یو یونټ کې د پنجاب، سند او بلوچستان سره وتړلې او د دغه عمل د غندلو په خاطر په کندهار او جلال آباد کې د پاکستان د قنسلګریو سره شدیدې مظاهرې وشوې او پاکستاني پولیسو په پېښور کې پر افغان قنسلګرۍ حمله وکړه او قنسلګرۍ د دواړو خوا څخه وتړل شوې او مسألې دومره زور واخیست چې افغانستان مسلح قواوې تیارسۍ کړې.

د افغانستان او پاکستان سیاسي اړیکې قطع شول (اکتوبر ۱۹۵۵) همدا رنګه د دغه کال په نوامبر کې لویه جرګه جوړه شوه چې حکومت ته یې اجازه ورکړه چې وسله واخلي ځکه پاکستان د امریکا څخه وسله په لاس راوړې وه.

یوه میاشت وروسته په دسمبر کې د شوروي مشر بلګانین او د کمونیست ګوند منشي خروسچف کابل ته راغلل، دوی په ویناؤ کې د پښتونستان ادعا تائید کړه او (۱۰۰) ملیونه ډالره کومک یې هم ورکړ.

پاکستان یو څه شیوه راوړه او داؤد خان پاکستان ته سفر وکړ، خو نتیجه یې نه درلوده، څرنګه چې ۱۹۵۵ کې د بغداد تړون د ترکیې، عراق، ایران او پاکستان په شمول جوړ شوی او انګریز او امریکا هم د هغه ملاتړ وه نو پاکستانی زعماؤ د افغانستان مشرانو ته دعوت ورکړ چې په دغه پکټ کې شامل شي. د بغداد پکټ هغه مهال چې په ۱۹۵۸ کې په عراق کې کودتا وشوه او وریسې په ۱۹۵۹ کې د دغه پکټ څخه ووت، نو دا پکټ د (سنتو) یا مرکزی پکټ په نامه یاد شو او پاکستان بیا هم د افغانستان سره د شخړو د حل نه لار هم دغه بلله چې افغانستان په مرکزی،

پکټ کې شامل شي، ولې سردار معقول عذرونه درلودل او له همدغه ځایه یې د غیر منسلک هیوادو د نهضت په تأسیس کې برخه واخیستله.

په ۱۹۵۷ کې د پاکستان صدراعظم کابل ته راغی، تر دې پخوا د ۱۹۵۵ په اگست کې صدراعظم سکندر میرزا هم راغلی ؤ، خو د خبرو نتیجې مطمین نه وې. په ۱۹۵۸ کې باچا محمد ظاهر شاه پاکستان ته سفر وکړ، خو بیا هم نتیجه نه لیدل کېده، پاکستان ترانزیتي لارې بندې کړې او افغانستان د شوروي سره د ترانزیت یو معاهده وکړه چې پر لویدیځ ډېره بده تمامه شوه.

د پاکستان او د مرکزي ترون د غړو له خوا تبلیغ ډېر زیات ؤ چې ترکیه او ایران، پاکستان او افغانستان د یو کانفدریشن جوړولو تصمیم لري، خو افغانستان دغه آوازې کاملاً دروغ وبللې.

په ۱۹۵۸ کې صدراعظم سردار محمد داؤد امریکا ته سفر وکړ او هلته یې امریکا ته د سیمې مشکلات بیان کړل او ضمناً یې د وسلې غوښتنه وکړه، خو امریکایانو ځواب ورکړ او هم یې دا وروفهموله چې که د (سنتو) یا (سیټو) په پکټ شامل واوسي بیا کیدای شي چې امریکا یې په حمایت ودریږي او ضمناً یې دا هم وریاده کړه چې په ۱۹۵۶ کې یې د چکوسلواکیا سره د وسلو قرارداد کړی دی. پر افغانستان د اقتصادي فشار ډیری بدې ورځې رابرابرې شوې او ۱۹۵۹ یو ډېر د سختی کال ؤ.

د ۱۹۶۰ په جنوری کې بیا خارجه وزیر محمد نعیم پاکستان ته سفر وکړ او هلته یې د روغې د ادعادې خبرې وکړې. که څه هم په افغانستان کې د پاکستان او په پاکستان کې د افغانستان سیاسی نمایندگی چې مادي او معنوي زیان یې لیدلی ؤ بیرته جبیره وشوه، خو د بن بست د ورکیدو کیلي هم هغسې ورکه پاته شوه.

د دواړو خواؤ په نشراتو کې ډېر ترخه او د اخلاقي حریم څخه د باندې بیانونه نشریدل او دا پر عمومي وضع لکه پر اور د تیلو تویولو کار ورکاوه.

د ۱۹۶۰ په مارچ کې صدراعظم ایران ته سفر وکړ او هلته یې د ایران د شاه سره د مسایل مطرح کړل خو بیا هم بن بست مات نه شو. داؤد خان پیوسته تلاشونه کول، خو د ۱۹۶۱ کال د جون په ۲۶ یې په لندن کې د انگریز د خارجه وزیر او تولواکمنی الیزابتی سره وکتل خو دا سفر هم نتیجه نه درلوده او غیر مستقیم داؤد ته ورفهمول کیدل چې د شوروی څخه لیرې شي.

د ایران منځگړیتوب بې نتیجې شو او د ۱۹۶۱ د سپتمبر په ۶ د افغانستان او پاکستان سیاسي اړیکي مطلق قطع شول.

د امریکا جمهور رئیس کینډي تلاش وکړ چې وضع نورمال حالت ته راولي او د ایران باچا د ۱۹۶۲ په جولای کې کابل ته راغی خو دا ټول کوششونه بې نتیجې شول او داؤد خان پس له لس کاله صدارت څخه د ۱۹۶۳ کال په مارچ کې د وظیفې څخه مستعفي شو.

## ۱۷- کابل ته د نړۍ د سیاسي زعماؤ سفرونه:

پس له هغه چې انګریز د لوی هند څخه ووت او د هندو پاکستان په نامه نوي دولتونه منځ ته راغلل، نو د سیمې دډیپلوماسي قالبونه لاڅرګند تاکل شوی نه وو، په همدغه حساس تاپي کې افغانستان د نړۍ پاملرنه جلبوله.

د سردار داؤد خان په صدارت کې لومړی شخصیت د امریکا و حمهور رئیس مرستیال نیکسن ؤ چې کابل ته راغی او داؤد خان د وسلې مرسته وریاده کړه، خو هغه هیڅ ځواب ورنه کړ او دا وخت د ۱۹۵۳ نوامبر ؤ.

د ۱۹۵۵ کال د اپریل په ۲۹ د عربي متحد جمهوریت جمهور رئیس جمال عبدالناصر د باندونګ تر کنفرانس وروسته کابل ته راغی او دلته یې د محمد داؤد خان سره د یو مشترک سیاست مفاهمې وکړې. د ۱۹۵۵ په دسمبر کې د شوروي زعما بلګانین او خروسچف کابل راغلل او د افغانستان سیاسي موقف یې په ډاګه څرګند او تائید کړ.

څرنګه چې پکتونو ته د افغانستان د کشولو هیلې کیدلې، نو ۱۹۵٦ په جولای کې د ترکیې صدراعظم عدنان مندرس کابل ته راغی، په دې توګه چې افغانستان د وسلو بازار لټاوه، نو د چکوسلواکیا صدراعظم د ۱۹۵۸ په سپتمبر کې کابل راغی.

د افغانستان او پاکستان اختلاف خطرناک بُعدونه پیدا کول چې د ۱۹۵۹ په مارچ کې د ملګرو ملتونو سرمنشي داک همرشولډ کابل ته راغی، هندوستان چې د پاکستان سره په رقابت کې د افغانستان موقف تائیداوه نو د ۱۹۵۹ د دسمبر په ۹ د امریکا جمهور ایزن هاور چې پاکستان ته روان ؤ لارې د لارې راوګرځید او ٦ ساعته په کابل کې ؤ. د دهم غیر مستقیم افغانستان تشویقاوه چې په یوه پکت کې شامل شي، خو د لویدیځ له مرستو ګټه پورته کړي.

څرنګه چې شوروي هم افغانستان تر نظر لاندې ساتی، نو د ۱۹٦۰ په مارچ کې یو ځل بیا خروسچف کابل ته راغی.

افغانستان د چین د خلکو د جمهوریت پاملرنه هم جلب کړې وه لکه چې د ۱۹٦۰ په اګست کې د چین خارجه وزیر چین یی کابل ته راغی او په هغه پسې صدراعظم چوین لای هم یو سفر افغانستان ته وکړ.

په ۱۹٦۲ کې د ایران باچا محمد رضاشاه پهلوي کابل ته راغی چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ منځګړیتوب وکړي، خو ناکامه شو. همداسې د افغانستان او پاکستان دولتي مشران وخت په وخت یو د بل هیوادونه ته ورغلي وه، د دغو سفرونو عمده هدفونه تړوله په یوه تاکلي برخه کې سیاسي وه، خو دغو لس کلنو تلاشونو کارونه کړ، څو یې سردار مات او له میدانه ویوست.

## ۱۸ - د لومړي اقتصادي پلان لاس ته راوړنې:

سردارمحمد داؤد د ذهني نظم خاوند شخصیت ؤ او په دې ښه پوهیدی چې په کومو وسایلو بې هیواد د مشکلاتو پر حل بریالی کیدای شي. ده د اقتصادي تولیدي مؤسسو د رشد او پراختیا لپاره ډیر سخت تلاش کاوه، ځو یې کارونه د پلان په چوکاټ کې تنظیم کړل او لومړی پنځه کلن پلان چې په ۱۹۵٦ کې پیل شوی ؤ دوهم پلان په ۱۹٦۱ کې تر کار لاندې ونیول شو.

په لومړي اقتصادي پلان کې د انکشافي بودجې مصارف په زیربنایي چارو کې په کار ولویدل چې د هغو څخه د سړکانو جوړول او د بریښنا د تولید کار ډیر مخته ولاړ.

په دغه موده کې د کابل -کندهار او سپین بولدک تر منځ کابل-تورخم، کابل- قزل قلعه، د سالنګ تونل، د کندهار، هرات او کشک تر منځ سړک یا تکمیل شول یا تکمیل ته نژدې شول.

همدارنګه په بریښنا کې د نغلو د اوبو بریښنا د ٦٦ زره کیلوواټو په ظرفیت، ماهیپر د ۱۰ زره کیلو واټ په ظرفیت، درونټې بند د یوولسو زره کیلوواټو په ظرفیت بریښنا تولید شوه او د مزار شریف بریښنا ۱۰ زره کیلواټونه لوړه شوه.

د نفت او ګاز د تفحصاتو کار په شمالي ولایاتو کې پیل او برمه کاری یې نتیجه هم ورکړه. د ډبرې سکاره په کافي اندازه تولید شول او د صنایع په برخه کې چې مزار شریف کې د کیمیاوي کود فابریکه د کاله سل(۱۰۰) زره ټنه ته ورسیدله، د غوری د سمنت جوړلو فابریکه او په ټولو لارو کې د ترمیم کارخانې جوړې شوې[1] چې په دې لړ کې د کابل د جنګلک فابریکه یو داسې کمپلکس ؤ چې وروسته یې ډیر لوی ماشینونه، نه یوازې ترمیمول، بلکې د مونتاژ کار یې هم کاوه.

همدارنګه د ننګرهار پروژه یوه مثمره پروژه وه، سره له دې چې په ډیرو درنو مصارفو تمامه شوه، خو نتیجه ډیره ښه وه او دا زمینه برابره شوه چې د ننګرهار پروژه په ټول ژمي کې ټول افغانستان ته میوه او سابه ورکړي.

دا د لومړي پنځه کلن اقتصادي پلان لاسته راوړنې وې، خو دوهم اقتصادي پلان کې دوه کاله سردار محمد داؤد په صدارت کې ؤ او وروسته چې مستعفي شو، دغه دوهم پلان مفرداتو ته هم پاملرنه کمه شوه.

داؤد خان په کار کې ډیر زړور سړی ؤ او دا مصارف که غیر له ده څخه بل څوک وای ښایي جرئت یې نه وای کړی، خو ده د زړورتیا او فهمیدګی څخه علاوه پاکی او تقوا هم درلوده.

---

(۱) نبی عظیمی اردو و سیاست در سه دهه اخیر افغانستان، چاپ پیښور، ص ٤٦.

## ۱۹- د ملک خان د کودتا او د صبغت الله مجددي د بند پیښه:

عبدالملک عبدالرحیم زی د ترکیې څخه د لوژستیک په رشته کې فارغ التحصیل شوی او هغه مهال چې داؤد خان وزیر دفاع ؤ د دغه منصبدار له کار څخه ډیر راضی ؤ، نو کله چې صدراعظم شو هغه یې د مالیې وزیر مقرر کړ.

پخپله ملک خان یو ښوراندو او مغرور سړی ؤ او د باچا کورنۍ ته یې اعتنا نه کوله، حتی نعیم خان (د داؤد خان ورور) چې د باندونګ کنفرانس ته د هیأت رئیس ؤ او ملک خان هم د هیأت غړی ؤ، په هم هغه خارج کې ډیرې سختې خبرې وکړې او د دغه سردار دښمنی یې پر سر واخیسته.

په پاچهي کورنۍ کې د هیچا ښه نه ورڅخه راتلله، څو یې په یوه توطیه کې دده پښه راګیر کړه، په اتمه فرقه کې جګړن سید کریم و سردار عبدالولی ته خبر ورکړ چې د فرقې قوماندانی جنرال خواجه خلیل غواړي د ملک خان په رهبرۍ کودتا وکړي. دا خبر صدراعظم داؤد خان ته ورسید او د ۱۹۵۷ په جولای کې ملک خان او په دغه اطلاع کې داخل کسان ونیول شول او په شکنجو کې تحقیق ورڅخه وشو، خو ملک خان ټوله تورونه رد کړل، ولې په زندان کې پاته شو، دده ورونه عبدالرحمن سپین غر او عبدالله هم ونیول شول او جایدادونه یې ضبط شول. د صدارت څخه د داؤد تر تګ وروسته د نوي اساسي قانون په دوره کې هم بندي پاته شو او د داؤد خان په جمهوریت کې هم بندي ؤ او حتی د ثور د ۷ کودتا په حکومت کې له زندانه راونه ووت او بند یې ۲۳ کالو ته ورسید، څو د عفوې نړیوال سازمان راویوست. د داؤد د صدارت بله مهمه واقعه د شوربازار د حضراتو سره خشن اړیکې ؤ، صبغت الله مجددي د میاجان حضرت زوی او د شمس المشایخ لمسۍ ؤ، ده په مصر په ازهر کې دیني علوم لوستي وو او بیا د کابل پوهنتون استاد و او په هغه پسې د پوهنتون څخه د حبیبیې لیسې استاد شو، دغه تنزیل دده د شکایت باعث وګرځید.

په ۱۹٦۰ کې چې خروسچف کابل ته راغلی چې ضبط احوالاتو ته اطلاع ورکول شوه چې حضرت صبغت الله مجددي غواړي چې کله خروسچف د بګرام له هوایي ډګر څخه کابل ته راځي د میربچه کوټ په سیمه کې د خپلو مریدانو سره د میلمنو پر موټر حمله وکړي.

دا چې دغه اطلاع درواغ وه که رښتیا، خو حضرت صبغت الله ونیول شو او په دهمزنګ کې کوټه قلف شو، د حضراتو کورنۍ د داؤد خان له دې عمل څخه ډیره خواشیني شوه او هرې خوا ته په داؤد خان پسې خولې خلاصې شوې، خو داؤد خان هم د کلای جواد حضرات ډیر وټکول او زیات یې بندیان کړل.

د پاکستان سره د سیاسي اختلاف په لړ کې د حضراتو د وجود څخه پاکستان خورا زیاته استفاده وکړه او هغوی یې د داؤد خان سره په غاړه کې واچول.

حضرت صبغت الله مجددي پر وخت په زندان کې ؤ او کله چې د زندانه راووت پاکستان ته ولاړ او هغه مهال چې شوروي قواو پر افغانستان تیری وکړ، حضرت هم په اووه گونو تنظیمونو کې د ملي نجات جبهه جوړه کړه، خو بالاخره له دي لارې د دوو میاشتو لپاره دافغانستان جمهور رئیس شو.

## ۲۰- د محمد داؤد د حکومت سقوط:

محمد داؤد خان د خپل حکمت په اخیر کې د لویو اقتصادي او سیاسي ستونزو سره مخامخ شو. هغه تولیدي پروژې چې دده تر کار لاندې نیولې وې و بهره برداری ته لا نه وی رسیدلی، له بلې خوا د پاکستان محاصره او د امریکا د مرستو بندیدل په ۱۹٦۱ کې دده باعث شول چې حکومت په ټولو وزارت خانو کې شل فیصده بودجه تنزیل کړی، برسیره پر دې یو خطرناک انفلاسیون هم خوله ولگوله او هم باچا او هم خلک د سختی وارخطایی سره مخامخ شول. په سیاسی برخه کې داؤد خان په زور د شوروی غیږی ته ورتیل وهل شو، د یوې خوا دده خیره سری د بلې خوا د لویدیځ بلاک توطیو دا زمینه برابره کړه چې سردار داؤد میدان خوشې کړی. پخپله سردار هم پوهیدی د ناکامی پر پوله ولاړ دی نو ددې لپاره چې پر یوه پخه پایه دوهم ځل بیا قدرت واخلی، د باچا په عنوان یې دوه مفصل یادداښتونه صادر کړل په دغه پیشنهاد کې دا ددوې خبرې پټې وې، یو دا چې حکومت باید حزبی شی او یو حزب ته قدرت وسپارل شی، دوهم د باچایی کورنی غړی د حکومت په کار کې جداً منع شی.

باچا ددا یوه مکتوب ځواب هم ورنکړ او باچا په دې خوښ ؤ چې داؤد له صحنې څخه ووځي، خو داؤد داسې فکر کاوه چې که دده یادداښتونه باچا ومني، نو دی به یو حزب جوړ کړي او د هغې لارې به بیا حکومت په لاس کې واخلي، خو دا آرزو یې سرته و نه رسیده. تر یو مودې انتظار وروسته سردار په دې پوه شو چې باچا دده نظر نه مني، نو د ۱۹٦۳ کال د مارچ په ۳ یې استعفا باچا ته وړاندې کړه او باچا هم سمدستي ډاکټر محمد یوسف د کابینې په جوړولو مامور کړ.

د داؤد خان حکومت په تقریباً ناڅاپي توگه سقوط وکړ او سردار ته د خپلو نیم کاره کارونو د تکمیل ارمان په زړه کې پاته شو.

د داؤد خان د حکومت په سقوط کې د ستو د ترون غړو غټه برخه درلوده چې په هغه کې د پاکستان ایران او امریکا سهم زیات ؤ.

سردار په داسې شیوه د ډاگه وویشتل شو چې نه شوروي او نه د غیر منسلکو هیوادونو قوتونو نجات ورکولای شوای. داؤد خان باچا یو بې تصمیمه مقام باله او په ډیرو مجالسو کې به یې ویل چې باچا ملت خطا باسي او ملت باچا! د داؤد خان د منځه تلو سره د نوي اساسي قانون مسأله هم وړاندې شوه او ډاکټر یوسف لومړی غیر سردار شخصیت ؤ چې صدارت ته رسیدلی ؤ.

# د اساسي قانون لسیزه

## ۲۱- د ډاکټر یوسف حکومت:

د داؤد خان تر استعفا وروسته باچا ډاکټر عبدالظاهر ته بلنه ورکړه چې حکومت جوړ کړي، خو هغه عذر وړاندې کړ او په دې پسې یې د ۱۹۶۳ کال د مارچ په لومړي هفته کې ډاکټر محمد یوسف ته ماموریت وسپاره چې کابینه جوړه کړي او هغه هم د مارچ په ۱۳ خپله کابینه معرفي کړه. ډاکټر یوسف دا ثابته کړه چې واقعاً یو زړور شخصیت ؤ چې د داؤد خان په بستر کې یې د پریوتو جرئت وکړ.

د داؤد خان د حکومت پنځه غړي چې سخت د سردار تر نفوذ لاندې وو د هغه په اجازه د ډاکټر یوسف په کابینه کې اشتراک وکړ، دا پنځه غړي عبدالله ملکیار، ډاکټر علي احمد پوپل، علي محمد خان بدخشي، ، سید عبدالله او سید شمس الدین مجروح وو، خو وروسته چې داؤد خان د ډاکټر یوسف څخه مایوسه شو چې هغه اعتنا نه ورته کوي، نو دغو پنځو غړو ته یې په حکومت کې د مستقیمې همکارۍ څخه د لیرې کیدو زیګنال ورساوه.

په دې توګه سید عبدالله چې د داؤد خان په وخت کې داخله او بیا عدلیه وزیر ؤ، په شخصي دلایلو وظیفه پریښووله، ډاکټر پوپل په ۱۹۶٤ کې فدرال آلمان کې سفیر، عبدالله ملکیار چې لور یې د داؤد خان زوی ته ورکړې وه په لندن کې سفیر شو.

دډاکټر یوسف اوږې هم ددغو کسانو په تګ سپکې شوې او هغه تاکلي پلانونه چې ده او باچا په نظر کې نیولي وو د تطبیق لپاره یې بې تشویشه زمینې برابرې شوې.

ډاکټر یوسف د فزیک په رشته کې د لویدیځ آلمان څخه ډیپلوم اخیستی ؤ او کله چې په صدارت وټاکل شو عمر یې ٤۹ کالو ته رسیدئ. دا سړی د کابل یوې متوسطې طبقې ته منسوب ؤ او لومړی صدراعظم ؤ چې د سردارۍ لقب یې نه درلود.

باچا یې کورنۍ ته منسوب سردارانو دده څخه ډیر توقعات درلودل چې دی به ددوی د امر تابع وي او خلکو ته به دا ورڅرګندوي چې دا دی ستاسې یو سړی ته دومره غټ مقام ورکول شوی دی، خو وروسته چې په پوه شول چې ډاکټر یوسف مستقل شخصیت دی، نو دده په تخریب یې پیل وکړ.

دده سره سید قاسم رښتیا او دهغه ورور فرهنګ په اخلاص کار کاوه او رښتیا وزیر مطبوعات او بیا وزیر مالیه شو چې پرځای یې میوندوال وزیر اطلاعات او کلتور (مطبوعات) شو.

کله چې ډاکټر پوپل وزارت معارف خوښې کړ، نو ډاکټر قیوم یې هلته مقرر کړ، د کابینې نور غړي یې هم نوي ځیرې وې او له همدې ځایه وو چې په شورا کې یو وکیل پر ږغ کړل «صدراعظم صاحب دا خو دې مدیران راوستلي دي د یوه و الله که رنګ د وزیر دی»

د باچا په لارښوونه د ډاکټر یوسف عمده وظیفه د نوي اساسي قانون تدوین او د قانوني مراتبو طی کول وو، دا د یوه ډموکراتیک قانون طرح وه چې خورا ډېرې خبرې پرې پیدا شوې، خو په پای کې نافذ شو.

## ۲۲- د نوي اساسي قانون د تسوید او انفاذ مراتب:

ډاکټر یوسف صدراعظم د خپلې کابینې د معرفي کولو پس سمدستي دا دریم اساسي قانون، یعنې لومړی اساسي نظامنامه د اعلیحضرت امان الله په وخت کې نافذ شول او دغه نوی قانون نو دریم اساسي قانون ؤ. د دغه اساسي قانون د تسوید او ه کسیز د کمیټه داسې وټاکل شوه:

۱- سید شمس الدین مجروح عدلیه وزیر د کمیټې د رئیس په توګه.

۲- سید قاسم رښتیا د مطبوعاتو وزیر غړی.

۳- ډاکټر نجم الدین د پوهنې وزارت مشاور غړی.

٤- محمد موسی شفیق د عدلیه وزارت د قوانینو مدیر غړی.

٥- ډاکټر عبدالصمد حامد د پوهنې وزارت د منځنیو تدریساتو رئیس غړی.

٦- میرمحمد صدیق فرهنګ د سیدقاسم رښتیا ورور غړی.

۷- حمیدالله د علي محمد خان بدخشي زوی د کابل پوهنتون د حقوقو استاد غړی.

په دې مسوده کې (٢٤) ماده د ډېر سخت جنجال باعث و ګرځیده، د دې مادې متن داسې ؤ:

«د باچا زوی، لور، ورور، خور او د دوی میړونه او ماندینې زامن او لونې د باچا اکا او د اکا زوی باچایي کورنی تشکیلوي. د باچا کورنی د دولت په رسمي تشریفاتو کې تر باچا او ملکې وروسته ځای نیسي.

د باچایي کورنی مصارف د باچایي مصارفو په بودجه کې ټاکل کیږي، القاب بوازې باچایي کورنی ته مختص دي او د قانون مطابق ټاکل کیږي. د باچایي کورنی غړي په سیاسي ګوندونو کې ګډون نه کوي او لاندې وظایف پر غاړه نه اخلي:

۱) عظمی صدارت یا وزارت،

۲) د شورا غړیتوب،
۳) د سترې محکمې غړیتوب.
د باچایی کورنۍ غړی د باچاېي کورنۍ د غړي په صفت حیثیت مادام الحیات ساتي. »
دې مادې غوغا پاڅوله او د داؤد خان مینه والو به ویل چې باچا په دې ماده د تل عمر لپاره د داؤد څخه ځان خلاص کړ. خو د دې لپاره چې دا مسوده نوره پخه شي نو پر دغه مسوده یې د غور کولو یو کمیسیون وټاکه چې د ۱۹٦٤ د فبروري په ۲۹ یې کار پیل کړ او غړي یې دا کسان وو:

۱- عبدالهادي داوي لیکوال او سیاسي شخصیت
۲- صلاح الدین سلجوقي دانشمند
۳- عبدالمجید زابلی د اقتصاد پوه
٤- خلیل الله خلیلي مشهور شاعر
۵- نوراحمد اعتمادي ډیپلومات
٦- ډاکتر محمد اصغر دانشمند او کابل ښاروال
۷- ډاکتر محمد آصف سهیل د طب ډاکتر او شاعر
۸- محمد قدیر تره کی استاد
۹- میرغلام محمد غبار مؤرخ
۱۰- ډاکتر عبدالقیوم رسول د طب ډاکتر
۱۱- احمد علی کهزاد مؤرخ
۱۲- عبدالرشید لطیفي لیکوال او ډرامه لیکونکی
۱۳- امیرالدین شنسب انجنیر او پانګه وال
۱٤- صدیق الله رښتین لیکوال او ژبپوهاند
۱۵- غلام سرور رحیمي استاد
۱٦- کبرا نورزایي ښوونکې
۱۷- معصومه وردک ښوونکې
۱۸- محمد هاشم مجددي استاد
۱۹- محمد کریم نزیهي لیکوال
۲۰- محمد کریم عفیفي لیکوال
۲۱- مولوي محمد شاه ارشاد فقیه
۲۲- مولوي عبدالرب فقیه

۲۳ - مولوي غلام نبي کاموی فقیه

۲٤ - ډاکتر عبدالواحد سرابی استاد

۲۵ - عبدالکریم احراری لیکوال

۲٦ - لعل محمد کاکړ کندهار ښاروال

۲۷ - محمد ظاهر ځدران، ښوونکی

۲۸ - ډاکتر خلیل احمد ابوی استاد

له دغې جملې څخه میرغلام محمد غبار او صلاح الدین سلجوقی د روغتیا د خرابۍ او محمد آصف سهیل په نامعلومو دلایلو په کمیسیون کې برخه وانخستیله.

د اول فبروري څخه د مارچ تر اول پورې (۱۹٦٤) ټول مواد مفصلاً بررسي شول، خو د جنجال د دایرې مرکز هم هغه (۲٤) ماده وه چې وروسته معصومه عصمتي هم پر دغه ماده انتقاد کاوه.

د ۱۹٦٤ د سپتمبر له ۹ څخه لویه جرګه په دې تناسب دایره شوه:

۱) د ملی شورا د یوولسمې دورې وکیلان ۱۷٦ کسه

۲) د نویو وکیلانو انتخاب د یو سفر په معیار ۱۷٦ کسه

۳) د اعیان د مجلس غړي ۱۹ کسه

٤) د وزیرانو د هیأت غړي ۱٤ کسه

۵) د تمیز د عالي محکمې غړي ۵ کسه

٦) د قانون اساسي د تسوید د کمیټې غړي ۷ کسه

۷) د مشورتي کمیسیون غړي ۲۳ کسه

۸) د هیواد له مشهورو شخصیتونو څخه د باچا انتخاب ۳٤ کسه

ټوله = ٤۵٤ کسه

د ۱۹٦٤ د سپتمبر په ۲۰ د اساسي قانون متن تصویب شو، په دې پسې پاچا د ۱۳٤۳ کال د میزان په ۹ توشیح کړ او د انتقال دوره پیل شوه.

د دغه اساسي قانون ۲٤ ماده و د چې د باچا کورنۍ یې عصبي کړې وه او د دوی د ګټو لوی مدافع سردار نوراحمد اعتمادي ؤ چې وروسته تر صدارت پورې هم ورسید، خو لس کاله چې د دغه اساسي قانون نافذ ؤ هم دغه ماده د جنجال د منځ ټکی ؤ.

## ۲۳- د ډاکتر یوسف پر باندني سیاست یو لنډ نظر:

د پاکستان سره د افغانستان مختنق اړیکې چې د داؤد خان د حکومت په آخر کې د خرابې اوج ته ختلې وو، نو محمدداؤد د استعفا او د ډاکتر یوسف د حکومت له پیل سره لومړني کوښښونه دې ته وقف شول چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ سیاسي اړیکې بیرته قایمې شي.

د محمد داؤد خان د حکومت په وخت کې د ایران باچا محمد رضا شاه پهلوي د افغانستان او پاکستان ترمنځ منځګړیتوب پیل کړی ؤ، خو نتیجه یې نه وه ورکړې، نو ډاکتر یوسف چې ورغی بیا یې د ایران باچا ته د منځګړیتوب بلنه ورکړه، په دغه وخت کې د امریکا جمهور رئیس جان اف کنیډي خپل نماینده یونکستون تی مرچنت مؤظف کړی ؤ چې د افغانستان او پاکستان په اړیکیو کې د ښه والي تلاښ وکړي، خو وروسته امریکا دا ښه وبلله چې دغه ماموریت د ایران باچا ته وروسپاري. له دې سره یو افغاني هیأت تهران ته ورغلی او هلته یې د پاکستاني هیأت سره تر خبرو وروسته د ۱۹٦۳ د مۍ په ۲۹ پر یوه سند لاسلیک وکړ چې سیاسي اړیکې بیا قایم شول او دغه کار د ډاکتر یوسف د حکومت په دوهمه میاشت سرته ورسید.

نور نو شدید تبلیغات هم بند شول او د تجارت په وړاندې مشکلات هم تر ډیره ځایه هوار شول، ځرنګه چې افغانستان د عدم انسلاک د سیاست په تعقیب ښه شهرت موندلی ؤ او د دغه کار ویاړ زیاتره محمد داؤد خان ته وررسېږي، نو د دې لپاره چې د ډاکتر یوسف پر حکومت له دې ناحیې کوم الزام وارد نه شي، نو په هم هغه پخواني حرارت یې د عدم انسلاک ملګرتوب تعقیب کړه.

د ۱۹٦٤ په اکتوبر کې صدراعظم ډاکتر یوسف د غیر منسلک هیوادونو د دولتونو او حکومتونو د مشرانو په جرګه کې چې په قاهره کې جوړه شوې وه، ګډون وکړ او د افغانستان د پېښو یو مفصل ګزارش یې ورکړ. همدارنګه یې د چین له ولسي جمهوریت سره اړیکې پراخ کړل او په ۱۹٦٤ کې د افغانستان او چین د سرحد کرښه په نښه شوه.

د پاکستان سره سیاسي اړیکې دومره سره نژدې شوې چې په ۱۹٦٤ کې د پاکستان جمهور رئیس فیلډ مارشال محمد ایوب خان کابل ته سفر وکړ او په ۱۹٦٥ کې د پاکستان صدراعظم ذوالفقار علي بوټو د خبرو لپاره کابل ته راغی.

د شوروي اتحاد او هند سره هم اړیکې په عادي حال کې وې. په ۱۹٦۳ کې د شوروی رئیس جمهور برژنیف کابل ته راغی او په ۱۹٦٥ کې ډاکتر محمد یوسف هند ته رسمي سفر وکړ.

په عمومي توګه د باندني سیاست له نظره د افغانستان فضا ډاډمنه شوه خو په داخل کې چپي طاقتونو د حکومت مشکلات زیاتول.

## ۲٤ - دعقرب د دریمې پیښه د ډاکتر یوسف دسقوط باعث شوه:

ډاکتر یوسف د دوه نیم کالو په انتقالي دوره کې یو شمیر چارې سرته ورسولې، ځو د نوي اساسي قانون په اساس نوې منتخبه شورا د ۱۹٦٥ د اکتوبر په ۱٤ دایره شوه او باچا یو ځل بیا ډاکتر محمد یوسف ته بلنه ورکړه چې خپله کابینه او کړنلاره شورا ته معرفي کړي.

د اکتوبر په ۲٤ صدراعظم د وزیرانو سره شورا ته ورغی، خو هلته یې ولیدل چې حتی د وکیلانو چوکۍ هم ننداراچیانو چې زیاتره محصلین وو، اشغال کړې دي او یوه بې بند وباري روانه وه. صدراعظم او شورا (ولسي جرګې) رهبرۍ جلسه معطله کړه، سبا د اکتوبر په ۲٥ (۳ عقرب ۱۳٤٤) شورا تر امنیتي قیودو لاندې وه چې صدراعظم ډاکتر یوسف خپله کابینه معرفي او کړنلاره یې قرائت کړه، د ولسي جرګې غړو هم خپل فرمایشونه وویل او بیا په غټ اکثریت د ډاکتر یوسف حکومت ته د اعتماد رایه ورکول شوه، خو دا چې ولسي جرګې تالار ته ننداراچیان نه وو پرېښودل شوي یوه مظاهره وشوه چې تر ماپښین پورې یې د شاملینو شمیر ډیر زیات شو.

دوی ډاکتر یوسف او ولسي جرګه په توطیه او غیر ډموکراتیک عمل متهمول او په شدت د زنده باد او مرده باد نارې وهل کیدې ځو تر لمر لویدو لږ وړاندې د ډاکتر یوسف کور ته ورسیدل، هلته محافظینو او امنیتي قواو هوایي ډزې وکړې، خو خروښیدلي مظاهره چیان شاته نشول ځو د یو مقام په امر مستقیم فیرونه پر وشول چې یو شمیر مړه او ځینې ژوبل شوه، داسې ویل کیدل چې دا امر د باچا زوم سردار ولي چې د مرکزي قواؤ قوماندان و، ورکړی ؤ.

عصبیتونه ډیر پراخ شول او باچا مجبور شو چې ډاکتر محمد یوسف په یو بل چا تعویض کړي. د ۱۹٦٥ د اکتوبر په ۲۹ د راډیو څخه اعلان وشو چې ډاکتر یوسف د صحي معاذیرو په نسبت خپله استعفا باچا ته وړاندې کړه او باچا هم قبوله کړه او محمد هاشم میوندوال یې د کابینې په جوړولو مامور کړ. ډاکتر یوسف ډیر خواشیني شو چې باچا دده حمایت و نه کړ، ځو دا ؤ چې په لویدیځ آلمان کې د سفیر په توګه مقرر شو.

د عقرب د ریمه دومره یوه غټه فاجعه نه وه چې ډیر لوړ تاریخي یاد یې وساتل شي، خو د کابل چپي ګروپونو په خاصه توګه خلقیانو او پرچمیانو د هغې په باب د مبالغې ډک تبلیغات کول.

البته په دې پیښه کې ځاني تلفات وو، خو یو شمیر وایي چې صرف د یو خیاط شاګرد ټکنبې ژوبل شوی دی.

## ۲۵- د میوندوال حکومت:

د نوي اساسي قانون په لسیزه کې میوندوال (محمد هاشم) دوهم صدراعظم ؤ چې د ډاکتر یوسف تر سقوط وروسته د باچا له خوا په صدارت مامور شو او خبر یې د ۱۹۶۵ د اکتوبر په ۲۹ له راډیو څخه اعلان شو.

میوندوال چې پلار یې د مقر په پښتنو کې اوسیدی یو اوزبک[۱] ملا ؤ خو د پښتنو یوه متنفذ ملاګل آخندزاده خپله لور ورکړه او دغې ښځې څخه میوندوال وزیږید.

میوندوال یو ځیرک او هوښیار زمامدار ؤ، ده د سلجوقي سره د ښځې له خوا او د ملکیارانو سره خپلوي درلوده او ښځه یې دغو کورنیو ته منسوبه وه، نو ځکه په دربار کې یې نفوذ وکړ، یوه موده د انیس مسؤل مدیر ؤ بیا د مطبوعاتو د مستقل ریاست معاون او رئیس ؤ او ډاکتر یوسف په کابینه کې د اطلاعاتو او کلتور وزیر شو، کله چې د عقرب د دریمې پیښې په اثر چې ډاکتر یوسف مستعفي شو میوندوال د صدراعظم په توګه قدرت تر لاسه کړ.

میوندوال په آساني د شورا څخه د اعتماد رایه واخیسته او بیا سمدستي پوهنتون ته ورغی او په داسي حال کې چې توره پټه یې تر مټ تاو کړې وه محصلینو ته یې د عقرب د دریمې د شهیدانو فاتحه ورکړه او وعده یې وکړه چې د پیښې عاملین به ژر ونیسي او په جزا به یې ورسوي، میوندوال سره له دې چې یو ځیرک او زرنګ سیاستمدار ؤ دلته یې اشتباه وکړه، ده خیال کاوه چې ژر به محصلین دا واقعه هیره کړي، خو تر دې تاوده دیګدان د پردیو اور لاندې ؤ، نو ځکه واقعه هیره نشوه، د بلې خوا د پیښې لوی عامل سردار عبدالولي د پاچا زوم او مقتدر سردار ؤ چې ټولو پېژندی، ولې نوم یې چا نشوای اخیستلای او میوندوال هم له دغه کاره عاجز ؤ.

محصلینو تر یوې مودې انتظار وایستی، وروسته یې په توندو مظاهرو لاس پورې کړ او په یوه مخامخ صحبت کې چې صدراعظم ورسره مخامخ ؤ محصلینو هغه ته وویل: ته د دې لایق نه یې چې مور دې سلام ته ځواب ووایو، یو محافظه کار سړی یې چې بې له خطا ایستلو بل کار نه لري.

که څه هم میوندوال ډیر حوصله وکړه، خو محصلینو خپلو مظاهرو ته دوام ورکړ او د حکومت څخه یې د عقرب د دریمې د پیښې د قاتلینو افشاء کول غوښتل.

میوندوال د دولت په دستګاه کې هم د سختو رقابتونو سره مخامخ ؤ، ولې باچا دده سره مرسته کوله او ده هم غوښتل د یو ربښتیاني مشروطه باچهي د تحقق لپاره خپل نقش ثابت کړي.

---

(۱) اصلاً د ماوراءالنهر څخه ؤ.

## ۲۶- د میوندوال کابینه:

میوندوال د حکومت له پیل سره د سیالیو او سیاسي رقابتونو سره مخامخ ؤ، خو ژر یې د حساب تصفیه وکړه، پخوانی صدراعظم ډاکتر محمد یوسف یې په ۱۹۶۵ د اتحادی آلمان په مرکز بن کې د سفیر په حیث مقرر کړ. په ۱۹۶٦ کې سید شمس الدین مجروح یې، چې وزیر عدلیه او د نوي اساسي قانون په طراحانو کې ؤ، په قاهره کې د سفیر په حیث واستاوه، په همدغه کال یې معروف شاعر خلیل الله خلیلی یې چې په اصطلاح خطرناک دهان پاره سړی ؤ په سعودي عربستان کې سفیر کړ.

سیدقاسم رښتیا چې د ډاکتر یوسف د کابینې غښتلی غړی او د هغه مشاور ؤ او په هغه وخت کې یې میوندوال ته په سپک نظر کتل کوم مقام ورنه کړ او ډېر تکالیف یې هم ورته متوجه کړل، همدارنګه موسی شفیق یې د خارجه وزارت مشاور او ډاکتر حامد یې د سره میاشتې سکرتر جنرال کړ چې دا دواړه بستونه یې نقشه وه او نور یې هم په بانفوذه خلکو پسې سترګه وړله.

تر دې وروسته یو غیر مشهور شخصیت عبدالستار شالیزی یې داخله وزیر او د صدارت معاون کړ. دا یو بذله ګویه او ټوکمار سړی ؤ چې اساسی قانون یې « کتابچه ء شیطان » بلله او وروسته یې میوندوال ته هم جنجالونه پیدا کړل.

نوراحمد اعتمادی یې وزیر خارجه کړ، طبیبی یې وزیر عدلیه کړ چې وروسته یې په احسان ترد کی تعویض کړ، عبدالرؤف بینوا یې وزیر اطلاعات وکلتور مقرر کړ او عبدالکریم حکیمی ته یې وروسته وزارت مالیه ورکړه، جنرال خان محمد خان چې د ډاکتر یوسف په کابینه کې هم د دفاع وزیر ؤ د میوندوال په کابینه کې هم پر دغه عهده پاته ؤ، دا سړی د اساسي قانون د دورې د نورو حکومتونو کې لکه اعتمادی، ډاکتر عبدالظاهر او موسی شفیق په وخت کې هم د دفاع وزیر ؤ، څو د داؤد د جمهوریت په کودتا کې، پورې وهل شو. میوندوال یوه ښځه هم په کابینه کې شامله کړه چې هغه کبرا نورزی وه.

میوندوال غوښتل خپل حکومت ته نوې د پاخه بنسټونه جوړ کړي، نو له دې کبله یې د مترقي ډموکرات په نامه ګوند جوړ کړ چې زیاتره دولتی اراکین په هغه کې شامل وو.

میوندوال چې په لندن، واشنګټن او کراچی کې سفارتونه کړی وو د لویدیځ د سیاست سره آشنا ؤ او په دې پوهېدی دغه سیاستونه د شوروي سره حساسیت لري.

څرنګه چې د حزب دموکراتیک خلق د تاسیس سره شوروي لاسونه څه چې پټ هم افغانستان ته رانیستلي وي، نو میوندوال د هغو یو څه مخه نیوله، څو شوروي ورسره دښمن شو او د چپه کیدو پلان یې تر عمل لاندې ونیو.

## ۲۷ - میوندوال د سیاست په پیچومو کې:

میوندوال د خپل ټول ځراکت سره پر ځینو ورکو لارو سفر پیل کړ، ده د مترقي ډموکرات (مد) په نامه گوند جوړ کړ او د مساوات په نامه یې د گوند نشراتي اورگان خپور کړ.

د دې گوند د اساسنامې او نورو ټولو اسنادو متن دې ته متوجه کړ چې مشروطه باچا یې تحقق ته ورسوی، خو دا منهال چپې قوتونو، افراطي راسته قوتونو او د باچایي کورنۍ څخه د قومونو تر مشرانو پورې پخپله د میوندوال د ښمنانو د غه حرکت تایید نه کړ او دا کار یې د ده ابن الوقتي او باچا ته تملق وباله. میوندوال د ویښ زلمیانو د پخواني گوند غړي راوغوښتل او هغو ته یې داسې رنگ ورکړ چې گواکې اوس هم منظم گوند دی او د ده له گوند (مترقي ډموکرات) سره یې ائتلاف کړی دی، خو دا ټوله یوه هوابندي وه، د دولت مامورینو خورا زیاته مراجعه ورته کوله، خو صدراعظم پوهیدی چې په هغو هیڅ جوړه نه ده صرف امتیاز غواړي، خو هغه کسان چې گوند غوښتل هغه په سادگۍ نه ورته راتلل.

دا گوند د ومره زیات په قوت کې نه ؤ، لکه د هغه نشراتي ارگان د مساوات جریده چې پخپله د میوندوال او نورو پخو لیکوالانو لیکنې یې خپرولې.

په عامه سطح کې دا انتقاد کیده چې میوندوال د خپل صدارت په قوت گوند جوړ کړی دی او غواړي په زور غړي ورته راپیدا کړي. دا به تر یو ځایه درسته وه، خو په کابل کې سیاسي ډلگیو د میوندوال اوقات ډیر ورتریخ کړي ؤ.

د ده دؤ مطرود شوي سردارانو داؤد خان او نعیم خان سره هم روابط ساتل او نعیم خان هم وخت ناوخته مشوره ورکوله، خو د باچایي کورنۍ په منځ کې مارشال شاه ولي خان او سردار ولي ده ده سره جوړ نه وه.

میوندوال تر هر څه د مخه په هغه اتهام کې ډیر خوړ شو چې ویل یې د (سي، آی، ای) د امریکا د جاسوسي دفتر غړو ته یې په حکومت کې ځای ورکړی دی. یو محصل ادعا وکړه چې (سي، آی، ای) موږ ته بلنه راکړه چې په خپل وطن کې موږ ته جاسوسي وکړئ او د وزارت مالیې یو مامور ضیا نوروز یې هم زموږ سره مرسته کوي او حتی میوندوال او ځینې وزیران زموږ غړي دي.

له دې سره میوندوال ضیا نوروزي د وظیفې څخه وشړی او د هغه د عکس العمل سره چې چې نورو چپي ډلگیو گوتې پکښې وهلې میوندوال په کار کې فلج کړ.

میوندوال د سیاست په پیچومو کې ډیر سخت سرگردانه پاته شو، د بلې خوا یې صحت هم ښه نه ؤ او په دې توگه یې سخته ضربه ولیدله.

## ۲۸ - په دولتمدارۍ کې د میوندوال ځینې اخلاقي کمزورۍ:

میوندوال د سیاست په سیر و پود ښه خبردار شخصیت ؤ او په دې کې شک نشته چې افغانستان ددې په سطح بل کوم سیاستمدار نه دی لیدلی، ولې په ځینو مواردو کې به یې سیاسي تقوا ته په بې اعتنایۍ ډېر سخت زیان ځان او حکومت ته رساوه.

د ددې لپاره چې د شورا له شره ځان خلاص او د استیضاح د جلسو مخه ونیسي، د شورا وکیلانو ته یې امر صادر کړ چې هر وکیل څو کسه حج ته معرفي کولای شي، په دې وسیله وکیلانو په خورد و برد شروع وکړه او یو لوی فضیحت یې پاڅاوه، همدارنګه د دا امر صادر کړ چې د شورا د وکیلانو موټران دې نه محصول کیږي او وکیلان کولای شي چارتراش لرګي و خارج ته (په قاچاق) صادر کړي.

څرنګه چې دا امتیازات ټولو ته نشوای رسیدلای، نو هغه وکیلان چې خولې ته یې څه نه وه ور یدلي لویه غوغا به یې جوړه کړې وه چې په دې وضع کې میوندوال او حکومت یې لویه ضربه ولیدله او حتی باچا هم ورڅخه ناراضه شو.

میوندوال چې د خپلو کمزوریو په وجه پخوانی وجاهت بایللی ؤ، نو ګوند یې هم د اعتبارد ولوید او دا مهال نو سردار ولي ته موقع برابره شوه چې خپل وروستی ګزار پر وکړي. سردار ولي د وینې زلمیانو ځینې غړي په پټه ور وغوښتل او ورته وې ویل چې که تاسې له میوندوال څخه جلا نشئ، نو موږ چې هر څه وکړه بیا به ګیله نه وي. په دې کسانو کې هغه کسان هم وو چې د داؤد خان په وخت کې یې د زندان خوارۍ لیدلې وې، نو ځکه دسته جمعي یې د مترقي دموکرات څخه خپل بیلوالی اعلان کړ او دا خبر یې د کاروان په جریده کې خپور کړ.

میوندوال چې له هرې خوا محاصره شوې ؤ اعصاب یې دومره ناتوانه شول چې څو واره یې کولمې وشلیدې او په پای کې د لاسلیک سره (د اعلیحضرت خدمتګار) کلسات راوړي وو چې د هغې ورځې د کابل په عامو ټولنو کې د ډېر بحث او جنجال باعث شوه.

د میوندوال استعفا پاچا ومنله او نور احمداعتمادي یې د کابینې په جوړولو مامور کړ.

میوندوال تر صدارت وروسته د داؤد خان تر جمهوریت پورې ژوندی ؤ، څو په هغه وخت کې ووژل شو.

## ۲۹ - نوراحمد اعتمادي :

د اساسي قانون د لسيزې د ريم صدراعظم نوراحمد اعتمادي ؤ چې د ترمخنيو صدراعظمانو په تناسب يې د صدارت دوره اوږده يعنې درې کاله او اته مياشتې وه.

نوراحمد اعتمادي د سردارحيدرخان زوی او د عبدالقدوس خان اعتماد الدوله لمسی ؤ دده پلار هغه سړی ؤ چې کله يې د باچا محمد نادرخان قاتل عبدالخالق اعدام اوده ورونه او د خپل جيب په کوچنی چاقو يې د هغه پزه وريرې کړه او په دې توګه خپل اخلاص څرګند کړ.

نوراحمد اعتمادي د وزارت خارجي مخلوق ؤ، ځکه د ماموريت دوره يې په دغه وزارت کې وه او کله چې په نوي اساسی قانون کې پر ۲٤ ماده غالمغالونه پيل شول نو دغه ډول تر هر چا نور احمد اعتمادی زيات درباوه. په دغه ماده کې د باچا د کورنی منسوبين په دولت کې د کار څخه منع کبدل او لومړی اغيزه يې پر سردار داؤد خان کوله، نو څرنګه اعتمادی د داؤد خان اخلاصمند ؤ د دغې مادې سره مخالف پاته شو.

دی په سر کې د ميوندوال سره ښه ملګری ؤ، خو وروسته ورسره مخالف شو او د ميوندوال په تضعيف او تخريب کې يې زيات ونډه واخيستله.

کله چې ميوندوال استعفا وکړه، نو د ۱۹٦۷ په نوامبر کې باچا ده (اعتمادی) ته د کابينې جوړولو وظيفه ورکړه.

د ده حکومت جوړ کړ خو د صدارت په ټول جريان کې د محصلينو له مظاهرو د اسلام پالو له انتقادو او د ولسی جرګې د پر جنجاله استيضاح له غونډو سره مخامخ ؤ او دا دومره فشار ؤ چې وروسته يې حس افزيکل ليونتوب ته ورساوه ،څو يې په فرانسه کې علاج وشو.

دی چې د سردارانو له حمايت څخه پياوړی ؤ، نو داسې خيال يې کاوه چې د ماموريت په صحنه کې به هم برياليوی، خو د ولسی جرګې نمايندګانو دده څخه ښه نه راتله، ځکه دغو وکيلانو چې د ميوندوال سره معامله درلوده هغه امتيازات د اعتمادی په دوره کې ورته په برخه نه وه. د ميوندوال د ګوندی منسوبينو مبارزه ده پر ضد جاری وه، د راسته لاس قوتونو چې اعتمادي د پل خشتی څخه يې په زور مسلمانان او ملايان ايستلی وه سخت وربانديې په قهر وو. محصلينو ده ته د سردارانو د بيا ژوندی کيدو د عامل په سترګه کتل او په چپی قوتونو کې يوازې د پرچم ډلې يو څه سست سرور سره ښوراوه، خو د خلق جناح يې په سخت مخالفت کې ولاړه وه.

نوراحمد اعتمادی ورو ورو په دې پوه شوه چې ورځ په ورځ يې حالت تريخ کيږی او باچا هم په فوق العاده توګه دی نه ساتی، نو ځکه د اعصابو په ناروغی اخته شو.

## ۳۰- د اعتمادي د حکومت ستونزې:

اعتمادي په خپله لومړۍ او دوهمه کابینه کې یو شمیر پاخه تکنوکراتان راټول کړل، ډاکتر عبدالقیوم یې د پوهنې وزیر او د صدارت مرستیال کړ، ډاکتر محمد انس د اطلاعاتو او کلتور وزیر کړ چې وروسته یې د ده پر ځای ډاکتر محمود حبیبي مقرر کړ، او حتی انجنیر یعقوب لعلي هزاره یې د هزاره گانو د خوښۍ په خاطر وزیر فواید عامه کړ، بل مهم سړی چې د باچا اعتمادي و ستار سیرت یې مشاور وزیر کړ. خو ددې ټولو خبرو سره د اعتمادي ستونزې ورځ تر بلې زیاتید. محصلینو او چپي قوتونو دوامداره مظاهرې کولې او مذهبي قشرونو د حکومت له بې پروایي څخه شکایت کاوه.

په هم هغو ورځو کې چې محمود حبیبي وزیر اطلاعات او کلتور و د کابل په سینماؤ کې د حضرت یوسف فلم په ننداره کېښودل شو چې دا ملایانو د اسلام سپکاوی بلله، په دې پسې د اصلاح په اخبار کې یو کارتون خپور شو چې یو چلتار تړلی عرب د ۹ ښځو په منځ کې ناست دی او دا د اسلام د پیغمبر (ص) د بې احترامۍ یوه علامه وه ،خاصتاً چې دا د جرمنۍ د یو اخبار څخه اخیستل شوی و چې هغه اخبار بیا د یو یهودي اخبار څخه اقتباس کړی و.

د ۱۹۷۰ په اپریل کې یو شمیر علماؤ شورا ته عریضه وکړه او په هغه کې یې د اسلام پر ضد اته فقرې د حکومت د بې اعتنایي وښودله او وې ویل چې وزیر اطلاعات و کلتور دې سمدستي د شورا د اعتماد څخه وایستل شي. دغې مسألې د اعتمادي د حکومت پرستیژ ورخراب کړ. دغې وضع نورې ناآرامي پیدا کړې، د هیواد د بیلو بیلو برخو ملایان د کابل د دیني علماؤ په شمول په پلخشتي کې کېنېستل او اعتراضونه یې پیل کړل، څو ورځې وروسته سردار عبدالولي چې د کابل د نظامي امنیت مسؤل و د ٤٤٤ قطعې په وسیله چې ډگروال رحمت الله سا یې رهنمایي کول د شپې په برقي ډندو دا علما له مسجد څخه وایستل شول او په همدغه شپه په موټرانو کې خپلو ولایاتو ته ولیږل شول.

دغې پیښې د عمومي نارضایتۍ پر زیاتوالي ډیر مثبت اثر وکړ او په خاصه توگه محصلین هیڅ نه آرامیدل.

د نوراحمد اعتمادي اعصاب چې سخت زهیر شوی و و لیونتوب غلبه پر وکړه او یو ځل د قرغې ډند ته ځان وغورځاوه چې خود کشي وکړي، خو راوایستل شو.

که څه هم ولسي جرگې غوښتل په عدم اعتماد سره اعتمادي لیرې کړي، خو هغه د ۱۹۷۱ د مې په ۱٦ باچا ته استعفا وړاندې کړه او دا حکومت هم ناکامه له منځه ولاړ.

## ۳۱- د ډاکتر عبدالظاهر حکومت:

د اساسي قانون په لسیزه کې د ډاکتر عبدالظاهر حکومت څلورمه نمره اخلي، خو تر خپل وړاندې او وروسته په ټولو کې یو بې کفایته حکومت ؤ.

په اداري جنجالونو کې د پښتو او پارسي مسأله راپورته شوه چې په شورا کې لمن ورته وهل کېدله او یو لوی جنجال یې ایجاد کړ خو صدراعظم ددې پرابلم د حل څخه عاجز ؤ.

په دې پسې دده په دوره کې یوه خطرناکه وچکالي پیښه شوه چې د پنځوس زرو، حتی نیم ملیون په حدود کې خلک د لوږې مړه شول.[۱]

د ولایاتو کلیوالو او کوچیانو خپل مالونه چې مړه کېدل په ډېره ارزانه بیه په خارج کې خرڅ کړل او حتی د ډېرو لویدیځو ولایاتو په بازارو کې خلکو لونې خرڅې کړې (دغه صحنه ددې کرښو د لیکوال د عیني غمجنو خاطرو سره اړه لري).

افغانستان ته د شپږ عشاریه اوه ملیونو ډالرو خوراکي مواد راغلل، ډاکتر ظاهر دا د شورا وکیلانو ته ورکړل چې په خپلو ولایاتو کې یې وویشي، خو هغو دا ټول غلا کړل او په لوړ قیمت یې وپلورل، صدراعظم په سترګو ورته کتل، خو د جبونیت څخه یې څه نشوای ویلای.

ډاکتر ظاهر، موسی شفیق وزیر خارجه، عبدالصمد حامد معاون صدارت او محمد ابراهیم عباسي یې وزیر اطلاعات و کلتور کړ او نور وزیران یې هم لکه دی پاسیف خلک وه.

د امنیت له پلوه د هېواد وضع ډېره ورانه شوه، په لغمان کې د مسلمانو ځوانانو (جوانان مسلمان) له خوا یو محصل په قتل ورسید. په ۱۹۷۲ په مي کې څلور فرانسویان په کندهار کې ووژل شول، همدارنګه یو انګریز او ښځه یې د کندهار او کابل په عمومي لار کې ووژل شول، خو صدراعظم دا واقعات زیاتره تکذیبول او که به پر ثابت شول، نو ویل به یې تاسې وګورئ چې په ویتنام کې د ورځې څونه وژل کیږی.

په دې شک نشته چې ډاکتر ظاهر هوښیار سړی ؤ، ولې حوادثو ګنګس کړ او بالاخره یې د لیونو په شان خبرې کولې. بالاخره یې د ۱۹۷۲ په سپتمبر کې خپله استعفا باچا ته وړاندې کړه، خو باچا سمدستي استعفا قبوله نکړه او دده یې وویل چې په لازمه موقع کې به ځواب درکول شي، څو یې د ۱۹۷۲ په دسمبر کې دوباره باچا ته استعفا ورکړه او هغه هم ومنله او دده خاروجه وزیر محمد موسی شفیق یې د کابینې په جوړولو مامور کړ.

ډاکتر ظاهر شکر وکیښ او د اعصابو د آرامولو په خاطر خارج ته ولاړ.

---

(۱) صباح الدین کشککي، «دهه، قانون اساسی» او نبي عظیمي «اردو و سیاست در سه دهه اخیر افغانستان» د پېښور چاپ، ص ۷۰، ص ٤٨.

## ۳۲- د اساسي قانون د لسيزې وروستی صدراعظم (شفيق):

موسی شفيق چې د ډاکتر ظاهر په کابينه کې خارجه وزير ؤ وروسته د ډاکتر ظاهر تر استعفی د ۱۹۷۲ د دسمبر په ۷ د پاچا له خوا د کابينې په جوړولو مامور شو.

شفيق يو ځوان او زړور صدراعظم ؤ، د ده عالي تحصيلات په قاهره کې سر ته رسولي وو او د اخوانيت تعهدات يې هم درلودل. د شفيق په کابينه کې د ده تر ټولو تير او په ژبه پوه وزير صباح الدين کشککي ؤ چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت يې ورکړی ؤ، نور نو زياتره کارونه پخپله شفيق کول او دا يې هم په پوره کفايت کول. شفيق تر هر صدراعظم د شورا سره ښه اړيکي درلودل او حتی د شورا په ماڼۍ کې يې يو دفتر ځانته جوړ کړی ؤ او د پارلماني روابطو وزير يې هم مقرر کړی ؤ.

د ۱۹٦۹ - ۱۹۷۲ وچکالۍ چې لوی مصيبت يې مسلط کړی ؤ شفيق يې معقوله چاره وکړه او خپل د کرنې او اوبو لګولو وزير ډاکتر وکيل چې د پخو تجربو خاوند ؤ مؤظف کړ او هغه د يوه منظم پلان له مخې کار پيل کړ. دغه کار په لنډه موده کې نتيجه ورکړه او د نور اقتصادي فعاليت لپاره يې نړيوال بانک په دې قانع کړ چې د افغانستان په شمال او شمال لويديځ کې منظم ځړ ځايونه او د ځاريو مسلخونه جوړ کړي او په دې شک نه ؤ چې له دې درکه د کاله يو سل مليونه ډالر د د افغانستان جيب ته لويدل، همدارنګه ډاکتر وکيل يو دبله پروژه ونتيجې ته ورسوله چې د افغانستان سبزيجات خارجي هيوادونو ته صادر کړي.

ددې قبيله ډيرې اقتصادي پروژې تر کار لاندې راغلې، خو متأسفانه چې د داؤد خان د جمهوريت کودتا پر هغو ټولو خپل شوم سيورې راخپور کړ.

که څه هم شفيق نه غوښتل چې په مشخصه توګه د شوروی اتحاد سره ځان په غاړه کې واچوي، خو شوروی د افغانستان هغه چپي طاقتونه چې د شوروی تر قوماندې لاندې وو د شفيق د حکومت پر ضد تحريک کول.

همدارنګه د پاچايي کورنۍ غړی حتی شاه ولي خان او سردار ولي هم د شفيق سره جوړ نه وو.

شفيق د سينګار او تجمل پالونکی سړی ؤ حتی ځانته يې يو ټيپيک موټر په الوتکه کې د فرانسې څخه کابل ته راوست، ده د لويو پروژو د هوارولو اقدام وکړ او په دې کارر کې تر ډيره ځايه بريالی هم ؤ، ده له ايران سره د هلمند د اوبو مسأله فيصلې ته ورسوله او غوښتل يې د پاکستان سره د پښتونستان پر مسأله هم و توافق ته ورسيږي، خو د محمد داؤد خان د جمهوري کودتا په اثر هغه همدغسې معطل پاته شوه.

## ۳۳-د هلمند له سیند څخه د افغانستان او ایران د استفادې مسأله:

د افغانستان او ایران تر منځ د هلمند د اوبو پر سر له ۱۸۷۲ څخه لوی جنجال راروان ؤ چې وخت پر وخت یې دولتونه مصروف ساتل، کله چې موسی شفیق صدارت کې کېنیوست، نو د دغې مسألې د حل لپاره یې اقدام وکړ.

د ۱۹۷۲ څخه د ۱۹۷۳ تر مارچ پورې بېل بېل هیأتونه راغلل او ولاړل او د اوبو د عادلانه تقسیم په باب یې توافقات سرته ورسول، څو د ۱۹۷۳ د ماچ له ۱۲ څخه تر ۱٤ پورې یو هیأت د ایران د صدراعظم امیرعباس هویدا په مشرۍ د شفیق په دعوت کابل ته راغی او د دواړو صدراعظمانو پر هغو تړونو لاسلیک وکړ چې د دواړو هیوادو په توافق یې متنونه جوړ شوي وو.

د خبرو په پای کې یو ګډ اعلامیه صادر د شو چې د دې مسألې حل یې د دواړو هیوادو د درایت او هوښیارۍ نښه وبلله او هغه هیأتونه چې دا موضوع یې فیصلې ته رسولې وه د دواړو خواو څخه معرفي شوي وو، په اعلامیه کې څرګند شوي وه چې په لاندې خصوصیاتو تړونونه لاسلیک شوي دي:

اول: د هلمند «هیرمند» د اوبو په باره کې د افغانستان او ایران تر منځ تړون ۱۲ مادې.

دوهم: لومړی ګڼه پروتوکول د کمیسارانو د واک او وظایفو په باب د هلمند «هیرمند» د سیند د اوبو په باره کې د افغانستان او ایران ترمنځ د تړون ضمیمه: ۱۳ مادې.

دوهمه ګڼه: پروتوکول د حکمیت په باره کې د هلمند «هیرمند» د سیند د اوبو په باره کې د افغانستان او ایران ترمنځ د تړون ضمیمه ۹ مادې.

دا اسناد ټول له د افغانستان صدراعظم موسی شفیق او د ایران صدراعظم عباس هویدا لاسلیک کړي وه.

دې تړون یو تاریخي شخړه پای ته ورسوله، خو په افغانستان کې د شفیق دا کار په عامه سطح کې ښه استقبال نشو او د دې علت هم د شوروي د پټو جاسوسانو او چپي قوتونو منفي تبلیغات وو.

د باچایي کورنۍ منسوبینو او په خاصه توګه د داؤد خان ګروپ ډیر بد تبلیغات کول، خو کله چې نوبت د جمهوریت په دوران کې داؤد خان ته ورسید هغه پخپله دا تړونونه تائید کړل چې وروسته د ملګرو ملتو په رسمي اسنادو کې قید شول. باچا څو ځایه به ویلې وو چې د هلمند د اوبو د ویش مسأله لکه زما پر اوږو بار ؤ خو اوس چې حل شوه ډیر راضي یم.

د همدغې ستړیا څخه د هوسایی او تفریح په خاطر د دغو اسنادو تر لاسلیک وروسته باچا ایتالیا ته ولاړ، څو یې په غیاب کې داؤد خان کودتا وکړه.

## ۳٤ - د اساسي قانون په لسیزه کې سیاسي ګوندونه:

د نوي اساسي قانون په شورا کې د ګوندونو قانون پاس شو او د توشیح لپاره باچا ته ولېږل شو، خو باچا دا قانون معطل او د باچهي تر پایه یې توشیح نه کړ، سره له دې باچا هم د ډموکراسۍ نغاره وهله، خو روښانفکرانو یې له ګوندونو ډموکراسي یو خوشې بې نتیجې عمل باله، د مترقي ډموکرات ګوند غړو ډموکراسي یې له ګوندونو د هغې ګاډۍ سره تشبیه کاوه چې په آس پورې نه وي تړل شوې او سید شمس الدین مجروح بې ګونده ډموکراسي د بې تیلو موټر سره برابره بلله.

سره له دې چې باچا د ګوندونو قانون د خپل میز پر سر بندي کړی ؤ، خو د باندې د سیاسي تفکر خاوندانو په ډاګه ګروپي سیاسي فعالیتونه کول او هر سیاسي جریان ځانته یو نشراتي سیاسي ارګان هم درلود چې د ګوند اعلامیې او ابلاغیې به یې خپرولې.

دا سیاسي جمعیتونه یا ګروپونه د راسته او چپي لینونو په تعقیب فعالیت کاوه، ځینو ګوندونو نژادي خصلتونه د خپل د سیاست محور ګرځولي وه، یو شمیر ګوندونو د راسته او چپه خوا څخه ځانونه په څنګ ساتل او دا زیاتره یې خاصیته سیاسي ګروپونه وو، دلته به دد غو ګوندونو څخه چې په دغه لسیزه کې یې فعالیت درلود په لنډه توګه معرفي شي:

### د خلق ډموکراتیک ګوند:

دا ګوند چې د چپي تمایلاتو په وجه یې شهرت وموند، د شوروي اتحاد له خوا د هغو افغانانو په لاس جوړ شو چې زیاترو یې یا په شوروي کې تحصیل کړی ؤ یا د شوروي تر سیاست لاندې وو، مطلب افغاني خصلت یې نه درلود.

د ۱۹٦٥ د جنورۍ په لومړۍ نیټه دد غه ګوند موسسې کانګرې د کابل د څلورمې کارتې د نورمحمد تره کي په کور کې غونډه وکړه او دا لاندې کسان یې غړي وو:

آدم خان ځاځي د جلسې د رئیس په حیث، نورمحمد تره کي، ببرک کارمل، صالح محمد زیري، محمد طاهر بدخشي، سلطان علي کشتمند، دستګیر پنجشیري، شهرالله شهپر، ظاهر افق، نوراحمد نور، محمد اسمعیل دانش، ډاکتر شاه ولي، ډاکتر طاهر، عبدالکریم میثاق، عبدالکریم شرعي جوزجاني، سلیمان لایق، اناهیتا راتبزاد، محمد حسن بارق شفیعي، نظام الدین تهذیب، عیسی کارګر، ډاکتر درمانګر، قدوس غوربندي، باور شیرزي، هادي کریم، عبدالحکیم هلالي.

د دغه حزب د اساسنامې په لومړۍ ماده کې بیان شوی وه چې « دا ګوند د کارګر طبقې عالیترین سازمان دی او ایډیولوژي یې پر مارکسیزم لینینیزم استواره ده » په دې توګه ، ګوند صاف و ساده یو کمونیستي ګوند ؤ چې د افغانستان په قبیلوي او مسلمانه ټولنه کې یې سخت عکس العملونه جلب کړل.

لږ وخت وروسته یې د خلق په نامه یوه جریده خپره کړه چې هغه تر پنځمې ګڼې زیاته خپره نه شوه او په وروستیو کلونو کې په دې ګوند کې انشعاب پیښ شو چې یوې خواته نورمحمد تره کی او بلې خواته ببرک کارمل د خلق او پرچم په نامه دوې ډلې شوې او شرمې ...کې ت یې یو په بل پسې پیل کړل.

په ۱۹۷٦ کې د شوروي په اشاره دا دواړې جناح سره متحد شول او په ۱۹۷۸ کې یې د یوې کودتا په ترڅ کې د داؤد خان څخه قدرت تر لاسه کړ او خلقي دولت یې تاسیس کړ.

دا ګوند ځانته اختیار نه درلود ، نو شوروی چې یې اختیار دار ؤ ډېر سخت اشتباهات وکړل چې وطن ته یې سخت زیانونه ورسول.

بل چپي ګوند شعله ، جاوید وه چې د چین د کمونیستانو له خوا حمایت کېده او زیاتره غړي یې په هرات او بدخشان کې وو ، دا ګوند د مشهور روښان فکر ډاکتر محمودي له خوا جوړ او د هغه ورونو رهنمایي کاوه ، په دغه نامه « شعله ، جاوید » یې یوه جریده د ۱۹٦۸ له اپریل څخه د ۱۹٦۹ تر جولای پورې د رحیم محمودي په نامه خپرېده. دا جریده هم د افغانانو د کلتور سره په مطابقت کې نه وه او شوروي اتحاد د چین سره د سیاسي اختلاف په وجه په دغه ګوند او جریده پسې ډېر بد تبلیغات کول او د افغانستان دولتي مقامات هم همیشه ورته په خشم کې وه.

ډېر لوی راسته ګوند نهضت اسلامی ؤ چې وروسته بیل بیل نوموړنه غوره کړل او انشعابونه یې هم ولیدل.

افغاني محصلین چې مصر ته د تحصیل لپاره لېږل شوي وو ، هغو هلته د اخوان المسلمین تر الهام لاندې د حسن البنا او سید قطب افکار په مغزو واخیستل او دا ډله چې کله په ۱۹٦۵ کې وطن ته راغله دلته یې د شرعیاتو په پوهنځي کې د هغه پوهنځي د رئیس غلام محمد نیازي په مشرۍ سیاسي کړۍ جوړې کړې او ډېره فعاله ډله یې دا وه چې په هغه کې عبدالرسول سیاف ، مولوي حبیب الرحمن ، ګل محمد ، سیدعبدالرحمن او موسی توانا غړیتوب درلود.

برابر له دې سره د انجنیرۍ په پوهنځي کې د ګلبدین حکمتیار ، سیف الدین نصرتیار او حبیب الرحمن شامل وه.

په ۱۹٦۹ کې دا دواړو ډلو د غونډه د برهان الدین رباني په کور کې وشوه او د « مسلمان

ځوانانو » یو بنسټ پال سازمان یې منځته راوړ.

دې ډلې د یوې چپې توندروه ډلې شعله جاوید سره ټکر وکړ او ځینې عصبیتونه یې هم کول چې پر ښځو یې تیزاب پاشل دد غه راسته جریان او د چپې جریانا تو ترمنځ ډېر سخت اختلافات راپورته شول او کله چې د ۱۹۷۳ کې داؤد کودتا وشوه، غلام محمد نیازی د زندان ته واچول شو، خو په نورو پسې چې حکومت تلاش کاوه هغوی پاکستان ته فرار شول.

د غه راسته لاس جریان یو د نشریه د « ګیځ » په نامه درلوده چې مدیر یې مولوی منهاج الدین ګهیځ و او جریدې ډېر توند مضامین خپرول، خو په ناڅاپي توګه یې مدیر ترور شو او ډېر شواهد پیدا شول چې د غه ترور د شوروي د سفارت یو وابسته ابلوف کړی و.

بل ګوند چې زیاتره قومي تمایلات یې تمثیلول افغان ملت و چې یو نشنلست غلام محمد فرهاد تأسیس کړ او د یوه داسې افغانستان د جوړښت پیشنهاد یې کاوه چې پخوانی له لاسه تللی سیمې، لکه د اباسیند په حوزه او پنجده کې چې واقع دی دوباره افغانستان ته وسپارل شي.

افغان ملت ګوند د «افغان ملت» په نامه ورځپاڼه یا جریده هم خپروله او د هغې نشرات په غیر پښتنې سیمو کې نه هرکلی کېدل.

ددې پلوه چې دا عصبیتونه زیان ورو نه رسوي وروسته یې ددې سیاسي جریان نوم سوسیال ډموکرات کښېښود او په ۱۹۶۹ کې چې پاپا غلام محمد د ولسي جرګې په انتخاباتو کې بریالی شو هلته یې په یوه وینا کې داسې خبرې کړې وې چې د ګوند یو شمېر غړي پر په قهر شول او انشعاب یې وکړ چې د جلا شوې ډلې مشري فدامحمد فدایي پر غاړه واخیستله او د ملت په نامه یې یوه جریده هم نشر کړه ،خو ګوند په پرله پسې تجزیه محکوم شو څو د داؤد په جمهوریت کې کمپله ړ ړتیوله شوه

مترقی ډموکرات د محمد هاشم میوندوال ګوند و چې د خپل صدارت په جریان کې یې تأسیس کړ او د مساوات په نامه یوه جریده هم خپروله.

دې ګوند او جریدې یې باچاپي مشروطیت تبلیغاوه او د اعتمادي پر حکومت یې شدید انتقادونه کول.

څرنګه چې دد غه ګوند سره پخواني ویښ زلمیانو چې صرف نوم ورته پاته و ائتلاف وکړ او په پای کې ورڅخه جلا شول، نو ګوند هم کمزوری شو او له منځه ولاړ.

صدای عوام یوه جریده وه چې د جمعیت عوام له خوا جریده او جمعیت عوام هم کوم متشکل ګوند نه و او رهبري یې عبدالکریم فرزان کوله او غټه همکاره یې معصومه عصمتي ورد ک وه او د هغې ورور ذبیح الله عصمتي زیاتره په ډنده ماري دې ګوند ته خدمت کاوه، خو زیاته موده یې دوام

ونه کړ او جریده یې چې د ۱۹٦۸ د مارچ څخه تر جون پورې خپریده له نشره پاته شوه. ددې گوند غړي چې په ولسي جرگه کې وکیلان و، په لوړ آواز په پارلمان کې د څان په باب ډیر تبلیغ کاوه .ستم ملی د اساسي قانون په لسیزه کې یو بل گوند ؤ چې په ډیرو سختو تعصباتو متهم ؤ.

ددې جریان رهبر طاهر بدخشي اصلاً یو خلقي ؤ او نور محمد تره کی ته ډیر وفاداره ؤ، ولې د امین او ببرک سره یې علاقه نه درلوده، خو دده افکار خلقیانو ورغندل او دی یې ضد پښتون شخصیت باله، څو دا ؤ چې رسماً یې د یو متعصب جریان رهبري پیل کړه، ده وویل چې پښتنو تر دودسوو کاله زیات پر غیر پښتنو ظلمونه کړي دي باید او ارز ړشی، دغه کار ته په دننه کې شوروی اتحاد ډیر رشد ورکاوه او ټول غیر پښتون قومونه یې تحریکول چې د پښتنو پر ضد راپاڅیږي.

بالاخره ددې گوند فعالیتونه په لوړ او ښکته سطح کې تشویشونه پیدا کړل او هغه مهال چې د ثور د اوومې کودتا وشوه او خلقیان په قدرت کې شول، طاهر بدخشی یې ونیوی او د امین په امر یې د پلچرخي په زندان کې په قتل ورساوه.

یو بل سرداری او اشرافی سیاسی جریان د اتحاد ملی په نامه ؤ چې معروف شاعر خلیل الله خلیلی د زرنگار گوند په نامه جوړ کړی ؤ او بیا یې نوم په اتحاد ملی واوښت. دې گوند د باچا په طرفداری تبلیغات کول او د اتحاد ملی په نامه یې یوه جریده هم خپروله، محمد اسحق عثمان ددې گوند غړی ؤ او یوه موده د هغه وخت د آژانس رئیس عبدالحمید مبارز دا گوند رهبري کاوه. ددې گوند نور غړی ډاکتر امان الله رسول، گل احمد فرید د کتابخانو رئیس ؤ.

دی گوند په کندهار کې ډیر فعالیت وکړ، خو څه پریشانه شول او په پای کې په ناکامی سره متلاشي شو.

نور لوی او واړه جمعیتونه او ډلې هم وې چې هغوی په دې نه ارزي چې دلته یې بیان راشي.

په عمومي توگه د نوی اساسی قانون په لسیزه کې د ډموکراسی په نامه گروپی سیاسی فعالیتونه ډیر زیات وه خو ددغو فعالیتونو نتیجې صرف د یوه خطرناک انارشیزم د خپریدو باعث وه.

د چپه او راسته لاس گوندونه، نژادي او منځني بې خاصیته گوندونو ټول سیاسی فعالیت پر دې ټکی ختمیږي چې د هغه پخواني ملی اتحاد ریښې ور کمزوره او وچې کړې، دا کار چې د استعمار په گټه ؤ بالاخره دغه د زقوم ونې میوه هم وکړه چې هغه د داؤد خان د جمهوریت کودتا، کمونیستي کودتا او ما بعد اسلامي دولتونه چې د نورو په تو (ناف) تړلي وو منځته راغلل او د افغانستان جړی یې ور وایستلې.

## ۳۵- د اساسي قانون په لسیزه کې عمراني او فرهنګي فعالیتونه:

د اساسي قانون په لسیزه کې چې د پنځو صدراعظمانو کار احتوا کوي په ملکي او نظامي ساحو کې یو شمېر مهم کارونه سرته رسېدلي دي، په دغو فعالیتونو کې البته د یو شمېر بنسټ د داؤد خان په صدارت کې اېښوول شوي ؤ، خو د اساسي قانون په لسیزه کې پای ته ورسېدل.

د ننګرهار پروژه، د کندهار هوايي ډګر، د سالنګ لار، د کندهار، هرات او کشک (تورغونډي) سړک، څلور سوه بستریزه روغتون، د جنګلک فابریکه، د کور جوړولو فابریکه او نورې په لسګونو پروژې وې چې د افغانستان بڼه یې ور نوې کړه.

همدا رنګه په نظامي برخه کې حربي پوهنتون، د تخنیک اکاډمي او د اردو مرکزي ترمیم خانه چې چکوسلواکیانو جوړه کړه.

د اردو مرکزي ترمیم خانه چې د کابل د پخواني حربي فابریکې ځای یې ونیوې چې د اردو ټول احتیاجات یې رفع کول، د ټولو نظامي تخنیکي سیستمونو، ټانک، زره پوښ، محاربوي ماشین، توپ، ماشیندار او د پیاده وسلې دلته په ډاډمنه توګه ترمیم کېدې. همدارنګه د شین ډنډ او بګرام په هوايي میدانونو کې ډېر عصري ورکشاپونه جوړ شوي وو چې هلیکوپټر او نورې لوی او جنګي الوتکې یې ترمیم کولې او کار یې ډېر ډاډمن ؤ.

همدارنګه د راکټ ۹۹ لوا د ومره مجهزه شوه چې هر ډول تعرضي او دفاعي طاقت یې درلوده.(۱)

په فرهنګي برخه کې کابل پوهنتون د یو شمېر د باندنیو پوهنتونو سره د تړونونه وکړل او په ملي او بین المللي سویه یې ډېر غټ سمینارونه دایر کړل. د هېواد په مطبوعاتو کې هم تحول راوستل شو او د حکومتي اخبارو په اړخ کې غیر حکومتي اخبارو سره هم مرستې وشوې.

د شفیق په کابینه کې کشککي چې د اطلاعاتو او کلتور وزیر ؤ په خاص ابتکار یې د اصلاح او انیس ورځپاڼې سره یو ځای کړې او د هغه څخه یې د اصلاح انیس په نامه یوه غتیه ورځپاڼه راوایستله چې پخوا یې تیراژ درې زره ؤ اوس اته زره ته ورسېد او د قدر وړ کار یې داوه چې هره ورځ پر ټاکلي وخت علاوه پر کابل د کابل په همجواره ولایتونو کې توزیع کېدله.

پیام حق مجله تیراژ له درې زره څخه شپږ زره ته ورسېد، د ژوندون مجله چې تیراژ یې پخوا دوه زره ؤ، لس زره ته لوړ شو، په دې توګه په هېواد کې د مطبوعاتو په وسیله د افکارو د تنویر کار ډېر پرمخ ولاړ، او ورو ورو د هېواد مطبوعاتو د پرمخ تللي نړۍ د مطبوعاتو پر کربنه حرکت وکړ.

صدراعظم د مصاحبو آزادي اعلان کړې وه او پخپله یې د حکومت پر چارو عامه افکارو ته حق ورکاوه چې قضاوت وکړي، خو د دغې ډموکراتیکې فضا په وړاندې شوروي بدخنډونه اچول.

(۱) نبي عظیمي، اردو و سیاست در سه دهه اخیر افغانستان، ص ٦٢.

# نولسم فصل

## جمهـوریت

### ۱ – د سرطان د ۲٦ کودتا:

د ۱۹۷۳ د جولای په ۱۷ (د ۱۳۵۲ د سرطان ۲٦) پخوانی سردار محمد داؤد خان چې د ۱۹٦۳ په ۱۰ د صدارت څخه مستعفی شوی او د الس کاله یې په گمنامی کې ژوند کاوه یو د کودتا سرته ورسوله چې په دې توگه یې په افغانستان کې د باچهی کمبله ټوله او جمهوریت یې اعلان کړ او د داؤد خان په وخت کې دې کودتا ته د سرطان د ۲٦ انقلاب نوم ورکول شوی ؤ او داؤد خان هم د انقلاب د لارښود (رهبر) په نامه یادیدی.

ددې کودتا یا په نادرسته اصطلاح انقلاب په باب چې کوم آثار لیکل شوی دی په هغو کې ددد د نژدې همکار حسن شرق اثر (کرباس پوش های برهنه پا) چې باید په ډیر احتیاط ولوستل شی، ځکه مطالب یې د باور وړ نه دي، نور نو په نسبی توگه پخپله د داؤد خان ویناوې او دولتی اسناد او یوونیم اثر ددغه حرکت په باب معلومات ورکوي.

دې کودتا د ۱۹٦۳ د اساسی قانون لسیزې ته خاتمه ورکړه، که څه هم د هغې لسیزې پنځو حکومتو د ډموکراسی دعوه کوله خو په حقیقت کې یې انارشیستی خصلت غالب ؤ او د داؤد خان کودتا هغه انارشیستی دموکراسی ته خاتمه ورکړه او پر ځای یې ډیکتاتوری راپورته شوه چې ټول گوندي فعالیتونه او مطبوعاتی آزادی یې له منځه یووړی او تر ډیره ځایه یې د عامو خلکو پر ژوند هم شوم سیوری و غورځاوه. سردار داؤد چې نور ملي رهبر شوی ؤ، یو صالح دیکتاتور نه ؤ، که څه هم د شخصیت په لحاظ ډیر پاک او د اخلاقي سجایاؤ څخه غنی او پروطن مین شخصیت ؤ، خو

بوه لیوني ځان غوښتنه پر غالبه وه چې فقط ځان یې غوښت او د کار لپاره د اشخاصو په انتخاب کې ډیر خطا وتلی او سر زوره سړی ؤ او دده دغه ناوړه کارونه وو چې جمهوریت یې هم غرق کړ او پر وطن یې هم بلاوې مسلطې کړې.

وایي ملي رهبر داؤد خان ته د ري د شخصیت ناروغی وربېښې وې: لومړی د «نارسیس» په ناروغی اخته ؤ چې ځان ډیر لوی په نظر ورتلی، دوهم «ایگوسانتریک» ؤ چې ځان یې د عالم مرکز باله او دریم د «سکزوید-Schizoid» ناروغی وربېښه وه چې د تیرو لسو کالو په انزوا کې درونگرا د شوی ؤ او ځینې عقدې ورته پیدا وې. د سرطان د ۲٦ کودتا، د ملي رهبر محمد داؤد خان د شخصیت ابتکار بلل کیدله، خو لکه څرنگه چې تبلیغ کیدله کودتا هم هغسې پاکه او بې آلایشه نه وه او ډیر بد عواقب یې وطن او ولس ته په نصیب کړل.

## ۲- کودتا څرنگه په سر ورسیده؟:

د جولای په ۱٦ (۱۹۷۳ کال) د عراق په سفارت کې د هغه هیواد د ملي ورځې په مناسبت میلمستیا وه او د حکومت وزیران او جنرالان په دې میلمستیا کې سخت نشه او مست وشنگول شول. تر دې مراسمو وروسته د امریکا د سفیر په کور کې د هغه هیواد له خوا د کابل په سفارت کې د نوی نظامي اتشه د مقرری او معرفي میلمستیا وه چې دا مسته او شنگوله ډله هلته هم ورغله او نور هم پسې مسته شوه، په دوی کې جنرال خان محمد او سردار عبدالولي هم شامل وو.

د شپې پر یوه نیمه بجه د کودتا د لارښود محمدداؤد له خوا د عملیاتو د پلان د تطبیق امر وشو او د شپې تر دریو بجو پورې جنرال خان محمد د کور په زیرخانه کې چې د اوږو د بوجیو تر شا پټ ؤ راوایستل شو او ونیول شو، سردار ولي هم گرفتار شو، مارشال شاه ولي خان او میرمن یې له پغمان څخه بندیان راوستل، صدراعظم محمد موسی شفیق په قرغه کې ونیول شو، ملکه حمیرا او د باچایی کورنۍ نور غړي ټول د کور و یا صدارت په زندانونو کې واچول شول. همدارنگه د اردو د مختلفو قواو قوماندان د کودتا په لاس کې بندیان شول.

د سهار پر اوو د نیمې بجې محمد داؤد خان د کابل راډیو څخه یوه وینا وکړه. دی تر بسم الله وروسته وویل چې همیشه وطن ته د خدمت لپاره په فکر کې وم او کله چې مې په قلابي ډموکراسی کې د وطن د ارزښتونو تباهي لیدله، نو ډیر غمجن کیدلم. ده وویل: ډموکراسی په یوه انارشیزم او مشروطه سلطنت په یو مطلق العنان رژیم بدل شو. دغه وضع ته استفاده جویانه کتل چې تفرقه واچوي او گتیه واخله، خپلې گټې یې تعقیبولې. ده هغه ملگری چې دی یې هیر کړی ؤ په دې وینا کې ضعیف النفسه وبلل او وې ویل چې دا داستان به بیا په تفصیل بیان کړو.

په وینا کې افغانستان د صلح علاقمند د غیر منسلکو هیوادونو د کتار ملگری وباله او د ملگرو ملتونو سره یې هم علاقمندي وښووله صرف د یو پاکستان سره د یې د پښتونستان پر سر د

اختلاف یادونه وکړه او د هغه د مسالمت آمیزه حل غوښتنه یې وکړه او په پای کې یې وویل چې ژوندی دې وي افغانستان او تل دې وي جمهوریت. »

محمد داؤد خان په دې وینا کې د ابد لپاره د ځایي نظام متروک وباله او جمهوریت یې د اسلام او ملي کلتور سره په مطابقت کې یو نظام وباله. په همدغه ۲٦ د سرطان په راډیو، بازارونو، تفریح ځایونو کې د خوشحالي سندرې ویل کیدې.

## ۳- د جمهوریت لومړنی دولتي تشکیلاتي نظام:

ملي رهبر محمد داؤد د کودتا په لومړۍ شپه ټولو هغو افسرانو ته چې د جمهوریت په راوستلو کې یې برخه اخیستې وه یوه یادونې رتبې ورکړې او په همدغه ورځ یې مرکزي کمیټه له دغو کسانو څخه جوړه او اعلان کړه:

محمد داؤد رئیس، ډاکټر حسن شرق منشي او غړي یې دا کسان وو: جنرال غلا حیدر رسولی، ډگروال سرور نورستانی، ډگرمن عبدالقدیر نورستانی (د ترافیکو افسر) ډگرمن محمد یوسف، جگړن مولاداد، جگړن خلیل الله، ډگروال غوث الدین فایق، جگړن فیض محمد، جگړن پاچاگل وفادار، جگتورن ضیا مجید، جگتورن عبدالحمید محتاط او سید عبدالاله، همدارنگه حکومت او کابینه په دې توگه وټاکل شوه:

محمد داؤد علاوه پر ریاست دولت، صدراعظم، وزیر دفاع او وزیر خارجه هم شو، ډاکټر حسن شرق د صدراعظم مرستیال، فیض محمد خان وزیر داخله، عبدالاله وزیر مالیه، غوث الدین فایق د فواید عامې وزیر، پاچاگل وفادار د سرحداتو وزیر، عبدالحمید محتاط وزیر مخابرات، عبدالقدیر نورستانی د پولیسو او ژاندارم عمومي قوماندان او په نظامي برخه کې مهمې قوماندانۍ هغو کسانو ته وویشل شوې چې په کودتا کې یې برخه درلوده.

په دې لړ کې ځینی خپل په سر کارونه هم وشول، مثلاً جنرال خان محمد مشهور په مرستیال خپل پر سر وزارت دفاع ته ورغی او هلته یې کار پیل کړ، خو محمد داؤد هغه ته امر وکړ چې په کور کې کښیني او د سرطان په ۲۷ پخپله محمد داؤد وزارت دفاع ته ورغی او په سبا یې ډگرجنرال کریم مستغنی د لوی درستیز په حیث مقرر کړ. په همدغه جریان کې غلام حیدر رسولي ته جنرالی ورکول شوه او د سردار عبدالولي پر ځای د عمومي مرکزي قول اردو د قوماندان په حیث مقرر شو.

داؤد خان چې لس کاله د افغانستان د صدارت وظیفه اجرا کړې او تجربې یې درلودې، خو دده د یکتاتورانه مزاج هیڅ اجازه نه ورکوله چې د بل چا نظر ویني او همدا وجه وه چې په اداره کې یې زیاتره هغه کسان ځانته رانژدې کول چې په پټو سترگو دده اوامر ومني. په دې توگه دده د دولت په دستگاه کې زیاتره هغه کسانو چلیدل چې په حضور او غیاب کې به یې د ملي رهبر هره خبره حکمت او هر عمل د ملت د حیات پیلامه بلله، همدغې وضع هم رهبر خراب کړ هم وطن!

## ٤- د محمد ظاهرشاه استعفا او د باچایی بندیانو بخښنه:

باچا محمد ظاهرشاه چې د ایټالیا د ناپل په ښار کې په استراحت اخته ؤ چې په کابل کې د خپل تخت د چپه کېدو څخه خبر شو، نو سمدستي روم ته راوخوځېد. په روم کې نوراحمد اعتمادي سفیر ؤ، هغه مشوره ورکړه چې نور تر باچایي تیر شي او کابل ته خپله استعفا ورولیږي، څو د باچایی کورنی غړي آزار ونه ویني. ظاهرشاه هم تقریباً یوه میاشت تر کودتا وروسته، یعنی د ۱۳۵۲ د اسد په میاشت کې په دا لاندې متن خپله استعفا د جمهوریت د مؤسس په نامه راولیږله:

بسم الله الرحمن الرحیم

جلالتمآب ورور جمهور رئیس!

د هغې شیبې څخه چې د وروستیو جریاناتو خبر مې واورېد تر دغه وخته مې فکر وطن ته متوجه دی او د هغه د آینده په باب اندیښمن یم.

مگر کله چې پوه شوم چې د افغانستان خلکو د خپلو ملي چارو د آینده داري په خاطر په کامل اکثریت جمهوري رژیم هرکلی کړی دی د خپل وطن د خلکو د ارادې په احترام د افغانستان له سلطنت څخه ځان مستعفی شمېرم او په دې وسیله خپل تصمیم تاسو ته ابلاغوم.

په داسې حال کې چې زما آرزو د گران وطن لوړتابه او نیکمرغي ده د یو افغان فرد په حیث د افغانستان تر بیرغ لاندې ژوند کوم. په داسې حال کې چې زما آرزو د گران وطن لوړتابه او نیکمرغی ده د یو افغان فرد په حیث د افغانستان تر بیرغ لاندې ژوند کوم.

زما دعا دا ده چې څښتن دې همیشه زما د وطن او وطنوالو حامي او مددگار وي.

محمد ظاهرشاه

ددې استعفا په رسیدو ملکه حمیرا، شهزاده احمدشاه او د باچایي کورنی نور غړي چې په کودتا کې بندیان شوی وو آزاد او هغوی هم ایټالیا ته ولاړل.

سردار عبدالولی چې د دهمزنگ څخه کوټی باغچه ته راوستل شوی ؤ مارشال شاه ولی خان او میرمن ته یې هم په کوټی باغچه کې ځای ورکول شو خو دوی سردار ولی نشوای لیدای.

مارشال شاه ولی خان د تنگ څخه مخ واړاوه او د سردار ولی د سرنوشت تر معلومیدو پورې معطل شو. سردار ولی هم څو وخته وروسته آزاد شو او دا کورنی هم له افغانستانه ووتله.

صرف سردار ولی ته د ملاقات پر وخت محمد داؤد خان (ملی رهبر) وویل، تاسې ویل زما مغز پوره دی او س پوهیږئ چې اصلاً ستاسو مغز پوده ؤ! داؤد خان نور بیا په جمهوریت مصروف شو.

## ۵ - د افغانستان خلکو ته خطاب:

دا د ۱۳۵۲ کال د وږي د میاشتې د لومړۍ ورځې په ویاړ چې د هېواد د خپلواکۍ د جشن ورځ وه د جمهوریت مؤسس او د هغې ورځې په اصطلاح ملي رهبر خطابیه وینا وه، اساساً په جمهوري دولت کې د ټولنیز، سیاسي، اقتصادي او فرهنګي چارو کړنلاره (خط مشی) وو چې په رښتیا د جملاتو او کلماتو په لحاظ یوه مغزنه وینا وه، خو په عمل کې د هغې پیاده کولو توان نه د جمهوریت د مؤسس سره ده او نه د هغه د دولت د عناصرو سره، نو دا ؤ چې وروسته یې ځای یو بد انارشیزم ونیوی.

په دې وینا کې د جمهوري انقلاب تاریخي ضرورت ډیرې خبرې شوې وې او دا په ډاګه شوی وه چې په تیرو لسو کلونو یعنې د نوی اساسي قانون په دوران کې دده په اصطلاح قلابي دموکراسي د هېواد او خلکو ژوند له خطر سره مخامخ کړی ؤ، نو ځکه ده او د وطن ځوانو زامنو دا انقلاب منځته راوست، په دغو مطالبو کې یې په اجتماعي او سیاسي ساحه کې پر تیره دموکراسي ډیر انتقادونه کړي دا او پارلماني فعالیتونه یې د شخصي استفادې وسیله بللې وه.

د سیاسي حاکمیت د اصطلاح په توضیح کې یې د اداري د پاکوالی د برابرو حقوقو د تعمیم او د ملي آزادیو او د یوې سالمې روزنې لپاره د زمینې برابرولو وعدې ورکړې دی.

د ملی مسألې تر عنوان لاندې یې د افغانستان ټول قومونه ورونه او د هغو ژبې په برابری کې خوندی بلل شوي دی او هیڅ ته یو پر بل د برتری حق نه ؤ ورکول شوی.

په اقتصادی اصطلاحاتو کې یې لومړی د صنایعو د پراختیا تعهد کړی ؤ او د هیواد تر ځمکې لاندې ثروتونو څخه د استفادې سالمه استفاده یې توضیح کړې وه.

د تجارت په پولي او مالي برخه کې یې او په بهرنی برخه کې یې تجارت د جمهوری دولت د لارښوونې تابع بلل شوی ؤ. کرنه او زراعت چې د هیواد د اقتصاد د ثمرې حیثیت لری د هغه د پرمختیا او عصری کولو تعهد یې کړی ؤ. د کار د شرایطو د ښه والي او عمومي ترقی ټینګه وعده یې ورکړې وه. په خارجی سیاست کې یې روغې ته مینه ښوولې او یو ځل یې بیا د ګاونډیانو سره د ښو اړیکو هیله څرګنده کړې وه. دا وینا په دې بیت پای ته رسیدلی وه:

مـذهب زنده دلان خواب پریشانی نیست        از همین خاک جهان دیگری ساختن است

دې وینا په هیواد کې د ډیرو ګلانو غوټی پرانیستلې، خو په اصطلاح ملی رهبر چې په خپل عظمت کې غرق ؤ، شاوخوا یې داسې ناپایه، بې کفایته او خاینو کسانو ونیوله چې دده په نامه یې ډیرې فاجعې سرته ورسولې.

لویدیځه نړۍ افغانستان ته بې اعتنا شوله او دا خلا محیل اتحاد شوروی ډکه کړه چې وروسته یې د ثور د انقلاب په نامه د یوې برېنډې مداخلې لپاره لار خلاصه کړه او دا یوه فاجعه وه چې تر اوسه یې افغانستان ستونزې زغمي.

## ٦- د میوندوال د کودتا او قتل پیښه:

د داؤد خان د نژدې همکار حسن شرق په قول د سرطان د ۲٦ انقلاب څخه تازه یوه میاشت او څو ورځې تیرې شوې وې چې د پخوانی صدراعظم محمد هاشم میوندوال په مشرۍ د یوې ډلې اطلاع ورسیده چې کودتا یې کوله او ددې سرد سم میوندوال او یو شمېر ملکي او نظامي خلک ونیول شول.

د ۱۹۷۳ د سپتمبر په ۲۰ دا خبر د راډیو څخه خپور شو چې میوندوال او یو شمیر ملگري یې چې د یو خارجي هیواد په مرسته یې کودتا کوله ونیول شول.

جنرال خان محمد مشهور په مرستیال، جنرال گل بهار خان، ډگرجنرال عبدالرزاق خان، تورن جنرال نیک محمد خان سها ک، تورن جنرال محمد رحیم ناصري، برید جنرال عبدالحکیم کتوازی او د هغه دوه وروڼه ډگروال زرغون شاد مشهوور په ماما زرغون شاد، ډگروال سید امیر هوایي او مدافعه هوایي قوماندان، جنرال عبدالسلام ملکیار، ډگروال کوهاټ خان، هوایي ډگروال محمد اکرم او ځیني نور.

د ولسي جرگې وکیلان حاجي الله نظر هزاربزی، مولوی سیف الرحمن شینواری، سعدالله کمالي، جنت خان غروال د پښتنې تجارتي بانک رئیس، حاجي الله گل او ورور یې مولاگل تجاران، حاجي حنان ځاځی، محمد عارف رکشا او یو شمیر نور.

دا ټول بندیان شول او د یو شمیر پولیسي افسرانو څخه متشکل د تحقیق هیأت ورته وټاکل شو چې په هغه کې عبدالصمد ازهر، نصرالله عمرخیل، فاروق یعقوبي، د پولیس اکاډمي رئیس نبي، غلام رسول اثر او یو شمیر نور همکاران یې چې پرچمیان وو شامل شول.

دې هیأت د شپې تحقیق کاوه او ډیرې سختې شکنجې یې متهمینو ته ورکولې، بې خوابي، وهل، په غوږو کې درانه ږغونه کول، د مځکې ویشتل، په لغتو په گیډه کې وهل، عادي شکنجې وې. د هیأت د غه تحقیق د قدیرنورستاني له خوا چې د ژاندارم او پولیسو قوماندان ؤ لارښوول کیدئ.

په همدغه شکنجو چې میوندوال یې په سینه او سرکې په درنو بوټو وهلی ؤ مړ شو او بیا یې واخیست په کوټه کې یې په نیکټایي وځړاوه او رنگ یې د انتحار ورته ورکړ او دا قتل ارادتاً د صمد ازهر په وسیله سرته ورسید.

دیوان حرب د ډگرجنرال غلام فاروق په مشرۍ په غونډه کې پر متهمینو چې په تحقیق کې

مجرمین ښوول شوي وو دا مجازات اعلان او تطبیق شول.

د جنت خان غروال، حنان ځائي، الله نظر، اله ګل او مولاګل ټول جایدادونه ضبط او دوی بندیان شول. او نور په ترتیب سره د بند په مختلفو مودو محکوم شول.

د تحقیق هغه پاڼې چې عکسونه یې په جرایدو کې چاپ شول په ډاګه معلومیدل چې دا تحقیق په جبر او زور شوي دي.

د قراینو څخه دا هم پوره څرګنده شوه چې شوروي اتحاد د میوندوال د وژلو توطیه جوړه کړې وه او د داؤد خان تر ریبره لاندې یې عملي کړه او په تاریخ کې یې د میوندوال نوم لوړ او دداؤد خان پر عمل یې نفرتونه راولټول.

## ۷- د جمهوریت بیرغ، نښان او ملي سرود:

د جمهوریت مؤسس په ۱۹۷۳ کې د جمهوریت بیرغ د جمهوري ارګ د ماڼۍ مخ ته پورته کړ او د کابل په لس ګونو زرو خلکو په دغه وخت کې لاسونه ورته وپړقول.

د بیرغ رنګ هم هغه تور، سور او زرغون ؤ، خو په نښان کې یې بدلون راغلی ؤ، په نښان کې د محراب او منبر پر ځای د یو عقاب تصویر ځای شوی ؤ چې په خلاصو وزرونو و هوا ته د الوتلو په حال کې معلومیده.

دا واقعاً د ډیر عالي مفهوم افاده کوونکی ؤ، خو د باندنیو رقیبانو مذهبي عناصر راولټول او یوه ملاد کندهار په چارسو کې په لوړ آواز ناري کړل:

مسلمانانو! وګورئ چې نوي دولت د محراب او منبر پرځای یو مردار خور ټپوس ودراوه. داسې تبلیغات ډیر زیات شول، که څه هم د حکومت استخباراتي شبکو هغوی تعقیبول خو عامه افکار ورغ تر بلې ورته یاغي کېدل.

که څه هم دولت اعلان کړل چې د افغانستان د اردو مقدس لوا (بیرغ) هم هغه پخواني د کلمې او څلورو یارانو په نومو ښکلی شوی بیرغ دی اوس هم رسمیت لري او دا د عقاب نښان یوازې په ملکي برخه کې رسمیت ورکول شوی دی، خو د دښمن تبلیغاتو عامه افکار مسموم کړي وو او حتی کله کله په ملي رهبر هم د اسلام څخه د مخ ګرځوونکي په نامه یادیدی.

جمهوري دولت د هیواد مشهور شاعر عبدالروف بینوا ته وظیفه ورکړه چې د جمهوریت لپاره ملي سرود جوړ کړي او دلته د هغه ملي سرود پوره متن لیکل کیږي.

څو چې دا ځمکه آسمان وي
څو چې دا جهان ودان وي
څو چې ژوند په دې جهان وي
څو چې پاته یو افغان وي
تل به دا افغانستان وي
تل دې وي افغان ملت
تل دې وي جمهوريت
تل دې وي ملي وحدت
تل دې وي افغان ملت، جمهوريت
تل دې وي افغان ملت جمهوريت
ملي وحدت- ملي وحدت

دا ملي سرود په دسته جمعي ويل کېده او د اردو په موزيک کې هم ځای شوی ؤ، او په ټولو تشريفاتو کې که په داخل کې ؤ او که په خارج کې د ملي رهبر يعنې محمد داؤد خان د ورتګ او يا راتګ په وخت کې ورته ويل کېده.

خو پر دې ملي سرود هم ځينو عرضي ګاونډي او داخل منابعو انتقاد کاوه چې د اسلامي مقدساتو نوم نه دی پکښې اخيستل شوی.

## ۸- د پاکستان سره د سياسي اړيکو تجديد:

د جمهوريت د تأسيس په اوايلو کې د جمهوريت مؤسس محمد داؤد خان پر پاکستان سخت پيشرونه وهل او داسې تشويش ؤ چې ښايي داؤد خان به په نظامي عمل لاس پورې کړي، خو د پاکستان صدراعظم ذوالفقار علي بوټو هم کمساری نه ؤ.

امريکايي سناتور او سياسي شخصيت سليګ هريسن وايي چې: «د ۱۹۷٤ کال په اخير کې بوټو ماته وويل: دوه نفره کولای شي په عين لوبه لاس پورې کړي، ځرنګه چې هغه (داؤد) زموږ کمزور ټکی کشف کړی دی، نو موږ هم پوهيږو چې ددوی کمزوره ټکی کوم دی. په افغانستان غير پښتون اقليتونه د پښتنو د تسلط څخه نفرت کوي، په دې توګه موږ ته داسې لارې معلومې دي چې د هغونه په استفاده کولای شو داؤد قانع کړو چې زموږ پر مشکلاتو زياتوب رانه ولي.»[1]

(۱) دياکوکوردوويز و سليګ هريسن: حقايق پشت پرده تهاجم اتحاد شوروی بر افغانستان. مترجم عبدالجبار ثابت د پيښور چاپ ۱۲٤ مخ.

بوتو په همدغسي خطرناکه وسیله لاس وواهه د افغانستان څخه یو شمیر کسان چې حکمتیار، رباني، محمدي او نور ورغلي وو هغه یې تنظیم کړه، پیسې او وسلې یې ورکړې او د پنجشیر او لغمان له خوا یې پر کابل راوګمارل او په یو شمیر چریکي عملیاتو یې د داؤد خان نفس ورتنګ کړ، خاصتاً چې په تبلیغاتو کې یې دی یو ملحد او پرچمي بښوئ، دی ډیر وارخطا کړ.

داؤد خان د پاکستان سره د اړیکو د نرمولو علاقمند شو او د دد د نماینده سردار محمد نعیم تر ملاقاتونو وروسته د ۱۹۷٦ د جون په ۷ د داؤد خان په بلنه د پاکستان صدراعظم بوتو کابل ته راغی، په خبرو کې فیصله وشوه چې پاکستان به د عوامي ملي ګوند رهبران له زندانه آزادوي او فدرالي حقوق به د صوبه سرحد او بلوچستان په برخه کې قبلوي په مقابل کې به افغانستان د لویې جرګې له لارې د پښتونستان ادعا ته خاتمه ورکوي او د ډیورند کرښه به په رسمیت پیژني.

ددې لپاره چې داؤد خان له چنګه خطا نشي د بوتو په سفر پسې د ۱۹۷۷ په اکتوبر کې جنرال ضیاء الحق کابل ته راغی او دلته یې په خبرو کې دا تعهد واخیست چې د پښتنو او سرحد معضلې د خبرو له لارې حل کړي.

محمد داؤد خان چې په نشراتو کې د ملي رهبر په نامه یادیده، له حاضرې وضع څخه خوښ ؤ، خو تر پښو لاندې ځمکه یې ډیره ورته توده شوې وه او شوروي له وضع څخه ناراحته ؤ. داؤد خان پوهیدی چې شوروي د پاکستان سره د افغانستان د اړیکو د عادي کیدو طرفدار نه دی او دا کار ددد حکومت په دننه کې د پرچمي غړو پر لاس ورغ تر بلې خطرناکو سرحدونو ته ورنژدې کیده، نو ځکه یې په خپل حکومت کې په تصفیه شروع وکړه، خو وروسته په دې پوه شو چې دد د نژدې همکار حسن شرق د کې جي بي په خدمت کې دی، نو هغه یې هم له ځانه لیرې کړ.

## ۹ - د ملي انقلاب حرکت او په دولت کې د پرچمیانو تصفیه:

د داؤد خان د جمهوریت په دولتي دستګاه کې له هغه ځایه درز راپورته شو چې د کرنې وزیر جیلاني باختري په ښکاره په خپل وزارت کې د کارمل د قیادت او د جمهوریت په تاسیس کې د هغه نقش ډیر لوړ ووباله د باختري په تهدید چې دولت ورته متوجه کړ نه یوازې اصلاح نه شو، بلکې عکس العمل یې د پرچمیانو په کړیو کې ډیر پراخ خپور شو.

په دې پسې عبدالحمید محتاط په خپلو هوایي ملګرو کې د یوه ځانته ګروپ د جوړولو تلاش وکړ او پر هغه یې د «ګرود کار» نوم کیښود. له دې جریان سره باچا ګل وفادار استعفا وکړه، څو په بلغاریا کې سفیر شو.

خو دغو جریاناتو په جمهوري دولت کې انشعاب راوست او د کابینې یوه ډله چې وزیر دفاع

غلام حیدر رسولي، داخله وزیر قدیر نورستاني، مالیه وزیر عبدالاللّه، وحید عبداللّه د خارجه وزارت مرستیال چې وروسته محمد سرور نورستاني او غوث الدین فایق وزیر فواید عامه هم ورسره یوځای شول، نو خپل فعالیت یې د (انقلاب ملی) تر نامه لاندې پیل کړ او په لومړی گام کې یې عبدالحمید محتاط د مرکزي کمیټې او مخابراتو د وزارت څخه پسې واخیست. دغې ډلې حسن شرق او فیض محمد هم بنه نه لیدل او ویل یې چې دوی د ملی رهبر دښمنان دي.

څرنگه چې فیض محمد پرچمی له دولته لیرې او په اندونیزیا کې سفیر شو، نو پرچمیانو په شدت د داؤد پر ضد تبلیغات پیل کړل. داؤد خان په سر کې دا حرکتونه عادي بلل او فکر یې کاوه چې هرځای سیاسي بدلون راشي داسې حرکتونه طبیعي خبر دد ،خو وروسته متوجه شو چې وضع سخته خرابه او د دغې ډلې حامي او تحریک کوونکی شوروي اتحاد دی. بالاخره یې په ډاگه په تصفیه پیل وکړ او حتی خپل ډیر نژدې همکار حسن شرق یې هم له ځانه لیرې او په جاپان کې سفیر کړ.

هغه ډله چې د ملي انقلاب تر نامه لاندې یې فعالیت کاوه نور هم پر داؤد خان را مسلط شول او په جمهوري دولت کې یې د انارشیزم لوخړی راپورته کړی.

پرچمیان یو په بل پسې د دولت له دستگاه څخه وایستل شول، خو عکس العمل یې ډیر شدید ؤ، ولې په مقابل کې داؤد خان د انقلاب ملي گروپ ته پرورش ورکړ او حتی همدغه د انقلاب ملي یا (ملی غورځنگ) گوند یې د خپل اساسي قانون په چوکاټ کې رسمي کړ.

د پرچمیانو تصفیې ډیر بد عواقب منځته راوستل او شوروی په ډاگه د داؤد خان د له منځه وړلو لپاره په توطیو پیل وکړ، څو یې د خلق او پرچم تر منځ وحدت راوست او بیا یې د دوی په وسیله چې په اردو کې یې خپل مشاورین مسلط کړی وو جمهوریت له منځه یووړ او داؤد خان یې قتل کړ.

## ۱۰ - تروررونه او پټ قتلونه:

د داؤد خان په اداري دستگاه کې د تفرقو په وجه پټې توطیې او د ښبسې وروسته په تروررونو او پټو قتلونو واوښتې.

اوضاع په ډاگه ښوو له چې یو قوي خارجي لاس دا وضع را منځته کړې ده او غواړي د داؤد کمبله ورټوله کړي. البته پاکستان هم د داؤد لپاره درد سر پیدا کاوه ،خو دا رامنځته شوی درنه وضع معلومیده چې د شوروي پر لاس مخ په وړاندې ځي.

د ۱۹۷٦ او ۱۹۷۷ کلونو په اوږدو کې د مجید کلکاني په نامه یو تروریست، چې ماویست بلل شوی دی، ټول شمالي د خپلو حملو او قتلونو صحنه وگرځوله، څو ونیول شو او بیا اعدام شو.

په دې پسې د ۱۹۷۷ په اگست کې د آریانا الوتکې پیلوټ انعام الحق گران په سپینه ورځ د

کابل په ښار کې وویشتل شو او قاتلین یې ورک شول.

د دغه کال په نوامبر کې وزیر پلان خرم په یوه ډراماتیکه طریقه ووژل شو، هغه داسې وه چې د لغمان او سیدونکی مرجان ښوونکی د وزیر پلان دفتر ته ورغی، هغه د یو جاپاني هیأت سره ملاقات درلود، خو مرجان په تهدید راولاړ کړ او کله چې یې لاندې زینې ته راوست چې مخې ته یې بازار ؤ د تفنګچې ډزې یې پر وکړې او وې وژی، مرجان ونیول شو، خو په تحقیق کې یې وویل چې ما ته د امریکا جمهور رئیس کارتر او ګلبدین حکمتیار لارښوونه کړې وه چې دا کار وکړم، په دې مسأله کې د حکمتیار او حزب اسلامی پښه را کښیستل شوه. دا سړی بندی شو، خو د ثور د اوومې له کودتا سره یې مړی او ژوندی ورک شو. په دغه وخت کې د داؤد خان د کلوپ ملي د وخت یو ملګری شیر آغا چې اوس د سمنتو د فابریکې رئیس ؤ په خپل کور کې په قتل ورسید. په دې پسې په قلعه زمان خان کې د یوه غار څخه د پنځه سوو (۵۰۰) مړو بدنونه پیدا شول، په عدلی طب کې څرګنده شوه چې دا ټوله په وهلو ډبولو وژل شوی وو.

داؤد خان نه پوهیدی چې څه وکړی، خو دستګاه یې ډیره کمزوره وه او د پښتو عاملان یې نشوای پیدا کولای. د دغې وضع په جریان کې ډیر لوی او ډیرو خطرناکو عواقبو قتل د میر اکبر خیبر ؤ چې د ۱۹۷۸ د اپریل په ۱۷ یې مړی د دولتی مطبعې تر څنګ پیدا شو.

د دې قتلونو په باب مختلف نظرونه وېل کیدل، خو رښتیانی او منطقي نظر دا ؤ چې شوروی د یوه منظم پلان له مخې دغه کارونه سرته رسول، څو خپلو مستقیمو همکارانو ته قدرت په لاس ورکړی او د دغه تروررونو او پټ قتلونو غټ طراح او لارښود شوروي په سفارت د کی جی بی غړی ایلوف ؤ چې د پرچمیانو په وخت کې یې د افغانستان د رئیس جمهور په صلاحیت کار کاوه.

## ۱۱ - لویه جرګه، اساسي قانون او د جمهور رئیس انتخاب:

د هغې ورځې په اصطلاح ملی رهبر یا د دولت رئیس محمد داؤد په ۱۹۷٦ کې په خپل فرمان د نوي اساسی قانون د تسوید هیأت وټاکه، هغو مسوده تهیه کړه او د دغې مسودې د تصویب لپاره لویه جرګه را وغوښتل شوه.

لویې جرګې ته خاص او د حکومت معتمد کسان راوستل شول او د ۱۹۷٦ د جنوري له اخیر څخه د فبروری تر لومړی هفتې پورې جاری وو. جرګه د یو پخوانی قاضی عبدالکریم حقانی په ریاست پیل شوه، بیا عزیز الله واصفي د رئیس په حیث وټاکل شو.

دا قانون اساسي په لویه جرګه کې تصویب شو، خو یو سردرګمه قانون ؤ، د قواو تفکیک پکښې معلوم نه ؤ، د بیان لیکنې او عقیدې د آزادی هیڅ ذکر پکښې نه ؤ.

په ۷٦ ماده کې جمهور رئیس د ٦ کالو لپاره انتخابیدی او په دې اساسي قانون کې جمهور رئیس زیاتر د باچا په شان جلوه کوله. تر ټولو ډراماتیکه او مضحکه صحنه د جمهور رئیس انتخاب ؤ چې په همدغه لویه جرگه کې سرته ورسیدی.

د تر مخنی مخفي پروگرام مطابق په غونډه کې یوې ښځې (غړې) وویل چې ملي رهبر محمد داؤد دې ځان د غې عهدې ته کاندید کړي، په دې پسې د لویې جرگې رئیس واصفي ناري کړل، خورې ښاغلي محمد داؤد ځان نه کاندیدوي، هغه دا حق ملت ته ورکړی دی، په دې لړ کې خورا خبرې ډیرې شوې او پخپله محمد داؤد هم وویل چې نه غواړي ځان کاندید کړي.

په دې وخت کې د خوست له خوا یو راغلي وکیل چې د دفاع د وزیر حیدر رسولي په سپارښت راغلی ؤ، دا ړی وریښمین خان نومیدی چې د پولیسو افسر ؤ، د غه وکیل د دې لپاره چې خپل اخلاص حیدر رسولي ته وښیي په لوړ آواز ناري کړل: که یې رئیس صاحب دولت نه کوي، نو دې رسولي صاحب کاندید شي.»

دغسې یو بل غږ د ننګرهار د حصارک یو وکیل حاجي عبدالوهاب هم وکړ، خو حاضرینو پر وخندل او په پای کې ملي رهبر محمد داؤد ځان کاندید کړ، څرنګه چې هیڅ رقیب یې نه درلود او انتخابات هم علني وو، نو ټولو په اتفاق لاسونه پورته کړل او یو ساعت مخ کې د دولت رئیس د شپږو کالو لپاره د افغانستان جمهور رئیس شو.

حاضرینو پرله پسې چکچکې ورته کولې او بیا د د یوه مفصله وینا وکړه او کله چې د تالار څخه راوت وکیلانو پر اورو تر موټره دراوړ او په دې توګه هغه ډراماتیکه صحنه پای ته ورسیده، جمهور رئیس د لویې جرگې تر خلاصیدو وروسته په حکومت کې لږ تغیر راوست او د کابینې غړي یې بیرته ځای پر ځای کړل، خو هغه چې د پرچمیت بوی یې تلی له ځانه یې لیرې کړل چې په دې جمله کې یې حسن شرق هم جاپان ته د سفیر په توګه ولیږی او تصمیم یې ونیو چې د شوروي له کړی څخه ځان آزاد کړي.

## ۱۲ – مسکو ته د محمد داؤد وروستی سفر او د برژنیف سره ټکر:

حسن شرق وایي: «د ۱۹۷۷ د فبروري تر لویې جرگې وروسته په هغه ورځ چې پرون یې محمد داؤد خان د جمهور رئیس په حیث ټاکل شوی ؤ ما او وحید عبدالله ته وویل چې اوس هغه وخت رارسیدلی دی چې د برژنیف سره دا معلومه کړم چې آیا په د غو روانو ګډوډیو کې (مطلب یې د خلق او پرچم تخریبونه وو) شوروي لاس لري او که یه؟»(۱)

(۱) حسن شرق، کرباس پوش های برهنه پا د دهلي چاپ ۱٤۹ مخ.

ددغه کال په اپریل کې د شوروي په بلنه داؤد خان مسکو ته سفر وکړ او دا د داؤد خان وروستی سفر ؤ، په دغه سفر کې ؤ چې د کریملین په یوه غونډه کې د داؤد خان او برژنیف تر منځ په خبرو کې سخت ټکر پېښ شو. دغه صحنه د خارجه وزارت یو مامور صمد غوث چې حاضر ؤ او حسن شرق چې زیاتره مبالغې هم کوي بیان کړې ده، خو دلته یې لنډې راوړل کیږي.

ددوهمې ورځې غونډه په داسې حال کې پیل شوه چې برژ نف د غونډې مشر ؤ او پود گورني او کاسیگین صدراعظم هم حاضر وه، برژنیف ډیر ناروغه ؤ خو په یوه عصبي لهجه یې داؤد خان ته وویل: د افغانستان په شمال کې د امپریالیزم جاسوسان ر ځي، پخوا د غسې مسایلو ته پاملرنه کېدله خو اوس چندان توجه نه ورته کیږي. ددغې خبرې په اوریدو داؤد خان سخت عصبي شو او وې ویل: «افغانستان د شوروي دوستي ته لوی ارزښت ورکوي، خو دا ددې معنا نه لري چې افغانستان باید خپله آزادي له لاسه ورکړي، دا د افغانستان انحصاري حق دی چې په خپله خاوره کې څوک پریږدي او څوک نه پریږدي او په دې برخه کې د حسن همجواري او ښه گاونډیتوب ټول شرایط په نظر کې نیول شوي دي. له دې سره یې قلم پر کتابچه کېښود او ولاړ شو د سر په اشاره یې رخصت واخیست او روان شو، برژنیف تر شا په پسې ؤ چې په دروازه کې وحید عبدالله ورته وویل د ډیپلوماسي له مخې باید په ښه طریقه رخصت واخیستل شي.

داؤد خان ودرید او گله چې برژنیف ورته راورسید نو په خندا یې ورته وویل: تا زما څخه د یوه شخصي دوه په دوه ملاقات غوښتنه کړې وه، دا وخت ستا په لاس کې دی چې هر وخت لازم بولې زه په خدمت کې یم.

داؤد خان هم هغسې تریو ؤ او ځواب یې ورکړ نور هغسې ملاقات ته ضرورت نشته مسایل حل شول او له دې سره راووت او په هغه پسې له مسکو څخه رارخصت شو. د داؤد خان دا ملاقات ډیر ترخه عواقب درلودل، شوروي چې پخوا د داؤد خان د چپه کولو کوم پلان درلود هغه یې سمدستي ترلاس لاندې ونیو. دا ټکر شوروي په دې قانع کړ چې داؤد خان نور د شوروي په کړي کې ځان نه مقیدوي.

## ۱۳ – داود پر یوه نوې او ناپلده لار روان شو:

محمد داؤد خان په ۱۹۷٤ په کابل کې د امریکا د سفیر په وسیله د هغه هیواد څخه د مرستې غوښتنه وکړه چې دده له اقتصادي پلان سره همکاري وشي، خو امریکا چندان علاقه و نه ښووله بهانې یې وکړې، خو اصل حقیقت دا ؤ چې امریکا افغانستان د شوروي یوه سپورمۍ بلله او د پاکستان سره د اختلاف په وجه یې افغانستان ښه نه لیدی.

په ۱۹٦٥ کې محمد داؤد خان د ایران د شاه په بلنه هغه هیواد ته سفروکړ او هلته ډیر درونډ هرکلي ورته وویل شو، داؤد خان د ایران د باچا څخه د افغانستان په پلان کې د همکارۍ هیله وکړه او هغه هم ومنله، ایران د یو کل په توګه دوه ملیارده ډالره ومنل او په ۱۹۷٦ کې یې قرارداد وشو.

په پلان کې دا پیسې د اوسپنې د لارې جوړولو لپاره تخصیص شوې وې او ۱۸۱۰ کیلومتره لاره په دې توګه سروې شوه. د اسلام کلا هرات، هرات، فراه، لښکرګاه د ایران تر سرحد پورې، کندهار، سپین بولدک، کندهار، کلات، مقر، غزنی، لوګر (مس عینک)، کابل، حاجی ګګ (د اوسپې کان) کار تکمیل شوی ؤ، دا کار په د اووه کلن اقتصادي پلان په لومړی کال پیل کیده او په ۱۹۸٤ کې پای ته رسیده.

دا یو دعظیمه پروژه وه چې محمد داؤد خان زیات ورته هوسیده، خو شوروی په ډیر تشویش ورته کتل او په کابل کې پرچمیانو په داؤد پسې ډیر بد تبلیغات کول چې لوېدیځ ته ځان ورنژدې کړی.

کله چې د پاکستان صدراعظم بوټو او بیا ضیا ءالحق راغی او د مناسباتو د نوي کېدو خبرې کیدلې، شوروي په ډیره پاملرنه افغانستان تر نظر لاندې ساته.

په دې پسې په ۱۹۷۷ کې چې محمد داؤد و مسکو ته سفر وکړ او بیا یې هلته د برژنیف سره ټکر راغی په دې پسې چې کابل ته راغی سمدستي مصر ته ولاړ او د سادات سره یې ولیدل، بیا یې عربستان سعودي، لیبیا او کویټ ته سفروکړ، کله چې هیواد ته راوګرځید په هرات کې کوز شو او هلته یې په یوه وینا کې پر پرچمیانو سخت ګزار وکړ او هغه یې د هیواد په ورانولو محکوم کړل او کله چې کابل ته راوګرځید په تصفیه یې پیل وکړ او په دولتی چارو کې یې ټول پرچمیان وایستل، په مقابل کې هم پرچمیانو په تخریب پیل وکړ او هم شوروی د داؤد د جمهوریت او دد د منځه وړلو پلان چې طرح کړی ؤ په تلوار یې تطبیق ته اقدام وکړ.

د مسکو تر سفر او د برژنیف سره تر ټکر د رې میاشتې وروسته شوروی په کابل کې د خلق او پرچم اتحاد راوست او داؤد خان د منځه وړلو یو مقدماتی حرکت ؤ.

په اردو کې د شوروی دري سوه مشاورین دد غه پلان د تطبیق لپاره په کار ولویدل.

داؤد خان په دې پوهیده چې شوروی نور دده د منځه وړلو لپاره د هیڅ عمل څخه دریغ نه کوي، خو داؤد خان پر همدغه نابلده لار روان ؤ، څو ګړنګ ته ورخطا شو.

## ۱٤- د خيبر قتل:

د ۱۹۷۸ کال د اپريل په ۱۷ ميراکبرخيبر په قتل ورسيد او دا مرگ د ډيرو تباه کونکو پېښو سرآغاز شو. ميراکبر خيبر د خلق ډموکراتيک گوند د پرچم د ښاخ يو ډير مهم غړی او يو سرسخت کمونيست ؤ. د ده نظامی تحصيلات کړی ؤ او کله چې يې د پوليسی افسری ډيپلوم اخيستې د وخت د صدراعظم شاه محمود خان پرضد په ناکامه توطيه کې متهم او زندان ته واچول شو. دی په زندان کې ؤ چې ښځه او دوه کوچنی اولادونه يې مخله ورک شو د چې بيا د ده تر مرگه ونه ليدل، څو يې د سليمان لايق خور وغوښتله، خو دغې حادثې دومره دردولی ؤ چې هر ځای به يې د حکومت پر ضد خبرې کولې.

څرنگه چې د پراخو مطالعاتو خاوند ؤ، نو په گوند کې يې نفوذ درلود او ببرک کارمل يې سخت رقيب ؤ، د شوروی د سفارت د کی جی بی څانگې د ببرک سره علاقمند وې او له دې لحاظه خيبر پر هغو هم بد ويل. د بلې خوا د هغه وخته چې شوروی د خلق او پرچم د وحدت کار سرته ورساوه اوس نو يو دانگيزد په کاروه چې د داؤد خان د چپه کولو کار په سر پکښې ورسيږی. د همدغه انگيزې لپارد د خيبر له وجود څخه استفاده وشوه.

د اپريل په ۱۷ ورځ ماپښين چې خيبر له کور څخه د گوند د يو بل غړی قدوس غوربندی په وسيله راوايستل شو او چکر ته ولاړل، مازديگر پر هغه ځای چې خيبر وويشتل شو، څو گامه وړاندې غوربندی ورڅخه جلا شو او چې خيبر يوازې شو د شا له خوا يو روسی جيپ راغی او د دغه موټر څخه پر خيبر ډکان وشو او ځای پر ځای يې مړ کړ. ځينې با خبره منابعو ويلی دی چې په دې قتل کې د شوروي د سفارت يو مسؤل مقام (ابلوف) چې د ډيرو توطيو منبع وه عامل ؤ.

د خيبر له قتل څخه د حضرت عثمان کميس جوړ شو او په دې وخت کې چې خلق و پرچم وحدت هم کړی ؤ په ډير لوړ آواز دا تبليغ کيدله چې په دې قتل کې داؤد خان او د ده حکومت لاس درلود.

د خيبر پر جنازه لويه هنگامه جوړه شوه او فاتحه يې داسې واخيستل شوه چې کابل تر دې پخوا داسې فاتحه نه وه ليدلې. «کی.جی.بی» په دې ټولو خبرو کې فعاله ونډه درلوده او پر داؤد خان يې دولس نفرت راوپاڅاوه.

د داؤد خان په شا وخوا کې چې يا د «کی.جی. بی» غړی يا مغروره بې عقلان راتاو شوی وو، هغو داؤد خان ودې ته هڅاوه چې شديد عکس العمل وکړی او دغسې يو کار پر اور د تيلو توييولو حکم درلود. د خيبر مرگ هولناک عواقب درلودل.

## ۱۵ - د خلق او پرچم د رهبرانو نیول او د جمهوریت سقوط:

د خیبر قتل او په ناحقه د هغه په عمل د داؤد خان متهمول او د خیبر پر جنازه او فاتحه د دولت پر ضد جنایت کارانه شعارونو ورکولو محمد داؤد خان سخت عصبی کړ، په خاصه توگه چې پر ده راټولو خاینو او بې عقلو همکارانو له خوا دده تحریکول چې د خلق او پرچم رهبران ونیسی د «کی.جی.بی» پلان د کامیابه تطبیق مرحلې ته وصل کړ چې داؤد او جمهوریت ته سقوط ورکړ.

د اپریل په ۲۵ شپه کابل راډیو اعلان وکړ چې د خاینو عناصرو اوه کسه په دې شهرت ونیول شول:

نورمحمد تره کی، ببرک کارمل، ډاکتر شاه ولی، دستگیر پنجشیری، عبدالکریم شرعی جوزجانی، ضمیر ساپی. حفیظ الله امین (چې په سبا ونیول شو) پر دې کسانو د وطن په وړاندې د خیانت تور لگول شوی ؤ. دوی په زندان کې واچول شول او په دا بله ورځ د هیواد په مرکز او ولایاتو کې جشنونه ونیول شول چې وطن د کمونیستو خاینانو څخه پاک شو. دا شعارونه شوروی اوریدل، خو پلان یې د تطبیق په حال کې ؤ.

د اپریل په ۲۷ ورځ سبا وختی د حفیظ الله امین په اطلاع د ٤ او ۱۵ زغره لرونکی قوا او هوایی قوتونو له خوا د داؤد پر مقر ارگ حمله وشوه. لومړنی ټانک د اسلم وطنجار ؤ چې پر ارگ او وزارت دفاع یې فیرونه وکړل. داؤد خان په دغه وخت کې د کابینې غونډه راغوښتې وه چې د نیول شوی کسانو په باب تصمیم ونیسی، البته ددوی لپاره اعدام په نظر کې نیول شوی ؤ. د زغره لرونکې قوې ټانکونو پر ښار هم حمله وکړه، خو ډیر زور یې پر ارگ ؤ او محمد داؤد خان کابینه رخصت کړه او د خپلې کورنۍ سره د ارگ په یو دزیرخانه کې کښېنوست.

وزیر دفاع رسولي او دده لوی درستیز عبدالعزیز د صحنې څخه وتښتیدل او د قرغې فرقې ته ولاړل چې هغه راوبولی خو هلته هم وضع بدله وه ځو ریشخور ته راوغوښتل بیا په لار کې ونیول شول او ووژل شول.

ماپښین هوایی قواو په میگ جټ الوتکو پر ارگ حمله وکړه او ارگ یې سخت بمبارد کړ. البته دا دې هیر نه وی چې په اردو کې د شوروی ۳۰۰ کسه مشاورین په دې پېښو کې د لوبې برخې خاوندان وو. مازدیگر قیام کوونکی زندان ته ورغلل او رهبران یې راوستل او د راډیو تالار ته یې راوستل. ماښام د راډیو څخه د داؤد خان د جمهوریت د سقوط اعلان وشو او سبا داؤد خان د خپلې کورنۍ له غړو سره په قتل ورسید او په دې توگه د داؤد خان جمهوریت سقوط وکړ او یو دنوی خطرناکه دوره پیل شوه.

# شلم فصل

## د ثور (۷) کودتا

### ۱ – کودتا او د پیښې عمده عامل:

د ۱۹۷۸ کال د اپریل په ۲۷ ورځ په ناڅاپي توګه د ځمکنیو زغره والو او هوایي قوتونو له خوا پر جمهور رئیس محمد داؤد خان او د هغه پر دولت یوه کودتا وشوه چې د ثور د اوومې د کودتا یا د هغه وخت په اصطلاح بې په «انقلاب» شهرت وموند (ځرنګه چې دا پیښه د ۱۳۵۷ شمسي کال د ثور په اوومه سرته رسیدلې وه، نو ځکه دا نوم ورکول شو.)

دا یوه هولناکه پیښه وه چې ډیر غمجن عواقب یې درلود ل، په کودتا کې ځوانو افسرانو او د خلق ډموکراتیک ګوند د رهبرۍ غړو برخه درلوده، خو انکار نه منونکي شواهد او قراین دا په ډاګه ښیې چې شوروي په مستقیمه توګه لاس پکښې درلود. د کودتا عمده عامل داؤ چې جمهور رئیس محمد داؤد د خپل حکومت په وروستیو کې د پاکستان سره مناسبات نرم کړل د ایران سره یې نژدې اړیکې قایم کړل، مصر، سعودی عربستان او کویټ ته یې په سفرونو کې د هغو د مرستو وعدې هم حاصلې کړې په اخیر کې غته خبره داده چې د امریکا جمهور رئیس جیمی کارتر دعوت ورکړ او پروګرام دا ؤ چې په همدغه ۱۹۷۸ کې امریکا ته سفر وکړي.

دا حرکات شوروی اتحاد په لوی تشویش کې واچاوه او په دې پوه شو چې افغانستان یې د لاسه وځي، د بلې خوا تر د غه سفرونو او تعهداتو وړاندې او وروسته چې محمد داؤد خان شوروی اتحاد ته سفر وکړ، د برژنیف سره یې ټکر وکړ چې شوروی د داسې حرکت انتظار نه درلود نو ځکه یې د داؤد خان د چپه کولو پلان جوړ کړ چې په لومړی سر کې یې د خلق او پرچم ترمنځ اتحاد رراوست او بیا یې په اردو کې خپل درې سوه مشاورین ودې ته وهڅول چې د محمد داؤد خان پر ضد د نظامی پاڅون په وخت کې جدی مرسته وکړی. په شوروی ترلو خلق او پرچم له خوا کودتا دومره د داؤد خان له تصور څخه لیرې وه چې کله د کودتاچیانو د ټانکونو فیرونه پر ارګ پیل شول، جمهور رئیس داسې فکر وکړ چې کودتا د راسته لاس یعنې اخوانیانو له خوا شوې ده.

دا خبره باید له یاده و نه وځي چې د داؤد خان د اطلاعاتي دفتر (ملی مصئونیت) ټولې حساس شبکې د شوروی د «کی.جی. بی» تر نظر لاندې وې او هغو دولت ته په اردو کې د خلق او پرچم یا شوروي د منفي فعالیت څخه هیڅ خبر نه ورکاوه، فقط ماغزه یې په اخوانیانو ور مصروف کړی وو، په دې توګه کودتا منځته راغله او عامل یې هم معلوم ؤ.

## ۲ – د پیښې جریان:

د کودتا مقدمات پخوا برابر شوی وو د ثور په ۷ سهار وختی حفیظ الله امین مخ کې تر دې چې ونیول شي د خپل زوی په وسیله ټاکلو ځایونو ته د رهبرانو د نیولو خبر ورکړ او د کودتا د پیل قوماندہ یې صادره کړه. تر دې پخوا په تیره شپه کې جګړن محمد رفیع د څلورمې زغرد لرونکې قوا رئیس ارکان (قوماندان یې سرور نورستانی، شوروی ته د استراحت لپاره تللی ؤ) وزیر دفاع حیدر رسولی ته پیشنهاد وکړ چې د تعلیم او تربیې د پروګرام مطابق باید ټانکونه او زره پوښونه امتحان شي او کار یې وکتل شي. وزیر دفاع هم د خپلې موافقې امر ورکړ په همدغه وخت کې رفیع او وطنجار خپل پلان داسې عیار کړ چې د څلورمې قوا وسایل به راایستل کیږی او ۱۵ زغرد لرونکی قوا به هم د ځان سره ملګرې کیږي او که څوک ممانعت وکړي هغه به له منځه وړي.

په سبا وختی وطنجار ټانکونه حرکت ته تیار کړل او کله چې یې پنځلسمې قوا ته د حرکت خبر ورکړ هلته یو افسر غلام حضرت مخالفت وکړ، دا افسر او ځینی نور کسان په لومړي سر کې ووژل شول او ټانکونو د څرخی پله څخه پر ښار حرکت راوکړ.

د دغو ټانکونو په مخ کې درې ټانکه وه چې یو د فتح په نامه افسر د ارګ ګارد ته مخامخ کړ، دوهم د وطنجار ټانک ؤ چې وزارت دفاع ته مخامخ ودرید او دریم د مزدوریار ټانک ؤ د ارګ پر مانې یې میل وربرابر ؤ.

د ورځې پر ۱۱ بجو لومړی فیر پر وزارت دفاع وشو، په دې پسې په ارگ کې د ساعت برج والوزول شو او بیا پر گارد فیرونه پیل شول، پنځلس دقیقې نه وې تیرې شوې چې د ارگ ځخه د دودانو ستونونه هوا ته پورته شول.

د ورځې پر ٤ بجو د هوایي قوا او افسر قادر پس له ډیر قتل و قتال ځخه له بگرامه په میگ جیتیانو پر ارگ حمله وکړه، دا حملې تر ماښامه جاري وې او د شپې د گارد مقاومت ختم شو او د هغه قوماندان صاحب جان ونیول شو او ووژل شول او بیا وطنجار او قادر د جمهوریت خاتمه اعلان کړه.

په سبا کې د امام الدین په نامه یو افسر د بل افسر ډگرمن گل آغا د دوو نورو افسرانو سره هغه سالون ته ورننوتل چې هلته محمد داؤد د خپلې کورنۍ سره پکښې ناست ؤ، امام الدین ورته وویل وسله کښیږده او تسلیم شه، داؤد خان پر هغه د تفنگچې فیر وکړ چې امام الدین پر لاس زخمي شو، په دې پسې د غو ځلورو افسرانو په کلاشینکوفونو داؤد خان او کورنۍ یې قتل کړل، په دې کې محمد داؤد د هغه دوه ځوانان زامن عمر او خالد، میرمن بي بي زینب د محمد ظاهر شاه خور، محمد نعیم د داؤد خان ورور، د داؤد نږندی د هغو اطفال، سردار نظام الدین غازي او عبدالالله ټوله ۱۷ کسه په قتل ورسیدل. په دې فاجعه کې د ارگ په سلگونو خلک ووژل شول، همداسې په نور کابل کې په زرگونو خلک قتل شول.

## په ارگ کې قتل:

۱ – سردار محمد داؤد
۲ – سردار محمد نعیم
۳ – زینب د داؤد خان میرمن د ظاهر شاه خور
٤ – بلقیس د تیمور شاه آصفي میرمن د ظاهر شاه خور
۵ – محمد عمر د محمد داود مشر زوی
٦ – ویس د محمد داؤد زوی
۷ – خالد د محمد داؤد زوی
۸ – شینکی د محمد داؤد لور
۹ – زرلښت د محمد داؤد لور
۱۰ – شیما د محمد داؤد نږور د ویس میرمن
۱۱ – هیله د محمد داؤد لمسی د عمر خان لور
۱۲ – غزاله د محمد داؤد لمسی د عمر خان لور

۱۳- حارث د محمد داؤد لمسی د ویس زوی
۱٤- وایگل د محمد داؤد لمسی د ویس زوی
۱۵- زرمینه د محمد نعیم لور د عبدالعظیم غازی میرمن
۱٦- حضورا د محمدنعیم لمسی د عبدالعظیم غازی لور
۱۷- عایشه د محمد داؤد او نعیم خور
۱۸- نظام الدین غازی د محمد داؤد خان زوم.

***

۱- عبدالاله د جمهور رئیس معاون
۲- عبدالقدر نورستانی وزیر داخله.

**زخمیان:**

۱- گلالی د محمد داود ترور د عمر خان میرمن د عبدالله ملکیار لور
۲- خورشید د محمد نعیم لمسی د عبدالعظیم غازی لور
۳- زهرا د محمد داؤد خان لمسی د نظام الدین غازی لور
٤- داؤد د محمد داؤد لمسی د نظام الدین غازی زوی
۵- زهره د ظاهرشاه خوارځه د تیمورشاه آصفی لور
٦- تورن د ظاهرشاه خوزی د تیمورشاه آصفی زوی
۷- شیرین گل د محمد داود د عایشه جانې پرستاره
۸- تیمورشاه آصفی د محمد ظاهرشاه اخښی

همدارنګه د محمد داود د کورنی دوه نور غړي عبدالله روکی او صلاح الدین غازی په زندان کې کمونستانو اعدام کړل.

احمد علي خان سلیمان د پلچرخی په زندان کې مړ شو.[1]

د ثور د اوومې ورځې په ماښام چې د کابل پر نظامي ځایونو هوایي بمباری شروع وه او داود خان د خپلې کورنی سره د ارګ په یوه سالون کې محاصره وه، د افغانستان د وسله والو قواو د نظامی شورا له خوا اعلامیه خپره شوه چې پښتو متن یې اسلم وطنجار او دري متن یې قادر خان ولوست.

د دې اعلامیې اصلی سریزه داسې وه:

«د نادرخان د مستبدې کورنی آخرین فرد سردار محمد داؤد دا د تاریخ بې نظیره عوام فریب

(۱) عبدالحمید مبارز «آسیای میانه و افغانستان در کنار آتش» د پیښور چاپ، ۱۹۹۹ ص ص ۲۰-۲۲.

او د افغانستان د خلکو ارادې ته خاین د همیشه لپاره له منځه ولاړ، ملي حاکمیت پس له دې په تاسې د افغانستان په نجیبو خلکو تعلق لري، د انقلاب د لاس راوړونو دفاع او د دې مستبد او ستمگر سردار د غوښتونکو له منځه وړل د افغانستان د شرافتمندو خلکو د فرد فرد وظیفه ده. »

له دې سره له راډیو څخه ملي ترانې اوسرودونه خپریدل او راډیو پر له پسې د انقلاب اعلامیې خپرولې. خلک نه پوهیدل چې څه به پېښ شي، ځکه په انقلابي ابلاغیو کې زیات تهدیدونه پراته وو په خاصه توگه چې په سبا یې د پخواني جمهور رئیس محمد داود او د کورنۍ د ۱۷ کسو قتل عام راډیو واوریدډیر وارخطا شول او په دغه لومړی هفته کې چې په ارگ کې یې د دغو مقتولانو په وینو لړلي فرشونه ولیدل، نو پوه شول چې پر وطن یې د اور او وینو لوبه راپیل شوه.

د انقلاب نوې ترانې د ناشناس په آواز کې ازانگې وکړې:

توره تیاره تیره شوه ستا پر سردرو باندې
ښه شوله چې تیره شوه ستا خوارو بچو باندې
هره تیاره پای لري خلکو ولسو باندې
لمر د عدالت وخوت ستا پر جگو غرو باندې
ای د آزادی خاورې! تاته مو سلام دی
ای د خپلواکی خاورې! تاته مو سلام دی

دا ترانه د موزیک سره پرله پسې خپریده، خو خلک گنگس وو او هر شی او هر حرکت ته یې په شک کتل.

کله چې ورو ورو وضع خرابه شوه په گوند کې اختلافات راپورته او د خلک او پرچم په هولناک جنگ کې زندانونه په خلکو ډک شوه او د شپې به په پلیگون کې په سلگونو خلک وژل کیدل، نو دا ترانه شاکي خلکو داسې واړوله:

لمر د آزادی پریوت ستا پر سردرو باندې    توره تیاره راغلله ستا خوارو بچو باندې

د پېښې دا جریان د کودتا په لومړیو گړیو اړه لري چې په زماني لحاظ یې ۲٤ ساعته په بر کې نیول.

## ۳- د دولت رهبري:

د کودتا تر قایمیدو درې ورځې وروسته د مې په اوله د نظامي شورا پر ځای انقلابي شورا اعلان شوه او د دولت رهبري داسې وټاکل شوه:

۱) نورمحمد تره کی جمهور رئیس، د انقلابي شورا رئیس او صدراعظم
۲) ببرک کارمل د جمهوری ریاست، انقلابي شورا او صدارت اول مرستیال

۳) حفیظ الله امین د صدراعظم مرستیال او خارجه وزیر
٤) محمد اسلم وطنجار د صدراعظم مرستیال او د مخابراتو وزیر
٥) عبدالقادر د دفاع وزیر
٦) نوراحمد نور داخله وزیر
۷) ډاکتر شاه ولی د عامې روغتیا وزیر
۸) صالح محمد زیری د کرنې او ځمکو د اصلاحاتو وزیر
۹) دستگیر پنجشیری د معارف وزیر
۱۰) سلطان علی کشتمند د پلان وزیر
۱۱) عبدالکریم میثاق د مالیې وزیر
۱۲) محمد حسن بارق شفیعی د اطلاعاتو او کلتور وزیر
۱۳) سلیمان لایق د راډیو تلویزیون وزیر
۱٤) اناهیتا راتب زاد د ټولنیزو چارو او گرځندوی وزیر
۱٥) عبدالکریم شرعی جوزجانی د عدلیې وزیر او لوی څارنوال
۱٦) محمد اسمعیل دانش د کانو او صنایعو وزیر
۱۷) نظام الدین تهذیب د سرحداتو او قبایلو وزیر
۱۸) محمد منصور هاشمی د اوبو او بریښنا وزیر
۱۹) عبدالقدوس غوربندی د سوداگرۍ وزیر
۲۰) محمود سوما د لوړو تحصیلاتو وزیر
۲۱) محمد رفیع د فواید عامې وزیر

په دې کې ۱۳ وزیران خلقي او ۸ پرچمي وو، دا وزیران چې کله وزارت خانو ته ولاړل، خلقیانو د خپل جناح خلق غړي په ټولو ارگانو کې نصب کړل او پرچمیانو د خپلې جناح غړي مقرر کړل، لږ ورځې لا نه وې تیرې شوې چې وزارتونه د خطرناک رقابت سنگرونه شول.

کارونه فلج شول او سبوتاژونه ورځ تر بلې لوړ ولاړل، دې وضع د دولت په لوړه سطح کې منفي اغیزې وغورځولې او د حفیظ الله امین او ببرک کارمل ترمنځ د ناندریو او بدو تبلیغاتو فضا ډیره توده شوه.

د کابل په سیاسي ټولنو کې سخت نفرتونه راپورته شول، خو دا سې معلومیدل چې دا وضع تصادفي نه ده، بلکې یو بل منظم پلان تر کار لاندې دی او دا دواړه جناح باید یو ځل بیا یو د بل پر ضد تخریب پیل کړي.

شوروی مشاورین چې د دولت په ټولو دستګاؤ کې مسلط وو وروستی مشوره یې جمهور رئیس ته دا وه چې پرچمی رهبران په سفارتونو مقرر او د هیواد څخه وباسي او دا د یو بل نوی اور بلیدا..

## ٤- اته فرمانونه:

د ثور تر کودتا وروسته نوي دولت تر اتو میاشتو په کمه موده کې اته فرمانونه په دې توضیح صادر کړل:

لومړی فرمان چې د کودتا په دریمه ورځ صادر شو په هغه کې د دولت تشکیلاتی اورګانیک شکل او اداری ارکان معرفي شوی وه چې نورمحمد تره کی، ببرک کارمل، حفیظ الله امین او نور دولتی اراکین په ترتیب سره معرفی شوه وو.

دوهم لمبر فرمان چې انقلابی شورا صادر کړ د پخوانی باچا محمد ظاهرشاه محمد داؤد خان او د نادرخان د کورنی د سردارانو جایدادونه ضبط شوی وو.

په دریم لمبر فرمان کې چې د ۱۹۷۸ د می په ۱۰ صادر شو پخوانی اساسی قانون لغو او د نوی دولت اصول اعلان شوي وو.

څلورم لمبر فرمان کې ټوله ژبې خوندي بلل شوې او د اوزبکی، ترکمنی، نورستانی او بلوڅي د نشراتو حکم شوی ؤ.

پنځم لمبر...

شپږم لمبر فرمان کې د سود او ګروی په باب احکام صادر شوي وه.

په اووم لمبر فرمان کې د نجلی د واده سن ۱٦ او د هلک ۱۸ اعلان شوی او ولور ۳۰۰ افغانی ټاکل شوی ؤ.

اتم لمبر فرمان د ځمکو د اصلاحاتو په باب ؤ.

په دغو فرمانونو کې چې دوی انقلابي فرمانونه ورته ویل شپږم، اووم او اتم لمبر فرمانونه د لویو او خطرناکو پیښو محور وګرځیدل. د فرمانونو په کار کې د ټولنې جوړښت او د خلکو روحیات په نظر کې نه وو نیول شوی. مثلاً شپږم لمبر فرمان چې د ملکیتونو د ګروی په باب و، تاوان او زیان یې دا و چې غریبو بزګرانو د ملاکانو ځمکې په ګروی اخیستې وې، کله چې فرمان راووت ملاک ته ځمکه پاته شوه او اکثره بزګرانو ته د ګروی پیسې و نه رسیدې. په دې توګه ځمکه له کښت څخه پاته شوه او د عمومي محصولاتو کمښت یې منځته راوست.

په اووم لمبر فرمان کې چې د ولور مسأله اود ښځې عمر اعلان شوی ؤ، خلکو هیڅ و نه مانه، دا

یوه کلیوالي ټولنه وه چې ولور پخپله یوه عایداتي منبع وه او زیاترو په دغو پیسو زامنو او ورونو ته ښځې غوښتلې، خو نوي دولت خلک ورڅخه محروم کړل.

اتم لمبر فرمان چې د ځمکې په باب ؤ ځرنګه چې دلته لا د ملکیتونو شرعي او قانوني ترکې نه وې شوې او د نیکه څخه به ځمکه د یوه سړي په نامه وه، نو فرمان د ځمکې مالک ته ۳۰ جریبه او بزګرانو ته پنځه، پنځه جریبه ځمکه ورکوله، هغه د نیکه د ملکیت ځمکه به اوس تر لسو زیات ورثه درلودل، خو پر ټولو به درې جریبه هم نه وررسیدله.

د بلې خوا د ځمکې په اصلاحاتو کې چې محمد داؤد خان د خپلو حکومتو په وخت کې کادستر سروې سرته رسولې وه هغه ته هم اعتنا و نشوه، نو دا ؤ چې یو دم د خلکو غاو پورته شو، دولت ډیره شیوه راوړه، خو خلکو و نه منله زیاتره چې دهواد څخه مهاجر شول باقي یې په چریکي حملو دولت ته لوی تکلیفونه تکیه کړل. په حقیقت کې دا د شوروي تر هدایت لاندې کار ؤ چې زموږ اراکینو په ټپو سترګو عملي کاوه، څو یې عکس العمل ولید.

## ۵- یوې خوا ته یکه تازي، بلې خوا ته سبوتاژونه:

د ثور د کودتا څخه دوې میاشتې لا نه وې تیرې شوې چې د ګوند دواړې جناحې یو د بل په مقابل کې ودریدې. خلقي خوا د حفیظ الله امین په مشرۍ یکه تازي شروع کړه او دا تلاش یې شروع کړ چې قدرت باید ټول د خلقیانو په لاس کې وي، دوی استدلال کاوه چې د پرچمیانو رهبري انقلاب ته وفادار نه وه او ویل به یې چې د ثور کودتا انقلاب نه دی او یو ملي ډموکراتیک حرکت دی. داسې خبرې ډیرې زیاتې شوې او پرچمیانو د خلقیانو د کار ګوډولو په خاطر په کارونو کې سبوتاژونه کول او لږ وخت نه ؤ تیر شوی چې د دولت په دستګاه کې یو ډول بې ملنډه روانه شوه، د شورویانو مشاورینو مصلحت ورکړ چې د پرچم جناح رهبران دې ټول سفیران شي، څو په افغانستان کې کار یو لاس شي.

پرچمیانو په لومړي سر کې نه حاضریدل، خو وروسته یې ومنل او په دې توګه سفارتونه ورووېشل شول. ۲/٦/۱۹۷۸).

ببرک کارمل پراګ (چکوسلواکیا) کې، نوراحمد نور په واشنګټن (امریکا) کې، اناهیتا راتب زاد په بلګراد (یوګوسلاویا) کې، عبدالوکیل په لندن (انګلستان) کې، محمود بریالي په کراچي (پاکستان) کې، ډاکتر نجیب الله په تهران (ایران) کې سفیران شول.

د پخوانیو پرچمیانو څخه چې د داؤد خان په حکومت کې وو، فیض محمد په بغداد (عراق) کې، پاچاګل وفادار په ډهلي (هندوستان) کې، رازمحمد پکتین په مسکو (اتحاد شوروي) کې او

انجنیر نظر محمد په بن (لویدیځ آلمان) کې سفیران شول او دا ورورستی درې کسه خلقیان وو چې په اصطلاح کلیدي ډیپلوماتیک مقامات یې ورکړي وو.

کله چې دا سفیران ولاړل، په ناځاپي توګه په ۱۷ اګست ۱۹۷۹ کې اعلان وشو چې یوه کودتا کشف شوه چې پرچمیانو لاس پکښې درلود، ددې سره سم سلطان علي کشتمند او محمد رفیع له کابینې وایستل شول او په دې پسې جنرال عبدالقادر، جنرال شاهپور او میرعلی اکبر د جمهوریت د روغتون رئیس ونیول شول.

د متهمینو لپاره هیأت تحقیق مقرر شو او هغو هم اعتراف وکړ، په محاکمه کې جنرال شاهپور او میرعلی اکبر اعدام او کشتمند، رفیع او قادر بندیان او یوه پټ لاس وساتل. په اعترافاتو کې متهمینو وویل چې ددوی سره هغو ټولو پرچمي رهبرانو لاس درلود چې اوس په خارج کې دي.

حکومت هم هغه ټول پرچمي سفیران راوغوښتل، خو هغوی ټولو د سفارتونو دارایي په جیبو کې واچوله او ماسکو ته ولاړل، په دې کې ډاکتر نجیب درې لکه ډالره او نوراحمد نور ۲٦۵ زره ډالره وتښتول.(۱)

هغه مهال چې کابل ته په قدرت کې راغلل ددغو پیسو حساب یې هم ورنکړ، دا یوې خواته یکه تازي او بلې خواته سبوتاژونو هم د ګوند او دولت نوم بد کړ او هم یې د هېواد پر راتلونکي یو تور ټکی پرېښود.

## ٦- د هرات قیام:

د خلقي دولت بې کفایته او انسان وژونکو مامورینو د خلکو د آزارولو لپاره ډول ډول ملنډې راایستلې وې، د هرات په اطرافو او ولسوالیو کې د ځمکو اصلاحات او د ښځو د سواد آموزي کورسونه په وهلو ټکولو عملي کېدل.

د خلکو شکایت عام ؤ او والي نظیف الله نهضت او د هرات د ۱۷ فرقې قوماندان سید مکرم په لوی لاس خلک قیام ته مجبورول د بلې خوا ایران چې په کمین کې ؤ د خلکو د قیام لپاره یې خپل خلک او وسلې راواستولې.

حکومت د خلکو د آرامولو لپاره با نفوذه محرک روحاني شخصیتونه لکه عبدالباقي مجددي او د کرخ د حضرت زوی سید معظم د کورنیو د ٦۰ کسو سره ونیول او ددغه عمل په مقابل کې د هرات د مسجد جامع خطیب مولوی عبدالعزیز، د پوهنې مدیر قاري ابوبکر او سید اسحق دلجو خلکو ته د قیام دعوت ورکړ او د پاکستان څخه حضرت صبغت الله مجددي یوه اعلامیه

(۱) حسن شرق، کرباس پوش های برهنه پا، ۱٦۵مخ.

ورواستوله چې قیام یې جهاد وباله، ددې سره یو دم په ښار او اطرافو کې شدید قیام پیل شو، څو کسه روسي مشاورین یې د کورنیو سرداو افغاني افسران ووژل. د دولت له خوا په توپونو او ټانکونو او هوایي قوت حمله پر وشوه، خو قیام کوونکي کامیابه شول. نژدې ؤ چې ټول هرات ونیسي، په کابل کې خلقي رهبري شوروي ته د قوتونو او درنو وسلو د رالیږلو غوښتنې وکړې، خو شوروي وسلې ورته راواستولې او نور یې ورته وویل چې پرسونل تاسې پیدا کړئ.

ترد کي د کاسیگین سره ډیرې جدي خبرې وکړې، خو هغو پر وسله زور ولگاوه، څو حفیظ الله امین په یوه ډیر خطرناک چل د هرات قیام کوونکي له ماتې سره مخامخ کړل.

امین د کندهار د قوماندانۍ د قوې یوه غنډ په برخه د ټانکو او زرد پوښنو سره هرات ته ولیږله، پر دې وسایلو زرغونه او سپین بیرغونه نصب شوي وو، هراتیانو داسې خیال وکړ چې کندهار هم قیام کړی دی او زموږ تقویې ته راغلي دي، کله چې دا قوا ښار ته ننوتله پر قیام کوونکو یې شدیده حمله وکړه او په ډیر لږ وخت کې یې هغه سره وپاشل، داسې نظر دی چې په دې پیښه کې ۵۰ زره کسه وژل شوي دي ځینې وایي چې ۲۵ زره کسه په قتل رسیدلي دي[1] دا قیام د ۱۹۷۹ د مارچ په لومړۍ نیمایي کې پای ته ورسیدی.

ددغه قیام رهبران دا کسان وه: جگتورن محمد اسمعیل، جگتورن علاؤالدین، جگتورن نورمحمد، ډگرمن محمد انور نصرتي، جگړن عبدالعزیز، جگړن غلام رسول بلوچ.

دا یوه خطرناکه واقعه وه چې په ځان پسې یې د کابل د چنداول، بالاحصار او ریشخور قیامونه راوپاڅول.

## ۷- د خلق په جناح کې خپل منځي توطیې:

د هرات د قیام په ناکامولو کې د حفیظ الله امین شهامت او تدبر په هغه کې یو ډول غرور او په گوندي رهبري کې حسد او کینې راوپارولې. امین بر آلا دعوا کوله چې هغه د انقلاب په نجات کې تر هر چا زیات فهم لري، خو هغو دې یو ستالین مزاجه سړی باله. په لومړي سر کې اسلم وطنجار، اسدالله سروري، سیدمحمد گلاب زوی او شیرجان مزدوریار د امین په وړاندې ودریدل او ترد کي یې په خپل حمایت راولاړ کړ، خو ترد کي د امین پر ضد نه ؤ، بلکې د هغه لپاره یې د کارزمینې ایجادولې.

امین ډیر سخت پر ځان بیریدی او ددې لپاره چې د ترد کي د بد نظر مخه یې نیولې وي په ټولو مجالسو او محافلو کې یې ځان وفادار شاگرد باله او دا په رسمي ویناوو او ټولو نشراتو کې په عامه توگه ویل کیدل.

---

(۱) نبي عظیمي، اردو و سیاست در سه دهه اخیر افغانستان، ص ۱۹۱.

څرنګه چې پر تره کي یې باور نه درلود او د ځان د نجات لار یې دا ولیده چې په هر ترتیب وي باید قدرت په لاس راوړي.

د ډاکټر شاه ولي، د اسدالله سروري د خور زوی عزیز چې په اګسا (دولتي استخباراتو) کې لوړ مقام درلود او د تره کي نظامي سریاور داؤد ترون پټ مؤظف کړي وو چې د تره کي د هرې ورځې د ملاقاتونو او نور کار په باره کې منظماً ده ته راپور ورکړي.

په همدې جریان کې چې په کابینه کې ځینې پوستونه خالي شوي وو په انقلابي شورا کې د کدرونو د ځای پر ځای کولو کار پیل شو. د تره کي په پیشنهاد امین ته د دفاع وزارت چارې هم وسپارل شوې.

پر تره کي ځینو ګوندي ملګرو یې ډیر منت وکړ چې په دې کار کې یې لویه اشتباه کړې ده.

په کابل کې د شوروي سفیر پوزانف هم تره کي ته وویل چې امین ته د ټولو نظامي چارو سپارل به لوی بحرانونه راپورته کړي، خو تره کي وویل نه زه پر امین باور لرم هغه ما روزلی دی. [۱]

همدا سې ګلاب زوي او وطنجار تره کي ته د امین په وسیله د ده د مرګ زیګنال ورکړ، خو تره کي ونه مانه.

امین چې د وزارت دفاع چارې په لاس کې واخیستې په ډیره چټکۍ یې په اردو کې د تره کي طرفداران وایستل او خپل خلک یې ځای کړل. نور یې په سیاسي پوستو کې هم لاس وهنې پیل کړې چې عملاً خلقي جناح دوه ځایه شوه: د تره کي طرفداران تره کیان او لار یې ترکیزم وبلل شوه او د امین هغې امینیان او لار یې د امینیزم په نامه یاده شوه په اخیر کې تره کي متوجه شو چې دده د منځه وړلو پروګرام امین طرح کړی دی.

## ۸- په کابل کې د امریکا د سفیر ادولف دبز قتل:

په کابل کې د امریکا د سفیر دبز قتل ډیر بد عواقب درلودل چې په شلو کالو کې یې افغانانو ګزارونه تحمل کړل.

دا چې سفیر چا ووازه؟ ټول شواهد او قراین حکم کوي چې د شوروي استخباراتي اداري (کې.جي.بي) دا کار کړی دی. دبز هغه سړی ؤ چې د «کې.جي.بي» په قول په چیلي کې یې د سالوادور النده پر ضد د ۱۹۷۳ د سپتمبر کودتا رهبري کړه چې په هغه کې النده جمهور رئیس قتل او دولت یې سقوط وکړ، څرنګه چې د النده دولت د شوروي لکۍ ؤ، نو کې.جي.بي په دبز پسې سترګه وړله، ځو یې په افغانستان کې په لاس ورغی.

(۱) نبي عظیمي، اردو و سیاست در سه دهه اخیر افغانستان، ص ۱۹۷.

د ډبز د اختطاف او قتل ماجرا له دې قرار ده وه:

د ۱۹۷۹ کال د فبروری په ۱٤ په کابل کې د امریکا سفیر ډبز سهار په نوی ښار کې له خپل کوره راووت او سفارت ته روان ؤ چې د عامې روغتیا څلور لارې ته ورڅرمه واقع ؤ.

کله چې موټر د تره باز خان د څلور لارې را تیر شو او غوښتل یې پر هغه سړکو وربرابر شي چې د ایران د سفارت مخته تیر شوی ؤ، دلته درې کسه تروریستان د ترافیک په جامو کې ورته ودریدل لاس یې ورکړ، کله چې موټر ودرید، دوی په چټکی موټر ته وختل، دوی دریور او سفیر دواړه تهدید کړل او موټر یې د کابل هوټل ته روان کړ، هلته یې سفیر د موټر څخه ښکته کړ او د هوټل د دوهم منزل په یوه کوټه کې یې واچاوه، په هم هغو ساعتو کې د لویدیځو سفارتو څخه سفیران راغلل او غوښتل یې چې د اختطاف کوونکو سره خبرې وکړي، خو پولیس اجازه ورنکړه.

په دغه وخت کې په کوټه کې چې سفیر ترل شوی پروت ؤ، فیرونه وشول، د دباندې له خوا پر دغه کوټه فیرونه وشول چې په نتیجه کې تروریستانو سفیر مړ کړ او پولیسو چې ماهر نښان زن وو تروریستان مړه کړل.

د کابل د پولیسو په تحقیقاتو کې وویل شول چې تروریستانو د ستمیانو د مشر بحرالدین باحث خوشې کول غوښتل، خو د دوی پر خواسته لاغور روان ؤ چې هغو سفیر قتل کړ.

د امریکا د پولیسو لوی دفتر (ایف، بی، آی) خپل قوی نمایندگان کابل ته راولیږل او هغو په تحقیقاتو کې دا څرګنده کړه چې دغه قتل د شوروي د جاسوسی د دفتر (کی.جی.بی) له خوا په سر رسیدلی دی.

د دغه قتل انعکاس ډیر دروند ؤ او امریکا په انتقام جویی د افغانستان په لسګونو زره خلک ووژل.

## ۹- د تره کي په دوره کې د افغانستان او پاکستان اړیکې:

کله چې د ثور کودتا منځته راغله نو د نوي دولت پر ماهیت هرې خوا ته غور او مطالعه شروع وه. په هغو پټو اسنادو کې چې په ایران کې د امریکا له سفارته راووتل د امریکا اطلاعاتی او سیاسی مقاماتو له جنرال ضیا ءالحق څخه چې د پاکستان زمام یې په لاس کې اخیستی وو پوښتنه کړې وه چې د تره کی او د هغه د کودتا په باب خپل معلومات ورکړي، جنرال ضیا چندان بدبیني لکه د ایران شاه چې څرګنده کړی وه نه ده ښکاره کړې، خو د وضع د پیژندنې لپاره د ۱۹۷۸ د جولای په میاشت کې د یوې ورځې لپاره کابل ته راغی او د تره کی سره یې په پغمان کې ډیرې ښې خبرې وکړې او د دغه ملاقات څخه پوره راضي ولاړ.

ترہ کی د ګوند سیاسي بیرو ته د دغه ملاقات په باب ویلي وو چې په افغانستان کې نظامي او سیاسي وضع داسې ده چې تر هر څه وړاندې باید له پاکستان سره اړیکي نرم شي او دا کاملاً زموږ په ګټه ده. که څه هم امین ځینې تحریکونکی ویناوې کولې او شوروی هم په دې خوښ نه ؤ چې د افغانستان او پاکستان اختلاف رفع شي، خو د ترہ کی تلاش د اړیکیو نورمال ساتلو ته متوجه ؤ.

بل ځل چې ترہ کی د ۱۹۷۹ کال په سپتمبر کې د غیر منسلکو هیوادونو په جرګه کې ګډون لپاره هاوانا ته ولاړ، هلته یې د پاکستان د جمهور رئیس جنرال ضیاء الحق سره دوه ملاقاتونه وکړل.

د ترہ کی د وخت د اطلاعاتو او کلتور وزیر خ... محمد کتهوازی چې په دغه سفر کې د ترہ کي ملګری ؤ په یوه مصاحبه کې چې په دا وروستیو وختونو کې یې له بی بی سی سره وکړ دوویل: یو ځل ترہ کی د ضیاء الحق قرارګاه ته ورغی او هغه په فوق العاده احترام هرکلی کړ، بل ځل پخپله جنرال ضیاء د ترہ کی مقر ته راغی او په دا دواړو مجلسو کې د افغانستان او پاکستان د اړیکیو په برخه کې د ډاډ وړ نظریات تبادله شول.

ضیاء الحق وویل: که تاسې تبلیغات یو څه نرم کړی او په قبایلو کې خلک زموږ پر ضد تحریک نه کړئ، نو موږ به ستاسې د چریکانو په کنترول کې داسې مرسته درسره وکړو چې بیا به د افغانستان په خاوره کې یو ټک هم ونشي.

هم ترہ کی ومنله او هم ضیاء الحق تعهد وکړ، خو د دې لپاره چې دا خبر مې په ډیپلوماتیکه مجرا کې ځای ونیسي فیصله وشوه چې د پاکستان خارجه وزیر آغاشاهي به کابل ته راځي.

د آغاشاهی د راتګ لپاره هغه مهال چې امین پر قدرت ؤ زمینه برابره شوه، خو د شوروي په توطیه دا ملاقات مؤقتاً معطل شو، ځو د شوروی (کی.جی.بی) د امین د قتل زمینه برابره کړه.

د ترہ کي په وخت کې د دغو اړیکیو د نورمال کېدو لپاره ځینې قدمونه واخیستل شول، خو شوروی په دې راضي نه ؤ چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړیکي نورمال شي او په هره برخه کې به یې تفتین کاوه، ځو یې فضا داسې ناسالمه کړه چې پاکستان د افغانستان د بربادی د اډې په توګه عیار شو.

## ۱۰ – د ترہ کي د قتل ماجرا:

کله چې امین ټول نظامي قدرت په لاس کې ونیو، نو د ترہ کی د نفی کولو په کار یې لاس پورې کړ.

د د د ترہ کی د مزاج له سادګی څخه استفاده وکړه او هغه یې په دې عنوان چې ځان یې وفاداره شاګرد باله اغفال کړ او بیا یې په ترتیب کار پیل کړ.

ده په ډله ایزو اطلاعاتو کې تره کی ستر معلم، د ملت پلار، ګران پیشوا، نابغه، عالم، د شرق ستوري او داسې نورو القابو یاداوه او د هغه په ملیونونو عکسونه یې چاپ کړي وو چې په دفترو، دکانونو، د ګوندیانو پر ځیګرو او د ښار پر څلور لارو او هر دیوال ځوړند وو.

. امین امر کړی ؤ چې هر چا د تره کی له نامه سره ستر او داسې نور کلمات و نه ویل هغه دې بندي شي.

د امین په امر د تره کی تولدی جشن په ډېرو طنطنو ونیول شو په داسې حال کې چې په سلګونو ګوندیان چې ټولو سرمه یې دریشی اغوستې او سرې نیکټایانې یې تړلې وې پیغلو سره ټکرې پر سر کړی وو د ستر پیشوا د کیک پر یکولو ننداره او تماشه وکړه، تره کی هم توره دریشي اغوستې او سره نیکټایي یې تړلې وه د بر لوی کیک په غتیه چاړه پرېکړ بیا یې شمعې ګل کړې، هورا او چکچکې ورته وشوې او دا ننداره د عامو خلکو لپاره په تلویزیون کې کښېښوول شوه.

ددې په عوض چې دا تحلیل د تره کي سره مینه زیاته کړي، خلکو سخت نفرت وکړ، خلکو به ویل چې تره کی وایي زه په یوه پوونده (کوچی) کورنی کې پیدا شوی یم، په کوچی کورنی کې د هلک د زېږیدنې تاریخ څرنګه لیکل کېږي او دا یو دروغ وه.

هر څوک پوهېدل چې دا د امین له خوا د تره کی د شخصیت او حقیقت د ړوبلولو لپاره یوه توطیه وه، خو کـه دقـیق فکر وشي خـبره یو څـه نوره هم ژوره ده. شـوروي مـشـاورینو او د «کی.جی.بی» غړو چې د دولت ټوله دستګاه یې په منګولو کې نیولې وه امین او تره کی یو پر بل بې باوره کړه او بیا یې د ددې دواړو د منځه وړلو پلان ترکار لاندې ونیو چې په دې کې د تره کی پرستیژ ختمولو مسأله هم د دغې توطیې یو جز وه.

د ۱۹۷۹ په اګست کې امین په یوه غونډه کې اعلان وکړ چې تره کي به د غیر منسلکو هیوادونو په کنفرانس کې د ګډون لپاره هاوانا (کیوبا) ته ولاړ شي.

تره کی ته خپلو ملګرو ګلاب زوی، سروری، وطنجار هر یوه په تکرار وویل چې دغه سفر ته ولاړ نشي او کابل یوازې پرې نږدي، خو تره کی جدي تصمیم نیولی ؤ او ولاړ.

غالباً تره کی چې د امین د توطیو څخه په تشویش کې ؤ غوښتل یې په په شوروی کې د برژنیف سره مصلحت وکړي، د بلې خوا امین هم پر دې اسرار کاوه چې کابل خالي ورته پاته شي، د بلې خوا یې خپل دري پټ اطلاع ورکوونکی ډاکټر شادولي، داوډ تړون د تره کی سرپاور او د سروري خوریی عزیز هم د تره کي سره ملګری کړل چې هغه تر څارنې لاندې ونیسي او اطلاعات یې امین ته رامخابره کړی.

تره کی د هاوانا څخه وطن ته د راتګ په لار کې په مسکو کې معطل شو او هلته یې د برژنیف سره خصوصی کتنې وکړې.

غالباً د امین د توطیو په باب به یې هغه ته خبر ورکړی وی او هغه په دې خوښ شو چې پټ پلان بې عملی شوی، لو تره کی یې د ببرک کارمل سره پټ مخامخ کړ او لارښوونه یې ورته وکړه چې امین کوم چیرې د سفیر په توګه ولیږه او کارمل صدراعظم کړه او ځو بې طرفه وزیران ورسره مقرر کړه.

تره کي د دغه پلان سره وطن ته راروان شو، خو دا جریان، چې د امین خلکو شاه ولی او تړون کشف کړی ؤ، ژر یې امین ته اطلاع ورکړه چې د کارمل راتګ تره کي منظور کړ.

دلته په کابل کې سروری د امین د قتل پلان تر کار لاندې ونیو، طرح داسې وه چې په هغه ورځ تره کی د مسکو څخه کابل ته راځي، نو د هرکلي لپاره چې امین هوایي ډګر ته ورځي، باید په کمین کې د سروری د «اګسا» سړي وژونکی منتظر وي او کله چې د امین موټر ورورسیږی دد ې باید فیر پر وکړي، خو د دغه پلان څخه امین خبر شوی ؤ، نو ځکه یې خپل محافظین هم بدل کړل او لار یې هم واړوله او پر بله لار میدان ته راغی.

تره کی ته د سروری او د «کی. جی. بی» ایجنتانو خبر ورکړی ؤ چې میدان ته د رسیدو سره به د امین جنازه ووینی، خو کله چې تره کی له الوتکې راښکته شو، امین یې ولید د یو بل حالت سره مخامخ شو او د امین څخه یې پوښتنه وکړه تاسو هم دلته یاست؟ هغه معنا داره ځواب ورکړ، هو، ملګری تره کی زه هم دلته یم. تره کی وویل: مطلب مې داؤ چې د ملګرو صحت ښه دی، امین داډ ورکړ. تره کی بیا پوښتنه ځینې وکړه، آیا ټوله په خپلو پوستو او وظیفو کې دي؟ امین ورته وویل: هو، ملګری تره کی ډاډ داوسه ټول پر ځای دي.

دا خبرې ګلاب زوی د «تجاوز» و کتاب لیکوال ته کړی دی وروسته ټول ښار ته راروان شول او تره کی هم ارګ ته چې په دې وخت کې د خلکو د کور نوم پر ایښوول شوی ؤ ولاړ او یو مختصر خصوصی ملاقات امین ورسره وکړ.

په کابل کې د شوروی سفیر پوزانف وایی ما د وضع د خرابوالی څخه مسکو ته خبر ورکړ، د شوروی وزیر داخله کورنینکو په شفر کې راته وویل چې د کرملین نظر تره کی ته ورسوه چې د مملکت اوضاع به ډیره خرابه شي، ما تره کی ته اطلاع ورکړه په دغه وخت کې امین هم پیدا شو، تره کی وویل نه وضع د ډیر تشویش وړ نه دده، امین وویل زه که مړ هم شم د تره کی تر نامه لاندې به مرم.

پوزانف وایی کله چې سفارت ته ورسیدم یو لیموزین موټر مې ولید خبر راکول شو چې د څلور وزیران (وطنجار، سروری، ګلاب زوی او مزدوریار) راغلی دی وایی چې زموږ ژوند له خطر سره مخامخ دی، زه تره کی ته ورغلم هغه امین راوغوښت، امین یوه ورځ تر مخه تره کی ته ویلی وه چې هر وخت ګلاب زوی او سروری هلته ناست وی، زه نه درځم، خو په دې ورځ یې وویل چې درځم. زه

(پوزانف) تره کی او زما ملگری ناست ؤ چې ناڅاپه مو فیرونه واوریدل چې تر کړکی مو وکتل امین موټر ته ځغستل د تره کی یاوران راغلل هغه ته یې په پښتو وویل چې ترون ووژل شو. وایي سروری د تره کی محافظینو ته امر کړی ؤ چې هر څوک تره کی ته د ورتګ تلاش وکړی تاسې یې ووژنئ. په دغه وخت کې امین راغلی او تر هغه د مخه ترون او یو بل باډی گارد راپورته شول چې د زینو سر ته راغلل فیرونه وشول، ترون ووژل شو او امین په چټکی له ارگه ووت او یو آن وروسته یې ارگ محاصره کړ او د شپې یې د گوندی پلیتوم غونډه دایره کړه تره کی یې له گوندي او دولتي مقاماتو څخه برطرف کړ او امین پخپله د گوندی لومړي منشي او د انقلابی شورا رئیس شو.

څو شپې وروسته د اکتوبر په مباشت کې د امین په امر اعلان له راډیو خپور شو چې ویل یې تره کی د هغې ناروغي په وجه چې وریپښه وه د مړ شو. (ناروغی یې هم د یابت وبلله).

خو کله چې امین له منځه ولاړ او کارمل قدرت واخیست، نو د تره کی د قتل موضوع یې تر تحقیق لاندې ونیوله. په نتیجه کې یې وویل چې یعقوب لوی درستیز، جان داد د گارډ قوماندان، روزی د گارد سیاسی معاون او یو افسر عبدالودود د تره کي پر خوله بالښت ورکیښود او په دې توگه یې قتل کړ. خو ځینې نور وایي چې نه په هغه ورځ چې پر امین په ارگ کې سوء قصد کیده او داؤد ترون ووژل شو، نو چې په دهلیز کې فیرونه وشول تره کی له خپلې کوټې راووت په همدغه وخت کې پر اوږه او نس کې وویشتل شو، پوزانف (سفیر) سمدستي موټر کې هوایي ډگر ته ورساود او د شوروی په یوه الوتکه کې مسکو ته یووړل شو، نور نو معلومه نشوه چې هلته مړ شو که پر لارې او مړی یې چیرې خاورو ته وسپارل شو، خو د تره کی د پر ماجرا ژوند غمجنه پرده ورټوله شوه.

## ۱۱- تره کی څوک ؤ؟

د نورمحمد تره کی د پلار نوم نظرمحمد ؤ، د تره کی څخه شخصاً ما (د ذکر شویو کرښو لیکوال) اوریدلی چې ده وویل: زه د پونده (کوچی) او کلیوال (روستایي) یو پیوند یم.

دی د غزني ولایت د مقر ولسوالی په ناوه کې د سرد کلي په یوه کوچی کور کې زیږیدلی ؤ.

څرنگه چې پلار یې د کندهار د وړیو له سوداگرانو سره آشنا ؤ او هغو ته به یې د پونده و څخه وړی وراخیستې، نو په کندهار ښار کې یې د توخیانو سره شناخت پیدا شو.

یو ځل چې نورمحمد داسې غټ شوی او دوه ټولگی مکتب ویلی ؤ د پلار سره کندهار ته راغی، هلته د کندهار یو مخور غلجی موسی خان ولید او دده پلار ته یې وویل چې زه به یې درته وروځم.

د تره کی یوه خور هم په کوټیه کې واده شوی ؤ څو وخته یې هلته هم ښوونځی ته راتگ کړی ؤ،

خو موسی خان د پښتون شرکت رئیس بمبئی ته ولیږه چې هلته یې د شرکت نمایندګي وه، تره کی هلته په کورسونو کې انګریزي او اردو زده کړه او کله چې افغانستان ته راغی، نو یو بل لوی پانګه وال دده قومي وزیر عبدالمجید خان په وزارت تجارت کې په یوه نشراتي مجله کې مقرر کړ.

تره کی چالاکه سړی ؤ او د عبدالمجید خان زابلي په وسیله یې د وخت د حکومت اعتماد هم حاصل کړ. په دغو وختو کې د ویښ زلمیانو گوند جوړ شوی ؤ، ده هلته ګډون وکړ او بیا په گوند کې د چپه لاس لارښود شو، خو محافظه کارو غړو به په ښه نظر نه لید.

تره کی یو لیکوال ؤ د هغه اثر «د بنګ مسافری» خپور شو، خو شوریانو هغه په روسي ترجمه کړ او د دغه اثر جایزه سفارت تره کی ته ورکړه چې دا دده سره د کمونستانو د لومړنی اړیکو مقدمه وه.

تره کی د مطبوعاتو په مستقل ریاست کې د آژانس مدیر مقرر رشو او دا هغه وخت دی چې په کابل کې د تاس آژانس نمایندګی هم تأسیس کیږي او تره کی اړیکی ورسره ونیول، حکومت تره کی په واشنګټن کې د مطبوعاتي اتشه په حیث مقرر کړ، هلته یې ځینې لیکنې خپرېدې چې سردار محمد نعیم سفیر دې ته لارښوونه وکړه چې ژر افغانستان ته ولاړ شي. تره کی کابل ته راغی، دلته یې یوه ترجمه خانه راوایستله (نوردارالترجمه) په همدغه وختونو ۱۹٦۵ کې یې د خلق دموکراتیک گوند بنسټ د ببرک کارمل سره کینود، دی په گوند په انشعابی جګړه بوخت ؤ چې په ۱۹۵۷ کې په گوند کې اتحاد راغی او تره کی د عمومي منشي په توګه وټاکل شو.

د ۱۹۷۸ په اپریل کې د داؤد خان د جمهوریت ترچپه کیدو وروسته تره کی بیا د گوند عمومي منشي د انقلابی شورا رئیس او صدراعظم شو او په پای کې په داسې وضع، چې انتظار یې نه درلود، د حفیظ الله امین له خوا په قتل ورسید.

## ۱۲ - د حفیظ الله امین درې میاشتنی حاکمیت:

د ۱۹۷۹ کال د سپتمبر په ۱۷ کله چې نورمحمد تره کی د امین له خوا برطرف او بیا د ۱۹ پلینوم په غونډه کې د ګوندي او دولتي مقامونو څخه د هغه عزل تصویب شو، په همدغه وخت او همدغه پلینوم کې حفیظ الله امین د گوند د عمومي منشي، انقلابی شورا د رئیس او صدراعظم په حیث ومنل شو، په دې توګه د امین درې میاشتنې حاکمیت پیل شو.

د امین لومړی کار دا ؤ چې د اکتوبر په ۹ یې د تره کي مرګ اعلان کړ، په داسې حال کې چې تره کی یې د خپل حاکمیت د پیل سره وژلی ؤ، خو د تره کی له مرګ سره د تره کی د ملګرو امید وخوت او امین د تره کی ډیر علاقمندان زندان ته وغورځول او ډیر یې په خورا فجیعانه توګه ووژل.

دده د کار په پيل کې د شوروي اتحاد له خوا په کابل کې د هغه هيواد د سفير پوزانف په وسيله د مبارکۍ مراتب ورسيدل، خو امين د هغه سفارت غړی ابلوف (چې واقعاً د ډېرو فسادونو مرجع ؤ) له کابله ويوست. سفير په يوه ملاقات کې پر امين انتقاد وکړ چې د ډيپلوماتيک مقررات نقضوي، امين چې پر هغه سخت په قهر ؤ، سفير يې په څپېړه وواهه او شوروی ته يې خبر ورکړ چې پوزانف ور وغواړئ او عوضي يې راواستوي.

شوروی هم پوزانف چې ډېر مډالونه يې اخيستي وو، ورو غوښت او په عوض کې يې «فکرت احمد جانوويچ تابيوف» راواستاوه چې د هغه پر لاس د امين د مرګ طرح تر کار لاندې راغله.

امين پرچميان نور هم ونيول او ډېر يې په زندان کې ووژل خو تر هغو يې د تره کی له ملګرو سره ډېره خشنه رويه کوله او ډېر يې قتل کړل. دده په څلورو وزيرانو (وطنجار، مزدوريار، ګلاب زوی او سروری) پسې ډېر تلاش وکړ خو هغوی د شوروی سفارت له خوا په تابوتونو کې لومړی بلغاريې او بيا له هغه ځايه مسکو ته وليږل چې بيا د ببرک کارمل سره راغلل.

امين د شوروی سره هم په خشونت برخورد کاوه لکه چې يو ځل د ګاز پر قيمت يې د شوروی له هيأت سره خبرې دې حد ته ورسيدی چې هغو ته يې وويل کوم قيمت چې مونږ ټاکلی او د بين المللي مقررې سره برابر دی که يې منئ ښه او که نه بيخي دا قرارداد لغو، افغانستان به پر خرو خپل انتقالات وکړي او د ګاز له ګټې به تېر شي. دده که څه هم شوروي ته وروستهٔ ډېره ښه وده راوړه، خو شوروی هم باور نه په کاوه او دی هم پوهيدی چې شوروی يې د سقوط پلان جوړوي، نو دا سبب ؤ چې پاکستان او امريکا ته يې مراجعات شروع کړل، ولې شرايط داسې راغلي وه چې نن د ښامار له خولې څخه د امين نجات سخت مشکل شوی ؤ او نو ځکه آينده انکشافات ډېر ورته ترخه شول.

## ۱۳- د امين شخصيت او سابقه:

حفيظ الله امين د حبيب الله خان خروټي زوی او اصلاً د پغمان او سېدونکی ؤ. دده خپل لومړني تحصيلات په پغمان کې وکړل او ليسانس يې د ساينس له پوهنځی څخه واخيست او بيا د ابن سينا په ليسه کې ښوونکی او وروسته د هغې ليسې مدير شو. له همدغه ځايه امريکا ته ولاړ او هلته يې په تعليم و تربيه کې (ايم،اې) ډګري واخيستله. دده کوښښ وکړ چې (پی،ايچ،ډی) يعنې ډاکتری هم هلته واخلي، خو بريالی نشو او په دغه موده کې د محصلينو د اتحاديې رئيس ؤ.

کله چې نوموړی هلته د افغاني محصلينو د اتحاديې رئيس شو، نو هلته يې سياسي فعاليت پيل کړ، او بيا چې کابل ته راغی په ګوند کې يې د غړيتوب غوښتنه وکړه خو امتياز ورنه کول شو. هم هغه ازمايښتي دوره يې تيره کړه او د ګوند غړی شو.

نورمحمد تره کی د امین خواته پاملرنه ساتله، خو د هغه په مرسته یې لوړو ګوندی مقامونو ته خیز وواهه.

دی په ګوند کې د ببرک کارمل سره په ډیره سیالي کې ؤ او هغه یې د پرمختګ مخه نیوله او دې یې په فاشیستي تمایلاتو متهماوه، خو په دې شک نه ؤ چې امین ناسیونالیستی تمایلات درلودل.

په ۱۹۷۷ کې چې د خلق او پرچم تر منځ تر انشعاب وروسته وحدت وشو، نو په نوي تشکیل کې تره کی امین سیاسی بیرو ته کاندید کړ خو ببرک سخت مخالفت وکړ او دده مخه یې ونیول. امین پر کارمل سخت عصبی ؤ او هیڅکله ورسره دوست نه شو. هغه مهال چې امین په ولسی جرګه کې د پغمان وکیل او کارمل د کابل وکیل ؤ دواړو سختی ډغرې سره وهلې.

امین یو جسور او محیل سړی ؤ، ډیر چالاکه او پر ځان مین ؤ او دومره د قدرت تږی او لیوال ؤ چې حتی خپل حامی او ملګری نورمحمد تره کی یې قربانی کړ او د هغه پر ځکره د قدرت چوکی ته پورته شو.

دی د ډیپلوماسۍ په چل او چم پوهیدی خو دومره به کله تر احساساتو لاندې راغی چې هر څه به یې هیرول، دی په کابل کې د روسیې سفیر پوزانف په څپیړ دوواهه چې دا د ټولو ډیپلوماتیکو نورمونو څخه خلاف یو حرکت ؤ. امین د شوروی ضد شخصیت ؤ خو په ځرګنده یې تر هر چا د شوروی د دوستۍ ډیره کلکه پرځیګړ ټکوله خو «کی.جی.بی» پوهیده چې امین په بنیه یو دبله لار تعقیبیوي. دده پاکستان او امریکا سره پټې اړیکې قایمې کړې، خو هغه سرته و نه رسیدې چې شوروی دی له منځه یوړ. دده زیات خلک مخصوصاً خپل رقیبان او مخالفین ووژل او په وروسته کې یوازې پاته شو او کله چې تجرید شو، نو شوروی خپل پروګرام پر تطبیق کړ.

## ۱٤ - مصئونیت، قانونیت او عدالت:

دا به قدرت کې د په لاس اخیستلو څخه وروسته د امین شعار ؤ، خو په عامو پرګنو کې چا اعتبار نه په کاوه.

خلکو به ویل چې تر کله د شوروی حاکمیت پای ته نه وی رسیدلی مصئونیت، قانونیت او عدالت نشی تامینیدای او امین پخپله د یو ناکامه ګوډاګی په توګه رول لوبوی. شوروی مشاورین په اردو او ملکی دوایرو کې سخت په تلاش کې وو چې د امین پلانونه ورناکامه کړی.

امین د تره کی د وخت اګسا (د افغانستان د ګټو ساتونکی اداره) د کام (د کارګري اطلاعاتو مؤسسې) په نامه فعاله کړه او هغې ته یې لارښوونه وکړه چې د شوروي مشاورینو مراقبت وکړی، د دغې مؤسسې په ریاست کې خپل پخوانی مخلص د سروري خوربي عزیز ته چې د تره کی مراقبت

بې کاوه مقرر کړ، خو ژر یې هغه ایسته کړ او خپل ورارد او زوم اسدالله امین یې د هغه پر ځای مقرر کړ.

دا یو عیاش ځوان ؤ چې زیاتره به په فحاشی مصروف ؤ او د شوروي اطلاعاتي اداره (کی.جي. بي) هغه نور هم اغفالاوه او ډیر وخت یې د شوروی په سفرو کې تیریدی.

امین د مصئونیت، قانونیت او عدالت د رښتیاني تطبیق لپاره د یوه ډموکراتیک قانون د تدوین هدایت صادر کړ، د دغه قانون د تسوید لپاره خپل معتمدین او ډیر غیر گوندي شخصیتونه ور دعوت کړل او په دې توگه یې د غیر گوندیانو علاقه هم ځانته جلب کړه.

د قانون د تسوید کمیټې غونډې د باندنیو چارو د وزارت د ستوري په ماڼۍ کې چالانه وې او د غرمې له خوا یې د کمیټې غړو ته ډیر مکلفه ډوډۍ ورکوله.

امین د تیرو جنایاتو او قتلونو پرده پر ترهکي واچوله او د داخله وزارت پر دیوالو یې د زرگونو خلکو د نومونو لستونه وځړول چې د خپلوانو څخه ورک وو او هغوی وژل شوي وو. د خلکو غریو ډومره اوچت شو چې امین وبېریدی او ژر یې هغه لستونه ورټول کړل.

دد د مبلغینو هره شپه له راډیو څخه تبلیغ کاوه چې نور نو د ظلم او تیري دوران تیر شوی دی او ټول به آرام او هوسا ژوند ولري، خو په همدغه شپه به بیا هم په پټه خلک له کورو ایستل کیدل او شکنجه ځایو ته به بیول کیدل. خلک سخت بیریدل او په دې هم پوهیدل چې دا قتلونه د ترهکي په وخت کې همدغه امین د شوروي مشاورینو په لارښوونه کړي دي.

امین په تظاهر د قانوني کړنو پلوی ؤ، خو ده پخپله او اداري واکمنانو یې په وحشت او خشونت د خلکو سره برخورد کاوه. د مصئونیت، قانونیت او عدالت افسانه د امین د مرگ سره پای ته ورسیده.

## ۱۵ – امین د یوې انارشیستي اداري بنسټ اېښونکی:

امین چې د ترهکي په قتل هم په گوند هم په دولت هم په د باندې کې بې باوري او قهر جلب کړی ؤ پر یوه غلطه لار روان شو. دد فکر کاوه چې خپل مخالفین یو مخیزه له منځه یوسي او شوروي چې د خلقي نظام مطلق حکمفرما ؤ د انجام شده عمل سره مخامخ کړي چې د مجبوریت دې تائید کړي.

خو په دې محاسبه کې خطا ووت، ځکه دده ټوله دستگاه د شوروي د «کی.جی.بی» په لاس کې وه او هغو دی په لاشعوري د خپل مرگ و گودال ته ور روان کړی ؤ.

دد په اردو کې ډگروال یعقوب لوی درستیز کړ او د اردو ټوله چارې یې وروسپارلی، د استخباراتو اطلاعاتي اداره (کام) یې خپل زوم او وراره اسد الله امین ته حواله کړه، خارجه وزارت یې ډاکتر شاه ولي ته ورکړ چې په وفادارانه اطلاعاتو یې د ترهکی سر دده تر گونډه لاندې گړ.

امین د هیواد د شمال او اداره خپل وروړ عبدالله امین ته وسپارله چې په بې رحمی او تیری کې تر ده په کمه نه ؤ او هغه هلته داسې کارونه وکړل چې ولسونه یې یو پر بل تحریک کړل، امین په چټکۍ سره ډاکتر شاه ولي امریکا ته ولیږه چې د هغوی نظر جلب کړي، ډاکتر شاه ولي په نیویارک کې د امریکایي مقاماتو سره خبرې وکړې او هغو د مرستې ډاډ ورکړ او یو هیأت بې وټاکه چې کابل ته راشي، خو کله چې هیأت راروانیده د امین بیړۍ غرقه شوه.

امین خبر شو چې شوروي غواړي د افغانستان د مسألې د حل لپاره بې طرفه حکومت منځ ته راولي او نور احمد اعتمادي چې په زندان کې ؤ راویاسي او صدراعظم یې کړي، البته قدرت به د حزب په لاس کې وي.

امین چې په دې خبر شو، ددې لپاره چې د شوروي پلان ور وران کړي، اعتمادي یې له زندانه رایوست او په پلیگون کې یې اعدام کړ.

امین په دې پوهیده چې شوروي به حتماً دی له منځه یوسي او پر ځای به یې کارمل راولي، تو سخت عصبي ؤ او پر له پسې یې پر هر چا چې به یو د کوچنی اشتباه وشوه هغه یې واژه.

امین پاکستان ته هم مراجعه وکړه او هغو خارجه وزیر آغاشاهي ته وظیفه ورکړه چې کابل ته راشي.

داسې آوازې هم خبرې شوې او حتی د امین تر مرگ وروسته د کارمل په وخت کې گلاب زوی په یوه مرکه کې وویل چې امین دا هم منلی وه چې د اخوانیانو سره روغه وکړي او گلبدین حکمتیار د صدراعظم په توگه قبول کړي.

په کابل کې پرله پسې د امین پر ضد شبنامې خپریدې او ځینو باوري مقاماتو تائید کړې ده چې د شوروي د سفارت له خوا زیاتې شبنامې خپریدې.

د امین په اخیره کې اداره پخپله فلج وه او ټول خلک بیریدل چې په کومه توطیه کې راگیر نشي دا انارشیزم ورځ تر بلې پراخیدی.

## ۱٦- کابل ته د آغاشاهي د سفر معطلولو توطیه:

د پاکستان سره د حفیظ الله امین د پټو اړیکیو څخه د شوروي د پټو اطلاعاتو اداره (کې.جي.بي) خبره وه چې امین غواړي د دسمبر په ۲۵ د پاکستان د خارجه وزیر آغاشاهي د سفر په وخت کې د هغه سره یو داسې تړون هم لاسلیک کړي چې که کوم خارجي هیواد له دغو دوو هیوادو څخه پر یوه یرغل وکړي دا بل به یې هر ډول مرستې ته دریږي. شوروي د سخت تشویش سره مخامخ ؤ، څو د دسمبر په ۲۳ په کابل کې د شوروي سفیر احمد جانوبچ تابیوف د امین سره

ملاقات وکړ او هغه ته یې د بریژنیف پیغام ورکړ چې په هغه کې ویل شوي وو چې شوروي غواړي د افغانستان او پاکستان په ارتباط د شوروي د نظر ټکي ژر د رولیږي چې تاسې یې د آغاشاهي سره په مذاکره کې تر بحث لاندې ونیسئ، نو ایجاب کوي چې د آغاشاهي سره دا ملاقات د دسمبر له ۲۵ څخه د دسمبر ۳۰ ته معطل کړئ.

امین په همدغه ورځ دا یاداښت د سیاسي بیرو په غونډه کې بحث ته واچاوه او هلته جالب ډیالوگ پر جوړ شو چې ډېر تاریخي ارزښت لري. په غونډه کې د یاداښت تر لوستلو وروسته ډاکتر صالح محمد زیري وویل: څه فرق کوي پاکستان ته به خبر ورکړو چې آغاشاهي په ۲۹ تاریخ راشي و یه گورو چې ملګري برژنیف څه یادداښتونه رالیږي. پر دې مسأله د جلسې ځینو غړو د تائید نظر ورکړ خو خارجه وزیر ډاکتر شاه ولي پټه خوله وْ. امین پر هغه ږغ وکړ:

- رفیق ډاکتر شاه ولي چه نظر دارید ؟

ډاکتر شاه ولي وویل:

- جناب امین صاحب در فکر هستم، به نظر من هردو جهت مسأله خیلی مغلق و بغرنج است.

په دې وخت کې بیا زیري وویل:

- ښه خبره دا ده چې ملګري د برژنیف یادداشت ته انتظار وایستل شي.

شاه ولي وویل:

- خوب است، ولی من تشویش دارم.

زیري بیا تکرار کړه:

- دا د څه تشویش خبره ده، یو درې ورځې معطلي د رنه خبره نه ده.

شاه ولي سر وښوراوه او وې ویل:

- محترم زیري صاحب! مسأله ء لحظه ها است، شرایط زمانی و مکانی ما را به تشویش مواجه می سازد.

زیري بیا تکرار کړه:

- ناحقه په تشویش کې یې، یو درې ورځې معطلي دونه شی نه ده.

شاه ولي ځواب ورکړ:

- شهر روم در یک شب به خاکستر تبدیل شد.

په دې وخت کې امین خپل مخ ته پر کتابچه دا یاداښت ولیکئ:

به وزارت محترم خارجه کشور دوست جمهوری اسلامی پاکستان!

به خاطر جمع آوری بعضی اسناد برای بحث اگر جلالتمآب آغاشاهی وزیر خارجه بتاریخ ۲۹

یا ۳۰ دسامبر به کابل تشریف آورد ممنون خواهیم بود ، با احترامات فایقه.

امین یادداښت یو ځل قرائت کړ ، بیا یې شاه ولی وزیر خارجه ته ورکړ چې اسلام آباد ته یې مخابره کړي.

دغه معطلي د شوروي له خوا ددې لپاره وه چې د دسامبر په ۲۷ امین له منځه یوسي او دا یوه برېښنده توطیه وه.

## ۱۷- امین څرنګه ووژل شو ؟

پاکستان او امریکا ته د امین پټې مراجعې او د لویدیځ د سیاسي خلکو سره کتنو ، شوروي په دې قانع کړ چې ډېر ژر امین له منځه یوسي ، نو دده د وژلو پلان یې درو کسو ته حواله کړ.

په دې درو کسو کې یو جنرال ویکتورپاپوتین د شوروي د خارجه وزارت مرستیال او د کی.جی. بی غړی، دوهم فکرت احمد جانوویچ تابیوف په کابل کې د شوروي لوی سفیر ؤ چې د شوروي د دفاع وزارت د لومړی مرستیال مارشال سکولوف په مشرۍ ټاکلی طرح وکړي او عملي یې کړي.

ددوی په طرح کې د امین او د هغه د ملګرو د وژلو لپاره زهر په نظر کې نیول شوي وو چې په آرامه مړه شي او بیا شوروي قواوې بېرک کارمل کابل ته راولي، خو نقشه هلته د مشکل سره مخامخ شوه چې شوروی آشپزي دیګ ته لږ زهر اچولي وو چې امین یې نیم کشه کړ او د هغه د راپور ته کیدو سره لوی غول ماغول جوړ شو.

ماجرا داسې پیل شوه:

امین یو تجمل پرسته سړی ؤ او دا یې خوښه وه چې دده هر شی د نورو تر هر شي ښه وي، په دې توګه یې نو د ټولو مشروع او نامشروع مصروفیتونو سره په دارالامان کې پر تاج بیګ غونډۍ یې د امان الله خان کور ډېر ښه ترمیم او رنګ کړ. دا کور د امان الله خان د دارالامان د قصر په همجواری کې جوړ کړی ؤ چې ده غوښتل دا پر تاج بیګ غونډۍ په کور کې به اوسي او دربار به یې د دارالامان په قصر کې دایرېږي.

امین دا کار په شدت شروع کړ او اصلاً دی شورویانو دغه کار ته تشویق کړ ، ځکه هغو چې دده د وژلو پلان جوړ کړی ؤ ، نو هغه له ښاره د باندې ډېر ښه تطبیق کیدای شو.

د ۱۹۷۹ د دسامبر په دوهمه نیمایي کې شوروی په الوتکو کې یو شمیر قوتونه په بګرام او د کابل په هوایي ډګر کې ښکته کړل او وسلې یې هم راورسولې او دی ته یې داسې رنګ ورکړ چې د دباندې له خوا د یو ناڅاپي تعرض مخه په نیسي.

د کابل خلکو چې د شپې او ورځې د آسمان پر مخ الوتکې لیدلې، نو په واهمه کې وو او نه پوهېدل چې څه کېږي.

د دسمبر په ۲۷ ورځ امین د تاج بېګ د غونډۍ په نوې کور کې یوه مجلله مېلمستیا جوړه کړه چې هغې ته یې ګوندي او دولتي همکاران د مېرمنو سره ور بللي وو.

امین د ډوډۍ پر مېز ډېرې خوشحالۍ او ټوکې ټکالې کولې، دستګیر پنجشېري چې تازه له مسکو څخه راغلی ؤ، ده ته وویل: شورویان ستا په راتګ خوشحاله دي او غواړي ډېرې نظامي مرستې وکړي چې د دښمنانو سترګې ړندې کړي. امین په ځواب کې وویل: ما پخوا هم ویلي وو چې شورویان داسې دوستان دي چې په بده ورځ کې به مو ر یوازې نه پرېږدي. (۱)

په دې وخت کې د ډوډۍ پر مېز سرویس پیل شو او یوه روسي آشپزه راغله او د خپل «سوپ، ښوروا» تعریف یې وکړ، امین د ډوډۍ د سرویس کوونکي له دېش څخه دوې غټې کاچوغې شوروا په خپله کاسه کې واچوله نورو هم لږ و ډېر واخیستله، خو دستګیر پنجشېري ښځې ونه خوړله.

د ډوډۍ پر مېز یوه ناڅاپي خاموشي شوه او په دې پسې یو ونیم له چوکیو راولوېدل، د امین وضعیت خراب شو او خانه سامانانو خپلې کوټې ته ورساوه او کالي یې ورڅخه وکښل بخې او به یې پر توی کړې.

په دې وخت کې یو شوروي ډاکټر چې همېشه امین ته راتې پیدا شو او هغه یو څه دوا ورکړه او سیروم یې ور ته وتړی، امین چې یو څه پر حال راغی ژر دهلېز ته راغی چې ټیلفون یې پورته کړ هغه ځواب نه وایه، ګوشکه یې پر ټیلفون وویشتله او خپلې ښځې ته وویل زما کلاشینکوف راکړه، هغې ورته وویل څه په کوی؟ امین وویل روسان وژنم.

په همدغه وخت کې پر قصر د شوروي قوا و حمله وشوه او د ټانک یوې مرمۍ د قصر کنګرې والوزولې او هینداري ماتې شوې، په هغه پسې شوروي عسکر داخل شول هغه دهلېز ته چې امین پکښې ولاړ و لاسي بمب یې راوغورځوی او امین په همدغه ګړۍ کې مړ شو، هغه روسي ډاکټر او د ډاکټر شاه ولي ښځه هم ووژل شول.

څو دقیقې وروسته یو روسي راغی چې څو مسلح کسانو تعقیباوه، دې سړي امین ستونی ستخ کړ او څو عکسه یې ورڅخه واخیستل بیا یې په تفنګچه د امین پر سر او ځیګر څو فیره وکړه.

وایي دا هم هغه جنرال پاپوتین ؤ، خو څرنګه چې د افغاني عسکرو لباس یې په ځان کې ؤ چې د قصر د باندې وروو ت شوروي عسکرو فکر وکړ چې افغان دی، څو فیره یې پر وکړه او مړ یې کړ.

د باندې د امین د ګارډ دوه زره په لاس راټول شوي ځوانان ولاړ وو پر هغو د شوروي ټانکونو او عسکرو حمله وکړه او ټول یې قتل کړل.

---

(۱) نبي عظیمي، اردو و سیاست در سه دهه اخیر افغانستان ص ۲۳۲.

هغه میلمانه چې د امین کره راټول شوي وو، دا شپه په قصر کې بندیان وو سبا یې د څرخي پله زندان ته یو تلل.

امین ختم شو، په همدغه شپه تر ۱۲ بجو وروسته ببرک کارمل د تاشکند څخه د کابل راډیو پر فریکونسي د امین صحرایي محاکمه او اعدام او د ځان مقرري اعلان کړه.

سبا ته خلک نه پوهیدل چې څه شوي دي، خو هرې خوا ته یې شوروي قواوې لیدې چې د ښار امنیت ساتي، راډیو عادي خپرونې کولې، نور هم کومه فوق العاده گي نه محسوسیده.

## ۱۸- پر افغانستان د شوروي د سره پوځ یرغل:

پر افغانستان د سره پوځ یرغل دوه مرده رنه حادثه وه چې افغانستان او نړۍ یې له یوه سره تر بل پورې په حرکت راوستله او شوروي د یوه ابرقدرت په توگه د مقابل ابرقدرت امریکا له خوا داسې یوې ضربې سره مخامخ شو چې په پای کې یې امپراطوري دړې وړې شوه.

د ۱۸۷۹ له فبروري څخه چې په ایران کې د باچا رژیم له منځه ولاړ او پر ځای یې د آیت الله خمیني په مشرۍ د مذهبي ډلې (اخندانو) دولت منځته راغی، شوروي ته په سیاسي سطح کې ویره او هیله (بیم و امید) په یوه وخت کې پیدا شو. څرنگه چې شوروي مذهبي عناصر د کمونیزم ضد بلل نو وویریدل چې دا آخندان د شوروي پر ضد تحریک نه شي. هیله یې په دې پیدا شوه چې هلته کمونیستي عناصر (توده یان) په قوت کې وو او کیدای شوای چې شوروي یې په خپله گټه عبار کړي، د غه کار هغه وخت ښه کیدای شوای چې شوروي ایران ته نژدې یوه اډه (پایگاه) درلودای.

له همدغه ځایه یې افغانستان په نظر کې ونیو چې کاملاً یې تر خپل نفوذ لاندې راولي، د تره کي د حاکمیت لا شپږ میاشتې نه وې پوره شوې چې په لیږې او نژدې کې چریکي جنگونه پیل شول او شوروي هیأتونه چې د افغانستان د اردو په باب یې مطالعات کول وې لیکل چې د افغانستان اردو محدوده، د تعلیم او تربیې په لحاظ وروسته پاته، د سلاح د تخنیک سره نابلده او د یوې اردو حکم پر کیدای نشوای. نو ځکه شوروي باید د یوې نوې اردو جوړښت ته پاملرنه وکړي، خو د زمان عنصر هم په نظر کې ونیسي، دوی په همدغه کار اخته وه چې په ایران کې د امریکا کوماندوگان ونیول شول او شوروي ته تشویش پیدا شو چې امریکا پر ایران نظامي یرغل کوي، نو سمدستي د افغانستان د نظامي اشغال پر سناریو یوځل بیا د مطالعې لپاره چټکي وکړه.

د ۱۹۷۹ په اگست کې د شوروي په سیاسي بیرو کې چې گرومیکو خارجه وزیر، اندروپوف د کې .جي . بي رئیس، مارشال اوستینوف د دفاع وزیر، ستر جنرال اگارکوف لوی درستیز، کرنیئکوف د خارجه وزارت معین او تورن جنرال ایوانوف گډون درلود. په دې غونډه کې یې د

افغانستان د نظامي او سیاسي وضع په باب خبرې کولې او تورن جنرال کریلوف دوی ته توضیحات ورکول چې د ۱۹۷۵ څخه تر ۱۹۷۹ پورې په افغانستان کې سرمشاور ؤ.

په دې پسې د افغانستان یو بل سرمشاور تورن جنرال ایوانوف توضیحات ورکړل چې د مجلس پاملرنه یې جلب کړه.

د دسمبر له اول څخه د دغې مباشتې تر ۲٤ پورې پر له پسې د شوروي د دفاع د وزیر ارشال استینوف او مربوط جنرالانو غونډې روانې وې د دسمبر په ۲٤ د دفاع د وزارت د رهبرۍ سره مارشال استینوف غونډه وکړه او هغو ته یې د ګوندي او دولتي رهبرۍ تصمیم اعلان کړ چې افغانستان ته نظامي قطعات لیږل کیږي، وروسته یې تصمیم ورته اعلان کړ چې دا قواوې باید د دسمبر په ۲۵ له آمو څخه افغانستان ته تیرې شي.

تر دې پخوا د دسمبر په ۱۳ د ترکستان د نظامي حوزې د ګروپونو عمومي قوماندان جنرال ماکسیموف خپل مرستیال تورن جنرال توخارینوف ته د قوتوونو د اعزام امر ورکړ او پخپله په الوتکه کې ترمز ته ولاړ چې هلته څلویښتمې اردو د تیارسي مرکز تاکل شوی ؤ او داسې نظامي ټاکنې وشوې: توخارینوف قوماندان، برید جنرال وتکاپوف سیاسي آمر، برید جنرال لوبانوف رئیس ارکان، برید جنرال کرچاکین د کشف آمر وټاکل شول. دا اردو چې تازه سفربري شوه وه د یو سل تیوتپي جزوتامو څخه عبارت وه. دا اردو څلور موتوریزه فرقې وه چې د هجومي دیسانت لوا، د توپچي لوا، د راکت او دافع هوا لوا، د مخابرې او انجنیري قطعات او لوژستیکي او تامیناتي جزوتامونه یې درلودل. د دې څخه علاوه مختلف هوایي قوتونه، ترانسپورتي او محاربوي قوتونه ځای شوي وو. او د دې ټولو په رأس کې مارشال سکولوف مقرر شو.

د دې اردو د اکمال لپاره لس زره افسران، سربازان او خوردضابطان د احتیاط څخه جلب شوي وو. د دسامبر په میاشت کې دوې موتوریزه فرقې د ترمز او کشک له لارې او یو د هجومي دیسانت فرقه د هوا له لارې پر کابل راپورته شوه. د دغو قوتونو شمیر په ۱۹۷۹ کې تر اتیا زرو پورې رسیده چې وروسته تر یو سل و پنځلس زره پورې لوړ شو.[۱] د کابل، بګرام او شینډنډ هوایي ډګرونه د غو قواو په لاس کې واخیستل او د شمال او لویدیځ څخه لګه میریان راوبهیدل، د افغانستان خلکو په غمجنو سترګو ورته کتل او د دې سره سم د هیواد له ښارونو او اطرافو څخه د مهاجرو بهیرونه مخ پر پاکستان او ایران ور روان شول.

له دوی سره هم هغه پخوانی آشنا څیره جنرال پاپوتین د خارجه وزارت معین او د کی.جی.بی غټ غړی او د امین قاتل هم راروان ؤ او بلې خواته دغې تیرې کوونکې اردو ببرک کارمل هم ورسره

(۱) نبی عظیمی، اردو و سیاست در سه دهه اخیر افغانستان، ص ۲۱۹.

راروان کړي ؤ چې دلته خلکو د ثاني شاه شجاع نوم پر کښېښود. (شاه شجاع هم د انګریز لښکرو د سیاسي شخصیت میکناټن سره کابل ته راوستلی ؤ).

د کابل خلکو چې د بې سابقې یخ او واورې سره مخامخ وو بیا د باندې راوتل او یو د بله به یې سره ویل، د روسانو لښکر راغی او زموږ وطن یې ونیو.

دغو لښکرو په کابل ټول حساس او ستراتیژیک ځایونه ونیول، خو د چا سره یې مستقیم اړیکې نه درلودې. د دسمبر په ۲۷ شپه یې پر دارالامان یرغل وکړ او د تاج بیګ غونډۍ په قصر کې یې امین او د هغه دوه زریز ګارد قتل عام کړ او بیا ببرک کارمل په دې ستوني ځیری کړ چې دا د دوستانو قوتونه دي.

له دې سره د ټولو چارو اداره پرچمیانو واخیستله چې د هر یوه سره یو روسي مشاور ملګری ؤ، کار ټوله مشاور کاوه خو امضا یې په افغانانو کوله. وروسته ورو ورو خپه ګي زیاته شوه.

## ۱۹ – دشوروي پرنظامي تیري دافغانستان اونړۍ عکس العمل:

په افغانستان کې د شوروي د قواؤ د راداخلیدو یوه هفته لا نه وه تیره شوي چې نړۍ عکس العمل وکړ.

د ۱۹۸۰ د جنوري په ۳ دامریکا جمهور رئیس جیمي کارتر سنا ته پیشنهاد وکړ چې د شوروي اتحاد سره د سالت ۳ تړون د معطلي امر ورکړي. انګلستان د امنیت شورا غونډه راوغوښته، کمونیست هیوادونو، لکه یوګوسلاویا، رومانیا او چین د شوروي اقدام وغندی.

د جنوري په ۷ د امنیت شورا ۱۳ غړو بلا شرطه له افغانستان څخه د شوروي قواو وتل غوښتل، خو شوروي او ختیځ آلمان مخالفه رایه ورکړه. په دې پسې د جنوري په ۱٤ د ملګرو ملتو عمومي اسامبلې د ۱۸۰ څخه ۱۰٤ غړو جداً وغوښتل چې شوروي له افغانستان څخه قواوې وباسي.

د جنوري په ۱۵ د انګلستان خارجه وزیر ترکیې، اردن، سعودي عربستان، هند او پاکستان ته اضطراري سفرونه وکړل او په لنډې کوتل کې یې د افغان مهاجرینو کمپونه وکتل او هغو ته یې د مرستې وعده ورکړه.

د جنوري په ۲۱ د اسلامي هیوادونو د کنفرانس غونډه دایره شوه او په همدغه غونډه کې د شوروي او د کارمل دولت پر ضد جهاد اعلان شو. پاکستان ته د افغاني مهاجرینو شمېر د فبروري تر نیمایي پورې پنځه لکو ته ورسید او په کندهار کې د لومړي ځل لپاره د میرویس، کرز او پنجوایي لیسې وسوځل شوې او ښوونکي یې ووژل شول.

د مي په ۳ د آسيايي بانک رئيس پر افغانستان د مرستو بندول اعلان کړل او د مي په ۱۳ د ناټو خارجه وزيرانو د شوروي د قواو په باب خبرې وکړې.

د اګست په مياشت کې د کارمل د سرحداتو چارو وزير فيض محمد د پکتيا ځدرانو ته ورغلی ؤ چې هلته يو قيام غلی کړي، خلکو دی له ملګرو سره ووژل.

په نوامبر کې د امريکا په انتخاباتو کې جمهوريت غوښتونکی ګوند کانديد رونالد ريګن جمهور رئيس شو چې د افغانستان په مسأله کې يې ډير لوی رول ولوباوه او دده هم د شوروي امپراطورۍ دړې وړې کړه او هم يې د مجاهدينو په وسيله د نجيب دولت راپرځاوه.

په همدغه نوامبر کې په کندهار د شوروی د نظامي مهماتو يو لوی کاروان د مجاهدينو له خوا والوزول شو او په دې پسې ښار په ميګ جيټانو ټوټې، ټوټې او په کنډواله بدل شو.

دا د ځونې په توګه د ۱۹۸۰ کال يوه تابلو وه، نور نو دا جريان کال په کال سختيده، دا تر هغه وخته چې شوروی قواوې ووتلې. په دې پسې مجاهدينو د نجيب دولت ونړاوه او کله چې د مجاهدينو ډلې کابل ته داخلې شوې داسې هولناک خپل منځي جنګونه يې پيل کړل چې د کابل ښار يې په کنډواله بدل کړ.

شوروی قواوو او د کارمل او نجيب دولتونو په نظامي قوتونو د افغانستان اطراف وران ويجاړ کړل، باغونه، پټي، ځنګلونه، د اوبو سيستمونه يې بو مخېنزه وران کړل، خو د مجاهدينو په جنګونو کې ښارونه خراب شول او ښاري خلک قتل عام شول.

د شوروي د نظامي تيرۍ پر ضد د افغانستان د خلکو او د نړۍ دولتونو په ګډه سخت عکس العمل وښود، په دغه لوی جنګ کې د دواړو خواوو، يعنې شوروی او مقابل طرف څخه يې (۱٦۰ مليارده) ډالره مصرف شول څو افغانستان هر څه د لاسه پکښې ورکړل او د قرون وسطی و ژوند ته ورداخل شو.

## ۲۰ - د شوروی او کارمل پر ضد د جهاد اعلان:

وروسته تر دې چې شوروی قواوې افغانستان ته داخلې شوې او ببرک کارمل يې د کابل پر تخت کېيناوه، نو د افغانستان ملايانو او روحانيونو سخت عکس العمل وښود او څرنګه چې شوروی يو ملحد هيواد او ببرک کارمل د ملحدينو راتلونکی ؤ او د هغو په ملاتړ يې د افغانستان پر اسلامي ټولنه حاکميت ساتۍ، نو دا دلايل وو چې د ۱۹۸۰ په سر کې چې د شوروی د تيرۍ د غندلو لپاره د اسلامي کنفرانس غونډه په سعودي عربستان کې جوړه شوه، هلته ديني علماؤ د شوروی او کارمل پر ضد جهاد اعلان کړ.

د قرآن شریف د «توبې-۴۱» آیات په دې حکم چې: «راووځئ (د جهاد لپاره) سپک بارو او درون بارو او جهاد وکړئ په خپلو مالونو او خپلو نفسونو د خدای په لار کې او دا بهتره ده ستاسې لپاره که پوهیږئ».

همدارنګه په دې حدیث نبوي چې وایي:

«د خدای لپاره یو ساعت په جنګ کې دریدل تر شپېته کاله عبادت بهتر دی» د افغانستان خلک مکلف شول چې جنګ ته ملاوتړي.

د بلې خوا هغه بهیرونه چې په مهاجرت پاکستان او ایران ته ورغلي وو د تنظیمي رهبرانو او د هغو د مؤظفینو له خوا په پاکستان او ایران کې د جنګي روزنې مرکزونو ته واستول شول او کال نه ؤ تېر شوی چې د مجاهدینو روزل شوي جنګیالي چې زیاتره یې په پارتي زاني (چریکي) جګړو کې ماهر وه ډرامیدان ته شول چې د شوروي د نظامي قواوو اوډ ډېر ک د د اداري حوصله یې ورتنګه کړه.

شوروي ته مسأله ساده ایسېدله او په تخنیکي قوت یې د هغو سره مبارزه پیل کړه ،خو وروسته پوه شول چې دا یو ډېر لوی دام دی.

د جهاد تبلیغ دومره پراخ ؤ چې د ډېرو هېوادونو راډیوګانو د هغه په باب خبرونه، وینا وې او مقالې خپرولې، چاپ شوي آثار توزیع کېدل، کتابونه لیکل کېدل او تر هر چا د ډېر ک کارمل په آدرس ډېرې سپکې سپورې ویل کېدې.

د جهاد خبرونه په ډېر شاندار طریقه خپرېدل او مجاهدینو ته تولې نړۍ داډ ورکاوه چې بریالیتوب په وړاندې لري، خو د امریکا له خوا د غه کار د دغه هېواد د مقصد لپاره په مخ روان شوی ؤ او هغه دا ؤ چې په دې وسیله خپل رقیب شوروي اتحاد ونړوي، دا عملیه د امریکا د جمهور رئیس رنالد ریګن د دکتورین د مقصد زړه ؤ.

په رښتیا شوروي چې د پړانګ لکۍ نیولې وه نه مخ ته راتللای شوای نه شا ته، خو بالاخره یې د افغانستانه وتل بهتر وبلل.

## ۲۱- جهادي تنظیمونه او هغو ته د نظامي مرستو مقدار:

د پاکستان د «آی.ایس.آی» یو غټ غړي برګدیر یوسف چې دوه اثره یې لیکلي، «خاموش مجاهد» او «تلک خرس». هغه د دغو تنظیمونو په باب لیکي چې: پر افغانستان د شوروي قواوو د راختلو سره د پاکستان جمهور رئیس جنرال ضیاء الحق او د هغه هېواد د پټو اطلاعاتو (آی.ایس.آی) رئیس اختر عبدالرحمن یوه داسې طرح جوړه کړه چې د شوروي پرضد د اسلام په چوکاټ کې اوه تنظیمه ایجاد کړي، او دا ځکه پر اووه تنظیمه تقسیموي چې دوی په جهاد

کې یو د بل په وړاندې مثبته سیالي وکړي، خو حقیقت دا ؤ چې ضیا ءالحق پوهیدی کومه سلاح او پیسې چې د دغو خلکو لاس ته ورشي، نو که ټوله یو تنظیم وی نبایی دد ه تر قوماندې د باندې شی، بنا ءً یې لاندې تنظیمونه جوړ کړل او د هر تنظیم په سر کې یې یو مذهبی او روحانی شخصیت ودراوه:

حزب اسلامی د ګلبدین حکمتیار تر مشرۍ لاندې، جمعیت اسلامی د برهان الدین ربانی تر ریاست لاندې دا د اخوان المسلمین تر ایډیالوژی لاندې وه، حرکت انقلاب اسلامی د مولوی محمد نبی محمدی په مشرۍ، حزب اسلامی خالص (د حزب اسلامی څخه منشعب شوې څانګه) د مولوی محمد یونس خالص په مشرۍ، ملی محاذ د پیر سید احمد ګیلانی په مشرۍ، د نجات ملی جبهه د حضرت صبغت الله مجددی په مشرۍ او اتحاد اسلامی د عبدالرب رسول سیاف په مشرۍ فعال شول. خو ضیا ءالحق دا ټولو کې پر ګلبدین حکمتیار ډیره پیرزوینه درلوده.

د امریکا او د سعودی عربستان په پیسو له مصر، چین او حتی اسرائیلو څخه وسلې واخستل شوی. په ۱۹۸۳ کې یې مقدار لس زره ټنه ؤ په ۱۹۸۷ کې شپیته زره ټنه ته ورسیدې او تقسیم یې داسې ؤ: حکمتیار د ۱۸ څخه تر ۲۰ فیصده، ربانی ۱۸ څخه تر ۱۹ فیصده، سیاف د ۱۷ څخه تر ۱۸ فیصده، خالص له ۱۳ څخه تر ۱۵ فیصده، ملامحمدنبی د ۱۳ څخه تر ۱۵ فیصده، ګیلانی د ۱۰ څخه تر ۱۱ فیصده، مجددی له ۳ څخه تر ۵ فیصده پورې استحقاق درلود. (۱)

د جنګی پرسونل د روزنې مصرف د باندنیانو پر غاړه اخیستی ؤ چې په ۱۹۸٤ کې شل زره کسه او بیا یې په نورو کلو کې ګراف لوړیدی او په ۱۹۸۷ کې د غه شمیر (۸۰) زرو ته ورسیدی.

د دې په اړخ کې په ایران هم نهه ګونې ګوندونه په دې توګه فعال شول: سازمان نصر، پاسداران جهاد، نهضت اسلامی، جبهه ء متحد انقلاب اسلامی، حزب دعوت اتحاد اسلامی، حزب الله، حرکت اسلامی، سازمان نیرو، سازمان مجاهدین مستضعفین. په پای دا ټوله په حزب وحدت کې یو ځای شول چې عبدالعلی مزاری په مشرۍ وټاکل شو، صرف حرکت اسلامی خپل استقلال وساتی او د آیت الله محمد آصف محسنی کندهاری په ریاست یې فعالیت ته ادامه ورکړه. دا ډله د ایران څخه تمویلیدله او بیا په پټه امریکا او پاکستان هم کمک ورسره کاوه. دا یوه عظیمه پروژه و، چې زیاتره د ریګن د کتورین پورې تړلې وه.

(۱) دیرګدیر یوسف د خرس تلګه دری ترجمه د پاکستان چاپ، ۱۲۰ مخ.

## ۲۲ - ببرک کارمل د عامه نفرت په اوج کې په کار پیل وکړ:

ببرک کارمل په هغو شیو کې کابل ته راورسید چې تازه د امین روح او بدن سره جلا شوی وو. دی خلکو هغه مهال د تلویزیون پر هینداره ولید چې د کابل ښار د پردی شوروی قواوو څخه پریمانه ؤ، که څه هم د ده مکرري نارې وهلې چې دا د دوستانو قو[illegible]ی او زموږ نجات ته راغلي دي، خو خلکو نه یوازې له هغو څخه نفرت کاوه بلکې په هغو لومړیو شیبو کې یې پخپله له ده څخه هم سخت نفرت وکړ او د ثاني شاه شجاع نوم یې ورکړ.

د ده نوی دولت پروګرام له راډیو څخه خپور کړ، دا هم هغه د تره کي او امین پروګرام ؤ، خو صرف یوه پلار وطنه جبهه پر زیاته شوې وه چې په دې وسیله یې عامې پرګنې د ګوندی دولت سره همکارۍ ته رابللې.

ببرک کارمل په لومړیو ورځو کې نوی مرکزی کمیټه او انقلابی شورا وټاکله چې هغه کې د پرچم د جناح غړی زیات وو. نور تشکیلات یې داسې وه: اسدالله سروری د انقلابی شورا او د جمهور رئیس مرستیال وټاکل شو. سلیمان لایق او بارق شفیعي چې څو ورځې په زندان کې وو د ګوند د مرکزی کمیټې او انقلابی شورا په غړیتوب ومنل، اسلم وطنجار، سیدمحمد ګلاب زوی او شیرجان مزدوریار د سلطان علی کشتمند په کابینه کې وزیران مقرر کړل او ډاکتر نجیب الله یې د خاد عمومي رئیس کړ او رفیع ته یې د ملي دفاع وزارت ورکړ. په دې ټاکنو په خاصه توګه د اسدالله سروري په مقررۍ د ببرک کارمل پرضد عامه نفرت و اوج ته ورسید او ټول وپوهیدل چې دا ځل د خارجي قدرت، یعنې شوروی له خوا یوه بله توطیه په کار لویدلې ده چې د سروري په وجود کې به یې عملی کړي.

ببرک په اردو کې هم داسې ټاکنې وکړې:

رفیع د دفاع وزیر، ډګرمن ګل آقا د اردو د سیاسی چارو عمومي رئیس، تورن جنرال بابه جان لوی درستیز، ډګرمن خلیل الله د مرکزی قول اردو قوماندان، ډګرمن نورالحق علومي د مرکزی قوا د ارکان رئیس، ډګرمن عظیمی د اوومې فرقې قوماندان، جګړن شاهنواز تني د اتمې فرقې قوماندان، ډګرمن عبدالقادر میاخیل د ننګرهار د یوولسمې فرقې قوماندان، جنرال میرطهماس رؤف د کندهار د قول اردو قوماندان، جنرال غلام نبی فراهی د پکتیا د قول اردو قوماندان.

په حقیقت کې صلاحیت ټول د هغو شوروی مشاورینو سره ؤ چې د دغو جنرالانو او افسرانو سره مقرروو، مشاورینو هره ورځ یا په دوو ورځو کې د شوروی په سفارت کې اوپراتیفی غونډې

ACKU

جوړولې او په هفته کې یو ځل سرمشاورینو په کابل کې د شوروي د نظامي قواوو د لوی قوماندان مارشال سکولوف سره ناسته درلوده او د هغه له خوا به د کار په باب ټاکلي دایرکیتفونه ورکول کېدل.

دا ټوله چارې خلکو لیدی او د ببرک پر ضد یې نفرت و اوج ته پورته کېده.

## ۲۳- ببرک کارمل څوک ؤ؟

ببرک اصلاً د کابل د ښار و جنوب ته د کمریو د کلي ؤ، پلار یې نظامي افسر ؤ چې وروسته تر جنرالۍ پورې ورسید.

وایي چې دده کورني اصلاً د کشمیر وه چې کابل ته راوستل شوي وه او دده نیکه هاشم خان نومیدی چې د افغانانو او انگریز په دوهم جنگ کې انگریزانو د یو نظامي محاسب په حیث ورسره راوستلی ؤ، څرنګه چې د اطلاعاتو په کشف کې یې لاس درلود، نو کله چې انگریز قواوې وتلې هغوی امیر عبدالرحمن خان ته وروپیژندو چې دد دفتر په جوړښت کې کار ورڅخه واخلي، خو امیر چې د انگریز په حساب پوه ؤ نو هاشم خان ته یې وویل بس د کوره مه راوځه، تنخوا داخله او هغه هم نور په هیڅ شي غرض و نه کړ. ځینې وایي چې دغه هاشم خان اصلاً د غزني ؤ چې د کمریو کلي ته راغلی ؤ او خلک وایي چې پښتو یې ویله خو پارسیوانه ښځه یې وکړه چې د هغې څخه حسین خان د ببرک پلار پیدا شو او د کورنۍ ژبه به یې پارسي شوله.

ببرک له ابتدایي تحصیل وروسته د حقوقو پوهنځي ووایه بیا د سپه سالار شاه محمود خان صدراعظم په وخت کې د محصلینو په اتحادیه کې برخه واخیستله څو بندي شو.

تر دې وروسته یې د پلان په وزارت کې کار پیدا کړ، خو د سردار محمد داؤد خان د گماشته حسن شرق سره یې آشنایي شوه او د هغه په مرسته یې د سیاسي کار زمینه برابره کړه، هغه مهال چې محمد داؤد خان پر کور کښیننوست دده د حسن شرق په وسیله اړیکې ورسره ساتل.

په ۱۹٦٥ کې په ولسي جرگه کې د کابل وکیل شو او هلته د ډموکراسي د لسیزې په جریان کې د شوروي په طرفداری د دولت پر اجراآتو خورا ډیر انتقادونه کول.

د خلق ډموکراتیک گوند په تأسیس کې تر نورمحمد تره کي وروسته د گوند د رهبری دوهم سړی شو، بیا د انشعاب په ټوله دوره کې یې د پرچم د جناح مشری کوله.

د محمد داؤد د جمهوریت له تأسیس سره د هغه سره همکار ؤ، څو هغه ته یې تفتین څرگند شو او د پرچمیانو په تصفیه کې دی هم وشړل شو.

بیا یې د شوروي په اشاره د خلق او پرچم اتحاد راوست او په ۱۹۷۸ کې د ثور په کودتا کې بیا

تر نورمحمد تره کي وروسته دوهم مقام ورکول شو.

د حفیظ الله امین سره په مخالفت کې د کابله وایستل شو او په پراګ کې سفیر شو او په دې پسې د سفارته هم پسې وشړل شو.

د ۱۹۷۹ د دسامبر د ۲۷ ورځې په ماښام چې امین ووژل شو، دی د شوروي قواوو سره کابل ته راغی او د دولت په رأس کې یې ځای ونیو، تر ۱۹۸۵ پورې چې نجیب پر قدرت راتلی، دی د دولت مشر ؤ وروسته په مسکو کې اوسیده.

څو په... د سرطان په ناجوړي مړ شو او د وصیت سره سم په حیرتان کې خاورو ته وسپارل شو، خو کله چې طالبانو حیرتان ونیوی د کارمل مړی یې راویوست په توپ کې یې والوزاوه او هډونه یې آمو سیند ته وغورځول.

## ۲٤- د پلچرخی زندان خالی کېدل او بیرته ډکیدل:

ببرک کارمل د ۱۹۸۰ کال د جنوری په لومړی ورځ پنځه زره تنه زندانیان د پلچرخي له زندان څخه خوشې کړل دا صرف په سیاسي جرم نیول شوي بندیان وو همدارنګه د ولایاتو په زندانونو کې د مرتجع، افراطی، سکتاریست، اخوان، تنګ نظر، منحرف، لومپن، سرمایه دار، غرب زده، جاسوس، د امریکا طرفدار، انتي سیونیست په نامه په زرګونو کسان په تورو تمبو کې پراته وو، دا له بنده خوشې شول او په دې لړ کې عبدالرسول سیاف چې بیا یې په پاکستان کې د اتحاد اسلامی تنظیم راویوست هم بندي ؤ، چې آزاد شو.

خو دا لویه فاجعه پر دې ځای ختم نشوه، زندانونه خالی شوه خو کال لا تیر شوی نه ؤ چې دا زندانونه بیا ډک شول او دا ځل د پرچمیانو تر نظر بد عناصر وو چې غوښتی یې باید د زندان خسکانو خوړلي او وینې زبیښلي وای.

ببرک د عدالت په عنوان د امین د دورې ډیر خطرناک خلک چې په لاس ورغلل، یا په پټه له منځه یووړل یا یې په تظاهر محاکمه بیا اعدام کړل.

په دې جمله کې د امین زوم او ورار اسدالله امین چې په شوروی کې په روغتون بستری ؤ، شورویانو راویوست او ببرک په عام محضر کې اعدام کړ، همدارنګه عبدالله امین، صاحب جان صحرایی، انجنیر ظریف، صدیق عالمیار، اقبال وزیری، اسدالله پیمان او یو شمیر نور داسې کسان وو چې محاکمه او اعدام یې رسماً اعلان شو.

د جنوری په ۱۳ د تره کی او امین په وخت کې چې وژل شوی وو هغه د شهیدانو په نامه یاد او فاتحه یې په عمومي سالنونو کې واخیستل شوه چې پخپله ببرک د نوی ښار د فاتحي سالون ته

ورغلي ؤ. رسماً اعلان وشو چې دا ورځ به هر کال د شهيدانو د ورځې په نامه ياديږي او عمومي رخصتي به وي.

شوروبانو چې په اطلاعاتي او امنيتي اداروکې کار کاوه د شپې به يې خلک له کورو ايستل بيا به د غه خلک، سر په نيست شول، خپلوانو چې به يې دولتي مقاماتو ته مراجعه کوله نو هلته به ځواب ورکول کيدی چې هغه به پاکستان ته تللي وي.

دوه کاله لا نه وه تير شوي چې د پلچرخي زندان ډک شو او امنيتي مقاماتو د صدارت او وزارت دفاع تاخانو و زندانيانو ته تخصيص کړې.

په عامه توګه هرچا دا فکر کاوه چې شايي سبا سهار يا ماښام ونيول شي. د خاد د تحقيق د رياست عجيبې او غريبې کيسې په محيط کې خپرې وې، خلک سخت شکنجه کيدل او ويل کيدل چې شورويانو له مسکو څخه د هولناکو شکنجو سامانونه راوړي دی. د کارمل په وخت د شورويانو لاس ډير اوږد ؤ، خو ببرک يوازې د دوی په صفت ځان ستړی کاوه. د زندانو خيتي ورځ تر بلې پړسيدلې او وحشت خپريده.

## ۲۵ – د شوروي د پلانونو په تطبيق کې کارمل ناکامه راووت:

ببرک د شوروی مشاورينو په لارښوونه وغوښتل چې خپل حاکميت ته قانوني رنګ ورکړي، نو څه کلمات يې د قانوني موادو په توګه سره وتړل او د اصولو په نامه يې د ۱۹۸۰ د اپريل په ۲۱ په يوه غونډه کې چې د ده د لويې جرګې نوم پر ايښی ؤ، پاس کړل، دا کار يې دده لپاره کی ؤ چې په يوولسمه ماده کې د شوروی قواو يرغل يو دوستانه حرکت وبولي.

ده ځان ډاډمن باله، نو ځکه يې پر پاکستان ور دانګل چې جنرال ضياء تهديد کړي څو د مجاهدينو له ملاتړ څخه لاس واخلي. خو دی او دده شوروی مشاورين ټول خطا وتلي وو، ځکه ددوی د خټميدو لپاره داسې پلان په کار اچول شوي ؤ چې هغه لوی ابرقدرت (امريکا) حمايه کاوه.

د ۱۹۸۱ د مارچ په دوهمه د پاکستان د «پی آی ای» يوه مسافربري الوتکه د ۱۴۸ سپرلي سره په داخلي الوتنه کې د پاکستان د اعدام شوی صدراعظم بوټو د زامنو مرتضی او شاهنواز بوټو د باند له خوا اختطاف او کابل ته راوستل شو، اختطاف کوونکي درې کسه د سلام الله ټيپور په مشرۍ په ساده خفيفو وسلو سمبال وو، خو په کابل کې په ټپه الوتکې ته لاسي بمونه او کلاشينکوفونه ورنقل شول، دا الوتکه تقريباً يوه نيمه هفته د کابل پر ميدان ولاړه وه خو د کابل اداري د شوروی په حکم ايله کړه او هغه دمشق ته والوتله.

دا کارمل خپله يو غټه کاميابي بلله، شورويانو د فقيد بوټو دوه زامن په کابل کې ساتل او

هغو د الذوالفقار ډله جوړه کړه چې د ضیاء الحق پر ضد یې فعالیت کاوه.

دا دوه ځوانان په کابل کې اوسېدل او د یوه افغان فصیح الدین چې د خارجه وزارت کارکوونکی ؤ د دوې لوڼې فوزیې او ریحانې سره یې ودونه وکړل او دلته اجمل ختک او د کې.جی. بی ماهرانو روزل او غوښتل یې چې دوی د ضیاء الحق پر ضد یوه تروریستي ډله جوړه کړي خو په ۱۹۸۵ کې شاهنواز په ناڅاپي توګه د فرانسې د کان په ښار کې مړ شو او دا سلسله سره وشلېده.

د کارمل شدید تلاشونه چې دد ې ډلې د بریالیتوب لپاره یې کول بې نتیجې پاته شول.

په شوروی کې د کارمل څخه د شخصیت جوړلو ډېر سخت کار روان ؤ، برژنیف اعلان وکړ چې کارمل د افغان او شوروي دوستی ته ډېر خدمت کړی دی نو د لنین نښان ورکول شو.

په دې پسې د برژنیف د دوستانه مهربانیو په مقابل کې کارمل د افغانستان ډېر لوړ مډال (زرین لمر) د برژنیف پرټټر وځړاوه.

دغه کارونه په کابل او مسکو کې په هوراګانو بدرګه شول، خو د شوروی رقیب ابرقدرت (امریکا) اروپا او په آسیا کې د شوروي ضد مرکزونو دا عمل د افغانستان د شئوناتو ضد کار وباله او په دې برخه کې یې دومره منفي تبلیغات وکړل چې حتی دغه د افغاني مډال خبر یې د کابل په اخبارو کې له نشر څخه پاته کړ، ځکه عکس العمل یې زیات ؤ بوازې د راډیو په خبر اکتفا وشوه.

شوروی هغسې چې د کارمل په باب فکر کړی ؤ اوس ورته معلومه شوه چې ببرک ورځ تر بلې د تجرید پر پوله روان دی.

## ۲۶- د کارمل وروستی تلاشونه:

د کارمل په وروستیو کلونو کې د افغانستان هیڅ داسې سیمه نه وه چې هلته دې د شوروی قواو او دولت پر ضد د مجاهدینو جنګ نه وی. همدارنګه کابل د مجاهدینو تر راکټونو لاندې ؤ او هرې خواته یوه د وحشت فضا خپره وه.

رشوت، غلا، اختلاس او هر فساد خوله ولګوله، د شپې به کورونه وهل کیدل او د مخ نیوی لپاره یې د شپې بندیز اعلان شو.

د دولت په دستګاه کې کار کوونکو د دولت سقوط پیشبیني کاوه، نو جیبونه یې ډکول او خارج ته په تیښته وو، لکه چې څو واره د افغان کارت رئیسانو چې یو ځل یې د کارمل د خور خپلوان ؤ دا مؤسسه لوټ او تالان کړه او په لکونو ډالره یې وتښتول.

ببر ک چې د شوروی هر رهبر په مړ شو دی به یې پر جنازه حاضریدی، د برژنیف، اندروپوف او په ۱۹۸۵ کې د چرنینکوف جنازو ته ورغی، خو وروستی ځل چې گرباچف قدرت ته رسیدلی ؤ هغه د پخوا څخه داسې څرگندونې کړې وې چې د افغانستان څخه به خپلې قواوې باسي، نو کله چې په ۱۹۸۵ کې د شوروی رهبر تـه وړورسید د افغانستان څخه یې کارمل د یو شمیر گوندي او دولتي واکمنانو سره مسکو ته وروغوښتل.

گرباچف دوی ته وویل چې آیا شوروی خپلې قواوې وباسی، تاسې ځانونه ساتلای شی؟ ما ته (ددې کرښو لیکوال) ته سلیمان لایق چې هلته حاضر ؤ وویل چې ددې خبرې سره د کارمل په څیره کې تغیر راغی او په ځواب کې یې ورته وویل: که شوروي نن خپل یو لک عسکر د افغانستان څخه وباسي، نو په یقین سره چې داسې وضع به هرکلی کړی چې ملیون عسکر به راولې.

گرباچف، نجیب مخاطب کړ او ورته وې ویل ته څه نظر لرې؟

ډاکټر نجیب وویل: زه نه پوهیږم چې شوروی به تر څه وخته موږ ساتی، که موږ پخپله ځانونه ساتلای شو په رښتیا نو باید پاته هم نشو، خو زه باور لرم چې اوس تر ډیره ځایه موږ ښه امکانات لرو او ځان هم ساتلای شو.

تر دې خبرو وروسته ټول پوه شول چې د ببرک کارمل رسالت پای ته ورسید او د نجیب په تندی کې د رهبری ستوری وځلید.

دوی له مسکو راغلل، خو ببر ک یې په مسکو کې وگرزاوه او درې میاشتې هلته ؤ، دلته آوازې شوې چې شورویانو ببر ک بندی کړی دی.

درې میاشتې وروسته ناڅاپه کابل ته راورسید، خو گوندي او دولتي خلکو چندان هرکلی ورته ونه وایه، ولې نجونو او ځینو ځوانانو د هوایي ډگر سره یو تونده مظاهره وکړه چې په هغه کې یې ببر ک ته د زنده باد، گرباچف او حتی شوروی اتحاد ته یې د مرده باد خطاب وکړ.

څو ورځې وروسته په ببر ک د گوندي رهبری څخه استعفا وشوه او د انقلابی شورا رئیس پاته شو وروسته له هغه څخه هم بر شا شو او مسکو ته ولاړ، نور نو د ببر ک کارمل ماموریت ختم شو او د گوند پلینوم ډاکټر نجیب د گـــوند عمومي منشي او د انقلابي شورا رئیس اعلان کړ. په دې توگه د پرچم جناح هم لکه خلق دوې ټوټې شوه چې د یوې مشر نجیب او د بلې هغې ببر ک یاد یده.

## ۲۷- د فرهنگی سقوط پیلامه:

د کارملي دولت پر ضد د مخالفینو عملیات د ټولنې عمراني او فرهنگي بنسټونو ته زیانونه متوجه کړل.

په ۱۹۸۳ کې د کابل پوهنتون د محصلینو شمیر پنځه زره کم شو او دا یوه ضربه وه چې د فرهنگ پر ککره وموښته. په همدغه کال ۱٤۰۰ محصلین شوروی ته د تحصیل لپاره ولیږل چې دا هم د مخالفینو د عصبیت باعث وگرځیدل.

ددې ټولو بندیزونو سره په ۱۹۸۳ کې یو سل و پنځه څلویښت زره په ښوونځیو کې وه، یو شمېر داسې فرهنگي موسسې چې ځوانان پکښې شامل وو، زیاتره یې تظاهری جنبه درلوده او خطرناکه خبره خو دا وه چې شوروی مشاورینو افغاني نوی ځوانان داسې روزل چې صرف د شوروی دوستی په زړه کې ولری او افغانی عنعنه یې له یاده ووځی.

باختر آژانس، رادیو، تلویزیون، سینما، تیاتر او مطبوعاتو ټوله چارې شوروی مشاورینو څارلې او ددوی هدایات او اوامر تطبیقیدل.

په کابل کې د ثور د انقلاب حقیقت ورځپانه چې د گوند نشراتی ارگان ؤ په لوی تیراژ خپریدله، نور نو انیس، هیواد، کابل تیمز، درفش جوانان، مجله ء کار، پیغام وطن، ژوندون او هفته نشریدل، علاوه له دې علمی مجلې، آریانا، کابل، پښتو، باستانشناسی، تحقیقات کوشانی، د افغانستان د علومو اکاډمی له خوا خپریدل.

د کابل مشهوره عامه کتابخانه، د کابل پوهنتون کتابخانه، د علومو اکاډمی کتابخانه او په هره وزارت خانه کې کتابخانې په رسمي او غیر رسمی وختونو کې د خلکو پرمخ خلاصې وې.

کابل موزیم او ملی آرشیف او ملی گیلری ډیر علاقمندان جلبول، هنرمندانو هنری عرضې درلودې او تلویزیون خپرونې کولې. خو دا ټوله د جنگ تر شوم سیورې لاندې تر تهدید لاندې وو، ډیر ځله رانده راکټونه چې د کابل پر ښار راویشتل کیدل ددغو فرهنگی مؤسسو سره به یې اصابت کاوه او هره مؤسسه چې به ونړیدله د بیا جوړونې توان یې له چا سره نه ؤ.

یو پټ (مخفی) لاس راغزیدلی ؤ او ټول فعالیت یې دی ته متوجه ؤ چې د افغانستان د اقتصاد او فرهنگ بنسټونه وران کړی. شوروی په نظامی قوت ټوله ښارونه او اطراف تهدیدول او هوایی بمباری یې پر کولې، خو ددې په مقابل کې هغه مخفی لاس د فرهنگ د خاموشولو لپاره د هیڅ ډول تخریب څخه لاس نه لنداوه.

ـ ـل دولتي مطبعـه چې د کـار ډیر لوی ظرفیت یې درلود ، د جنګ په اثر یې فـعـالیت تر پنځوس فیصده زیات له رکود سره مخامخ شو.

شوروي رهبری په مسکو کې او مشاورین یې په کابل کې د ببرک کارمل په ګډون په دې پوره باوري شوی وو چې ډیر ژر په یو سقوط هرکلی کړي.

## ۲۸- د ډاکتر نجیب الله د دورې پیل او د حکومت خصوصیت:

د ګرباچف سره د تر ملاقات وروسته ټول پوهیدل چې د کارمل حاکمیت پای ته ورسید او ډاکتر نجیب الله یې پرځای راځي.

کارمل او د هغه پلویانو نجیب ته د یو خونړی دښمن په سترګه کتل، خو نجیب په اتلسم پلینوم کې د کارمل د استعفا زمینه برابره کړه او تقاعد ته سوق شو ، او په نوامبر ۱۹۸٦ کې کرمل د ټولو وظایفو خلاص شو.

د ۱۹۸٦ د مي په ٤ ډاکتـر نجیب د ګوند عـمومي منشي او د انقـلابي شـورا رئیس شـو. په همدغه وخت کې چې نجیب د افغانستان رهبر شو د ۱۹۸٦ په مي کې د امریکا جمهور رئیس رونالد ریګن د مجاهدینو مشران، لکه ګلبدین حکمتیار ، برهان الدین رباني او یو شمیر نور کسان امریکا ته ور وبلل او هغوی ته یې وویل چې امریکا د مجاهدینو سره هر ډول مرستې ته حاضـر ده. ریګن چې د ۱۹۸۵ په نوامبر کې د شوروی د جمهور رئیس ګرباچف سره په ژنیو کتلی او د افغانستان څخه یې د شوروي د وسله بندو قـواو د وتلو ډاډ حاصل کړی ؤ ، د مـجاهدینو مـشرانو ته پوره په تفصیل معلومات ورکړل.

ریګن یو لوی قلم ډالر د غو مشرانو ته ورکړل او هغوی هم ډیر خوشحاله راوګرځیدل.

ډاکتر نجیب د کابینې جوړښت داسې اعلان کړ چې په هغه کې د پرچم او خلق غړي ځای کړه شوي وو ، که څه هم مخالفتونه جاري وو ، ولې کارمل د وخت په سطح کې نه وو .

د د کارمل د وخت کابینه پرې نښوله خو د حکومت خصوصیت یې بیا هم ګوندي ؤ او تر ګوند د باندې خلکو علاقه نه ورسره درلوده. ده هم کشتمند په صدارت کې پرینبود او رفیع یې د دفاع وزیر کړ ، نظرمحمد یې د صدارت لومړی مرستیال مقرر کړ ، عبدالوکیل چې په ویتنام کې د سفیر په حیث پاته ؤ هغه یې راوغوښت او خارجه وزارت یې ورکړ ، اسلم وطنجار وزیر داخله، خلیل الله وزیر ترانسپورت مقرر شول.

شاه محمد دوست په ملګرو ملتو کې د افغانستان نماینده شو او دوه بې خاصیته خلکو ته مقامونه ورکول شول چې وروسته یې ډیرې ستونزې پیدا کړی، دا دوه کسه یو ذبیح الله زیارمل ؤ

جي به اردو کې د سب سی چارو عمومي رئیس او بل مانو کی منګل ؤ چې په وزارت داخله کې د سیا ی چارو عمومی رئیس شو.

د ډاکتر نجیب الله نوره اداره هم د دغسې بې مهارته او بې مسلکه خلکو څخه پرېمانه وه.

ډاکتر نجیب الله د خپلو ټولو کمالاتو سره یو ډیر حدی عیب چې درلود، هغه سمت ګرایی وه، ده د هر ځای نر سړی ته پکتیا سړی ته ترجیح ورکوله، عکس ده به په هغه محشر او هولناکه بحران کې د دغه کار لپاره د لایل درلودل، خو په دې شک نشته چې منطقاً د یوې سترې اشتباه سره مخامخ ؤ، ده حاجی محمد څمکنی چې یو ساده او د دولت او سیاست د نړۍ څخه بې خبره او یو قبیلوي سړی ؤ د انقلابي شورا تر ریاست پورې ورساوه، همداسې نور، په دې توګه د ډاکتر نجیب په اداره کې منفي خصوصیتونه زښته ډیر وه.

## ۲۹- ډاکتر نجیب الله څوک ؤ ؟

ډاکتر نجیب اصلاً په پلار او نیکه د قبیلې سړی ؤ، د ده پلار اختر محمد د پکتیا د احمدزیو څخه د جانداد خان احمدزی لمسی او د ګردیز په میلن کې یې کور ؤ او پخپله نجیب هم هلته زیږیدلی ؤ. د زیږندې کاله یې ۱۹٤۷ ؤ.

د نجیب پلار یو معتبر دولتي مامور ؤ او د سردارمحمد داؤد له خوا په پیښور کې وکیل التجار ؤ او د دغه ماموریت له درکه یې مرفه ژوند درلود. نجیب په دغه کورنۍ کې رالوی شو، ښوونځی یې ووایه، بیا د طب پوهنځي ته ولاړ او په ۱۹۵۷ کې فارغ او د طب د ډاکتر نوم یې پیدا کړ، خو ده تر طبابت و سیاست ته مخه کړه او په ۱۹٦۵ کې د خلق ډموکراتیک ګوند غړی شو چې د پرچم جناح ته منسوب ؤ. دی د میر اکبر خیبر او سلیمان لایق سره محشور ؤ، خو ببرک ته هم علاقمند ؤ، په ۱۹۷٦ کې د پرچم د جناح کې د کابل د ښار د ګوندی کمیټې منشی شو. په ۱۹۷۷ کې د ګوند د مرکزی کمیټې غړی شو او په ۱۹۷۸ کې چې تره کی پرچمی رهبران سفارتو ته ولیږل نجیب په تهران کې سفیر شو او د پرچم د ناکامه کودتا څخه وروسته چې کابل ته راوغوښتل شو. دی مسکو ته ولاړ او په ۱۹۸۰ کې چې کارمل کابل ته راغی دی هم کابل ته راورسید او د «خاد» رئیس شو. د ۱۹۸٦ کال د می په ٤ د ګوند د مرکزی کمیټې عمومی منشی او په دا بل کال د افغانستان جمهور رئیس شو.

په ۱۹۹۲ کې چې ده د خپلو اشتباهاتو او د ببرک د ملګرو د کودتا او د مجاهدینو له راتګ سره په هوایی ډګر کې چې خارج ته تلی تر نیول کیدو مخکې یې په کابل کې د ملګرو ملتو په دفتر کې پناه واخیستله.

هغه مهال چې د ۱۹۹٦ د سمبر په ۲۷ طالبانو کابل ونیو ، په هم هغه لومړۍ ورځ سهار یې ډاکتر نجیب دده له ورور احمد زی سره اعدام او بیا یې مړی په آریانا څلور لارې کې وځړول، دی په کابل کې د ملګرو ملتو له دفتر څخه وایستل شو ، نجیب غټ او ښکلی ځوان ؤ ، ډیر لایق ؤ ، په پښتو او دری یې خبرې کولې او دونه ماهر ؤ چې سړی نشوای ویلای چې کومه یوه یې مورنۍ ژبه ده. انګلیسی یې زده وه او د قرآن مجید ډیر آیتونه یې حفظ ؤ.

ډیر محبتی سړی ؤ ، خو کله چې په قهر ورغی نو بیا یې رحم نه پیژندی، لکه تر مخه چې ما وویل د کمزوری ټکی یې دا وؤ چې سمتی علایق یې ډیر پالل.

دی یو ماهر شیاست پوه او په عین زمان کې زړور سړی ؤ ، دی په خورا بدو شرایطو کې په کار وګمارل شو ، خو دی له ستونزو څخه نه ډاریدی ، ولی ګوندی ملګرو یې ډیرې نامردی ورسره کولې ، ده غوښتل د مجاهدینو سره د هغو په زړه روغه وکړي ، خو ګوندي ملګرو دغه کار ته نه پریښووی.

د نجیب بل کمزوره ټکی دا ؤ چې شوروي مشاورینو ته ډیر سخت مات ؤ او هر څه چې هغو ورته ویل ده په پټیو ستر ګو منل.

دی که څه هم یو دزیاته موده د خاد رئیس ؤ او د خاد په شکنجو کې په لسګونو زره انسانان وژل شوي دي ، خو په مستنده توګه پر ده څوک ثبوت نه لری ، ولی دا حدس هم بې ځایه نه وی چې دده لاسونه دې هم په وینو سره وه.

## ۳۰ - لویه جرګه ، اساسي قانون او د جمهور رئیس ټاکل:

د ۱۹۸۷ په نوامبر کې ډاکتر نجیب لویه جرګه دایره کړه او په هغه کې یې د خپل اساسي قانون مسوده تصویب کړه او دایې قانون وباله.

په دې اساسی قانون کې اسلام د افغانستان دین بلل شوی ؤ او د افغانستان نوم یې د ډموکراتیک جمهوریت څخه د افغانستان په جمهوریت واړاوه. د هیواد سیاسی سیستم یې د ډموکراتیک څخه په پارلماني ډموکراسی واړاوه. په دې قانون کې د چپه لاس ګوندونو ته د فعالیت اجازه ورکول شوه.

پنځه میاشتې وروسته انتخابات وشوه د پارلمان یوه څلورمه برخه چوکی اپوزیسیون (مجاهدینو ) ته خالي پریښوول شوي او ۲۲ فیصده چوکی د «ا.خ.د » ګوند غړو وګټلې. په سر کې لویه جرګه یو نام نهاده جرګه وه ، جرګې ته هغه کسان چې حکومت او ګوند په نښه کړي وه راغلي وه.

دې اساسی قانون هم د خلکو او وطن لپاره بنیادي څه نه درلودل او انتخابات خو نو داسې فضیحت ؤ چې موټران په خلکو ډک وه او په پنځو ناحیو کې یو نفر رایه ورکوله.

په دغسې رسوايي کې ډاکتر نجيب هم د جمهور رئيس په حيث وټاکل شو او هغه يو ځل بيا اپوزيسيون (چې مجاهدينو ته دا نوی نوم ورکول شوی ؤ) ته بلنه ورکړه چې په پارلمان کې برخه واخلي، خو هغو د راکټ په ژبه ځواب ورکړ.

ددې لپاره چې د افغانستان څخه د شوروی قواوو د وتلو عمليه رښتياني ثابته کړي د افغانستان د پارلمان په غوښتنه د شوروي ٦ غونډه ۳ غونډه پياده او درې غونډه دافع هوا له کابله وايستله.

دغو عسکرو ته ډاکتر نجيب، سلطان علی کشتمند او د گوند او دولت مشرانو او ببرک کارمل چې په دغه وخت کې لا په کابل کې ؤ ، په بالاحصار کې په عالي تشريفاتو خدای په اماني وويله او ددوی انترناسيوناليستي خدمت يې وستايه.

بې خاصيته پارلمان له دوو مجلسو څخه جوړ شو چې يو ولسي جرگه وه چې ابوی يې رئيس مقرر شو او بل د سنا مجلس وو چې د باچا د وخت يو وزير ډاکتر محمود حبيبي يې ورته رئيس کړ.

د پارلمان وکيلانو بل کار نه درلود ، تمامه ورځ به په صدارت کې ناست وو او د صدراعظم څخه به يې د کورو امر اخيست او بيا به يې هغه خرڅاوه.

نجيب غوښتل چې په دغه پارلمان کې د استيضاح غونډې هم جوړې شي، خو په دې هر څوک پوهيدل چې دا د سلطان علی کشتمند د ټکولو لپاره يوه توطيه ده چې هغه په سمتی فعاليتونو اخته ؤ.

د پارلمان وکيلان هم هغه د باران ليوان وو چې د جمهور رئيس او صدراعظم ترمنځ به هر څونه فضا مکدره وه ددوی په گټه وه او د خرابی لپاره يې نور کوښښ هم کاوه.

## ۳۱- د ژنيو توافقات:

د افغانستان او پاکستان د اختلاف د حل او د افغانستان څخه د شوروي قواوو د وتلو په باب د ۱۹۸۲ څخه د ملگرو ملتونو د سرمنشی مرستيال پريزدیکويلار په وساطت په ژنيو کې د افغانستان او پاکستان له نمايندگانو سره خبرې پيل کړې، بالاخره کله چې ديکويلار سرمنشی شو، نو خپل مرستيال (ديگوکوردويز) يې دغه کار ته وټاکی او هغه پس له شپږ کاله تلاشونو څخه دا زمينه برابره کړه چې پر يو مغلق سند د افغانستان او پاکستان نمايندگان متفق کړي چې امريکا او شوروي به يې تضمين کړی وي. دا سند د ۱۹۸۸ کال د اپريل په ۱٤ د ماپښين پر ٤ نيمو بجو په ژنيو کې د جامعه ملل په ماڼی کې لاسليک شو چې د افغانستان له خوا خارجه وزير عبدالوکيل د پاکستان له خوا په خارجه وزارت کې د دولت وزير زيدنوراني لاسليک کړ او د امريکې خارجه وزير

جارج شولز او د شوروی خارجه وزیر شواردنادزې دا سند په تضمین لاسلیک کړ.

په رښتیا په بین المللی میثاقونو کې د عقد د ستونزمنې پروسې له پلوه د شوارترین د ډیپلوماتیک فورمولبندۍ له پلوه مغلق ترین او د تطبیق په صحنه کې بې اعتبارترین سند چې تر اوسه په بې سابقې توګه لیدل کیږي هغه د غه د ژنیو د موافقاتو سند دی.

دا سند په سر کې د تعهد په توګه څلور مطلبه احتوا کوي:

۱ - د افغانستان څخه د شوروی قواو وتل په یوه زمانی چوکاټ کې.

۲ - د افغانستان او پاکستان له خوا یو د بل په چارو کې د عدم مداخلې تعهد.

۳ - د عدم مداخلې په باب بین المللی معتبر تضمینونه.

٤ - د مهاجرینو عودت.

د ژنیو توافقات څلور برخې او یوه ضمیمه لري.

د لومړۍ برخې دا عنوان دی « د متقابلو روابطو مخصوصاً د عدم مداخلې او عدم تجاوز په منظور د افغانستان د جمهوریت او د پاکستان د اسلامی جمهوریت ترمنځ دوه جانبه موافقتنامه » دې برخې پنځه مادې درلودې چې دوهمه ماده یې د ۱۳ جزو درلودونکې وه.

د دوهمې برخې عنوان دا ؤ « د بین المللی تضمینونو علامیه » تضمین کوونکی یې امریکا او شوروی معرفی شوي وو.

د ریمې مادې یې دا عنوان درلود « د مهاجرینو د داوطلبانه بیرته تګ لپاره د افغانستان د جمهوریت او د پاکستان د اسلامی جمهوریت ترمنځ دوه اړخیزه توافق » دې برخې اووه مادې درلودې او دوهمې مادې یې پنځه جزه درلودل.

د څلورمې عنوان دا ؤ « د افغانستان د وضع په رابطه د باهمی روابطو موافقه » دې برخې اته مادې درلودې.

دا سند په پښتو او انګریزي لیکل شوی ؤ ( د پاکستان په غوښتنه [illegible] کل شوه. )

پاکستان د دې اسنادو لاسلیک د امریکا له خوا پر ځان اجباری بلله .خو امریکا داډ ورکاوه چې یو ځل دا سند امضاء شي بیا یې په عملي کولو څوک پروا کوي؟ لکه چې همداسې وشوه، هیچا و دې سند ته اعتبار نه ورکاوه او حتی کله چې شوروی قواوې ووتلې، پاکستان په څرګنده پر افغانستان د یرغل زمینې برابرې کړې او امریکا د افغانستان لپاره د پراخ بنسټیه سر نه ده وهله، خو پاکستان او د کابل د دولت مخالفینو د هغه پر سرنا غوږ نه نیو.

## ۳۲- د حسن شرق حکومت:

د ژنیو تر توافقاتو وروسته ددې لپاره چې ډاکتر نجیب ښه نیت وښیي، نو دده په اصطلاح حکومت یې غیر حزبي کړ، دده سلطان علی کشتمند چې د ګوند غړی ؤ د صدارت څخه ایسته او پرځای یې حسن شرق چې ویل یې حزبي نه دی په صدارت یې مقرر کړ.

ډاکتر نجیب په دې کار کې هم خطا وتیو چې شورویان یې په دې قانع نه کړل چې حسن شرق بدنام ترین سړی دی. هرڅوک پوهیږي چې نه یوازې پټ ګوندي دی، بلکه د «کی. جی. بی» غړی هم دی.

حسن شرق په خپل بدنامه کتاب« کرباس پوش های برهنه پا » کې وایي چې د ۱۹۸۸ د مې په میاشت کې صدراعظم شوم، نیم وزیران د پخوانی کابینې پر ما تحمیل شول، همدارنګه د خارجه، داخله او امنیت د وزارتونو پستونه حزبیانو ته وسپارل شول.

ډاکتر نجیب اپوزیسیون ته دعوت ورکړ چې راشي وزارتونه واخلي او هغه کسان چې دد وزارتونه راوستلي وه دا یې په قبوله کړي وه چې هر وخت د اپوزیسیون څوک راغله، دوی به ځای ورته خوشې کوي، رفیع په پټه خوله د وزارت دفاع څخه ووت او د اردو په اعلی قوماندانی کې چې رئیس یې پخیله نجیب ؤ رئیس ارکان شو، وزارت دفاع احمدشاه مسعود ته خوشې شو، او درې میاشتې دغه بست ته څوک مقرر نشول، خو مسعود ورته رانغی او د اپوزیسیون څخه یو نفر هم په دغه حکومت کې د ګډون لپاره زړه ښه نه کړ.

حسن شرق ته چې د ولسي رهبری مینه ورولاړه شوې وه، دعوا یې کوله چې دی به مجاهدین له دولت سره یو ځای کړي، خو هغو دده یو دلیک ته هم ځواب ور نه کړ.

وروسته یو بل شوق ورپیښ شو، داسې فکر یې کاوه چې مجاهدین ډاکتر نجیب نفی کوي، نو کیدای شي چې دی رئیس جمهور شي، دده شوروی ته یو سفر وکړ او هلته یې ګرباچف ته د نجیب په باب خبرې وکړې چې د هغو مفصل معلومات د شوروی خارجه وزیر شوراردنادزې نجیب ته ورکړ او له همدغې شیبې څخه ډاکتر نجیب دده په غوړخولو پیل وکړ او د منافق نوم یې پر کښیښود.

په ۱۹۸۹ په فبروری کې شوروي قواوې ووتلې او له دې سره د پاکستان له خوا د یوې حملې راپورونه ورسیدل، یوه میاشت وروسته ډاکتر نجیب اضطراري حالت اعلان کړ او په دې توګه یې حسن شرق له منځه ویوست او بیرته یې سلطان علی کشتمند چې په اصطلاح له دروازې یې ایستلی ؤ تر کړکۍ یې بیرته راوست.

کشتمند دا ځل د صدارت د رئيس په حيث راغی چې د پارلمان منظوري يې هم نه غوښته نور حکومت يې هم توله گوندي کړ او بيا يې په جلال آباد کې د گوندي غړو او نظاميانو په وسيله د هغو يرغل شاته وټمباوه چې تلفات يې هم زيات وو، په دې توگه نجيب غاړه د لوړه ونيوله چې د دفاع توان لري، خو حسن شرق يې کورته پورې وهی.

## ۳۳- د جلال آباد جنگ:

د ۱۹۸۹ په فبروری کې شوروی قواوې د افغانستان څخه ووتلی او يو د مياشت وروسته په مارچ کې د پاکستان له خوا پر جلال آباد يرغل وشو چې په هغه کې لس زره مجاهدينو چې عرب او د پاکستان څلور زره مليشه ورسره ملگری وو.

تر دې حملې پخوا ډير تبليغ کيده چې شورويان ووتل او افغانان د ځان دفاع نشی کولای او ژر به کابل د مجاهدينو لاس ته ورشی، د غو تبليغاتو ډير گوندبان ليوني کړل چې د وطنه وتښتيدل او ځينو حتی دولتي سرمايي ورسره وتښتولی، د سفارتو غړو وظيفې پريښوولی او سياسی پناوې يې وغوښتی.

خو ډاکتر نجيب خپلو ملگرو ته يوه ډيره تونده وينا وکړه او بيا يې پر جلال آباد راسوق کړل.

د دولت زغره والو او هوايی قواو د دوی حملې بندې کړی او بو لوی ډار ورته پيدا شو او د دولتی قواوو په وړاندې يې مقاومت لږ شو. يوه ورځ کاملاً له سهاره تر ماښينه د ښار په منځ کې جنگ جاري ؤ چې دواړو خواو درنې وسلې استعمالولی او د دولت له خوا حتی سکاد هم وويشتل شول.

دی جنگ ډير هولناکی لمنې پيدا کړې، هوايی بمبارد دومره سخت ؤ چې په يوه شپه و ورځ کې له بگرام څخه ۲۳۰ پروازه اجرا شول او چا دا فکر نه کاوه چې په دومره سختی به دولت دفاع وکړی، په پای کې مخالفين شاته ولاړل او ډېر تلفات درلودل، د دولت خوا هم تلفات زخميان او اسيران درلودل، خو دومره زيات نه وه.

د مقاومت رهبرانو ډير غلط حساب کړی ؤ، جارج ارنی د مولوی يونس خالص د معاون حاجی دين محمد له خوله وايی چې دوی په دې فکر وو چې د جلال آباد څخه به توله دولتی قواوې د دوی سره ملگری او پر کابل به حمله وکړی. »[۱]

په جلال آباد کې دولتی قوتونو مستقله دفاع وکړه، يعنی په دې ځل کې د دوی سره شوروی قوتونه نه وو، له دې کبله ډاکتر نجيب لوی اعتبارات وگټل او هر څوک په دې باوری شول چې دولت د ځان د دفاع توان لری.

(۱) نبی عظيمی: اردو و سياست در سه دهه اخير افغانستان ص ۳۸٤.

خو حزب اسلامي او ګلبدین حکمتیار وویل چې د جون په اول به د جلال آباد په مسجد جامع کې لمونځ وکړي، خو برعکس احمدشاه مسعود وویل څلور کاله په کار دي چې مور د نجیب د سقوط لپاره بریالي شو.

ولې په ګوند او دولتي دستګاه کې د ډاکتر نجیب الله رقیبانو د هغه د ملا ماتولو کار مخې ته واچاوه، په دې پروګرام کې فعال عناصر فرید مزد ک، کاویاني، محمود بریالی او د ببرک اعوان او انصار شامل وو چې د احمدشاه مسعود سره دیې پټې همکارۍ کولې.

## ۳٤- په نظامي پوټانیشل کې چاودنه (د تني کودتا):

د نجیب د دفاع د وزیر جنرال شهنواز تني کودتا د ډاکتر نجیب دولت ته سخت ټکان ورکړ.

د شوروي قواو تر وتلو وروسته په مجاهدینو کې ګلبدین حکمتیار پرله پسې دا تبلیغوله چې دی به د کابل په اردو کې کودتا وکړي. په هم هغو ورځو کې دولتي امنیت د یوې اطلاع له مخې جنرال ولي شاه د هوایي دفاع قوماندان او جنرال عبدالعلیم ورد ګ د مخابرې قوماندان او ۳۰ نور افسران ونیول شول او ددوی په باب یې ولیکل چې د حزب اسلامي له تنظیم سره یې اړیکې نیولې او د حکمتیار په لارښوونه یې د ډاکتر نجیب پر ضد کودتا کوله.

ددفاع وزیر شاهنواز تني وویل چې دا یوه توطیه ده او ډاکتر نجیب غواړي د دفاع وزارت صلاحیتونه امنیت دولتي ته ورکړي. دا عمل د اردو او امنیت دولتي ترمنځ د لوبې شخړې باعث وګرځید، د بلې خوا شاهنواز پر دې هم عصبي ؤ چې په اردو او امنیت دولتي کې د عین رتبې خلکو په معاش کې تفاوت درلود، هغه معاش چې د اردو افرادو او افسرانو اخیست د امنیت دولتي افرادو او افسرانو د هغه څلور چنده اخیست. ددې تفاوت د منځه وړلو لپاره د دفاع وزیر جمهور رئیس ته ډیر پیشنهادونه کړي وو، خو هغه نه وو منلي، نو دا ددې سبب شوه چې تني او نجیب تندي په تندي ټکر سره وکړي.

ډاکتر نجیب د دفاع پر عالي شورا چې جنرال رفیع یې رئیس ارکان ؤ، ډیره تکیه کوله او په دغه شورا کې چې تني او ځینې نور اعلی افسران غړي وو د تني طرفدارانو ډیر لږ د شورا په جلسو کې برخه اخیستله او دا د ډاکتر نجیب د عصبیت باعث وه. دا وضع ورو ورو درنیده، څو په اردو او ریاست جمهوري کې هر څو ک په دې پوه شوه چې تني نور د ډاکتر نجیب اوامرو ته اعتنا نه کوي.

د جنرال تني مشاورین او لوړ نظامي همکاران دا کسان وه: جنرال آصف شور، ډګروال کبیر کاروانی، ډګروال جعفر سرتیر، ډګروال محمد زی نیکمل، جنرال شیخ محمد باور او د نظامي تخنیکي قطعاتو قوماندان وه.

د جنرال تني او ډاکټر نجیب د اختلافاتو د حل لپاره په کابل کې د شوروي سفارت مداخله وکړه او په دې پسې د شوروي د دفاع د وزارت مرستیال کابل ته راغی او د دوی دواړو سره یې خبرې وکړې خو د «کي.جي.بي» فعالینو داسې وضع وکړه چې جنرال تني یې غافل کړ او ډاکټر نجیب ته یې وویل چې ناڅاپه حمله پر وکړه. دا پلان دومره ماهرانه ترتیب شوی ؤ چې جنرال تني په وروستیو ګړیو کې پوه شو چې نجیب حمله کوي، نو ژر یې په هوایي بمبارد لاس پورې کړ او هغه داسې معلومه شوه چې اول تني حمله کړې ده.

دا کودتا د ۱۹۹۰ د مارچ په پنځمه وشوه او تردې یوه ورځ پخوا د وطن د دفاع د عالي شورا تر غونډې وروسته چې د نجیب په حضور کې جوړه شوه، صالح محمد زیري، نیازمحمد مومند، نظرمحمد پخواني د دفاع وزیر، دستګیر پنجشیري، هاشم څارنوال، قادراکا، په دارالامان کې د جنرال تني سره غونډه وکړه. ماته (د دې کرښو لیکوال ته) نظر محمد پخواني د دفاع وزیر چې په کودتا کې ونیول شو وویل: دغه غونډه د دې لپاره موږ جوړه کړه چې د تني او نجیب په منځ کې یوه روغه کړو او په دې سبا موږ غوښتل د نجیب سره وګورو چې د کودتا د عاملینو په توګه یې ونیولو او زندان ته یې ولیږلو.

کودتا داسې پیل شوه چې د مارچ په پنځم د غرمې پر وخت یوه الوتکه (میګ جټ) راغله او د زندده وانانو پر سر یې یو بم وغورځاوه او له دې سره د ارګ له سره د دفاع هوا ډزې پیل شوې.

په دې پسې نور جیټان راغلل او د ۲۵۰ او ۵۰۰ کیلویي بمونه یې وغورځول، دا بمونه پر ارګ، سلامخانه، ګارد ملي (بالاحصار) د پښتونستان په څلور لارې کې د اتومات ټیلفون مرکز، میوندوات، پخته فروشي باندې ولویدل او یو وحشت یې وپاځاوه.

همدارنګه د بالاحصار او دارالامان څخه یو پربل د توپونو ډزې کیدلې، خاص ګارد ستریلا په لورې راکټونه پر الوتکو وویشل، جنګ تر ماز دیګره سخت روان ؤ شپې ته یو څه سست شو او سبا ته پای ته ورسیدی او تني له وطنه ووت.

په دې لړ کې د بګرام هوایي ډګر هم د نجیب قواوو وویشت او فلج یې کړ او تني مات شو او په دې سبا په هلیکوپټر الوتکو کې تني، نیازمحمد مومند، جنرال قادر اکا، جنرال حمزه او یو شمیر نور پاکستان ته وتښتېدل او هلته ډېر تود هرکلی ورته وویل شو. تر کودتا وروسته د اردو یو شمیر غټ جنرالان، صالح محمد زیري، دستګیر پنجشیري، نظرمحمد پخواني دفاع وزیر او نور بندیان شول او شوروي ته خبر ورکول شو چې ګلاب زوی او میر صاحب کاروال کابل ته راولیږي.

په دې کودتا کې جنرال آصف شور، کبیر کاروانی، ډګروال جعفرر سرتیر او یو شمیر نور ووژل شول.

دې کسانو د کودتا په خنثی کولو کې لاس درلود: ډگرجنرال آصف دلاور، تورن جنرال سیداعظم سعید، تورن جنرال جلال رزمنده، تورن جنرال عبدالرزاق، تورن جنرال عبدالستار، برید جنرال عبدالقادر میاخیل، ډگرجنرال عبدالرؤف بیگی، ډگروال بابه جان، ډگروال عبدالمجید روزی د جنرال دوستم معاون او یو شمیر خلقی افسران هم شامل ؤ چې دوی ته ډیرې غټې رتبې او نور بخښښونه ورکول شوه.

دې کودتا ډاکتر نجیب ته په سیاسی او گوندی سطح کې ډیره سخته ماتې ورکړه او د ببرک کارمل ملگری چې تر اوسه یې مخفی فعالیت کاوه تقریباً علنی یې د نجیب مخالفت پیل کړ، ځکه نجیب کمزوره شوی ؤ.

جنرال تنی ته په اسلام آباد کې کور، موټر، نوکر، معاش او هر څه ورکول شوه او ده هم اعتراف وکړ چې د گلبدین حکمتیار په لارښوونه یې کودتا کوله.

نجیب وزارت دفاع وطنجار ته ورکړه او د اردو د سیاسي عمومی رئیس ذبیح الله زیارمل یې چې د کودتا په ورځ په کور کې پټ شوی ؤ برطرف کړ، په دې کودتا کې نظامیان زیات ونه وژل شول، خو د الوتکو په بمبارد کې عوامی خلک زیات ووژل شول او یا زخمی شول.

## ۳۵- د فضل الحق خالقیار حکومت:

د ۱۹۹۰ په مې کې ډاکتر نجیب الله د اساسي قانون د ځینو موادو د تعدیل لپاره لویه جرگه دایره کړه، په دې تعدیلاتو کې قضا او څارنوالی غیر گوندي شوه او جمهور رئیس په خپله وینا کې په اروپا، امریکا او نور خارج کې افغانانو ته بلنه ورکړه چې هیواد ته راشی او د دغه قانون له مخې دې ژوند وکړی.

په همدغه غونډه کې ډاکتر نجیب گوندي صدراعظم سلطان علی کشتمند ایسته او فضل الحق خالقیار چې لا تراوسه د هرات په پښتون زرغون کې د تسلیمیانو له خوا سخت زخمی شوی ؤ لا جوړ شوی نه ؤ چې په صدارت یې مامور کړ.

خالقیار د هرات د یوه ځمکه وال زوی او د اقتصاد د پوهنځی څخه فارغه شوی او په راوروسته وختو کې د هرات رئیس تنظیمیه او مشاور وزیر ؤ، دی یو با نزاکته، اخلاقی او با تقوا سړی ؤ، ده ته داسې کابینه ورجوړه شوه:

محمود بریالی د صدارت لومړی مرستیال (گوندی)، عبدالصمد سلیم د صدراعظم مرستیال، محمد انور ارغندیوال د صدراعظم مرستیال، عبدالقیوم نورزی (گوندی) د صدراعظم مرستیال، میرمن عصمتی وردگ د تعلیم او تربیې وزیره، غلام محی الدین دریځ عدلیه وزیر، ډاکتر

مهرمحمد اعجازي د عامې روغتيا وزير، عبدالوكيل وزير خارجه (گوندی)، ډاکتر رازمحمد پکتين وزير داخله (گوندی)، صالحه فاروق اعتمادی د ټولنيزو چارو وزيره، محمد حکيم وزير ماليه، محمد اسلم وطنجار د دفاع وزير (گوندی)، غلام فاروق يعقوبی د امنيت دولتی وزير (گوندی)، محمد صديق سيلانی د اسلامی شؤونو او اوقاف وزير، محی الدين شهباز د کرنې وزير، ډاکتر محمد انور دوست د خفيفه صنايعو او غذايي موادو وزير، فقيرمحمد نيکزاد د ساختمانی چارو وزير، انجنير عبدالصمد صلاح د کانو او صنايعو وزير، ډاکتر وديرساپی د ملکی هوانوردی وزير، ډيپلوم انجنير سيد محمد نسيم علوی د مخابراتو وزير، ميرعبدالغفور رحيم د اوبو او بريښنا وزير، احمد بشير رويگر د اطلاعاتو او کلتور وزير (گوندی) ډاکتر محمد انور شمس د عالي او مسلکی تحصيلاتو وزير، فتح محمد ترين د عودت کوونکو وزير، ذکيم شاه د سوادگری وزير، انجير حيات الله عزيزی د کليو د بيا ودانولو وزير، خليل الله د ترانسپورت وزير، نوراحمد بريڅ مشاور وزير، شادولی مشاور وزير (گوندی)، سيداکرام پيگير مشاور وزير (گوندی)، فقير محمد يعقوبی مشاور وزير.

دی پراخې کابينې چې وزيرانو يې هم په مشکله يو د بله سره پيژندل په خپل کار نه پوهيدل.

په وطن کې به په مشکل داسې سيمه وه چې هلته به جنگ نه ؤ او کابل خو د راکټونو تر پراخې حملې لاندې ؤ.

وزيرانو په مشکله د وزيرانو د مجلس غونډه جوړولای شوای خو کله چې دا غونډه به جوړه شوه نو وزيرانو د افغانستان د جنگ په باب د بی بی سی او امريکا ږغ پر خبرو او تبصرو صحبت سره کاوه. فضل الحق خالقيار پوهيده چې دی وروستی زمامدار دی چې په دد پسې به دد غه رژيم بل صدراعظم او وزير نه وی.

## ۳٦- بې خاصيته گوندونه:

د ډاکتر نجيب د طبيعت يو خراب جهت دا ؤ چې زيا تره به يې په بې خاصيته کارو ځان مصروفاوه.

يو د هغو څخه دد د نام نهاد بې خاصيته گوندونه وه چې مصارف يې د دولتی امنيت له وزارته تمويليدل او غړی به يې را نيول او د کار نتيجه يې بې له د انارشيزم له پراخيدو څخه بل څه نه وو. غير له وطن گوند څخه چې هغه پخوانی د خلق دموکراتيک گوند ؤ او اوس بې خاصيت هم بايللی ؤ، نور د ټولو گوندونو لاربنوونکی د امنيت په وزارت کې مقرريدل بيا بې هر يوه ته يوه ټولی يا کندک ورکړی ؤ او دا ټولی او کنډک عسکر نه درلود، معاش يې دوی اخيست. دا گوندونه په دې توگه ود:

۱- وطن ګوند (هغه پخوانی د خلق دموکراتیک ګوند)
۲- سازا (د افغانستان انقلابی د زحمتکښانو ګوند) رهبر یې محبوب الله کوشانی ؤ.
۳- سزا (د افغانستان د زحمتکښانو ګوند) رهبر یې حمدالله ګران ؤ.
٤- د افغانستان د خلکو اسلامی ګوند، رهبر یې عبدالستار سیرت ؤ.
٥- د افغانستان د دهقانانو د عدالت ګوند، رهبر یې عبدالحکیم توانا ؤ.
٦- د افغانستان د خلکو د همبستګی ګوند، رهبر یې سرور نورستانی ؤ.
۷- کجا (د افغانستان د ځوانانو کارګرانو ګوند) رهبر یې عبدالعزیز تره خیل ؤ.
۸- د انصار الله اتحادیه، رهبر یې صفر محمد خادم ؤ.
۹- د افغانستان د ملی رستګاری ټولنه رهبر یې پوهاند محمد اصغر ؤ.

دی ګوندونو هم د نجیب څخه پیسې اخیستلې او هم یې پخپله په نجیب او د هغه په دستګاه پورې د اتهام تر سطح پورې بد ویل.

په خلکو کې هم تر وطن ګوند دا ګوندونه ډیر منفور وو، ځرنګه چې دوی کوم قدرت هم نه درلود، نو خلک ډیر پر زرور وه.

یو قوی ګوند چې د پخوانی ستم په تعقیب منځ ته راغی او اساساً ببرک کارمل او د هغه د مباله روانو پر پنبو ودراوه چې وروسته یې د تخریب اندازه د هیواد په سطح اندازه کیدله ملی جنبش ؤ چې له دغو اجزاو څخه منځ ته راغلی ؤ.

حزب وحدت
جمعیت
حرکت (محسنی)
محاذ ملی
جبهه، نجات ملی
د شمال ولایاتو اتحادیه د آزاد بیګ په مشری،
اتیا یمه فرقه د سید منصور نادری په مشری چې د شمال د اسمعیلیانو شیعه ؤ مشر ؤ.
٥۳ فرقه د جنرال دوستم په مشری
د حیرتان ۷۰ میکانیزه لوا
د دهدادی ۱۸ فرقه
د جنبش رهبر رشید دوستم ؤ.

دی ګوند په سیاسی او اجتماعی چارو کې سخت متعصبانه برخورد کاوه او د احمدشاه مسعود لاس هم ورسره یو ؤ.

کله چې کابل د تنظیمي قوتو له خوا ونیول شو او بیا د حزب اسلامي ګلبدین او مسعود ترمنځ جنګ ؤ په دې کې دوستم د جنبش قوتونه راوستل کابل یې په چور او تخریب کړ.
دا ګوند په شمال کې ریښې و څغلولې او د پښتنو، تاجکو، ازبکو او هزاره ګانو ترمنځ یې ډیرې لانجې راپیدا کړې، خو وروسته پر هم هغه غلطه لار پسې ورک شو.

## ۳۷- یو په بل پسې سقوطونه:

د تیې تر کودتا وروسته اردو مورال بایلوده او هر فرد او افسر د سقوط په فکر کې ؤ او د ځان د نجات تلاش یې کاوه. ګلبدین حکمتیار د اعصابو جنګ پیل کړی ؤ او تبلیغاتو یې ټوله اردو ناآرامه کړې وه.
د ۱۹۹۰ کال په اکتوبر په ارزګان کې د تیرین کوټ ګارنیزیون چې زر نفره مجهز قوت یې درلود د والي او د ولایت در نورو کارکوونکو د سازش په وجه سقوط وکړ، دا که څه هم د نظامي پلوه دومره زیات ارزښت نه درلود، خو د تبلیغي لحاظه او په اردو کې پر مورال د منفي اغیزو له پلوه یې ډیر ارزښت او اغیزه درلوده.
پر خوست د مجاهدینو او دولتي قواو تر منځ ډیر سخت جنګ روان ؤ، ډیر خلک د دواړو خواو ووژل شول او د سلاح او مهماتو لوی مقدار له منځه ولاړ، د خوست ښار ته هم زیان ورسید او ښاریان فرار شول، خو دغه لوی نظامي مرکز د ۱۹۹۱ کال د اپریل په اوله سقوط وکړ.
ډاکتر نجیب د خوست سقوط پخپل آواز په تلویزیون کې اعلان کړ او وې ویل مور لکه د فتح د افتخار څخه چې آواز پورته کوو، نو دا شهامت هم لرو چې خپله ماتې ومنو.
دریم غټ سقوط د مزار شریف ؤ چې د ۱۹۹۲ په مارچ کې سر ته ورسید او د جمهور رئیس په اړخ کې د پرچم د ډلې له خوا چې لارښود یې کارمل ؤ دا ښار سقوط وکړ او نور نو معلومه شوه چې د نجیب د حکومت پاتې مخله ژرې شوې دی.
مجاهدین نور کامیابه وو او د ګوند پرچمي جناح مسعود او دوستم ته خدمتګاران وو او خلقي جناح یې د ګلبدین لمنې ته لاسونه اچولي وو. ډاکتر نجیب الله په داخل کې د شمال د اور وژلو لپاره جنرال نبي عظیمي پر له پسې شمال ته لیږه، خو هغه چې د کارمل، کاویاني او فرید مزد ک او احمدشاه مسعود په ولکه کې ؤ ډاکتر نجیب ته یې خیانت کاوه، خو نجیب نه پوهیدی، او په خارج کې یې افغانستان ته د ملګرو ملتو د سرمنشي پر خاص نماینده بنین سیوان تکیه کړی وه چې هغه د نواز شریف تر لارښوونې او د مجاهدینو تر خاطرخواهي لاندې د نجیب د وهلو پلان تر کار لاندې نیولی ؤ.

د کابل تر سقوط تقریباً یوه هفته وڅو ورځې وړاندې چهاریکار سقوط وکړ او د مسعود قوتونه ورته راغلل، په همدغه ځای کې د فرید مزد ک، کاویانی، نبی عظیمی، عبدالوکیل کودتا سر و صورت ونیو او په لومړی ځل وکیل وزیر خارجه په چهاریکار کې د مسعود سره وکتل چې کله کابل ته راغی پر نجیب یې د ملی خاین حکم وکړ او نجیب هم د فرار په فکر کې شو.

د چهاریکار سقوط نو یو قاطع حرکت ؤ او یوه نیمه هفته وروسته کابل سقوط پسې وکړ او مجاهدین ورته راننوتل، ښار تر سخت تهدید لاندې شو او ډاکتر نجیب هم د ملګرو ملتونو په نمایندګی کې پناه واخیستله.

## ۳۸- د نجیب پرضد کودتا او د رژیم سقوط:

د تنی تر کودتا وروسته په ګوند او دولت کې د نجیب پرضد فعالیتونه پیل شول، په ګوند کې د هغه پخوانی خلقی او پرچمی جناحو ټول مخفي مرکزونه فعال وو.

ببرک کارمل په خطرناکه لوبه لاس پورې کړی ؤ او غیر پښتون ګوندی غړی یې د هغې پخوانی ستمی روحیې په اساس سره نژدې کول او د دغه خطرناکه کار رهبری د محمود بریالی، کاویانی او فرید مزد ک پر لاس وه.

ډاکتر نجیب الله هم پوهیدی چې ده ته له کومې لارې خطرونه په کمین کې دی، خو بیا یې هم فرید مزد ک او کاویانی ته ډیره موقع ورکوله، البته دا به پخپله د نجیب د میل کار نه ؤ، خو بیشکه چې شوروی مشاورینو په خاصه توګه د «کی.جی.بی» ایجنټانو پر دې اور تیل تویول.

د پرچمی کارملی جناح له خوا یوه څو مرحله یی کودتا د نجیب پرضد تر کار لاندې راغله.

نجیب د مزار اداره جمعه اڅک ته چې یو پښتون جنرال ؤ، وسپارله او هغه هم یو سبکسره سړی ؤ. په مزار او جوزجان کې رشید دوستم (ازبک) ځان د قدرت مرجع بلله، نو په اول وار کې د جمعه اڅک او دوستم ترمنځ روابط خراب شول. د حیرتان اداره جنرال مومن (تاجک) ته سپارل شوې وه هغه هم د جمعه اڅک د اوامرو اطاعت نه کاوه، نو نجیب د دغه مؤمن پر ځای «ډګروال ستار بشرمل» حیرتان ته ولیږی، خو جنرال مومن هغه ونیوی او بندی یې کړ او بیا یې د حیرتان ګارنیزیون سنګر بندی کړ.

نجیب مومن ته امر وکړ چې کابل ته راشی، خو هغه جنرال دوستم ته مراجعه وکړه او دوستم هم وویل چې نجیب باید جمعه اڅک له مزار شریف څخه وباسي.

دا ځم د کارمل د زهرو لپاره ډیره ښه وسیله شوه او دوستم او مؤمن ته یې وویل چې مقاومت وکړي.

دا کودتا يوه مرحله وه. په دوهمه مرحله کې ډاکټر نجيب د دفاع وزارت مرستيال نبي عظيمي ته وويل چې مزار شريف ته ورشي، مومن او دوستم دواړه کابل ته راولي.

څرنګه چې جنرال نبي عظيمي هم د کارمل له ګروپ سره تړل شوی ؤ نو په مزار کې يې نور هم مومن او دوستم پر دې ټينګ کړل چې د جمهور رئيس په وړاندې مقاومت وکړي.

د ۱۹۹۲ کال له پيل څخه د شمال وضع مخ پر ورانېدو وه او کله چې د نبي عظيمي پښه رامنځته شوه، نو د عمومي سقوط احتمال او يقين ته نژدې شو.

ډاکټر نجيب د وطن د دفاع د شورا رئيس ارکان پخواني د دفاع وزير جنرال رفيع مزار شريف ته ورولېږه، څرنګه چې هلته پرچمي ستمي ګروپ کار کړی ؤ، نو رفيع ناکامه راغی او د شمال مرموزي ټولي چې دوستم او مومن يې په سر کې وه نجيب دا پيغام ور واستاوه.

- جنرال جمعه اڅک د شمال د اوپراتيفي ګروپ قوماندان به د وظيفې څخه برطرف او کابل ته راغوښتل شي.

- جنرال دوستم ته وظيفه ورکول کيږي چې د حيرتان څخه جنرال مؤمن کابل ته راولي چې د جمهور رئيس د عفو (بخښنې) مورد وګرځي.

د شمال له خوا نجيب ته دا پيغام واستول شو:

* جنرال تاج محمد چې د محر کينو څخه دی کابل ته دې وغوښتل شي.
* جنرال دوستم دې د شمال اوپراتيفي عمومي قوماندان وټاکل شي.
* په شمال کې دې نظامي کدرونه د جنرال دوستم له خوا او ملکي کدرونه دې د نجم الدين کاوياني، فريد مزدک، پيګير او محمود بريالي له خوا پيشنهاد او منظور شي.
* جنرال مومن دې وظيفې ته ادامه ورکړي.

دا د کودتا دوهمه مرحله وه او د کودتا غړي چې مخفي وو دلته يې ځيرې بربنډې شوې.

د دغو ستمي او پرچمي ډلې سره په هم هغو شيبو کې د احمدشاه مسعود اړيکې هم رسوا شوې، اوس و دا يو مکمل ګروپ ؤ چې د ببرک کارمل په فعاليت احمدشاه مسعود ته وربسته وسپارل شو. خو يوه پرزه يې چې جنرال نبي عظيمي تر اوسه لا مخفي او د جمهور رئيس د اعتماد څخه برخوردار ده ؤ. همدارنګه علوميان (جنرال نورالحق او جنرال عبدالحق) د کودتا د عمده غړو څخه وه.

په مقابل کې يو بې خاصيته ګروپ چې د کودتا د خنثی کولو وظيفه يې درلوده، وطنجار، لايق، پکتين، مانوکی منګل او اسدالله پيام وه چې نه يې د مبارزې منطق درلود او نه يې د عملي کار استعداد.

د فبروري په میاشت کې پر کابل د سقوط دوږ دوږ که څرخیدله او جمهور رئیس هم پوهېدلی ؤ چې د ستمي پرچمي جهت تفتین دومره ژور دی چې خنثی کیده یې چندان آسانه کار نه دی.

ډاکتر نجیب پر وکیل وزیر خارجه له دې کبله یو څه باور درلود چې هغه د کارمل سره مخالف ؤ، خو دا هم د نجیب یوه بله سهوه وه چې لکه پر نبي عظیمي چې یې باور کړی ؤ او وکیل په ډېره سپینه سترګی د کودتا د غړو سره ملګری شو.

نجیب د احمدشاه مسعود سره رابطه د عبدالحمید محتاط په وسیله قایمه کړه، خو محتاط چې په هر ځل د نجیب د پیغام له پاره مسعود ته ورتلی هلته به یې هغه ته د کابل د عمومي اوضاع په باب د جاسوس په توګه اطلاعات ورکول.

د ملګرو ملتو د سرمنشي فوق العاده نماینده بنین سیوان هم د نجیب او د هغه وخت په اصطلاح د اپوزیسیون ترمنځ تګ و راتګ کاوه، خو د پاکستان د صدراعظم نوازشریف تر نفوذ لاندې ؤ او د هغه د پلان سره سم یې کار کاوه، ځینې داسې خبرې هم کیدلې چې دد څه هم کولې.

د ملګرو ملتو یو غافلونکی پلان ؤ چې ملګری ملتونه په د دواړو طرفو څخه یوه شورا جوړوي او قدرت به د غې شورا ته انتقالیږي هغه به د پراخ بنسټیه حکومت زمینه مساعدوي، خو د مجاهدینو مشران په پېښور کې او د ستمي پرچمي جناح د کودتا ګروپ چې اوس یې رهبري احمدشاه مسعود کوله، په کابل او چهاریکار کې هر یوه کوښښ کاوه چې قدرت په لاس کې واخلي.

د شمال څخه د مسعود د قواوو راتګ کابل ته بیخي محقق ؤ، نجیب دد دې لپاره چې په کابل کې یوه تدافعي قوه واچوي د څلور الوتکو امر ورکړ چې د کندهار څخه د جبار قهرمان خلک کابل ته انتقال کړي، خو د کابل په ګارنیزیون کې چې نبي عظیمي ناست ؤ د هغه په پټ امر دا الوتکې مزار ته ولاړې او د هاخوا یې ازبک ملیشې چې د دوستم نفر وه کابل ته راوستل، دا د کودتا دریمه مرحله وه.

کودتا کوونکو د کابل میدان تر نظارت لاندې نیولی ؤ او د شپې ۹ بجې وې چې دوو الوتکو د مزار څخه ازبک ملیشې کابل ته ورسولې چې مجید روزي هم ورسره ؤ دا ملیشې باید چارآسیاب ته تللې وای، خو په چل او چم په میدان کې پاته شوه په همدغه شپه د امنیت وزیر یعقوبي په مرموزه توګه خودکشي وکړه. ډاکتر نجیب په ارګ کې تر نظارت لاندې ؤ او بنین سیوان معاون حسین اوغلی د ګارنیزیون قوماندان نبي عظیمي ته خبر ورکړ چې بنین سیوان د شپې کابل ته رسیږي.

د ۱۹۹۲ کال شپه وه چې د ملګرو ملتو یوه کوچنۍ الوتکه د کابل پر میدان کښېنستله او یو ساعت وروسته درې فلکس واګون موټران د میدان سره نژدې په سه راهي کې محافظینو ودراوه او د میدان د ګارنیزیون قوماندان ستار نورستاني، نبي عظیمي ته خبر ورکړ چې دد غو درو موټرانو

څخه په یو دکې ډاکتر نجیب، احمدزی، توخي او جفسر ناست دی او غواړي ترمینل ته داخل شي.

نبي عظیمي ځواب ته ورکوی، پس له نیم ساعت څخه بیا ودده ته ټیلفون کیږی چې موټران بیر ته ښار ته ولاړل.

کودتاچیانو غوښتل نجیب ونیسي، خو هغه ولاړ د ملګرو ملتو په دفتر کې یې پناه واخیستله.

په دې توګه د نجیب ریاست جمهوری پای ته ورسیده او هغه رژیم چې د ۱۹۷۸ د اپریل په ۲۷ رامنځته شوی ؤ له منځه ولاړ او پر کابل د تنظیمی حکومتونو سیوری راخپور شو.

دا یو ډیره مولنا ک کودتا وه او د احمدشاه مسعود کمال دا ؤ چې هم یې نجیب د منځه ویوست، هم یې د کابل ستراتیژیک ځایونه ونیول، هم یې دوستم ته وښوله چې د قدرت مرجع دی دی.

ددې سقوط سره نه یوازې خلقی او پرچمی رژیم سقوط وکړ بلکې شوروی ته یې هم ټکانونه متوجه شول.

# یوویشتم فصل

## د تنظیمي حاکمیت دوره او ستونزې

### ۱ - د قدرت خلاء او د کابل سقوط:

په کابل کې د نجیب د سقوط او د تنظیمونو د حاکمیت سره د قدرت خلاء کومه تصادفي پېښه نه وه، بلکې ټاکلي عوامل یې درلودل او د یوه پروګرام له مخې دا عملیه د خپلو هلوناکو نتایجو سره منځته راغله.

د ۱۹۹۲ په لومړي او دوهمه میاشت کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو خاص استازې بنین سیوان پر له پسې پاکستان، ایران، کابل، مزار شریف او شا و خوا ته په حرکت کې ؤ او د عمومي وضع تضعیف یې داسې وکړ چې د نجیب له تګ سره باید یوه خلاء رامنځته شي. بنین سیوان دانسته دا کار وکړ دا چې هدف او هدایت څه ؤ څوک نشي پوهېدای، خو زیاتره وایي چې نوازشریف هغه ته یو څه ورکړي وو، ولې دا یوه ساده نتیجه ګیري ده بنایي تر پاکستان پورته دا طرح شوې وي.

دوهم نجیب د بنین سیوان سره تر کتنو وروسته پخپله په لوی لاس د افغانستان اردو دړې وړې کړه، ده د افسرانو په یوه لویه غونډه کې چې وزیر دفاع هم حاضر ؤ یوه ډېره خرابه وینا وکړه وروسته

یې د وزیر دفاع سره په غیبړ او د افسرانو سره د لاس پورته کولو په وسیله خدای په امانی وکړ داو اردو ته یې پیغام صادر کړ چې زه ولاړم دا ستاسې کار دی چې وطن څرنګه ساتئ. دا پیغام وطن ته د ملي خیانت په منزلت کې یو کار ؤ.

دریم د تنظیمونو مشرانو بې له یوې قبلي تیاری پر کابل مخه راونیوله او دلته لومړی اور د حزب اسلامي (ګلبدین حکمتیار) او د جمعیت اسلامي (رباني) د مسعود او جنبش ملي شمال د دوستم په وسیله بل شو چې د ښار او خلکو زیاته برخه پکښې مکوټ شوه.

د مسعود، دوستم او ګلبدین د قوتونو له داخلېدو سره د دولت او خلکو د مالونو او کورونو لوټمار پیل شو او امنیت او مصؤنیت یو مخیز له منځه ولاړ.

په دې توګه د قدرت خلا، خوله ولګوله او کابل په ډېر بد شکل سقوط وکړ. متضاد قوتونو له هرې خوا پر کابل راټغستل او کابل د تصادمونو مرکز ؤ.

د ښار لویدیځ ته د هزاره ګانو حزب وحدت، شمال ته د مسعود او دوستم قوتونه، ختیځ او جنوب ته د حزب اسلامي ګلبدین حکمتیار ملیشو په درنو وسلو، یعنې توپونو او ټانکونو یو پر بل حملې پیل کړې او په منځ کې یې د کابل زخمي ښار پر له تاویده، په دې توګه خلای قدرت او سقوط یو ځای پر کابل مسلط شول.

## ۲ - د پېښور ناقصه موافقتنامه:

کله چې په کابل کې د نجیب د دستګاه ونړیده او د ګوند رهبران نیم د ګلبدین حکمتیار او نیم احمدشاه مسعود غیبړې ته ورولویدل او عملاً یو د قدرت خلا، رامنځته شوه، نو په پېښور کې د تنظیمونو مشران چې له پخوا څخه یو د بل په مخالفت ولاړ وو کابل ته یې د راتګ قاطع تصمیم نشوای نیولای. ټولو د پاکستان د صدراعظم نوازشریف هدایت ته کتل، څو د هغه په دیکته د اتحاد اسلامي د تنظیم مشر عبدالرب رسول سیاف په مشرۍ په ګورنر هاوس پېښور کې په ډېر تلوار د ۱۹۹۲ کال د اپریل په ۲٤ ، نیمه شپه دا لاندې موافقتنامه لاسلیک شوه چې د پېښور د موافقتنامې په نامه شهرت لرې او همدغه موافقتنامه وه چې ټول یې د ټولو په وړاندې ودرول او افغانستان یې د اور او وینو په سیند لاهو کړ. د موافقتنامې متن:

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله والصلوة والسلام علی سیدنا رسول الله و علی آله و صحبه و من یهدیه اهتدی.

د افغانستان د اسلامي دولت د مؤقتې دورې تشکیل او پروسه په لاندې ډول جوړه شوه:

۱- پریکړه وشوه چې د حضرت صاحب صبغت الله مجددی تر مشرۍ لاندې دې یو پنځوس کسیزه

هیأت داخل د افغانستان ته ولاړ شي، ترڅو ددو میاشتو په موده کې د کابل د موجوده واکدارانو څخه قدرت په پوره ډول بې له قید او شرطه تر لاسه کړي او ددې هیأت مشر به په همدې د دو میاشتو کې د دولت د ریاست ممثل هم وي. دغه هیأت به ددغې مودې څخه وروسته د عبوري دولت تر اړخه د اسلامي مؤقتي شورا په حیث پاتې کیږي او ریاست به یې د حضرت صاحب په غاړه وي، ددې شورا موده به هم څلور میاشتې وي.

۲- پریکړه وشوه چې استاد رباني دې د څلورو میاشتو لپاره د افغانستان د اسلامي مؤقت دولت د رئیس او د رهبري شورا د مشر په حیث وي، دی به خپل کار رسماً هلته شروع کوي چې د قدرت د انتقال دوې میاشتې پوره شوې وي.

۳- دا پورته موده یو ورځ هم نه تمدیدیږي.

٤- د صدارت مقام او د کابینې نور غړي به د تنظیمونو د مشرانو پرته ددغو تنظیمونو ددوهم درجه غړو څخه ټاکل کیږي.

۵- د صدارت مقام د افغانستان اسلامي حزب ته ورکړه شو.

٦- د صدارت معاونیت او داخله وزارت د افغانستان اسلامي اتحاد ته.

۷- د صدارت معاونیت او د معارف وزارت د مولوي خالص حزب ته.

۸- د صدارت معاونیت او خارجه وزارت د محاذ اسلامي گوند ته ورکړ شو.

۹- ددفاع وزارت د افغانستان اسلامي جمعیت ته ورکړ شو.

۱۰- ستره محکمه د حرکت انقلاب اسلامي تنظیم ته ورکړه شوه.

او دا پریکړه هم وشوه چې شورای رهبري به علاوه پر تقسیماتو او تعیناتو د نورو د پاره وزارتونه تثبیتوي، ددې ټولې پروسې عمر شپږ میاشتې دی او په دې ترڅ کې به د راتلونکي حکومت لپاره متفق علیه شورا تصمیم نیسي، د هغه انتقال عمر دوه کاله وي.

لاسلیکونه:
مولوي محمد نبي محمدي
صبغت الله مجددي
عبدالرب رسول سیاف
قطب الدین هلال (د حزب اسلامي گلبدین څخه)
پروفیسور برهان الدین رباني
مولوي محمد یونس خالص
پیر سید احمد گیلاني [۱]

(۱) عبدالحمید مبارز، از سقوط سلطنت تا ظهور طالبان، چاپ پیښور، حمل ۱۳۷٦، ۱٤۲، ۱٤۳ مخونه.

دا یوه ناقصه موافقتنامه وه چې حتی پخپله د تنظیمونو مشرانو هم پر هغه انتقادونه کول او حضرت صبغت الله مجددی خود خپل دوه میاشتنی حاکمیت په وخت کې برآلا ناري وهلې چې حتی ما د هغې اصل متن لوستلی نه ؤ او په عجله یې راباندې لاسلیک کړ. ښاغلی مجددی وویل زما سره استاد سیاف وعده کړې وه چې دا متن به رابنکاره کړی، خو خپله وعده یې ایفا نکړه.

او س نو قضاوت کبری چې د اسلامی افغانستان لومړی جهادی مشر او د دولت مثل چې د یوه نوی رژیم لومړی خښتی ایږدی هغه سند یې هم نه وي لوستی چې د هغه په اثر دی مشری ته رسیدلی دی.

د بلې خوا دا د مقامونو تقسیم پخپله د تنظیمونو تر منځ د نقاضت زیږی کیښبنوول ، لکه چې د دولت لومړی مثل لا پایتخت ته نه ؤ رسیدلی چې د حکمتیار، مسعود او دوستم قوتونو یو پر بل وسله وال برغلونه پیل کړل او ترمنځ یې د کابل بې دفاع خلک په اور او وینو کې لاهو کړل.

دا موافقتنامه د یوې ډېرې بدې انارشستي اداري بنستیونه کښیښبنول چې بیا تر اوسه هم یوه سالمه اداره هم منځ ته نه ده راغلې.

د دولت مثل حضرت صاحب د جګړې په لمبو کې کابل ته رانووت او دومره مصونیت یې نه درلود چې حتی د یوه سفر څخه د راتګ پر وخت یې الوتکه په راکټ وویشتل شوه، خو دی روغ پاته شو. دا ټوله د پېښور ددې بدې موافقتنامې اغیزې وې.

## ۳- مجاهدینو ته د قدرت انتقال او د مجددي د حکومت پیل :

د ۱۹۹۲ کال د اپریل په ۲۵، ۲٦ او ۲۷ د مسعود ګلبدین او دوستم له دروند جنګ سره همزمان د پېښور د موافقتنامې سره سم حضرت صبغت الله مجددي د اپریل د ۲۷ ورځې په ماښام د یوه اوږد کاروان سره په طنطنو کابل ته راورسید د کاروان خلکو د الله اکبر نارې وهلې او د سپکو او درنو وسلو په اصطلاح شادیانه ډزې یې کولې.

په سبا د ورځې پر پنځه بجې د خارجه وزارت د ستوري په مانۍ کې د قدرت د انتقال مراسم په داسې حال کې پر ځای شول چې هلته د پخوانی د جمهور رئیس مرستیالان، پخوانی صدراعظم فضل الحق خالقیار، د کابینې غړی د شورا د دواړو مجلسو رئیسان، ځینی د ګوند د مرکزی کمیټې غړی یو شمیر جنرالان او افسران حاضر وو.

په لومړی سر کې ډاکتر عبدالواحد سرابی د پخوانی جمهور رئیس مرستیال او خالقیار صدراعظم لنډې وینا وې وکړې او د جهادی شورا د رئیس او د اسلامی دولت د لومړی مثل په حیث یې حضرت صبغت الله مجددی ته مبارکی وویله.

وروسته پخپله حضرت صاحب یوه مفصله وینا وکړه، دده نوی نظام مبارکی د ټول هیواد خلکو ته وویله او عمومی بخښنه یې اعلان کړه او وې ویل باید ټول خلک کینه او خوابدی هیرې کړې او هغه چې د خطا او اشتباه مرتکب شوی باید د رب العزت درګاه ته توبه وباسی، نور د جنګ وخت نه دی د وطن د آبادی وخت رارسیدلی دی، بیا د حضرت سره خارجی خبریکونکو مرکه وکړه چې حضرت په انګریزی ځوابونه ورکول او دا مراسم ټول په راډیو او تلویزیون کې خپاره شول.

دا وخت چې حضرت صاحب د صلح اعلانونه کول جنګ په شدت روان ؤ، حضرت د امن او امان خبرې کولې، خو لوټماری چالانه ؤ. پخوانی صدراعظم خالقیار چې د وزارت خارجې څخه په موټر کې راووت د وزارت خارجې په مخ کې د مسعود خلکو له موټر څخه ښکته کړ او دده موټر یې وتښتاوه، خالقیار په پښو روان ؤ، ځو یو نظامی افسر په موټر کې ورسره واخیست. ماښام خالقیار د مسعود یوه قوماندان باباجلندر له خوا برمته شو او پیسې یې غوښتې، ځو ځینو افسرانو راخلاص کړ.

حضرت صبغت الله مجددی د اپریل په ۲۸ رسماً په کار پیل وکړ او ډیرې ویناوې او مرکې یې کولې، د جمعې په ورځ یې په پل خشتی جمات کې لمونځ ورکاوه او یوه ډیره مفصله او اوږده خطبه یې ویله. دده اسلامی نظام ارزښتونه د ډیرو مثالونو سره توضیح کول، خو متأسفانه چې تر دغه جمات د باندې پرسم سرک د خلکو څخه کالی کښل کیدل.

د حضرت صاحب شرافت دا ؤ چې پر دا ټولو فجایعو یې اعتراف کاوه او له دې څخه یې شکایت درلود چې د تنظیمونو مشران دده سره صادقانه همکاری نه کوی.

حضرت صاحب د خلکو سره نژدې شو ،ددوی د مړی ناروغه او احتیاج په برخه کې یې خپله مرستې جاری ساتلې.

## ٤ - د حضرت صاحب کابینه:

حضرت صاحب چې د اسلامی دولت د ممثل په حیث په کار رپیل وکړ نو لومړی کار یې د کابینې اعلان ؤ، دا یوه دومره پراخه کابینه وه چې د افغانستان تاریخ پخوا نه وه لیدلی، خو دا کابینه نه د کوم قانون په اساس وه نه د کوم دستورالعمل تابع وه، خو تنظیمی، شخصی او حتی د کورنی اړیکې لا هم پکښې مراعات شوې وو.

وزیران په دې توګه وو:

حمیدالله د مالیې وزیر

حکم بیګ د ښارونو د جوړښت وزیر

رحمت الله د راستنیدونکو وزیر

حاجی سلیمان د ارزاق وزیر
نجیب الله مجددي د عامې روغتيا وزير
عبدالمنان د اجتماعي چارو وزیر
شهباز احمدزی د سوداګرۍ وزیر
قاسم وزیر لوی څارنوال
جنرال محمد یحیی نوروز د امنیت وزیر
یاسر د فواید عامې وزیر
فاروق د اوبو او برېښنا وزیر
سید سلیمان ګیلانی خارجه وزیر
موسی توانا د عالي او مسلکی تحصیلاتو وزیر
عبدالاحد کرزی د سرحداتو وزیر
هادی د کلیو د بیا ودانولو وزیر
انجنیر اکرم د مخابراتو وزیر
ارسلان د اوقاف وزیر
قوماندان محمد موسی د کابل والی د وزیر په رتبه
مولوی عبدالکریم د ښاروالی وزیر
عبدالحق د ژاندارم او پولیسو قوماندان
ډاکتر ذبیح الله مجددی د عالي او مسلکی تحصیلاتو د وزارت معین
ګلبدین د مالیې د وزارت معین
مولوی واثق د اطلاعاتو او کلتور د وزارت معین
نعیم کوچی د سرحداتو د وزارت معین
جلیل شمس د خارجه وزارت معین
سیداسحق ګیلانی د غذایی موادو د اداري معاون

دا معینان هم ټول د وزیرانو په رتبه وو او ځینو لا پر دې جنګ هم کاوه که به چا وزیر ورته ونه وایه، چې ډیر ښه مثال یې واثق ؤ.

دا مبالغه نه ده چې د غو وزیرانو یو له بله نه سره پیژندل او د کابینې داسې غونډه چې ټول وزیران پکښې حاضر وی نشوه دایره ځکه ده ونه زیاتو خلکو راټولول هم آسانه کار نه ؤ.

حضرت صاحب ډیره مینه درلوده چې خلک آرام واوسی خو د ګلبدین - مسعود او دوستم جنګ دې پخپله هم آرام نه پریښود.

## ۵- حضرت مجددي د یو لوی بحران په غیږ کې:

د افغانستان د اسلامي دولت د لومړي مُمثل حضرت صبغت الله مجددي تر راتګ چې درې ورځې مخ کې د مسعود ګلبدین او دوستم د قوتو تر منځ جنګ پیل شوی ؤ ، دا د په دوه میاشتنۍ دوره کې پر له پسې جاري ؤ.

د کابل امنیت کاملاً وران ؤ او حضرت پیوسته مسعود ته چې د دفاع وزیر مقرر شوی او د کابل امنیت هم ورته حواله شوی ؤ ، پیغامونه ورلیږل چې کابل ته راشي او خپل وظایف اجرا کړي ، خو مسعود د شمال پلانونه طرح کول، څو د اپریل په اخیر کې په ډېر دطنطنه کابل ته راورسید ، دا د په بدرګه د الله اکبر نارې وې او د درنو او سپکو وسلو فیرونه کیدل او یو محشر ؤ چې د کابل پر فضا خپور شو. دا د ته پرچمي غټو صاحب منصبانو هر کلي ووایه. آصف دلاور ، سید اعظم سعید ، نورالحق علومي ، عبدالحق علومي ، فتاح ، امیر محمد ، داود ، عزیزي او نور د پرچم غړو دروند احترام ورته پر ځای کړ او جنرال امیر محمد خو دا د د راتګ په شپه د جمعیت کارتونه پر نورو افسرانو ویشل چې د جمعیت د تنظیم د غړیتوب افتخار ورته وګټي.

مسعود هم د پرچم غړي ورسره ګرځول، لکه جنرال مؤمن ، جنرال بابه جان ، جنرال حسام الدین او نور او په دې توګه معلومه شوه چې جمعیت د پرچم سره په غښتلې ساخت و بافت کې دی. مسعود په دې اول راتګ کې خپله پاملرنه فقط د ګلبدین حکمتیار سره جنګ ته واړوله او د حضرت لاربنوونو ته یې په تېوکو او ملنډو کتل.

د مې په پنځمه برهان الدین رباني کابل ته راغی چې دا د سره هم یو غټ کاروان ؤ چې عبدالرب رسول سیاف ، محمد نبي محمدي او محمد آصف محسني هم ملګري وو او د پېښور د موافقتنامې خلاف یې یې وخته (قیادي شورا) تأسیس کړ چې په هغه کې پخپله رباني مشر او آیت الله محسني یې منشي مقرر شول. قیادي شورا په کار پیل وکړ ، حضرت صبغت الله مجددي چې هر څه نارې وهلې چا نه اوریدی او دا د د جهادي شورا فیصلې زیاتر د رباني د قیادي شورا له خوا نقضیدې.

رباني د رهبري شورا په لومړي غونډه کې حزب وطن (پخواني د خلق د موکراتیک ګوند) منحل اعلان کړ او د ډاکتر نجیب الله ، ببرک کارمل او ځینو نورو ګوندي کدرونو د محاکمه کولو د تصمیم خبر یې خپور کړ. په دې فیصله کې د وطن ګوند دارایي په دولت پورې اړه پیدا کړه ، په فیصله کې د اختصاصي محکمې د جوړښت لپاره هم د اسلامي دولت تصمیم اعلان شو چې د ګوند

هغه غړي چې د مجاهدینو پر ضد په خیانت او جنایت متهم دي حق العبد بیرته ورکړي او هغه عفو چې جهادي شورا اعلان کړي و د هغه د حق الله په برخه کې دده، همدارنګه ښځې باید اسلامي حجاب مراعات کړي او دا د جهادي شورا سر د قیادي شورا ټکر یو لوی بحران راوزیږاوه.

دا بحران چې پخپله تنظیمونو د حضرت په وړاندې پراخاوه وروسته د حضرت اداره دوه مرده بې واکه شوه چې دده د سوداګرۍ وزیر شهباز احمدزی او د امنیت وزیر یحیی نوروز چې وزارتونه یې د هزاره ؤ د نفوذ په سیمه کې وو، کله چې د لومړي ځل لپاره د دفتر ته تله هزارګانو ونیول ویې ډبول او د وزارت دروازې یې ددوی پر مخ بندې کړې.

دا یو عجیب بحران ؤ، د غه تنظیمونه چې یو د بل پر ضد په مسلح جنګ سر داخته وو په ځینو مواردو کې به یې یو د بل مراعاتونه کول.

لکه چې ګلبدین د مسعود سره چې د جمعیت قوماندان ؤ په جنګ ؤ خو کله چې د جمعیت رهبر رباني کابل ته راتلی او بیا یې قیادي شورا جوړوله، ګلبدین درې ورځې جنګ بند کړ.

خو درې ورځې وروسته د ګلبدین او مسعود تر منځ بیا هم جنګ پیل شو، نو د هوایي ډګر څخه د بی بی مهرو تر غونډیو وزیر اکبرخان ارګ د پښتونستان څلور لارې دارالامان پورې د جنګ لمن خپره شوه او مسعود هم د ټلویزیون پر غره (آسمایي) وخوت او له هغه ځایه یې کابل د راکټ او توپ تر ګزار لاندې ونیو او په دې ورغ په زرګونو خلک مړه او کورونه وران شول.

ګلبدین پر حضرت الزام اچاوه چې د کافر کمونیست دوستم او د هغه ملیشې د کابل نه باسي او مسعود چې د تیر نظام د کمونیستو افسرانو لاس ورکړی حضرت یې حمایه کوي، نو حضرت باید استعفا وکړي.

حضرت د ځان د ساتنې لپاره د مې په ۲۲ مزار شریف ته یو سفر وکړ او هلته و دده ته دوستم ډیر تود هرکلی ووایه، حضرت په یوه لویه غونډه کې دوستم ته د ستر جنرالۍ رتبه ورکړه او د یوه ستر مجاهد خطاب یې ورته وکړ او د یو صحابه نوم یې پر کښینبود.

د حضرت دا عمل لوی عکس العملونه پیدا کړل، ددې لپاره چې دا قضیه ډیرې رسوایی ته ونه رسیږي نوازشریف د پاکستان د پخواني جمهور رئیس جنرال ضیاء الحق زوی اعجاز الحق او د آی ایس آی پخواني رئیس جنرال حمید ګل کابل ته راولیږل او هغو د مجاهدینو مشران راوغوښتل او د بحران د وضع لپاره یې ددوی ترمنځ د جوړې کارته اقدام وکړ.

په همدغه ځای کې د پلچرخي د غونډې او یوې موافقتنامې د عقد زمینه برابره شوه، دا غونډه که څه هم په ډیر شدت جوړه شوه، خو د یوې مسکینې دوا حکم یې درلود او کله چې پای ته ورسیده د شاملینو د اودسونو او به لا نه وې وچې شوې چې بیا درنې وسلې په غړمبا شوې او د کابل د بې دفاع خلکو په قتل لاس پورې شو.

ACKU

## ٦- د پلچرخی موافقتنامه:

د گلبدین حکمتیار او مسعود ترمنځ اختلاف او شدیدو جنگونو هر اړخیز نشویشونه پیدا کړل، مخصوصاً پاکستان د وضع څخه ډیر پریشانه شو، نو نوازشریف خپل نمایندگان اعجاز الحق او جنرال حمیدگل راولیږل او هغو د تنظیمونو مشرانو په گډون په پلچرخي کې یو د غونډه جوړه کړه چې هغې ته د اسلامي دولت ممثل حضرت صاحب نه ؤ ورغلی. د موافقتنامې اصل متن:

بسم الله الرحمن الرحیم

بعون و یاری الله تعالی مونږ پر لاندې مواردو توافق وکړ:

۱- د جنگ پریښخی او دایمی قطع او د شمال له مسلح قوتونو څخه د کابل پر خالی کولو موافقه وکړه، د جنگ د دایمی قطع او د کابل د تخلیې د زمان په باب په قیادی شورا او د مصالحې هیأت د لازمو تضمینونو سره تصمیم ونیسی.

۲- د انتخاباتو د تعیین او د کیفیت د څرنگه والی او د هغو د کیدلو د ثابت وخت په باب په گډ کمیسیون توظیف کیږی چې د یوې هفتې په دوران کې خپل تصمیم اعلان کړی.

۳- طرفین به جدی کوښښ کوی چې د انتقال د دورې د خاتمې وراندې انتخابات برگزار شی، د انتخاباتو د معطلی په رابطه چې د غیر مترقبه پیښو یا نامساعدو شرایطو څخه منځ ته راځی دواړه طرفه به په موافقه تصمیم نیسی.

۵- د قدرت د انتقال دوره هم هغه دوې میاشتی دی چې په موافقتنامه کې تثبیت شوی دی هیڅ تمدید کیدای نشی.

٦- د کابل د ښار امنیت د ټولو احزابو له خوا د داخله وزارت په چوکاټ کې تأمین کیدای شی.

۷- د نورو قضایاو په باب د طرفینو خبرې ادامه لری.

۸- انتخابات باید ډیر ژر د اوسنی موقت مرحلې په پای کې په داسې توگه سرته ورسیږي چې خلای قدرت منځ ته رانشي. والله مانقول کریم

د گلبدین حکمتیار لاسلیک　　　　داحمدشاه مسعود لاسلیک

دوشنبه ٤ جوزا ۱۳۷۱ (۲۵ می ۱۹۹۲)

ددې موافقتنامې په اساس د مصالحې کمیسیون وټاکل شو چې مشر یې احمدشاه مسعود ؤ، غړی یې جنرال یحیی نوروز، جنرال رحیم وردک، ډاکتر نجیب الله مجددی، حاجی شیرعلم، مولوی شفیع الله، قوماندان انور ډنگر، قوماندان عبدالحق، جنرال مؤمن او جنرال حسام الدین وو.

تنظیمونو دا پریکړې ډیرې سرې استقبال کړې او د جنګ طرفونو د اکمالاتو تر پورد کولو پورې د هغې فیصلې ومنلې او وروسته د حزب اسلامي او شورای نظار، او د حزب وحدت او اتحاد اسلامي ترمنځ داسې یو خونړی جنګ خوله ولګوله چې بیا یې هم د کابل ښار او بې دفاع خلک په اور او وینو کې ولغړول.

## ۷- پاکستان ته د حضرت سفر او الوتکه یې په راکټ ویشتل:

حضرت چې د یو دخونړي بحران په غبر کې راګیر ؤ، بیا هم د امید سترګې پاکستان ته نیولې وې. د د د مې په ۲۶ یو غیر رسمي سفر اسلام آباد ته وکړ او هلته نواز شریف او نورو دولتي رجالو ډیر تود هرکلی ورته ووایه او د توپونو ډزې یې ورته وکړې. حضرت صاحب ته پاکستان داډ ورکړ چې آینده چارې به دد د له طبیعت سره برابرې په سر ورسیږي او په دې ترڅ کې نواز شریف د لس ملیونو ډالرو چک حضرت ته ورکړ (دد غو پیسو د رک ورک شو داسې ویل کیږي چې دا پیسې حضرت خپل جیب ته واچولې، خو په هغه استیضاح کې چې په قیادي شورا کې له مسعود څخه وشو د هغه څخه دا پوښتنه شوې د د چې د وه ملیونه ډالره حضرت د بانک څخه ایستلي دي څه شوه؟ د دې څخه معلومیږي چې حضرت دا پیسې بانک ته سپارلي بیا یې دوه ملیونه ځانته اخیستي دي.)

د مې په ۲۹ چې د حضرت د سپرلۍ الوتکه له اسلام آباد څخه د کابل فضا ته داخله شوه نو د کابل د هوایي ډګر پر سر په راکټ وویشتل شوه، د الوتکې پزه په هوا شوه خو پیلوټ په ډیره چالاکۍ الوتکه پر میدان کښینوله او حضرت صاحب روغ راووت، خو سخت ګنګس ؤ.

په تبلیغاتو کې دا راکټ پر ګلبدین حکمتیار تاوان شو، خو خبره یو څه ژوره وه. جهادي شورا د قاضي امین ورد ک تر مشرۍ لاندې د دغې پیښې د درک معلومولو لپاره د تحقیق یو هیأت وټاکه، خو هغه څو وختونه وروسته په خاموشۍ له دغه کاره لاس وکیښ او قاضي امین ورد ک ماته (د دې کرښو لیکوال ته) خصوصي په تاکید وویل چې چا ته و نه وایم چې دا ګزار د جمعیت او شورای نظار له خوا د مسعود په هدایت شوی ؤ.

حضرت صاحب به پخوا کله کله داسې یو د قلقله کوله چې په خلفای راشدین کې کوم یو د زمان په قید توظیف شوی ؤ، یعنې زه هم باید تر مرګه امیر یا ټټل واوسم، خو د الوتکې تر دغې واقعې وروسته د حضرت هم زړه نور وشکیدی او په توندو ویناو کې به یې ویل چې که ماته په زور سره هم وویل شي یو ساعت به تر خپل وخت زیات پاته نشم، ځکه د دې وړی څخه شپږ نه جوړیږي او دا تنظیمونه فقط د جیبو ډ کولو لپاره راغلي دي، پر دې وطن او د وطن پر خلکو یې یو ذره هم زړه نه سوزیږي

## ۸- د حضرت د دوه میاشتنی حاکمیت خاتمه او دده ګیلې:

حضرت صبغت الله مجددي د افغانستان د اسلامي دولت مُثل چې د دوو میاشتو لپاره مؤظف شوی ؤ او بیا یې زړه نه غوښتل چوکۍ خوشې کړي د تنظیمونو رهبرانو له رباني څخه تر وروستي تنظیمي مشر پورې ده ته شدید اخطارونه او التیماتومونه ورکړل او حتی په دې تهدید شو چې په ارګ کې به په راکټونو چختار شي، نو د جون په ۲۸ یې قدرت په داسې حال کې قیادي شورا ته تسلیم کړ چې ټول تنظیمي مشران او نور میلمانه حاضر وو او شورا قدرت استاد رباني ته تفویض کړ.

حضرت چې د یرې جفاوې ور سره شوي وې او زړه یې سخت ډک ؤ د قدرت د تسلیمي په غونډه کې یوه مفصله او شدیده وینا وکړه او ټوله تنظیمونه یې په خپل وړاندې په توطیه محکوم کړه، دده په سر کې د خپل کار د دوه میاشتنی راپور قرائت کړ چې په هغه کې هیڅ نه وه، صرف د پاکستان د نقدي مرستې او د پنځوس زره ټنه د غلې د وعدې یادونه یې وکړه، نور نو یو څه اضافي خبرې وې چې هغو حقیقت هسم نه درلود.

حضرت د مسعود او ګلبدین د جنګونو څخه د کابل د خلکو پر قتل و قتال یو څه اوښکې توی کړې، خو د رباني او قیادي شورا د ځینو غړو غیر مشروع حرکتونه یې وغندل او وې ویل ما د اسلامي دولت د مشر په حیث عمومي عفو اعلان کړه، خو رباني او قیادي شورا د اختصاصي محکمې د جوړیدو امر صادر کړ چې لوی تشویش یې پورته کړ. دده وویل وزیر دفاع تر پایه خپلو وظایفو ته نه حاضریدی او د امنیت وظایف چې هم ورمحول شوي وو همداسې پاتې وه.

حضرت وویل زما پر الوتکه چې د پاکستان څخه راتلم په هوا کې راکټ وموښت، خو زه ژوندی پاتې شوم، ولې د موضوع د تحقیق لپاره وزیر دفاع هیڅ اقدام ونه کړ.

زما په وړاندې د یرې کارشکنۍ او سبوتاژونه روان وو او د هرې خوا فشارونه رابانديې راتلل خو هیڅ یو د همکارۍ لاس نه را اوږداوه.

دده وویل زما او زما د حکومت د اجراآتو خبرونه په راډیو کې د وزیر دفاع په امر سانسوریدل او حتی د نشره پاتیدل.

د حزب وحدت او اتحاد اسلامي ترمنځ په جګړه کې وزیر دفاع په بې طرفی د جنګ د بندولو کوښښ ونه کړ، بلکې عملاً یې د اتحاد اسلامي پلوی وکړه.

حضرت صاحب په عصبیت روان شو، خدای په اماني یې و نه کړه، د ارګ په دروازه کې دده دوې لارۍ چې د ارګ په نفیسو سامانو بار وې د مسعود په امر راوګرځول شوې او حضرت صاحب

په یوه موټر کې چې دوو نورو بدرګه کاوه پاکستان ته ولاړ او هلته یې د رباني او نورو رهبرانو د جفاؤ طومارونه خپاره کړل، خو خلکو بالنسبه تر نورو جهادي رهبرانو دي د نرم زړه خاوند سړی باله او د ورځې په تیریدو یې قدر زیاتیده.

## ۹- حضرت صبغت الله مجددي څوک ؤ؟

صبغت الله مجددي د حضرت شاه معصوم (معروف په میاجان آغا) زوی او د حضرت فضل عمر مجددي (معروف په شمس العلما) لمسی ؤ چې په کال ۱۹۲۸ په کابل کې زیږیدلی او یوې لویې او مشهورې روحاني کورنۍ ته منسوب ؤ.

د ابتدایي دیني تعلیمات په خپله کورنۍ کې وکړل او نور د ښوونځی زدکړه یې هغه مهال چې پلار یې په کندهار او هرات کې ؤ د کندهار د احمدشاه بابا په لیسه او د هرات په لیسه کې وکړه او د غه لړی یې په حبیبیه کې پای ته ورسوله.

څرنګه چې ده د پلار تره حضرت محمد صادق مجددي په مصر کې سفیر ؤ، نو مصر ته ورغی او هلته یې د مصر په معروف پوهنتون الازهر کې هم تعلیم وکړ او ماستري یې واخیستله.

په ۱۹۵۳ کې چې فارغ شو، نو کابل ته راغی او په هغه رابطه چې په مصر کې یې د اخوان المسلمین د ډلې سره پیدا کړې وه په کابل پوهنتون کې د استادی په وخت کې یو څه فعالیت وکړ، خو د وخت اداري دی له پوهنتونه ویوست او په حبیبیه لیسه کې د تفسیر استاد شو.

په ۱۹۵۹ کې کابل ته د شوروی رهبرانو خروسچف او بلګانین د راتګ سره د مخالفت په تور ونیول شو او زندان ته واچول شو، صبغت الله تر دې پخوا په مصر کې هم د اخواني فعالیت په تور د جمال عبدالناصر د حکومت له خوا بندي شوی ؤ.

په شپیتمو کلونو کې چې له زندانه راووت، نو ژر له وطنه ووت امریکا ته ولاړ او له هغه ځایه ډنمارک ته ولاړ او هلته د اسلامي تحقیقاتو د مرکز ریاست ورو سپارل شو، دا یوه خاصه امریکایي موسسه وه چې په اسلامي هیوادونو کې یې فعالیتونه کول.

په ۱۹۷۸ کې چې په افغانستان د ثور د (۷) کودتا وشوه او بیا د شوروی قواوې افغانستان ته راننوتې، نو د جهاد او د شوروي او په کابل کې د شوروی د لاس پوڅی رژیم پر ضد فعالیتونه پیل شول، صبغت الله مجددي هم پاکستان ته راغی او دلته یې د نجات ملي تنظیم جوړ کړ چې په ټولو تنظیمونو کې وړوکی ؤ، خو د حضرت نوم ډیر غټ ؤ.

حضرت مجددي په اتیایمو کلونو کې په پاکستان کې د افغانستان د مؤقت حکومت د رئیس په حیث انتخاب شو او بیا چې کله شوروی قواوې ووتلې او کابل کې د پیښور د موافقتنامې ل

مخې حکومت منځته راغی حضرت صاحب ددوو میاشتو لپاره د اسلامي دولت د ممثل په توګه وټاکل شو، تر دغو دوو میاشتو وروسته حضرت صاحب په پاکستان یا امریکا کې اوسي.

صبغت الله مجددي په پنځو ژبو (عربي، دري، پښتو، انګلیسي او اردو) داسې لیکنه او وینا کوي لکه خپله مورنی ژبه چې یې وي.

ددې د کورنۍ خورا ډیر غړي او منسوبین چې تر سل یې عدد اوړي د امین په وخت کې وژل شوي دي، خو دی وایي چې زه د هغو انتقام نه اخلم او خدای دې مور ته صبر راکړي. حضرت اوس زوړ او ناروغه دی.

## ۱۰ - د قیادي شورا او برهان الدین رباني حاکمیت:

برهان الدین رباني د قیادي شورا مشر چې د حضرت دوې میاشتې حاکمیت یې په زور له هغه څخه ترلاسه کړ، خو حضرت نه دده ته، نه قیادي شورا ته قدرت پرېښود، بلکې خپلې جهادي شورا ته چې د پنځوسو غړو څخه متشکل وه، قدرت انتقال کړ او له جهادي شورا څخه عبدالرب رسول سیاف د شورا په نمایندګۍ قدرت قیادي شورا او برهان الدین رباني ته انتقال کړ.

تر دغو مراسمو یو هفته پخوا برهان الدین رباني سعودي عربستان ته سفر وکړ او د سعودي له باچا ملک فهد سره تر ملاقات وروسته کابل ته راغی.

رباني د جولای له اول څخه په کارو پیل وکړ او دده ته ګلبدین حکمتیار وعده ورکړې وه چې د پېښور د موافقتنامې سره سم به خپل نفر صدارت ته معرفي کړي.

حزب اسلامي عبدالصبور فرید چې اصلاً د کوهدامن او سیدونکی ؤ د صدراعظم په حیث معرفي کړ.

فرید په هغه میلمستیا کې چې د رباني له خوا د دلکشا په ماڼۍ کې ورته شوې وه او ننداره یې خلکو په تلویزیون کې وکړه په یوه وینا کې وویل چې مکتبي اسلام باید جاري شي، مکتبي اسلام د اخوان المسلمین شعار ؤ.

دلته دغې خبرې ته غوږونه برګ شول او تر هر چا وړاندې احمدشاه مسعود چې د فرید سره یې سیالي کوله عکس العمل وښود.

رباني، صبور فرید ته هیڅ موقع نه ورکوله او هغه یې له دې چې په صدارت کې پر څوکۍ کښیني او د کوټې مچان حساب کړي بل یې هیڅ کار نه درلود.

په همدغه وخت کې د حزب وحدت (هزاره) او اتحاد اسلامي (سیاف) تر منځ داسې شدیده جګړه وشوه چې د سیلو مخ ته پر سړک د انسانانو مړي پرېوتل. حزب وحدت میرویس میدان،

څلورمه کارته او دریمه کارته او د هغې کورونه لوټ کړل او خلک یې یا مړه یا وشړل او نور دا سیمه د هزاره ګانو شوه.

د اګست په ۹ د حزب اسلامی (ګلبدین) او مسعود تر منځ یو داسې خونړی جنګ وشو چې په هغه کې شاه شهید، نوې کارته او بګرامی پاک وسوځل شوه او د مسعود الوتکو د کابل د ښار جنوب بمبارې کړ چې هغه یې په یو د کنډواله بدل کړ.

دا جنګ روان ؤ چې د صدراعظم صبور فرید حوصله ورته بنده شوه او کابل ته تر راتګ یې یوه میاشت وروسته کابل پرېښود او په چارآسیاب کې ګلبدین ته ورغی.

د ربانی قیادی شورا هم په نامه وه، ربانی په خپله مرضا حاکمیت چلاوه او د کابل د تنظیمي جنګونو یو د اور او وینو کمربند راتاو شوی ؤ.

## ۱۱ - د اهل حل و عقد شورا:

د ربانی څلور میاشتنی حاکمیت د اکتوبر په ۳۰ سرته ورسیدی خو د هغه زړه نه ؤ چې قدرت خوشې کړی او پلمې یې نیولی او ویل یې چې زه د اهل حل و عقد و شورا ته قدرت انتقالوم، یعنې هر څوک چې هغې شورا وټاکه زه به قدرت ورتسلیم کړم. د ربانی څلور میاشتی د تنظیمی جنګونو په جریان کې تیری شوې او دده تر حاکمیت لاندې کابل څخه یوه کوچنی برخه دده تر حاکمیت لاندې وه.

په تیر اګست کې چې د ګلبدین او مسعود تر منځ دروند جنګ وشو قیادی شورا ګلبدین د قیادی شورا له غړیتوب څخه وېوست او دده د ګوند غړی صبور فرید صدراعظم بر طرف اعلان کړ. د کابل خلکو چې د جنګ په منځ کې راګیر وو یو مخیز دوژل کیدل او کورونه یې ورانیدل د جنګ دواړو خواوو ته یې قرآنونه وروړل، خو هغو د قرآن بې احترامی وکړه. په راډیو کې د ربانی او قیادی شورا له خوا ګلبدین ملحد د مسلمانانو قاتل او درواغجن شخصیت نومول کیده. خو یوه میاشت وروسته چې ګلبدین، ربانی او سیاف په پغمان کې ملاقات سره وکړ، نو دوی په ګډه اتفاق وکړ چې د اهل حل و عقد شورا به راغواړی او د هغې د ترتیباتو لپاره یې یوه نیمه میاشت نور وخت ربانی ته ورکړ.

د همدغې غونډې په ماښام د ربانی له راډیو څخه بیا ګلبدین حکمتیار ورور مسلمان او د نامه په ضمیمه یې د صاحب کلمه یاده شوه او خلکو تعجب وکړ چې دا څنګه خلک دی.

ربانی د حزب وحدت سره هم د نسبی توافق سره وښوراوه او د حزب وحدت هزارګانو دوه مشهور شخصیتونه ډاکتر عبدالواحد سرابی د ډاکتر نجیب د ریاست جمهوری مرستیال او انجنیر یعقوب لعلی د قانون اساسی د لسیزې د حکومتو یو وزیر ور معرفی کړل، ربانی هم سرابی د

سوداګرۍ وزیر او لعلي یې د کانو وزیر مقرر کړ.

رباني د اکتوبر په ۱۸ ایران ته سفر وکړ غوښتل یې هلته نوټ چاپ کړي، خو سعودي عربستان پټ احتجاج وکړ او رباني توبې وکښې.

په همدغه وخت کې د شینډنډ هوایي ډګر چې د حکمتیار د قوتو په لاس کې ؤ د هرات والي اسمعیل خان چې د جمعیت غړی ؤ ونیو او دا یوه ډېره سخته ضربه وه چې حکمتیار وخوړله.

د اهل حل و عقد شورا تر دایرېدو پنځه ورځې مخکې د شمال د جنبش مشر جنرال دوستم عربستان سعودي او امریکا ته سفر وکړل، اخوا دا چې هغه ته لاربښوونه شوې وه چې د رباني د اهل حل و عقد شورا په وړاندې دسبوتاژ څخه ځان وژغوري او د اهل حل و عقد شورا د سیاف په قیادت او د جمعیت یو با اعتباره غړي سیدنورالله عماد په هدایت د دسمبر په ۳۰ دایره شوه.

په پرنسیب کې خو دا وه چې دې شورا ته باید د ټول هیواد څخه مؤمن، مسلمان او پر شریعت برابر کسان را دعوت شي خو څرنګه چې د تنظیمي جنګونو په اثر د هیواد ټولې لارې بندې وې، نو د ولایاتو د نمایندګانو راتګ نه یوازې مشکل بلکې ناممکن ؤ.

که څه هم عماد دعوه کوله چې په شورا کې د ټول هیواد نمایندګان شامل دي، خو دا نمایندګان له خپل اصل محل څخه نه وو راغلي بلکې په کابل کې د اطرافو دکانداران، حمالان او دستفروشان یې راټول کړي وو او داسې آوازې خپرې وې چې د رباني د دستګاه له خوا ډېرې پیسې په مصرف رسیدلې وې.

ما (ددې کرښو لیکوال) دا صحنه په مکرره توګه لیده چې د فروشګاه مخ ته به خلکو پر پټوانو لسګون او شلګون نوټونه ورته کوټه کړي وو او په لویو نوټو به یې تبدیلول، ددغو څخه ځینې سخت عصبي وو او برآلا یې نارې وهلې چې زموږ لپاره خزانه داران لوی نوټونه له بانکه راباسي او هغه بیا د شهزاده په سرای کې د یو مبلغ په مقابل کې دا غټ نوټونه په کوچنیو بدلوي او ګټه یې جیب ته اچوي او په سر ګرداني یې موږ پاته یو.

د شورا د انتخاباتو صحنه د کابل خلکو د تلویزیون پر هینداره په هم هغه شپه ولیدله او واقعاً یوه د تعجب صحنه وه، په یوه سالون کې ډیر خلک ناست وه او یو شخول ؤ ځکه ټولو خبرې کولې، پورته پر یوه ټیټ ستیج د هیأت رئیسه ځای ؤ چې په هغه کې رباني او سیاف دواړه اړخ پر اړخ ناست وو او نور د ځینو تنظیمونو نمایندګان ناست وو. دا غونډه پنځو تنظیمونو تحریم کړې وه او ددغو تنظیمونو د نمایندګۍ په نامه چې کوم کسان راغلي وو د هغو د ورتګ د بې اعتباره کولو لپاره یې خپلو تنظیمونو اعلان کړی ؤ چې هیڅوک په دې غونډه کې د تنظیم نمایندګي نشوای کولای.

د هیأت رئیسه و مخ ته دوه صندوقان پراته وو چې پر یوه د استاد رباني عکس سرېښ شوی

او نوم لیکل شوی ؤ او دوهم صندوق ته عکس درلود ، نه لیکنه، ځکه یوازنی کاندید پخپله استاد ربانی ؤ او دوهم صندوق ددې لپاره اینبوول شوی ؤ چې که څوک مخالفه رایه ولري په هغه یې عکسه صندوق کې به یې واچوي.

هرچا خپله لیکلی پاڼه د استاد صندوق ته اچوله، دا نه معلومیده چې دوی څه وخت پر کاغذ خپله رایه لیکلی ده، خو زیاترو به د رایی کاغذ لوړ پر سر په هوا نیولی ؤ او بیا به یې صندوق ته وراچاوه.

په دې توگه د ۱۵۰۰ رایو څخه ۹۰۰ رایې استاد ته ورکول شوې وې، نور هغه کسان وو چې هیڅ یې کاغذ یو ه صندوق ته لا هم وانه چاوه.

د اهل حل و عقد د جرگې په پای کې اعلان وشو چې استاد ربانی د شورا له خوا د ۲ کالو لپاره د جمهور رئیس په توگه وټاکل شو. د اهل حل و عقد د شورا د غونډې وروسته ماښام استاد سیاف په یوه مطبوعاتي مصاحبه کې چې د نړیوالو آژانسونو نمایندگان حاضر وو د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل چې دا د اسلامي عدالت پر اصل بنا او زموږ د سنتونه اسلامي طریقې په پیروی انتخابات وو چې یو مسلمان سړی مو مشر وټاکه.

له ده څخه پوښتنه وشوه چې پنځو تنظیمونو دا انتخابات نه دي قبول کړي، نو اکثریت نه دی منلی، استاد سیاف یې په ځواب کې ورته وویل چې د تنظیمونو رهبران زموږ ورونه دي، نن که یې دا انتخابات نه دي منلي سبا به یې ومني او زموږ سره ددوی د تنظیمونو نمایندگان ناست وو. دا زموږ تر منځ خبره ده نور نو موږ به هیچا ته موقع ورنکړو چې زموږ کارونه انتقاد کړي، موږ جهاد کړی او دا زموږ حق دی چې څرنگه غواړو دا وطن هغسې اداره کړو.

د دغې جرگې په پای کې د رباني په امر یو شمیر غړي راوگرځول شول او پر هغو یې د اسلامي پارلمان نوم کښېښود ، د دغه پارلمان په نامه کارونه کېدل ،خو هیچا د پارلمان رئیس او غړي و نه پیژندل.

گلبدین حکمتیار پر کابل راکټونه بیا پیل کړل او په هغو کسانو کې چې د اهل حل و عقد د شورا مخالفت یې کړی او استاد رباني یې خلاف شریعت مشر بللی مولوي خالص ؤ، خو څو وخته وروسته کابل ته راغی ، رباني ته یې مبارکي وویله او دی یې شرعي مشر وباله. داسې افواهات وو چې د مولوي سره د لویه مرسته شوی وه.

د شورای اهل حل و عقد له خوا استاد رباني ددوو کالو لپاره جمهور رئیس اعلان شوی ؤ، خو څو ورځې وروسته چې د اسلام آباد غونډه د تنظیمونو د مشرانو په گډون وشوه هلته یې د غه دوه کاله یو نیم کال ته راکم کړل، خو استاد رباني تر نن پورې هم دا مقام نه دی پرې اینبی، سره له دې

چې طالبانو له کابله وایستئ، خو نړۍ او ملګري ملتونه یې لا تراوسه د افغانستان د قانوني جمهور رئیس په توګه په رسمیت پېژني.

عامو خلکو چې د شورای اهل حل و عقد تلفظ نشوای کولای نو شورای حق و ناحق یا شورای پول نقد یې بلله.

## ۱۲- د اسلام آباد قرآن وهلې معاهده:

د اهل حل و عقد د شورا تر خاتمې وروسته ګلبدین حکمتیار سخت جنګ پیل کړ او د تنظیمونو نور مشران هم د رباني د اجراآتو څخه ناراضه وو نو ددې لپاره چې وضع ظاهراً نورمال حالت ته راولي د ۱۹۹۳ د فبرورۍ په ۱۵ د پاکستان صدراعظم نوازشریف کابل ته راغی او په لومړی سر کې یې مولوي خالص د رباني سره پخلا کړ چې هغه رباني د اسلام پرحق خلیفه وباله.

وروسته یې د تنظیمونو ټول مشران اسلام آباد ته وروبلل او د مارچ په ۷ یې پخپل کور کې په دوی یوه معاهده لاسلیک کړه، صرف د حرکت اسلامي مشر آصف محسني له دې کبله لاسلیک و نه کړ چې معاهده په انګریزي وه.

دا معاهده ډېره بې ځایه پرله پیچل شوي او مغلقه وه، په همدغه معاهده کې د اهل حل و عقد د شورا له خوا چې رباني ته دوه کاله وخت ورکول شوی ؤ، ۱۸ میاشتو ته راکم شو، همدارنګه د وسلو راټولول چې غیرممکن امر ؤ په دې معاهده کې یې امر شوی ؤ. دفاعي شورا، اوربند او د حکومت جوړیدل چې صدارت یې د ګلبدین په اسلامي حزب کې وي.

خو په دې ټولو موادو کې ډیر غټ د تخاصم زړی په دې فقره کې ؤ چې هدایت یې کاوه: «دا ډاډ حاصلول چې خصوصي اردوګانې او د هغو ساتونکي به د دولت له دارایي څخه نه تمویل کیږي.»

په دې توګه نو د اسلام آباد معاهدې ټولو تنظیمونو ته د خصوصي اردوګانو د جوړولو اجازه ورکړې وه او کله چې خصوصي اردوګانې جوړیږي، نو هلته امن څرنګه قایمیدای شي او دا ماده له هغې مادې سره تناقض لري چې وایي وسله باید راټوله شي، ددې معاهدې تر لاسلیک وروسته نوازشریف د تنظیمونو مشران ټول سعودي عربستان ته بوتلل او هلته پر دې معاهده د سعودي عربستان باچا هم لاسلیک وکړ، یعنې تضمین یې کړه بیا دغو مشرانو په مدینه منوره کې د حضرت پیغمبر (ص) په حرم کې او وریسې په مکه مکرمه کې د کعبې شریفې په وړاندې په قرآن قسمونه وخوړل چې ددې معاهدې سواد به صادقانه عملي کوي. نوازشریف دا کاروان له سعودي عربستان څخه په تهران کې پلی کړ او بیا د ایران د جمهور رئیس په وړاندې ټولو تعهد وکړ او د ایران جمهور

رئیس رفسنجاني هم د تضمین کوونکی په توګه پر دې معاهده لاسلیک وکړ.

وروسته د تنظیمونو مشران یو شمیر په پاکستان کې خپلو کورونو ته ولاړل او ځینی یې کابل ته راغلل، خو هغه لا نه وو پوره شوي چې یو ځل بیا تنظیمي جنګ پیل شو، ځرنګه چې د دغې معاهدې په برخه کې د خدای (ج) په کور او د پیغمبر (ص) د مرقد مبارک اړخ ته د قرآن سوګند نقض شوی ؤ، نو دغې معاهدې ته خلکو قرآن وهلې معاهده ویله.

## ۱۳ - د جلال آباد ناقصه غونډه او د فجایعو پیل:

د اسلام آباد د معاهدې سره باید حکومت جوړ شوی وای د حزب اسلامی امیر ګلبدین حکمتیار ټولو تنظیمي مشرانو ته احوال ورکړ چې جلال آباد ته راټول شی، خو هغو هر یو د خپل نظر او نفر درلود او مهمه مسأله د مسعود د وزارت دفاع د پست وه چې نه تیریده، رئیس جمهور دی وړاندې کاوه خو ګلبدین دا د صدراعظم وظیفه وبلله چې وزیر دفاع وټاکی.

په دې منځ کې د پاکستان، عربستان او سودان هیأتونه راغلل بالاخره یې مسعود په دې قانع کړ چې خنډ لیرې کړی.

د مارچ په میاشت کې په تګاب او نجراب کې د ګلبدین او مسعود قواوو تر منځ جنګ ؤ او په کابل کې د حزب وحدت او شورای نظار جنګ هم خوله لګولې وه.

د می په اوله د تنظیمونو مشران جلال آباد ته ورغلل او هلته د جلال آباد شورا رئیس او والی حاجي قدیر او ځینو نورو منځګړو په زور و ګرځول او ورته یې ویل چې تر کله مو فیصله نه وی کړی نشوای تلای، ځو د می په ۲۰ یو درې فقریز تړون لاسلیک شو او رهبران آزاد شول او رباني اسلام آباد ته ورغی او د پاکستان جمهور رئیس غلام اسحق خان ته یې ګزارش ورکړ او حکمتیار چې صدراعظم شوی ؤ، چار آسیاب ته ولاړ او د هغه ځایه یې اعلان وکړ چې د یو ټولګی امنیتی سربازانو سره به په کابل کې صدارت ته ولاړ شي، خو رباني ددې مخالفت وکړ او وې ویل چې حکتیار باید یوازې راشي، امنیت یې موږ نیسو. حکمتیار اعتماد نه درلود، نو ځکه چار آسیاب د حکومت مقر شو.

په همدغه وخت کې د کابل او چار آسیاب تر منځ د حکمتیار او مسعود له خوا د راکټونو باران ؤ چې د کابل ډیر خلک پکښې قتل او د ښار یوه برخه ورانه شوه.

جمهور رئیس حکمتیار ته خبر ورکړ چې باید په ستره محکمه کې د کابینې سره د لوړې مراسم پرځای کړی، دده ځان امنیت ته عسکر بیول، خو مسعود ورته وویل چې زه دې امنیت نیسم، حکمتیار ویل نه په خپلو پښو د اعدام ځای ته نه ځم.

جنګ په شدت جاري ؤ ،خو ګلبدین په چار آسیاب کې ځان صدراعظم باله او خپلې راډیویي خبرونه خپرول ، د رباني راډیو دده په باب څه نه ویل.

په همدغه وخت کې یو بل خطرناک تخریبي حرکت پیل شو چې پر خوراکي موادو زهر پاشل کېدل او بیا یوه تنظیم خپل رقیب بل تنظیم متهماوه.

په دې فاجعه کې هم ډېر خلک مسموم او مړه شول، خو تر هر څه د راکټونو پر له پسې راوېشتنو ډېر خلک وژل او ښار یې زیات تخریب کړ.

## ۱٤ - د هم آهنګۍ د شورا جوړښت:

د ګلبدین او مسعود تر منځ د حزب وحدت او سیاف ترمنځ پر له پسې جګړو د نوی صف بندۍ زمینه برابره کړه. په دې منځ کې د شمال د جنبش ملي څخه د رشید دوستم نوی موقف هم د نوی تشکیل لپاره لار خلاصه کړه.

رشید دوستم د رباني څخه پر دې خوابدی ؤ چې د اهل حل و عقد په شورا کې یې دی نادیده ونیو او سر له دې چې رباني ترکیې ته سفر کاوه دوستم یې په کابل کې په خپل نیابت معرفي کړ ، ولې د دوستم او مسعود ترمنځ فضا مکدر ده وه.

د حکمتیار او دوستم تر منځ او بیا د حزب وحدت د مشر عبدالعلي مزاري او د حضرت صبغت الله د زوی حشمت الله مجددي تر منځ ډېر تماسونه ونیول شول ،څو د ۱۹۹۳ په اخیر کې د حزب اسلامي (حکمتیار ) نطاق قریب الرحمن سعید د هم آهنګۍ شورا رسماً اعلان کړه.

اوس نو د هماهنګۍ شورا د حزب اسلامي ، د شمال جنبش ، وحدت اسلامي او جبهه ء ملي څخه جوړه شوه او مقابل کې جمعیت اسلامي او د سیاف اتحاد اسلامي وو ، دې نوي تشکیل دا نوی صف بندي را منځته کړه او دیوه لوی خطر احتمال یې یقین ته ورساوه.

د ۱۹۹٤ د جنوري په لومړۍ ورځ چې د هم اهنګۍ د شورا د مسعود او سیاف د قوتونو ترمنځ جګړه پیل شوه په لومړۍ ورځ د کابل د ختیځې خوا بالخصوص د مکروریانونو څخه دوه زره کسه په قتل ورسیدل او دا جنګ دومره شدید او دوامداره شو چې په هغه کې د لومړي یا پخوانی مکروریان بلاکونه یا تور دود شول او یا یې سخته ضربه وخوړله. دولتی مطبعه توټه ، توټه شوه او کیمیاوی لابراتوار هم پارچه پارچه شو.

دا جنګ د فبروری تر آخر پورې په ډېر شدت جاري ؤ او داسې هم پېښه شوه چې په یوه شپه تر زر راکټه زیات یو پر بل فیر شول.

د ښار ختیځې خواته کورونه او کلي پاک وسوځل شول او مکروریان سره له دې چې پاخه

کانکریټي بلاکونه وو، خو راکټونو ډېرې لوی سوري پکښې جوړې کړي، داسې یو حال راغی چې خلکو خپل مړي هدیرې ته نشوای رسولی او د کورو په تاخانو کې یې ښخول او پخپله هم هلته اوسېدل، د څښلو اوبه نه وې د سونګ او خوراک مواد نه وو او خلک په تورو تاخانو کې د شپې تیارو ته پراته وه او د سر له خوا به راکټونه پر اورېدل.

دی وضع تر ٦ میاشتو پورې دوام درلود او د دغه مصیبت په اړخ کې چور او چپاو هم روان ؤ چې د هیچا بار و بونه او بستر هم په امن کې نه ؤ، دا د هم آهنگی د شورا برکت ؤ.

## ۱۵- د هرات غونډه:

د ۱۹۹٤ له پیل څخه د هم آهنگی د شورا او د ربانی، مسعود او سیاف تر منځ جګړو شدت واخیست او د دې په اړخ کې د ملګرو ملتونو د سرمنشی خصوصی نوی نماینده محمود مستیری فعالیت پیل کړ چې برهان الدین ربانی باید یوې شورا ته قدرت نقل کړی. جمعیت تلاشونه لس چنده زیات کړل چې ربانی وساتی او د اهل حل و عقد د شورا فیصلې تطبیق کړی.

په همدې لړ کې د هرات والی اسمعیل خان چې د جمعیت ډېر قوی قوماندان هم ؤ په هرات کې د داخلی او په خارج کې د افغانانو څخه یوه متشکله غونډه جوړه کړی چې هغوی د ربانی حکومت تائید کړی. دا غونډه په سپتمبر په هرات کې جوړه شوه چې هغې ته د جمعیت غړی او په خارج کې تر سلو زیات په اصطلاح سرشناسه افغانان رابلل شوی وو.

د جمعیت غړو چې په دې غونډو کې ګډون کړی ؤ د ربانی د حکومت اجراآت قانونی او د وطن په ګټه توضیح کول او نور میلمانه د اروپایی او امریکایی افغانانو په شمول پټه خوله وو، یوازې پخوانی صدراعظم ډاکتر محمد یوسف د ربانی د حکومت جګړه ایز کارونه سخت وغندل او وې ویل چې افغانان د دغسې حکومتو سره هیڅ موافقت نشی کولای. دا غونډې څو ورځې روانې وې او د غونډې ګډون کوونکی د امیر امان الله خان زوی شهزاده احسان الله ته سخت متوجه وه او منتظر وو چې هغه به څه ووایی.

د غونډې په دوهمه ورځ دې شهزاده غاړې تازه کړی او په څو کلمو کې یې یوه وینا ایراد کړه. دده خو پښتو نه وه زده، دری یې هم سمه نشوای ویلای، خو بیا یې هم په ګنګوره ژبه وویل:

«خوب شد که آمدم، پدرم می گفت که در افغانستان قوم ها هستند، اگر پدرم زنده بود خوشحال می شد، شما مردم خوب هستید به امان خدا!»

د دې شهزاده راتګ ته جمعیتیان ډېر خوشحاله وه او ربانی د خپل دولت د تائید د یوې وثیقې په سترګه ورته کتل.

AOKU

ربانی په کابل کې د سترې محکمې غونډه دایره کړه او په هغې کې یې یو ځل بیا خپله ریاست جمهوری تائید کړه، او بیا په الوتکه کې هرات ته راغی او لومړی یې د هرات په مسجد جامع کې یوه مفصله وینا وکړه او د امیراسمان الله زوی په راتګ یې بې نهایته خوښی وکړه.

داغونډه بې نتیجې او تر یو حده په فضیحت پای ته ورسید او تر دې غونډې وروسته یو ځل بیا حکمتیار او مسعود د کابل د ښار پر سر د خپل اور او وینو توېولو مسابقه توده کړه.

## ۱۶- د ملګرو ملتونو هڅې او د محمود مستیری ماموریت:

د ۱۹۹٤ د جنوری د لومړی نیټې څخه چې د هم آهنګی د شورا او د ربانی د دولت (مسعود) ترمنځ جنګ پیل شو، نو تخریب یې دومره زیات ؤ چې تر اوسه یې سابقه نه درلوده.

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۹۹٤ کال د جنوری په ۲٤ د ملګرو ملتونو سرمنشی ته وظیفه ورکړه چې ډیر ژر یو لازم اقدام وکړی او سرمنشی بتروس غالی د فبروری په ۱٤ د تونس پخوانی خارجه وزیر محمود مستیری د خپل نماینده په توګه سیمې او افغانستان ته راولیږی، هغه خپل هیأت داسې وټاکه:

په افغانستان او پاکستان کې د ملګرو ملتو نماینده ستوریس موشیوریس د هیأت د مرستیال په توګه.

فرانسس اوکلو د سیاسی چارو د لومړی آمر په توګه
چارلس نتویس د سیاسی چارو د دوهم آمر په توګه
جان د کاسترو د مالی څانګې د آمر په توګه
جان ملیز د هیأت د ویاند (نطاق) په توګه
جګړن هرکیورک د مشر نظامی مشاور په توګه

دا هیأت د مارچ د ۲۷ څخه د اپریل تر ۲۹ پورې په جلال آباد، کابل، مزارشریف، شبرغان، هرات، بامیان، کندهار او خوست کې د مجاهدینو د متخاصمو ګروپونو د مشرانو او ضمناً د بې طرفو اشخاصو سره وکتل. محمود مستیري علاوه د تنظیمونو له مشرانو څخه د یو شمیر قوماندانانو احمدشاه مسعود، اسمعیل خان، حاجی قدیر، جلال الدین حقانی، سید منصور نادری، ګل آغا، امیرلالی او ملا نقیب سره هم کتنې وکړی.

د ملګرو ملتونو دغه هیأت به د باندې کې په اسلام آباد، تهران، ریاض، مسکو او انقره کې هم د هیوادونو له مشرانو سره ملاقاتونه وکړل او د افغانستان د مسألې د حل په باب یې د هغو نظر واورید. ده په جده کې د اسلامي کنفرانس له مشرانو سره هم خبرې وکړې.

محمود مستیري د غو سفرونو ته په تکرار ادامه ورکړه او هر ځل به یې د خپلو اجرآتو رپوټ د ملګرو ملتونو سرمنشي ته ورکاوه، خو کار یې د بن بست سره مخامخ ؤ.

د محمود مستیري پر فعالیتونو مطلقاً د ناکامي مهرونه لګیدل او حتی هغه هم پر ناکامي اعتراف کاوه او تر دې ځایه هم ورسید چې استعفا یې وکړه خو د ملګرو ملتو سرمنشي و د ده ته د خوصلې توصیه وکړه.

د ده ماموریت ادامه درلوده او په افغانستان کې تنظیمي جنګونه هم روان وه، انسانان قتلیدل او هره آبادي په خرابي بدلیدله.

مستیري په روم کې د افغانستان د پخواني باچا محمد ظاهرشاه سره هم وکتل او د هغه نظر یې هم واورید.

وروسته یې تنظیمي رهبران اسلام آباد ته د یوې غونډې لپاره راوغوښتل، ټولو موافقه وکړه حتی رباني هم خپل ورتګ اعلان کړ، خو کله چې دا نور په اسلام آباد کې راټول شول، رباني اعلان وکړ چې رشید دوستم ملحد او کمونیست هلته وي، زه ګډون نه کوم (دا هغه دوستم دی چې تیر کال رباني ترکیې ته د سفر پر وخت په کابل کې په خپل نیابت ټاکلی ؤ هغه وخت مسلمان ؤ خو نن ملحد شو!)

دا غونډه ناکامه شوه او محمود مستیري بل تلاش پیل کړ، ده د تنظیمونو نمایندګان په د باندې کې روښان فکره افغانان د اکتوبر په اول د کویټې د ښار په «سرینا» هوټل کې راټول کړل. دې غونډې ته پخواني صدراعظم ډاکتر یوسف، د صدارت مرستیال ډاکتر عبدالصمد حامد، سردار سلطان محمود غازي، پخواني عدلیه وزیر ستار سیرت، عزیزالله واصفي، غلام علي آئین، قوماندان عبدالحق او داسې نور ډیر ورغلي وو، قاضي امین وقاد او پیر ګیلاني هم ګډون وکړ.

دا غونډه درې هفتې روانه وه او د مجاهدینو مشرانو پر دې غونډه انتقادونه کول، حتی سیاف خو ښکنځل وکړل، د غونډې په پای کې دا درې فقرې تصویب شوې:

۱ – عمومي اوربند.

۲ – د یوې شورا جوړښت چې هغه مؤقت حکومت وټاکي او د رباني څخه قدرت تسلیم کړي او لویې جرګې ته لار خلاصه کړي.

۳ – د درنو وسلو ټولول او د امنیت لپاره د یوې قوې تشکیل.

دا غیر عملي فیصله د دغې غونډې د منتخب هیأت له خوا په جلال آباد، مزارشریف، هرات او نورو سیمو کې د جهادي مشرانو سره وکتل، خو کندهار ته نه ورغلي شواې، ځکه هلته د طالبانو حمله پیل شوې وه.

د محمود مستیری ماموریت په ځرګنده بریالیتوب نه درلود او ټولو ناکامه باله خو دا یو ځیرک او دقیق ډیپلومات ؤ، دده په هدغو ځغاستو او تیرو بیرهغه کاذبې ځیرې لکه د کندهار توپک والا او نور همدغه راز عناصر له منځه وایستل او په نتیجه کې فقط ځلور قومی ګروپونه پر میدان راووتل چې هغه پښتون ؤ چې طالب یې نمایندګی کوله (که څه هم طالبان ځان یوه قوم ته نه منسوبوی) تاجک ؤ چې ربانی او مسعود یې نمایندګان دی، ازبک وو چې دوستم یې نماینده ؤ هزارګان وو چې عبدالعلی مزاری یې نماینده ؤ.

د مستیری د ماموریت د ناکامولو لپاره بیا هم شرب سر یه دار او په افغانستان کې اوسیدونکی مجاهد اسامه بن لادن، لکه د بنین سیوان د ناکامولو لپاره چې یې تلاش کړی ؤ، بیا هم کوښښ وکړ خو جدی نتیجه یې وانخستله.

توضیحاً باید وویل شي چې اسامه بن لادن د پیښور د وحدت ورځپاڼې ته په مرکه کې ویلي وو چې د بنین سیوان پلان ما سبوتاژ کړ. د ملګرو ملتونو هڅو ادامه پیدا کړه، خو ځرګنده نتیجه یې نشته، ولې د محمود مستیری ماموریت هیڅوک ناکامه نشی بللای.

## ۱۷ - د ربانی د حاکمیت وروستی پرده:

ربانی چې د اهل حل و عقد د شورا تر مضحکې فیصلې وروسته ځان د افغانستان قانونی جمهور رئیس باله د حاکمیت ساحه یې ډیره حدوده شوه یعنی د ارګ څخه تر دهمزنګ پورې په غرب کې او جنوب ته د شهدای صالحین سره تر قلعچې پورې او ختیځ ته تر قلعه زمان خان نه وړ پورته کیده.

د کابل په ښار کې بالاحصار او مرنجان غونډۍ او زاړه مکروریان د دوستم په لاس کې وو او تر دهمزنګ پورته تر کوته سنګی او د کارتو په شمول دارالامان د هزارګانو تر ولکه لاندې ؤ او ختیځ ته له پلچرخی څخه تر چار آسیاب پورې یې د ګلبدین حاکمیت لاندې وه.

ربانی د شوراوو په جوړولو کې ډیر ماهر ؤ او د یوه ساده کار لپاره به یې شورا جوړه کړه او بیا به یې د هغو په وسیله خپله مطلوب کار تصویب کړ.

دی چې د ګلبدین د حکومت او صدارت څخه ناراضه شوی ؤ، نو د جلال آباد د علماؤ او روحانیونو په شورا کې چې دا هم ده جوړه کړې وه یو عجیب تصویب اعلان کړ، هغو تصویب وکړ چې ربانی د اسلام آباد په غونډه کې غولول شوی او د جلال آباد په غونډه کې جبراً پر تحمیل شوی وه چې احمدشاه مسعود له وزارت دفاع څخه او انجنیر احمدشاه له وزات داخلې څخه لیرې کړی او س موږ تصویب کوو چې احمدشاه مسعود د پخوا په شان د دفاع وزیر او انجنیر احمدشاه داخله وزیر دی.

مسعود هیځوخت د وزارت دفاع څخه لاس نهؤ ایستلی او ده نه یوازې په په جنګ، بلکې په توطیه هم خپل مقاصد مخته بیول، دده یو ډېر معتمد جنرال مومن (تاجک) چې نجیب یې ورته وواهه د جنرال دوستم معاون ؤ، خو هغه په دې پوهیده چې جنرال مومن د مسعود په ګټیه ماته په کمین کې دی، نو د ۱۹۹٤ کال د سپتمبر په ۲۷ سهار کابل د طالبانو لاس ته ورغی او استاد ربانی په ډېر د نا امیدی تخار ته وتښتید.

دده هلته کانتینرونه کښینښوول او پر یوه یې لوحه وځړوله پر یو یې لیکل د معارف وزارت پر بل کانتینر یې لوحه ځړیده چې داخله وزارت، همداسې نور وزارتونه د یوه زاړه کور زړه دروازه لیکل شوی وو د افغانستان د جمهوری ریاست مقام.

دد غې صحنې په باب خارجی اخبارو لیکلی وو چې (د استاد ربانی کانتینری حکومت) په دې توګه د ربانی د دورې وروستی دوره پای ته ورسید.

## ۱۸- پر کابل د تنظیمونو د جنګ او حاکمیت غایه:

په پورتنی عنوان کې د «جنګ» او «حاکمیت» غایه مطرح شوی دده. د لومړی برخې ځواب ډېر ساده دی چې دا هرې تنظیمی مسلح ډلې دې ته زور واهه چې تر نورو مخ کې پر کابل مسلط شی چې د چور اصلی سرغوړ په لاس ورشی.

د مسعود او حکمتیار تر منځ خو زړه بدی وه او پر کابل د چور څخه علاوه هر یوه غوښتل چې دلته حاکمیت واخلی او دا بل لیرې وشړی او هر څه چې رشید دوستم او د هغه ازبک ملیشه وه، هغه خو د ببرک کارمل او نجیب له وخت څخه په داړه ماری او لوټمار عادی وه او نجیب چې به هم هر ځای سخت تهدیداوه، نو د دوستم ملیشې به یې وراستولی ځرنګه چې کابل ته دا درې مسلح قوتونه (مسعود، دوستم او حکمتیار) پر یوه وخت راورسیدل، نو یوه بل په وړاندې یې لکه وحشی پړانګان پنجې ولګولې او د اور او وینو باران یې جوړ کړ چې د کابل عام بې دفاع خلک پکښې وسوځل شول، بالاخره پر یوه وخت دا درې قوتونه راورسیدل، خو د مسعود پنجشیریانو او د دوستم ازبکانو د ښار هغه برخه چې دولتی موسسې او آباد کورونه پکښې واقع وو، په لاس ورغلل او په یوه خاص لیونتوب یې په چور لاس پورې کړ. د تنظیمی حاکمیت په پیل کې د ټولو خونړی جنګونو غایه دا وه چې هر یوه د خپل رقیب او حریف څخه وړاندې کابل ته ورسیږی چې د چور څخه ډېر څه په لاس ورشی.

د پوښتنې دوهمه برخه چې د «حاکمیت» سره اړه لری نو یو څه ژور او دقیق تحلیل غواړی.

د موضوع د روښانولو لپاره به یو څه وړاندې ولاړ شو، په ۱۹۸۸ کې چې د افغانستان څخه د

شوروي قواوو د وتلو مسأله محققه شوه، نو امریکا دا پوښتنه د پاکستان سره په مصلحت کښېښووله چې په کابل کې د شوروي په ناف تړلې دولت تر سقوط وروسته څه ډول حاکمیت هلته منځته راشي.

د امریکا جمهور رئیس رونالد ریګن په هغه وخت کې د دغې خبرې لپاره د «سي. آی. ای» رئیس ویلیام کیسي اسلام آباد ته راواستاوه.

هغه د ضیا ء الحق سره په داسې حال کې وکتل چې د پاکستان د «آی. ایس آی» یعنی جاسوسي سرویس رئیس اختر عبدالرحمن هم حاضر ؤ.

ویلیام کیسي تر یوې لنډې مقدمې وروسته وویل: امریکا غواړي په افغانستان کې یو پراخ بنسټه حاکمیت منځته راشي، څو په هغه کې ټوله اقلیتونه برخه ولري او پر دموکراسي یو د بل حقوقو ته احترام وکړي. خو اختر عبدالرحمن هغه ته وویل: افغانستان یو مذهبي ملک دی هلته چې مذهبي حاکمیت نه وي بل ډول حاکمیت نه مني. ویلیام کیسي ورته وویل: هغو ته دموکراسي نابلده نه ده، ځکه د باچا په وخت کې ورسره آشنا شوي دي. مذهبي شئونات باید جداً احترام شي، خو په دغسې یوه حاکمیت کې د اخوان المسلمین د رخنې څخه تاسې تشویش نه لرئ؟

اختر عبدالرحمن په بحث کې عصبي شانته ؤ وروسته یې ویلیام کیسي ته وویل: امریکایان باید د افغانستان مسأله پاکستان ته خوشې کړي، ځکه د شوروي په تضعیف کې د پاکستان د سترې حق الزحمه پاکستان ته افغانستان دی.

ویلیام کیسي پټه خوله او ضیا ء الحق ته یې وکتل هغه چې پټه خوله ؤ، صرف اختر عبدالرحمن ته یې وویل چې ته نه باید جدي شئ.

د ویلیام کیسي دا سفر د عمومي وضع په لحاظ ډیر اهمیت پیدا کړ، خو کله چې امریکا ته ولاړ یوه خاموشي خپره شوه. (۱)

په دې پسې د همدغه کال د اګست په ۱۷ د پاکستان ډیکتاتور جمهور رئیس ضیا ء الحق، اختر عبدالرحمن، اته جنرالان او په اسلام آباد کې د امریکا سفیر د الوتکې په حادثه کې له منځه ولاړل، او د دغه وژلنګ انګیزه داسې وښوول شوه چې جنرال ضیا او اختر عبدالرحمن د افغانستان آینده حاکمیت په برخه کې اخوانیانو ته موقع ورکوي.

دا د جنرال ضیا طرح وه چې په افغانستان کې یو ډیر کمزوره حاکمیت د پاکستان تر لارښوونې لاندې منځته راشي او دا کار هغه وخت کیدای شي چې د افغانستان اردو منحل، اقتصادي او فرهنګي بنسټونه یې منهدم شي.

---

(۱) برګدیر یوسف، تلک خرس.

دوی وابي چې جنرال ضیاء د دې نقشې تطبیق ته پاته نشو ځو نوازشریف هغه سرته ورسوله. د امریکا داغفال لپاره یې حضرت صبغت الله مجددی لومړی دوې میاشتې راوست چې یو معتدل او مزاج یې دموکراسي ته مایل ؤ، وروسته یې د خپل پروګرام مطابق رباني ته چې یو اخواني ؤ، قدرت حواله کړ او بیا یې د هغه د لجاجت تائید کاوه، ځو په هغو تنظیمي جګړو تعقیب شو چې هم کابل ولاړ هم صنعت هم فرهنګ او هم انسان ډکه وخوړه. خو دا هم د ډېر اعتبار وړ تحلیل نه دی، بلکې غالباً خبرې تر نوازشریف هم پورته وې او دا نقشه له یو بل ډېر لوی قوي ځایه د تطبیق میدان ته رالویدلي وه.

## ۱۹ - درې هولناکه څیرې (ګلبدین، مسعود، دوستم)

ګلبدین حکمتیار چې اصلاً یې کورنی د غزني د خروټو څخه وه، خو شیرخان خروټي په کندز کې ځسکه ورکړه او ګلبدین په ۱۹٤۸ کال د کندز په امام صاحب کې وزیږید.

د د لومړنی زده کړې په کندز کې تکمیل کړی بیا کابل ته راغی، ځو ورځې حربي ښوونځي کې ؤ وروسته یې د انجنیرۍ په پوهنځي کې عالي تحصیلات پیل کړل، خو سیاست ته په مخه کولو سره یې هغه هم پر نیمایي پریښوول.

د ۱۹٦۰ کال څخه یې سیاست ته مخه کړه او د جوانان مسلمان ډله یې رهبري کړه. په ۱۹٦۹ کې ځو ورځې بندي شو، خو بیرته خوشې شو، په ۱۹۷۲ د یو شعله یي سیدال سخندان په قتل کې راګیر او بندي شو، په ۱۹۷۳ کې د محمد داؤد تر کودتا وروسته پاکستان ته ولاړ او هلته یې د پاکستان د اطلاعاتي موسساتو سره همکاري پیل کړه، په ۱۹۷۵ کې یې د محمد داؤد پر ضد فعالیت وکړ، خو ناکام شو او په ۱۹۷٦ کې یې حزب اسلامي تاسیس کړ.

حکمتیار د مجددي په عبوري حکومت کې په ۱۹۸۹ وزیر خارجه ؤ او په ۱۹۹۲ کې د مجددي او بیا د مسعود پر ضد جګړیزه فعالیتونه وکړل، چې ډیر خلک پکښې ووژل شول او د کابل ښار وران شو، په ۱۹۹۳ کې صدراعظم شو. په ۱۹۹۵ کې یې د طالبانو څخه ماتې وخوړه او د خپل مقر چهار آسیاب څخه ووت په لغمان او سروبي کې آواره شو. په ۱۹۹٦ کې یو ځل بیا صدراعظم شو، خو په ۱۹۹۷ کې چې یې د طالبانو څخه ماتې وخوړه، نو بغلان او کندز ته ولاړ او په هم‌دغه کال په فبروري کې چې د تهران کنفرانس ته ولاړ، نو هلته پسې پاته شو چې تر اوسه (۱۹۹۹ جون) پورې هم هلته دی.

حکمتیار عصبي طبیعته سړی دی او یو بنسټ پال مسلمان، سیاسي شخصیت دی. عیاش او فحاش سړی نه دی او د مذهبي احکامو سخت پیرو دی. دی سخت با دسپلینه او احکام یې

کانکریټي دی. د مخالف تحمل نه لري او ډېرې آوازې دي چې زيات مخالفين يې وژلي دي. دی يو باثباته سياسي نه دی، مثلاً رشيد دوستم يې په اول کې ملحد او کمونيست باله او د کابل څخه د هغه د مليشو د ايستلو لپاره يې په لسگونو زره کابل ښاريان مړه او ښار په کنډواله بدل کړ، خو بيا يې د هم هغه دوستم سره د هم آهنگۍ شورا جوړه کړه.

دی د پاکستان د پخواني جمهور رئيس جنرال ضياء الحق ډېر نږدې باوري ؤ او بيا د نوازشريف سره هم دوست ؤ. د ده د ژوند د جريان او مطالعې څخه يې بې طرفه سړي ناگزيره کيږي چې پر ده د جنگ طلبه شخصيت حکم وکړي او د صلح سره د ده علاقمندۍ نه د دليل شوي.

دوهم سړی چې د افغانستان په جنگونو کې د لوی نامه خاوند شوی دی هغه احمدشاه مسعود دی چې د پلار نوم يې دوست محمد چې يو عسکري صاحب منصب ؤ. مسعود په ۱۹۵۳ په پنجشير کې زيږيدلی او يو تاجک دی. ده ابتدايي تحصيلات په محل کې وکړل او بيا د کابل په استقلال ليسه کې شامل شو او نيم عالي تحصيلات يې په پولي تخنيک کې کړي دي، وروسته يې ډله تپله جوړه کړه او په جنگ يې پيل وکړ، دی يو ستمي ؤ او د طاهر بدخشي تر نفوذ لاندې ؤ.

ده هم د داؤد خان پر ضد فعاليتونه وکړل او بيا پاکستان ته فرار شو او هلته ذوالفقار علي بوټو پيسې او وسله ورکړه او دی له هغه وخته په پنجشير کې مستقر شو.

د ده له ۱۹۸۰ څخه د گلبهار او جبل السراج پر نساجي فابريکو حمله وکړه، ده په چريکي حملو سره زياتره د سالنگ لار د شوروي پر وسله بند کاروانونو بندوله.

څو وار د کابل حکومت او شورويانو درنې ځمکنۍ او هوايي حملې پر پنجشير وکړې خو مسعود مقاومت ورته وکړ. وروسته ده د شورويانو سره په مفاهمه کې د هغو څخه کمکونه اخيستل او لار يې ورته خوشې کوله، په دغه وخت کې د فرانسوي ژورناليستانو له خوا د زمرد و سوداگران راتشويق شول او د فرانسويانو پر لاس د پنجشير د زمرود استخراج پيل شو چې د هغو له قيمت څخه مسعود د جنگ لپاره په خلاص لاس پيسې مصرفولې.

مسعود د جمعيت يو قوماندان ؤ او رهبر يې برهان الدين رباني ؤ. مسعود د گلبدين حکمتيار ډېر سخت مخالف ؤ او ډېر سخت جنگونه يې د هم هغه سره وو چې د کابل په لسگونو زره خلک يې قتل او ښار يې وران کړ. دی په مرکو کې د ژورناليستانو سره ځان سخت مردم دار او ډموکرات ښيي، لکه چې د سنډيگال مشهور انگريز ژورناليست سره يې ځان په ډموکراتيکو انتخاباتو معتقد باله خو حقيقت دا دی چې دی يو جنگړه او مخرب شخصيت دی.

د کابل ښار ته چې ده او گلبدين زيان ورسولی دی جوړښت يې افغانانو ته په سلو کلو کې هم ممکن نه دی.

مسعود برعکس د ګلبدین یو آزاد او عیاش سړی دی، وایي چې د کابل موزیم څخه هغه د سکندر جام وړی دی او په هغه کې اوبه خوري.

دی په جنګ کې آرام وي او نه عصبي کیږي، خو خلک د ده د همکارانو له خولې وایي چې کله یې د ټلویزیون له غره څخه میوند جاده په راکټونو وبستله زیاتره د ده د راکټ ماشه وهله بیا به یې خندل یعنی د انسان مرګ او د آبادۍ د تخریب څخه یې خوند اخیست. دی اوس هم یو قوي قوماندان دی او تر اوسه کابل په راکټونو ولي.

دریمه هولناکه څیره د رشید دوستم د ده چې مفصل ژوند لیک یې چندان تر نظر شوی نه دی.

نوموړی د جوزجان یو ازبک دی په تخمیني توګه به یې عمر د پنځه څلویښتو کالو په حدودو کې وي. نوموړي تر ابتدایي تحصیل وروسته د جوزجان د نفت او ګاز په موسسه کې د کارګر په توګه شامل شو، نوموړی یو د سوال څخه عاري او بې پروا انسان دی.

په خلقي دوره کې چې امین کوبا ته سفر وکړ هلته یې د انقلاب څخه د دفاع تشکیلات ولیدل نو کله چې کابل ته راغی دلته یې لاړ د غسې تشکیلاتو ته اقدام نه ؤ کړی چې ووژل شو وروسته د نجیب په وخت کې یې انکشاف وکړ. جوزجان ملیشه په ۱۹۸۰ کې تاسیس شوه چې وروسته دوستم د هغې قوماندان شو، دغه ملیشو په پیسو جنګ کاوه او نجیب چې رشید دوستم قوماندان کړ، نو په هغه یې کندهار، لوګر، پکتیا او نورځایونه تهدید کړل، دوستم نجیب د و مره پورته کړ چې د مرکزي کمیټې غړیتوب یې ورکړ، خو د نجیب پر ضد کودتا هم د ده کامیابه کړه او بیا صبغت الله مجددي ستر جنرالي او د ستر مجاهد لقب ورکړ.

د وستم وروسته د شمال ملي جنبش جوړ کړ، دی یې رهبر شو، د شمال ولایاتو پر قدرتمه اداري شخصیت شو او نظامي قدرت یې هم په لاس کې ؤ.

وروسته د ګلبدین او مسعود په جګړو ورګډ شو او د کابل د ښار په جنایت او فاجعه کې د ده برخه هم کمه نه ده. بیا حکمتیار د ده سره د هم آهنګۍ شورا جوړه کړه، خو کله چې طالبان راغله، نو د ده پاتې هم ژړې شوی او هغه مهال چې رسول پهلوان ترور شو او بیا پر دوستم ور تاوان شو، نو د رسول پهلوان ورور جنرال مالک د دوستم پر ضد راپورته شو او د طالبانو په مرسته یې د شمال څخه خارج ته وشړی چې تر اوسه د باندې دی.

دا درې څیرې چې دلته معرفي شوي پیژندنه یې ضروري وه، ځکه همدغه درې کسه چې لوی قوماندان دي، ډیر تخریبونه یې کړي دي، خو په خاصه توګه یې د کابل په ښار کې د ۶۰ زره خلکو وژنه او د کابل د ښار ورانی د دوی عمل ؤ.

په عمومي توګه شمال د دغو قوماندانانو په لاس کې ؤ، جوزجان د رشید دوستم، میمنه

رسول پهلوان، غفار پهلوان سرپل، نادري بغلان، څو وروسته دا ټوله د رشید دوستم تر قومانده لاندې شول، ولې د رسول پهلوان له وژلو سره د هغه ورور جنرال مالک او غفار پهلوان د رشید دوستم قدرت ته خاتمه ورکړه او د هیواد څخه یې وایوست.

## ۲۰- حیرانونکې خسارې:

د یوویشت کلن جنګ څخه چې افغان هیواد او ټولنې ته کوم زیان او خساره رسیدلې ده د هغې دقیقه احصائیه خو څه کوې تخمیني احصائیه یې هم په مکمله توګه نشي اخیستل کیدای.

زه د لته د ځینو خپرونو په استفاده د یو شمیر خساراتو په باب معلومات وړاندې کوم خو دا هم پوره او مکمل نه دي، ځکه په زماني لحاظ ټول شل کاله په بر کې نه نیسي، خو د دغې سرسري تابلو څخه هغه هولناک زیان تخمین کیدای شي چې ښایي په لس ګونو کالو یې د بیرته آبادي پر کار افغانان قادر نشي.

د دې برخې تفصیل ښایي ډیر پراخ وي، خو زما په عقیده ضروري دی. ما دا مضمون څو برخو ته وویشل چې په هغه کې به یوازې د کابل د ښار د مختلفو برخو تخریب توضیح شي، په بله برخه کې به د تسلیحاتو او انساني وژلنګ په باب معلومات وړاندې شي، په هغه پسې به د اقتصادي او فرهنګي تخریب په باب ځیني مسایل تشریح شي.

غالباً ځینو لوستونکو ته به دا پوښتنه ور ولاړه شي چې ولې د ټول هیواد په باب لیکنه نه کیږي، باید په معذرت ووایم چې یوازې د کابل په باب مو په سل کې اویا نشو توضیح کولای، نو د نور هیواد په باب خو اصلاً دا کار ممکن نه دی.

د یو افغان روښانفکر نظر:

د افغانستان معروف لیکوال عبدالحق واله په یوه لیکنه کې چې کاملاً واقعیت دی د ۱۳۷۷ شمسي کال د آزاد افغانستان د جریدې په څلورمه ګڼه کې، چې په پیښور کې خپریږي، د پاکستان تاجرانو د تخریب په باب لیکلي دي:

«داسې جفا به ډیر لږ انسانان هم له خپل وطن سره و نه کړي، لکه یو شمیر ناپوهو چې د پلچرخي پر صنعتي سیمه وکړه. زه باور لرم چې دوی دا کار کابل ته د فاتحانه راتګ په خاطر د نمایش لپاره و نه کړ، بلکې د دوی پیشوایانو یو شمیر پاکستاني فابریکه داران تطمیع کړي وو چې د افغانستان سپک صنایع له منځه یوسي، څو د افغان رنج کشیده ملت کلونه کلونه د دوی صنایع چې نازل کیفیت لري رانیسي، ځکه د عرضې مقدار یې تر داخلي تقاضا به مراتبو زیات دی او له همدغه ځایه یې د مرکزي آسیا بازارونه اشتها قمچین شوي ده.

د پلچرخي د ټولو فابریکو د نوي جوړښت لپاره باید د ملګرو ملتو د صنعتي پراختیا د مؤسسې له خوا برآورد او تاوان یې د پاکستاني فابریکه دارانو څخه هرڅېرې چې وي واخلي.»[۱]

د کابل ښار د جنګ د خرابیو په وجه بیخي د دوهم جنګ په دوران کې برلین ته ورته منظره لري. نور ښارونه هم د غارونو په شکل دي او تور دود یې رنګ وراړولی دی.

د ۱۹۷۹ څخه بیا چې په ۱۹۸۰ کې د شوروي سرو لښکرو پر کابل یرغل وکړ، د هیواد پر اطرافو سخت جنګونه تیر شول او د روسانو په بمباریو کې د هیواد اطراف سخت زیانمن شول او ډیر انسانان پکښې ووژل شول، خو د کابل ښار ته زیان و نه رسید. کابل د تنظیمي حاکمیت سره د تخریب سره مخامخ شو او پر کابل د تنظیمي جنګونو له پلوه لویه خرابي مسلطه شوه چې په هغه کې د ښار درې پر څلور برخې کاملاً په کنډوالو بدلې شوه، په دې کې د کابل لویدیځ ته د خوشحال مینه، افشار، سیلو، کارته مامورین، کوټه سنګي، د هزاره ؤ د عبدالعلي مزاري او اتحاد اسلامي سیاف له خوا په تورو کنډوالو بدله شوه او له استوګنې ووته.

همدارنګه څلورمه کارته، دریمه کارته، دارالامان چې د ښار ډیرې ښکلې مانۍ پکښې واقع وې د هزاره ګانو له خوا اشغال شوه او احمدشاه مسعود د آسمایي غره (تلویزیون غر) څخه په راکټونو داسې وویشتل چې یو دیوال یې هم روغ پاتې نشو، همدارنګه مسعود د پل هارتل څخه تر چمن حضوري پورې ټوله جاده په راکټونو لوټې لوټې کړه او ډیر انسانان تر خاورو پکښې لاندې شول.

د کابل جنوب لویدیځ ته ګذرګاه، جنګلک، چهلستون، او نور ښکلې کلي د ګلبدین او مسعود په جګړو کې پاک وسوځل شوه، همدارنګه د کابل ختیځ ته شاه شهید، سیدنورمحمد شاه مینه، رحمان مینه او بګرامي د هغو له فابریکو سره د ګلبدین او مسعود په راکټونو کې ټوټه ټوټه شول.

د ښار په منځ کې د ښار جنوب ټول وران شو او لومړی مکروریان تخریب او دریم مکروریان یو دبرخه ورانه او نور متروک شو او دومره په وحشت کې غرق شو چې سجان پکښې پیدا شول چې په خرابو کې الوزې او نارې وهي، او د خرابۍ سمبول بلل کیږي، خلص دا چې ښار بلکل پر سینه پریوت، بریښنا ولاړه او د څښلو د اوبو سیستم یې مخله تخریب شو.

د تنظیمي جنګونو سره د ښار امنیت بلکل له منځه ولاړ او د مسعود -ګلبدین- دوستم- سیاف او مزاري خلکو د دفترونو سامانونه او لوازم یو مخیزه لوټ کړل، بیا یې د خلکو کورونو ته لاس واچاوه او هرچا به یو دوه دوې لارې راوګرځولې بیا به یې له مالونو ډکې کړې او شمال او ختیځ

(۱) ص ۳۹٦ آسیای میانه و افغانستان در کنار آتش د عبدالحمید مبارز اثر د ۱۹۹۹ په جنوري کې د پېښور چاپ.

ته به یې وړل، غلا دومره عامه شوه چې د چرګې څخه نیولې تر انسان پورې به غلا کیدل او هزاره ګانو خو د خلکو په سرونو کې میخونه ورټکوهل او نورو هر یوه د خپلې وحشتناکې سلیقې سره انسانان په قتل رسول. رحم او عاطفه ناپیژندلي کلمات وو او یوازې غضب او وحشت حاکمیت کاوه.

شوروی قواوې چې پر افغانستان یې تیری وکړ شمېر یې د (۱۱۰ زرو څخه) تر (۱۳۰ زرو) پورې رسیده.

په جنګونو کې یې د (۳۰۰) میګ جټ الوتکو او (۶۰۰) هلیکوپترونو څخه کار واخیست چې وخت په وخت زیاتیدی.

په دې جګړه کې روسانو -Bliner d(T.u. 22) Feder - (Foncer -42) ( Su-42) (Mi 42 (Mi-18-17) (29 بم غورځونکې الوتکې، چې نوې وسله وه، استعمال کړه.

په جنګ کې د شورویانو د مړو شمیر (۱۳۳۱۰ تر ۱۵۰۰۰) پورې د ژوبل شویو شمېر (۳۵٤۷۸ تر ۳۷۰۰۰) پورې او د لادرکه عسکرو شمېر (۳۱۰) تنه ؤ.

په مجموعي توګه په دې جنګ کې د شوریانو (۷۰۰-۷۵۰) جټ الوتکې او هلیکوپترونه (٤٥٠-٦٠٠)، ټانکونه (٧٤٠-٨٥٠)، نفر وړونکي زغروالي واسطې (۹۵۰) دول دول توپونه (٥٤٠٠-٦٠٠٠) عرادې لارې له منځه تللې دي.

په دې جګړه کې په لس کلونو چې د شوروي نوي عسکر د زرو پر ځای راتلل په مجموعي توګه یو ملیون شوروي عسکرو برخه اخیستې وه دا خو د شوروي د زیان برخه وه چې د خپله لاسه ورپیښه وه.

په داخل کې یو نیم ملیون افغانان قتل شوي تقریباً پنځه ملیونه د هیواد څخه مهاجر شوي دي او په عمراني لحاظ هم ډیر سخت زیان ور رسیدلی دی.

د افغانستان په جګړه کې د شوروي او امریکا له خوا مجموعاً (۱٦٠) ملیارده ډالره صرف شوي دي چې ۹۵ ملیارده شوروي او ٦٥ ملیارده امریکا او سعودي عربستان لګولي دي.

یو چا په تخمیني توګه یو حساب کړی دی چې خساره تر ودانۍ په لړ مصرف سرته رسیږي او هغه خساره چې یو ډالر واخلي په ۱۰ ډالره بیرته ودانیږي، په دې توګه نو (۱٦٠) ملیارده ډالره چې د افغانستان په تخریب کې مصرف شوي دي که په لس فیصدي محاسبه وکړو، نو د آبادۍ لپاره یې (۱٦٠٠) ملیارده ډالره ورته په کار دي داچې مرسته نه ممکن ده او نه میسره چې افغانستان ته ورسول شي، نو شایي په شل کاله کار بیرته هغه ځای ته ورسول شي چې په ۱۹۷۸ کې ؤ.

وایي په دې جګړو کې چې افغانان وژل شوي دي که یې د سر کوپړۍ (جمجمې) یو د بل اړخ ته کېښېښوول شي نو یو پنځه سوه کیلومتره واټن به ونیسي.

افغانستان د نورو هیوادو په مقایسه یو درند صدمه لیدلی دی. مثلاً د شوروي په دوهم نړیوال جنګ کې له آلمان سره په هرو ۹ تنو کې یو تن تلفات لیدلي، آلمان په هرو لس تنو کې یو تن له لاسه ورکړي دي.

همدارنګه د ایران او عراق په جنګ کې د هرو ۳۰ تنو څخه یو تن او عراق د هرو ۱۷ تنو څخه یو تن تلفات درلودل، خو افغانستان په دې جنګ کې د هرو پنځو تنو څخه یو تن تلفات درلودل. په اقتصادي برخه کې تر (۲۰۰۰) زیاتې موسسې ورانې شوې او ماشینونه یې د پېښور په کارخانو کې خرڅ شوي دي.

لویه مطبعه د ماشینانو سره ټوټه، ټوټه شوه او ماشین خانه یې ونړیده، د جنګلک فابریکه د ګلبدین حکمتیار نفرو خلاصه او په لاریو کې پاکستان ته یووړه، په دې کارخانه کې موټران مونتاژېدل، د کیمیا لابراتوار چې په پاکستان، ایران او د مرکزي آسیا په جمهوریتو کې بې مثاله و د مسعود خلکو پاکستاني انجنیران راوستل او هغو په احتیاط خلاص او پاکستان ته یووړ.

همدارنګه د اکادمۍ علوم لابراتوارونه ټول پاکستان ته نقل شول او د دې مسؤل د مسعود شورای نظار روه.

ډیر رمسایل شته چې موږ اوس د هغه لپاره حاضر جواب نشو ویلای چې ولې پاکستان سوداګرانو دلته د خلکو څخه زاړه کیبلونه د نویو په پرتله په بونیم قیمت اخیستل او خلکو به د مکروریان د تاخانو سیستمونه ورانول او زاړه کیبلونه به یې پاکستان ته وړل. بل ځای یې د پستې او شیرین بویې ریښې تر اصل پستې او شیرین بویې په دوه چنده لوړ قیمت اخیستې چې په دې توګه د پستې او شیرین بویې ځنګلونه وچ شول.

په پای کې یې د انساني مړو هډوکي راټیول او وړي افغانانو د پلار او نیکه له قبرو څخه هډونه ایستل او پاکستان ته یې وړل.

د کابل له ښاره ټول بسونه یووړل شول، په پېښور او د پاکستان د نورو ښارونو کې چلېدل او د روغتونونو څخه امبولانسونه ټول نقل شول.

شدید ترینه خساره چې پر هیواد تحمیل شوه هغه د کنړ او پکتیا ځنګلونه وو چې په لس ګونو زره مکعب متره لرګي په هره میاشت کې په ډیره بې رحمۍ وهل کېدل او په کراچۍ او دوبۍ کې د دغو لرګو مارکیټونه جوړ شوي وو.

د شهادت اخبار په ۹۳۱ ګڼه کې ولیکل چې د نجیب حکومت تر اخیري دورې پورې مجموعاً

ACKU

۱۶۰ ملیارده افغانی نوټونه په شوروی کې چاپ کړی وو، خو د ربانی اداره په شل میاشتې کې پنځه زره ملیارده افغانی نوټونه چاپ کړی دی. او ربانی به پر پرزه خلکو (قوماندانانو) ته پیسې ورکولې. یو ظریف لیکوال لیکلی دی چې ربانی تر پایه له پرزې څخه حوالې ته و نه رسید.

ددې کار هغه تخریبی پلو خو دا ؤ چې په اول کې شوروی په وروسته کې روسیې چې نجیب یا ربانی ته نوټونه چاپول که به یې یو ملیون دوی ته چاپول یو ملیون به یې ځانته چاپول او دغه د غلا په نوټونو یې بیا د قاچاقبرانو په وسیله د کابل په بازار کې ډالرونه رانیول او په دې توګه د افغانستان په پیسه افغانۍ کې یو داسې لیونی انفلاسیون ولګید چې قیمتونه یو زر چنده لوړ شول، یعنې کوم شی چې تر مخه یو روپی قیمت درلود اوس د هغه قیمت زر روپۍ شو.

لکه دا نور تخریبونه د فرهنګ په برخه کې هم زیان په همدغه اندازه ؤ.

تر هغه وختونو پورې چې د نجیب دولت سقوط کاوه (۳۵۰۰) ښوونځی وران ویجاړ شوی وه دا یا د روسانو له بمباری څخه وران شول یا د مجاهدینو په راکټونو یې زیان ولید. مجاهدینو ښوونځی د کمونیستانو ځالې بللې. کابل پوهنتون هم تعطیل شو او هغه مهال چې د حزب وحدت د هزارګانو لاس ته ورغی نو منظماً تخریب شو، هغه مهال چې کابل د جمعیت تر نفوذ لاندې شو، نو د شورای نظار ټوپکیانو عامه کتابخانه چور کړ داو قیمتی آثار یې په خس وپلورل او د پوهنتون کتابخانه د حزب وحدت هزارګانو لوټ کړ د ښار نورې کتابخانې هم چور او چپاو شوې. کابل موزیم، ملی آرشیف او ملی ګیلری بلکل لوټ شول.

زه (ددې کرښو لیکوال) چې په ۱۹۹۵ کې د څو ورځو لپاره د موزیم د بیا ودانی او د فرهنګی میراثونو د ټولنې انتخابی رئیس شوم او بیامې ژر ځان ګوښه کړ، نو د موزیم په لوټ ښه خبر شوم.

کابل موزیم که څه هم د کمیت له پلوه ډیر غټ موزیم نه ؤ، خو د ارزښتمندو آثارو په خاصه توګه د بودایی آثارو له پلوه یې په سیمه کې لومړی مقام درلود.

په دې موزیم کې ډیر قیمتی آثار رایوځای شوی وه خو په ۱۹۹۲ کې چې تنظیمی حاکمیت منځته راغی، نو موزیم د شورای نظار تر حاکمیت لاندې شو چې سردسته آثار یې چور شول او په دوهم ځل کې د حزب وحدت د حاکمیت په ساحه کې واقع شو چې هغوی ښه بیخ او بوټې ور وکښې. ګلبدین حکمتیار کوښښ وکړ چې دا سیمه تر خپل نفوذ لاندې ونیسی، خو بریالی نشو.

په ۱۹۹۳ کې قصداً یو راکټ د موزیم د ودانی پر بام وویشتل شو چې دا یوه بهانه شوه چې د موزیم کوټو ته ټوپکیان ورننوځی په دې وار کې د قبل التاریخ آثارو ته زیان ورسید، خو ځینی د سکو کتلاکونه چې زیاتره یې طلایی سیکې وې چور شول.

په دې وخت کې د پاکستان سوداګران راورسیدل او په خپل محل (موزیم) کې یې د روم،

یونان، مصر، چین، هند او مرکزي آسیا آثار په پیسو له توپک والاؤ څخه رانیول، ۲۱ زره د باختري تمدن ټوټې چې په دې کې د سکندر جام هم شامل ؤ غلا شول.

هغه آثار چې د قاچاق په نامه د اسلام آباد د گمرک په یوه کوټه کې اچول شوي او کوټه په ډکه وه پر هغه مخ پسې ورک شول، د بودا د مجسمې یو سر چې ډیر غټ هم نه ؤ په جاپان کې په شپږ لکه ډالره خرڅ شو.

په یوه راپور کې چې سهواً له داره مارانو پاته شوي ؤ ۱۳ زره ټوټې د قبل التاریخ آثار څلویښت زره سکې، اته سوه د برونز او عاج څخه جوړ شوي مجسمې، ډیرې لرغونې چیني او بلوري ظرفونه د موزیم څخه غلا شوي وه ثبت شوي وه.

سره له دې چې یونسکو ته خبر ورکول شو چې د افغانستان د موزیم د آثارو خرڅول او رانیول دې بند شي، خو یونسکو په دې باب جدي اقدام ونه کړ او زه (د دې کرښو لیکوال) چې د فرهنگي میراثونو رئیس وم، د جمعیت د ځینو مشرانو له خوا تر انتقاد لاندې شوم چې ولې چې یونسکو ته خبر ورکړی دی او دا خو دې مجاهدین غله معرفي کړي دي، په داسې حال کې چې په دغه کار کې رښتیا د دوی ځیره رسوا کیده.

په دې توگه په ملي آرشیف کې ډیر لیکلي قیمتي اسناد پراته وه چې دا هم د جمعیت د شورای نظار غړو یووړل او پر پاکستاني سوداگرانو یې خرڅ کړل. نور هغه موزیم چې تر ملیارد ډالره یې هم قیمت زیات ؤ، نشته او نه به د هغه آثار بیا څوک افغانستان ته ورکوي.

# دوه ویشتم فصل

## د طالبانو تحریک

### ۱ - د تاریخ لیکنې له نظره د طالبانو پر تحریک د لیکنې ستونزې:

لومړی ستونزه خو دا ده چې د طالبانو تحریک تر اوسه په زماني لحاظ د تاریخ چوکاټ ته نه دی ورلویدلی، نو ځکه د تاریخ لیکنې د متود اصول نشي پکښې تطبیق کیدای.

د بلې خوا څرنګه چې تحریک اوس هم په جریان کې دی، نو د تاریخ لیکنې بو لیکوال په مشکل آزاد قضاوت کولای شي او حتی په ساده لیکنه کې هم باید احتیاط وکړی چې کوم توجیهات ورڅخه پیدا نشي او جنجال ورته ایجاد نه کړي.

ما ته زیاتره دوستانو سپارښت کاوه چې تر دغه فصل تیر شم، ځکه لیکنه یې سخته ده که یې د آزاد قضاوت په روحیه ولیکې، نو ښایي تکالیف درته پیښ شي، که تر حساسو ټکو تیر شې نو د محافظه کار او کتمان کوونکي حکم به در باندې وشي، زه هم د غو ټکو ته متوجه وم، ولې څرنګه چې د طالبانو تحریک یوه ډیره غټه واقعه او یوه نوې پدیده ده او ښایي په راتلونکي تاریخ کې به مهم ځای ولري، نو نن چې زه پخپله پر پیښو د حاضر او ناظر په موقف کې یم دغه معلومات چې

دلته به یې وړاندې کړم خاص ارزښت لري، که څه هم تاریخ شوی نه دی او د شرایطو ایجاب هم اجازه نه راکوي چې د ټولنپوهنې له نظره پر ورغبړم بنا ٔ هغه څه چې دلته راوړم هغه پخپله د طالبانو د منابعو څخه اقتباس شوي دي او زما نظر هیڅ نه دی پکښې منعکس شوی او نه یې هم مسؤلیت اخلم.

د پېښو کرونولوژیکه لړۍ په دقیقه توگه تعقیب شوې ده او نهایي دا به په راتلونکې کې هغو کسانو ته چې د طالبانو د تحریک په مورد کې تحقیقي لیکنه کوي ډېره مرسته وکړي.

څرنگه چې د طالبانو له رانگ سره د مطبوعات ډېر محدود شوي دي نو د لیکنې منابع هم لږ شوي دي، دا چې دلته نشرات صرف دا څلور اخبارونه (شریعت، هیواد، انیس او کابل تیمز) کوي هیڅ کافي نه دي. همدا رنگه په د باندې کې به د طالبانو په باب ډېرې لیکنې کېږي، خو هغو ته زما دسترس ډېر کم دی او دا هم یو دبله ډېرې ستونزه ده د دا ټولو ستونزو په قبول زما په عقیده د طالبانو د تحریک فصل د کتاب تکمیله ... سره له دې چې د تاریخ لیکنې په متود برابر نه دی، خو کرونولوژیک حیثیت یې بې ارزښته نه دی.

## ۲ - طالبان څوک دي؟

دا د مذهبي تعلیم ... کړي ځوان قشر دی چې په جماتونو او مدرسو کې پر کوچنیو او لویو ملایانو کتابونه لولي.

... شاگرد د خپل محل په مسجد کې پر ملا قاعده، بغدادي پیل کوي په تدریج چې په سبقونو کې مخته ځي نو د درس محل یې هم تغیر کوي او لوی کتابونه په لویو جماتونو کې پر لویو ملایانو وایي. زیاتره یې په ښارونو کې درسو ته ځي، خو په دې وروستیو وختونو کې چې په پاکستان کې مدرسې زیاتې شوي او د افغانستان لارې ورته خلاصې شوي دي، نو زیاتره افغاني طالبان د پاکستان په مختلفو سیمو کې مدرسو ته داخلیږي او هلته د ډېرو لویو مولویانو څخه درسونه لولي او چې تکمیل یې کړي بیا د دستار بندي مراسم اجرا کیږي او بیا نو دغه ځوان فارغ شوی طالب د ملا مقام پیدا کوي او پخپله هم امامت کوي او هم نورو ته درس ورکوي.

د یوې احصاییې له مخې «د پاکستان په مدرسو کې مجموعاً (۷۰۹۹۳) طالبان درس لولي چې د هغې جملې څخه (۱۳۷۷۲) افغاني طالبان وو»[۱]

د دې مدرسو استادان د پېښور د حقانیه اسلامیه جامعې او د سرحد د دارالعلوم څخه تاکل کیږي.

(۱) عبدالحمید مبارز، حقایق و تحلیل وقایع سیاسی افغانستان، د پېښور چاپ، ۱۹۶ مخ.

په پاکستان کې د جمعیت طلبه یا جمعیت العلمای اسلام په نامه دا جریان یادیږي او مولوی فضل الرحمن یې مشر دی چې په افغاني طالبانو کې هم نفوذ لري. «د فکری لحاظه افغاني طالبان څلورو کتیه گوریو ته ویشل کیږي:

۱- د امت اسلامي طرفداران چې ناسیونالیزم ردوي او د خلفای راشدینو د خط پیرو ځانونه بولي، دوی وایي چې یو اسلامي نظام تأسیس او شریعت تطبیقوي.

۲- د ایران ضد گروپ چې د ایران مداخلې غندي.

۳- د پاکستان سره د اتحاد د سطح پراخول.

٤- معتدل گروپ چې یو څه ملي احساس هم لري او د نورو لاربنوونې په احتیاط اوري. د فرانسوی "افغانستان نوول" مجله ملامحمد عمر د طالبانو رهبر دغه گروپ ته منسوبوي ».[۱]

په عمومي توگه طالبان اطرافو ته منسوب دي او هلته چې هر د کورنی کوم ځوان یې طالب او په مدرسه کې وي دا افتخار گني.

د طالبی درس نصاب ډیر اوږد دی، ملا عبیدالله سندهی په خپل ملفوظات کې لیکي چې که مکمل دا درس کوم طالب ولولي، نو ۲۲ کاله عمر یې باید مصرف کړي وي.

خو هر طالب دا ټوله نه لولي صرف مذهبي برخه په یو ولنډه موده کې تکمیلوي او بیا مساجدو ته د امامت لپاره ځي، طالبان ځوانان دي او تازه روحیه لري، نو ځکه په کلیوالو ادبیاتو او فولکلور کې ډیر بنه ځای لري.

## ۳- د طالبانو هدفونه:

په لومړي سر کې چې طالبان راپورته شول نو خپل هدفونه یې ډیر محدود او ساده اعلان کړل. دوی وویل مونږ د فساد منبع وسلې ټولوو، مفسدین شړو او بیا بیرته خپلو مدرسو ته ځو. خو وروسته یې دولتي قدرت په لاس کې ونیو، حتی سیاسي نظام ته یې تغییر ورکړ، دولت یې په امارت واړاوه او امیر المومنین یې وټاکه او دا لاندې فقرې یې خپل اهداف اعلان کړل:

۱- د یو خالص اسلامي حکومت تاسیس.

۲- اسلام د دولت او مملکت دین په حیث.

۳- د شریعت تطبیق.

٤- د مسجدونو او جماعتونو آماده کول چې هلته مسلمان ملت په ډاډ عبادت او ژوند وکړي.

۵- په دولتي چارو کې د متدینو او مسلمانو خلکو تعیین.

۱) حقایق و تحلیل وقایع سیاسی افغانستان ۱۹٤ مخ.

٦- د ژبنی، نژادی او منطقوی تبعیضونو رینبه ایستل د هیواد مسلمانانو ته د اسلامی وروری شرایطو برابرول.
٧- د اسلامی او د باندنیو خارجی هیوادونو سره د دوستانه اړیکیو تنظیم.
٨- د هغو غیر مسلمانو اشخاصو د شخصیت او دارایی حفاظت چې په افغانستان کې استوګنه لری.
٩- د غیر اسلامی هیوادونو سره د نیکو روابطو هغسې ساتنه چې قوانین یې د شریعت پر اساس منځه راغلی وی.
١٠- د ښځو لپاره د سر څخه تر پښو پورې چادری په وسیله د حجاب تأمین.
١١- د اسلامی افغانستان په ټوله ساحه کې د (امر بالمعروف و نهی عن المنکر) د ډلو استقرار.
١٢- د اسلامی محاکمو په وسیله د شریعت احترام او تطبیق.
١٣- د سرحداتو د ساتنې لپاره د اسلامی اردو جوړونه.
١٤- د شاګردانو لپاره د مدرسه یی پروګرامو پراختیا چې یو د خدای(ج) د لارې مجاهد ورڅخه راووځی.
١٥- د ټولو بین المللی سیاسی مسایلو سره د قرآن او سنت په رڼا کې برخورد.
١٦- د علماؤ او باصلاحیتو اشخاصو له منځه د قضاتو انتخاب.
١٧- د دولتی اقتصادی سیستم اسلامی کول چې په سالمه توګه په زراعتی، صنعتی او د کانو په استخراج کې کار ورڅخه واخیستل شی.
١٨- د هیواد د بیا ودانی لپاره د اسلامی هیوادو د مرستو اخیستل، د فابریکو تاسیس او د کرنې د میکانیزه کولو او په اسلامی هیواد کې د اقتصاد فاجعې له منځه وړل.
١٩- د اسلامی مالیاتو تحصیل، لکه د زکات، عشر او جزیې اخیستل.[1]

پر دې فقرو وخت په وخت نورې هم زیاتې شوې دی او طالبانو د هیواد په سل کې ٩٠ برخه په لاس راوړې او د خپل حاکمیت او اهدافو د تطبیق په لار کې یې په زرګونو شهیدان ورکړی دی او دا جنګ لا ادامه لري.

## ٤- د تحریک پیل:

په کابل کې د ربانی حاکمیت سره په کندهار کې د تنظیمونو یوه ګډه ائتلافی اداره منځته راغله چې د بې بند و باری له پلوه یې مثال په بل ځای کې نه دی لیدل شوی.

جمعیت، حزب، محاذ، جبهه نجات، اتحاد او حتی د شیعه محسنی حرکت هر یو د دولت په نامه پر یوه اداره خیټې واچولی، لومړی یې هغه چور کړه وروسته یې د خپل داړ او تاړاک سنګر ورڅخه جوړ کړ.

(١) حقایق و تحلیل وقایع سیاسی افغانستان، ١٩٨ مخ.

ددغو تنظیمونو څخه ملانقیب قول اردو، گل آغا ولایت او نور هر یوه امیر لالي، استاد عبدالحلیم (دا یو موټروان ؤ په کندهار کې دریور ته هم استاد وایي) د کندهار اختیار واخیست او د حزب اسلامي څخه سرکاتب عطا محمد بالنسبه لوتماري نه کوله، نور نو هره یوه حتی د ښار په منځ کې پاټکونه درلودل او پر لویو لارو یې پاټکونه تړلي وه چې نه سپور نه پیاده نه موټر او نه خر ورڅخه تیریدای شوای، پیسې غوښتلې ښکنځل یې کول او حتی وهل یې کول.

دا تړوله چرسیان او ا اطت... او د خلکو زامن یې په زور پوستو ته بیول وروسته حتی خبره دې ته ورسیده چې د ...ن محمد ...وماندان په نامه پر هلک نکاح وتړله او هغه یې په گلپوش موټر کې کښینوی او د ښا له خوا چې د اوره یې راکټ ډزې کیدلې او په یوه ثانیه کې د کلاشینکوف په زرو مرمۍ فیر کیدلې، په ښار کې وگرځول شو. دې فضیحت ټول ښار زهیر کړ، ډیرو خلکو خپل زامن له ښاره نورو ځایو کابل او کویټې ته واستول، دغه وضع تر تحمل ووتله او ټولو انتظار ایسته چې د یوې خوا څخه به حرکت وشي چې ددغو فاسقانو او فاجرانو مخه ونیول شي.

په هم هغو وختونو، یعنی د ۱۹۹٤ په سپتمبر کې د پاکستان داخله وزیر نصیرالله بابر د کندهار او هرات لارو وکتله، دا ځکه چې پاکستان د ترکمنستان سره تجارتي اړیکې قایمې کړې وې او غوښتل یې انتقالات د افغانستان له جنوب لویدیځي سیمې څخه وشي خو دلته د تنظیمي پاټکیانو له خوا د لارې امنیت خراب ؤ، نصیرالله بابر د کندهار تنظیمي تسلط کوونکي راټول کړل او هغو ته یې وویل تاسې پاټکونه ټول کړئ، ددې تجارتي لارې څخه به مو دومره پیسې جیب ته درشي چې تر دا پاټک به زښته ډیرې وي، خو د کندهار دغو فرمانروایانو د پاټکونو له بندولو څخه استکاف کاوه او نصیرالله بابر هم غیر مستقیم اخطار ورکړ.

په همدغو ورځو کې یو ځوان پنځه دیرش کلن ملا طالب چې پخوا یې په جهاد کې هم اشتراک کړی ؤ، د ملا محمد عمر آخند په نامه راپورته شو او د خپل مسجد څخه چې د کندهار په سنگسار کې ؤ د کندهار څخه د پاټکونو د ایسته کولو او د فساد د ورکولو اراده وکړه او د طالبانو د تحریک پیلامه یې کښیښوده.

نور نو دا بیان د افغانستان د علومو اکاډمۍ د رئیس ملا محمد حسین مستسعد د هغې مقالې څخه را اقتباسوم چې په... کې یې د (په افغانستان کې د صلح امن او یو باثباته اسلامي مرکزي دولت جوړولو په لور هڅې) کې یې قرائت کړه او بیا ددغه سیمینار د مقالاتو په مجموعه کې خپره شوې ده. دی لیکي:

ملامحمدعمر اخند د تقوا او رسوخ له پلوه د هرچا د احترام وړ ؤ، هغه اراده وکړه چې قوماندانانو ته جرگې واستوي چې هغوی چور او فساد بند کړي.

پخپله ملامحمد عمر تر هغه وخته په جهاد کې شامل ؤ چې شوریان له هیواده وایستل شول، وروسته بیر ته مسجد ته ولاړ، خو کله چې یې فساد ولید نو بیا یې د یو بل ډول جهاد اراده یې وکړه. د دلومړي د میوند په ولسوالۍ کې د طالبانو یو غونډه جوړه کړه، په دغه وخت کې د دوی شمیر پنځوسو تنو ته رسیده. دوی وسلو ته ضرورت درلود وروسته یې د میوند په ولسوالۍ کې حاجي بشر ته چې په عین زمان کې د میوند ولسوال هم ؤ مراجعه وکړه او هغه یو شمیر سپکې او درنې وسلې او یو د عراده هینو لارۍ او یو تیوتا موټر ورکړ.

ملامحمد عمر اخند خپل خلک پاټکیانو ته ورواستول چې چور او چپاو بند کړي او پرېږدي چې طالبان د لارې امنیت وساتي، خو هغو دې کار ته کله زړه ښه کاوه. په دې لړ کې د ارغستان په ولسوالۍ کې طالبانو د فتح غله پر پاټک حمله وکړه او هغه یې له منځه یووړ او د طالبانو یو قوماندان ملااختر محمد هم ووژل شو. دغه د طالبانو یوې ډلې په پاشمول کې د صالح قوماندان پاټک ورخراب کړ.

په دغه وخت کې د طالبانو شمیر درې سوو ته رسیده او د سپین بولدک پر خوایې مبارزه ور روانه کړه. په دغه وخت کې د کندهار مفسدینو ملامحمد عمر اخند ته خبر ورکړ چې کندهار ته ورشي امنیه قومانداني په به ورکړي، خو ملامحمد عمر د هغو ځواب ولیکه چې پاټکونه بند د غلا او لواطت څخه لاس واخلئ مونږ د چوکۍ لپاره نه یو راولاړ شوي.

طالبانو د ۱۹۹٤ په نوامبر په اوایلو کې سل کسه طالبان په دوو لاریو کې بولدک ته ولیږل، هغوی په سپینه ورځ د بولدک ولسوالۍ ونیوله او په دې ترڅ کې یې د ګلبدین حکمتیار د وسلو یو ډیر غټ ډیپو په لاس ورغی او دغو وسلو د طالبانو ملا ورټینګه کړه.

د ملامحمد عمر شهرت ډیر پراخ شو او د کندهار خلک چې د مفسدینو څخه سخت په عذاب وو د طالبانو راتګ ته سخت لیوال وو.

د طالبانو د تحریک پیل چې له میوند ولسوالۍ څخه شوی او تر بولدک را اوږد شوی ؤ ډیر کامیابه ؤ، وروسته نو چې کندهار ته داخل شو د بله مهمه مرحله پیل شوه.

## ٥ - د کندهار سقوط:

د طالبانو قوتونه چې له بولدک څخه فاتحانه پر کندهار را روان ؤ په لار کې د پاکستان دوی لارۍ مالونه چې پاټکیانو چور کړي وو طالبان متأثر کړل، خو په دغه وخت کې د عصمت ملبتنی یو قوماندان منصور لار د طالبانو څخه ونیوله، خو مات شو او وتښتېدی. طالبانو هغه و نو د ... ټانک په میل پورې یې غرغره کړه.

له دغه ځایه طالبانو هوایي ډگر ته مخه کړه او هغه یې ونیوه او د ۱۹۹٤ د نوامبر په څلورمه کندهار خود بخوده سقوط وکړ او طالبان پر مسلط شول.

دوی په لومړی ځل د امیر لالي یو لچک قوماندان یاروونیوه او دا یې هم د ... نک په میل پوري په دار کړ.

په کندهار کې یوازې د حزب اسلامي قوماندان سرکاتب عطا محمد مقاومت وکړ او حتی د باغ پل په برخه کې یې جنگ و ... د خاکریز اسلام درې ته وتښتید.

د نوامبر په ۱۱ د کندهار د قول اردو قوماندان ملانقیب تپوله عسکری تشکیلات او تسلیحات طالبانو ته تسلیم کړل. څرنگه چې دی د جمعیت (رباني) قوماندانو، نو د هغه په لارښوونه یې قول اردو تسلیم کړه، رباني بیا داسې فکر کاوه چې طالبان به دده رقیب گلبدین ووهي او بیا به پخپله رباني ته تسلیم شي، خو دده ې خوب تعبیر چپه راووت.

د قول اردو په تسلیمیدو طالبان یو رښتیاني قدرت شو او د نړۍ مطبوعاتو لیکنې پر پیل کړې.

د پاکستان د نیشن اخبار ولیکل چې زموږ دوه نمایندگان له بولدک څخه تر کندهارده طالبانو سره تللي ؤ هغوی وایي چې موږ د پاکستان سرحدي ملیشې ولیدې چې د طالبانو سره ملگري وي، خو دا خبر او ادعا طالبانو رد کړې ده.

په کویټه کې د « آی. ایس. آی » مسؤل کرنیل امام چې د جنوب لویدیځ افغانستان په تخریب کې لوی نوم لري د طالبانو سره کندهار ته راغي او حتی په ولایت کې یې کار کاوه.

د کراچي اخبارو طالبان د ظاهرشاه لښکر وباله او وې ویل چې دوی د هغه لپاره کار کوی، خو وروسته معلومه شوه چې رښتیا نه وو. طالبانو د کندهار قوماندانانو او وسله والو خلکو څخه وسلې ټولې کړې بیا یې هلمند او ارزگان ته مخه وکړه او هغه یې هم فتح کړه او وروسته مخ پر غزني روان شول.

طالبانو په کندهار کې خلکو ته امر وکړ چې ږیرې پریږدي، سرونه وخیریي، ساز ممنوع شو او تلویزیونونه بند شول، ښځو ته امر وشو چې له کورو راونه وځي او که راوځي شرعي محرم به ورسره وي او پخپله به یې چادری (بوقره) کړې وي.

دوی کندهار ته د ورتگ په دوهمه هفته په عام محضر کې ښځې ودبولې. نور نو کندهار د طالبانو مرکز شو.

## ٦- د غزنی سقوط او د میدان ښار قرارګاه ګرځول:

د ربانی د وخت د غزنی والی قاری بابا د مولوی محمد نبی محمدی د حرکت انقلاب اسلامی د تنظیم سړی ؤ، خو د ربانی پیسو دومره جذب کړی ؤ چې تر مولوی محمدی یې ربانی ته ډیره وفاداری څرګندوله.

د ربانی پروګرام دا ؤ چې طالبان پر کابل را تشویق کړی چې دلته د ګلبدین حکمتیار له منځه وباسی، نو قاری بابا ته یې وویل چې طالبان را دعوت کړه چې غزنی ته راشی. هغه هم دا کار وکړ. څرنګه چې طالبانو په هلمند او ارزګان کې څه مصروفیتونه درلودل، نو یو څه معطلی راغله، په دغه منځ کې ګلبدین حکمتیار خپل خلک د طالبانو په جامو کې غزنی ته ننه ایستل، خو قاری بابا چې کله پوه شو، نو څه یې لاس ته نه ورتلل او د ګلبدین سره بندی شو.

کله چې طالبان خبر شول نو په چټکی مخ پر کابل راوخوځیدل او ۱۹۹۵ د جنوری په دریمه هفته کې یې په غزنی کې د حکمتیار له قوتونو سره سخت جنګ وکړ او د جنوری په ۲٦ غزنی سقوط وکړ او د طالبانو په لاس کې پریوت.

په همدغه وخت کې د کابل څخه د ربانی یو هیأت غزنی ته ورسید او د ربانی تر پیغام وروسته یې طالبانو ته وویل چې جمهور رئیس ستاسو انتظار کوی چې ستاسو په مرسته کارونه سرته ورسوی. خو طالبانو دی هیأت ته لنډ ځواب ورکړ چې موږ بل څه نه غواړو تاسو په جنګ بندوئ، وسلې به تسلیموئ، د خپلو صفونو څخه به کمونیستان لیرې او شریعت به جاری کوئ او د ښځو حجاب به مراعاتوئ. دا خبرې چې ربانی ته را رسیدې نو په دې پوه شو چې طالبان هیڅ دعوت نه قبلوی او ښایی د دوی سره خونړی جنګونه په مخ کې وی.

طالبانو په غزنی کې خپل خلک ځای پر ځای کړه او مخ پر میدان ښار روان شول او هغه ښارګی یې د فبروری په لومړی هفته کې ونیو او په دغه ځای کې د احمدشاه مسعود یو هیأت ورته راورسید او دوی ته یې وویل چې که پر کابل د حملې نیت ولری باید په دې پوه شی د دغه کار عواقب به ښه نه وی، خو طالبانو دغه هیأت ته هم هغه خبرې وکړې چې په غزنی کې یې د استاد ربانی هیأت ته کړې وی طالبانو میدان ښار خپله قرارګاه کړه.

همدارنګه د سیاف نماینده ورته راغلی او ورته ویې ویل چې د میدان ښار څخه د چوکی ارغندی پر لار پر کابل د حملې څخه ځان وژغوری، خو طالبانو ځواب ورنه کړ.

د طالبانو قوتونه د میدان ښار څخه پر لوګر روان شول او د فبروری په ۱٤ یې د لوګر مرکز پل علم ونیو او په دې توګه یې د جنوب له خوا د ګلبدین حکمتیار مرکز چهار آسیاب ته ځان برابر کړ.

## ۷- د چهارآسیاب فتح او د کابل ښار جنوب ته د طالبانو داخلیدل:

طالبانو چې لوگر نیولی ؤ، نو هره گړی انتظار کیده چې د گلبدین حکمتیار پر مرکز چهارآسیاب به حمله وکړي، ځو د ۱۹۹۵ د فبروري په ۱۳ شپه په ناڅاپي توگه گلبدین دا مرکز خوشې کړ. ده دا کار په دومره وارخطایي وکړ چې حتی د خپل حزب مهم اسناد یې هم له یاده ووتل.
مخکې تر دې چې طالبان دغه مرکز ته داخل شي د احمدشاه مسعود توپک والاؤ اشغال کړ، خو په سبا چې طالبانو اخطار ورکړ، نو مسعود چهارآسیاب خوشې کړه، خو مهم ستراتیژیک مرکزونه یې وساتل.
په دغه وخت کې د کابل لویدیځ ته د حزب وحدت (شیعه) مشر عبدالعلي مزاري طالبانو ته بلنه ورکوله څو یې د مسعود له قتل و قتال څخه وژغوري، خو کله چې مسعود خبر شو، نو یوه داسې شدیده حمله یې پر وکړه چې ډیر هزاره گان یې ووژل او ډیرو ښځې یې بوتلې او پر ناموسونو یې تجاوز وکړ.
طالبان د کابل د خلاصولو لپاره په تامه نابلدتیا د کابل ښار جنوب ته داخل شول او د دهمزنگ دارالامان پر سړک د شوروي تر سفارت پورې راورسیدل. خو دلته د مسعود قواوو سخت ټکانونه ورکړل او دوی هم مصلحتاً پرر شا شول.
په همدغو وختونو کې خبر ورسید چې د هرات والي اسمعیل خان په دلآرام کې د طالبانو پر قواوو ډیره سخته حمله کړې ده، او ټول پوه شول چې رباني هغه ته خبر ورکړی ؤ چې حمله وکړي، تر څو پر کابل د طالبانو فشار کم شي.
طالبان بیر ته چهارآسیاب ته راغله او قوتونو یې پکتیا او پکتیکا فتح کړه او میدان ښار یې نور هم تصفیه کړ. دا ځل یې نو د کابل لپاره د اوږدې مودې یو پلان جوړ کړ.
طالبانو پر حزب وحدت هم اعتماد نه درلود، خو هغو د مسعود څخه سخته ماتې خوړلې وه. د حزب وحدت مشر عبدالعلي مزاري په پټه غوښتل د چهارآسیاب له لارې میدان ښار ته ووځي او له هغه ځایه هزاره جات ته ولاړ شي، خو د چهارآسیاب په بزار کې وپیژندل شو او د ملگرو سره ونیول شو. طالبانو دی او ملگري یې په هلیکوپتر کې کندهار ته ولیږل خو په لار کې مزاري پر یوه محافظ طالب حمله وکړه چې کلاشینکوف ورڅخه واخلي، خو هغه پر ده ټکان وکړل او په دې توگه مزاري ووژل شو او هلیکوپتر د غزني په شا وخوا کې راښکته شوه ددې جریان خبر د مارچ په ۱٤ شپه راډیو اعلان کړ. طالبانو د میدان ښار او چهارآسیاب څخه د رباني پرضد د کابل پر ښار راکټونه

راویشتل چې په هر وار کې یې دفاع خلک وژل کېدل. د طالبانو نطاقانو اخطارونه صادرول چې خلک باید ښار خوشې او د رباني له اړخه رابیل شی او همجوار ولایتونو ته ولاړ شی، خو دا کار نه ممکن ؤ او نه میسر، بناءً ټولو خلکو مرګ منلی ؤ چې د هرې خوا په راکټپرانی کې وژل کېدل او کورونه یې خرابېدل.

## ۸- د هرات سقوط او د رباني شدید عکس العمل:

د سیاسی او ستراتیژیکی پلوه هرات یوه ډېره مهمه سیمه وه. په هرات کې د رباني د جمعیت یو تکړه قوماندان اسمعیل خان والی ؤ. کله چې پر کابل د طالبانو فشار زیات شو، نو رباني اسمعیل خان ته وویل چې د لویدیځې خوا پر کندهار حمله وکړي. اسمعیل خان هم په خاص غرور د دې حملې ترتیبات ونیول، مسعود له کابل څخه څو سوه د شورای نظار توپک والا وروليږل او هغو ته ویل شوی وو چې په لار کې هر څومره چور وکړي، نو د چور مالونه به یې د شینډنډ څخه په الوتکو کې کابل ته رانقل شی.

دا مغرور لښکر له هرات څخه په طنطنه راروان شو او په لار کې هیڅ مقاومت ورسره و نشود، څو د هلمند ولایت یوه بندر یې ښار ګرشک ته راورسید، دلته هم لږ مقاومت ورسره وشو او په دغه شپه د اسمعیل خان په آواز کې د کابل راډیو څخه یو بیان خپور شو چې هغه وویل ژر به مور له کندهار څخه طالبان بیرته پاکستان ته وروشړو.

د اسمعیل خان په خاصه توګه د شورای نظار سپاهیانو د ګرشک د خلکو کورونه لوټ کړل او مالونه یې په لاریو کې واچول، دوی غوښتل دا لاری شینډنډ ته واستوی او پخپله پر کندهار حمله وکړي چې ناڅاپه د طالبانو قوتونه پر ورتوی شول. پس له یوه شدید جنګ څخه چې هیچا یې انتظار نه درلود د اسمعیل خان لښکر مات شو او د هرات خواته یې مخه ونیوله، دې لښکر هغه لاری تر مخه کړي چې شینډنډ ته ورسیږي، خو طالبانو د بریښنا په شان دوی تعقیبول او د هرې خوا یې حملې پر کولې او داسې معلومیده چې طالبانو دوی ته موقع ورکړې وه چې ګرشک ته ورسیږي او د شا خواته یې په کمین کې نفر ورته اچولی وو. دا ترهیدلی لښکر چې د دوبی په موسم کې په سره دښته کې راګیر شوی ؤ تر دلآرام پورې یې ډېر نفر په قتل ورسیدل او په دې کې د کابل د لښکر نفر خورا زیات وو، طالبانو د چور د مالونو لاری راوګرځولی بیرته یې ګرشک ته ولیږل او بیا یې د اسمعیل خان لښکر تعقیب کړ. پخپله اسمعیل خان د قوماندانی وظیفه درلوده او هوایی بمباری یې هم کوله، خو د طالبانو فشار دومره ؤ چې په فراه کې یې بل شکست اسمعیل ته ورکړ او په دې پسې یې شینډنډ او ادرسکن ونیول د اسمعیل خان لښکر په هرات کې هم تکیه نشو او د ۱۹۹۵ سپتمبر

په پنځمه هرات سقوط وکړ او طالبان پر حاکمان شوه.

اسمعیل خان د زرو نفرو او د کندهار د تښتیدلو لچکو قوماندانانو سره ایران ته ولاړ او دې خبر ډوله سبمه وربږدوله، په خاصه توګه ایران او روسیې سخت عکس العمل وکړ او تر ټولو د رباني ډیر ودردیدی او وې ویل چې هرات پاکستان ونیو ، دی وویل موږ به نړۍ ته خپل شکایت ورسوو، خو تر هر چا مسعود ډیر عصبي ؤ چې د شورای نظار ډیر غړي یې د ګرشک په دښتو کې په قتل رسیدلي ود.

خلکو به چې له کندهار نه هرات تلل ویل چې تر ګرشک پورته دښوراو ک او تلخک دښتو نه د انسانانو له متلاشي شوي بدنونه څخه ډک وه او د بوی له لاسه طاقت نه کیده.

دا به ریښتیا د رباني حکومت ته یو دلویه ضربه وه او د طالبانو مورال د هرات په فتح ډیر لوړ ولاړ.

د هرات د سقوط په سبا په کابل کې د رباني د جمعیت او د مسعود د شورای نظار غړو بود ډیر د عصبي مظاهره وکړه او په هغه کې یې په کابل کې د پاکستان پر سفارت حمله وکړه ، سفیر په دې ناڅاپي حمله کې زخمي شو او د سفارت یو غړی (مستخدم) هم ووژل شو او سفارت چور او بیا اور ورواچول شو. په دې پسې پاکستان ډیر نرم احتجاج وکړ ، خپل سفیر او د سفارت غړی یې په دوو الوتکو کې وایستل او وروسته یې اعلان وکړ چې د رباني حکومت به دد غه عمل په نسبت رسه [۱] معذرت وغواړي او پنځلس ملیونه ډالر د به هم تاوان ورکوي، او دسفارت ودانۍ به ترمیموي.

هرات ته طالبانو ډیره پاملرنه وکړه او یو تکړه ملا د ملا یارمحمد په نامه یې هلته والي کړ او پاکستان هم هغه کرنیل امام چې په کویټه کې د پاکستان د « آی. ایس. آی » مسؤل او بیا چې طالبانو کندهار ونیو ، هلته یې وظایف اجرا کول اوس په هرات کې د پاکستان قنسل شو.

د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار دا کرنیل امام د کرنیل لارنس (هغه انګریز جاسوس چې په افغانستان کې سقوی اور بل کړ) په نامه یاد کړ او وې ویل چې اصلاً د هرات اداره دده ته سپارل شوې ده.

طالبانو سره له دې چې په هرات کې یې کلتوري پیوندونه چندان نه درلودل د امن او امان په برخه کې د خلکو رضایت حاصل کړ ، خو وروسته چې یې یو لړ فشارونه جاري کړل، نو خلک ناراضه شول.

طالبانو د هرات تر فتح وروسته د بادغیس خواته سوقیات پیل کړل چې دا هم په هره برخه کې بریالي وو.

## ۹- امیرالمؤمنین او د افغانستان اسلامي امارت:

د جهاد له پیل څخه د جهادي ګروپونو مشرانو ځانونه امیران بلل، مثلاً په حزب اسلامي کې هیڅا ته اجازه نه وه چې د حکمتیار له نامه سره بې له امیر بله کلمه استعمال کړي او دا نوم ددې لپاره عامیدی چې تولو ته دا ذهنیت عام کړي چې دوی د دین او سیاست نه سره بیلوي او امیر د جهاد د اعلان صلاحیت لري.

هغه مهال چې په کابل کې د مجاهدینو په دولت کې حضرت صبغت الله مجددي او برهان الدین رباني حاکمیت ته ورسیدل، هر یو د غوښتل د افغانستان د امیر په نامه یاد شي خو د مجاهدینو د رهبرانو د سیالیو او رقابتونو څخه هغوی دا جرئت و نه کړ چې دا لقب ځانته غوره کړي.

خو طالبان چې په اداره کې یې نه حریف درلود نه رقیب نو ژر بریالي شول چې خپل مشر د امیر په نامه یاد کړي. دوی په ډیره سادګی د ۱۹۹٦ کال د اپریل په ٤ یو زر پنځه سوه ملایان راغونډ کړل او د غو ملایانو په خپله غونډه کې د طالبانو د تحریک مؤسس ملامحمد عمر د افغانستان د امیرالمؤمنین په لقب نوموړی کړ.

اوس نو دا خبره رامنځته شوه چې د امیرالمؤمنین د حاکمیت سیمه باید په همدغسې نامه یاده شي او وروسته چې ملامحمد عمر آخند د امیرالمومنین مقام پیدا کړی ؤ د خپلو سلاکارانو په سلا د افغانستان د اسلامي دولت نوم د افغانستان د اسلامي امارت په نامه واړاوه. د دغه کار په وړاندې په داخل کې په خاموشی او په د باندې نړۍ کې په انتقادونو، تبصرو له دې نامه سره مخالفت وشو.

زه (ددې کرښو لیکوال) په ۱۹۹۵ په کویټه کې د مولوي فضل الرحمن د معاون مولانا محمد خان شیراني سره چې یو ځل د طالبانو او رباني تر منځ د اختلافاتو د حل منځګړی ؤ او بیا یې لوبړی اوربند قایم کړ، مخامخ وم، د دغه مولانا وویل په افغانستان کې باید د ایران غوندې نظام راشي، دده صراحت ورنکړ، خو مطلب یې دا ؤ چې دلته هم باید لکه خمیني یو مقام جوړ شي چې هغه تر دولت پورته وي. دا البته هم د پاکستان د جمعیت العمای اسلام او هم د طالبانو د نظر یو والی ؤ چې د امیرالمومنین مقام منځته راغی، د دغه نظر د تائید لپاره د امیرالمومنین تر ټاکنې وروسته د هرات والي ملایارمحمد د ایران راډیو سره په مرکه کې د ظاهرشاه د راتګ پر آوازو وویل چې طالبان هر هغه ځوک قبلوي چې د خدمت لپاره راځي، خو ظاهرشاه د مشرۍ لپاره موږ نه منو، ځکه موږ اوس امیرالمومنین لرو او ژر به تر ده لاندې ریاست جه ډور او نور مقامونه جوړ شي. دا هم هغه د مولوي محمد خان شیراني نظر دی.

طالبان مطلق دین او سیاست نه سره بیلوي، دوی وایي په دې توګه اسلامي نظام قوت او بقا پیدا کوي.

## ۱۰ - د رباني وروستي ناکامه تلاش (د ماهيپر غونډه):

د هرات سقوط او د کابل مضافاتو ته د طالبانو د رسیدلو یوه لویه وارخطايي پیدا کړه.

ګلبدين او مسعود سره له دې چې د يو او بل وينو ته تږي وه، ولې اوس په دې پوه شول چې طالبان هرڅه د دوی له لاسه باسي، نو رباني او نورو محافظه کارو جهادي رهبرانو ګلبدين ته خبر ورکړ چې په دغه حساسه موقع کې زړې بدۍ شاته ورغورځوي او په یود ګډه همکاري د کابل د سقوط مخه ونيسي. ګلبدين چې مرکز يې له لاسه وتلی او طالبانو غلبه پر کړې وه هم په واهمه کې ؤ او هم عصبي ؤ، نو د رباني او مسعود سره يې د ګډ فعاليت موافقه وکړه.

پر همدغه اساس يو شمير جهادي رهبران د جمعيت او حزب غړي رباني، مسعود او ګلبدين په ماهيپر کې د ۱۹۹۶ په جون کې راټول شول او يو ځل بيا ګلبدين د صدراعظم په توګه وټاکل شو. د رباني او ګلبدين او د ګلبدين او مسعود تر منځ پر ځينو اسنادو لاسليک وشو او ګلبدين په پوره زړه کابل ته راروان شو.

په کومه ورځ چې ګلبدين او د هغو د هرکلي کوونکو کاروان ښار ته رسيدی د طالبانو له خوا پنځوس راکټه پر کابل راوويشتل شوه چې خورا ډير خلک يې مړه او ژوبل کړه. ګلبدين حکمتيار چې کابل ته راغی، نو د متوحشو محدودو وزيرانو سره يې غونډې پيل کړې.

د ده په سرکې طالبانو ته ډير رغنده د صلح پيشنهادونه کول، خو طالبانو به ځواب ورکاوه چې فقط وسله تسليم کړه او د طالبانو اوامر ومنه.

وروسته حکمتيار مايوسه شو، نو په بدو او ردو ويلو يې پيل وکړ، خو طالبانو دی د کابل د ښار د خلکو قاتل او د ښار تخريبونکی باله.

حکمتيار کوښښ وکړ چې پر کابل د شمال لار را خلاصه کړي، خو رشيد دوستم هم دده سره صادقانه نه دريده، نو ځکه په کابل کې د قيمتونو هم هغه بحران جاري پاته شو. ګلبدين په رياکارۍ سينماوې بندې او مامورين يې مؤظف کړل چې د ماسپښين لمونځ په جماعت وکړي بيا کورو ته ولاړ شي، خو طالبانو ده ته موقع نه ورکوله.

حکمتيار جنرال حميد ګل د پاکستان د «آی. ايس. آی» پخواني رئيس او د ضياءالحق زوی اعجاز الحق ته مراجعه وکړي، خو د هغو هم په وس پوره نشوه چې ده ته نجات ورکړي، وروسته يې نارې کړل چې د طالبانو مشر نصيرالله بابر داخله وزير دی. ګلبدين کابل ته د طالبانو تر راتګ دوې ورځې پخوا وتښتيد.

## ۱۱- د طالبانو ستر مارش او د ننګرهار، کنړ او لغمان سقوط:

د طالبانو مارش یو د تعجب او حیرت پېښه ده. د سپتمبر په یوه میاشت کې یې د پکتیا، لوګر، ننګرهار، کونړ، لغمان، سروبي، تګاب تر بګرام پورې ټولې سیمې تصفیه او فتح کړې او د سپتمبر په ۲۷ د شپې پر یوه بجه یې کابل ته سقوط ورکړ.

طالبانو ددې مارش طرح له نظامي لحاظه ډېره ماهرانه کړې وه او په خپل دې مارش یې د مقابل خوا مورال ورکمزوره کړ، څو یې میدان خوشې کړ.

د ۱۹۹۶ د سپتمبر په اوایلو کې طالبانو د پکتیا د ځائیو په سپینه شګه کې د ګلبدین د وسلو ډېر غټ ډيپوګان ونیول او له هغه ځایه تر پنځه سوه موټره زیاته سپکه او درنه وسله نقل کړه. طالبانو له دغه ځایه پر ازره ډېرغل وکړ چې د پکتیا لوګر او ننګرهار تر منځ یوه لوړه سیمه ده، طالبانو چې دا ځای ونیو، حکمتیار وویل چې باید همدلته کلکه مقابله ورسره وشي، خو مسعود وویل طالبان باید جلال آباد ته داخل شي څو یې هلته قوتونه متلاشي شي، خو د جلال آباد والي او د شورا رئیس حاجي قدیر خپل درې زره کسه حصارک ته راوستل خود طالبانو د مارش په وړاندې هغه دود شول او طالبانو حصارک ونیوی.

په هم هغه شپه حاجي قدیر جلال آباد ته وتښتید او په چټکۍ یې ځان پېښور ته ورساوه.

طالبانو د حصارک او شا و خوا تر تصفیې وروسته پر جلال آباد حمله وکړه او هلته که څه هم د رباني د دولت او د جلال آباد د شورا توپک والا ورسره جنګیدل خو د طالبانو په وړاندې هر مقاومت په ماتې محکوم ؤ.

د جلال آباد د شورا مشران دسته جمعي پېښور ته روان شول خو تورخم ته نارسیده کمین ورته نیول شوی ؤ او همدلته انجنیر محمود، حاجي سازنور، نادرعرب او نعیم باچا ووژل شول، حضرت علي وتښتیدی او مسعود ته ورغی او فضل الحق مجاهد حکمتیار ته ورغی، نور ۷۰ تنه همدلته قتل عام شول.

رباني پر جلال آباد بمباري وکړه چې د ښار یوه برخه یې وسوځله د طالبانو یوه برخه کنړ ته روانه شوه او اسعد آباد ته ورسیده، بله پر درونټه او پل سرخکان لغمان ته ورسیده او دلته درو ولایتونو (ننګرهار، کنړ او لغمان) سقوط وکړ.

طالبان سره له دې چې د مسعود قواوو پر وریښمین تنګي مینونه ایښي وود تلفاتو په قبول وریښمین تنګي ونیو او پر سروبي ورپورته شول او له هغه ځایه یې د خپلو قوتونو یوه برخه د تګاب

پر دره د بګرام هوایي ډګر ته ولیږل او پاته یې دوې برخې کړل، یوه یې مستقیماً پر ماهیپر د مسعود له قوتونو سره وجنګول، بله برخه یې د لته بند پر لار کابل ته راسوق کړه. همدغه قوتونو د رباني د ځمکني او هوایي قوتونو سره سخت جنګ وکړ او د ماهیپر تر تنګي راووتل، پر همدغه ځای د طالبانو یو تکړه قوماندان ملابورجان ووژل شو.

## ۱۲- د کابل فتح او د ډاکتر نجیب اعدام:

د طالبانو قوتونو چې د مسعود ټوپکیان له سروبي څخه ماهیپر ته را تر شا کړي وو پسې تعقیبه یې کړل، خو د قوتونو بله برخه یې پر لته بند راووښتل او پلچرخي ته راغله، دلته شدید جنګ وشو، خو د شپې پر یوه بجه طالبان کابل ته داخل شول د سپتمبر په ۲۷ شپه کابل فتح شو.

د سپتمبر په ۲٦ ټوله ورځ د کابل څخه د جمعیت او شورای نظار ډلې د چور له مالونو سره په موټرانو کې وتل او د رباني ډالرونه او کلدارې په درې موټرو کې د رباني معتمد انجنیر ایوب د بریښنا وزیر بار کړې له دغو څخه یو موټر پر لار مسعود وګرځولې او نورې رباني ته پاته شوې.

د طالبانو قوتونه په ډیر آرامي ښار ته داخل شول او د سپتمبر په سهار چې د دوی موټران ښار ته ننوتل خلک یې تماشې ته ولاړه وهو دوی خلکو ته او خلکو دوی ته چې خورا ډیرې کینې یې اوریدلې وې په تعجب کتل.

په همدغه ورځ سهار پنځه کسه په کابل کې د ملګرو ملتونو دفتر ته داخل شول، پخواني جمهور رئیس ډاکتر نجیب الله او د هغه ورور احمدزی یې راوایستل، د آریانا په څلور لارې کې یې اعدام کړل او بیا یې ډاکتر نجیب د ترافیک په غرفه پورې وځړاوه په ګوتو کې سګرټ ورکړ او په خوله کې یې یو زرګون نوټ ورکښیښود او په دې توګه یې توهین کړ.

د ډاکتر نجیب د قتل آوازې ډیر انعکاس وکړ او خارجي ژورنالیستانو د امیرالمومنین له مشاور او نطاق مولوي وکیل احمد او د سرپرستي شورا د رئیس ملارباني سره مرکې وکړې، خو هغو په ځواب کې ورته وویل چې ډاکتر نجیب کافر ؤ، ډیر مسلمانان یې بې محاکمې وژلي وو، نو مونږ هم دی اعدام کړ. خو د ۱۹۹۸ د فبروري په ۲۲ د وزارت دفاع مرستیال ملاعبدالرزاق چې د چمن د ویش اڅکزی ؤ د سهار له اخبار سره په مرکه کې وویل چې مونږ اولسي خلک ؤ چې کابل ته داخل شوو او زما په امر ډاکتر نجیب الله ووژل شو، ما ته زما خلکو وویل مونږ یې کړو؟ ما ویل هو، ویل ویې ځړو؟ ما ویل هو! کله چې مې په کندهار کې امیرالمومنین ته د ډاکتر نجیب د مرګ خبر ورکړ هغه راته وویل: « ستر جنرالی دې مبارک شه! »

څو ورځې وروسته طالبانو د نجیب مړي سره صلیب ته ورکړ او صلیب د نجیب خپلوانو ته

وسپارداو هغو په پکتیا کې ددوی په پلرنی هدیرد کې ښخ کړ.

د ډاکتر نجیب د مرګ انعکاس په صوبه سرحد او بلوچستان کې ډیر زیات ؤ او هلته یې غیابي فاتحې واخیستل شوې، افواهات خپاره وو چې ډاکتر نجیب د پاکستان د «آی. ایس. آی» له خوا وژل شوی دی او ددې لپاره چې دا خبره له پاکستانه ایسته شي، نو په ملاعبدالرزاق دا ساختګي اعترافات شوي دي.

## ۱۳- د طالبانو اداري تشکیلات او پنځه فقره ایزه اعلامیه:

د کابل تر نیولو وروسته امیرالمؤمنین د هیواد د اداري تشکیل عالي ترین مقام د سرپرستي شورا په نامه یاد کړ چې شپږ غړي یې درلودل او د هغو له منځه د شورا د رئیس په حیث ملا محمد رباني وټاکل شو، نور نو د کندهار پخواني والي ملامحمد حسن اخند د مرستیال په توګه او د شورا د غړي په حیث مقرر شو. همدارنګه ملامحمد غوث چې وروسته د خارجه وزارت سرپرست شو او ملا احسان الله احسان او دوه نور کسان هم غړي وو، نور وزیران هم د سرپرست وزیرانو په نامه مقرر شول، خو د صلاحیت اصلي مرجع همدغه سرپرسته شورا وه.

د سرپرستي شورا رئیس د رئیس جمهور په توګه موقف درلود، ځکه په ډیپلوماتیک ساحه کې د هیوادونو مشرانو ته د مبارکۍ یا تعزیت تلګرامونه یا د هغو د تلګرامونو ځوابونه ټول د سرپرستي شورا د رئیس له خوا صادریدل.

همدارنګه د وزیرانو په شورا کې هم د سرپرستي شورا رئیس د غونډې رئیس ؤ. ددې په اړخ کې تر ټولو عالي مقام د امیرالمؤمنین ؤ چې د هغه له خوا په فرمانونو هدایات صادریدل او د هغه مقر کندهار ؤ. په دې توګه د اداري دوه مرکزه وو چې یو کابل بل کندهار ؤ.

طالبانو چې کابل ونیوی نو یوه پنځه فقره ایزه اعلامیه یې خپره کړه:

۱- ټوله اداره اسلامي ده.

۲- هرچا چې د بیت المال مال وړی وی ژر یې باید د اسلامي مربوطو ادارو ته وسپاری.

۳- هرڅوک د غلا یا ګډوډۍ اقدام وکړی سخته سزا به ورکول شي.

٤- ښځې دې تر ثاني امر پورې په کورو کې کښيني او دفترو ته دې نه ځي.

٥- ښځې چې د باندې راوځي باید مکملاً په بقره کې پټې وي.

ددې اعلامیې د تطبیق لپاره د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ډلې چې خارجي مطبوعاتو د مذهبي پولیسانو نوم پر ایښی ؤ مؤظف شول او هغو هم ښځو او نرو ته په عام محضر کې په ډبولو مجازات ورکړل.

په لویو لارو کې خلک د لمانځه پر وخت مسجدونو ته رهنمایي کېدل چې په جماعت لمونځ وکړي، په دې کار کې دومره افراط کېده چې په یوه سړي به درې وارد د مازدیگر لمونځ کېده. طالبانو خلکو ته توصیې کولې چې ځان د اسلام د قانون سره برابر کړي.

## ١٤- شمال ته د طالبانو پرمختګ او عکس العملونه:

طالبانو لا په کابل کې پوره سا نه وه اچولې چې د شمال پر خوا یې پوځونه روان شول او د سپتمبر په ۲۹ یې چهاریکار ونیو او د اکتوبر په اول د جبل السراج تر نیولو وروسته د پنجشیر د درې خولې ته ورسېدل. کله چې دوی د داخلېدو هڅه وکړه د مسعود نظامي انجنیرانو د سړک د اړخ غرو ته انفجار ورکړ او لار یې بنده کړه. طالبانو د سالنګ د تونل خولې ته ځان ورساوه خو دلته نو شدید عکس العمل راپورته شو، دا عکس العمل د روسیې او د مرکزي آسیا د جمهوریتونو ؤ چې د اکتوبر په ٦ د قزاقستان په آلماتا کې راټول شول، په دې کې د جمهوریتونو مشرانو او د روسیې صدراعظم د افغانستان شمال د طالبانو د ورتګ مسأله تر بحث لاندې کړه، او یوه هفته وروسته د اکتوبر په ۱۳ د شمالي سالنګ سره د خنجان غونډه وشوه چې په هغه کې د احمدشاه مسعود، رشید دوستم او کریم خلیلي ترمنځ ګډ اتحاد اعلان شو.

مسعود پر طالبانو شدیده حمله وکړه او هغه یې د جبل السراج او چهاریکار څخه راویستل او طالبانو په ډند شمالي کې تر سرای خواجه پورې تولې سیمې پرېښوولې او خپل لومړی خط یې پر حسین کوټ وتاکه. له همدغه تاریخ څخه د دوستم الوتکو پر کابل وحشیانه حملې پیل کړې چې ډیر انسانان یې قتل کړل.

وضع دومره له کنترول څخه وتله چې د پاکستان داخله وزیر نصیرالله بابر او د جمعیت العلمای اسلام مشر مولانا فضل الرحمن په اضطراري توګه کابل ته راغلل، دوی په کابل کې د ملامحمدحسن او ملا محمد غوث او نورو کسانو سره وکتل او بیا مزارشریف ته ولاړل، هلته یې د جنرال دوستم او د هغه د خلکو سره خبرې وکړې او بیا کندهار ته هم ولاړل.

د شمال ائتلاف چې پر ځای د وطن د دفاع عالي شورا نوم ایښی ؤ، نصیرالله بابر اسلام آباد ته وبلل چې د طالبانو سره خبرې وکړي.

د ۱۹۹٦ کال وروستي میاشتې پر کابل د دوستم د هوایي بمبارۍ او د مسعود د راکټونو وحشت جاري ؤ خو په اسلام آباد کې د طالبانو او د شمال د ائتلاف خبرې روانې وې، خو د ۱۹۹۷ په فبرورۍ کې بې نتیجې پای ته ورسیدې.

د ۱۹۹۷ په مارچ کې تاجکستان د کولاب هوايي نظامي اډه د مسعود په دسترس کې

کښېښنوله او هغه هم خپلې الوتکې ورنقل کړې.

په همدغه وخت کې طالبانو د هرات پر لار پر بادغیس حمله وکړه او هغه یې ونیوی او بیا یې میمنې ته مخه کړه، خو د دوستم قوتونو سخته مقابله ورسره کوله.

په دغه جریان کې هغه لوبه تو طیه منځته راغله چې په هیڅ یوه نظامي وضع کې نه ده پېښه شوې او په دغه کې دوه زره طالبان بې رحمانه ووژل شول.

## ۱۵- د مزار تراژیدي او د دښت لیلی فاجعه:

د میمنې د یوه ازبک وحشي مشر رسول پهلوان قتل چې پر دوستم ورتاوان شو، نو د هغه ورونه جنرال ملک او غفار پهلوان د انتقام په دود د دوستم د وهلو پلان طرح کړ، نوموړی جنرال ملک په میمنه کې باغي شو او دوستم حمله پر وکړه، په دغه وخت کې بادغیس طالبانو نیولی ؤ او د هرات پخوانی والي اسمعیل خان له ایران څخه د یو شمیر نفرو سره راغی او پر بادغیس یې حمله وکړه، اسمعیل خان ته دوستم د مرستې وعده ورکړه خو ملک خپل قوتونه ورسوق کړل او اسمعیل خان د طالبانو او ملک په منځ کې محاصره شو، خو د ملک خلکو ونیو. وایي په همدغه ځای کې ملک او طالبان سره په مصلحت کې وو او ملک دوستم هم له میمنې څخه پر شا کړی ؤ، مالک و طالبانو ته بلنه ورکړه چې د خپلو قوتونو او مشرانو حتی ملامحمد عمر آخند سره هلته ورشي او دوی به ورته تسلیم شي او د ښه نیت ښوولو په خاطر یې والي اسمعیل خان چې د دوی سره اسیر ؤ، طالبانو ته وسپاره.

ملک د بادغیس له خوا د طالبانو قوتونه را دعوت کړل او د ۱۹۹۷ د می د میاشتې په اخیر کې طالبانو میمنه، جوزجان او سرپل ونیول او د مزار شریف په سقوط دوستم مخله نفي او وتښتېدی، کله چې مزار د ملک په لاس کې شو نو د طالبانو یو شمیر قوتونه او مشران مزارشریف ته راغلل. د طالبانو قوتونو ته وسله هم نه ؤ ورکول شوې او ورته ویل شوي وو چې په مزار کې به مسلح شي، دا چې دا مشوره چا ورکړې وه؟... د طالبانو په مشرانو کې ملا محمد غوث خارجه وزیر، ملا احسان الله احسان د بانکونو رئیس، ملا عبدالرزاق د هرات والي شامل وو او په کابل کې د پاکستان سفیر هم ورسره ملګری ؤ.

د جون په اوله هفته کې د طالبانو هیأت مزار شریف ته ورسید او سمدستي یې د ملک او د ازبک له نورو مشرانو سره جرګه وکړه، په جرګه کې ملا احسان الله جنرال ملک ته مبارکي وویله چې د امیرالمؤمنین له خوا د خارجه وزارت د مرستیال په توګه مقرر شوی دی او تاکید یې وکړ چې ډیر ژر د خپلې وظیفې خوا ته حرکت وکړي، په دې پسې یې د امیرالمومنین دوهم فرمان ولوست چې

ملاعبدالرزاق د شمال د ولایاتو د والي په حیث مقرر شوی دی.

جنرال ملک د خپلې مقررۍ په باب هیڅ و نه ویل او پر مجلس هم یوه خاموشي خپره شوه. د طالبانو ځینو غړو په کراري یو د بله سره وویل چې جنرال ملک د امیرالمؤمنین د مقررۍ په باب یو کور ودانی هم و نه وایه.

په همدغه ورځ مازدیگر طالبانو موټران د مزار شریف د ښار په بازارو کې وګرځېدل او اعلانونه یې کول چې ... ر بند دی، ښځې باید له کوره را و نه وځي، ښوونځي دې تر بله امره پورې تعطیل وي، ځینو تندرو طالبانو د ښار په دکانو کې تلویزیونونه هم راوایستل او مات یې کړل. دې حرکت یوه سخته وارخطایي پیدا کړه. په همدغه ورځ مازدیگر جنرال ملک او ملا عبدالرزاق په روضه کې زیارت وکړ او چې راووتل مالک د خپل ورور و باغ ته بوت چې هلته غفار پهلوان او د مزار یو بل لوی پانګه وال ایشان کمال سره ناست وو، دوی تر چایو وروسته د باندې راووتل په دغو ځایو کې د ایشان کمال د یر لوکس کورونه وو، ملا عبدالرزاق پوښتنه وکړه چې دا د چا دی؟ ایشان ورته وویل: زما دی. ملا عبدالرزاق ومسل او وې ویل دا خو په شخصي پیسو نه دی جوړ شوي د بیت المال بوی یې ځي.

تر دې وروسته وایي چې ملا عبدالرزاق ولاړ، غفار پهلوان ایشان کمال ته وویل دا خلک مو والله د ماینو د خښتک حساب هم راځخه اخلي باید چاره یې وشي.

د مزار شریف وضع همداسې آرامي قبل از طوفان ته ورته وه، څو د حیرتان په لار کې د هزاره ګانو د کلیو څخه پر طالبانو یو برید وشو او خورا ډیر طالبان یې ووژل، د همدغه ځایه مزار هم اورر واخیست او تر هر چا هزاره ګانو سخت جنګ ته لاس اچولی ؤ، د مزار شریف خلک چې د طالبانو څخه بیزره دلي وو، هغو هم سر واخیست او لوی قیام پیل شو. طالبان چې مسلح شوي نه وو په تشو لاسونو یې جنګ کاوه او د مزار شریف د ښار په کوڅو کې سره ورک شول.

دا وخت جنرال مالک هم باغیان رهبري کول او د طالبانو مشران او افراد یې بندیان کړل. د دغو بندیانو یوه برخه یې د جوزجان زندان ته واستول.

په حیرتان او مزار کې خورا زیات طالبان قتل عام شول او جنرال مالک هم مزار هم جوزجان او هم میمنه آزاد اعلان کړل او وې ویل چې د طالبانو حاکمیت پای ته رسیدلی دی. ده په شبرغان کې هغه طالبان چې د جوزجان د نیولو سره دلته راغلي وو د هغو بندیانو په ګډون چې له مزار شریف څخه یې رالیږلي وو ټول په بندیخانو کې واچول، په همدغه جریان کې ملا احسان الله احسان هم ووژل شو.

له همدغو بندیخانو څخه هره شپه سل تر دوه سوه پورې راایستل کیدل او شبرغان ته نژدې د

دښت لیلی په سیمه کې وژل کیدل او هلته تر خارو لاندې کیدل. د نوامبر په میاشت کې چې دوستم د دوهم ځل لپاره پر مالک غالب شوی ؤ ، اعلان یې وکړ چې په دښت لیلی کې شل قبرونه موجود دي چې په هر یوه کې د دوه سوه طالبانو په حدود کې جسدونه اچول شوي دي. خو دغه د دښت لیلی په بندیانو کې یو کندهاری چې په تصادف ژوندی پاتې شوی ؤ ، یوه معتمد سړي ته کیسه کړې وه چې مور د غفار پهلوان خلکو په دښت لیلی کې یوه ځای ته راوستلو چې هلته ډیر لوی ځاګانې وې چې او سپنیزې زینې هم ورښکته شوي وې، دا خلک چې به ووژل شوه بیا دغو ځاګانو ته اچول کیدل.

د دښت لیلی په فاجعه کې تر دوه زره زیات طالبان په قتل رسیدلي دي او نړۍ لا تر اوسه هم پر پټه خوله ده. اوس نو داسې پوښتنې راپورته دي چې د مزار شریف د تراژیدي او د دښت لیلی د فاجعې انګیزه څه شی وه؟ آیا دا یوه توطیه وه او دا توطیه د خارج څخه رهبري کیده؟ ځینې په کابل کې د پاکستان د سفیر دغه سفر ته ګوته نیسي چې د طالبانو سره ملګری او هلته دي هم ونیول شو خو ژر خوشې او اسلام آباد ته ولاړ ، او وروسته پخواني خارجه وزیر ملا محمد غوث هم د فرانسس پریس آژانس خبریال ته وویل چې زه هم نه پوهیږم چې سفیر زموږ سره څه کول؟ او له هغه وخته دا دي ملامحمد غوث د کتاره وایستل شو ، خو دا ټوله افواهات او اوازې دي او که پاکستان دا طرح درلودای، نو د سفیر د تګ به څومره ضرورت ؤ ؟

آیا د دې تراژیدي او فاجعې انګیزه به د طالبانو هغه بې احتیاطي وه چې په اوله وورځ یې د مزار شریف خلک وتورول او هغه یې قیام ته ورتیل وهل؟

په دې کې هم اول دا محققه نه ده چې طالبانو دا کار کړی دی که یه؟ ځکه اوازې او افواهات چې بنیاد یې پر رښتیا نه وي ولاړ ، ډیرې خپریدې. که دا یو نه ؤ نو داسې لویه واقعه څرنګه منځه راغله او علت یې باید څیرې وپلټل شي؟

طالبانو په دې باب ټولو بین المللي مقاماتو ته خبر ورکړی دی، خو هغو هغسې چې شایې جدي اقدام نه دی کړی د دښت لیلی قتل عام په عمومی توګه ټوله ټولنه ودروله او دا فاجعه د سخت عصبیت باعث وګرځیده چې د انتقام مخ نیوی یې هم ډیر مشکل دی، که څه هم طالبان د دغسې دسته جمعي قتل مخالف دي، خو په مزار او جوزجان کې د طالبانو قتل مابعد واقعات ډیر ترخه کړل.

ملک چې د دوستم څخه مات شوی ؤ یو ځل مسکو ته ولاړ او بیا یې په ایران کې بیقیدی ژوند کاو ، څو واره پنجشیر ته هم راغی.

## ۱۶- د جنوب لویدیځ افغانستان د ګاز د پایپ لاین پروژه:

پاکستان د ترکمنستان سره یوه توافق ته ورسید چې د هغه هیواد څخه ګاز په پایپ لین کې تیر کړی او بیا به د پاکستان تر احتیاج وروسته نوورو ځایونو ته یعنې جنوب ختیځې آسیا ته نقل شي، دا یوه ډیره غټه پروژه وه او باید د ګاز پایپ لین یې د جنوب لویدیځ افغانستان څخه تیر شوی وای. ددې پروژې په اړخ کې د پاکستان او مرکزی آسیا تر منځ د تجارت لپاره هم ترکمنستان مناسب وبلل شو او په دې توګه نو دا طرح منځته راغله چې د پاکستان د چمن او د افغانستان او ترکمنستان د سرحدی بندر تورغونډۍ ترمنځ د مالونو د انتقال لپاره د اورګاډی یو لین جوړ شي او د چمن - کندهار، کندهار - هرات او تورغونډۍ تر منځ اوبنتی سړک اساسی جوړ شي.

ددې پروژې لپاره دوه ملیارده ډالره مصرف په نظر کې ونیول شو او په بین المللی داوطلبی کې د یونیکال امریکایی کمپنی ګټندویه اعلان شوه چې د هغې سره بیا ځینې نورې کمپنی هم شریکانې وې.

ددغې کمپنی هیأتونه کابل او کندهار ته راغله او طالبانو هم موافقه ورسره وکړه او دا یقین حاصل شو چې ددغې پروژې په تطبیق به د افغانستان اقتصاد بیا پر پښو ودریږی، خو جنګونو دغه پروژه د معطلی سره مخامخ کړه.

ایران په دې پروژه کې غیر مشروع داوطلب شو، غوښتل یې دا پایپ لین د ایران له لارې تیر شی، خو د ایران پر لار پاکستان ته اقتصادی نه ؤ او سیاسی تشویشونه یې هم درلودل.

نو ددې لپاره چې دا پروژه له کاره وغورځوی محلی جنګونه یې تحریکول او بیا به یې تبلیغ کاوه چې طالبان امنیت نشی قایمولای نو ځکه دغه لین باید له افغانستانه تیر نشی.

همدارنګه روسیې هم نه غوښتل چې د ګاز دا پایپ لین د ترکمنستان له خوا پر افغانستان پاکستان ته تیر شی او د ایران موقف یې تائیداوه. روسیې په خاصه توګه دا نه غوښتل چې دده د کامنویلت یو غړی ترکمنستان ته د پاکستان او امریکا پښه را خلاصه شی او دا تشویش یې درلود چې د مرکزی آسیا په نورو جمهوریتونو کې به نفوذ وکړی.

مبصرین وایی چې د افغانستان په نظامی او سیاسی بې ثباتی کې د ایران له خوا د همدغې پروژې په نسبت مداخلې کیږی.

یونیکال کمپنی په دې اواخرو کې اعلان کړی دی چې ترکله په افغانستان کې امنیت او کراری نه وی راغلې، نو دوی د خپلې سرمایې د لګولو جرئت نه کوی. که څه هم اوس د طالبانو

دولت پاکستان، سعودي عربستان او د عربي اماراتو له خوا په رسمیت پیژندل شوی او طالبان د هیواد په سلو کې ۹۰ په لاس کې لري، خو یونیکال وایي چې د طالبانو دولت باید ملګري ملتونه او نور هیوادونه هم په رسمیت وپیژني. .

## د دولت آباد ګاز:

څرنګه چې پاکستان د خپلو صنایعو د فعالولو لپاره انرژۍ ته ضرورت درلود نو د ترکمنستان ګاز یې د خپل مشکل د حل کیلي ولیده. په لومړي سر کې یوه ارجنتاینی کمپنی د «بریداس» په نامه مواجه شوه او د هغې رئیس کارلونس بولګروني ۹ میاشتې د پاکستان د صدراعظم او د ترکمنستان د جمهور رئیس تر منځ کار وکړ او بیا یې د انتقال د لارې لپاره د افغانستان د متخاصمو ډلو تر منځ موافقه راوستله، خو د ۱۹۹٦ په فبروري کې د ۳۰ کالو لپاره د خود ساخته جمهور رئیس رباني سره قرارداد امضاء کړ، همدارنګه په شمال کې د جنرال دوستم او طالبانو موافقه یې واخیستله.

د ۱۹۹٥ په پسرلي کې یو مشترک کمیسیون چې د پاکستان او ترکمنستان له غړو جوړ شوی ؤ له بولبګروني څخه د حق الزحمې په بدل کې وغوښتل چې د افغانستان لار مطالعه کړي.

د همدغه کال په دوبي کې بریداس کمپنی پرضد یو بل رقیب رامنځته شو چې هغه (جون ایمل) د کلیفرنیا د یونیکال شرکت رئیس ؤ.

د ۱۹۹٥ د اکتوبر ۲۱ صفر نیازوف امریکایي کمپنی یونیکال انتخاب کړه.

هنري کسینجر د امریکا پخواني خارجه وزیر د دغې کمپنی مشاور دی او د هغه نقش په دغه کار کې زیات دی.

په ۱۹۹۷ اګست کې د روسیې (ګاز پروم) حاضره شوه چې د ترکمنستان ۷۰۰ ملیارده کیوبک قیمت (مربع قیمت) ګاز له خپلې لارې اروپا ته صادر کړي، مګر نیازوف دغه کار ته زړه ښه نکړ.

## ۱۷ - د اسامه بن لادن افسانه:

دا د سعودي عربستان و پاچایي کورنۍ ته منسوب یو عرب دی چې په وروستیو وختونو کې د عربستان له واکمنۍ څخه ناراضه شوی دی. دی هغه مهال چې شوروي خپل پوځونه افغانستان ته داخل کړل او پر ضد یې جهاد پیل شو نو اسامه بن لادن هم پاکستان او افغانستان ته راغی او د شوروي پر ضد یې په جهاد پیل وکړ. دی چې یو زورور پانګه وال ؤ دلته یې نوره پانګه هم پیدا کړه.

تومورۍ په امریکا کې د یر پیروان درلودل او د شوروی د قواو تر وتلو وروسته د امریکا څخه هم ناراضه شو، ځکه هغه د اخوانیانو پر ضد وه او اسامه د اخوانیانو سره تړلی ؤ.

د ده یو وخت د سهار د اخبار سره په مرکه کې وویل چې ما د بنین سیوان پلان چې د افغانستان مسأله یې حل ته نژدې کړې وه ناکامه کړ.

اسامه چې افغانستان ته راغی لومړی په کنړ کې اوسید او ډېر لوبه پایګاه یې وه چې ډیرو عربانو خدمت پکښې کاوه.

دې د امریکا سخت ضد شو ... ې ویل چې امریکا باید د سعودی عربستان څخه خپل عسکر وباسي او پر قراردادونو یې نوی نظر وشي. ده وویل سعودی دولت د دو مقدسو ځایونو مکې او مدینې څخه سوء استفاده کوی او دا دوه اسلامی مقدس ځایونه باید بین الاسلامی شی، یعنی یوه اسلامی شورا یې اداره کړي.

د تیر کال په منځنیو میاشتو کې په دوو افریقایی هیوادونو په پایتختونو (نایروبي، دارالسلام) کې د امریکا سفارتونه په بمانو والوزول شول او دا پر اسامه تاوان شوه، څرنګه چې اسامه په افغانستان کې اوسیده، نو امریکا له افغانستان څخه وغوښتل چې امریکا ته یې وسپاري، خو امیرالمومنین وویل چې دا یو مسلمان او زموږ میلمه دی، امریکا دې د افغانستان ستري محکمې ته حاضره شي او د اسامه سره دې دعوا وکړي، خو امریکا ځواب ورنه کړ. اسامه د پکتیا په ژوره کې د خپلو کارکوونکو یوه غونډه جوړه کړې وه چې امریکا یې معلومات درلود نو دا ؤ چې ۱۹۹۸ کال د اګست په ۲۲ هغه ځای په کروز راکټونو وویشت، خو اسامه ونه لګید او یو شمیر خلک یې مړه شوه، پر دې افغانستان هم احتجاج وکړ چې د یو شمیر هیوادونو له خوا د افغانستان دعوا تائید شوه. امریکا دا ځل په شدت وویل چې دوی به اسامه تعقیب کړي او نور کروز به هم وولي، څو وخته دا وضع په تشویش ځارل کیدل، څو ناځاپه امیرالمومنین د ۱۹۹۹ په فبروری د افغانستان څخه د بن لادن د لادرکی اعلان وکړ او وویل شول چې ښایي چیچن ته تللی وی، اوس معلومه نه ده چې اسامه به چیری وی خو ډیرې منابع وایی چې اسامه اوس هم په افغانستان کې دی.

## د اسامه لنډ ژوند لیک:

په ۱۹۵۷ په ریاض کې زیږیدلی په جده کې یې مذهبی او عصری تحصیلات منجمنت او اقتصاد لوستی دی، کورنی یې یمنی ده.

په ۱۹۸۰ کې چې سعودی عربستان په افغانستان کې د شوروی پر ضد د جهاد فعالیت

AOKU

رهبري کاوه، اسامه د افغانستان له مقاومت سره ملګري شو. دد د سعودي د استخباراتو له رئيس ترکي الفيصل سره کار رکاوه، ددغو دؤ کسو، يعنې ترکي الفيصل او اسامه بن لادن په ۱۹۸۹ کې د ډاکتر نجيب د حکومت پر ضد په جلال آباد کې عربان د مجاهدينو سره ملګري کړل. په ۱۹۹۰ کې چې د خليج جنګ شروع شو او عربستان سعودي امريکايي عسکرو ته ځای ورکړ چې هلته مستقر شي د بن لادن روابط د سعودي دولت سره خراب شول او سعودي په ۱۹۹٤ کې بن لادن له تبعيت څخه خارج کړ، خو په ۱۹۹٦ او ۱۹۹۷ کې بن لادن پرله پسې اعلانونه کول چې امريکايان بايد په قتل ورسيږي.

امريکا اسامه د نيويارک په تجارتي مرکز او په سعودي عربستان کې د امريکا په نظامي اډه کې د انفجار مسؤل وباله.

د اسامه د کنيا په مرکز نايروبي او د تانزانيا په مرکز دارالسلام کې د امريکا په سفارتونو کې چاودني وشوې.

د ۱۹۹۸ د اګست په ۱۷ کې د امريکا جمهور رئيس کلنټن په واشنګټن کې وويل چې امريکا په کروز راکټونو په افغانستان او سودان کې د بن لادن او تروريستانو مرکزونه له سرې بحيرې او خليج فارس څخه وويشتل. دا فاجعه په خوست کې منځته راغله چې ۷۵ راکټونه پر وويشتل شوه چې ۲٦ انسانان مړه ۳۰ زخمي شول، په دغو کې ۲ نفره مصري ۲ نفره يمني او دوه سعوديان چې د بن لادن همکاران وو هم ووژل شول. همدارنګه د پاکستان د حزب الانصار اته کسه چې د کشمير لپاره روزل کېدل هم ووژل شول. [۱]

## ۱۸ - طالبان او ملګري ملتونه:

د ملګرو ملتونو لومړنی ګيله د طالبانو څخه دا ده چې طالبانو د ملګرو ملتونو پر حريم تيری وکړ او ډاکتر نجيب الله يې په زور ويوست او مړ يې کړ. خو کله چې طالبانو د هيواد دوه پر درې برخه ونيوله، نو ملګرو ملتونو ته يې پيشنهاد وکړ چې په رسميت يې وپيژني او د طالبانو نماينده ته په ملګرو ملتونو کې چوکی ورکړي. خو طالبانو ته ځواب ورکړل شو چې طالبان د بشري حقوقو مراعات نه کوي، ښځې يې د کار او تعليم څخه محرومې کړي او دا د ملګرو ملتونو د منشور څخه مخالف حرکت دی.

د ملګرو ملتونو خاص نماينده اخضر ابراهيمي چې څو واره طالبانو ته راغی چې د ملګرو ملتو

(۱) ص ۱۸٦ آسيای ميانه و افغانستان در کنار آتش د مبارز، د پيښور چاپ، ۱۹۹۹.

د مقرراتو سره ځان عیار کړي، طالبانو ورته وویل موږ شریعت ستاسې تر قوانینو نه قرباني کوو. په پای کې د افغانستان او ملګرو ملتونو د شړل شوي جمهور رئیس استاد رباني حکومت په رسمیت پیژاند او د هغه نماینده ډاکتر روان فرهادي د ملګرو ملتو په سالونونو کې د طالبانو پر ضد سخت تبلیغات کول. په یوه موقع په جلال آباد کې د ملګرو ملتونو دوه افغانان مامورین له دفترو وایستل شول او د نامعلومو خلکو له خوا ووژل شول او په دې پسې په کابل کې د ملګرو ملتو پر دوه خارجي مامورینو حمله وشوه چې یو یې ووژل شو او بل یې زخمي شو، په دې توګه نو ملګرو ملتو خپل ټول مامورین وایستل او په افغانستان کې یې کارونه معطل کړل.

د طالبانو اداري په کابل کې غیر حکومتي د مرستو ادارو (ان. جي. او ګانو) ته خبر ورکړ چې ټوله د پولي تخنیک په تعمیر کې کار وکړي، خو هغو د بریښنا او اوبو د تکلیف عذر راوړ، طالبانو یې دفترونه ورو تړل او هغوی هم له افغانستانه ووتلې.

د وضع د نورمال کولو لپاره په ملګرو ملتو کې د امریکا نماینده چې یو مشهور ډیپلومات ؤ (بل ریچاردسن) کابل ته راغی او بیا یې په جوزجان، کندز او کندهار کې هم کتنې وکړې، خو بالاخره ثابته شوه چې دا ماموریت هم مطلق ناکامه شو.

د ملګرو ملتونو له خوا یو شمیر مامورین د طالبانو سره د مفاهمې لپاره راتلل او د طالبانو ادعا داوه چې ددوی امارت باید په رسمیت وپیژندل شي، خو د ملګرو ملتونو نمایندګانو بیا هم هغه خبره ورته کوله چې د ښځو حقوق ومني او خپل نور موسسات داسې عیار کړي چې د ملګرو ملتونو امنیت پکښې تأمین شي.

دا تماسونه په داخل او خارج کې جاري وه، خو بالاخره یوې نتیجې ته ورسیدل چې اعلان یې نه کړه، خو د ملګرو ملتونو اداري دروانه کال ۱۹۹۹ په سر کې فعالې او مامورین یې راغلل. ولې د طالبانو خواستې او غوښتنې هم هغسې پاته دي او طالبان وایي چې موږ په ښځو ته هغه حقوق چې ملګري ملتونه وایي هیڅکله ورنکړو. اوس په ملګرو ملتونو کې د استاد رباني جمهوریت په رسمیت پیژندل شوی دی.

## ۱۹ - د شمال ولایاتو نوې تصفیه:

طالبانو چې کندز او بغلان یې نیولي وو تخار ته ډېره پاملرنه درلوده ځکه له دغه ځایه له باندې څخه پنجشیر اکمالیده.

د ۱۹۹۸ کال د مې په میاشت کې طالبان پر دې بریالي شول چې د تخار ولایت ونیسي او دغې فتح طالبانو ته ډېر لوی نوم ورکړ او هغه مهال چې بې اشکمش ونیو نو پنجشیر په محاصره کې واقع شو. د همدغه کال د اگست په ۹ طالبانو جوزجان او سمنگان ونیول او په تدریج سره یې مزار شریف بیا په لاس راووړ، په مزار شریف کې تر هر څه پخوا هزاره گانو له مزار شریف څخه په وتلو پیل وکړ، ځکه دغو کسانو د حیرتان په لار کې ډېر طالبان وژلي وو، مزار شریف دا ځل ژر بیرته عادي حال ته راغله او کاروانه یکې جاري شول.

طالبانو د مزار شریف تر نیولو دوې ورځې وروسته تاشقرغان او نهرین او د بغلان ځینې برخې تصفیه کړې. د مزار شریف په جنگ کې ایران دعوه وکړه چې د دوی لس ډیپلوماتان او یو ژورنالیست ورک دي، خو طالبانو یې خبرې ونه منلې او څو وخته وروسته یې د یو شمیر وژل شویو کسانو مړي پیدا کړل او ایران ته یې وسپارل.

د شمال ائتلاف ډېر عمده جبهه بامیان بلله، نو ځکه یې هغه په ۱۹۹۷ کې لا تر پاملرنې لاندې ساتله چې د ۱۹۹۷ د اگست ۲۳ د هغه ځای د قوماندانانو د یو والي لپاره رباني خپل صدراعظم عبدالرحیم غفورزی او نطاق عزیزمراد او نور کسان هلته واستول خو د دوی الوتکه د بامیان پر ر میدان ولوېده او ټول یکښې مړه شول. طالبانو بالاخره د ۱۹۹۸ د سپتمبر په ۱۴ بامیان ښار ونیو او هلته یې اداره یکښې قایمه کړه. د طالبانو یوه ملا بامیان ته په ورتگ د بامیانو د لوېې مجسمې سرد ټانک په مرمۍ والوزاوه او دا یوه تاریخي هنري ضایعه وه.

حزب وحدت یو ځل بیا زور وواهه او د روان کال په سر کې یې بامیان ښار بیرته ونیوی خو د مې په میاشت کې بیرته طالبانو ورڅخه ونیو او په دغه جنگونو کې د دواړو خواو څخه ډېر خلک مړه شول. همدارنگه د ۱۹۹۸ کال د نوامبر کې د مسعود قوتونو تخار بیرته له طالبانو ونیو.

ایران د شمال پر ولایاتو د طالبانو حاکمیت سخت عصبي کړی دی او څو وارد یې ډېرې درنې ځمکنۍ او هوایي قواو د افغانستان د سرحدونو په اوږدو کې د نظامي تمرین تر عنوان لاندې راوستلې او د سیمې و امنیت ته یې سخت تشویش پیښ کړ.

اوس د شمال خوا ته جنگ روان دی، خو د شمال ائتلاف چې غیر له مسعود څخه بل څو ک پکښې نشته، هرې خوا ته مراجعې کوي چې طالبان د دوی سره خبرو ته کښیني، خو د طالبانو شرایط ډېر گران دي.

## ۲۰ - د عشق آبادبې نتیجې غونډه:

د شمال د ائتلاف او طالبانو تر منځ د خبرو لپاره د ترکمنستان خارجه وزیر ډیر تلاش وکړ، څو یې د ۱۹۹۹ کال د مارچ ۱۱ د دواړو خواو هیأتونه د ترکمنستان په پایتخت عشق آباد کې پر میز سره کښینول.

په دې جرگه کې د طالبانو د هیأت مشر مولوی عبدالوکیل متوکل او د شمال د ایتلاف د هیأت شر محمد یونس قانوني ؤ، د غه هیأتونو په ډیرو ښو کلماتو یو و بل ته هرکلی ووایه او خبرې پیل شوی.

په خبرو کې د سره څخه د دواړو خواؤ، موقفونه سره لیرې وه، طالبانو د افغانستان د اسلامی امارت اصطلاح استعمالوله او مقابل لوری د افغانستان اسلامی حکومت نوم استعمالاوه.

دوی څلور ورځې خبرې وکړې په پای کې یې یوه گډه اعلامیه هم صادره کړه چې په هغه کې پر اوربند د بندیانو پر تبادله موافقه شوې وه او ویل شوی وه چې نورې خبرې به په اختر کې (چې په نژدې ورځو کې ؤ) په هیواد وشي. خو دا هم وویل شوه چې د گډ قضایی او اجرایی مقاماتو د تشکیل موافقه هم شوی وه.

خو کله چې د طالبانو نماینده کندهار ته ورسید په مصاحبه کې یې وویل چې موږ پر ایتلافی حکومت موافقه نه ده کړې. د آینده خبرو شرط دا دی چې د شمال اتحاد به د امیرالمؤمنین رهبری منی، وسلې به پر ځمکه ایږدی او بیا به خبرې پیل کیږی. دغو خبرو د عشق آباد جرگه په داسې حال کې بې نتیجې کړه چې ملگرو ملتو د امنیت شورا د امریکا خارجه وزارت او د یو شمیر هیوادونو موسساتو د طالبانو او شمال د اتحاد د عشق آباد خبرې کامیابه بللې او ډیز امیدونه یې ورته ښکاره کړی وو.

د عشق آباد د خبرو موافقه مسعود کړی وه او په دې وخت کې استاد ربانی په خپل آواز په راډیو کې ناري کړل چې زموږ سره د عشق آباد د غونډې په باب هیڅ مشوره نه ده شوی او نه په خبر یو دا پخپله د مسعود کار ؤ.

گلبدین حکمتیار وویل چې دا خبرې به هیڅ نتیجه و نه لري، ځینو مبصرینو وویل چې دا خبرې طالبانو د دې لپاره له مسعود سره پیل کړی چې د هغه او د د د ایتلاف د نورو غړو تر منځ اختلاف رامنځته شی، لکه چې همدغسې وشوه.

امریکا او ځینو نورو یو ځل بیا طالبان تشویق کړل چې د عشق آباد خبرې پیل کړی، خو وضع ورځ تر بلې سړیدله څو دا خبرې مخ له معطلی او بیا پسې پاته شوې او حتی تبصرې لا نه پر وشوې.

## ۲۱ - مؤمن کدرونه او نامطلوب مامورین:

د طالبانو د عدلیه وزارت سرپرست ملانورالدین ترابی چې اصلاً د ویش اڅکزی دی، خو عمر یې په دهراود کې تیر شوی دی، یو قهرجن او سخت عصبی سړی دی. امیرالمومنین دده په وسیله ډیرې تصفیې وکړې.

دده د اداری تشکیلاتو د نوی کولو وظیفه ورکول شوه او دده هم تشکیل د محمد ظاهرشاه د باچهی د وروستی کال سره برابر کړ چې په دې توګه ډیرې موسسې له منځه ولاړې او کارکوونکی بې ځواب شول.

په دې پسې د مومنو کدرونو او نامطلوبو مامورینو اصطلاح راووتله، مؤمن کدرونه هغه طالبان، یا پاک مجاهدین وو چې په تیرو نظامونو کې یې کار نه دی کړی او نامطلوب مامورین هغه کسان وو چې د ملحدینو او کمونستانو څخه یې رتبې، نښانونه او مډالونه اخیستی وو او هر ځای چې به نامطلوب مامورین ځواب شول، نو ځای یې په مومنو کدرونو ډ کیده.

وروسته دا کړی نوره هم تنګه شوه او هغو کسانو چې مهاجرت یې نه ؤ کړی او د کمونستانو سره یې کار کړی ؤ هغه هم په نامطلوبو کسانو کې وشمیرل شول او له کارونو څخه وشړل شول.

د ملاترابی اخند له خوا هغه کسان چې زیرو ته یې بیاتی (قیچی) ورنژدې کړی وه د وظیفو څخه برطرف شول، لکه چې د ۱۹۹۷ کال د نوامبر په ۲۸ ته رسیدی له پوهنتون څخه وشړل شول او د نامطلوبانو په حمله کې تصفیه شول.

څنو مامورینو عرضونه وکړل چې زمونږ جرم په مشخصه توګه نه دی معلوم او د محکمې په حکم نه یو برطرف شوی، نو د تقاعد د حقوقو څخه نشو محروم کیدی، ځکه د تقاعد پیسې په مرور زمان زمونږ له معاشو څخه ګرځیدلی دی او ددې ګرځول پخپله د مجازاتو حکم لری او د غه مجازات ته کوم حکم به امر راکول کیږی؟ د عرایضو مرجع ورته ویلی وو تاسې د ملحد او کمونستې نظام سره همکاری کړی ده، نو ځکه مجرم یاست، دوی ورته ویلی وو مونږ ساده مامورین وو او بل یو د محکمه خو باید دا حکم وکړی، خو پر دغسې عرایضو چا غوږ نه نیو.

په دې توګه په زرګونو مامورین چې هره هفته یې لستونه وزارت خانو ته رسیدل د نامطلوبو کسانو په نامه له وظایفو شړل کیدل او مومنین کدرونه یې پر ځای مقرریدل، مومنین کدرونه د طالبانو د باور خلک وو.

## ۲۲- د طالبانو د نظام اجتماعي کړه وړه:

طالبانو د خپل تحریک له لومړۍ ورځې څخه وېلې و د چې دوی اسلامي شریعت تطبیقوي. تو لومړي چې کندهار ته ورسېدل هلته یې د ښځو پر سر چادري ورواچوله پر نارینه ؤ یې د ږیرو د پرېښوولو او په جماعت د لمانځه د ادا کولو او د ساز د بندولو حکم وکړ. دوی د امنیت په قایمولو کې ډېر زیار و یوست او س چې په سل کې ۹۰ هیواد د دوی په لاس کې دی په ملموسه توګه هرڅوک د امنیت څخه برخوردار ه دی.

طالبان ټول کارونه پخپله کوي د هرات پخواني والي ملایارمحمد په هغو وختو کې چې هرات فتح شو په بود مرکه کې وویل موږ به په سیاست کې غیر له ټاکلو خپلو خلکو څخه بل هیچا ته اجازه ورنه کړو چې یا نظر یا عمل څرګند کړي او که نه سخت مجازات به وويني.

د جلال آباد تر فتح وروسته هلته فرمانونه وځړېدل چې عکسونه بند دي، هیڅوک یې نه په مطبوعاتو کې او نه د ښکلا لپاره کارولی شي. دغه د عکسونو تحریک په کابل کې مشکلات پیدا کړل د طب په انستیتوت کې د انسان د تشریح عکسونه هم ایسته کېدل په داسې حال کې چې د طب د درس ستون فقرات دغه د تشریح عکسونه وو. د سرپرستې شورا په امر د هغتو ټولو کتابونو چې غیر اسلامي وو د ټولیدو امر صادر شو دا نو په کتابخانو کې وه که به کورو کې. تلویزیون د جرم بود وسیله وبلل شو دا او په هر ښار کې ډېر تلویزیونونه مات او خاوندان یې وډبول شوه، د ۱۹۹۸ د مارچ څخه د شمسي سنې پر ځای قمري سنه رسمي شوه.

د مرګ په بدل کې قصاص او د غلا، قطاع الطریقي، زنا، لواطت په مقابل کې شرعي مجازات عام رواج شول. د ښارونو په ورزشي ستديومونو کې د اعدام، لاس و پښې پرېکولو، سنګسار او د یوال نړولو مجازات مرتکبینو ته ورکول چې د عبرت لپاره به عام خلک وربلل کېدل.

مدرسې ډېرې تاسیس شوې خو ښوونځي چندان نه وو څکه ښوونکي یې نه درلودل، همدارنګه پوهنتون هم فعال نشو د امیر المومنین په فرمان د ۱۹۹۸ په جولای کې د دیني علماؤ یوه ډله موظفه شوه چې د باچا د وخت قوانین وګوري او د اوسنیو شرایطو او شرعي احکامو سره یې عیار کړي، دا کار وشو خو تر نن پورې توشیح شوی نه دی.

خارجي راډیو ګانې په تبلیغ لاس پورې کوي چې لویه جرګه او د پخواني باچا په مشرۍ باید یو موقت دولت جوړ او دغه هیواد له روان بن بست څخه وباسي، خو طالبان د باچا په باب وايي چې هغه جهاد نه دی کړی او بل موږ یې د خدمت مانع نه یو، خو موږ خپل امیر المومنین لرو چې شرعي مشر دی. د دغه مطلب لپاره د ۱۹۹۹ مې په اواخرو کې د دوی په قول لس زره ملایان په کندهار کې راټول شول او د طالبانو اوسنی موقف یې تائید کړ او امیر المؤمنین وویل چې زما د شارګ یو څاڅکي وینه هم پاتې وي هغه به د اسلام په خدمت کې په مصرف رسیږي.

# ضمایم

## لومړی نمبر ضمیمه

### د افغانستان د اوسنیو سرحداتو جوړښت او پرابلمونه

د افغانستان په معاصر تاریخ کې د ډیپلوماتیکو تحولاتو په رابطه د افغانستان د اوسنیو سرحداتو جوړښت او تطور یو ډیر مهم خو په عین حال کې یو مغلق بحث دی چې د موضوع په اړوند د ډیرو سیاسي اسناد، مدارکو، میثاقونو په استناد باید خبرې پر وشي.

زه پر دې موضوع په تفصیل نه ږغیږم، خو دجریاناتو په تشریح او توضیح کې به کافي شواهد عرضه کړم.

د افغانستان د اوسنیو سرحداتو مسأله که څه هم د نولسمې پیړۍ له دوهمې نیمايي څخه بیا د شلمې پیړۍ تقریباً تر دوهمې نیمایې پورې وخت په بر کې نیولی دی، خو د موضوع د دقیق تحلیل لپاره دا په کار ده چې یو څه تر دغه وخت مخته قدمونه ور اوږده کړو.

د احمدشاهي امپراطورۍ له پیل سره چې د اتلسمې پیړۍ د دوهمې نیمايي له پیل سره راځرګنده شوه افغانستان د یو سیاسي او ثابت کلتوري اورګانیزم په توګه شکل نیولی ؤ.

احمدشاه او د هغه مشاورین دې مسألې ته په دقت متوجه وو چې افغانستان باید په قدرت د سیاسي بقا څښتن شي، نو له همدغه ځایه احمدشاه زیار وایستی چې د افغانستان د سرحدونو سیاسي جوړښت د کلتوري جوړښت سره په مطابقت کې وټاکي. ده اباسیند او آمو یا په تاریخي اصطلاح (اندوس او اکسوس) ترمنځ سیمه افغانستان وباله چې په دغو حدودو کې یې سرحدونه

تاکل کیدل، توري سبمې چې یې فتح کولې هغو د افغانستان د اقمار وحیثیت درلود.

البته دا جلا او جالب بحث دی چې زه یې دلته تفصیل د موضوع څخه د باندې بولم. مطلب د احمدشاه بابا تر وفات پورې د افغانستان سرحدونه ډیر پراخ او وسیع وو.

وروسته چې د سدوزي او محمد زي شهزاده ګانو د فتنو او فتورو دور پیل شو، نو د سرحدونو مفهوم ګر سره له منځه ولاړ، د هغې ورځې ابر قدرتونه (روس او انګریز) شمال وجنوب ته او قاجاری ایران لویدیځ ته زیات وکم یوه پیری په دې تلاش کې وه چې افغانستان وخوری، خو افغانستان ددوی د ضرورتونو له مخې له منځه نه ولاړ. روس او انګریز خپل ترمنځ د خطرناک اصطکاک د مخنیوی په خاطر پر افغانستان د «بفر-حایل» سیاست تحمیل کړ او اوسنی سرحدونه تر ډیره ځایه د دغه سیاست په تابعیت کې منځته راغلی دی. زه په اختصار پر مسایلو مرور کوم او دغه اوسنی کړه وړه کرښه چې شپږو خطونو ته ویشل شوې ده دلته راوړم.

## اول- د امیرشیرعلی خان سرحدي کرښه:

دا کرښه چې دلته به په نسبی توګه په تفصیل لیکنه پر وکړو په ټولو سیاسی اسنادو کې د امیرشیرعلی د خط په نامه یادیږی او داسې منځته راغله.

روسانو په ۱۸۶۵ په مرکزی آسیا کې تاشکند ونیو او دوه کاله وروسته یې په ۱۸۶۸ کې بل لوی ښار سمرقند اشغال کړ او د بخارا پر امارت یې خپل نفوذ ورخپور کړ.

دا هغه د استعماری تیریو کلونه وه چې د روسانو د لاس غزولو سره همزمان د افغانستان سره په همجواری کې انګریز سند ونیو او اباسیند ته یې خپل نفوذ راخپور کړ.

دا د شمال له خوا روس او د جنوب له خوا انګریز چې پیوسته یې سیمې په خپله ولکه کې راوستلې دواړه سخت ویېرول چې بوواری خپل ترمنځ سره ټکر نه شی، نو له دغه امله یې مفاهمې سره پیل کړې چې افغانستان د یوه بفر یعنی حایل په توګه عیار کړی او په دغه کې یوه خوا هم مداخله و نه کړی او دا به د راتلونکی خطرونو په مخنیوی کې مرسته وکړی.

په همدغو وختونو کې امیرشیرعلی خپله د پاچهی دوهمه دوره پیل کوله او په یوه خیالی نړۍ کې یې داسې خوبونه لیدل چې د افغانستان څخه بو پرمخ تللی هیواد جوړ کړی چې د لویو قدرتونو په وړاندې خپل موجودیت وساتلای شی.

د هندوستان یو ډیر دراک ویسرای سرجان لارنس چې وضع سمه لیدله، نو په ۱۸۶۸ کې یې د بریتانیا کابینې ته ولیکل چې باید په جدی توګه بریتانیا له روسیې سره د آسیا په دې سیمه کې د اصطکاک د مخنیوی په خاطر د «بفر» مسأله فیصلې ته ورسوی، خو د بریتانیا سیاست جوړونکو

دې يادداښت ته پاملرنه و نه کړه، ولې کله چې وضع ورو ورو وخيم شکل غوره کړ، نو دوه کاله وروسته سياستمدارانو د سرجان لارنس يادداښتونو له سره تر غور لاندې ونيول. په همدغه ۱۸۶۹ کې امير شيرعلي خان هند ته سفر وکړ او د امبالې په کنفرانس کې يې د هندي مامورينو غوږونه د روسانو د عملونو په باب ورخلاص کړل. شيرعلي خان دوی ته وويل چې کله روسان د مرکزي آسيا له کار څخه لږ فارغه شي، نو د هندوکش په حوزه کې حتماً په يوه خطرناکه لوبه لاس پورې کوي.

د امير شيرعلي خان دا نظر او د امبالې د کنفرانس گزارشونه چې لندن ته مخابره شول، نو د انگريز حکومت خارجه وزير لارد کلارندون ته خبر ورکړ چې د روسيې له سفير سره خبرې وکړي. هغه په لندن کې د روسيې سفير بارون برونو ته جبراً خبر ورکړ چې خپل حکومت دې ته حاضر کړي چې د افغانستان د سرحداتو په باب مذاکرې او مفاهمې ته حاضر شي، نوموړی سفير په سنت پيترز بورگ کې د روسيې خارجه وزير شهزاده گرچاکوف ته مفصل مکتوب واستاوه او هم يې د انگريز د وزير خارجه له پيشنهاد سره خپله موافقه اعلان کړه او دا نو د ۱۸۶۹ مارچ و.

په همدغه رابطه د هندوستان نوی ويسرای لارد مايو چې د سرجان لارنس پر ځای راغلی و د خپل دفتر يو سياسي مامور (دوگلاس فرسايت) مؤظف کړ چې هغه سيمه په نقشه کې راولي چې امير شيرعلي خان په تصرف کې ده. هغه پس له ډيرو مطالعاتو او کتنو داسې توضيح پر نقشه ورکړه:

«د امير شيرعلي شمال لويديځ سرحد دې د خواجه صالح څخه تر کرکي پورې د آمو د سيند په مسير کې وټاکل شي چې په ختيځ کې تر دريای پنج او واخان پورې دا خط رسيږي او د بلخ، ميمنې او اندخوی ساروونه يې بهترين نقاط دي او دا خط بايد لاندې خواته تر هرات پورې دا مسير تعقيب کړي. همدا رنگه په ختيځ خوا کې د هندوکش تر لړيو او د پامير له فلات سره وتړل شي. دغو خبرو او نظرياتو دوه کاله په بر کې ونيول، څو په ۱۸۷۱ کې چې لارد گرونويل د لارد کلارندون پر ځای د بريتانيا خارجه وزير شو هغه له سره د افغانستان د شمال سرحد ته پاملرنه واړوله، هغه مهال چې کلاندرون وسنت پترزبورگ ته سفر کړی ؤ او د روسيې د خارجه وزير پرنس گرچاکوف سره يې خبرې کړې وې، گرچاکوف پر لاندې درو ټکو موافقه کړې وه:

اول: هر څومره سيمې چې د امير شيرعلي په قبضه کې دي هغه د امير قلمرو دي او سرحدات دې د هغه پر شا وخوا وټاکل شي.

دوهم: امير به د بخارا د امارت پر سيمو لاس نه اوږدوي.

دريم: د بخارا امير هم حق نه لري چې د امير شيرعلي پر قلمرو تيری وکړي.

د روسيې وزارت خارجې د بريتانيا خارجه وزير ته ويلي وو چې د خپلو نظرياتو مفصل رسمي

راپور به درولیږو ، خو د بریتانیا خارجه وزارت چې هر څه انتظار ویوست دا یاددانیستونه ورونه رسیدل، وروسته په ۱۸۷۲ کال کې د بریتانیا وزیر خارجه لارد کرانیول په پترزبورګ خپل سفیر ته مکتوب واستاوه او لارښوونه یې ورته وکړه چې د روسیې کابینې ته یې ورکړي. په مکتوب کې یې لیکلي وو چې د انګریز وزارت خارجه ډېره منتظره پاته شوه ، خو ستاسې ځواب یې حاصل نکړ ، نو ځکه د سرحد په باب خپل نظریات په دې توګه تقدیمیږي:

الف: بدخشان او د هغه متعلقات په ختیځ کې د واخان له یوې برخې سره او د سرقول څخه تر کوکچې پورې چې له آمو سره اتصال پیدا کوي دا شمالي سرحد تاکل کیږي.

ب: افغانی ترکستان چې پر قندز ، خلم او بلخ مشتمل دی او شمالي سرحد چې د دو سیندونو (آمو او کوکچې) د جلاکیدو له برخې څخه تر خواجه صالح پورې چې د امیرشیرعلي متصرفات دي او د آمو سیند پر کینه خوا سیمې چې د خواجه صالح څخه دې خواته واقع دي هم د امیرشیرعلي په تصرف کې بلل کیږي.

ج: داخلي ولایات آقچه ، سرپل ، میمنه ، شبرغان او اندخوی چې دا وروستي یې د شمال لویدیځ سرحد اخیري ځنډه ګڼل کیږي د هغو تولو بیدیاوو سره چې د آزادو ترکمنو قبایلو سره تعلق لري ، دا ټوله د امیرشیرعلي خان تصرفات بلل کیږي.

د: د افغانستان په لویدیځ کې هرات د هغه له متعلقاتو سره چې قسماً د ایران سره همسرحده دي نښانې کولو ته ضرورت نه لري. (یعنې د امیر وطن ګڼل کیږي).

تر دې پخوا د روسیې ترکستان ګورنر جنرال کوفمان د دغو سیمو یو داتنوګرافیکه (نژاد پیژندنې) نقشه اخیستې او انګریزانو ته یې هم وعده ورکړې وه چې یو کاپي به ورواستوي ، خو هغو ډیر انتظار ورته وایوست او دانقشه نه وروړسیده ، نو ځکه انګریزانو خپل نظر ورته راواستاوه خو هغه حدود چې د انګریز د یادداښت په څلورو فقرو کې شامل وه د جنرال کوفمان د اتنوګرافیکې نقشې سره څه تفاوت نه درلود ، ولې بیا هم د روسان له دې سره موافق نه وه چې په شمال ختیځ خوا کې آقچه ، سرپل ، میمنه او اندخوی د امیرشیرعلي خان په تصرف کې ورکول شي.

په هم هغو وختونو کې روسانو پر خیوا یرغل وکړ او هغه یې ونیوله دا په مرکزي آسیا کې د روسانو ډیره لویه پیشقدمي وه او انګریزانو دا سې عکس العمل ونبود چې د جګړې احتمال منځته راغی ، خو د روسیې خارجه وزیر پرنس ګورچاکوف دومره ماهر سړی و چې ډیر ژر یې د امیرشیرعلي خان او افغانستان د سرحداتو په باب د انګریز نظر ومنی ، ځو د خیوا په برخه کې یې عکس العمل را کم شي. ګورچاکوف دومره وراندې ولاړ چې یې غوښتنې یې واخان او بدخشان په تصرف کې ورکولو موافقه وکړه.

په ۱۸۷۳ کې پرنس ګورچاکوف په یوه مفصل مکتوب کې دا حدود چې د انګریز په یادداښت کې وود امیرشیرعلي د دولت په تصرف کې رسماً تایید او اسناد یې تبادله کړه او دا خط له هم هغه وخته د امیرشیرعلي خان د خط په نامه په رسمي اسنادو او وقایعو کې اعتبار پیدا کړ.

تر دې پخوا روسانو ډیر زور وهلی ؤ چې د هندوکش شمال جلا کړي، روسیې بریتانیا ته لیکلي وو چې د هندوکش شمال دی یا یو آزاد هیواد شي یا دې د بخارا په امارت پورې ملحق شي. خو انګریز ورته ولیکل چې که آزاد شي، نو سمدستي به یې روسیه اشغال کړي او که د بخارا ته وسپارل شي، نو څرنګه چې بخارا اوس د روس په نفوذ کې ده دا به هم د روس په نفوذ کې شامل شي. داسې مکاتبې ډیرې وشوې، خو د قبول ځای یې و نه موند.

## دوهم- د ریجوې سرحدي کرښه:

په ۱۸۸٤ کې چې روسانو «مروه» په خپل تصرف کې راوړ، نو تر ټولو لومړی د افغانستان شمال لویدیځې سیمې په خاصه توګه هرات چې د هندوستان د کیلي حکم یې درلود، د تهدید سره مخامخ شو.

د روسانو چې هر وخت ایران تحریکاوه چې پر هرات یرغل وکړي اوس نو دومره نږدې ورته راغله چې په یوه حرکت هرات او کندهار تر یرغل لاندې راولي او هندوستان تهدید کوي.

روسانو په چټکۍ یو بل پلان هم تر تطبیق لاندې ونیوی چې د پنجده سیمه چې د هرات په حوزه یې حاکمیت درلود تر فشار لاندې ونیوله. په دغه سیمه کې که څه هم د ۱۸۷۳ په تړون کې چې د پرنس ګورچاکوف او لارد ګرانیول تر منځ شوی ؤ یادونې شوې وې، ولې کرښې یې روښانه نه وې.

انګریزانو په ډیر تلوار روسانو ته خبر ورکړ چې دلته باید د سرحد کارونه سرته ورسیږي. دوی موافقې ته سره ورسیدل او د انګریزانو له خوا یو هیأت د کرنیل سرپترلمزدن د ستري رتبې سیاسي شخصیت ؤ او بل نظامي شخصیت کرنیل ریجوی په مشرۍ سیمې ته راغی، همدارنګه د روسانو یو هیأت د جنرال زیلونوی په مشرۍ مقرر شو او د افغانستان باچا امیرعبدالرحمن خان هم یو هیأت د قاضي سعدالدین خان، خان علوم په مشرۍ سیمې ته ولیږه.

دا هیأتونه د ۱۸۸٤ کال په وروستیو ورځو کې سیمې ته ورسیدل او په دسامبر کې روسانو انګریزانو ته یادونه وکړه چې پنجده باید روسانو ته وسپارل شي، خو انګریزانو موافقه و نه کړه او وضع پیچلې رنګ واخیست، خبرې په لټې مخې ته تلې او ټولو کتل چې روسان په نظامي سوقیاتو اخته دي.

د ۱۸۸۵ په مارچ کې چې امیر عبدالرحمن خان د هند په سفر کې ؤ او په راولپنډۍ کې یې د هند له ویسرای سره خبرې کولې هغه ته یې وویل چې روسان په پنجده کې پر افغاني خاوره د تیرې ترتیبات نیسي، خو ویسرای ورته وویل دا غیر ممکن امر دی. دا خبرې د مارچ په ۲۸ د عبدالرحمن خان او ویسرای تر منځ وشوې او دوې ورځې وروسته د مارچ په ۳۰ روسانو پر پنجده په لوی قوت حمله وکړه افغاني سربازان یې ووژل او صریح تجاوز یې سرته ورساوه.

دا وخت د انګریزانو صدراعظم ګلادستون د پنجده په پېښه وضع ډیره ترینګلې شوه او څو وخته د شمال لویدیځ سرحد مسأله معطله شوه.

څرنګه چې ګلادستون په مالي مسایلو کې له جنجالونو سره مخامخ شو استعفا یې وکړه او پرځای یې لارډسالسبري صدراعظم شو هغه بیا د افغانستان د شمال لویدیځ سرحد مسأله راپورته کړه او د ۱۸۸۵ په سپتمبر کې د سالسبري او په لندن کې د روسیې د لوی سفیر موسیو د وستال ترمنځ پر یوه پنځه فقره ایزه پروتوکول لاسلیک وشو، دا دی هغه پنځه مادې:

۱ - سرحدي خط باید له ټولو جزئیاتو سره وکښل شي او همدا رنګه یوه نقشه چې پر هغې باندې سرحدي خط په سور رنګ ترسیم شوی وي له دغه پروتوکول سره مل شي، تر څو چې درست مهم سرحدي ټکي واضح او روښانه شي.

۲ - متعمدین باید پر هغو کمشنرانو باندې چې سرحدي کرښې تعینوي موافقه ولري او د ملاقات ځای او د محافظو عسکرو تعداد یې هم باید تعیین شي او د سرحدي کرښې سر باید د ذوالفقار له درې څخه شروع شي.

۳- تقاضا کیدله چې کمشنران دې باید د هغو شرایطو په هکله چې په دغه پروتوکول کې تثبیت شوي احترام وکړي او هغه رعایت کړي، او همدارنګه شایې چې د دغو دوو سیمه ایزو اوسیدونکو کسانو لپاره له هیڅ راز مرستې او همکاریو څخه مضایقه ونشي او د هغو د تکلیف او زحمت سبب نشي.

٤ - وروسته له دې چې د سرحدي کرښې تعیین پای ته ورسیږي دواړه خواوې کولای شي چې خپلې سرحدي تاڼې جوړې کړي.

۵ - کله چې د سرحد د تعینیدلو موضوع سرته ورسیږي د دواړو خواو کمشنران باید نقشه ترتیب کړي او هغه خپلو مربوطه حکومتونو ته واستوي. [۱]

د دغه کال په نوامبر کې د لارډسالسبري لنډ حکومت پای ته ورسید او بیا ګلادستون

---

(۱) پوهاند فضل ربي پژواک: د افغانستان د بین المللي روابطو تاریخ پښتو مترجم سیداسدالله سومان دوهمه برخه په کابل کې د پوهنې د مجلې چاپ ۱۳٤٤، ۲۷ مخ.

صدراعظم شو، هغه ددغه پروتوکول د ځینو موادو سره موافق نه ؤ نو ځکه دا کار وځنډید، خو د ۱۸۸۶ په جولای کې بیا گلادستون ایسته شو او پر ځای یې د سالسبری راغی. هغه روسي ته حال ورکړ چې هم هغه د ۱۸۸۵ د پنځه فقریز تړون په اساس د افغانستان د شمال لویدیځ سرحد مسأله حل شي. روسیې هم موافقه وکړه، نو انگریزانو دا ځل یوازې کرنیل ریجوی وټاکه او روسانو هم د خپل هیأت مشر تبدیل او پر ځای یې کرنیل کیولبرگ وټاکه.

په اول کې څه اختلافات پیدا شول هیأتونو په ذوالفقار کې کار پیل کړی ؤ، خو یې د ۱۸۸۷ د جولای په ۲۲ اختلافات رفع شول او د پروتوکول وروستی کاپي د کرنیل ریجوی او موسیوزینویف په وسیله په پترسبورگ کې لاسلیک شو او ځینې یادداښتونه پرزیات شول، خو دا ډیر مهم نه وو. دا کار د حدبخشی د تعین لپاره یو کمیسیون ته وسپارل شو چې غړي چارلس یاب او کپتان کامیروف وو.

دا اسناد بالاخره یو ځای او پرسند یې د بریتانیې او روسیې له خوا د تصدیق مهر ولگید او د ۱۸۸۸ کال د جولای په ۱۲ تبادله شوه.

دغه سرحدي کرښه چې د افغانستان او روسیې د ترکمنستان ترمنځ واقع وه تقریباً دري سوه پنځوس میله اوږده والی لري او د ذوالفقار له دري څخه تر خم آب او خواجه صالح پورې رسیږي، دغې کرښې ته په ټولو اسنادو کې د ریجوې سرحد کرښه وايي.

## دریم- د پامیر سرحدي کرښه:

کله چې په ۱۸۷۳ کې د شیرعلی سرحدي کرښې تړون کیده، د پامیر سرحد ته چا پام نه واړاوه، غالباً علت به یې دا ؤ چې هغه صعب العبور سیمه وه او تر اوسه چا مطالعات نه وو پر کړي، ځکه همیشه تر واورو لاندې وه او څوک ورتلای نه شوای.

امیرعبدالرحمن چې یو دراک فرمانروا ؤ دغې خبرې ته متوجه ؤ نو کله چې یې په ۱۸۸۵ کې په راولپنډۍ کې د هند له ویسرای سره ملاقات کاوه هغه ته یې وویل ما چې یو ولس کاله د روسانو په قلمرو کې تیر کړي دي ډیر ځله دې متوجه کیدم چې هر وخت وي روسان به پر پامیر حمله کوي، خو انگریزان ددې مسأله څخه ډیر غافل دي. امیرعبدالرحمن خان ورته وویل سره له دې چې پر روسانو هیڅ باور نشته بیا هم انگریزان د هغو قول او تعهد ته اعتبار ورکوي.

په ۱۸۸۶ کې امیرعبدالرحمن یادونه وکړه چې باید د خواجه صالح څخه تر پامیر پورې سرحدي کرښه وټاکل شي، ولې چا پاملرنه ورته و نه کړه.

په همدغه کال روسانو د پامیر په برخه کې پر افغاني ساتونکو په تجاوز یوه زړه سوځونکې

فاجعه منځته راوسته، روسانو په هم هغه وخت کې د سکوبیلوف په قوماندانی یو هیأت د الوی «Aloi» غرو ته واستاوه او شمالی پامیر یې د روسانو په تصرف کې داخل کړ. عبدالرحمن خان چې له اوله دغې خبرې ته متوجه ؤ د کپتان شمس الدین په قوماندانی یې یوه کوچنی قطعه هلته واستوله، په ۱۸۹۲ کې چې انګریزانو د ډیورند لین مطالعات کول خپل یو افسر یې د ینګ هزبند په نامه پامیر ته واستاوه، خو روسانو هغه وشړئ او کپتان شمس الدین ته یې امر وکړ چې د خپلو نفرو سره له سیمې څخه ووځی. ... دا امر قبول نه کړ او هغه ټوله د روسانو له لاسه په قتل ورسیدل.

له هم هغه وخته د انګریز د خارجه وزیر روزبری او په لندن کې د روسیې د نفر موسیو دوستال ترمنځ پر پامیر خبرې روانې وې، څو پر یوه هیأت موافقه وشوه چې د انګریز له خوا جنرال جبراد او توماس هولدیچ او د روسیې له خوا مونوکوسکی او بندریسکی مقرر شول چې پر نقشو یې کار وکړ. بالاخره د ۱۸۹۵ د مارچ په ۱۱ په لندن کې د وزیر خارجه لارد چمبرلین او په لندن کې د روسیې د سفیر موسیو دوستال ترمنځ پر یوه پروتوکول لاسلیک وشو چې په دې توګه لوی پامیر روسانو او کوچنی پامیر د واخان له دهلیز سره افغانستان ته ورسیده. دا دهلیز چې تر چینی ترکستان پورې اوږد دی، طول یې ۵۰ تر ۶۰ میله او سور یې د ۸ څخه تر ۱۰ میله پورې رسیږی.

دغه کرښه چې وروسته له چین سره تړلې وه د شلمې پیړی په شپیتمو لسیزه کې د یوه هیأت په وسیله نښانې شوه او د افغانستان او ولسي چین سرحد هم وټاکل شو.

## څلورم- د ډیورند سرحدي کرښه:

دا کرښه چې د انګریز او امیرعبدالرحمن خان ترمنځ په نښه شو ،د افغانستان په ټولو سرحدی کرښو کې ډیره اوږده او په هر وخت او زمان کې د پرابلمونو زیږونکې معضله وه او ده.

درې عامله پر انګریزانو مسلط شول چې دا کرښه یې منځ ته راوړه:

۱- په مرکزي آسیا کې د روسانو پرمختیا او د افغانستان د امیر ضعیف موقف هر آن دا خطر رامنځته کاوه چې روسان به پر هرات یا بله سیمه حمله وکړی او هندوستان ته به لاسونه راوغزوی، نو انګریزان باید د هغو په وړاندې قوی سنګرونه جوړ کړی.

۲- د ګندمک په معاهده کې چې د انګریز او په روانی ناروغیو اخته امیریعقوب خان ترمنځ شوی وه د نظامی ستراتیژیکی پلوه ډیره دقیقه نه وه د بلې خوا په دغه معاهده کې دا یادونه د انګریز له مرضی څخه مخالفه وه چې په معاهده کې لیکل شوی و: دا سیمې چې اوس انګریز اخیستې دی دا موقتی دی.

۳- د قبایلو پرابلم د یر جدی لیدل کیده، انگریز غوښتل دا قوت په خپله گټه داسې تنظیم کړی چې هم یې د زیان څخه په امان شي او هم یې چې هرې خواته وغواړي پر هغه خوا یې وروگماري.

د دغو درو عاملو له مخې انگریزانو د اتیایمو کلونو څخه لا د خپلو ښکاره او پټو انجنیرانو په واسطه د سیمې د قضیې کروکي واخیستې او د سیمې تاپو گرافیکي نقشې یې د نظامي او سیاسي وضع سره په مطابقت کې جوړې کړې دي. څو یې په نوییمو کلونو کې امیر ته خبر ورکړ او چې هغه یې راضي کړ، نو د ۱۸۹۳ کال د نوامبر په لومړۍ هفته کې د هند د ویسرای د کابینې د خارجه چارو سکرتر ورته راواستوه. دا سړی مارتیمر دیورند ؤ چې په ټولو جریاناتو خبر ؤ او د امیر په سیکولوژۍ کې د پیژندنې ماهر هم ؤ.

پس له مقدماتي خبرو د ۱۸۹۳ کال د نوامبر په ۱۲ د دیورند معاهده چې سرحدی کرښه پکښې ټاکل شوې وه د دغه خارجي سکرتر او امیر ترمنځ امضاء شوه.

معاهده د خپلو پروتوکول شوی کلماتو سره داسې پیل کیږي، د دغه معاهده (چې د سرحد حدود ټاکي) د جناب امیرعبدالرحمن خان (I.S.C.G) د افغانستان او د هغه د ملحقه حدودو د امیر تر منځ له یوې خوا او سرهانري مارتیمر دیورند (I.S.C.E.I.C.K) د هند د عالیه دولت فارین سکرتري او د عالیه دولت له خوا نایب او وکیل له بلې خوا لاسلیک کوي.

معاهده لاندې مواد احتوا کوي چې سرحد وروباندې ټول شوی دی:

۱- د جناب امیر صاحب د هیواد د ختیځ او سهیلیز حد په اوږدو له واخان څخه د ایران تر سرحده پورې په هغه خط کې چې پر نقشه باندې کښل شوی دی او د دې عهد لیک سره مل دې تعیین کیږي.

۲- د هند عالیه دولت د افغانستان په لور د دې خط په اخوا ملکونو کې واقع دی هیڅوخت به د مداخلې لاس پکې ونه غځوي او امیر صاحب به هم د هندوستان په لور د دې خط په آخوا ملکونو کې هیڅکله مداخله و نکړي او لاس به نه پکښې واچوي.

۳- د بریتانیا عالي هیواد متعهد کیږي چې جناب امیر صاحب دې «اسمار» او تر هغه پورته ناو د تر «چنکه Chanak» پورې پخپل لاس کې ولري او له بلې خوا امیر صاحب تعهد کوي چې هیڅکله به په «سوات، باجوړ او چترال» او د «ارنوی Arnowui» په ناوه او «باشگل» کې مداخله نه کوي او لاس به نه پکې وهي، د بریتانیې دولت تعهد کوي چې د «برمل» ملک لکه څرنگه چې په مفصله نقشه کې کښل شوې او مخکښې جناب امیر صاحب ته ورکړه شوی دی، جناب امیر صاحب ته به پرېښوول شي او امیر صاحب د «وزیرو» او «دوړو» په پاتې ملک کې له خپلې ادعا څخه تیریږي او هم به د «چاکی Chaga» په نسبت له خپلې ادعا څخه صرف نظر کوي.

٤- د سرحد بندۍ دغه کرښه به وروسته له دې څخه په تفصیل سره وکښل شي او نښې به يې په هرځای کې چې ممکن وي د افغان امیر برتش و کمشنرانو په وسیله کېښودل شي او د دغو کمشنرانو مرام او مقصد به دا وي چې د یو او بل په اتفاق پر یو سرحد باندې موافقه وکړي او هغه سرحد باید حتی الامکان بعینه د هغې حدبندۍ مطابق وشي چې په دغه نقشه کې د دغې معاهدې سره ملحقه ده لیکن سرحد ته نږدې د موجوده کلیو محلیه حقوق دې په نظر کې ونیول شي.

٥- د چمن د مسألې په نسبت د نوی انګریز ... اونی په باره کې جناب امیر صاحب له خپل اعتراض څخه تیریږي او د سرکی لیږي په اوبو کې نه خپلو حقوقو څخه چې اخیستی یې دي د بریتانیې علیه دولت ته تسلیموي، په دې حصه کې د حد بندۍ سرحد په لاندې ډول کښل کیږي (ټاکل کیږي):

د حد بندۍ خط «پشاکوتل» ته نږدې د خواجه عمران د غره د پاسه چې انګریزی ملک ته نږدې دی داسې چې د «چمن مرغه» او «شبرو اوبه» چینه افغانستان ته پریږدی او عدل د نوی چې د کلا او افغانی تهانې تر منځ کیږي او له لښکر ډند څخه تیریږي وروسته له هغې څخه د عدل دغه کرښه د ریل د ستیشن له منځه هغه غرو ته چې د «میران بولدک» مشهور دی رسیږي او د جنوب لوری ته راګرځي، د خواجه عمران په غرونو کې شاملیږي او د «کورشی Gowrshi» تهانه په انګریزی ملک کې پریږدی او هغه لاره چې د «شوراوک» او ګوابنی په لور ورځي د افغانستان په تعلق کې یې پریږدي او د بریتانیې دولت به په نوموړې لاره کې تر نیم میل پورې هیڅ مداخله و نه کړي.

٦- د دغې عهد نامې شرایط د بریتانیې عالیه دولت او د افغانستان جناب امیر صاحب داسې بولي چې دغه عهد لیک د سرحد په نسبت د دوی په منځ کې د رأی او جنجال د درستو اختلافونو خاطر خواه او بشپړه فیصله ده.

د هند عالیه دولت او هم جناب امیر صاحب په غاړه اخلي چې د جزوی فقراتو د اختلافاتو انفصال، مثلاً هغه راز اختلافات چې په آینده کې د سرحد د نښه ایښودلو د مقرره افسرانو له خوا پرې غور او فکر کیږي په دوستانه لاره فیصله شي. تر څو چې په آینده کې د دغو دوو دولتونو ترمنځ تر وسه وسه پورې د شک او شبهې او غلط فهمی درست اسباب له منځه لیرې شي.

٧- څرنګه چې د هند عالیه دولت د بریتانیې د دولت په نسبت د امیر صاحب د نیک نیتی په هکله مکفی او بشپړه ډاډینه لري او هیله لري چې افغانستان د استقلال او خودمختارۍ په حالت کې ووینی، لذا د بریتانیې دولت به د امیر صاحب له خوا د جنګ د اسبابو د رانیولو او خپل هیواد ته د هغو د راوړلو په هکله هیڅ ایراد او اعتراض و نکړي او نوموړی هیواد به پخپله د جنګ د اسبابو څخه معاونت ورسره وکړي.

برسیره پر دې ددې لپاره چې د هند عالیه دولت د امیر د هغه دوستانه رویې په نسبت چې په دغو خبرو اترو کې یې ښوولې علاوه پر هغو (دولس لکو) روپیو چې کال په کال ورکول کیږي په کال کې «شپږ لکه» روپۍ نورې هم زیاتې کړي.

فقط د ۱۸۹۳ د نوامبر ۱۲ نیټه او د ۱۳۱۱ هجري قمري کال د جمادی الاول په دوهمه نیټه ولیکل شوه.[۱]

د دغې معاهدې په متن کې د سرحد هغه کرښه چې د پامیر له څنډو څخه د ایران تر سرحد د سیمه په بر کې نیسي ښوول شوې ده، خو په ذغه کرښه کې د مومندو په برخه کې یوه برخه نه ده په نښه شوې او دا تر نن پورې همداسې پاته ده، نو ځکه دا یو تکمیل شوی سرحدي کرښه نشي بلل کیدای.

## پنځم- د میکماهن سرحدي کرښه:

دا سرحدي کرښه چې د افغانستان او ایران تر منځ سرحد ټاکي یوه پرابلماتیکه کرښه ده، ځکه د هلمند د سیند پر اوبو چې تر دا اواخرو پورې جنجالونه روان وو، نو د سرحد مسأله هم ورسره بحراني وه.

د امیرشیرعلي د باچهي په دوهمه دوره کې هغه ته د ایران په نسبت تشویش پیدا ؤ، نو پس له مفاهمو یې فیصله وکړه چې حکمیت انګریز ته وکړي چې هغه د اوبو او سرحد په ټاکنه کې خپل نقش څرګند کړي. انګریز هم په ۱۸۷۲ کې جنرال ګولډسمیت ورته راواستاوه، امیرشیرعلي خان خپل صدراعظم سیدنورمحمد شاه او د ایران په نمایندګي میرزا معصوم غړي شو، د هیأت سر د هند حکومت د جنرال په نامه یو سړی راواستاوه. ددې هیأت فیصلې امیرشیرعلي او سیدنورمحمد شاه دواړو رد کړې.

په ۱۸۸۸ کې د دوهم ځل لپاره امیر عبدالرحمن خان بیا د انګریز څخه د منځګړیتوب هیله وکړه، انګریز په مشهد کې خپل قنسل جنرال میک نیل وټاکه، د افغانستان له خوا جنرال غوث الدین او د ایران له خوا میرزا ناظم الملک او زوی یې میرزا جهانګیر غړي شول. دا هیأت هم د ایران د مخالفت په اثر کومې نتیجې ته و نه رسید.

په ۱۹۰۲ کې بیا ایران او افغانستان وانګریز ته دعوت ورکړ او د هغو له خوا د ویسرای د دربار یو ډیپلومات میکماهن راواستول شو، د امیرحبیب الله له خوا آخندزاده نصیرالدوله او فقیر محمد خان د چخانسور حاکم د افغاني هیأت غړي شوه او د ایران له خوا عین النظام معصوم خان د یوه هیأت غړي شو. دغه کار دوه کاله په بر کې ونیول. بالاخره میکماهن د «کوه ملک سیا» څخه تر «سیاه کوه» پورې سیمې سروې او بیا یې سرحد په ستونونو وټاکه، او دا حدود چې د ۹ میله

(۱) د افغانستان د بین المللي روابطو تاریخ ۶۷-۶۹ مخونه.

اوږدوالی یې درلود د دواړو خواو حدوود پـه دقت وټاکل او خپله فیصله یې د ۱۹۰۵ کال په فبروری کې دواړو خواو ته ورکړه. خو یوه خوا هم په دغه کار راضي نه وه، نو ځکه دا سرحد همیشه تر منازعې لاندې ؤ او علت یې دا ؤ چې د هلمند د اوبو او ویش مسأله باید حل شوې وای بیا سرحد قرار پیدا کاوه.

د مکماهن سرحدی کرښه په یوه نوسانی حالت کې وه، خو د غه سرحدی کرښې هغه وخت قرار وموند چې د ۱۹۷۳ په مارچ کې د افغانستان او ایران تر منځ د هلمند د اوبو د ویش تړون وشو.

علاوه له دې د میکماهن سرحدی کرښه که څه هم یوه متنازع فیها کرښه وه، خو د فخرالتای د سرحدی کرښې د ایستلو وروسته یې جنجال ډیر کم شو.

## شپږم - د فخرالتای سرحدي کرښه:

ځرنګه چې د میکماهن د سرحدی کرښې په کار، نه ایران قانع ؤ، نه افغانستان، نو دواړو خوا زیار یوست چې یوه نورمال لار پیدا شي. څو دا ؤ چې په ۱۹۳۳ کې افغانستان او ایران دواړو موافقه وکړه چې دا منځګړیتوب ترکیې ته وسپاره.

ترکیې هم دا دعوت قبول کړ او د خپل یو ماهر نظامی مهندس جنرال فخرالتای تر ریاست لاندې یې یو هیأت مؤظف کړ چې دوه نور مهندسان «بای کمال» او «البای ضیا» او نور ترجمانان ورسره وه، سیمې ته راغلل.

دوی د میکماهن او ریجوی د سرحدی کرښو په منځ کې چې د میکماهن پر هغې ځینې شکایتونه پیدا وه په سیمه کې مطالعات وکړل. د دغه هیأت سره د افغانی هیأت مشر جنرال عبدالرحیم خان ساپی او د ایران له خوا یو ډیپلومات مهدی فرخ ورسره ؤ چې یوه موده په افغانستان کې د ایران سفیر هم ؤ. دې هیأت څوارلس میاشتې کار وکړ او سرحدی کرښه یې چې د افغانستان او ایران تر منځ سیمه نښه شوی وه د نقشې پر مخ راوړله.

دې سرحدی کرښې د «سیاه کو» څخه تر «موشی آباد» پورې او له هغه ځایه تر «تومان آغا» پورې چې هلته ذوالفقار دره (چې د ریجوی د سرحدی کرښې پیل دی) د څلویښت میلو په فاصله سیمه په بر کې ونیوله.

جنرال فخرالتای په ۱۹۳۵ کې د خپل حکمیت نتیجه چې د نقشې پر مخ ټاکل شوې وه افغانستان او ایران ته تقدیم کړه.

دا سرحدی کرښې هم د فخرالتای په نامه په ټولو سیاسی اسنادو کې قید ده.

د فخرالتای د کرښې په وسیله د افغانستان ټوله سرحدی کرښې یو په بل پورې پیوند شوی او همدغه اوسنی سرحد یې جوړ کړ.

# دوهم نمبر ضمیمه

## په افغانستان کې د قومونو د ویش لنډه احصائیه

د قومونو پیژندنه چې په علمي اصطلاح (اتنوگرافی) [1] هم ورته ویل کیږي. د هغو ټولنو د تاریخی پېښو د پیژندنې لپاره ډیر ضروری ده چې سیاسی او کلتوری بافت یې د قبیلوی مناسباتو سره په پیوند کې واقع وی.

د افغانستان د ټولنې په خصوصیت کې قومونه هر وخت اغیزمن وواو په معاصر تاریخ کې هم دغه قومونه دی چې په اتحاد کې یې وطن ته نیکمرغی راوړې دي او په اختلاف کې یې پر ټولنه ستونزې تحمیل کړی دی.

د دغو قومونو نقش په معاصر تاریخ کې حتی تر دا نن پورې پوره څرگند دی او هلته چې دا پیژندنه کمزوره وی، نو د دغې ټاکلې دورې د تاریخ د پېښو فهم هم مشکل کیږی.

زموږ د قومونو دویش او احصائیې په باب ځینو بین المللی مؤسسو او علمی ټولنو کار کړی دی او ځینو معتبرو اشخاصو هم زحمت ایستلی دی او احصائیې یې راټولې کړی دی چې زه به یې دلته په اختصار راوړم خو بیا هم باید ووایم چې دا تخمیني کار دی او پوره دقیق یې نشو بللای، ځکه زموږ د نفوس منظمه احصائیه تر اوسه نه ده اخیستل شوی او دغه کار به هم د نورو مهمو کارونو په جمله کې د آینده منتظر وی.

که څه هم دا یوه نازده موضوع ده او شدید اختلافات یې راپاڅولی دی چې مصلحتاً باید ډیره ونه ښوروله شی، ځکه دا مسأله که څه هم یوه ساده او علمی موضوع ده ولی د هېواد د ښمنانو مخصوصاً شورویانو د «حل مسأله ملی» تر عنوان لاندې دا قومونه یو پر بل راتحریکول او سختو دښمنیو ته یې ورټیل وهل.

لنډې احصائیې داسې دی:

امریکایی څیړاند لویی دوپرې په احصائیه کې چې د افغانستان نفوس (څوارلس ملیونه) ټاکل شوی، نو د هغه څخه وا ک فوندیشن داسې احصائیه را ایستلې ده:

---

(۱) که څه هم د اتنوگرافی ترجمه په مردم شناسی (خلکو پیژندنه) سره افاده کیدای شی، خو د قومونو پیژندنه هم په دغه کړی کی شامل ده.

ACKU

| | |
|---|---|
| پښتانه | په سلو کې ٤٦ |
| تاجک | په سلو کې ۲۵ |
| ازبک | په سلو کې ۷ . |
| هزاره | په سلو کې٦ . |
| ایماق | په سلو کې ٦ . |
| ترکمن | په سلو کې ۱ . |
| فارسی وان | په سلو کې ٤ . |

ورلډ الانک Wald Almanak په افغانستان کې د لویو قومونو فیصدي داسې راوړې ده:

| | |
|---|---|
| پښتانه | په سلو کې ۳۸ |
| تاجک | په سلو کې ۲۵ |
| هزاره | په سلو کې ۱۹ |
| ازبک | په سلو کې ٦ . |

معروف محقق انتونی هایمن په افغانستان کې د قومونو فیصدي داسې ښوولې ده:

| | |
|---|---|
| پښتون | په سلو کې ٤٥ |
| تاجک | په سلو کې ۲۳ |
| هزاره | په سلو کې ۱۰ . |
| ازبک | په سلو کې ۸ . |
| ایاق | په سلو کې ٥ . |
| فارسی وان | په سلو کې ٤ . |
| ترکمن | په سلو کې ۲ . |
| براهوي | په سلو کې ۳ . |
| بلوڅ | په سلو کې ٦ . |
| نورستانی | په سلو کې ٦ . [۱] |

ماکس کلمبورگ په ۱۹٦۰ په خپل اثر (افغانستان) کې د افغانستان د قومونو احصائیې چې ملګرو ملتونو هم هغه تائید کړې دی داسې ښوولې دي:

عمومی نفوس ۱۳ – ١٤ ملیون.

| | |
|---|---|
| پښتانه | ٦۰ فیصد |

(۱) واګ فرندیښ ن د افغانستان لپاره: د افغانستان قومی جوړښت د پیښور چاپ ۱۹۹۸-۹ مخ.

تاجک ۳۰ فیصد
ازبک او ترکمن ۵ فیصد
هزاره ۳ فیصد
سایر قومونه ۲ فیصد

ډېره مفصله احصائیه چې افغانستان د نژاد و په اعتبار څېړه شوې ده هغه د پخواني شوروي د علومو اکاډمي د اتنوگرافي د انستیتوت له خوا څخه ده چې د نړۍ نفوس (اتنوگرافي لارښود) په نامه په ۱۹۸۱ کې څېړه شوې او لیکوال یې « سی. آی. بروک » ؤ.

احصائیه دا ده:

آریایي گروپ

| | |
|---|---|
| پښتانه | ۵۲,۸ فیصده |
| تاجک | ۸,۶ فیصد[1] |
| چارایماق | ۳ فیصده |
| فیروزکوهي | ۰,۷ فیصده |
| جمشیدي | ۰,۷ فیصده |
| تایمني | ۰,۸ فیصده |
| تیموري | ۰,۶ فیصده |
| بلوڅ | ۰,۹ فیصده |
| نورستاني | ۰,۸ فیصده |
| پامیري | ۰,۷ فیصده |
| پارسي | ۰,۳ فیصده |
| کرد | ۰,۱ فیصده |
| اورمړ | - |
| پراچي | - |

ترکي گروپ:

| | |
|---|---|
| ازبک | ۸,۶ فیصده |
| ترکمن | ۲ فیصده |
| افشار قزلباش | ۰,۲ فیصده |
| قرغز | ۰,۱ فیصده |
| قازاق | - |

هندواروپایي گروپ:

| | |
|---|---|
| پشه‌ای | ۷ , ۰ فیصده |
| پنجابي او نور | ۲ , ۰ فیصده |
| هندوان | ۱ , ۰ فیصده |
| تیرایي | ۱ , ۰ فیصده |
| فگان (توریان) | ۱ , ۰ فیصده |
| جتان | ۱ , ۰ فیصده |
| کوهستاني | ۰ |
| براهوی | ۳ , ۰ فیصده |
| عرب | ۲ , ۰ فیصده |
| مغل | ۱ , ۰ فیصده |

قفره کلپا ک اوبگور او کوج هر یو ( ۲۰ زره)

| | |
|---|---|
| یهود | ( ۱۰ زره) (اوس د افغانستان څخه وتلي دي) |
| نور ناڅرگند | فیصد ۲ , ۰ |

په عمومي توگه نن څلور قومونه په لاندې ترتیب په افغانستان کې څرگند مقام لري.

پښتون، تاجک، هزاره، ازبک.

## دریم نمبر ضمیمه

# د افغانستان پر جغرافیایي جوړښت څو لنډ یادداښتونه

ددې کتاب په ډېرو برخو کې د ځینو جغرافیایي ټکو یادونه کیږي، نو ددې لپاره چې د یو کُل په ډول د افغانستان پېژندنه تکمیل شوې وي دا ضمیمه کتاب ته واچول شوه.

افغانستان د آسیا په زړه کې واقع په وچه راتړول شوی یو هېواد دی چې د بحري بندر د نه درلودلو په وجه یې خورا زیاتې ستونزې په برخه شوې دي.

دا هېواد د شمال له خوا په تاجکستان، ازبکستان او ترکمستان پورې تړلی، لویدیځ ته یې ایران، ختیځ او جنوب ته یې د پاکستان سرحدي صوبه او بلوچستان واقع دي، همدارنګه په ختیځ کې د پامیر پر سر یو ۱۰۰ کیلومتره فاصله د اولسي چین د سنکیانګ د ایالت او افغانستان ترمنځ سرحد تشکیلوي.

د افغانستان ټول مساحت (۸۰۰٫۰۰۰) مربع کیلومترو ته رسیږي او د طول البلد او عرض البلد حساب یې داسې دی: اوسني افغانستان د ۶۰ درجو او ۳۵ دقیقو او ۷۵ درجو او ۵۰ دقیقو ختیځ طول البلد او د ګرینویچ د نصف النهار ۲۹ درجې ۳۰ دقیقو او ۳۸ درجو او ۳۰ دقیقو د شمالي عرض البلد په منځ کې واقع دی.

د افغانستان مساحت ځینو (۸۰۰٫۰۰۰) مربع کیلومتره ښودلی، ځینو (۶۵۳۰۰۰) مربع کیلومتره لیکلی دی. همدارنګه څرنګه چې د هېواد احصائیه نه ده اخیستې شوې، نو ځینو یې نفوس ۱٤ یا ۱۵ او یا ۱۷ ملیونه ښودلی دی.

افغانستان یو غرنی هېواد دی چې مشهور غر یې هندوکش د آسیا د لویو غرونو څخه شمیرل کیږي. دا غر پر شرقي او غربي تقسیم شوی او اوږدوالی یې تر ۶۰۰ کیلومترو پورې رسیږي او جګوالی یې تر (۷۷۵۰) مترو پورې تخمین شوی دی.

بل غر د بابا د غره (کوه بابا) په نامه یادیږي چې اوږدوالی یې ۲۰۰ کیلومتره او لوړوالی یې ۵۱٤۰ مترو ته رسیږي. بل معروف غر سپین غر دی چې ۱۵۰ کیلومتره اوږدوالی او (٤۷۵۵) متره یې لوړوالی دی.

همدارنګه د سلیمان د غره ځینې لړۍ هم افغانستان ته راننوتلې دي، دا غر زیات د افغانستان د جنوب سرحد په امتداد پروت دی او د پښتنو اقوامو ابایي تاتوبی بلل کیږي.

د افغانستان مشهور کوتلونه په دې ډول دي:

| | |
|---|---|
| یولی کوتل | لوړوالی (٤۲۷۹) متره |
| واحجیر کوتل | لوړوالی (٤۸۲۲) متره |
| شبیر کوتل | لوړوالی (۲۹۸۷) متره |
| دهلیز کوتل | لوړوالی (٤۲۹۷) متره |
| اندمین کوتل | لوړوالی (٤۱۷۵) متره |
| کوټ ګر کوتل | لوړ والی (۵٤٦۸) متره |
| آق رباط کوتل | لوړ والی (۳۱۲۵) متره |
| دندان شکن کوتل | لوړ والی (۲۷۰۰) متره |
| حاجي ګک کوتل | لوړ والی (۳۰۰۰) متره |
| ملایعقوب کوتل | لوړوالی (۲۵۰۰) متره |
| اونی کوتل | لوړوالی (۲۸۰۰) متره |
| ګردن دیوار کوتل | لوړوالی (۳۰۰۰) متره |
| سالنګ کوتل | لوړوالی (۳۸۷۸) متره |
| خاواک کوتل | لوړوالی (۳۵٤۸) متره |
| پیوار کوتل | لوړوالی (۲٤۵۰) متره |
| تیري کوتل | لوړوالی (۱۷۸۵) متره[۱] |

د افغانستان مشهور سیندونه:

| | |
|---|---|
| آمو | د هیواد په شمال او شمال ختیځ کې |
| کوکچه | د هیواد په شمال او ختیځ کې |
| مرغاب | د هیواد په شمال لویدیځ کې |
| هریرود | د هیواد په لویدیځ کې |
| هلمند | د هیواد په جنوب لویدیځ کې |

| | |
|---|---|
| ارغنداب | د هیواد په جنوب لویدیځ کې |
| ترنک | د هیواد په جنوب لویدیځ کې |
| خاشرود | د هیواد په لویدیځ کې |
| فراه رود | د هیواد په لویدیځ کې |
| کونړ | د هیواد په ختیځ کې |
| کابل | د هیواد په مرکز کې |

هغه مهال چې افغانستان آزاد ؤ او لا وران شوی نه ؤ، نو د هیواد مرکز کابل دوه ملیونه نفوس درلود او نور معروف ښارونه یې کندهار، هرات، میمنه، جوزجان، مزارشریف، کندز، پلخمري، بغلان، جلال آباد، اسعدآباد، غزني او ګردیز هر یوه یو ملیون او نیم ملیون نفوس درلود. څرنګه چې افغانستان غرنی هیواد دی، نو هوا یې ډېره پاکه او خوشګواره وي.

ACKU

## مـأ رنه‌او مراجع


۱- انسیکلوپیدیا برتانیکا

۲- انسیکلوپیدیا امریکانا

۳- ډاکتر زرین کوب: تاریخ در ترازو، د ایران چاپ.

٤- البرماله: تاریخ قرن نزده و معاصر، مترجم د ایران چاپ.

۵- محمد انور نومیالی: د پښتنو د ټولنیز تاریخ مبادی، مسکو.

٦- محمد ابراهیم عطایی، خیل او ویش د کابل چاپ.

۷- ډاکتر بیلو: د افغانستان تکمونه، د نومیالی ترجمه ټیپی نسخه.

۸- سیدجمال الدین افغان: تتمة البیان فی تاریخ الافغان- پېښور.

۹- پیر معظم شاه: تواریخ حافظ رحمت خانی، پېښور.

۱۰- خوشحال خان خټک: سوات نامه، کابل.

۱۱- د شوروی د علومو اکاډمی - Afghanistan Past and Present

۱۲- قاضی عطاء الله: د پښتنو تاریخ، پېښور.

۱۳- ظفر کاکاخیل، پښتانه د تاریخ په رڼا کې، پېښور.

١٤- رهبر تاریخ هند، ټکست (اردو) چاپ هند.

۱۵- میرمحمد صدیق فرهنگ: افغانستان در پنج قرن اخیر، چاپ پېښور.

۱٦- گنډاسنگ: درانی احمدشاه، د سویمن ترجمه، د کابل چاپ.

۱۷- محمود الحسینی: تاریخ احمدشاهی، چاپ مسکو، (عکسی)

۱۸- عبدالرؤف بینوا: هوتکیان، کابل.

۱۹- میرغلام محمد غبار، احمدشاه بابا، کابل.

۲۰- منشی عبدالکریم: واقعات درانی، چاپ ډهلی.


AOKU

۲۱- فیض محمد کاتب: سراج التواریخ، کابل
۲۲- د پتی محمد حیات خان، حیات افغانی، مترجم طالبی، کابل.
۲۳- عبدالکریم، تاریخ احمدشاه درانی، چاپ هند.
۲٤- ډکتر محمود افشاریزدی: افغان نامه، چاپ تهران.
۲۵- محمد ابراهیم عطایی، نقد بر افغان نامه، چاپ پیښور.
۲٦- مجمل التواریخ د ابوالحسن بن محمد گلستانه، تهران.
۲۷- پوهاند حبیبي: د افغانستان تاریخي پیښلیک، کابل.
۲۸- پوهاند حبیبي: تاریخ مختصر افغانستان، کابل.
۲۹- مهدی فرخ: تاریخ سیاسی افغانستان، تهران.
۳۰- محمود محمود: تاریخ روابط سیاسی ایران انگلیس، تهران.
۳۱- سرفرایزر تاتیتلر (افغانستان)، لندن.
۳۲- میرغلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، کابل
۳۳- امیرعبدالرحمن خان، تاج التواریخ، پیښور.
۳٤- عزیزالدین وکیلي پوپلزایی: تیمورشاه درانی، کابل.
۳۵- عزیزالدین وکیلي پوپلزایی: درة الزمان، کابل.
۳٦- ادوارد الایسس: عروج بارکزایی، ترجمه پژواک و صدقي، چاپ، کابل.
۳۷- فضل ربي پژواک: د افغانستان د بین المللي روابطو تاریخ، کابل، د پوهنې مجلې چاپ.
۳۸- الفنستن: د کابل د سلطنت بیان ترجمه ډاکټر کاکړ، کابل.
۳۹- فورستر: د بنګال څخه تر انګلینده سفر، پارسي ترجمه، عامه کتابخانه، ټاپیي نسخه.
٤۰- فریر History of Afghanistan لندن.
٤۱- موهن لال: د امیردوست محمد خان ژوند، پښتو ترجمه، کابل د علومو اکاډمي کتابخانه، ټاپیي نسخه.
٤۲- جان ویلیام کی: History of war in Afghanistan د لندن چاپ.
٤۳- هنری ډیورند: د افغان او انګریز اول جنګ یادداښتونه، د ډګروال علي احمد جلالي په مرسته.
٤٤- اصغربلگرامی: افغانستان و هند بریتانوی، مترجم سرمحقق عبدالوهاب فنایی، چاپ کابل.
٤۵- دیوک اف ارگایل، مسأله افغان، مترجم فرهنگ، کابل.
٤٦- گایکوفسکي: د پاکستان تاریخ، د صوفي جمعه ترجمه، د کابل چاپ.
٤۷- سیدقاسم رښتیا: افغانستان در قرن نزده، کابل.

ACKU

٤٨- د رښتیا، فرهنګ او جلالي د مقالاتو مجموعه، د افغان او انګلیس دوهم جنګ، د کابل چاپ.
٤٩- ارنولد فلیچر: افغانستان د سوبې ځلور لارې، د جبارناډر ترجمه، د کابل چاپ.
٥٠- محمد ابراهیم عطایي: د پښتونستان مسأله د حق خودارادیت په رڼا کې، د کابل چاپ.
٥١- محمد ابراهیم عطایي: د پښتنو او بلوڅو سیاسي کرونولوژي، کابل.
٥٢- عزیزالدین وکیلي پوپلزایي: سفرهای اعلیحضرت امان الله شاه، چاپ کابل.
٥٣- هیوارد هستمین: جنګ دوم افغان و انګلیس، مترجم علي احمد جلالي، ټاپیي نسخه.
٥٤- نوای معارک: عطا محمد، د کراچي چاپ.
٥٥- سلطان محمد خالص، تاریخ سلطاني د بمبئي چاپ.
٥٦- پوهاند حبیبي: مشاهیر ابدالیان، کابل.
٥٧- علي خافي، پادشاهان متأخر افغانستان، کابل.
٥٨- سرپرسي سایکس: تاریخ افغانستان، مترجم سرمحقق عبدالوهاب جنایي، ټاپیي نسخه.
٥٩- واقعات شاه شجاع، د خپله شاه شجاع لیکنه، د کابل چاپ.
٦٠- میرغلام محمد غبار، افغانستان به یک نظر، کابل.
٦١- یاورسکي: سفارت تزاری به دربار شیرعلي، ترجمه عبدالغفور برېښنا، کابل.
٦٢- لودویک ادمک: تاریخ روابط سیاسي افغانستان از امیرعبدالرحمن خان تا استقلال، د زهما ترجمه، کابل.
٦٣- د سند تاریخ، سیدمعصوم، د بمبئي چاپ.
٦٤- پوهاند حبیبي: جنبش مشروطیت در افغانستان، کابل.
٦٥- سیدمسعود پوهنیار: ظهور مشروطیت و قربانیان استبداد در افغانستان، پېښور چاپ.
٦٦- مولوي عبدالواسع کندهاري: تمنک القضات، کابل.
٦٧- دانشجویان خط امام: اسناد لانه جاسوسي امریکا، چاپ تهران (پنځم جلد)
٦٨- برهان الدین کشککي: نادرافغان، کابل.
٦٩- محي الدین انیس: بحران و نجات، کابل.
٧٠- کشککي صباح الدین: دهه، قانون اساسي، پېښور.
٧١- هارون: داود خان در چنګالد «ک. ج. ب» مترجم فارسي، حامد، پېښور چاپ.
٧٢- حسن شرق: کرباس پوش های برهنه پا، ډهلي.
٧٣- ډاکتر بورګي: د افغانستان دوهم اساسي قانون ته یوه کتنه، پېښور.
٧٤- کارګون: افغانستان در سالهای بیست و سي، مترجم ډاکتر صدیقي، کابل.

٧٥- نبي عظیمي: اردو و سیاست در سه دهه اخیر افغانستان، پېښور.
٧٦- عبدالحمید مبارز: تحلیل واقعات سیاسی افغانستان، پېښور.
٧٧- الکساندر لیاخوفسکی: طوفان در افغانستان، مترجم عزیز آریانفر، پېښور.
٧٨- واک فونډیشن: د افغانستان قومي جوړښت، پېښور.
٧٩- ډگروال یوسف: تلک خرس، ترجمه فارسی، چاپ ډهلی.
٨٠- خاموشه سرباز، پښتو ترجمه، ټایپی نسخه.

**جراید او مجلې:**

١- نیشن ورځپانه، پاکستان
٢- سهار ورځپانه، پاکستان
٣- وفا جریده، پېښور
٤- کاروان جریده، کابل
٥- هفته جریده، کابل
٦- وحدت جریده، پاکستان
٧- اصلاح انیس، ورځپانه، کابل
٨- شریعت جریده، کابل
٩- آریان مجله، کابل
١٠- کابل مجله، کابل
١١- اردو مجله، کابل
١٢- ژوندون مجله، کابل

PROPERTY OF ACKU 12290

## کتب منتشر شدهٔ بنگاه انتشارات میوند (کتابخانهٔ سبا)

- سیرة النبیﷺ (ترجمه، فارسی الرحیق المختوم)
- تاریخ نبوت و انبیاء
- شرح قدوری
- سپیڅلی نبوی سیرت (ترجمه، پشتو الرحیق المختوم)
- پیغمبر زنجیر شکن
- فقه آسان(فارسی و پشتو)
- احکام فقهی برای زن مسلمان
- داستانهای پیامبران برای خورد سالان
- تربیت اولاد از دیدگاه اسلام
- افغانستان در مسیرتاریخ (جلد دوم)
- تاریخ مسخ نمی شود
- اردو وسیاست «درسه دهه اخیرافغانستان»
- داؤدخان در چنگالK.G.B(فارسی وپشتو)
- حیات و اوقات سلطان محمود غزنوی
- جغرافیای تاریخی افغانستان (غبار)
- جغرافیای تاریخی افغانستان(حبیبی)
- تحلیل واقعات سیاسی افغانستان
- ازسقوط سلطنت تاظهور واجراآت طالبان
- فدرالیزم و عواقب آن در افغانستان
- آسیای میانه و افغانستان درکنار آتش
- بالاحصار کابل و پیش آمدهای تاریخی
- افغانستان از امیرکبیر تا رهبر کبیر
- افغانستان تجاوزشوروی ومقاومت مجاهدین
- جنبش هزاره ها واهل تشیع در افغانستان
- نادرشاه چگونه به پادشاهی رسید؟
- محمد ظاهر شاه( فارسی و پشتو)
- وروستی مورچل
- دیوغازی داستان
- تروژمی مسافر
- محمد بن قاسم
- شاهین
- توفان در افغانستان
- بحران ولجات
- شهید میوندوال
- کرباس پوشهای برهنه پا
- افغانستان گذرگاه کشور کشایان
- داستانهایی از تاریخ سیاسی افغا...
- دو نابغه، سیاسی نظامی افغانستان
- دهه، قانون اساسی
- افغانستان در قرن نزده
- پادشاهان متأخر افغانستان
- نگاهی به عهد سلطنت امانی
- تاریخ روابط سیاسی افغانستان
- تاج التواریخ
- افغانستان چا وران کړ
- محاکمه، خاینین ملی
- محمد هاشم میوندوال
- ابومسلم خراسانی
- مرداره قول اس
- جنگ در افغانستان
- سیر ژورنالیزم درافغانستان
- دستور معاصر زبان فارسی دری
- کلیسا او اور
- سیرت خاتم النبیین
- روسیه و خاور
- افغانستان و مداخلات خارجی
- افغانستان در آتش نفت
- خاطرات ظفر حسن ایبك
- داستانهای پیامبران برای کودکان و نوجوانان
- اسپارتاکوس
- سیر تاریخی ضرب سکه در اسلام
- د پیغمبرانو داستانونه د نوی ځوانانو او ...
- روابط بین الملل در اسلام
- د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه
- افغانستان و پنج سال سلطه، طالبان
- شوکران در ساتگین سرخ
- واهمه های زمینی
- افغانستان تهاجم شرق و دسیسه، غرب
- افغانستان در مسیر تاریخ (دور دو جلدی)
- و ...


بنگاه انتشارات میوند

کابل - افغانستان